# مِشکوٰة المَصابیح

عربي - پښتو

تألیف

امام ولي الدين ابي عبدالله

الخطيب التبريزي رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# مشکوة المصابیح

(دریم جلد)

٣

کتاب البیوع
کتاب النکاح
کتاب العتق
کتاب القصاص
کتاب الحدود
کتاب الامارة
کتاب الجهاد
کتاب آداب السفر

تالیف

امام ولي الدين محمد بن عبدالله
الخطیب العمري التبريزي رحمه الله

قاري سفر محمد (شيرزاد)

صداقت کتب خانه
ارگ بازار، کندهار

د چاپ حقوق په خپرندوی اړه لري


**د کتاب پېژندنه:**

- ❖ د کتاب نوم :: مشکوة المصابیح
- ❖ مصنف :: امام ولی الدین محمد بن عبدالله الخطیب
- ❖ تصحیح کوونکي :: ملا محمد ابراهیم، محمد اسماعیل او مولوي احمدزي ضاحب
- ❖ خپرندوی :: **صداقت کتب خانه، کندهار**
- ❖ **کمپوزر** ::محمد رسول سعید
- ❖ **ډیزاین** ::محمد عمر
- ❖ جلد ::دریم
- ❖ چاپکال :: ۱۳۹۰ ش – ۱۴۳۲ ق
- ❖ چاپشمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه



**د ترلاسه کولو پته:**

**صداقت خپرندویه ټولنه**
ارګ بازار، کندهار – افغانستان،
اړیکي: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
ایمېل ادرس:

sadaqat.books@yahoo.com
Sadaqat.books@gmail.com

**په کوټه کي د ترلاسه کولو پته:**

**مکتبه سلطانیه**، کاسي روډ، کوټه -پاکستان، مسؤل: حاجي سلطان محمد–
تلیفون: ۰۳۳۳۷۸۸۳۰۰۰
امین الله امین: ۰۳۰۱۳۷۷۳۷۰۳۰

# فهرست مضامین

## مشکوة المصابیح جلد (۳)


| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | **کتاب البیوع** | |
| ۱ | د پاکي روزۍ او حلال کسب بیان | ۱ |
| ۲ | په معاملاتو کي د نرمۍ بیان | ۱۱ |
| ۳ | د اختیار بیع بیان | ۱۴ |
| ۴ | د سود بیان | ۱۶ |
| ۵ | د منعه پلورلو شیانو بیان | ۲۴ |
| ۶ | د بیع مشروط بیان | ۳۵ |
| ۷ | د بیع سلم او رهن بیان | ۳۹ |
| ۸ | د خوراکي توکو ذخیره کول | ۴۱ |
| ۹ | د انظار او دېوالي کېدو بیان | ۴۳ |
| ۱۰ | د شراکت او وکالت بیان | ۵۴ |
| ۱۱ | د غصب او عاریت بیان | ۵۷ |
| ۱۲ | د شفعي بیان | ۶۴ |
| ۱۳ | د مساقات او مزارعت بیان | ۶۶ |
| ۱۴ | د اجارې بیان | ۷۰ |
| ۱۵ | د ورا ني ځمکي ابادول او اوبه کولو بیان | ۷۳ |
| ۱۶ | د بخښنښ بیان | ۷۹ |
| ۱۷ | باب | ۸۲ |
| ۱۸ | د ورک سوي شي بیان | ۸۷ |
| ۱۹ | د فرائضو بیان | ۹۰ |
| ۲۰ | د وصیت بیان | ۱۰۰ |
| | **کتاب النکاح** | |
| ۲۱ | د نکاح بیان | ۱۰۴ |
| ۲۲ | د نسبت کړل سوي ښځي لیدل او د عورت پټولو بیان | ۱۰۹ |
| ۲۳ | د نکاح د ولي او د ښځي څخه د اجازې اخیستلو بیان | ۱۱۶ |
| ۲۴ | د نکاح د اعلان، خطبې او شرط بیان | ۱۲۰ |
| ۲۵ / ۲۶ | د هغه ښځو بیان چي نکاح ورسره حرامه وي | ۱۲۷ |
| ۲۷ | د کوروالی بیان | ۱۳۴ |
| ۲۸ / ۲۹ | مینځي ته د ازادۍ وروسته اختیار ورکول | ۱۳۹ |
| ۳۰ | د مهر بیان | ۱۴۰ |
| ۳۱ | د واده د دوډۍ کولو بیان | ۱۴۴ |
| ۳۲ | د ښځو په منځ کي دوختو وېشلو بیان | ۱۴۹ |

| شمیره | مضمون | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۳۳ | د ښځو د حقوقو بیان | ۱۵۲ |
| ۳۴ | د خلعې او طلاق بیان | ۱۶۶ |
| ۳۵ | د هغه ښځې بیان چې درې طلاقه ورکول سوي وي | ۱۷۲ |
| ۳۶ | په کفاره ظهار کې چې کوم غلام آزاد کړل سي د هغه مؤمن کېدل ضروري دي که یا؟ | ۱۷۵ |
| ۳۷ | د لعان بیان | ۱۷۶ |
| ۳۸ | د عدې بیان | ۱۸۶ |
| ۳۹ | د پاکۍ طلب کولو بیان | ۱۹۲ |
| ۴۰ | د نفقې او غلامانو او مینځو د حقوقو بیان | ۱۹۴ |
| ۴۱ | د نابالغه کوچنیانو د بلوغ او په ورکتوب کې د هغوئ د روزنې بیان | ۲۰۴ |
| | **کتاب العتق** | |
| ۴۲ | د غلام او مینځې د ازادولو بیان | ۲۰۸ |
| ۴۳ | د ګډ غلام ازادولو، د قریب رانیولو او د ناروغۍ په حالت کې د ازادولو بیان | ۲۱۱ |
| ۴۴ | د قسمو او نذرو بیان | ۲۱۶ |
| ۴۵ | د نذرو بیان | ۲۲۲ |
| | **کتاب القصاص** | |
| ۴۶ | د قصاص بیان | ۲۲۹ |
| ۴۷ | د قتل په بدله کې د تاوان بیان | ۲۴۱ |
| ۴۸ | د کومو شیانو تاوان چې واجب نه وي د هغو بیان | ۲۴۹ |
| ۴۹ | د قسم اخیستلو بیان | ۲۵۶ |
| ۵۰ | د مرتد او فاسدو خلکو د وژلو بیان | ۲۵۷ |
| | **کتاب الحدود** | |
| ۵۱ | د شرعي سزاوو بیان | ۲۶۶ |
| ۵۲ | د غله د لاس پرېکولو بیان | ۲۸۰ |
| ۵۳ | په شرعي سزاوو کې د سفارش بیان | ۲۸۵ |
| ۵۴ | د شرابو څښلو د حد بیان | ۲۸۸ |
| ۵۵ | په شرعي سزا ورکولو کې د ښراوو نه کولو بیان | ۲۹۲ |
| ۵۶ | د سزا او تنبیه بیان | ۲۹۵ |
| ۵۷ | د شرابو بیان او د شرابو څښلو د وعید بیان | ۲۹۶ |

| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | **کتاب الامارة والقضاء** | |
| ۵۸ | د حکومت او قضاء بیان | ۳۰۳ |
| ۵۹ | د والیانو د لوري پر رعیت د نرمۍ کولو بیان | ۳۲۱ |
| ۶۰ | د قضاء عمل او د هغه څخه د بیرېدو بیان | ۳۲۴ |
| ۶۱ | د والیانو د تنخواه او تحفو بیان | ۳۲۹ |
| ۶۲ | د دعوو او شهادتونو بیان | ۳۳۳ |
| | **کتاب الجهاد** | |
| ۶۳ | د جهاد بیان | ۳۴۲ |
| ۶۴ | د جهاد د سامان برابرولو بیان | ۳۶۷ |
| | **کتاب اداب السفر** | |
| ۶۵ | د سفر د ادبو بیان | ۳۷۶ |
| ۶۶ ۶۷ | کفارو ته د لیکونو او هغوئ ته د اسلام د بلني بیان | ۳۸۵ |
| ۶۸ | په جهاد کي د جګړي بیان | ۳۹۱ |
| ۶۹ | د بندیانو د حکم بیان | ۳۹۸ |
| ۷۰ | د امان ورکولو بیان | ۴۰۸ |

| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۷۱ ۷۲ | د غنیمت د ویشلو او په هغه کي د خیانت بیان | ۴۱۲ |
| ۷۳ | د جزیې بیان | ۴۳۲ |
| ۷۴ | د صلحي بیان | ۴۳۴ |
| ۷۵ ۷۶ | د جزیره عرب څخه د یهودو د شړلو بیان | ۴۴۱ |
| ۷۷ | د کفارو څخه پرته د جنګ څخه د تر لاسه سوي مال بیان | ۴۴۴ |

# كِتَابُ الْبُيُوْعِ

## (د رانيولو او پلورلو بيان)

## بَابُ الْكَسْبِ وَطَلَبِ الْحَلَالِ

## (د پاکي روزۍ او حلال کسب بيان)

### لومړی فصل

**د خپل لاس ګټه تر ټولو غوره ده**

| | |
|---|---|
| (۲۶۳۹): عَنِ الْمِقْدَامِ ابْنِ مَعْدِيكَرِبَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ وَإِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ . رواه البخاري . | د حضرت مقدام بن معديكرب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅ خوراك چا تر هغه خوراك غوره نه دئ خوړلی څوك چي يې په خپل لاس سره وګټي او وه يې خوري او د الله تعالی نبي داؤد عليه السلام به د خپل لاس ګټه خوړل . بخاري. |

**د حلال مال خوړلو فضيلت او د حرام مال څخه د ساتني اثر**

| | |
|---|---|
| (۲۶۴۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللّٰهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ وَقَالَ تعالى {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ . رواه مسلم . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالي پاك دي پاك شيان قبلوي او الله تعالی و مؤمنانو ته هم د هغه شي حکم ورکړی دی چي د هغه حکم يې و خپلو رسولانو ته هم ورکړی دی لکه چي فرمايلي يې دي : اې رسولانو! پاك شيان خورئ او نيك کارونه کوئ او فرمايلي يې دي : اې ايمان لرونکو! پاك حلال خوراکونه کوئ کوم چي موږ و تاسو ته در کړي دي بيا نبي کريم ﷺ د يوه سړي ذکر وکړ چي اوږد |

سفر وکړي تار په تارسر دوړو وهلی (ددې سفر څخه د حج سفر مراد دی)، او اوږده کړي خپل

لاسونه آسمان ته وابيي اې زما ربه! اې زما ربه! اې زما ربه! (دی په داسي حال کي لاسونه پورته کړي چي) خوراك دده حرام وي، څښناك دده حرام وي ، اغوستل دده حرام وي او پرورش یې په حرامو سوی وي نو څرنګه به دده دعاء قبوله سي . مسلم

## یوه پیشګوئي

(۲۶۴۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي پر خلکو باندي به یوه زمانه راسي چي په مال کي چي څه شي په لاس ور سي هغه به د هغه شی پروا نه لري چي دا حلال دي یا حرام (بخاري)

## د مشتبه شیانو څخه هم پرهیز کول پکار دي

(۲۶۴۲): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللّٰهِ مَحَارِمُهُ أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ. متفق علیه

د حضرت نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حلال څرګند دي او حرام څرګند دي مګر د دې دواړو په مینځ کي مشابه شیان سته چي د هغه څخه ډېر خلك ناخبره دي چا چي خان وساتی د شبهي د شیانو څخه هغه خپل دین پاك کړ او خپل عزت یې وساتی او څوك چي د شبهې په شیانو کي اخته سو هغه په حرامو کي اخته سو د هغه کیفیت د شپانه په شان دی چي په بیابان باندي خپل حیوانان څروي او هر وخت د دې بیره وي چي یو درینده حمله پرې ونه کړي خبردار ! دا چي د هر باچا یو حد تاکل سوی دی او د خدایﷻ حد حرام شیان دي یوه سئ! د انسان په بدن کي یوه د غوښو ټوټه ده تر څو چي هغه ښه وي نو ټوله بدن یې ښه وي او کله چي خرابه سي نو ټول بدن خراب سي چي هغه زړه دی (بخاري او مسلم)

## د زناکونکي اجرت حرام دی

(۲۶۴۳): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيثٌ وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ . رواه مسلم

د حضرت رافع بن خدیج ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د سپي قیمت حرام دي د زنا کاره مزدوري حرامه ده او د حجام (رګ خلاصونکي) اجرت حرام دی .(مسلم)

## د سپي د قیمت مسئله

| | |
|---|---|
| (۲۶۴۴): وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ . متفق علیه | د حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سپي قیمت څخه د زناکاره او د کاهن د اجرت څخه منعه فرمایلې |

ده . (بخاري اومسلم) (کاهن) د راتلونکي حالاتو بیانولو والا. (نجومي) یعني فالگرته ویل کیږي.

## وینه خرڅول حرام دي

| | |
|---|---|
| (۲۶۴۵): وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ وَثَمَنِ الْكَلْبِ وَكَسْبِ الْبَغِيِّ وَلَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَالْمُصَوِّرَ . رواه البخاري | د حضرت ابو جحیفه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د ویني د قیمت څخه د سپي د قیمت څخه د زناکاري ښځي د اجرت څخه منعه فرمایلې ده او پر سود خور، پر بدن |

باندي د خالو وهونکي (که خپله وي او که بل څوك وي) او پر عکسو جوړونکو باندي لعنت ویلی دی. (بخاري)

## د حرام شیانو رانیول او پلورل هم حرام دي

| | |
|---|---|
| (۲۶۴۶): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ إِنَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْأَصْنَامِ فَقِيلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ فَقَالَ لَا هُوَ حَرَامٌ ثُمَّ قَالَ عِنْدَ ذٰلِكَ قَاتَلَ اللّٰهُ الْيَهُودَ إِنَّ اللّٰهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا اجْمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ . متفق علیه | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د فتحي په کال چي وو هغه ﷺ په مکه کي دا واوریدل چي ویل یې: خدای ﷻ او د هغه رسول ﷺ حرام کړي دي شراب خرڅول، د مردارو خرڅول، خنزیر خرڅول او بتان خرڅول، یو چا پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ! د مردار د وازگي په باره کي څه حکم دي؟ هغه په پښو موړل کیږي په دې باندي پوستونه غوړ |

کیږي او خلك په دې سره اور بلوي نبي کریم ﷺ وفرمایل: ددې څخه فائده اخیستل جائز نه دي بلکه حرام دي ددې څخه وروسته نبي کریم ﷺ وفرمایل: خدای تعالی دې پر یهودو باندي لعنت وکړي هر کله چي خدای تعالی د خنزیر وازگه حرامه کړه نو هغوئ به وازگه ویلي کول او خرڅول به یې او د هغې گټه به یې خوړل. (بخاري او مسلم)

**د يهوديانو يو بدي**

| | |
|---|---|
| (۲۶۴۷): وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَاتَلَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُوْمُ فَجَمَلُوْهَا فَبَاعُوْهَا . متفق عليه | د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خداي تعالي دي يهوديان تباه کړي په هغو باندي مرداره وازګه حرامه کړل سوه |

نو هغوئ وازګه ويلي کړه او خرڅول به ئې . (بخاري او مسلم)

**د پيشي د رانيولو او پلورلو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۲۶۴۸): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سپي او د پيشي د قيمت څخه منع فرمايلي ده . (مسلم) |

**د ويني کښلو مزدوري حلاله ده**

| | |
|---|---|
| (۲۶۴۹): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ وَأَمَرَ أَهْلَهُ أَنْ يُخَفِّفُوا مِنْ خَرَاجِه.متفق عليه . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي ابو طيبه ﷺ د رسول الله ﷺ رګ وواهه نو نبي کريم ﷺ د هغه لپاره د يوه صاع (يوه پيمانه) د خرماؤ ورکولو حکم وکړ او مالکانو ته |

يې وويل : چي د هغه څخه کم اجرت اخلي (بخاري او مسلم)

## دويم فصل

**د اولاد ګټه خوړل جائز ده**

| | |
|---|---|
| (۲۶۵۰): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة و في رواية ابي داؤد والدارمي ان اطيب ما اكل الرجل من كسبه وان ولده من كسبه | د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم شی چي تاسو خورئ نو په هغه ټولو کي افضله هغه دي چي په خپل کسب سره يې وګټئ او وې خورئ او ستاسو اولاد هم ستاسو د کسب څخه شميرل کيږي (يعني د اولاد ګټه هم خوړل و تاسو ته جائزدي). (ترمذي ، |

نسائي ابن ماجه ) او د ابو داؤد او دارمي په روايت کي دا الفاظ هم سته : بهتر د هغه چي خوري يې سړی له کسبه يې وي او اولاد دده له کسبه دی .

## د حرام مال حکم

(۲۶۵۱): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالَ حَرَامٍ فَيتصدق منهُ فَيُقْبَلَ مِنْهُ لا ينفق منه فيبارك له فيه وَلَا يَتْرُكُه خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ وَلٰكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ إِنَّ الْخَبِيثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيثَ . رواه احمد وكذا في شرح السنة .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم بنده چي حرام وګټي او صدقه یې کړي او هغه دده څخه قبوله کړل سي (هغه هیڅ کله نه قبلیږي) او هغه حرام مال څخه چي څوك خپل ځان یا اولاد باندي خرځ کړي او په هغه کي برکت واچول سي (یعني برکت په کښبي نه وي) او څوك چي حرام مال د مرګ وروسته پرېږدي د هغه دپاره هغه د دوزخ توښه ده خدای تعالی بد په بد نه لیري کوي (ګناهونه حرام مال سره نه لیري کوي) بلکه بدي په نیکي سره لیري کوي (یعني په پاك مال سره ګناهونه لیري کوي) ناپاك مال ناپاکي نه لیري کوي .(احمد شرح السنة).

## پر حرام مال خوړلو باندي وعید

(۲۶۵۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ وَكُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ كَانَتِ النَّارُ أَوْلٰى بِهٖ . رواه أحمد والدارمي والبيهقي في شعب الإيمان

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه غوښه چي په حرامو سره پالل سوي وي جنت ته به ولاړه نسي او کومي غوښي چي په حرام مال سره پالل سوي وي هغه غوښه د دوزخ مستحقه ده .(احمد دارمي بیهقي په شعب الایمان کي) .

## د شکمنو شیانو څخه ځان وساتئ

(۲۶۵۳): وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلٰى مَا لَا يَرِيبُكَ فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِيْنَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ . رواه احمد والترمذي والنسائي و روى الدارمي الفصل الاول .

د حضرت حسن بن علي ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا خبره پیاد کړې ده کوم شی چي تا په شك کي اچوي هغه پرېږده او د هغه شی ولور ته متوجه سه چي تا په شك کي نه اچوي ځکه چي حق او صداقت د زړه د پاره اطمینان وربخښي .او باطل د شك او تردد موجب دي . (احمد ترمذي نسائي دارمي)

## د نیکۍ او بدۍ پیژندنه

(۲۶۵۴): وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يا وابصة جئت تَسْأَلُ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَجَمَعَ أصابعه فضرب صدره وقال اسْتَفْتِ نَفْسَكَ اسْتَفْتِ قَلْبَكَ ثَلَاثًا الْبِرُّ مَا اطْمَأَنَّتْ إِلَيْهِ قلبك وَالْإِثْمُ ما حَاكَ فِي النَّفْسِ وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ. رواه احمد والدارمي .

د حضرت وابصه بن معبد ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې وابصه! ته و پوښتني کولو ته راغلي یې چي نیکي څه ده؟ او گناه څه ده؟ ما عرض وکړ: بلې هو! (په دې اوریدو سره) نبي کریم ﷺ خپلي گوتي یو ځاي کړې او زما سینه یې په ووهل ویې فرمایل: د خپل نفس څخه پوښتنه وکړه د خپل زړه څخه پوښتنه وکړه درې واره یې دا الفاظ و فرمایل (بیا یې وفرمایل) نیکي داده چي د هغې سره ستا و نفس ته ارام (سکون قرار اطمینان) حاصل سي او ستا زړه ته اطمینان ور سي او گناه هغه ده چي ستا په نفس کي خلل پیدا سي او ستا د زړه تردد (پریشاني) پیدا سي که څه هم خلکو د هغې (د جواز) فتوی در کړې وي. (احمد دارمي)

## د پوره پرهیزگارۍ درجه

(۲۶۵۵): وَعَنْ عَطِيَّةَ السَّعْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَرًا لِمَا بِهِ الْبَأْسُ . رواه الترمذي وابن ماجة .

د حضرت عطیه سعدي ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: بنده تر هغه وخته پورې د پرهیزگارانو و درجې ته نسي رسیدلای تر څو چي هغه پرېنږدي هغه څه چي په هغه کي بدي نه وي لپارهٔ ددې چي په دې طریقې سره د هغه شیانو څخه وساتل سي چي په هغه کي بدي ده. (ترمذي ابن ماجه)

## د شرابو پر متعلقینو باندي لعنت

(۲۶۵۶): وَعَنْ أَنَسٍ قال لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَمْرِ عَشْرَةً عَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَشَارِبَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةُ إِلَيْهِ وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَآكِلَ ثَمَنِهَا وَالْمُشْتَرِي لَهَا وَالْمُشْتَرَاةُ لَهُ . رواه الترمذي وابن ماجة .

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د شرابو کاروبار کي په لسو کسانو باندي لعنت ویلي دي: ۱- د شراب پر نیښتېږونکو ۲- د هغو دپاره چي نیښتېږل کیږي. ۳- په څښونکو باندي ۴- په پور ته کونکي باندي ۵- په هغه چا باندي چي و هغه ته شراب وړل کیږي او ور ته پور ته کیږي ۶- په ساقي (څښلو والاؤ) باندي ۷ - په خرڅونکو باندي ۸- د شرابو پر قیمت

خوړونکو باندي ۹- په را نیونکو باندي ۱۰- او پر هغه چا باندي چي وهغه ته را نیول کیږي .(ترمذي ابن ماجه)

| | |
|---|---|
| (۲۶۵۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ اللّٰهُ الْخَمْرَ وَشَارِبَهَا وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُوْلَةَ إِلَيْهِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خدای تعالي لعنت ویلي دي :۱- پر شرابو ۲- د هغه په څښونکو ۳- د هغه پر ساقي (څښونکي) |

۴- د هغه پر خرڅونکي ۵- د هغه پر رانیونکي ۶- د هغه پر جوړونکو ۷- او هغوئ چي ور ته جوړیږي ۸- د هغه پر پورته کونکو ۹- او پر هغه چا باندي چا ته چي پورته کیږي او وړل کیږي .(ابوداؤد ابن ماجه)

**د ويني كښلو مزدوري**

| | |
|---|---|
| (۲۶۵۸): وَعَنْ مُحَيِّصَةَ أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُجْرَةِ الْحَجَّامِ فَنَهَاهُ فَلَمْ يَزَلْ يَسْتَأْذِنُهُ حَتّٰى قال أَعْلِفْهُ نَاضِحَكَ واطعمه رَقِيْقَكَ. رواه مالك والترمذي وابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت محیصه ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه وینه کښونکي د اجرت اخیستلو اجازت طلب کړ (یعني پوښتنه یې وکړه چي د دې مزدوري اخیستل جائز ده) نبي کریم ﷺ هغه ددې څخه منعه کړي بیا یې |

د دویم وار لپاره اجازه وغوښتل تر دې پوري چي څو واره یې پوښتنه وکړه نو نبي کریم ﷺ ور ته وفرمایل : د دې مزدوري په خپل غلام یا په خپل اوښ وخوره . (مالك ترمذي ابو داوٌد ابن ماجه)

**د غزلو د مزدورۍ څخه منع**

| | |
|---|---|
| (۲۶۵۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَكَسْبِ الزَّمَّارَةِ . رواه في شرح السنة . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سپي د قیمت څخه او د کسب د غزلچي د اجرت څخه منعه فرمایلي ده . (شرح السنة) |

**د سندري ویونکو د رانیولو او پلورلو حکم**

| | |
|---|---|
| (۲۶۶۰): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبِيْعُوا الْقَيْنَاتِ وَلَا تَشْتَرُوْهُنَّ وَلَا تُعَلِّمُوْهُنَّ وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ وَفِيْ مِثْلِ هٰذَا أُنْزِلَتْ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِيْ لَهْوَ | د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غزلچي مینځه مه خرڅوئ او مه یې اخلئ او نه مینځي ته غزلي ویل ښائي . ددې قیمت حرام دي او ددې په اره دا ایت نازل سوي دي : و من الناس من یشتري لهو الحدیث (او ځیني |

الْحَدِيْثِ .رواه أحمد والترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب وعلي بن يزيد الرواي يضعف في الحديث. وسنذكر حديث جابر : نهى عن أكل أهر في باب . ما يحل أكله " إن شاء الله تعالى

د خلكو څخه داسي دي چي د لوبو توكو خبري را نيسي (يعني غزلي او قصي) (احمد ترمذي ابن ماجه) او په ترمذي كي دا حديث غريب گڼل سوي دي . علي بن يزيد راوي ضعيف دي او د جابر ﷺ حديث به مورږ تر ژره انشاء الله په مايحل اكله كي بيان كړو .

## دريم فصل

### حلاله گټه فرض ده

(٢٦٦١): عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د فرضو څخه وروسته د پاك رزق گټل فرض ده . (يعني د هغو فرضو څخه وروسته چي خداى ﷻ مقرر كړي دي حلاله گټه هم فرض ده ) (بيهقي)

### د قران كريم د ليكني مزدوري جائز ده

(٢٦٦٢): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ أُجْرَةِ كِتَابَةِ الْمُصْحَفِ فَقَالَ لاَ بَأْسَ إِنَّمَا هُمْ مُصَوِّرُوْنَ وَإِنَّهُمْ إِنَّمَا يَأْكُلُوْنَ مِنْ عَمَلِ أَيْدِيهِمْ . رواه رزين

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د هغه څخه د قرانكريم د ليكلو د مزدورۍ په اړه پوښتنه وسوه نو هغه ورته وويل په دې مزدورۍ كي څه پروا نسته ځكه چي دا خلك (كاتب نقاش) په خپل لاس سره گټه خوري .(رزين)

### كوم كسب غوره دی؟

(٢٦٦٣): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟ قَالَ عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ " . رواه أحمد

د حضرت رافع بن خديج ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي كوم كسب بهتر دي نو نبي كريم ﷺ ور ته وفرمايل : د انسان د خپل لاس گټه او هر جائز تجارت . (احمد)

### د شېدو د قيمت حكم

(٢٦٦٤): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ أَبِيْ مَرْيَمَ قَالَ

د حضرت ابوبكر بن ابي مريم ﷺ څخه روايت دئ

كَانَتْ لِمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ جَارِيَةٌ تَبِيعُ اللَّبَنَ وَيَقْبِضُ الْمِقْدَامُ الثَّمَنَ فَقِيلَ لَهُ سُبْحَانَ اللّٰهِ أَتَبِيعُ اللَّبَنَ وَتَقْبِضُ الثَّمَنَ فَقَالَ نَعَمْ وَمَا بَأْسٌ بِذَلِكَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيهِ إِلَّا الدِّينَارُ وَالدِّرْهَمُ. رواه احمد .

چي د مقدام بن معديكرب (صحابي) يوې مينځي به يې شيدې خرڅولې او مقدام به ور ځنه دهغه قيمت اخيستي يوه ورځ مقدام ته وويل سوه سبحان الله! مينځه شيدې خرڅوي او ته يې قيمت خيني اخلې مقدام ورته وويل چي هو! په دې کي څه باك نسته ما د رسول الله ﷺ ځخه اورېدلي دي چي په خلکو کي به داسي زمانه راسي چي په هغه کي به د درهم او د دينار پرته بل به هيڅ شی فائده نه ورکوي . (احمد)

## د معاش ذريعه بېله سببه مه پرېږدئ

(٢٦٦٥): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كُنْتُ أُجَهِّزُ إِلَى الشَّامِ أَوْ إِلَى مِصْرَ فَجَهَّزْتُ إِلَى الْعِرَاقِ فَأَتَيْتُ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ فَقُلْتُ لَهَا يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ كنت اجهز إِلَى الْعِرَاقِ فَقَالَتْ لاتفعل مَا لَكَ وَلِمَتْجَرِكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سبب الله لاحدكم رزقا من وجه فَلَا يَدَعْهُ حَتَّى يَتَغَيَّرَ لَهُ أَوْ يَتَنَكَّرَ لَهُ. رواه احمد وابن ماجة .

د حضرت نافع ؓ ځخه روايت دی چي ما د شام او مصر و لور ته سامان لېږلې وروسته مي د عراق لور ته د مال لېږلو اراده وکړه او د بي بي عائشې په خدمت کي د مشورې لپاره حاضر سوم عرض مي ورته وکړ چي اې د مؤمنانو مور! ما به مخکي د شام ولور ته مال لېږي او اوس مي اراده ده چي د عراق و لور ته مال ولېږم هغې ورته وفرمايل : داسي مه کوه تا او تجارت ته څه پېښه ده ما د رسول الله ﷺ ځخه اورېدلي دي هر کله چي خدای ﷻ ستا د رزق چيري اسباب برابر کړي نو هغه مه پرېږده تر څو پوري چي په هغه کي بدلون را نسي يا وهغه ته نقصان و نه رسيږي .(احمد ابن ماجه)

## د حضرت ابوبکر صديق ؓ احتياط او تقوا

(٢٦٦٦): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ غُلَامٌ يُخْرِجُ لَهُ الْخَرَاجَ فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجه فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ لَهُ الْغُلَامُ أَتَدْرِي مَا هَذَا فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَمَا هُوَ قَالَ كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَمَا أُحْسِنُ الْكِهَانَةَ إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذَلِكَ فَهَذَا الَّذِي

د بـي بـي عائشـې رض ځخـه روايـت دی چي د حضرت ابو بکر يو غلام وو چي د خپلي ګټي ځخه به يې خپل مالك ته څه ورکوله او حضرت ابو بکر ؓ به هغه ګټه خوړله يوه ورځ هغه غلام يو شی راوړ او حضرت ابوبکر رض د هغه سره وخوړه غلام ور ته عرض وکړ تاسو ته معلومه ده چي دا څه دي ؟ حضرت ابو بکر صديق ؓ

| | |
|---|---|
| أَكَلْتَ مِنْهُ فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ . رواه البخاري . | ورخخه پوښتنه وکړه چي څه شي دي؟ نو غلام وویل: چي ما د جاهلیت په زمانه کي یوه سړي |

ته د غیب خبر ښودلی وو حالانکه زه د هغه فن څخه خبر نه وم لیکن چم مي ور سره وکړ د هغه سړي زما سره ملاقات وسو او دا شي یې راکړ او دا هغه څه دي کوم چي یې تاسو خوړئ بي بي عائشي رض وویل (په دي اوریدو سره) حضرت ابو بکر صدیق ﷺ خپل حلق ته لاس د ننه کړ او هر څه چي یې په نس کي وه (خوړلي یې وه) بیر ته یې قی کړه. (بخاري)

**د حرام مال پر خوړلو باندي وعید**

| | |
|---|---|
| (۲۶۶۷): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِيَ بِالْحَرَامِ . رواه البيهقي في شعب الايمان | د حضرت ابو بکر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم بدن چي په حرام مال سره روزنه کړي وي هغه به جنت ته نه داخلیږي. |

**د حضرت عمر ﷺ تقوا او احتیاط**

| | |
|---|---|
| (۲۶۶۸): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّهُ قَالَ شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَبَنًا وَأَعْجَبَهُ وَقَالَ لِلَّذِيْ سَقَاهُ مِنْ أَيْنَ لَكَ هٰذَا اللَّبَنُ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا نَعَمٌ مِّنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُوْنَ فَحَلَبُوْا لِيْ مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِيْ سِقَائِيْ وَهُوَ هٰذَا فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان . | د حضرت زید ابن اسلم ﷺ څخه روایت دی چي یو وار حضرت عمر بن خطاب ﷺ شیدې وڅښلې چي هغه ته ډیري ښه معلومي سوې. نو هغه د هغه سړي څخه چي هغه شیدې یې په څښلي وې پوښتنه وکړه چي دا شیدې دي د کومه کړې؟ نو هغه ورته وښودل چي هغه (یعني زه) د اوبو یوې چینې یا څاه ته تللی وم (د هغه چینې یا څاه نوم یې هم وښودی) نو هلته ما ولیدل چي د زکوة حیوانان اوبو څښلو ته راغلي وه او د هغه شپانه شیدې لوشلې او په خلکو یې څښلې نو هغه زما لپاره هم شیدې ولوشلې چي ما هغه په |

مشك کي واچولې او دا هغه شیدې دي، (د دي په اوریدو سره) حضرت عمر ﷺ په خپل ستوني کي لاس دننه کړ او قی یې وکړ او هغه شیدې یې د نس څخه را وایستلې (ځکه چي هغه د زکوة مال وو چي د هغوئ لپاره جائز نه وو). بیهقي په شعب الایمان کي.

**د حرام مال شیان پر عبادت اثر کوي**

| | |
|---|---|
| (۲۶۶۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَفِيهِ دِرْهَمٌ حَرَامٌ لَمْ يَقْبَلِ اللهُ لَهُ | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی څوك چي (مثلا) په لس درهمه سره کالي را نیسي او په |

صَلَاةٌ مَادَامَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَدْخَلَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ قَالَ صُمَّتَا إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُهُ يَقُولُهُ . رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان وقال اسناده ضعيف .

هغه کي يو درهم (د حرام مال) وي نو خداي تعالى تر هغه وخته پوري د هغه کس لمونځ نه قبلوي تر څو پوري چي هغه کالي يې د بدن څخه نه وي کښلي د دې په ويلو سره ابن عمر

خپل دواړي ګوتي په غوږو کي ننه ايستلې او وه يې ويل : دا دواړه غوږونه دي کاڼه سي که دا الفاظ ما د نبي کريم ﷺ څخه نه وي اوريدلي (احمد او بيهقي) په بيهقي کي راغلي چي دا حديث غريب دي .

# بَابُ الْمُسَاهَلَةِ فِي الْمُعَامَلَةِ (په معاملاتو کي د نرمۍ بيان)

## لومړی فصل

### د نرمي کونکي لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

(٢٦٧٠): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى . رواه البخاري .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خداي ﷺ دي پر هغه سړي رحم وکړي کوم چي نرمي کوي کله چي رانيول او خرڅول او غوښتنه کوي (بخاري)

### تاسو د بل په معامله کي نرمي کوي الله تعالى به ستاسو په معامله کي نرمي وکړي

(٢٦٧١): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّ رَجُلًا كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ أَتَاهُ الْمَلَكُ لِيَقْبِضَ رُوحَهُ فَقِيلَ لَهُ هَلْ عَمِلْتَ مِنْ خَيْرٍ قَالَ مَا أَعْلَمُ قِيلَ لَهُ انْظُرْ قَالَ مَا أَعْلَمُ شَيْئًا غَيْرَ أَنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا وَأُجَازِيهِمْ فَأُنْظِرُ الْمُوسِرَ وَأَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُعْسِرِ فَأَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ . متفق عليه وفي رواية لمسلم نحوه عن عقبة بن عامر وابي مسعود الانصاري فقال الله انا احق بذا منك تجاوزوا عن عبدي .

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو څخه په مخکښني خلکو کي يو سړی وو کوم وخت چي د مرګ ملکه هغه ته د روح دقبضولو لپاره راغله نو د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي ايا تا يو نيك کار کړي دي؟ نو هغه جواب ورکړ چي زما په ياد نه دي ملکي ورته وويل چي سوچ وکړه پياد يې کړه نو هغه جواب ورکړ چي نور څه مي نه پياديږي خو دا خبره مي ياد ده چي په دنيا کي به مي د خلکو سره په رانيولو او پلورلو کي د غوښتني په

وخت کي مي ور سره احسان کوی يعني شتمن ته مي وخت ورکوي او ارس کس مي معافوي نو "د دې په برکت سره" جنت ته داخل کړل سو. "بخاري اومسلم" او د مسلم په یوه روايت کي راغلي دي چي خداي تعالي "د دغه بیان په اوریدو سره" وفرمايل: زه ستا څخه ډیر د معافولو حق لرم ملائکو! تاسو زما دا بنده معاف کړئ.

**په رانیولو او پلورلو کي ډیر قسمونه مه اخلئ**

| | |
|---|---|
| (۲۶۷۲): وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ فَاِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ. رواه مسلم. | د حضرت ابوقتاده ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د اخيستلو او پلورلو په معاملاتو کي زيات قسمونه مه اخلئ |

زيات قسمونه اخيستل رواج پيدا کوي او برکت ضائع کوي. "مسلم"

| | |
|---|---|
| (۲۶۷۳): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ. متفق عليه. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي په قسم سره سودا زر خرڅه سي خو برکت يې ځي. "بخاري اومسلم" |

**د دروا غو قسم اخيستونکي لپاره وعيد**

| | |
|---|---|
| (۲۶۷۴): وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ قَالَ اَبُوْ ذَرٍّ خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ الْمُسْبِلُ وَالْمَنَّانُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ. رواه مسلم | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دري کسان دي چي د قيامت په ورځ ورسره خداي تعالي خبري نه کوي نه به د هغوئ لور ته گوري او نه به هغوئ د گناهونو څخه پاك کړي او د هغوئ لپاره دردناکه عذاب دي ابوذر ﷺ پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ! هغه بدبخته او د نيکي څخه |

محرومه او زيان کاران سول څوك دي دوئ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: ۱- يو خو اوږدې پائڅې "يعني د بجلکو لاندي پر توگ اغوستونکي، ۲- احسان کونکي، ۳- هغه څوك چي په قسم خوړلو سره خپل مال خرڅوي. "مسلم".

# دویم فصل

## د امانت دار کاروباري فضیلت

| | |
|---|---|
| (۲۶۷۵): عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْأَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ .رواه الترمذي والدارمي والدار قطني و رواه ابن ماجة عن ابن عمر وقال الترمذي هذا حديث غريب. | د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :سوداګر رښتیا ویونکی. امانت دار به د نبیانو شهیدانو او صدیقانو سره وي (ترمذي دارمي دار قطني) ابن ماجه د ابن عمر ﷺ څخه روایت کړي چي ترمذي وویل دا حدیث غریب دي . |

## د تجارت سره د صدقې او خیرات حکم

| | |
|---|---|
| (۲۶۷۶): وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ قَالَ كُنَّا نُسَمَّى فِي عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّمَاسِرَةَ فَمَرَّ بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمَّانَا بِاسْمٍ هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلْفُ فَشُوْبُوْهُ بِالصَّدَقَةِ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة . | د حضرت قیس بن ابي غزوه ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي به موږ خلکو (تاجرانو) ته دلال ویل یوه ورځ نبي کریم ﷺ زموږ سره تیر سو نو موږ یې داسي نوم کښېښود چي د مخکیني نوم څخه بهتره وو نبي کریم ﷺ وفرمایل : اې د تاجرانو ډلی ! په خرڅولو کي بې فائدې خبرې او قسمونه پېښيږي |

تاسو د بیع سره خیرات یو ځای کوئ (یعني صدقه خیرات ور کوئ کوم چي د بې فائدې خبرو کفاره کیږي). (ابو داؤد ترمذي نسائي ابن ماجه)

## د تاجرانو لپاره وعید

| | |
|---|---|
| (۲۶۷۷): وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ أَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التُّجَّارُ يُحْشَرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا إِلَّا مَنِ اتَّقَى وَبَرَّ وَصَدَقَ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي و روى البيهقي في شعب الايمان عن البراء و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح . | د حضرت عبید بن رفاعه ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د نبي کریم ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د تاجرانو حشر فاجرانو (دروغجنو او نافرمانو) خلکو سره وي خو (هغه تاجران نه) چا چي پرهیزګاري اختیار کړي وي نیکي یې وکړه او رښتیا یې |

وویل .(ترمذي ابن ماجه دارمي بیهقي شعب الایمان) په شعب الایمان کي د براء څخه روایت کړي چي ترمذي کي راغلي چي دا حدیث حسن صحیح دي .

# بَابُ الْخِيَارِ (د اختيار بيع بيان)

## لومړی فصل

### د خيار مجلس مسئله

(۲۶۷۸): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَبَايِعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ متفق عليه و في رواية لمسلم إِذَا تَبَايَعَ الْمُتَبَايِعَانِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ مِنْ بَيْعِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَكُوْنُ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فاذا كان بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فَقَدْ وَجَبَ وفي رواية الترمذي البيعان بالخيار مَالَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَخْتَارَا في المتفق عليه او يقول احدهما لصاحبه اختر بدل او يختارا .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اخيستونکي او پلورونکي دواړو کي هر يو تر څو چي جلا سوي نه وي يو د بله سره اختيار لري (که غواړي د را نيولو او خرڅولو معامله پاته وساتي خواه رد يې کړي يعني د هغه خايه څخه د تللو وروسته خرڅول پوره کيږي او وروسته اختيار پاته نسي) خو د بيعي د اختيار څخه پرته چي په دې کي د جلا والي وروسته بيا هم اختيار پاته وي .(بخاري او مسلم) او په مسلم کي دا الفاظ هم سته هر کله چي اخيستونکي او خرڅونکي د رانيولو او خرڅولو معامله وکړي نو په هغوئ کي هر يو په خپله معامله کي اختيار لري تر څو پوري چي په هغوئ کي يو د بله سره جلا نسي يا د هغوئ بيعه (بيع الاخيار) نه وي په دې صورت کي اختيار واجب دي او ترمذي کي دي چي په دوئ کي يو کس خپل ملګري ته دا ويلاي سي چي تا ته اختيار دي په ځاي کي د (يختارا) يعني دواړه اختيار لري .

(۲۶۷۹): وَعَنْ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُوْرِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا . متفق عليه

د حضرت حکيم بن حزام ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : را نيونکي او خرڅونکي تر څو پوري چي يو دبله سره جلا نسي اختيار لري که دواړه خپل مينځ کي رښتيا ووايي او د شي حقيقت څرګند کړي نو د هغوئ په بيعي کي برکت اچول کيږي او که عيب پټ کړي او درواغ ووايي نو په بيعه کي يې برکت نه پاته کيږي .(بخاري او مسلم)

**په رانيولو او پلورلو کي چم مه کوئ**

| | |
|---|---|
| (٢٦٨٠): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ فَقَالَ إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ لَا خِلَابَةَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَقُولُهُ . متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي يوه سړی نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ په بيعي کي ما تـه دوکـه را کـول کيـږي رسـول الله ﷺ وفرمايل: کله چي ته يو شی خرڅوې نو دا |

الفاظ وايه دوکه نسته (په دين کي) او هغه سړي به دا ويل .(بخاري او مسلم).

## دويم فصل

**په کاروبار کي د فريقينو رضامندي**

| | |
|---|---|
| (٢٦٨١): عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلَّا أَنْ يَكُونَ صَفْقَةَ خِيَارٍ وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُفَارِقَ صَاحِبَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي . | حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه د خپل پـلاره څخـه روايـت کـوئ چي رسـول الله ﷺ وفرمايـل: را نيـونکي او خرڅونکي تر څو پوري چي جلا نسي دواړه |

اختيار لرئ که بيعه اختياري وي او په دواړو کي يوه ته هم دا خبره جائز نه ده چي په معاملو کولو سره د هغه ځايه څخه ولاړ سي په دې خيال چي د دويم سړی د بيعي د فسخه کولو اختيار پاته نسي .(ترمذي ابو داؤد نسائي)

| | |
|---|---|
| (٢٦٨٢): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَفْتَرِقَنَّ اثْنَانِ إِلَّا عَنْ تَرَاضٍ . رواه ابوداؤد . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: رانيونکي او خرڅونکي دي تر هغه وخته پوري يو دبله نه جلاکيږي تر څو پوري |

چي دواړه په بيعي کي را ضي نسي .(ابو داؤد).

## دريم فصل

**د عقيد بيع وروسته د فسخ اختيار**

| | |
|---|---|
| (٢٦٨٣): عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيَّرَ أَعْرَابِيًّا بَعْدَ الْبَيْعِ . رواه الترمذي وقال هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صحيح غَرِيبٌ . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه صحرائي ته تر خرڅولو وروسته اختيار ورکړ .(ترمذي) او په ترمذي کي دا حديث حسن صحيح غريب دي . |

# بَابُ الرِّبٰو (د سود بيان)

## لومړی فصل

### پر سود اخيستونكي او وركونكي لعنت

(۲۶۸۴): عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَاءٌ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ پر سود خوړونكي باندي او پر سود اخيستونكي باندي د سود پر وركونكي باندي د سود كاغذ ليكونكي باندي لعنت ويلي دي او فرمايلي يې دي چي هغوئ ټول په (ګناه) كي برابر دي . مسلم .

### د سود صورت

(۲۶۸۵): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هٰذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيْعُوْا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ. رواه مسلم .

د حضرت عباده بن صامت ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سرو زرو په بدله كي د سره زر او د سپينو زرو په بدله كي سپين زر او د غنمو په بدله كي غنم او د اوربشو په بدله كي اوربشي د خرماؤ په بدله كي خرما د مالګي په بدله كي مالګه برابر برابر لاس په لاس خرڅ كړئ او كله چي دا جنسونه مختلف وي نو څرنګه چي غواړي خرڅ يې كړئ خو په دې شرط چي معامله لاس په لاس وي . (مسلم)

(۲۶۸۶): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ أَرْبٰى الْآخِذُ وَالْمُعْطِيْ فِيْهِ سَوَاءٌ . رواه مسلم .

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سره زر د سرو زرو په بدله كي خرڅوئ د سپينو زرو په بدله كي سپين زر او د غنمو په بدله كي غنم او د اوربشو په بدله كي اوربشي د خرماؤ په بدله كي خرما د مالګي په بدله كي مالګه برابر برابر لاس په لاس خرڅوئ ليكن چاچي زيات وركړ يا يې زيات واخيستل نو هغه سود واخيستی او سود اخيستونكی او سود وركونكی دواړه په ګناه كي برابر دي . مسلم .

## د سرو او سپينو زرو حکم

| | |
|---|---|
| (۲۶۸۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبِيْعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ وَلَا تَبِيْعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَلَا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ وَلَا تَبِيْعُوا مِنْهَا غَائِبًا بِنَاجِزٍ . متفق عليه و في رواية لا تبيعوا الذهب بالذهب ولا الورق بالورق الا وزنا بوزن . | د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چي د سرو زرو په بدله کي سره زر مه خرڅوئ خو بالکل برابر او خيني پرخينو مه زياتوئ او مه د سپينو زرو په بدله کي سپين زر مگر برابر او خيني پر خينو مه زياتوئ او مه يې داسي خرڅوئ چي يو موجود وي او بل نه وي . (بخاري او مسلم) او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي سره زر د سرو زرو په بدله کي |

او سپين زر د سپينو زرو په بدله کي مه خرڅوئ بلکه دواړه برابر وي .

## د هم جنسو شيانو تبادله

| | |
|---|---|
| (۲۶۸۸): وَعَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ كُنْتُ اَسْمَعُ سُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الطَّعَامُ بِالطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ . رواه مسلم . | د حضرت معمر بن عبد الله ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې خوراك په خوراك مثل په مثل دئ .مسلم |

## د هم قدره شيانو تبادله

| | |
|---|---|
| (۲۶۸۹): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالْوَرِقُ بِالْوَرِقِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ .متفق عليه | د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چي وسول الله ﷺ وفرمايل : سره زر د سرو زرو په بدله کي سود دي که لاس په لاس خرڅ نه کړل سي او سپين زر د سپينو زرو په بدله کي سود دي که لاس په لاس خرڅ نه کړل سي او غنم د غنمو په بدله کي سود دي که لاس په لاس خرڅ نه کړل سي |

او اوربشي د اوربشو په بدله کي سود دي که لاس په لاس خرڅ نه کړل سي او خرما د خرماؤ په بدله کي سود دي که لاس په لاس خرڅ نه کړل سي .(بخاري اومسلم) .

## د ښه او خرابو شيانو تبادله

| | |
|---|---|
| (۲۶۹۰): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ وَّ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا | د حضرت ابو سعيد او حضرت ابوهريره رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو سړی د خيبر |

عَلَى خَيْبَرَ فَجَاءَهُ بِتَمْرٍ جَنِيبٍ فَقَالَ أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هَكَذَا قَالَ لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هَذَا بِالصَّاعَيْنِ وَالصَّاعَيْنِ بِالثَّلَاثِ فَقَالَ لَا تَفْعَلْ بِعْ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا وَ قَالَ فِي الْمِيزَانِ مِثْلَ ذَالِكَ . متفق علیه

عامل مقرر کړ هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي د ښو خرماؤ سره حاضر سو نبي کريم ﷺ ور څخه پوښتنه وکړه چي ايا د خيبر ټولي خرماوي داسي دي ؟ هغه وويل: يا رسول الله ﷺ! په خداى تعالي دي مي قسم وي يو صاع دا خرماوي په دوو صاعو. خرماؤ سره اخلو او دوه صاع خرماوي په درو صاعو خرماؤ په بدل کي اخلو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: داسي مه کوه هر ډول خرماوي په جمعه سره خرڅي کړه په دراهمو او بيا يې رانيسه په دراهمو ښه خرماوي او ويلي دي ده ﷺ په ميزان (تول) کي په مثل ددې. (بخاري او مسلم)

(۲۶۹۱): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ جَاءَ بِلَالٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ بَرْنِيٍّ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَيْنَ هَذَا قَالَ بِلَالٌ كَانَ عِنْدَنَا تَمْرٌ رَدِيٌّ فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ فَقَالَ أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا عَيْنُ الرِّبَا لَا تَفْعَلْ وَلَكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِيَ فَبِعْ التَّمْرَ بِبَيْعٍ آخَرَ ثُمَّ اشْتَرِبِهِ . متفق علیه

د حضرت سعيد ﷺ څخه روايت دی چي بلال ﷺ د ښو ډولو خرماؤ سره د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو نبي کريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چي دا دي د کوم ځاي څخه راوړي ؟ حضرت بلال ﷺ ورته وويل: زما سره کمزوري خرماوي وې نو ما دهغو څخه دوه صاعه ورکړه او يو صاع دا خرماوي مي څيني واخيستلې رسول الله ﷺ ورته فرمايل: آه دا خو سود دی دا خو سود دی داسي مه کوه که تا ته ضرورت وي نو اول خپلي خرماوي خرڅي کړه او بيا وروسته د هغو په قيمت سره نوري خرماوي واخله. (بخاري او مسلم).

## د يوه غلام په بدله کي دوه غلامه

(۲۶۹۲):وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ عَبْدٌ فَبَايَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَلَمْ يَشْعُرْ أَنَّهُ عَبْدٌ فَجَاءَ سَيِّدُهُ يُرِيدُهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعْنِيهِ فَاشْتَرَاهُ بِعَبْدَيْنِ أَسْوَدَيْنِ و لَمْ يُبَايِعْ أَحَدًا بَعْدُ حَتَّى يَسْأَلَهُ أَعَبْدٌ هُوَ أَوْ حُرٌّ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي يو غلام د نبي کريم ﷺ پر هجرت کولو باندي بيعت وکړ نبي کريم ﷺ ته معلومه نه سوه چي دی غلام دي د هغه مالك د هغه په تلاش راغلي رسول الله ﷺ وهغه ته وفرمايل: دی پر ما خرڅ کړه نو نبي کريم ﷺ دوه تور رنګي غلامانو په ورکولو سره هغه رانيوي . او بيا يې وروسته د هيڅ يوه سره بيعت نه کوي تر څو پوري چي پوښتنه به يې وکړه چي هغه ازاد دي او که غلام . (مسلم)

**د هم جنسو شیانو په تفاوت سره راکړه او ورکړه جائز نه ده**

(۲۶۹۳): وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَّمْرِ لَا يُعْلَمُ مَكِيلَتُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمَّى مِنَ التَّمْرِ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ منع کړې ده له خرڅولو د ډيري (چې غته کوته خرماوې يو ځای پرتې وي) د خرماوو چې معلومه نه وي اندازه د هغه په پیمانه معین سره له خرماؤ څخه . مسلم

**د سرو زرو مسئله**

(۲۶۹۴): وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ اشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا فِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ فَفَصَّلْتُهَا فَوَجَدْتُ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ اثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا تُبَاعُ حَتَّى تُفَصَّلَ . رواه مسلم .

د حضرت فضاله بن ابي عبيد ﷺ څخه روایت دی چې ما د خیبر د جګړې په کال کې یو امیل په دوولس دیناره رانیوی چې په هغه کې سره زر هم وه او غمي هم وروسته مې د امیل څخه دواړه شیان جلا کړه نو سره زر د دوولسو دینارو څخه زیات سوه د هغه ذکر ما رسول الله ﷺ ته وکړ نو نبي کریم ﷺ راته وفرمایل : تر څو پوري چې سره زر او غمي جلا جلا نسي داسي امیل پلورلای نسي . مسلم

## دويم فصل

**د سود په اړه د رسول الله ﷺ پیشګوئي**

(۲۶۹۵): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عن رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا آكِلُ الرِّبَا فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهِ وَيُرْوٰى مِنْ غُبَارِهِ . رواه احمد و ابوداؤد والنسائي و ابن ماجة .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : پر خلکو باندي به داسي زمانه راسي چې پرته له سودخورو څخه به بل څوک پاته نسي که یو څوک پاته سي نو هغه ته به یې اثر رسیږي او په یوه بل روایت کې دي چې هغه ته به د سود ګرد رسیږي . (احمد ابو داؤد نسائي ابن ماجه)

**د مختلف الجنس شیانو لاس په لاس راکړه ورکړه**

(۲۶۹۶): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ وَلَا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ وَلَا الْبُرَّ بِالْبُرِّ وَلَا الشَّعِيرَ بِالشَّعِيرِ

د حضرت عباده بن صامت ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : سره زر د سرو زرو په بدله کې مه خرڅوئ نه سپین زر د سپینو

وَلاَ التَّمرَ بِالتَّمرِ وَلاَ الْمِلْحَ بِالْمِلْحِ إِلاَّ سَوَاءٍ بِسَوَاءٍ عَيْنًا بِعَيْنٍ يَدًا بِيَدٍ وَلٰكِنْ بِيْعُوْا الذَّهَبَ بِالْوَرِقِ وَالْوَرِقَ بِالذَّهَبِ وَالْبُرَّ بِالشَّعِيْرِ وَالشَّعِيْرَ بِالْبُرِّ وَالتَّمرَ بِالْمِلْحِ وَالْمِلْحَ بِالتَّمرِ يَدًا بِيَدٍ كَيْفَ شِئْتُمْ . رواه الشافعي

زرو په بدله کي نه غنم د غنمو په بدله کي نه اوربشي د اوربشو په بدله کي نه خرماوي د خرماو په بدله کي او نه مالګه د مالګي په بدله کي مګر بالکل برابر پر برابر به يې خرڅوئ د نغدو په بدله کي نغد او لاس په لاس يې خرڅوئ او سره زر د سپينو زرو په بدله کي او سپين زر د سرو زرو په بدله کي او غنم د اوربشو په بدله کي او خرما د مالګي په بدله کي او مالګه د خرما په بدله کي لاس په لاس خرڅوئ څنګه چي تاسو غواړي خرڅوي يې . (شافعي)

## د وچو او تازه ميوو مسئله

(۲۶۹۷): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنْ شِرَى التَّمْرِ بِالرُّطَبِ فَقَالَ اَيَنْقُصُ الرُّطَبُ اِذَا يَبِسَ فَقَالَ نَعَمْ فَنَهٰى عَنْ ذٰلِكَ . رواه مالك و الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

د حضرت سعد بن وقاص ؓ څخه روايت دی چي ما واوريدل چي د رسول الله ﷺ څخه د وچو خرماو په بدله کي د تازه خرماو اخيستلو په اره پوښتنه ځيني وسوه نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ايا د وچو خرماو وزن د لندو خرماو په مقابل کي کميږي ؟ ورته وويل سوه . بلې هو! نو نبي کريم ﷺ ددې د خرڅولو څخه منعه وکړه . (ترمذي مالك ابوداؤد نسائي ابن ماجه)

## د غوښو او حيوانانو تبادله

(۲۶۹۸): وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلاً اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ اللَّحْمِ بِالْحَيَوَانِ قَالَ سَعِيْدٌ كَانَ مِنْ مَيْسِرِ اَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ . رواه في شرح السنة

د حضرت سعيد بن مسيب ؓ څخه مرسلا روايت دی چي رسول الله ﷺ غوښه د حيوان په بدله کي خرڅولو څخه منعه کړې ده . د سعيد بيان دي چي دا طريقه د جاهليت د خمار څخه وه. (شرح السنة)

## د دوو حيوانانو تبادله

(۲۶۹۹): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيْئَةً . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت سمره بن جندب ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د حيوان په بدله کي حيوان په وعده يعني قرض خرڅولو څخه منعه فرمايلې ده . (ترمذي ابو داؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

د غیر مثلي شي د پور اخیستلو مسئله

| | |
|---|---|
| (۲۷۰۰): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُ أَنْ يُجَهِّزَ جَيْشًا فَنَفِدَتِ الْإِبِلُ فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ قِلَاصِ الصَّدَقَةِ فَكَانَ يَأْخُذُ الْبَعِيرَ بِالْبَعِيرَيْنِ إِلَى إِبِلِ الصَّدَقَةِ . رواه ابوداؤد | د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و هغه ته د فوج سامان د ترتیبولو امر وکړ او کوم وخت چي د اوښانو کمي سوه نو یې وفرمایل : د صدقې د اوښانو په بدله کي قرض واخله نو عبد الله یو |

اوښ ددوو اوښانو په بدله کي د صدقې له اوښانو په وعده رانیول .(ابو داؤد)

## دریم فصل

په پورکي د سود مسئله

| | |
|---|---|
| (۲۷۰۱): عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ . وفي رواية قال : " لا ربا فيما كان يدا بيد .متفق عليه . | د حضرت اسامه بن زید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سود په قرض کي دي او د بل یوه روایت دا الفاظ دي په هیڅ شی کي |

سود نسته چي لاس په لاس (سودا) وي . (بخاري او مسلم)

پر سود خوړلو باندي وعید

| | |
|---|---|
| (۲۷۰۲): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ حَنْظَلَةَ غَسِيلِ الْمَلَائِكَةِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِرْهَمُ رِبًا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِيْنَ زنيه. رواه أحمد والدراقطني وروى البيهقي في شعب الإيمان عن ابن عباس وزاد : وقال من نبت لحمه من السحت فالنار أولى به | د حضرت عبدالله بن حنظله غسیل ملائکه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د سود یو درهم چي څوک قصدا وخوري د شپږ دېرش زناګانو څخه زیاته ګناه لري . (احمد دارقطني) او په بیهقي په شعب الایمان کي د ابن عباس ﷺ څخه دا روایت نقل سوي دي او دا الفاظ یې زیات کړي |

دي نبي کریم ﷺ وفرمایل:کومه غوښه چي نښ و نمو یې په حرام مال سره سوي وي هغه د دوزخ لائقه ده .

| | |
|---|---|
| (۲۷۰۳): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرِّبَا سَبْعُوْنَ جُزْءًا أَيْسَرُهَا أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ امه . | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د سود د ګناه اویایمه برخه د دي ګناه دا سي ده لکه څوک چي د خپلي مور سره نکاح وکړي . |

(٢٧٠٤): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرِّبَا وَإِنْ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيْرُ إِلٰى قُلٍّ. رواهما ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان . وروى أحمد الأخير .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سود مال په ظاهره زياتيږي ليکن پای يې کم وي . دا دواړه حديثونه ابن ماجه او بيهقي روايت کړيدي او دويم حديث احمد روايت کړی دی.

(٢٧٠٥): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِيْ عَلٰى قَوْمٍ بُطُوْنُهُمْ كَالْبُيُوْتِ فِيهَا الْحَيَّاتُ تُرٰى مِنْ خَارِجِ بُطُوْنِهِمْ فَقُلْتُ مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرَائِيْلُ قَالَ هٰؤُلَاءِ أَكَلَةُ الرِّبَا . رواه احمد وابن ماجة .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د معراج په شپه زه د يو داسي قوم سره تېر سوم چي د هغوئ نسونه دلوئ سرايو په شان وه او نسونه يې د مارانو څخه ډك وه کوم چي د دباندي څخه معلومېدل ما د حضرت جبرئيل ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دا څوك دي؟ هغه په جواب کي وويل چي دا سود خواره دي .(احمد ابن ماجه)

## پر سود خوړونکي باندي لعنت

(٢٧٠٦): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَمَانِعَ الصَّدَقَةِ وَكَانَ يَنْهٰى عَنِ النَّوْحِ . رواه النسائي

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه وا وريدل پر سود خور سود ورکونکي د سود کاغذ ليکونکي د سود حساب ساتونکي او صدقه منعه کونکي باندي لعنت ويلي دي او نبي کريم ﷺ پر وير کولو هم منع فرمايلي ده . (نسائي)

## د سود تشريح

(٢٧٠٧): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ إِنَّ آخِرَ مَا نَزَلَتْ آيَةُ الرِّبَا وَإِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ وَلَمْ يُفَسِّرْهَا لَنَا فَدَعُوا الرِّبَا وَالرِّيْبَةَ . رواه ابن ماجة والدارمي .

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دی چي اخيري شی چي په رسول الله ﷺ باندي نازل سوي دي هغه د ربوا(سود) ايت وو او رسول الله ﷺ وفات سو او د دې ايت تفسير يې موږ ته و نه فرمايل نو په دې وجه تاسو سود او هغه شی چي په هغه کي د سود شك وي پرېږدئ . (ابن ماجه دارمي)

## د پوروړي تحفه مه قبلوئ

(۲۷۰۸): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَال رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَقْرَضَ أَحَدُكُمْ قَرْضًا فَاَهْدَى اليه اَوْ حَمَلَهُ عَلَى الدَّابَّةِ فَلَا يَرْكَبْهَا وَلَا يَقْبَلْهُ إِلَّا اَنْ يَكُونَ جَرٰى بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ . رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان .

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي چي څوك يو چا ته قرض ور کړي وروسته بیا قرض اخیستونکي هغه ته څه هدیه یا تحفه ور ولیږي یا د سپرتیا لپاره یو حیوان ورکړي نو هغه دي نه پر سپرلی سپرېږي او نه دي تحفه یا هدیه قبلوي مګر هغه وخت يې قبلولای سي چي تر قرض ور کولو مخکي هم دغه معامله جاري وي. (ابن ماجه بیهقي)

(۲۷۰۹): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اَقْرَضَ الرَّجُلُ الرجل فَلاَ يَاْخُذْ هَدِيَّةً. رواه البخاري في تاريخه هكذا في المنتقى .

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي څوك چا ته قرض ورکړي نو بیا د قرض اخیستونکي دي تحفه نه قبلوی.

(دا حدیث د بخاري په تاریخ کي روایت سوي دي او همداسي په منتقی کي دي).

(۲۷۱۰): وَعَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ فَلَقِيتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ سَلَامٍ فَقَالَ إِنَّكَ بِاَرْضٍ فِيهَا الرِّبَا فَاشٍ فَإِذَا كَانَ لَكَ عَلَى رَجُلٍ حَقٌّ فَاَهْدَى إِلَيْكَ حِمْلَ تِبْنٍ اَوْ حِمْلَ شَعِيرٍ اَوْ حِمْلَ قَتٍّ فَلَا تَاْخُذْهُ فَإِنَّهُ رِبًا . رواه البخاري.

د حضرت ابو برده بن ابي موسی ﷛ څخه روایت دی چي زه مدینې منورې ته راغلم نو بیا ما د عبدالله بن سلام سره ملاقات وکړ هغه ما ته وویل: ته په داسي علاقه کي يې چي سود په پراخه پیمانه پکي رواج دي په داسي حالت کي که چیري ستا په یو چا قرض وي نو په داسي حالت کي هغه تا ته د وښو یا بوسو یو پلنډه یا د اوربشو یوه بوری را ولیږي نو ته يې مه څیني اخله څکه چي دا د سود په حکم کي راځي. (بخاري).

# بَابُ الْمَنْهِيِّ عَنْهَا مِنَ الْبُيُوْعِ

## (د منعه پلورلو شيانو بيان)

## لومړی فصل

### د منع سوو بيعو بيان

(٢٧١١): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ اَنْ يَبِيعَ ثَمَرَ حَائِطِهِ اِنْ كَانَ نَخْلًا بِتَمْرٍ كَيْلًا وَاِنْ كَانَ كَرْمًا اَنْ يَبِيعَهُ بِزَبِيبٍ كَيْلًا اَوْ كَانَ وَ عِنْدَ مُسْلِمٍ وَاِنْ كَانَ زَرْعًا اَنْ يَبِيعَهُ بِكَيْلِ طَعَامٍ نَهٰى عَنْ ذٰلِكَ كُلِّهِ. متفق عليه و في رواية لهما نهى عن المزابنة قال و المزابنة ان يباع ما في رؤس النخل بتمر بكيل مسمى ان زاد فلي وان نقص فعلي.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د مزابنـه (د خپل بـاغ تـازه ميوه د وچي ميوې په بدله کي خرڅولو) څخه منع فرمايلې ده چي خرڅوي ميوه د خپل بـاغ کـه خرمـا وي په خرماؤ سـره پـه پيمـانو او کـه انگـور وي چي خرڅوي يې په وچه ميوه په پيمانو او يـا وي، او په نزد د مسلم داسي دی چي او که وي فصل چي خرڅوي يې په پيمانو معلومو د طعام سره منعه يې کړي له دې ټولو څخه . متفق عليه، او په يو روايت کي دواړو لره داسي دي چي منعه يې کړې ده له مزابنې څخه ، ويلي دي رسول الله ﷺ مزابنه داده چي خرڅوي شی هغه چي په سرونو د خرماؤ کي وي په وچو خرماؤ په پيمانو معلومو سره که زياتي سوې نو زما وي او که کمي سوې نو پر ما دي.

(٢٧١٢): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُخَابَرَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُحَاقَلَةُ اَنْ يَّبِيْعَ الرَّجُلُ الزَّرْعَ بِمِائَةِ فَرَقٍ حِنْطَةٍ وَالْمُزَابَنَةُ اَنْ يَّبِيْعَ التَّمْرَ فِيْ رُؤُسِ النَّخْلِ بِمِائَةِ فَرَقٍ وَّ الْمُخَابَرَةُ كِرَاءُ الْاَرْضِ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د مخابره محاقله او مزابنه څخه منعه فرمايلې ده او محاقلت دادي چي څوك د خپل ولاړ فصل سل فرق (ديوه پيماني نوم) د غلي خرڅ کړي . او مزابنه داده چي څوك هغه خرماوي چي په ونو کي وي د سل فرقو خرماؤ په عوض کي خرڅي کړي او مخابره داده چي يو سړی خپله مځکه د کښت لپاره ورکړي مثلا د پيداوار په نيمه يا دريمه يا څلورمه . (مسلم)

| | |
|---|---|
| (٢٧١٣): وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ والمخابرة والمعاومة وَعَنْ الثُّنْيَا وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا. رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د محاقله ، مزابنه، مخابره، معاومه او ثنيا څخه منعه فرمايلې ده او د عرايا اجازت يې ورکړي دي . (مسلم) |
| (٢٧١٤): وَعَنْ سَهْلَ بْنَ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ نَهَى أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ التَّمَرِ بِالتَّمَرِ الاَّ أَنَّهُ رَخَّصَ فِي الْعَرِيَّةِ أَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا تَمْرًا يَأْكُلُهَا أَهْلُهَا رُطَبًا . متفق عليه | د حضرت سهل بن ابي حثمه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په ونو کي د خرماؤ او د وچو خرماؤ په بدله کي خرڅولو څخه منعه کړېده ليکن عرية کي يې د دې اجازت ورکړي دي |

چي د درختو خرماوي د وچو خرماؤ په بدله کي خرڅي کړئ او د هغه ميوه دده اهل (را نيونکي)وخوري . (بخاري اومسلم)

**د بيع عرايا مسئله**

| | |
|---|---|
| (٢٧١٥):وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْخَصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا مِنَ التَّمْرِ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ أَوْ فِي خَمْسَةِ أَوْسُقٍ شَكَّ دَاوُدُ ابن الحصين . متفق عليه | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د عرايا يعني د ونو د ميوو اندازه کولو سره د خرڅ اجازت ورکړي دي د خرماؤ اندازه په پنځه وسق يا د دې څخه کم وي يعني پنځه |

وسق پوري اندازه سوي خرماوي دي خرڅولاي سي د دې څخه زيات اجازه نسته . وسق شپېته صاع وي او په صاع کي ځلور سېره ته نژدې غله ځائيږي، او شک کړی دی داؤد بن حصين . (بخاري اومسلم)

**د اومو ميوو د بيع ممانعت**

| | |
|---|---|
| (٢٧١٦): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا نَهي البائع والمشتري . متفق عليه و في رواية لمسلم نهى عن بيع النخل حتى تزهو وعن السنبل حتى يبيض ويامن العاهة . | د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ تر هغه وخته پوري د ميوو خرڅولو څخه منعه کړېده تر څو پوري چي دهغو پوخوالي ځرګند سوي نه وي او ممانعت د خرڅونکي او را نيونکي دواړو لپاره دي .(بخاري او مسلم) او د مسلم په يوه |

بل روايت کي راغلي چي رسول الله ﷺ د خرماؤ ميوه دارو ونو څخه تر هغه وخته پوري د خرڅولو

ښخه منعه کړېده تر څو پورې چې د هغو مېوه سره او ژړه نه وي او د فصل وړې د خرڅولو ښخه يې منعه فرمايلې ده تر څو پورې چې پخه نه وي او د آفت ښخه محفوظه وي.

(۲۷۱۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتّٰى تُزْهِيَ قِيلَ لَهُ وَمَا تُزْهِي قَالَ حَتّٰى تَحْمَرَّ وَقَالَ أَرَأَيْتَ إِذَا مَنَعَ اللّٰهُ الثَّمَرَةَ بِمَ يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷜ ښخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د مېوه دارو ونو د خرڅولو ښخه منعه فرمايلې ده تر څو پورې وچ رنګه نسي پوښتنه ښيني وسوه چې د دې مطلب څه دي؟ نو يې ور ته وفرمايل: تر څو پورې چې سره نسي او بيا يې وفرمايل: وښايه که خداى تعالى د مېوو د پخېدو ښخه منعه کړې وي نو په تاسو کې به څوک د خپل ورور مال څنګه اخلئ؟ (بخاري او مسلم)

**د ميوو او درختو پيشګي خرڅول**

(۲۷۱۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ السِّنِيْنَ وَأَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷜ ښخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د څو کالو لپاره د مېوو د پلورلو ښخه منعه فرمايلې ده (يعني يو دوه درې کاله پورې د پلورلو ښخه) او (د افتونو د نقصان په خاطر) يې د کمې کولو حکم کړې دي (يعني د تخم د غورځولو ښخه وروسته د يو افت په وجه په مېوو کې کمې راسي نو د تاوان ښخه د خلاصېدلو په خاطر رانيونکي ته د معاوضې کمي پوره سي) (مسلم)

**د ضائع سوي مبيع ذمه دار څوک دى؟**

(۲۷۱۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ بِعْتَ مِنْ أَخِيكَ ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ فَلَا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ بِغَيْرِ حَقٍّ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷜ ښخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که تا خپله مېوه په يوه مسلمان ورور خرڅه کړه او بيا په هغه مېوه باندې افت راغلي او هغه يې خرابه کړه نو ستا هيڅ حق نسته چې ته د خپل ورور ښخه څه واخلې او ته په ناحقه باندې ولې د خپل ورور ښخه مال اخلې. (مسلم)

**په منقوله شيانو کې د قبضې تر مخه بله بيع جائز نه ده**

(۲۷۲۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانُوا يَتَبَايَعُونَ الطَّعَامَ فِيْ أَعْلَى السُّوقِ فَيَبِيعُونَهُ فِيْ مَكَانِهِ فَنَهَاهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِهِ فِيْ مَكَانِهِ

د حضرت ابن عمر ﷜ ښخه روايت دى چې خلکو به په پورته بازار کې غله رانيول او بيا به يې خرڅول رسول الله ﷺ خلک ددې کار ښخه منعه

حَتّٰى يَنْقُلُوْهُ . رواه ابوداؤد و لم احده في الصحيحين .

کړه او حکم یې وکړ چې تر څو پورې تاسې غله د دې ځایه څخه نه وي نقل کړې خرڅولای یې نسئ .(ابو داؤد) خو په صحیحینو کې دا حدیث نسته .

(٢٧٢١): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ و في رواية ابن عباس حتى يكتاله . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :څوک چې غله رانیسي نو هغه دې تر هغه وخته پورې نه خرڅوي تر څو چې هغه پوره نه کړي (یعنې په هغه قبضولو څخه وروسته چې دهغې مقدار پوره نه کړي کوم چې د هغه خرید یې کړي وي ) او د ابن عباس ﷺ په یوه روایت کې دا الفاظ دي تر څو پورې چې هغه پیمانه نه کړي (بخاري او مسلم)

(٢٧٢٢): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَمَّا الَّذِي نَهٰى عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهُوَ الطَّعَامُ أَنْ يُبَاعَ حَتّٰى يُقْبَضَ قال ابن عباس ولا احسب كل شيئ الا مثله . متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې هغه شی چې د هغه څخه رسول الله ﷺ منعه کړېده هغه غله ده چې په قبضه کې د راوستلو مخکې خرڅه کړل سي او د ابن عباس بیان دي زما خیال نه دی چې په ممانعت کې هر شی شامل دي یعنې د هر شی حکم د غلې په شان دي . (بخاري او مسلم)

(٢٧٢٣): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ لِبَيْعٍ وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَيْعِ بَعْضٍ وَلَا تَنَاجَشُوْا وَلَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَلَا تُصَرُّوا الْاِبِلَ وَالْغَنَمَ فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ . متفق عليه و في رواية لمسلم من اشترى شاة مصراة فهو بالخيار ثلثة ايام فان ردها رد معها صاعا من الطعام لا سمراء .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو مخته مه ورځئ د قافلې (یعنې ښار ته د غلې د راتلو مخکې په لار کې خرید مه کوئ او په تاسو کې هیڅوک د یوه مسلمان ورور د بیع پورته بیع مه کوئ (یعنې د دوو خلکو په مینځ کې د خرید او فروخت معامله وي نو دریم سړی دی د هغه بیع په مقابله کې خپل مال په ارزانه قیمت نه ورکوي یا په هغه مال کې دي عیب نه راباسي )او فریب او چم مه کوئ او بازاري دي د صحرائي غله نه خرڅوي (یعنې یو کلیوال غله راوړي او په موجوده قیمت یې خرڅوي لیکن یو ښاري ووایي ته غله ماته وسپاره زه به یې په ګران قیمت خرڅه کړم ) او مه د اوښې او بزې په غولانزه کې شیدې جمعه کوئ (یعنې د دوو یا درو ورځو شیدې د حیوان په غولانزه کې مه جمعه کوئ چې بیا رانیونکی په خطا باسئ څوک چې

داسي يو حيوان را نيسي نو د شيدو لوشلو څخه وروسته هغو دواړو ته د خبرو اختيار دي که هغه راضي وي نو حيوان دي وساتي او که خوشحاله نه وي نو حيوان دي واپس کړي او د واپسېدو سره دي يو صاع خرماوي هم ورکړي (بخاري او مسلم) او د مسلم په يوه بل روايت کي را غلي دي چي يو څوك داسي بزه را نيسي چي په هغه کي يې شيدې جمعه کړي وي نو هغه ته تر درو ورځو اختيار سته (که يې ساتي او يا پرېږدي) که يې بيرته په لاس ورکوي نو يو صاع خرماوي دي هم ورسره ورکړي غنم دي نه ور کوي.

(۲۷۲۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلَقَّوُا الْجَلَبَ فَمَنْ تَلَقَّاهُ فَاشْتَرَى مِنْهُ فَإِذَا أَتَى سَيِّدُهُ السُّوقَ فَهُوَ بِالْخِيَارِ: رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د غلې د راوړونکي قافلې مخکي مه سره يو ځاي کيږي که چيري تاسو ور سره يو ځاي سي او غله څيني را نيسئ نو بيا د غلې مالك و بازار ته را سي نو هغه ته د بيع د قائم ساتلو او فسخه کولو اختيار سته (يعني که يې خوښه وي خرڅه دي يې کړي او که يې خوښه نه وي نو نه دي يې خرڅوي) (مسلم)

(۲۷۲۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلَقَّوُا السِّلَعَ حَتّٰى يُهْبَطَ بِهَا إِلَى السُّوقِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د سامان راوړونکو والاو مخته مه سره يو ځاي کيږئ او تر هغه وخته پوري د هغه مال مه رانيسي چي تر څو پوري هغه په مارکيټ کي خپل مال نه وي تا کړي. (بخاري او مسلم)

## د يو چا په معامله کي مه ورګډيږئ

(۲۷۲۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبِعْ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلَا يَخْطُبْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تر څو چي يو چاته د دې خبري اجازت ور نه کړل سي هيڅوك دي د خپل ورور په بيع کي خپل مال نه خرڅوي او نه دي د خپل ورور د نکاح د پيغام سربېره خپل پيغام ليږي. (مسلم)

(۲۷۲۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَسُمْ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅوك دي د خپل مسلمان ورور په مقابله کي (يعني کله چي فريقين په بيع راضي سوي وي) د يو شي قيمت دي نه لګوي. (مسلم)

**ښاري سړی دې د صحرائي مال نه پلوري**

(۲۷۲۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقْ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷜ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ښاري دې د صحرائي مال نه خرڅوي هغوئ دې پر خپل حال پرېږدي دا چې الله تعالي څينو ته په څينو رزق ورکوي .(مسلم)

**بېله صورت او منابذت بيع**

(۲۷۲۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لِبْسَتَيْنِ وَعَنْ بَيْعَتَيْنِ نَهَى عَنِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ فِي الْبَيْعِ وَالْمُلَامَسَةُ لَمْسُ الرَّجُلِ ثَوْبَ الْآخَرِ بِيَدِهِ بِاللَّيْلِ أَوْ بِالنَّهَارِ وَلَا يُقَلِّبُهُ إِلَّا بِذَلِكَ وَالْمُنَابَذَةُ أَنْ يَنْبِذَ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ بِثَوْبِهِ وَيَنْبِذَ الْآخَرُ ثَوْبَهُ وَيَكُونَ ذَلِكَ بَيْعَهُمَا عَنْ غَيْرِ نَظَرٍ وَلَا تَرَاضٍ وَاللِّبْسَتَيْنِ اشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ وَالصَّمَّاءُ أَنْ يَجْعَلَ ثَوْبَهُ عَلَى أَحَدِ عَاتِقَيْهِ فَيَبْدُو أَحَدُ شِقَّيْهِ لَيْسَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ وَاللِّبْسَةُ الْأُخْرَى احْتِبَاؤُهُ بِثَوْبِهِ وَهُوَ جَالِسٌ لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ . متفق عليه

د حضرت ابو سعيد خدري ﷜ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :د دوو دولو لباسو څخه او د دوو دولو بيعو څخه يعني ملامست او منابذت څخه منعه فرمايلې ده ملامست دادې چې کالي ته په ورځ يا شپه کې يوازې لاس ور وړي په پرا نستلو سره يې ونه گوري او بيعه پوره سي . او منابذه داده چې خرڅونکی کالي خريدار ته ور وغورځوي او خريدار هغه را پورته کړي خرڅونکي و لور ته يې وغورځوي او د پرانستلو لېدو څخه پرته بيع کامله سي خواه فريقين راضي وي او که نه .او د دوو دولو لباس څخه نبي کريم ﷺ منعه کړېده يو خو

د دې څخه مراد د «صفاء» طريقه ده چې په يو اوږد توکر واچول سي او بل اړخ يې لڅ پاته سي لکه په څينو وختو کې د قميص په لستوني کې دننه اوږې ته نژدې پليټ اچوي او هغه پليټ د يو جلا توکر شکل لري يا د دې په شان بل صورت او د «صماء» يوه بله معني دا هم ده چې توکر د سر څخه تر پښو پوري داسي په بدن چاپېره کړي چې لاس پښه او مخ وغيره يې پټ وي او دويمه طريقه د لباس کوم چې ممنوع ده داده چې توکر په بدن داسي و پېچي چې کله کښېني نو شرمگاه يې ښکاره سي . (بخاري او مسلم)

**د بيع حصاة او بيع غرر منع**

(۲۷۳۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْحَصَاةِ وَعَنْ بَيْعِ

د حضرت ابوهريره ﷜ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د بيع حصاة(مثلا يو خرڅونکي و خريدار

| | |
|---|---|
| الْغَرَرِ . رَواه مسلم . | ته ووايي چي څومره دېره چي ستا ولاړه سي |

هغومره مخكه در كوم) او بيع غرر(او بيع غرر داده چي شي يې په قبضه كي نه وي او نه يې دهغه قدرت ولري چي خرڅ يې كړي مثلا د درياب ماهيان او يا د هوا مرغان يا تښتېدلي غلام وغيره) څخه منعه فرمايلي ده .(مسلم)

**د بيع حبل الحبلة منع**

| | |
|---|---|
| (۲۷۳۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ وَكَانَ بَيْعًا يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الْجَزُوْرَ إِلَى أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ ثُمَّ تُنْتَجُ الَّتِي فِي بَطْنِهَا . متفق عليه . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ منعه فرمايلي ده :د حمل په حمل د خرڅولو څخه او دا يوه بيعه وه چي د جاهليت په زمانه كي د دې رواج وو يعني يو |

سړى به اوښه په دې شرط را نيول چي د دې د نس څخه بچى پيدا سي او بيا د هغه بچي د نس څخه بچي پيدا سي نو بيا به د هغې اوښې قيمت ادا كوم . (بخاري اومسلم)

**د نر پر مادې پرېښودو مزدوري**

| | |
|---|---|
| (۲۷۳۲): وَعَنْهُ قَالَ نَهٰى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ . رواه البخاري. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ نر پر ماده د پرېښودو (د ختو) د |

اجرت اخيستو څخه منعه فرمايلي ده . (بخاري)

**د اوبو خرڅولو منع**

| | |
|---|---|
| (۲۷۳۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ ضِرَابِ الْجَمَلِ وَعَنْ بَيْعِ الْمَاءِ وَالْأَرْضِ لِتُحْرَثَ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ اوښ په اوښه د ختلو د اجرت څخه او له خرڅولو د اوبو څخه او د مځكي څخه چي كرل كيږي منع فرمايلي ده . مسلم . |

**د ضرورت څخه د زياتو اوبو خرڅولو منع**

| | |
|---|---|
| (۲۷۳۴): وَعَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د هغو اوبو د خرڅولو څخه منعه فرمايلي ده كوم چي تر خپل ضرورت زياتي وي . (مسلم) |

| | |
|---|---|
| (۲۷۳۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُبَاعَ بِهِ | د حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زياتي اوبه دي په دې خيال نه |

الكَلَأَ . متفق عليه.

خرخيږي چې د دې په ذريعه واښه خرڅ كړل سي . (بخاري او مسلم)

### د چم كولو څخه ځان وساتئ

(٢٧٣٦): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ مَا هٰذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي . رواه مسلم

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د غلې د يوې كوټې سره تير سو او په هغه كوټه كي يې لاس دننه كړ نو نبي كريم ﷺ يو څه لوندوالي محسوس كړ وروسته يې د غلې مالك ته وويل : دا څه دي؟ هغه وويل يا رسول الله ﷺ ! په دې باندي باران اوريدلي دي نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : لنده غله دي ولي سربېزه نه اېښوله چې خلكو هغه ليدلي وای بيا يې وفرمايل : چاچي چم او فريب وكړ هغه زموږ څخه نه دی . (مسلم)

## دويم فصل

### د بيع ثنيا منع

(٢٧٣٧): عَنْ جَابِرٍ قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الثُّنْيَا اِلَّا اَنْ يُّعْلَمَ . رواه الترمذي .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د ثنايا څخه منعه كړې ده مگر نه چې مقدار معلوم كړي . (ترمذي)

### ميوې او كښت د پخنيا وروسته خرڅوئ

(٢٧٣٨): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْعِنَبِ حَتّٰى يَسْوَدَّ وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ حَتّٰى يَشْتَدَّ هكذا رواه الترمذي و ابوداؤد عن انس والزيادة التي في المصابيح وهي قوله نهى عن بيع التمر حتى تزهو انما ثبتت في روايتهما عن ابن عمر قال نهى عن بيع النخل حتى تزهو وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د انگورو د خرڅولو څخه تر څو پوري چې تور نسي . منعه فرمايلې ده (يعني تر څو پوري چې پاخه نسي)او د غلې د خرڅولو څخه يې منعه فرمايلې ده تر څو چې پخه سوې نه وي .(ترمذي ابو داؤد) او په مصابيح كي دا خبره اضافه سوې ده چې نبي كريم ﷺ دا هم فرمايلي دي چې تر څو خرماوي سرې سوې نه وي او د حضرت عبدالله بن عمر څخه دا هم ثابتيږي . هغه وويل : چې رسول الله ﷺ د خرماو د خرڅولو څخه تر هغه وخته پوري منعه فرمايلې ده تر څو پوري چې هغه

سرې او ژړې سوې نه وي . او ترمذي کې دا حدیث غریب ګڼل سوی دی .

**پور په پور سره خرڅولو منع**

(۲۷۳۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ . رواه الدار قطني .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ قرض په قرض سره د خرڅولو څخه منعه فرمایلې ده . (یعني یو شی د یوې مقررې مودې پورې په قرض خرڅول بیا په وعده د قیمت څخه د حاصلېدو په خاطر وروسته بیا هغه په څه قیمت د بل چا په لاس خرڅول څکه په شی کې قبضه نه وي نو په دې وجه یې بیع ممنوع کړېده)(دار قطني)

**د بیعانې مسئله**

(۲۷۴۰): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْعُرْبَانَ . رواه مالك وابوداؤد وابن ماجة .

حضرت عمرو بن شعیب ﷺ دخپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کړی دئ چې رسول الله ﷺ د بیع عربان څخه منعه کړې ده . (د بیع عربان صورت دادې چې خریدار خرڅونکي ته یو معمولي رقم په طور د بیعانه ور کړي او ورته ووایي که د بیعي معامله زما او ستا په مینځ کې وسوه نو رقم به پکښې مجرا سي او که بیعه ونه سوه نو دا رقم به ستا سره وي زه به یې بیرته واپس نه اخلم(ابو داؤد ابن ماجه مالك)

**د بیع مضطر منع**

(۲۷۴۱): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّ وَبَيْعِ الْغَرَرِ وَبَيْعِ الثَّمَرَةِ قَبْلَ اَنْ تُدْرِكَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د بیع مضطر او بیع غرر څخه او میوه تر پخېدو مخکې خرڅولو څخه یې منعه فرمایلې ده .(دبیع مضطر څخه مراد دادې چې په زور سره د یو چا څخه شی اخیستل یا دا چې یو سړی مجبوره سي او خپل شی ارزانه خرڅ کړي ) .(ابو داؤد)

**د نر پر مادې پرېښودو مزدوري**

(۲۷۴۲): وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَجُلًا مِنْ كِلَابٍ سَاَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ فَنَهَاهُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا نُطْرِقُ الْفَحْلَ فَنُكْرَمُ فَرَخَّصَ لَهٗ فِي الْكَرَامَةِ . رواه الترمذي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی د کلاب د قبیلې یوه کس نبي کریم ﷺ ته نر په ماده د پرېښېدو د اجرت په اړه پوښتنه وکړه نو نبي کریم ﷺ د دې د اجرت څخه منعه وفرمایله هغه وویل یا رسول الله ﷺ موږ خپل نر حیوان پر ماده د پرېښېدو لپاره په عاریتا ور کوو (هغه یې نه غواړي موږ

يې ورکوي بيا هغوئ موږ ته د انعام په ډول يو څه را کوي رسول الله ﷺ د هغه انعام د اخيستلو اجازت ور کړ. (ترمذي)

**د غیر موجود شي پلورل**

(۲۷۴۳): وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ نَهَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَبِيعَ مَا لَيْسَ عِنْدِي . رواه الترمذي و في رواية له و لابي داؤد والنسائي قال قلت يا رسول الله ياتيني الرجل فيريد مني البيع و ليس عندي فابتاع له من السوق قال لا تبع ما ليس عندك .

د حضرت حکیم بن حزام ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ زه د هغه شي د پلورلو څخه منعه کړم کوم چې زما سره موجود نه وو . (ترمذي) او د ترمذي ابو داؤد او نسائي په يو بل روايت کي دا الفاظ سته چي حکيم بن حزام ؓ وويل چې ما پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ ابو سړی ماته را څي او د رانيولو اظهار کوي او هغه شي زما سره موجود نه وي نو هغه شي زه دهغه لپاره د بازار څخه را نيسم نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم شي چې ستا سره نه وي هغه مه خرڅوه .

**په یوه بیع کې دوې بیعې مه کوئ**

(۲۷۴۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ . رواه مالك والترمذي و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په يوه بيعه کې د دوو بيعو څخه منعه فرمايلې ده (يعني په يوه معامله کې د دويمي بيعي معامله منعه کړې ده مثلا زيد يو اس په سل روپۍ په عمر باندي په دې شرط خرڅ کړ چې ته به خپله بيعه د پنځوسو روپو په بدل کي ما ته را کړې يا دا چې اس مي په لس روپي نقد او شل روپي قرض پر تا خرڅ کړ(مالك ترمذي ابو داؤد نسائي)

(۲۷۴۵): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي صَفْقَةٍ وَاحِدَةٍ . رواه في شرح السنة .

حضرت عمرو بن شعيب ؓ د خپل پلار او هغه د خپل پلار څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ په يوه عقد يا معامله کې د دوو بيعو څخه منعه فرمايلې ده . (شرح السنه)

**بیع د پور سره مه ګډوئ**

(۲۷۴۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ . رواه

د حضرت عمرو بن شعيب ؓ د خپل پلار او هغه د خپل پلار څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بيع او قرض (يعني يو شی خرڅ هم

الترمذي وابوداؤد والنسائي و قال الترمذي هذا حديث صحيح .

سي او د قرض معامله هم ورسره وسي) جائز نه دي او په بيع كي دوه شرطونه كول هم صحيح نه دي او نه د هغه شی گټه اخيستل چي مبيع در سره نه وي او نه خرخول د هغه شي چي ستا سره نه وي . (ترمذي ابو داؤد نسائي) او په ترمذي كي راغلي دي چي دا صحيح دي .

**د قيمت په ادا كولو كي د سكي تبديلي جائز ده**

(۲۷۴۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَبِيعُ الْإِبِلَ نقيع بالدَّنَانِيرِ فَآخُذُ مكانها الدَّرَاهِمَ وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ فَآخُذُ مكانها الدَّنَانِيرَ فَأَتَيْتُ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَالِكَ لَهُ فَقَالَ لَا بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَهَا بِسعْرِ يَوْمِهَا مَا لَمْ تَفْتَرِقَا وَبَيْنَكُمَا شَيْءٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي ما به په د نقيع په خای كي اوښان د دينارو په بدل كي پلورل او د دينارو په خاي مي درهم اخيستل او د درهمونو په عوض كي به مي خرخول او دينار به مي پرې رانيوي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او د دې حالت بيان مي ورته وكړنو نبي كريم ﷺ وفرمايل : په دې كي هيڅ تاوان نسته په شرط د دې چي درهم او دينار د بازار په رېټ رانيول سي تر څو پوري چي تاسي يو د بله سره جلا سوي نه ياست . (يعني رانيونكي او پلورونكي پر هغه خاي موجود وي) (ترمذي ابوداؤد نسائي دارمي)

**د رسول الله ﷺ د يو بيعنامې ذكر**

(۲۷۴۸): وَعَنِ الْعَدَّاء بْنِ خَالد بْنِ هَوْذَةَ أَخرَجَ كِتَابًا هَذَا مَا اشْتَرَى الْعَدَّاءُ بْنُ خَالد بْنِ هَوْذَةَ مِنْ مُحَمَّد رَسُول اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى مِنْهُ عَبْدًا أَوْ أَمَةً لَا دَاءَ وَلَا غَائِلَةَ وَلَا خِبْثَةَ بَيْعَ الْمُسْلِمِ الْمُسْلِمَ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت عدا بن خالد بن هوذه ﷺ په تحرير كي ليكل سوي دي د نبي كريم ﷺ له لوري د عدا بن خالد بن هوذه په نوم بيع نامه ده (عدا بن خالد بن هوذه) د محمد ﷺ څخه يو مينځه يا غلام را نيوي چي هغه (هغې) هيڅ ناروغي نه درلود او نه پكښې بل عيب وو او خباثت نه وو پكښې او په دې ډول يې خريد وكړ لكه چي يو مسلمان د بل مسلمان څخه خريد كوي. (او په ترمذي كي دا حديث غريب دي)

**نيلام كول جائز دی**

(۲۷۴۹): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَاعَ حِلْسًا وَقَدَحًا فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِي

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ديو ټاټ او يوې پيالې دخرڅولو اراده وكړه او

هٰذَا الْحِلْسَ وَالْقَدَحَ فَقَالَ رَجُلٌ أَخَذْتُهُمَا بِدِرْهَمٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ فَأَعْطَاهُ رَجُلٌ دِرْهَمَيْنِ فَبَاعَهُمَا مِنْهُ . رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة .

داسي يې وفرمايل: دا ټاټ او پياله څوك اخلي؟ يو سړى ووېل چي زه يې په يو درهم اخلم نبي كريم ﷺ و فرمايل: د يو درهم څخه زيات څوك خريدار سته؟ يو سړي نبي كريم ﷺ ته دوه درهمه وركړل او نبي كريم ﷺ هغه دواړه وهغه نفر ته وركړه. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه)

## دريم فصل

**د عيب لرونكي شي په چم سره خرڅولو باندي وعيد**

(۲۷۵۰): عَنْ وَاثِلَةَ ابْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ بَاعَ عَيْبًا لَمْ يُبَيِّنْهُ لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللّٰهِ وَلَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَلْعَنُهُ . رواه ابن ماجة .

د حضرت واثله ﷺ بن اسقع څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي كوم سړى چي عيب لرونكي شى خرڅ كړي او عيب يې ښكاره نه كړي نو هغه همېشه د غضب الهي ښكار كيږي او يا ملائكي همېشه ور باندي لعنت واېي. (ابن ماجه).

# بَابُ فِي الْبَيْعِ الْمَشْرُوْطِ (د بيع مشروط بيان)

## لومړى فصل

**د ميوه لرونكي درختي پلورل**

(۲۷۵۱): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا وله مال وماله للبائع إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ . رواه مسلم و روى البخاري المعنى الاول وحده

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د نابير (تابير و دې ته وايي چي د نر خرما د وني ګل د مادي خرما په ونه كي ولګوي نو د خداى تعال په امر سره ډېر خرماوي كيږي) څخه وروسته د خرماؤ وني را نيسي نو هغه ميوه د خرڅونكي ده (د خريدار نه ده) خو كله چي خريدار د ميوې شرط وكړي او څوك چي غلام رانيسي او د غلام سره مال وي نو هغه مال د خرڅونكي دي خو كه رانيونكي د دې شرط وكړي. (په مسلم شريف كي دا حديث نقل دي او بخاري شريف يوازي اولني خبره روايت كړي دي.

## د مشروط بیع مسئله

(۲۷۵۲): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ كَانَ يَسِيرُ عَلَى جَمَلٍ لَهُ قَدْ أَعْيَا فَمَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِ فَضَرَبَهُ فَسَارَ سَيْرًا لَيْسَ يَسِيرُ مِثْلَهُ ثُمَّ قَالَ بِعْنِيهِ بِوُقِيَّةٍ قَالَ فَبِعْتُهُ فَاسْتَثْنَيْتُ حُمْلَانَهُ إِلَى أَهْلِي فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ أَتَيْتُهُ بِالْجَمَلِ وَنَقَدَنِي ثَمَنَهُ و في رواية فاعطاني ثمنه ورده علي . متفق عليه و في رواية للبخاري انه قال لبلال اقضه و زده فاعطاه و زاده قيراطا .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي هغه په خپل اوښ باندي سفر کوي چي اوښ ستړي سو نو نبي کریم ﷺ د هغه لخوا څخه تېرېدي او د هغه اوښ یې وواهه بیا هغه داسي چابك روان سو چي مخکي یې داسي تګ نه وو کړی بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: جابره! دا اوښ پر ما په یوه اوقیه (څلوېښت درهمه) خرخ کړه جابر ﷺ وویل په تا مي اوښ خرخ کړ او دا یې ورسره وویل په دې اوښ به زه تر کوره پوري سفر کوم کوم وخت چي زه مدینې منورې ته را و رسېدم نو د اوښ سره د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو نبي کریم ﷺ ما ته د هغه قیمت راکړ او په یوه بل روایت کي دا الفاظ دي چي نبي کریم ﷺ ما ته د اوښ قیمت هم راکړ او اوښ یې هم را ته واپس کړ (بخاري او مسلم) او د بخاري په یوه روایت کي دا الفاظ هم سته چي نبي کریم ﷺ بلال ﷺ ته امر ورکړ چي د اوښ قیمت ورکړه یو څه اندازه زیات نو بلال ﷺ قیمت ادا کړ او یو قیراط یې زیات راکړ.

## د حق ولاء مسئله

(۲۷۵۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ بَرِيرَةُ فَقَالَتْ إِنِّي كَاتَبْتُ عَلَى تِسْعِ أَوَاقٍ فِي كُلِّ عَامٍ وَقِيَّةٌ فَأَعِينِينِي فَقالت عائشة إِنْ أَحَبَّ أَهْلُكِ أَنْ أَعُدَّهَا لَهُمْ عدة واحدة واعتقك فعلت وَيَكُونَ وَلَاؤُكِ لِي فَذَهَبَتْ إِلَى أَهْلِهَا فَأَبَوْا الا ان يكون الولاء لهم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم خذيها واعتقيها ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَمَا بَالُ رِجَالٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللَّهِ مَا كَانَ مِنْ شَرْطٍ لَيْسَ فِي

د بي بي عائشي رض څخه روایت دی بریره مینځه راغله او ما ته یې وویل: ما په ۹ نه اوقیه مکاتبت کړی وو په دې شرط چي هر کال به یوه اوقیه ورکوم تاسو زما کومك وکړئ بي بي عائشي رض ورته وویل: که ستا د مالك دا خوښه وي چي زه تولي اوقیې ورکړم او تا په رانیولو سره ازاده کړم نو زه به داسي وکړم په دې شرط چي میراث به زما وي بریره رض خپلو مالکانو ته ورغله او مالکانو یې وویل: موږ په دې شرط بریره

كِتَابَ اللهِ فَهُوَ بَاطِلٌ وَإِنْ كَانَ مِائَةَ شَرْطٍ قَضَاءُ اللهِ أَحَقُّ وَشَرْطُ اللهِ أَوْثَقُ وَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ . متفق عليه

ورکوو چي ميراثي حق به زموږ وي رسول الله ﷺ (ته چي د ا واقعه معلومه سوه) ويې فرمايل: دا واخله او ازاده يې کړه بيا نبي کريم ﷺ د خلکو په مينځ کي و دريدي او د الله ﷻ حمد او ثنا يې بيان کړل بيا يې وفرمايل: د خلکو څه حال دئ؟ هغوئ داسي شرطونه لګوي چي د الله تعالي په کتاب کي نسته هغه شرطونه باطل دي که څه هم سل شرطه وي او د الله تعالي حکم د عمل کولو لائق دي او شرط لګول د خداى تعالي مضبوط دي پوه سئ! چي د ولاء حق هغه چا ته حاصل دي کوم څوک چي غلام يا مينزه ازاده کړي. (بخاري او مسلم).

**د حق ولاء پلورل او هبه کول جائز دي**

(۲۷۵۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَعَنْ هِبَتِهِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د ولاء حق خرڅولو يا هبه کولو څخه منعه فرمايلې ده. (بخاري او مسلم)

## دويم فصل

**څوک چي د تاوان ذمه دار وي هغه دګټي حقدار هم دى**

(۲۷۵۵): عَنْ مُخْلَدِ بْنِ خُفَافٍ قَالَ ابْتَعْتُ غُلَامًا فَاسْتَغْلَلْتُهُ ثُمَّ ظَهَرْتُ مِنْهُ عَلَى عَيْبٍ فَخَاصَمْتُ فِيْهِ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ فَقَضٰى لِيْ بِرَدِّهِ وَقَضٰى عَلَيَّ بِرَدِّ غَلَّتِهِ فَأَتَيْتُ عُرْوَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ أَرُوْحُ إِلَيْهِ الْعَشِيَّةَ فَأُخْبِرُهُ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضٰى فِيْ مِثْلِ هٰذَا أَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ فَرَاحَ إِلَيْهِ عُرْوَةُ فَقَضٰى لِيْ أَنْ آخُذَ الْخَرَاجَ مِنَ الَّذِيْ قَضٰى بِهِ عَلَيَّ لَهُ . رواه في شرح السنة

د حضرت مخلد بن خفاف ﷺ څخه روايت دى چي ما يو غلام را نيوي چي د هغه ګټه به ما په خپل خرڅ کي راوستل بيا زه د هغه په عيب خبر سوم او د ا معامله مي د عمر بن عبد العزيز په خدمت کي پېش کړه عمر بن عبد العزيز د بيرته واپسي حکم وکړ او ويې ويل: دده ګټه دي هم واپس کړل سي بيا زه عروه بن زبير ﷺ ته راغلم او په واقعه باندي مي خبر کړ هغه وويل چي زه به ماښام ته عمر بن عبد العزيز ته ورځم او هغه به اګاه کړم چي بي بي عائشي زه خبر کړي يم چي رسول الله ﷺ د دې دول په مقدمه کي دا فيصله کړې ده چي نفع د تاوان په مقابله کي ده (يعني که غلام مړ سوي واى او يا په هغه کي څه عيب پيدا سوي واى نو په خرڅونکي باندي د هغه هيڅ اثر نه پرېوتي داسي چي د غلام څخه يو څه ګټه وسي هغه هم خرڅونکي ته رسول نه دي پکار نو ماښام ته عروه بن زبير عمر

بن عبد العزيز ته ورغلي او هغه دا حکم وکړ چې د غلام ګټه زه واپس اخلم (شرح السنة)

**د بائع او مشتري د نزاع صورت**

| | |
|---|---|
| (۲۷۵۶): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْبَائِعِ وَالْمُبْتَاعُ بِالْخِيَارِ . رواه الترمذي وفي رواية ابن ماجه والدارمي قال : " البيعان إذا اختلفا والمبيع قائم بعينه وليس بينهما بينة فالقول ما قال البائع أو يترادان البيع . | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چې را نيونکي او خرڅونکي کې اختلاف پيدا سي نو د خرڅونکي قول به معتبر وي او خريدار ته به د بيع د قائم ساتلو يا فسخ کولو اختيار حاصل وي . (ترمذي) او د ابن ماجه او دارمي په روايت |

کي دا الفاظ دي چي کله د بائع (خرڅونکي) او مشتري (اخيستونکي) په مينځ کي اختلاف راسي او خرڅ سوي شی بعينه موجود وي او فريقين شاهدان و نلري نو د بائع قول معتبر وي يا فريقين به بيعه فسخه کوي .

**د بيع اقاله مسئله**

| | |
|---|---|
| (۲۷۵۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا أَقَالَهُ اللهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رواه أبو داود وابن ماجه وفي شرح السنة بلفظ المصابيح عن شريح الشامي مرسلا . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د مسلمان بيع (چي د هغه خوښه نه وي) واپس کړي (فسخه کړي) الله تعالي به يې د قيامت په ورځ ګناهونه ور وبخښي . (ابو داؤد ابن |

ماجه) او په شرح السنة کي د مصابيح د الفاظو سره شريح شامي څخه مرسلا روايت کوي .

## دريم فصل

**يو عبرتناكه واقعه**

| | |
|---|---|
| (۲۷۵۸): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ عَقَارًا مِنْ رَجُلٍ فَوَجَدَ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ فِي عَقَارِهِ جَرَّةً فِيهَا ذَهَبٌ فَقَالَ لَهُ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ خُذْ ذَهَبَكَ عَنِّي إِنَّمَا اشْتَرَيْتُ الْعَقَارَ وَلَمْ | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو څخه مخکي په تاسو کي يوه سړي د يوه سړي مځکه واخيسته او د مځکي د خرڅولو څخه وروسته د مځکي څخه د سرو زرو منګی را ووتل هغه را نيونکي و خرڅولو والا ته ورغي او ورته يې وويل : چي دا |

أَبْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ فَقَالَ بَائِعُ الْأَرْضِ إِنَّمَا بِعْتُكَ الْأَرْضَ وَمَا فِيهَا فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ فَقَالَ الَّذِي تَحَاكَمَا إِلَيْهِ أَلَكُمَا وَلَدٌ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِي غُلَامٌ وَقَالَ الْآخَرُ لِي جَارِيَةٌ فَقَالَ أَنْكِحُوا الْغُلَامَ الْجَارِيَةَ وَأَنْفِقُوا عليهما مِنْهُ وَتَصَدَّقُوا . متفق عليه.

سره زر ته واخله ما ستا څخه فقط مځکه رانيولې وه سره زر مې نه وه در څخه رانيولي پلورونکي ورته وويل : ما پر تا باندې مځکه او هر څه چې په مځکه کې وه پر تا پلورلي دي اخير دواړو يو دريم سړی (چې حضرت داؤد ﷺ وو) و تاکئ او خپله عريضه يې ورته پېش کړه دريم نفر ور ته وويل : چې ايا ستاسو اولاد نسته ؟ يوه ورته وويل چې زما زوی سته او بل ورته وويل چې زما لور سته نو پرېکړه کونکي پرېکړه وکړه چې د هلك نكاح د انجلۍ سره وكړئ او دا سره زر په هغوئ مصرف كړئ او يو څه خيرات هم كړئ . (بخاري او مسلم) .

# بَابُ السَّلَمِ وَالرَّهْنِ (د بيع سلم اورهن بيان)

## لومړی فصل

### د بيع سلم شرائط

(۲۷۵۹): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي الثِّمَارِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ فَقَالَ مَنْ أَسْلَفَ فِي شيء فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ . متفق عليه

رسول الله ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړ د مدينې خلکو به په مېوو کې د کال دوو کالو درو کلو به بيع سلم (هغه بيعه چې پېشکي پيسو ور کولو سره کوم شی را نيول سي د هغې تعداد يا نرخ او موده مقرره کړي ) کوله رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چې بيع سلم کوي هغه ته پکار ده چې پيمانه تاکلې وزن او تاکلې موده سره وتاکي (بخاري او مسلم)

### پور رانيول او ګروي جائز ده

(۲۷۶۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اشْتَرَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا مِنْ يَهُودِيٍّ الى اجل وَرَهَنَهُ دِرْعًا لَهُ مِنْ حَدِيدٍ. متفق عليه .

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د يهودي څخه يو څه غله د يوې تاکلې مودې په وعده را نيوله او د هغه سره يې خپله د اوسپنې زغره کېښېښودل. (بخاري او مسلم)

(۲۷۶۱): وَعَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې د

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِرْعُهُ مَرْهُوْنَةٌ عِنْدَ يَهُوْدِيٍّ بِثَلَاثِيْنَ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ . رواه البخاري. | رسول الله ﷺ وفات وسو او زغره يې د يوه يهودي سره د ديرشو صاعو اوربشو په عوض کي گرو پاته وه . (بخاري) |

**د انتفاع رهن مسیله**

| | |
|---|---|
| (۲۷۶۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلظَّهْرُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِه اذا کان مرهونا ولبن الدار يشرب بنفقته اِذَا كَانَ مَرْهُوْنًا وَعَلَى الَّذِيْ يَرْكَبُ وَ يَشْرَبُ النَّفَقَةَ . رواه البخاري. | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که د سپرلی حيوان رهن وي نو په هغه چي څه خرڅ کيږي د هغه په بدله کي ديري سپرلياني کيږي او که د شيدو والا حيوان رهن وي نو د هغه د اخراجاتو په عوض کي |

د هغې شيدې څښلای سي او څوك چي سپرلی ساتي او شيدې يې څښي هغه به د خرڅ برداشت کوي .(بخاري) . (رهن گرو ته ويل کيږي) .

## دويم فصل

**گرو سوی شی د مالک د ملکيت څخه نه وځي**

| | |
|---|---|
| (۲۷۶۳): عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُغْلَقُ الرَّهْنُ الرَّهْنَ مِنْ صَاحِبِهِ الَّذِيْ رَهَنَهُ لَهُ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ . رواه الشافعي مرسلا وروي مثله او مثل معناه لا يخالفه عنه عن ابي هريرة متصلا. | د حضرت سعيد بن مسيب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو شی په رهن ور کولو سره د رهن ورکونکي ملکيت نه ختميږي راهن دهغه گټي حقدار دي او (که هغه شی ضائع سي نو) رهن ساتونکي د تاوان ذمه دار دي . |

**په شرعي حقوقو کي د پيماني او وزن اعتبار**

| | |
|---|---|
| (۲۷۶۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْمِكْيَالُ مِكْيَالُ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ والميزان مِيْزَانُ اَهْلِ مَكَّةَ. رواه أبو داود والنسائي . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (په حقوق شرعيه کي پيماني د مديني معتبري دي او وزن د مکي معتبر دي .(ابو داؤد نسائي) |

**په تللو او ناپ کي د کمی کولو لپاره وعيد**

| | |
|---|---|
| (۲۷۶۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَصْحَابِ الْمِكْيَالِ وَالْمِيْزَانِ | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ناپ او تول والا وُ ته وفرمايل : |

| | |
|---|---|
| إِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيتُمْ أَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيهِ الْأُمَمُ السَّابِقَةُ قَبْلَكُمْ .رواه الترمذي . | ستاسو په لاسو كي دوه داسي كارونه دي چي د كوم په سبب ستاسو مخكي قومونه هلاك |

سوي دي (يعني پوره تول او ناپ د كمبود وركولو او زيات اخيستلو په وجه هلاك سوي دي نو تاسو داسي كارونه مه كوئ) (ترمذي)

## دريم فصل

**د بيع سلم د مبيع د قبضي مخكي پلورلو منع**

| | |
|---|---|
| (٢٧٦٦): عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ فَلَا يَصْرِفْهُ إِلَى غَيْرِهِ قَبْلَ اَنْ يُقْبِضَهُ .رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د چا سره د بيع سلم معامله وكړي هغه د شى د قبضه كولو څخه مخكي د دويم لور ته نه منتقل كيږي .(ابوداؤد ابن ماجه) |

# بَابُ الْاِحْتِكَارِ (د خوراكي توكو ذخيره كول)

## لومړى فصل

**احتكار كونكى گناه كار دى**

| | |
|---|---|
| (٢٧٦٧): عَنْ مُعْمَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ . رواه مسلم و سنذكر حديث عمر كانت اموال بني النضير في باب الفيئ ان شاء الله تعالى . | د حضرت معمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي (د گراني په خيال) غله وساتله هغه گناه گار دى .(مسلم) د حضرت عمر ﷺ حديث به انشاء الله په باب الفى كي در ته ذكر كړو. |

## دويم فصل

**د احتكار كونكي لپاره وعيد**

| | |
|---|---|
| (٢٧٦٨): عَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْجَالِبُ مَرْزُوْقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُوْنٌ . | د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تجار ته رزق وركول كيږي او غله (د گراني په فكر) ساتونكي، او بنديونكي، لعنتي |

رواه ابن ماجة والدارمي .

دي .(ابن ماجه دارمي)

**حاکم دي خپل له طرفه نرخ نه ټاکي**

(۲۷۶۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ غَلَا السِّعْرُ عَلَى عَهْدِ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ سَعِّرْ لَنَا فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّزَّاقُ وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى رَبِّي وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يَطْلُبُنِي بِمَظْلِمَةٍ فِي دَمٍ وَلَا مَالٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په وخت کي غله ګرانه سوه خلکو وویل یا رسول الله ﷺ! زموږ لپاره نرخ وټاکه (یعني تجارانو ته وروایه چي په دې نرخ باندي غله خرڅه کړي) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: الله تعالی نرخ ټاکونکي دي هغه د شی ګرانونکي دي او ارزانونکي دی، رزق ورکونکی دی او زه خو یوازي دا ارزو لرم چي زه د الله تعالي سره په داسي حال کي یو ځای سم چي پر ما باندي د چا د قصاص یا د مال مطالبه نه وي . (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي).

## دریم فصل

**د غلي د ذخیره کونکي لپاره موعظت او عبرت**

(۲۷۷۰): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ طَعَامًا ضَرَبَهُ اللّٰهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ . رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان و رزين في كتابه .

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي څوك چي غله پټوي او په مسلمانانو باندي يې په ګرانه خرڅول غواړي نو خداي ﷺ په هغه باندي د جزام (پیس) او مفلسی مرض نازل کړي .(ابن ماجه بیهقي رزین)

(۲۷۷۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ يَوْمًا يُرِيدُ بِهِ الْغَلَاءَ فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللّٰهِ وَبَرِئَ اللّٰهُ مِنْهُ . رواه رزين

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ ارشاد پاك دي : چا چي د ګراني په خیال غله تر څلوېښتو ورځو پوري و ساتل نو هغه د خداي ﷺ څخه بېزاره سو او خداي ﷺ هم د هغه څخه بېزاره سو. (رزین)

(۲۷۷۲): وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ

د حضرت معاذ ﷺ څخه روایت دی چي ما د

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بِئْسَ الْعَبْدُ الْمُحْتَكِرُ إِنْ أَرْخَصَ اللهُ الْأَسْعَارَ حَزِنَ وَإِنْ أَغْلَاهَا فَرِحَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان ورزين في كتابه .

رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي غله ساتونکي څومره خراب دی که خدای ﷻ غله ارزانه کړي نو هغه خفه سي او که يې ګرانه کي نو خوشحالیږي . (بيهقي رزين)

(۲۷۷۳): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا ثُمَّ تَصَدَّقَ بِهِ لَمْ يَكُنْ لَهُ كَفَّارَةً . رواه رزين

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي غله د څلوېښتو ورځو (د ګراني په خيال) وساتله او بيا يې هغه غله خيرات کړه نو دا صدقه د هغه کفاره نسي کېدای.(رزين)

## بَابُ الْإِفْلَاسِ وَالْإِنْظَارِ (د انظار او دېوالي کېدو بيان)

### لومړی فصل

**د مفلس کېدونکي په اړه يو مسئله**

(۲۷۷۴): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ أَفْلَسَ فَأَدْرَكَ رَجُلٌ مَالَهُ بِعَيْنِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي دېوالي سي او هغه کس چي شی ور باندي خرڅ کړی وي خپل شی په صحيح حالت کي تر لاسه کړي نو هغه د هغه شی حقداره دي يعني يو په بل چا څه شی خرڅ کړي بيا خريدار مفلس سو او هغه شی موجود دي نو خرڅوونکي د نورو پوروړو په مقابله کي دهغه زيات مستحق دي . (بخاري)

**د مفلس سره د مرسته کولو حکم**

(۲۷۷۵): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ أُصِيبَ رَجُلٌ فِي عَهْدِ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا فَكَثُرَ دَيْنُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَبْلُغْ ذَلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِغُرَمَائِهِ خُذُوا مَا

د حضرت ابو سعيد رضی الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي ديو سړي پر باغ چي د هغه باغ مېوه هغه سړي اخيستې وه افت راغي او هغه ته يې سخت تاوان ورسوي او قرضداره سو رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل: دهٔ ته صدقه ورکړئ خلکو صدقه ورکړه خو د

وَجَدتُّمْ وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ . رواه مسلم .

هغه مقدار دومره نه سو چي قرض پرې ادا سوي واى بيا رسول الله ﷺ د هغه قرض غوښتونكو ته وفرمايل : څه چي دده سره دي نو هغه واخلئ او تاسو ته به يوازي دومره حاصليږي . (مسلم)

**په پور كي د وخت وركولو اجر**

(٢٧٧٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يُدَايِنُ النَّاسَ فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ لَعَلَّ اللَّهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا قال فَلَقِيَ اللَّهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ . متفق عليه

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړى به معامله كول او خپلو كار كونكو ته يې ويلي وه كله چي يو تنگدست ته د قرض اخيستلو لپاره ورسئ نو ته هغه معافوه شايد چي الله تعالي موږ ته معافي وكړي او كوم وخت چي هغه وفات سو نو خداي تعالي هغه وبخښي او د هغه گناهونه يې معاف كړه . (بخاري او مسلم)

(٢٧٧٧): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللَّهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ . رواه مسلم .

د حضرت ابو قتاده رضی الله عنه څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ ارشاد پاك دي : څوك چي غواړي الله تعالي د قيامت په ورځ هغه د سختيو څخه وساتي نو هغه دي و تنگدسته ته مهلت وركړي يا خپل قرض دي ورمعاف كړي (ټوله يا څومره چي ممكنه وي) (مسلم)

(٢٧٧٨): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ أَنْجَاهُ اللهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو قتاده رضی الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوك چي د خپل قرض په وصولولو كي مفلس ته مهلت وركړي يا خپل قرض ور معاف كړي نو خداي تعالي به هغه دقيامت په ورځ د سختيو څخه وساتي .(مسلم)

(٢٧٧٩): وَعَنْ أَبِي الْيَسَرِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ أَظَلَّهُ اللهُ فِيْ ظِلِّهِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو يسر رضی الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوك چي مفلس ته مهلت وركړي يا خپل قرض ورمعاف كړي خداى ﷻ به د خپل سايې لاندي ځاى وركړي . (مسلم)

**په ښه توګه پور ادا کوونکي غوره کس دی**

(۲۷۸۰): وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ اسْتَسْلَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرًا فَجَائَتْهُ اِبِلٌ مِنْ اِبِلِ الصَّدَقَةِ قال ابورافع فَاَمَرَنِيْ اَنْ اَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ فقلت لا أجد إلا جملا خيارًا رَبَاعِيًا فَقَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم أَعْطِهِ إِيَّاهُ فَإِنَّ خيرَ النَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً . رواه مسلم .

د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو څوان اوښ په قرض واخيستي وروسته د صدقې اوښان راغله نو حضرت ابو رافع ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ ماته حکم راکړ چي زه يو څوان اوښ د قرض غوښتونکی ته ورکړم ما وويل (يا رسول الله ﷺ) په دې اوښانو کي يو څوان اوښ دې چي د هغه د اوښ څخه افضله دي او څلورم کال يې پېل سوي دي نبي کريم ﷺ وفرمايل : هغه ورکړه چي بهتر بنده هغه دي چي قرض په ښه ډول سره ادا کړي . (مسلم)

**پور ورکوونکی غوښتنه کولای سي**

(۲۷۸۱): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَجُلًا تَقَاضَى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَغْلَظَ لَهُ فَهَمَّ اَصْحَابُهُ فَقَالَ دَعُوْهُ فَاِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا وَاشْتَرُوْا لَهُ بَعِيْرًا فَاَعْطُوْهُ اِيَّاهُ وَقَالُوْا لَا نَجِدُ اِلَّا اَفْضَلَ مِنْ سِنِّهٖ قَالَ اشْتَرُوْهُ فَاَعْطُوْهُ اِيَّاهُ فَاِنَّ خَيْرَكُمْ اَحْسَنُكُمْ قَضَاءً . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي د يو سړي څخه رسول الله ﷺ يو اوښ په قرض اخيستي وو هغه د نبي کريم ﷺ څخه په سخته سره غوښتنه وکړه صحابه کرام رض د هغه د ويرولو يا د وهلو په خاطر را ولاړ سوه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : و ده ته هيڅ مه واياست څکه چي حقدار ته ځای د خبرو وي او وروسته يې وفرمايل : اوښ رانيسئ او و ده ته يې ور کړي صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل دده د اوښ څخه بهتره اوپه عمر کي زيات پيدا کيږي نبي کريم ﷺ ورته وويل چي هغه رانيسي او ورته يې ورکړئ بهتره ستاسي هغه دی چي قرض په ښه ډول سره ادا کړي .(بخاري او مسلم)

**د توان سره سم پور نه ادا کول ظلم دی**

(۲۷۸۲): وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ فَاِذَا اُتْبِعَ اَحَدُكُمْ عَلٰى مَلِيٍّ فَلْيَتَّبِعْ . متفق عليه

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مالدار سړي په خپل قرض ادا کولو کي پس او پېش (انې بانې) کول ظلم دي کله چي د يو چا قرض په مالداره سړي باندي وګمارل سي نو تاسي هغه منظور کړئ . (بخاري او مسلم)

## د پوروړو تنازعه ختمول جائز دي

(۲۷۸۳): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا لَهُ عَلَيْهِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا حَتّٰى سَمِعَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ وَنَادَى كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ يَا كَعْبُ قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَأَشَارَ بِيَدِهِ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ قَالَ كَعْبٌ قَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُمْ فَاقْضِهِ

د حضرت كعب بن مالك ﷺ څخه روايت دی چې هغه د رسول الله ﷺ په زمانه كې د ابن ابي حدرد څخه په مسجد كې د خپلو پيسو تقاضا وكړه نو په خبرو خبرو كې د دواړو اوازونه پورته سوه نبي كريم ﷺ په خپل كور كې د هغوئ اوازونه واورېدل نو نبي كريم ﷺ د هغوئ لور ته را ووت او د خپلې حجرې پرده يې پورته كړه او كعب بن مالك ﷺ يې مخاطب كړ او ورته يې وفرمايل: اې كعب! كعب ﷺ وويل يا رسول الله ﷺ! حاضر يم نبي كريم ﷺ په ګوتو يې ورته اشاره وكړه چې نيم قرض ور ته معاف كړه كعب ﷺ ورته وويل يا رسول الله ﷺ ما ورته معاف كړ نو نبي كريم ﷺ ابن ابي حدرد ته وفرمايل: ولاړ سه او پاته قرض ادا كړه. (بخاري او مسلم)

## د پور په ادا كولو كې د تاخير يو واقعه

(۲۷۸۴): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ فَقَالُوا صَلِّ عَلَيْهَا فَقَالَ هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ قَالُوا لَا فَصَلّٰى عَلَيْهِ ثُمَّ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ أُخْرَى فَقَالَ هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ قالوا نَعَمْ قَالَ فَهَلْ تَرَكَ شَيْئًا قَالُوا ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ فَصَلّٰى عَلَيْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِالثَّالِثَةِ فَقَالَ هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ قَالُوا ثَلَاثَةُ دَنَانِيرَ قَالَ هل ترك شيئا قالوا لا قال صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ قَالَ أَبُو قَتَادَةَ صَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَعَلَيَّ دَيْنُهُ فَصَلّٰى عَلَيْهِ . رواه البخاري .

د حضرت سلمه بن اكوع ﷺ څخه روايت دی چې موږ د نبي كريم ﷺ سره ناست وو چې يوه جنازه راوړل سوه صحابه كرامو رض و رسول الله ﷺ ته د جنازې د لمانځه كولو ووېل، نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه چې پر ده باندې قرض سته؟ صحابو كرامو ورته وفرمايل: يا، نبي كريم ﷺ هغه ته دجنازې لمونځ ور كړ وروسته يوه بله جنازه راوړل سوه نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه چې په ده باندې قرض سته ور ته وويل سوه چې هو! نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه چې يو څه يې پرې ايښي دي؟ صحابه كرامو رض وويل چې درې ديناره يې پرې ايښي دي نبي كريم ﷺ و هغه ته هم لمونځ ور كړ بيا دريمه جنازه راوړل سول نبي كريم ﷺ پوښتنه وكړه چې آيا پر ده باندې قرض (پور)

سته ؟ ورته ووېل سول چي هو، نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چي څه يې پرې اېښې دي ؟ دوئ ووېل : چي هيڅ نه، نبي کريم ﷺ وفرمايل چي پر خپل قريب باندې لمونځ وکړئ ابو قتاده ؓ ووېل يا رسول الله ﷺ لمونځ پرې وکړې دده قرض زما پر ذمه سو نو نبي کريم ﷺ لمونځ پرې وکړ (بخاري).

**د پور د ادا کولو د نيت لرونکي الله ﷻ مرسته کوي**

(۲۷۸۵): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ أَدَاءَهَا أَدَّى اللّٰهُ عَنْهُ وَمَنْ أَخَذَ يُرِيدُ إِتْلَافَهَا أَتْلَفَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د خلکو څخه قرض واخلي او د هغه د ادا کولو اراده ولري نو خداي تعالي پرې هغه قرض ادا کوي او څوك چي په دې نيت قرض واخلي چي هغه ضائع کوي نو خداي تعالي د هغه مال ضائع کوي . (بخاري).

**الله ﷻ حقوق العباد نه معافوي**

(۲۷۸۶): وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ يُكَفِّرُ اللّٰهُ عَنِّيْ خَطَايَايَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ نَعَمْ فَلَمَّا أَدْبَرَ نَادَاهُ فَقَالَ نَعَمْ اِلَّا الدَّيْنَ كَذٰلِكَ قَالَ جِبْرَئِيْلُ . رواه مسلم

د حضرت ابو قتاده ؓ څخه روايت دی چي يوه سړي ووېل : يا رسول الله ﷺ که زه د خداي تعالي په لاره کي ووژل سم او زما دا حالت وي چي ما په سختيو صبر کړي وي په جنګ کي د ثواب طلبګار يم (او همېشه مي مقابله کړې وي)، او د پر شا تګ (په جنګ کي د کفارو سره) مي هيڅ کله اراده نه وي کړې نو ايا زما ګناهونه به خداي تعالي معاف کړي ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هو، کله چي هغه سړی رهي سو نو رسول الله ﷺ ورته اواز وکړ او ورته يې وفرمايل : ټول ګناهونه الله تعالي معافوي خو قرض نه معافوي حضرت جبرئيل ؑ ماته همدغسي ويلي دي . (مسلم).

(۲۷۸۷): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د شهيد ټول ګناهونه معافيږي خو قرض يې نه معافيږي . (مسلم)

**د پوروړی د جنازې څخه د رسول الله ﷺ اجتناب**

﴿۲۷۸۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِالرَّجُلِ الْمُتَوَفّٰى عَلَيْهِ الدَّيْنُ فَيَسْاَلُ هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِه قضاء فَاِنْ حُدِّثَ اَنَّهُ تَرَكَ وَفَاءً صَلّٰى وَاِلَّا قَالَ لِلْمُسْلِمِيْنَ صَلُّوا عَلٰى صَاحِبِكُمْ فَلَمَّا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْفُتُوحَ قَامَ فَقَالَ اَنَا اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ فَمَنْ تُوُفِّيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فَتَرَكَ دَيْنًا فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِه . متفق عليه

د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته به د هغه سړی جنازه را وړل سوه چې په هغه باندې به قرض پاته وو نو نبي کریم ﷺ به ورڅخه پوښتنه کوله چې ایا د قرض د ادا کولو لپاره یې څه پرېښني دي؟ که به ورته وویل سوه چې دومره مال یې پرېښني دي چې په هغه سره یې قرض ادا کېږي نو د هغه د جنازې لمونځ به یې کوي او که دومره مال به یې نه وو پرې ایښي نو صحابه کرامو رض ته به یې وویل چې و خپل دوست ته د جنازې لمونځ ور کړئ بیا چې خداي تعالی فتوحات ورکړه او انکشافات یې ور په برخه سوه نو نبي کریم ﷺ و فرمایل: زه د مسلمانانو لپاره د هغوئ د ځانو څخه زیات عزیز یم خوک چې د مسلمانانو څخه څېني مره سي او په هغوئ قرض وي نو دهغوئ د قرض ادا کولو زه ذمه دار یم او کوم مال چې ور څخه پاته سي هغه د هغه د وارثانو دي. (بخاري او مسلم).

## دويم فصل

**د دیوالي حکم**

﴿۲۷۸۹﴾: عَنْ اَبِيْ خَلْدَةَ الزُّرَقِيْ قَالَ جِئْنَا اَبَا هُرَيْرَةَ فِيْ صَاحِبٍ لَّنَا قَدْ اَفْلَسَ فَقَالَ هٰذَا الَّذِيْ قَضٰى فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا رَجُلٍ مَّاتَ اَوْ اَفْلَسَ فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ اَحَقُّ بِمَتَاعِه اِذَا وَجَدَهُ بِعَيْنِه. رواه الشافعي وابن ماجه .

د حضرت ابو خلده زرقي ﷛ څخه روایت دی چې مونږ ابو هریره ﷛ ته د یوه سړی مقدمه راوړه چې مفلس سوي وو او د هغه سره د هغه خلکو مال وو چې د هغوئ څخه رانیول سوي وو نو ابو هریره ﷛ وویل دا معامله بالکل دهغه سړی په شان ده چې دهغه فیصله رسول الله ﷺ دا کړې وه چې کوم سړی مړ سي یا مفلس سي نو د چا مال چې دهغه سره وي نو هغه د هغه د حقدار دي کله چې هغه بالکل ساتل سوي وي. (شافعي ابن ماجه).

**د پوروړی روح تر ادا کولو پوري معلق وي**

﴿۲۷۹۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د مؤمن روح د قرض په وجه معلق

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتّٰى يُقْضَى عَنْهُ . رواه الشافعي و احمد والترمذي وابن ماجة والدارمي .

وي (يعني جنت ته تر هغه وخته پوري نسي داخلېداى) تر څو پوري چي دهغه قرض ادا نه کړل سي . (شافعي احمد ترمذي ابن ماجه دارمي) .

(۲۷۹۱): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاحِبُ الدَّيْنِ مَأْسُوْرٌ بِدَيْنِهِ يَشْكُوْ إِلٰى رَبِّهِ الْوَحْدَةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه في شرح السنة وروي أن معاذا كان يدان فأتى غرماؤه إلى النبي صلى الله عليه وسلم فباع النبي صلى الله عليه وسلم ماله كله في دينه حتى قام معاذ بغير شيء . مرسل هذا لفظ المصابيح . ولم أجده في الأصول إلا في المنتقى وعن عبد الرحمن بن كعب بن مالك قال : كان معاذ بن جبل شابا سخيا وكان لا يمسك شيئا فلم يزل يدان حتى أغرق ماله كله في الدين فأتى النبي صلى الله عليه وسلم فكلمه ليكلم غرماءه فلو تركوا لأحد لتركوا لمعاذ لأجل رسول الله صلى الله عليه وسلم فباع رسول الله صلى الله عليه وسلم ماله حتى قام معاذ بغير شيء . رواه سعيد في سننه مرسلا .

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قرضداري به د قرض په وجه قيد وي او د قيامت په ورځ به خپل رب ته د خپل يوازي والي شکايت کوي . (شرح السنة) او نقل سوي دي چي حضرت معاذ ﷺ به قرض اخيستي (يو خل) د هغه قرض ورکونکي د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو نبي کريم ﷺ د معاذ ټول سامان په قرض کي خرځ کړل او معاذ ﷺ مفلس سو . (مصابيح) او عبدالرحمن بن کعب بن مالک رض وايي چي معاذ ﷺ يو ځوان او سخي سړی وو هيڅ به يې د ځان سره نه ساتل (هرڅه به يې و نورو ته ورکول) او په دې خاطر به يې همېشه قرض اخيستي تر دې پوري چي د هغه ټوله مال په قرض ورکولو کي ختم سو بيا د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي نبي کريم ﷺ د هغه د پوروړو سره خبري وکړي (يعني د قرض معافي يا د يو څو ورځو مهلت لپاره) نبي کريم ﷺ د پوروړو سره خبري وکړي هغوئ وويل : که موږ د يو چا قرض معافولای نو د رسول په وجه به موږ د معاذ ﷺ قرض خامخا معاف کړی وای (يعني هغوئ د قرض معافولو څخه انکار وکړ) نو رسول الله ﷺ د معاذ ﷺ ټول سامان د پوروړو لپاره خرڅ کړ او د معاذ سره هيڅ پاته نه سوه . (سعيد مرسلا)

## بېله عذره پور نه ادا کول

(۲۷۹۲): وَعَنِ الشَّرِيْدِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُّ الْوَاجِدِ يُحِلُّ عِرْضَهُ وَعُقُوْبَتَهُ قَالَ

د حضرت شريد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مالداره سړي په قرض ادا

| | |
|---|---|
| ابْنُ الْمُبَارَكِ يُحِلُّ عِرْضَهُ يُغَلِّظُ لَهُ وَعُقُوبَتَهُ يُحْبَسُ لَهُ . رواه ابوداؤد والنسائي . | کولو کي ځنډ کول د هغه بې عزتي او سزا جائز کوي ابن مبارك رضی الله عنه وفرمايل بې عزتي ځخه |

مراد و هغه ته سخت او سست ويل دي او د سزا ځخه مراد بندي کول دي .(ابو داود نسائي)

**د پوروړي د جنازي ځخه د رسول الله ﷺ انکار**

| | |
|---|---|
| (۲۷۹۳): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَنَازَةٍ لِيُصَلِّيْ عَلَيْهَا فَقَالَ هَلْ عَلَى صَاحِبِكُمْ دَيْنٌ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ هَلْ تَرَكَ لَهُ مِنْ وَفَاءٍ قَالُوْا لاَ قَالَ صَلُّوْا عَلَى صَاحِبِكُمْ قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَالِبٍ عَلَيَّ دَيْنُهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى عَلَيْهِ . وفي رواية معناه وقال : " فك الله رهانك من النار كما فككت رهان أخيك المسلم ليس من عبد مسلم يقضي عن أخيه دينه إلا فك الله رهانه يوم القيامة " . رواه في شرح السنة | د حضرت ابو سعيد خدري رضی الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ته دلمانځه ورکولو لپاره يوه جنازه راوړل سوه نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه ايا په ده باندي د چا قرض سته ؟ خلکو وويل بلې هو! پوښتنه يې وکړه چي ايا ده يو څه مال پرېښي دي ؟ چي په هغه سره يې قرض ادا سي ځلکو وويل : يا! نبي کريم ﷺ ور ته وفرمايل تاسو وخپل قريب ته د جنازي لمونځ ورکړي حضرت علي رضی الله عنه بن ابي طالب وويل يا رسول الله ﷺ دده قرض ادا کول زما پر ذمه دي وروسته |

نبي کريم ﷺ و هغه ته د جنازي لمونځ ور کړ او په يوه بل روايت کي ددې هم معني الفاظ دي او په هغه کي دا الفاظ زيات دي د حضرت علي رضی الله عنه خبره اورېدو سره نبي کريم ﷺ وفرمايل : ته خداي تعالي د دوږخ د اور ځخه ازاد کړي يا ازاد وي دي ځنګه چي تا خپل مسلمان ورور د قرض ځخه سپك کړ او وروسته يې وفرمايل کوم مسلمان بنده چي د خپل مسلمان ورور قرض ادا کړي الله تعالي به د قيامت په ورځ دی د سختيو ځخه وساتي. (شرح السنة)

**د پور په ادا کولو سره د مړ کېدونکي لپاره زيري**

| | |
|---|---|
| (۲۷۹۴): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَهُوَ بَرِيْءٌ مِنَ الْكِبْرِ وَالْغُلُوْلِ وَالدَّيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي . | د حضرت ثوبان رضی الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ځوك چي وفات سي او د تکبر خيانت او قرض ځخه پاك وي نو هغه به جنت ته ځي .(ترمذي ابن ماجه دارمي) |

**د مفلسي په حالت کي پوروړي مړ کېدل ګناه ده**

| | |
|---|---|
| (۲۷۹۵): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَعْظَمَ الذُّنُوْبِ عِنْدَ اللّٰهِ أَنْ يَلْقَاهُ | د حضرت ابو موسی رضی الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خداي تعالي په نزد د |

بِهَا عَبْدٌ بَعْدَ الْكَبَائِرِ الَّتِي نَهَى اللّٰهُ عَنْهَا أَنْ يَمُوتَ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ لَا يَدَعُ لَهُ قَضَاءً . رواه احمد وابوداؤد .

كبيره گناهو څخه وروسته چي د هغه څخه الله تعالي منعه کړېده د تولو څخه لويه گناه داده چي بنده د خداي تعالي سره په داسي حالت كي يو ځاي سي چي په هغه باندي قرض وي او هغه دومره مال نه وي پرېښبي چي په هغه باندي يې قرض ادا سي .(احمد ابو داؤد)

## په حرامو شيانو كي صلح ناجائز ده

(۲۷۹۶): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا صُلْحًا حَرَّمَ حَلَالًا أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا وَالْمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ إِلَّا شَرْطًا حَرَّمَ حَلَالًا أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا . رواه الترمذي وابن ماجة وابوداؤد وانتهت روايته عند قوله شروطهم .

د حضرت عمر بن عوف مزني ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمانانو په مينځ كي صلحه كول جائز ده خو هغه صلحه جائز نه ده چي د حلال شى د حراملو او د حرام شى د حلالولو موجب وي (مثلا صلحه په دې وكړي چي زه به د خپلي ښځي سره جماع نه كوم يا په دې خبره صلحه وكړي چي زه به شراب څښم) او كوم شرطونه چي مسلمانانو صلحه او وغيره كي كړې وي د هغه پابندي په هغه باندي واجب ده خو د هغه دشرطونو پابندي لازمه نه ده چي حلال حراموي او حرام حلالوي . (ترمذي ابن ماجه ابو داؤد)او ابوداؤد خپل روايت په «شروطهم» لفظ باندي ختم كړي دي .

# دريم فصل

## د رسول الله ﷺ توكر رانيول

(۲۷۹۷): عَنْ سُوَيْدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرَ فاتينا به مكة فَجَاءَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِيْ فَسَاوَمَنَا بِسَرَاوِيلَ فَبِعْنَاهُ وَثَمَّ رَجُلٌ يَزِنُ بِالْآجْرِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زِنْ وَأَرْجِحْ . رواه احمد وابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت سويد بن قيس ﷺ څخه روايت دى چي ما او مخرمه عبدي د مقام هجر څخه د خرڅ لپاره توكر رانيول بيا هغه توكر موږ مكې ته راوړى رسول الله ﷺ پياده ز موږ خوا ته تشريف راوړى او زموږ سره يې د يوه پرتوگ سودا وكړه موږ پر ده باندي د يوه پرتوگ توكر خرڅ كړ په دې كي يو سړي په مزدوري تول كوى رسول الله ﷺ و

هغه ته وفرمايل : ته د دي قيمت مال تول كړه او څه يې زيات تول كړه .(احمد ابو داؤد ترمذي ابن ماجه دارمي) دا حديث په قول د ترمذي حسن صحيح دي .

### د پور په ادا كولو كي غير مشروط زياتوب جائز دی

| | |
|---|---|
| (۲۷۹۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ لِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ فَقَضَانِي وَزَادَنِي . رواه ابوداؤد. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي پر رسول الله ﷺ زما يو څه اندازه پور وو نو نبي كريم ﷺ زما پور ادا كړ او څه يې زيات راكړ .(ابوداؤد) |

### د پور په ادا كولو كي تلوار وكړئ

| | |
|---|---|
| (۲۷۹۹): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ اَبِيْ رَبِيْعَةَ قَالَ اسْتَقْرَضَ مِنِّي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعِينَ اَلْفًا فَجَاءَهُ مَالٌ فَدَفَعَهُ إِلَيَّ وَقَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِي اَهْلِكَ وَمَالِكَ إِنَّمَا جَزَاءُ السَّلَفِ الْحَمْدُ وَالْاَدَاءُ . رواه النسائي . | د حضرت عبدالله بن ابي ربيعه ﷺ څخه روايت دی چي زما څخه رسول الله ﷺ څلوېښت زره (درهمه) په قرض واخيسته وروسته رسول الله ﷺ ته مال راغي او زما قرض يې ادا كړ او ويې فرمايل: خداي تعالي دي ستا او ستا په اهل |

و عيال كي بركت واچوي د قرض بدله داده چي د خداي ﷻ شكر ادا كړل سي د هغه تعريف وكړل سي او قرض ادا كړل سي .(نسائي)

### پوروړي ته د وخت وركول ثواب دي

| | |
|---|---|
| (۲۸۰۰): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ حَقٌّ فَمَنْ اَخَّرَهُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ . رواه احمد. | د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا چي په بل چا پور وي او هغه د هغه په وركولو كي خنډ وكړي ئو د مهلت وركونكي هره ورځ صدقه ده .(احمد) |

### پور پر ميراث مخته دی

| | |
|---|---|
| (۲۸۰۱): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ الْاَطْوَلِ قَالَ مَاتَ اَخِي وَتَرَكَ ثَلَاثَ مِائَةِ دِينَارٍ وَتَرَكَ وَلَدًا صِغَارًا فَاَرَدْتُ اَنْ اُنْفِقَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اَخَاكَ مَحْبُوسٌ بِدَيْنِهِ فَاقْضِ عَنْهُ قَالَ فَذَهَبْتُ فَقَضَيْتُ عَنْهُ ثُمَّ جِئْتُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَدْ قَضَيْتُ | د حضرت سعد بن اطول ﷺ څخه روايت دی چي زما ورور وفات سو او هغه دري سوه ديناره او كوچني بچيان پرېښودل ما غوښتل چي هغه پيسې د هغه په كوچنيانو باندي خرڅي كړم رسول الله ﷺ ته زما اراده معلومه سوه نو يې وفرمايل :ستا ورور د قرض په وجه |

عَنْهُ وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا امْرَأَةٌ تَدَّعِي دِينَارَيْنِ وَلَيْسَتْ لَهَا بَيِّنَةٌ قَالَ أَعْطِهَا فَإِنَّهَا صَادِقَةٌ . رواه احمد.

قيد دي (يعني د خداي په نزد) ته دهغه پور ادا کړه نو بيا ما دهغه توله پور ور ادا کړ

وروسته حاضر سوم او وه مي ويل يا رسول الله ﷺ! ما د وړور توله پور ادا کړ يوازي يوه ښځه پاته سوې ده چي د دوو دينارو دعوی کوي ليکن د هغې هيڅ شاهد نسته رسول الله ﷺ را ته وفرمايل : دوه ديناره و هغې ته ور کړه هغه رښتيا ويونکې وه . (احمد)

## په وار وار شهيد کېدل هم د پور کفاره نه کيږي

(۲۸۰۲): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَحْشٍ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا بِفِنَاءِ الْمَسْجِدِ حَيْثُ تُوضَعُ الْجَنَائِزُ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ بَيْنَ ظَهْرَيْنَا فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ قِبَلَ السَّمَاءِ فَنَظَرَ ثُمَّ طَأْطَأَ بَصَرَهُ وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ سُبْحَانَ اللهِ مَاذَا نَزَلَ مِنَ التَّشْدِيدِ قَالَ فَسَكَتْنَا يَوْمَنَا وَلَيْلَتَنَا فَلَمْ نَرَ الا خَيْرًا حَتَّى أَصْبَحْنَا قَالَ مُحَمَّدٌ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا التَّشْدِيدُ الَّذِي نَزَلَ قَالَ فِي الدَّيْنِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ رَجُلًا قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ عَاشَ ثُمَّ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ عَاشَ ثم قتل في سبيل الله ثم عاش وَعَلَيْهِ دَيْنٌ مَا دَخَلَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَقْضِيَ دَيْنَهُ .رواه احمد و في شرح السنة نحوه.

د حضرت محمد بن عبد الله بن جحش ﷺ څخه روايت دی چي موږ د مسجد په انګړ کي ناست وو په هغه ځاي چي جنازه اېښودل کېده او رسول الله ﷺ زموږ په مېنځ کي ناست وو، نبي کريم ﷺ خپل سترګي د اسمان ولور ته پورته کړې او ورته يې وکتل وروسته يې خپل نظر کښته کړ او خپل لاس يې پر تندي کښېښوده او ويې فرمايل :الله پاك دي الله پاك دي څومره سختي نازله سوې ده . د راوي بيان دي موږ يوه شپه او يوه ورځ خاموشه وو او سبا د خير څخه مو بل هيڅ په نظر را نغي تر دې چي سبا سو محمد راوي وايي چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه هغه کومه سختي ده چي نازله سوې ده؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : چي هغه سختي د پور له درکه ده په هغه ذات دې مي قسم وي چي د چا په لاس کي د محمد روح ده که څوك د خداي تعالي په لاره کي مړ سي او بيا ژوندی سي بيا دخداي تعالي په لاره کي مړ سي بيا ژوندی سي بيا د خدای ﷺ په لاره کي مړ سي بيا ژوندی سي او پر هغه باندي پور وي نو هغه به تر هغه وخته پوري جنت ته نه داخليږي تر څو پوري چي دهغه قرض ادا نه کړل سي . (احمد شرح السنة) .

# بَابُ الشِّرْكَةِ وَالْوَكَالَةِ (د شراکت او وکالت بیان)

## لومړی فصل

### په عقود کې شرکت جائز دی

(۲۸۰۳): عَنْ زُهْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ أَنَّهُ كَانَ يَخْرُجُ بِهِ جَدُّهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ هِشَامٍ إِلَى السُّوقِ فَيَشْتَرِي الطَّعَامَ فَيَلْقَاهُ ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَيَقُولَانِ لَهُ أَشْرِكْنَا فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ دَعَا لَكَ بِالْبَرَكَةِ فَيَشْرَكُهُمْ فَرُبَّمَا أَصَابَ الرَّاحِلَةَ كَمَا هِيَ فَيَبْعَثُ بِهَا إِلَى الْمَنْزِلِ وَكَانَ عَبْدُاللّٰهِ بْنِ هِشَامٍ ذَهَبَتْ بِهِ أُمُّهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ رَأْسَهُ وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ. رواه البخاري.

د حضرت زهره بن معبد ﷺ څخه روایت دی چې د هغه نیکه عبد الله بن هشام به بازار ته بوتلو او هلته به یې غله رانیوله هلته ابن عمر او ابن زبیر رض ورسره یو ځای سوه او ورته یې وویل: موږ هم د ځانه سره شریک کړه ځکه چې رسول الله ﷺ تاته د برکت دعا کړېده نو هغه به دوئ هم شریکان کول او زما نیکه دومره وګټل چې اوښ به یې په بار کړی او کور ته به یې وړل د زهره بیان دی زما نیکه عبد الله بن هشام ﷺ د هغه مور نبي کریم ﷺ ته بېولې وو نبي کریم ﷺ د هغه پر سر لاس را تیر کړی وو او د برکت دعا یې ورته کړې وه. (بخاري)

### د انصارو په مال کې د مهاجرینو شرکت

(۲۸۰۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَتِ الْأَنْصَارُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْسِمْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا النَّخِيلَ قَالَ لَا فَقَالُوا تَكْفُونَا الْمَئُونَةَ وَنَشْرَكُكُمْ فِي الثَّمَرَةِ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی (کوم وخت چې مهاجرین مدینې منورې ته راتلل) انصارو رسول الله ﷺ ته وویل چې زموږ او زموږ د (مهاجرینو) ورونو په مینځ کې د خرماؤ ونې تقسیم کړه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: زه ونې نه تقسیموم تاسو دومره اندازه وکړې چې مهاجرین د کومك په حیث د محنت او مشقت مدد کاره کړئ (یعني د ونو حفاظت او اوبه ورکوئ) او موږ په پیداوار کې در سره شریك یو انصارو وویل اورو موږ او اطاعت کوو ستا. (بخاري)

### په معاملاتو کې وکیل تاکل جائز دي

(۲۸۰۵): وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ الْبَارِقِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهُ دِينَارًا

د حضرت عروه بن ابن جعد بارقي ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ماته یو دینار د یوه پسه

لِيَشْتَرِيَ لَهُ بِهِ شَاةً فَاشْتَرَى لَهُ بِهِ شَاتَيْنِ فَبَاعَ إِحْدَاهُمَا بِدِينَارٍ واتاه بشاة و دينار فدعا لَهُ رسول الله صلى الله عليه وسلم فِي بَيْعِهِ بِالْبَرَكَةِ فكان لَوِ اشْتَرَى التُّرَابَ لَرَبِحَ فِيهِ . رواه البخاري

رانیولو لپاره را کړ نو هغه د رسول الله ﷺ لپاره په یوه د ینار باندي دوه پسونه را نیول او بیا یې یو پسه د یوه دینار په بدل کي خرڅ کړ او د یوه پسه او یوه دیناره سره د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو رسول الله ﷺ د هغه په رانیولو او خرڅولو کي د برکت دعا وکړه نو بیا که هغه خاوري هم اخیستې نو په هغه کي به یې گټه کوله. (بخاري)

## دویم فصل

### د امانت داره شریکانو الله ﷻ ساتونکی وي

(۲۸۰۶): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ قَالَ إِنَّ اللهَ يَقُولُ أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا . رواه ابوداؤد و زاد رزين وجاء الشيطان .

د حضرت ابوهریره ؓ څخه مرفوعا روایت دی چي خداوند تعالی فرمایي: زه د دوو شریکانو په مینځ کي دریم یم تر څو پوري چي هغوئ یو د بل سره خیانت نه کوي او کله چي هغوئ خیانت کول پیل کړئ نو زه د هغوئ څخه جلا کېږم. (ابو داؤد) او د رزین په اخیر کي دا الفاظ زیات کړي دي او شیطان په هغوئ کي شامل سي.

### د خائن څخه د انتقام جذبه

(۲۸۰۷): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ .رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي .

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چاچي ته امین (امانت ساتونکی) کړي یې د هغه امانت ادا کړه او څوك چي ستا سره خیانت کوي نو ته د هغه سره خیانت مه کوه. (ترمذي ابو داؤد دارمي)

### د نبي کریم ﷺ وکیل

(۲۸۰۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَقُلْتُ إِنِّي أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ فَقَالَ إِذَا أَتَيْتَ وَكِيلِي فَخُذْ مِنْهُ خَمْسَةَ عَشَرَ وَسْقًا فَإِنِ ابْتَغَى مِنْكَ آيَةً فَضَعْ يَدَكَ عَلَى تَرْقُوَتِهِ . رواه ابوداؤد

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي ما خیبر ته د تللو اراده وکړه او د رسول الله ﷺ په خدمت کي د اجازت اخیستلو لپاره حاضر سوم ما نبي کریم ﷺ ته سلام واچوي او عرض مي وکړ چي زه خیبر ته د تللو اراده لرم نبي کریم ﷺ وفرمایل: ته په خیبر کي زما د وکیل سره یو ځاي سه

او پنځلس وسقه خرماوي ځيني واخله او کله چي هغه ستا څخه يو نبناني وغواړي نو ته د هغه پر حلق باندي لاس کښېږده (شايد دا ننبه نبي کريم ﷺ تاکلې وه). (ابو داؤد).

## دريم فصل

### په مضاربت کي خير دی

(۲۸۰۹): عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ فِيهِنَّ الْبَرَكَةُ الْبَيْعُ إِلَى أَجَلٍ وَالْمُقَارَضَةُ وَأَخْلَاطُ الْبُرِّ بِالشَّعِيرِ لِلْبَيْتِ لَا لِلْبَيْعِ . رواه ابن ماجة .

د حضرت صهيب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په درو شيانو کي برکت وي: ۱- په نښته باندي د مال خرڅول (يعني چي مال د معين وخت په وعده خرڅ کړي). ۲- مقارضت (پور ورکول)، يا مضاربت ۳- د کور د خرڅ لپاره د غنمو سره د اوربشو يو ځاي کول نه د خرڅلاو لپاره (رواه ابن ماجه)

### يو واقعه

(۲۸۱۰): وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مَعَهُ بِدِينَارٍ لِيَشْتَرِيَ لَهُ بِهِ أُضْحِيَةً فَاشْتَرَى كَبْشًا بِدِينَارٍ وَبَاعَهُ بِدِينَارَيْنِ فَرَجَعَ فَاشْتَرَى أُضْحِيَةً بِدِينَارٍ وَجَاءَ بِدِينَارٍ الَّذِي اسْتَفْضَلَ مِنَ الْأُخْرَى فَتَصَدَّقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالدِّينَارِ فَدَعَا لَهُ أَنْ يُبَارَكَ لَهُ فِي تِجَارَتِهِ . رواه الترمذي وابوداؤد .

د حضرت حکيم بن حزام ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ حزام ته د قرباني د حيوان لپاره يو دينار ورکړ نو هغه يو پسه په يوه دينار واخيستي او په دوه ديناره يې خرڅ کړ بيا يې يو بل حيوان په يوه دينار را نيوي او د هغه او د يو دينار ګټي سره د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو رسول الله ﷺ هغه دينار صدقه کړ او حکيم بن حزام لپاره يې دا دعا وکړه چي خداي تعالي دي دهغه په تجارت کي برکت واچوی. (ترمذي ابو داؤد)

# بَابُ الْغَصَبِ وَالْعَارِيَةِ (د غصب او عاریت بیان)

## لومړی فصل

### د غصب کونکي سزا

(۲۸۱۱): عَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا فَإِنَّهُ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِيْنَ. متفق علیه

د حضرت سعید بن زید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي په ظلم سره یوه لوېشت مځکه واخلي د هغې مځکي د ټکړې اووه طبقې به د قیامت په ورځ د هغه په غاړه کي د طوق په شکل کي ور واچول سي. (بخاري او مسلم)

### د یو حیوان شیدې د مالک د اجازې پرته لوېشل نه دي پکار

(۲۸۱۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحْلُبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ امْرِئٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تُؤْتٰى مَشْرُبَتُهُ فَتُكْسَرَ خِزَانَتُهُ فَيُنْتَقَلَ طَعَامُهُ وَ إِنَّمَا تَخْزُنُ لَهُمْ ضُرُوْعُ مَوَاشِيْهِمْ أَطْعِمَاتِهِمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅوك دي د چا حیوان بېله د هغه د اجازې څخه نه لوشي ایا په تاسو کي به یو څوك دا خبره خوښه کړي چي څوك د هغه خزانې ته راسي او د هغه خزانه ماته کړي او د هغه غله یوسي همداسي د حیوان غولانزه د هغوئ لپاره خوراکونه جمع کوي. (مسلم)

### یو واقعه

(۲۸۱۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ فَأَرْسَلَتْ إِحْدٰى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِصَحْفَةٍ فِيْهَا طَعَامٌ فَضَرَبَتِ الَّتِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِهَا يَدَ الْخَادِمِ فَسَقَطَتِ الصَّحْفَةُ فَانْفَلَقَتْ فَجَمَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِلَقَ الصَّحْفَةِ ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيْهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي الصَّحْفَةِ وَيَقُوْلُ غَارَتْ أُمُّكُمْ ثُمَّ حَبَسَ الْخَادِمَ حَتّٰى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ الَّتِي

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ د خپلو بعضو بیبیانو په کور کي وو چي یوې بلې بي بي په کاسه کي خواړه را ولېږه د نبي کریم ﷺ هغه بي بي چي هغه وخت دی د هغې سره وو د خادم لاس وواهه نو کاسه ولوېدل او ماته سوه نبي کریم ﷺ د کاسې ټکړې پورته کړې او بیا هغه خواړه چي په کاسه کي وو راټول کړه او په هغو ټکړو کي یې کېښېښوده او مینځي ته یې وفرمایل کوم چي

هُوَ فِي بَيْتِهَا فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا وَأَمْسَكَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ . رواه البخاري .

خواره يې راوړي وه ستا مور غيرت وكړ بيا يې هغه خادم را وګرځاوه تردې پورې چې د كومې بي بي په كور كې چې نبي كريم ﷺ حاضر وو د هغه كور څخه جوړه كاسه راوړه هغه يې وهغې بي بي ته ور ولېږه د چاچې كاسه ماته سوې وه او چاچې ماته كړې وه د هغه په كور كې يې ماته كاسه پرېښوده . (بخاري)

## د مسلمان مال لوټول حرام دي

﴿٢٨١٤﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنِ النُّهْبَةِ وَالْمُثْلَةِ . رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن يزيد ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د لوټ (يعني مال لوټ كولو) او مثلة (پزه او غوږ پرېكولو) څخه منعه كړې ده . (بخاري) .

## د حاجيانو د سامان غلا كونكي حشر

﴿٢٨١٥﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ فَانْصَرَفَ وَقَدْ آضَتِ الشَّمْسُ وَقَالَ مَا مِنْ شَيْءٍ تُوعَدُونَهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي صَلَاتِي هٰذِهِ لَقَدْ جِيءَ بِالنَّارِ وَذٰلِكُمْ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَأَخَّرْتُ مَخَافَةَ أَنْ يُصِيبَنِي مِنْ لَفْحِهَا وَحَتّٰى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَ الْمِحْجَنِ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ كَانَ يَسْرِقُ الْحَاجَّ بِمِحْجَنِهِ فَإِنْ فُطِنَ لَهُ قَالَ إِنَّمَا تَعَلَّقَ بِمِحْجَنِي وَإِنْ غُفِلَ عَنْهُ ذَهَبَ بِهِ وَحَتّٰى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَةَ الْهِرَّةِ الَّتِي رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتّٰى مَاتَتْ جُوعًا ثُمَّ جِيءَ بِالْجَنَّةِ وَذٰلِكَ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَقَدَّمْتُ حَتّٰى قُمْتُ فِي مَقَامِي وَلَقَدْ مَدَدْتُ يَدِي وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَتَنَاوَلَ مِنْ ثَمَرِهَا لِتَنْظُرُوا إِلَيْهِ ثُمَّ بَدَا

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې په كومه ورځ چې د نبي كريم ﷺ د زوې حضرت ابراهيم ﷺ وفات وسو نو لمر تندره ونيوى نبي كريم ﷺ خلكو ته شپږ ركعته لمونځ په څلورو سجدو سره وركړى نو په دې كې لمر روښانه سو بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: او د كوم شي چې ستا سو سره وعده سوېده اوكوم شى چې تاسو يې ويره ولي ياست نو هغه نن ما په خپل لمانځه كې وليدل زما مخ ته دوزخ را وستل سو او دا هغه وخت وو چې تاسي زه وروسته وليدم چې د دوزخ د ګرمي د ويرې څخه پر شا سوم ما په هغه كې يو سړى وليدي چې د هغه سره يو لرګي وو په هغه سره يې خپله كُلمه را كښله دا سړى (عمر بن لحي) به د حاجيانو شيان تر خپل كوناتي لاندې پټول او كه به معلوم سو نو ويل به يې چې زما په كوناتي باندې مښتي وو او كه به معلوم نه سو نو د خانه

لِي أَنْ لَا أَفْعَلَ . رواه مسلم .

سره به یې یوراو ما هغه پیشو والانبخه ولیده

چې هغې خپله پیشو ترلې وه نه یې خوراك ورکوې او نه یې خلاصوله چې د مځکې حشرات (موږکان یا نور) وخوری تر دې چې هغه مړه سوه د لوږې څخه بیا زما و مخته جنت را وړل سو او دا هغه وخت وو چې تاسو زه په مخکې کېدو ولیدم بیا زه پر خپل ځای باندې ودرېدم او خپل لاس مې و راندې کړ چې د جنت یوه میوه را وشکوم چې تاسو یې په خپلو سترګو سره وویني خو بیا ما دا مناسب ونه ګڼل (په دې چې بیا ایمان با لغیب نه پاته کیږي) . (مسلم)

## د حیوان په عاریت اخیستل جائز دي

(۲۸۱۶): وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ كَانَ فَزَعٌ بِالْمَدِينَةِ فَاسْتَعَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا مِنْ أَبِي طَلْحَةَ يُقَالُ لَهُ الْمَنْدُوبُ فَرَكِبَ فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ مَا رَأَيْنَا مِنْ شَيْءٍ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا . متفق عليه.

د حضرت قتاده ﷺ څخه روایت دی چې ما د انس ﷺ څخه دا اورېدلي وه چې یو وار په دې خیال کې چې ګني د کفارو لښکر نژدې راغلي دي په مدینه منوره کې پرېشاني پیدا سوه نبي کریم ﷺ د ابو طلحه ﷺ څخه آس را و غوښتي چې هغه ته مندوب (سست قدمه) ویلای سو نبي کریم ﷺ په هغه باندې سپور سو او ولاړې او وروسته راغي او ویې فرمایل : ونه لیدی موږ هیڅ شی یعني ببره او بیشه چې موږ وموندی دغه آس د دریاب غوندې آرام تګ کونکی . (بخاري او مسلم)

## دويم فصل

## د مړې مځکې اباد ونکي د هغه مالک دی

(۲۸۱۷): عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَحْيَى أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ وَلَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد و رواه مالك عن عروة مرسلا وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت سعید بن زید ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم سړی چې مړه مځکه ژوندي کړي (د کښت قابله یې وګرځوي) نو هغه د هغه کس ده او د ظالم د اولاد هیڅ حق پکښې نسته .(احمد ترمذي ابو داؤد)مالك د عروه څخه د ارسال په لاره روایت کړی دی ترمذي کې دا حدیث غریب ګڼل سوي دي .

## د بل چا مال خوړل حلال نه دي

(۲۸۱۸): وَعَنْ أَبِي حُرَّةَ الرَّقَاشِيِّ عَنْ عَمِّهِ قَالَ قَالَ

حضرت ابو حره رقاشي ﷺ د خپل اکا څخه

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلاَ لاَتَظْلِمُوْا اَلاَ لاَ يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ إِلاَّ بِطِيْبِ نَفْسٍ مِّنْهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان والدارقطني في المجتبى

روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: پوه سئ! په چا ظلم مه کوئ، پوه سئ چي حلال نه دی مال د هیڅ سړي مګر په خوښي د زړه سره دده. بیهقي په شعب الایمان کي او دار قطني په مجتبی کي.

**د یو چا مال غلا کونکی د اسلامي ټولني فرد نه دی**

(۲۸۱۹): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً فَلَيْسَ مِنَّا . رواه الترمذي .

د حضرت عمران بن حصین ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (په اسلام کي) نه خو جلب سته نه جنب نه شغار (موخی کول) او څوک چي لوټ کړي لوټ کول (یعني غلا وکړي) هغه زموږ د ډلي څخه نه دي. (ترمذي)

**د یو چا مال په مخسرو او خندکي مه خورئ**

(۲۸۲۰): وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَأْخُذْ اَحَدُكُمْ عَصَا اَخِيْهِ لَاعِبًا جَادًّا فَمَنْ اَخَذَ عَصَا اَخِيْهِ فَلْيَرُدَّهَا اِلَيْهِ . رواه الترمذي و ابوداؤد و روايته الى قوله جادا .

حضرت سائب بن یزید ؓ د خپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي دي څوک د خپل ورور لکړه په دې خیال نه اخلي چي د خانه سره یې کښیږدي کوم سړی چي د خپل ورور څخه لکړه واخلي نو هغه دي بیرته ورکړي. (ترمذي ابو داؤد)

**خپل غلا سوی مال چي د چا سره پیدا کړی ځیني وا یې خلئ**

(۲۸۲۱): وَعَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ عِنْدَ رَجُلٍ فَهُوَ اَحَقُّ بِهِ وَيَتَّبِعُ الْبَيِّعُ مَنْ بَاعَهُ . رواه احمد و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت سمره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي خپل (غصب سوي غلا سوي ورک سوي) مال د چا سره ووینی نو هغه د هغې د بیا پیدا کېدو زیات مستحق دي او اخیستونکی به په هغه نفر پسي ګرځي چي دغه شی یې پر خرڅ کړی وي. (احمد ابو داؤد نسائي)

**د چا څخه چي شی واخلئ بیرته یې ورکړئ**

(۲۸۲۲): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَلَى الْيَدِ مَا اَخَذَتْ حَتّٰى تُؤَدِّيَ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت سمره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د چا څخه یو شی (په زور یا د غلا په ډول) واخلي نو هغه ته پکار ده چي هغه په خپل لاس سره مالك ته ورسوي. (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه)

د يو چا باغ ، حيوان وغيره ته تاوان رسول

(۲۸۲۳): وَعَنْ حَرَامِ بْنِ سَعْدِ بْنِ مُحَيِّصَةَ أَنَّ نَاقَةً لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ دَخَلَتْ حَائِطاً فَأَفْسَدَتْ فَقَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَلَى أَهْلِ الْحَوَائِطِ حِفْظَهَا بِالنَّهَارِ وَأَنَّ مَا أَفْسَدَتْ الْمَوَاشِي بِاللَّيْلِ ضَامِنٌ عَلَى أَهْلِهَا . رواه مالك و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت حرام بن سعد بن محيصه ﷺ څخه روايت دی چي د براء بن عازب ﷺ اوښه يې وباغ ته ننوته او باغ يې خراب کړ په دې کي رسول الله ﷺ دا پرېکړه وکړه د ورځي د باغ ساتنه د باغ والاؤ ده او کوم څاروي چي د شپې لخوا باغو ته تاوان ورسوي نو د هغه تاوان د څارويو والا په غاړه دي . (مالك ابو داؤد ابن ماجه).

(۲۸۲٤): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرِّجْلُ جُبَارٌ وَقَالَ النَّارُ جُبَارٌ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل . د پښو لاندي ميده کېدل (چيتبدل)او د اور سوزل معاف دي ; يعني د حيوانانو تر پښو لاندي يو شی ميده سي او مالك ورسره نه وي نو د هغه تاوان نسته همداسي که چا اور بل کړو او بخړه يې يو خاي ولاړې او تاوان يې ورسوي نو هم د دې تاوان نسته په دې شرط چي تېزه هوا نه وي د اور لګونکي اراده فاسده نه وي ). ابو داؤد

د اضطرار په حالت کي د بل د حيوان شيدې څښل

(۲۸۲۵): وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ عَلَى مَاشِيَةٍ فَإِنْ كَانَ فِيهَا صَاحِبُهَا فَلْيَسْتَأْذِنْهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهَا فَلْيُصَوِّتْ ثَلَاثاً فَإِنْ أَجَابَهُ أَحَدٌ فَلْيَسْتَأْذِنْهُ وَإِنْ لَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ فَلْيَحْتَلِبْ وَلْيَشْرَبْ وَلَا يَحْمِلْ .رواه أبو داود

حضرت حسن ﷺ د سمره ﷺڅخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي څوك څاروي پيدا کړي او مالك ورسره وي نو د هغه څخه دي اجازت واخلي او شيدې دي ولوشي او ودې يې څښني او که مالك ورسره نه وي (دېر ودړي وي) نو درېواره دي په لوړ اواز سره اعلان وکړي که څوك جواب ورکړي نو دهغه څخه دي د شيدو د لوشلو اجازت واخلي او که څوك جواب ور نه کړي نو شيدې دي ولوشي او و دې څښني په قدر د ضرورت او د خانه سره دي يې نه وړي . (ابو داؤد

د بل د باغ ميوه بېله اجازې خوړل

(۲۸۲٦): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ دَخَلَ حَائِطاً فَلْيَأْكُلْ وَلَا يَتَّخِذْ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي (وږي وي) باغ ته ولاړ

خُبْنَةً . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب .

سي نو (په قدر د ضرورت دي) میوه وخوري او کځونه دي نه ور څخه ډکوي . (ترمذي ابن ماجه) او په ترمذي کي دا حدیث غریب شمېرل سوي دي .

## مستعار شی د امانت په حکم کي دی

(۲۸۲۷): وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ صَفْوَانَ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرَاعَهُ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ أَغَصْبًا يَا مُحَمَّدُ قَالَ بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُوْنَةٌ . رواه ابوداؤد.

حضرت امیه بن صفوان ؓ د خپل پلاره څخه روایت کوي چي د حنین په غزا کي رسول الله ﷺ د هغه څخه څو زغري مستعار واخیستې هغه پوښتنه وکړه چي اې محمده ﷺ چي ایا دا زغره د غصب په ډول (یعني په زوره) اخلې ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: چي یا ! د عریت په ډول هغه به بیرته واپس کیږي . (ابو داؤد)

## د مستعار شي بیرته ورکول واجب دي

(۲۸۲۸): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ وَالْمِنْحَةُ مَرْدُوْدَةٌ وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ وَالزَّعِيْمُ غَارِمٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت ابو امامه ؓ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي د مستعار شی بیرته ورکول واجب دي او منحه (یعني چا لره غوا یا بل حیوان ورکړي هغه صرف د هغه حیوان د شېدو څخه استفاده کولای سي او حیوان دي بیرته اصلي مالك ته ورکړي) بیرته ورکول هم ضروري دي او قرض دي ادا کړل سي او ضامن ته ضمانت ادا کول واجب دي . (ترمذي ابو داؤد)

## د درختو څخه د لوېدلو میوو اخیستلو حکم

(۲۸۲۹): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْغِفَارِيِّ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا أَرْمِيْ نَخْلَ الْأَنْصَارِ فَأُتِيَ بِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا غُلَامُ لِمَ تَرْمِي النَّخْلَ ؟ قُلْتُ آكُلُ قَالَ فَلَا تَرْمِ وَكُلْ مِمَّا سَقَطَ فِيْ أَسْفَلِهَا ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ أَشْبِعْ بَطْنَهُ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه. وسنذكر حديث عمرو بن شعيب في " باب اللقطة " إن شاء الله تعالى

د حضرت رافع بن عمرو غفاري ؓ څخه روایت دی چي زه کوچنی وم او د انصارو ونې به مې په ډبرو سره ویشتلې انصارو زه و نیولم او د رسول الله ﷺ په خدمت کي یې پېش کړم نبي کریم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي ته خرماوي ولي ولې ؟ ما ورته وویل چي زه یې خورم نبي کریم ﷺ را ته وفرمایل : ډبري مه غورځوه کومي خرماوي چي کښته لوېدلي

وي هغه خوره بيا نبي كريم ﷺ خپل مبارك لاس زما پر سر را تېر كړ او ويې فرمايل : اې الله ! ته دده نس ور موړ كړه (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه) (باب لقطه) (لويدلي شيان) كي به د عمرو بن شعيب حديث كي انشاء الله بيان كيږي

## دريم فصل

### د مځكي غصب كولو سزا

(٢٨٣٠): عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ . رواه البخاري.

حضرت سالم ﷺ دخپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د مځكي څه برخه په ناحقه واخيسته هغه به د قيامت په ورځ ددغي مځكي اووه طبقي پوري كښته خي . (بخاري).

(٢٨٣١): وَعَنْ يَعْلَى ابْنِ مُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِغَيْرِ حَقِّهَا كُلِّفَ أَنْ يَحْمِلَ تُرَابَهَا إِلَى الْمَحْشَرِ . رواه احمد.

د حضرت يعلى بن مره ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوك چي په ناحقه سره د چا پر مځكه باندي قبضه ولګوي د قيامت په ورځ به هغه ته حكم وكول سي چي د هغې مځكي خاوره په خپل سر باندي د حشر ميدان ته پور ته كړي . (احمد)

(٢٨٣٢): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَيُّمَا رَجُلٍ ظَلَمَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ كَلَّفَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَحْفِرَهُ حَتَّى يَبْلُغَ آخِرَ سَبْعِ أَرَضِينَ ثُمَّ يُطَوَّقُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ . رواه احمد.

د حضرت يعلى بن مره ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوك چي لږ مځكه هم په ظلم سره واخلي خداي ﷻ به هغه ته حكم وركړي چي هغه مځكه تر اوومي طبقي پوري و كيندي بيا به هغه مځكه طوق جوړه كړل سي او دهغه په غاړه كي به ور واچول سي او هغه به تر قيامته پوري په دغه حالت كي وي تر دې پوري چي د قيامت په ورځ به د ټولو خلكو د معاملاتو پرېكړه وسي . (احمد).

# بَابُ الشُّفْعَةِ (د شفعي بيان)

## لومړی فصل

**د شفع حق بوازې شريک ته حاصل دی که همسایه ته هم**

| | |
|---|---|
| (۲۸۳۳): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ مَا لَمْ يُقْسَمْ فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ. رواه البخاري | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په هر هغه شی کي چي د شريکانو په مينځ کي تقسيم سوي نه وي د شفع حکم ورکړي دي |

نيکن هر کله چي حدود و ټاکل سي (يعني مشترکه مځکه په خپلو کي تقسيم سي) او د هري حصې لاره جلا سي بيا شفع باقي نه پاته کيږي (بخاري).

**د شفع حق بوازې د مځکي او خای سره مخصوص دی**

| | |
|---|---|
| (۲۸۳۴): وَعَنْهُ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ شِرْكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ فَإِنْ شَاءَ أَخَذَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ فَإِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ. رواه مسلم. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ مشترکه مځکه چي تقسيم سوې نه وي د شفع حکم ورکړي دي که کور وي يا باغ وي او فرمايلي يې دي چي په دوو شريکانو کي يو شريک ته د خپل حصې خرڅولو حق نه لري |

تر څو پوري چي د خپل دويم شريک څخه اجازه وا نه خلي که د دويم شريک خوښه وي په خپله دي رانيسي او يايې پريږدي او که يو شريک د دويم شريک د اجازې څخه پرته خپله برخه خرڅه کړه نو د هغه شريک د هغې د رانيولو حقداره دي. (مسلم)

**همسايه ته د شفع د حق حاصل کيدو دليل**

| | |
|---|---|
| (۲۸۳۵): وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ. رواه البخاري. | د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: همسايه د نژديوالي په خاطر د شفع زيات حقداره دي. (بخاري) |

**د همسايتوب حق**

| | |
|---|---|
| (۲۸۳۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅوک دي خپل همسايه په ديوال کي د لرګي (ميخ وغيره) د ټک وهلو څخه |

خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ. متفق عليه.

نه منعه کوي (بخاري او مسلم)

**د لارې په اړه يو هدايت**

(۲۸۳۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِي الطَّرِيْقِ جُعِلَ عَرْضُهُ سَبْعَ أَذْرُعٍ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسو کي د لارې په اړه اختلاف پيدا سي نو د لارې عرض (بر) اووه گزه ساتئ. (مسلم).

## دويم فصل

**د غير منقوله جائيداد بېله ضرورته خرڅول مناسب نه دي**

(۲۸۳۸): عَنْ سَعِيْدِ بْنِ حُرَيْثٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ بَاعَ مِنْكُمْ دَارًا أَوْ عَقَارًا قَمِنٌ أَنْ لَا يُبَارَكَ لَهُ إِلَّا أَنْ يَجْعَلَهُ فِيْ مِثْلِهِ. رواه ابن ماجه والدارمي

د حضرت سعيد بن حريث ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي څوک چي په تاسو کي کور يا مځکه خرڅه کړي مناسب دي چي د هغه په قيمت کي برکت را نسي تر څو چي په هغه پيسو د هغه کور يا مځکي بل مثل رانيسي. (ابن ماجه دارمي)

**همسايه ته د شفع حق حاصل دی**

(۲۸۳۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَتِهِ يُنْتَظَرُ بِهَا وَإِنْ كَانَ غَائِبًا إِذَا كَانَ طَرِيْقُهُمَا وَاحِدًا. رواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه. والدارمي

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: همسايه د شفع زيات حقدار دي که هغه نه وي پر ځاى نو د هغه انتظار دي وکړي او دا حق هغه وخت حاصلېږي هر کله چي د دواړو لاره يوه وي. (أحمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي)

**د شفع تعلق**

(۲۸۴۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلشَّرِيْكُ شَفِيْعٌ وَالشُّفْعَةُ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ. رواه الترمذي قال: وقد روي عن ابن أبي مليكة عن النبي صلى الله عليه وسلم مرسلا وهو أصح.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شريك (په هغه مځکه کي چي خرڅه کړل سي) نو د شفع حق لري او شفع په هر شی کي ده. (ترمذي) او ابن ابي مليکه ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه مرسلا روايت کړی دی او دا زيات صحيح دي.

**د بیرې د درختې پر پرېکولو باندې وعید**

(۲۸۴۱): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً صَوَّبَ اللهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ " . رواه أبو داود وقال : هذا الحديث مختصر يعني مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً فِي فَلاةٍ يَسْتَظِلُّ بِهَا ابْنُ السَّبِيلِ وَالْبَهَائِمُ عَبَثًا وَظُلْمًا بِغَيْرِ حَقٍّ يَكُونُ لَهُ فِيهَا صَوَّبَ اللهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ .

د حضرت عبدالله بن حبیش ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چې د بیرې درختـه ووهي (بیرې وهلو څخه مراد د مکې د حرم او دمدینې دحرم بیره ده او یا هغه بیره د چا په ملکیت کې وي او په زوره او په ظلم سره یې څوك ووهي د عامو بیرو درختـه څیني مراد نه ده ) نو خداي تعالي به یې سر دوزخ ته وغورځوي (ابو داؤد) دابو داؤد بیان دي چې د احدیث مختصر دي د دې مراد دادي څوك چې د ځنګل یوه داسې د بیرو درختـه ووهي چې د هغې لاندې مسافر او حیوان پناه حاصلوي او په ناحقه یې پرېکړي نو د هغه سر به دوزخ ته وغورځول سي .

## دریم فصل

**په غیر منقول جائیداد کې شفع**

(۲۸۴۲): عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ إِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ فِي الْأَرْضِ فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا وَلَا شُفْعَةَ فِي بِئْرٍ وَلَا فَحْلِ النَّخْلِ . رواه مالك .

د حضرت عثمان بن عفان ﷺ څخه روایت دی چې هر کله (په مشترکه مځکه کې حدونه قائم سي نو شفع نه پاته کیږي او په څاه کې شفع نسته او د نر خرما په درخته کې شفع نسته ) (مالك)

# بَابُ الْمُسَاقَاتِ وَالْمُزَارَعَةِ (د مساقات او مزارعت بیان)

## لومړی فصل

**د خیبر د مځکې بندوبست**

(۲۸۴۳): عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَفَعَ إِلَى يَهُودِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَأَرْضَهَا عَلَى أَنْ يَعْتَمِلُوهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَطْرُ ثَمَرِهَا .

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د خیبر د خرماؤ درختې او مځکه یې یهودیانو ته په دې شرط ورکړې وه چې هغوئ به کار کوئ او پیسې به لګوي او

رواه مسلم و في رواية البخاري ان النبي صلى الله عليه وسلم اعطى خيبر اليهود ان يعملوها و يزرعوها و لهم شطر ما يخرج منها .

رسول الله ﷺ به د پيداوار څخه نيمه برخه اخلي. (مسلم) او د بخاري په روايت کي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ د خيبر مځکه يهوديانو ته په دې شرط ورکړې وه چي هغوئ دي پکښي کار او خواري کاږي او په حاصلاتو کي دي برخه اخلي.

**د مخابرت منع**

(۲۸۴۴): وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نُخَابِرُ وَلاَ نَرٰى بِذٰلِكَ بَاسًا حَتّٰى زَعَمَ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ اَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهَا فَتَرَكْنَاهَا مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ . رواه مسلم

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي موږ به مخابره (يو ډول سود) کوی او دا مو بده نه ګڼله تر دې پوري چي يوه ورځ رافع بن خديج ﷺ وويل چي رسول الله ﷺ د مخابرې څخه منعه کړېده نو بيا موږ په دې وجه سره پرېښوده. (مسلم).

**په مزدورۍ د مځکي ورکولو ذکر**

(۲۸۴۵): وَعَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَيْسٍ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَمَّايَ اَنَّهُمْ كَانُوا يُكْرُوْنَ الْاَرْضَ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا يَنْبُتُ عَلَى الْاَرْبِعَاءِ اَوْ شَيْءٍ يَسْتَثْنِيهِ صَاحِبُ الْاَرْضِ فَنَهَانَاالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقُلْتُ لِرَافِعٍ فَكَيْفَ هِيَ بالدرهم والدنانير فَقَالَ لَيْسَ بِهَا بَاْسٌ وَكَانَ الَّذِي نُهِيَ عَنْ ذٰلِكَ مَا لَوْ نَظَرَ فِيهِ ذَوُو الْفَهْمِ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ لَمْ يُجِيزُوهُ لِمَا فِيهِ مِنَ الْمُخَاطَرَةِ . متفق عليه.

حضرت حنظله بن قيس ﷺ د رافع بن خديج ﷺ څخه روايت کوي چي رافع بن خديج وويل چي ماته زما اکاګانو ويلي دي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي به مځکه په دې شرط ور کوله چي د کښتو د ويالو پر غاړه چي کومه غله پيدا سي نو هغه د مځکي په اجرت کي د مالك حق دي او پاته کښت د هغه دي څوك چي خواري او محنت وکړي يا په دې طريقه سره به مځکه د کرلو لپاره ورکوله چي د مځکي يوه ټکړه به يې جلا کوله او د دې پيداوار به د هغه حق ګڼل کيدي نبي کريم ﷺ موږ د دې څخه منعه کړو راوي وايي ما د رافع ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي مځکه د درهم او دينار په عوض کي ورکول سي نو بيا څه حکم دي؟ هغه وويل چي په دې کي څه حرج نسته او د کوم شي څخه چي منعه سوې ده که عقلمند خلك غور او فکر وکړئ نو د دې اجازت به ور نه کړي ځکه چي په دې کي خطرې دي. بخاري او مسلم

**د مزارعت يو منع صورت**

(۲۸۴۶): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كُنَّا اَكْثَرَ

د حضرت رافع بن خديج ﷺ څخه روايت دی چي

أَهْلِ الْمَدِينَة حَقْلًا وَكَانَ أَحَدُنَا يُكْرِي أَرْضَهُ فَيَقُولُ هٰذِه الْقِطْعَةُ لِي وَهٰذِه لَكَ فَرُبَّمَا أَخْرَجَتْ ذِه وَلَمْ تُخْرِجْ ذِه فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه.

موږ د مدينې منورې اوسيدونكي زيات كښت كرونكي وو او په موږ كي به خينو په دې شرط په كرايه خپله مځكه وركوله چي د مځكي دومره برخه زما لپاره ده او دومره مځكه ستا لپاره ده او زياتره به داسي كيدل چي كله به د مځكي په هغه برخه فصل وسو او كله به په بله برخه نو رسول الله ﷺ د دې څخه منعه وفرمايل. (بخاري او مسلم)

**خپل مځكه بل ته د كښت لپاره په رعايت وركول غوره ده**

(۲۸۴۷): وَعَنْ عَمْرٍو قَالَ قُلْتُ لِطَاوُسٍ لَوْ تَرَكْتَ الْمُخَابَرَةَ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهُ قَالَ أَيْ عَمْرُو إِنِّي أُعْطِيهِمْ وَأُغْنِيهِمْ وَإِنَّ أَعْلَمَهُمْ أَخْبَرَنِي يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَ عَنْهُ وَلٰكِنْ قَالَ أَنْ يَمْنَحَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُومًا . متفق عليه.

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دى چي ما طاوس ته وويل كه تا مخابره پرېښودلې نو بهتره به وه څكه چي د خلكو خيال دى چي رسول الله ﷺ د دې څخه منعه كړېده طاوس وويل اي عمره! زه كښت كرونكي ته مځكه وركوم او د هغوئ كومك كوم او يو لوي عالم يعني ابن عباس ﷺ ماته ښودلي دي چي نبي كريم ﷺ د دې څخه منعه نه ده فرمايلې بلكه دا يې فرمايلي دي چي كښت لپاره خپل يو ورور ته مځكه وركول د دې څخه بهتر دي چي په هغه باندي يې تاكل سوي محصول واخلي. (بخاري او مسلم).

**خپل مځكه بېكاره مه پرېږدئ**

(۲۸۴۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ . متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا سره چي مځكه وي نو هغه له پكار ده چي هغه مځكه په خپله وكري يا يو خپل مسلمان ورور ته دي وركړي او كه دا دواړي خبري يې خوښې نه وي نو بيا دي خپله مځكه د خانه سره وساتي. (بخاري او مسلم)

**په كښت كي د بوختيا په وجه د جهاد پر پرېښودلو وعيد**

(۲۸۴۹): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّهُ رَأَى سِكَّةً وَشَيْئًا مِنْ آلَةِ الْحَرْثِ فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ هٰذَا بَيْتَ قَوْمٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ

حضرت ابو امامه ﷺ چي د يوي (هل) او د كښت څه سامان وليدي نو وه يې ويل چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي په كوم كور كي چي

الذُلّ . رواه البخاري.

دا سا مان داخل سي الله تعالي په هغه كي ذلت او خواري دا خلوي (د دې څخه مراد دادي چي ټول خلك په ذراعت بوخت نسي جهاد دي هم كوئ او نور كارونه دي هم كوي ). (بخاري) .

## دويم فصل

**د يو چا مځكه بېله اجازې مه كرئ**

(٢٨٥٠): عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال مَنْ زَرَعَ فِي أَرْضِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ فَلَيْسَ لَهُ مِنَ الزَّرْعِ شَيْءٌ وَلَهُ نَفَقَتُهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت رافع بن خديج ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :څوك چي د چا په مځكه كي د هغه د اجازت څخه پرته كښت وكري نو ټول كښت د مځكي د مالك دي او پر مالك باندي يوازي د كښت كرلو خرڅ دي . (ترمذي ابو داؤد) او په ترمذي كي دا حديث غريب ګڼل سوي دي .

## دريم فصل

**د مزارعت ثبوت**

(٢٨٥١): عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ قَالَ مَا بِالْمَدِينَةِ أَهْلُ بَيْتِ هِجْرَةٍ إِلَّا يَزْرَعُونَ عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ وَزَارَعَ عَلِيٌّ وَسَعْدُ بْنُ مَالِكٍ وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَالْقَاسِمُ وَعُرْوَةُ وَآلُ أَبِي بَكْرٍ وَآلُ عُمَرَ وَآلُ عَلِيٍّ وَابْنُ سِيرِينَ وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ كُنْتُ أُشَارِكُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ فِي الزَّرْعِ وَعَامَلَ عُمَرُ النَّاسَ عَلَى إِنْ جَاءَ عُمَرُ بِالْبَذْرِ مِنْ عِنْدِهِ فَلَهُ الشَّطْرُ وَإِنْ جَاءُوا بِالْبَذْرِ فَلَهُمْ كَذَا. رواه البخاري

حضرت قيس بن مسلم ﷺ د ابو جعفر ﷺ څخه روايت كوي چي په مدينه كي د مهاجرينو داسي هيڅ يو كور نه وو چي د مځكي پر دويمي دريمي او څلورمي باندي كښت نه كري او حضرت علی ﷺ سعد بن مالك ﷺ او عبد الله بن مسعود ﷺ عمر بن عبد العزيز ﷺ قاسم ﷺ عروه د ابو بكر ﷺ اولاد د عمر ﷺ اولاد د علي ﷺ اولاد او ابن سيرين دي ټولو خلكو زمينداري كوله دعبد الرحمن بن اسود ﷺ بيان دي ما يه د عبد الرحمن بن يزيد شركت كي كښت كوي او د حضرت عمر ﷺ د خلګو سره دا معامله وه كه حضرت عمر ﷺ تخم د خانه څخه وركري نو د پيداوار نيمه برخه به اخلي او كه كښت كرونكي تخم خپله راوري نو د هغه هغومره برخه ده .(بخاري) .

# بَابُ الْاِجَارَةِ (د اجارې بيان)

## لومړی فصل

### د اجارې جواز

(٢٨٥٢): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ زَعَمَ ثَابِتُ بْنُ الضَّحَّاكِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُزَارَعَةِ وَأَمَرَ بِالْمُؤَاجَرَةِ وَقَالَ لَا بَأْسَ بِهَا . رواه مسلم .

د حضرت عبد الله بن مغفل ﷺ څخه روايت دی چي ثابت بن ضحاك ﷺ بيان كوي چي نبي كريم ﷺ د مزارعت څخه منعه فرمايلې ده او مخكه په اجاره وركولو سره يې امر كړي دي او فرمايلي يې دي چي په اجاره كي هيڅ حرج نسته . (مسلم)

(٢٨٥٣): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ فَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَاسْتَعَطَ . متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وينه وكښل او وينه كښونكي ته يې اجرت (مزدوري) وركړ او په پزه كي يې دوا هم واچول. (بخاري)

### رسول الله ﷺ په مزدورۍ پسونه پيولي دي

(٢٨٥٤): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا بَعَثَ اللّٰهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الْغَنَمَ فَقَالَ أَصْحَابُهُ وَأَنْتَ فَقَالَ نَعَمْ كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلٰى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو نبي داسي نه دي رالېږل سوي چي هغه خاروی نه وي څر كړي، اصحابو كرامو رض خيني پوښتنه وكړه او تاسو هم؟ نبي كريم ﷺ ور ته وفرمايل: هو ما به هم د مكې د خلكو پسونه د څو قيراطو په اجرت څرول. (بخاري).

### مزدور ته د مزدورۍ پر نه وركولو وعيد

(٢٨٥٥): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطٰى بِيْ ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيْرًا فَاسْتَوْفٰى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خداي تعالي فرمايلي دي: د قيامت په ورځ به زه د درو كسانو سره جګړه كوم. ١- يو خو هغه كس دي چي هغه زما په نامه سره عهد يا معاهده وكړه او بيا يې ماته كړي ٢- د هغه كس سره چي ازاد انسان خرڅ كړي

او د هغه قیمت و خوري ۳-د هغه کس سره چي یو سړی په مزدوري ولګوي او د هغه څخه پوره کار واخلي او بیا مزدوري ور نه کړي .(بخاري) .

**دم کونکی اجرت اخیستلای سي**

(۲۸۵۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرُّوا بِمَاءٍ فِيهِمْ لَدِيغٌ أَوْ سَلِيمٌ فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَاءِ فَقَالَ هَلْ فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ إِنَّ فِي الْمَاءِ رَجُلًا لَدِيغًا أَوْ سَلِيمًا فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ عَلَى شَاءٍ فَبَرَأَ فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ فَكَرِهُوا ذَلِكَ وَقَالُوا أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا حَتَّى قَدِمُوا الْمَدِينَةَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللَّهِ . رواه البخاري وَ فِيْ رِوَايَةٍ أَصَبْتُمْ اقْسِمُوْا وَاضْرِبُوْا لِيْ مَعَكُمْ سَهْمًا .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي د نبي کریم ﷺ د اصحابو یوه ډله د یو کلي سره نژدې تېرېدل چي په هغه کي یو سړی مار یا لړم چیچلي وو د کلي څخه و هغه ته یو سړی راغي او پوښتنه یې ځیني وکړه چي په تاسو کي یو څوک دم کونکي سته په کلي کي یو سړی مار یا لړم چیچلي دي په اصحابو کرامو کي یو کس ور سره سو او د کلي والاؤ سره یې په څو پسو پرېکړه وکړه او په ناروغه باندي یې سورة فاتحه چف کړه. ناروغه په قراره سو نو هغه پسونه یې د خانه سره راوړل کله چي خپل ملګرو ته راو رسېدي نو اصحابو کرامو د پسو د اجرت په اخیستو اعتراض وکړ او ویې ویل چي تا د خداي تعالي په کتاب باندي مزدوري اخیستې ده داؤ چي دوئ و مدینې منورې ته را ورسېدل او نبي کریم ﷺ ته یې وویل چي فلاني سړی د الله تعالي په کتاب باندي اجرت اخیستی دی نبي کریم ﷺ ور ته و فرمایل: (په دې کار کي خو) د الله تعالي په کتاب باندي اجرت اخیستل د ټولو څخه زیات مناسب دي . (بخاري) او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل :تا سو ښه وکړل پسونه په خپلو مینځو کي ووېشئ او ما ته هم یوه برخه را کړئ .

## دویم فصل

**د غیر شرعي دم اجرت حرام دی**

(۲۸۵۷): عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ عَنْ عَمِّهِ قَالَ أَقْبَلْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْنَا عَلَى حَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ فَقَالُوا إِنَّا أُنْبِئْنَا أَنَّكُمْ قَدْ

حضرت خارجه بن صلت ﷺ د خپل اکا څخه روایت کوي چي موږ د رسول الله ﷺ څخه رخصت سوو او د خپل وطن په لور روان سو چي د

جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هٰذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ فَهَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رُقْيَةٍ فَإِنَّ عِنْدَنَا مَعْتُوهًا فِي الْقُيُودِ قَالَ فَقُلْنَا نَعَمْ فَجَاءُوا بِمَعْتُوهٍ فِي الْقُيُودِ قَالَ فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً أَجْمَعُ بُزَاقِي ثُمَّ أَتْفُلُ فَكَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ فَأَعْطَوْنِي جُعْلًا فَقُلْتُ لَا حَتّٰى أَسْأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلْ فَلَعَمْرِي مَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةٍ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةٍ حَقٍّ . رواه احمد وابوداؤد .

شپې لخوا يوه د عربو قافله زموږ سره تېرېدل نو هغوئ و موږ ته وويل موږ ته معلومه سوې ده چې تاسو د نبي كريم ﷺ د خير (يعني قرآن) سره راغلي ياست ايا ستاسو سره څه دوا يا دم نسته ؟ په موږ كي يو لېونی په زولنو كي سته چي د هغه علاج وكړئ موږ ورته وويل هو . وروسته يې يو لېونی په ځنځيرو تړلي راوستئ ما په هغه باندي تر درو ورځو پوري سهار او ماښام سورة فاتحه چف كړه په دې طريقه سره چي ما به په خوله كي ناوړي جمع كولې او په سورة فاتحه ويلو سره به مي په هغه باندي موړلې نو (په دريمه ورځ) هغه روغ رمټ سو نو هغوئ ماته د دې اجرت را كوئ او ما ورته وويل تر څو پوري چي زه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه كړم اجرت نه اخلم نبي كريم ﷺ د پوښتني وروسته را ته وفرمايل : وه يې خوره په خپل عمر دي مي قسم وي څوك چي په درواغو باندي جادو كوي او د هغه څه خوري هغه بدكوي خو تا په حقه سره خوړلې ده .(احمد ابو داؤد)

**د مزدور په مزدوري وركولو كي زنډ مه كوئ**

(۲۸۵۸): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ . رواه ابن ماجة .

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مزدور ته د هغه د خولو د وچېدو تر مخه خپله مزدوري ور كړئ . (ابن ماجه)

(۲۸۵۹): وَعَنِ الْحُسَيْنِ ابْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلَى فَرَسٍ . رواه احمد وابوداؤد في المصابيح مرسل .

د حضرت حسين بن علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سوال كوونكي حق دي اگر چي پر آس سپور راسي . (يعني سوال كوونكي ته څه ناڅه يو شی وركول پكار دي) (احمد ابو داؤد او په مصابيح كي مرسلا دي) .

## دریم فصل

**د مزدورۍ په اړه د حضرت موسی ؑ ذکر**

(۲۸۶۰): عَنْ عُتْبَةَ بْنِ النُّذُرِ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ طسم حَتّٰى إِذَا بَلَغَ قِصَّةَ مُوسٰى قَالَ إِنَّ مُوسٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آجَرَ نَفْسَهُ ثَمَانِيَ سِنِينَ أَوْ عَشْرًا عَلٰى عِفَّةِ فَرْجِهِ وَطَعَامِ بَطْنِهِ . رواه احمد وابن ماجة.

د حضرت عتبه بن نذر ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو نبي کريم ﷺ سورة طسم د موسی ؑ تر کيسې پوري ولوست او ويې فرمايل: حضرت موسی ؑ د اتو يا لسو کلو پوري مزدوري وکړه او دا يوازي د دې لپاره چي خپله شرمګاه د حرامو څخه وساتي او د نس لپاره غذا تياره کړي . (احمد ابن ماجه)

**د ديني تعليم پر ورکولو باندي د اجرت مسئله**

(۲۸۶۱): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ رَجُلٌ أَهْدَى إِلَيَّ قَوْسًا مِمَّنْ كُنْتُ أُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْقُرْآنَ وَلَيْسَتْ بِمَالٍ وَأَرْمِي عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قَالَ إِنْ كُنْتَ تُحِبُّ أَنْ تُطَوَّقَ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَاقْبَلْهَا . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت عباده بن صامت ﷺ څخه روايت دی چي ما وويل يارسول الله ﷺ! ما به يوه سړی ته قرانکريم ښودي نو هغهٔ ماته يو د لينده په هبه کي راکړه او دا چي لينده څه مال نه دي زه به په دې باندي د خداي تعالي په لاره کي غزا کوم نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: که ته دا (خبره) خوښوې چي ستا په غاړه کي د اور طوق واچول سي نو دا هديه قبوله کړه . (ابو داؤد ابن ماجه) .

# بَابُ احْيَاءِ الْمَوَاتِ وَالشِّرْبِ

## (د وراني مځکي ابادول او اوبه کولو بيان)

## لومړی فصل

**د وراني مځکي ابادونکی د هغه مالک دی**

(۲۸۶۲): عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ عَمَرَ أَرْضًا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ فَهُوَ أَحَقُّ قَالَ عُرْوَةُ قَضٰى بِهِ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ

د حضرت بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي يو نا آباده مځکه آباده کړي چي د بل چا ملکيت نه وي نو هغه د دې

عَنْهُ فِي خِلَافَتِهٖ . رواه البخاري.

مخکي حقداره دی، عروه وايي حضرت عمر ﷺ په خپل خلافت کي د دې حديث په مطابق پرېکړه کړې وه .(بخاري)

**د يو ځر ځاى د ځان لپاره خاص کول منع دي**

(۲۸۶۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ الصَّعْبَ بْنَ جَثَّامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا حِمَى إِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهٖ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي صعب بن جثامه ﷺ بيان وکړ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي. چي د ونبو لرونکي مځکه د خداي تعالی او د شغه د رسول ده .(د هيچا لپاره هغه د ځان لپاره مخصوصه کول جائز نه ده ).(بخاري) .

**د کښتو پر اوبو باندي يو جګړه او د رسول الله ﷺ فيصله**

(۲۸۶۴): وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ خَاصَمَ الزُّبَيْرُ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فِي شَرِيجٍ مِنَ الْحَرَّةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهٗ ثُمَّ قَالَ اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ وَاسْتَوْعَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ حَقَّهٗ فِي صَرِيحِ الْحُكْمِ حِينَ أَحْفَظَهُ الْأَنْصَارِيُّ كَانَ أَشَارَ عَلَيْهِمَا بِأَمْرٍ لَهُمَا فِيهِ سَعَةٌ . متفق عليه.

د حضرت عروه ﷺ څخه روايت دى چي د اوبو د لويو ويالو په خاطر د زبير ﷺ او د انصارو تر مينځ جګړه پيدا سوه مقدمه رسول الله ﷺ ته ورسېده نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: (اې زبيره! ته خپل کښت اوبه کړه او وروسته اوبه د خپل همسايه و لور ته پرېږده انصاري چي دا پرېکړه واورېدل نو يې وويل تاسو د اسي پرېکړه څکه وکړه چي زبير ستاسو د اکا زوي دي په دې اورېدو سره د نبي کريم ﷺ د مخ رنګ بدل سو او ويې فرمايل : زبيره ! خپل کښت اوبه کړه او اوبه د کښت د باندي مه پرېږده کله چي کښت ښه اوبه سي نو د ويالې رخ د همسايه و لور ته کړه غرض دا چي نبي کريم ﷺ و زبير ﷺ ته پوره حق ورکړ (څکه چي وياله د زبير د کښت سره څرمه وه او کښت يې پور ته وو او د انصاري کښت کښته او ښيني ليرې وه ) انصاري نبي کريم ﷺ ته قهر ور وستلي وو او هغه مخکي فيصله د دوئ دواړو په ګټه وه .(بخاري او مسلم) .

**کومې اوبه چي تر تاسو زياتي وي هغه مه منع کوئ**

(۲۸۶۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوا فَضْلَ الْمَاءِ لِتَمْنَعُوا بِهٖ فَضْلَ الْكَلَإِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مه منع کوئ زياتي اوبه چي په هغه سره بيا د ونبو زيات کښت منع کيږي ،

(يعني په دې خيال سره که اوبه منعه سي نو خلك به هلته وابنه نه شنه کوي ځکه چي په عموم کي وابنه هلته کرل کيږي چيري چي اوبه وي). (بخاري او مسلم)

| | |
|---|---|
| (۲۸۶۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ رَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ لَقَدْ أَعْطَى بِهَا أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَى وَهُوَ كَاذِبٌ وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ فَيَقُولُ اللّٰهُ الْيَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِي كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ . متفق عليه و ذكر حديث جابر في باب المنهي عنها من البيوع . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به خداي تعالي د درو کسانو سره خبري نه کوي او نه به د هغوئ ولور ته د رحمت په نظر وګوري: ۱-هغه کس چي خپل سامان خرڅوي او قيمت د هغه شی کم وي خو قسم پر اخلي چي دا ماته په ګرانه پروت دي ۲-هغه کس چي د مازديګر څخه وروسته قسم خوري چي هغه به د دې مسلمان مال نه رانيسي. ۳- هغه کس چي د زياتو اوبو د چينلو څخه يې منعه کړي د دې کس په اړه الله تعالی فرمايي: تا له هغه زياتو اوبو چي تا نه وي |

پيدا کړي ځوك منعه کول نن ورځ زه ستا څخه خپل فضل وكرم منعه كوم. (بخاري او مسلم) او د جابر ﷺ په اړه حديث به د «رانيولو او پلورلو» د ممنوعاتو په باب کي بيانيږي.

## دويم فصل

**پر ناابادہ مځکي باندي ديوال ګرځول**

| | |
|---|---|
| (۲۸۶۷): عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَاطَ حَائِطًا عَلَى أَرْضٍ فَهِيَ لَهُ . رواه ابوداؤد. | حضرت حسن ﷺ د سمره څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ځوك چي په يوه (نا اباده) مځکه باندي ديوال را وګرځوي هغه مځکه د هغه ده. (ابو داؤد) |

**د رسول الله ﷺ له خوا صحابه کرامو ته مځکي ورکول**

| | |
|---|---|
| (۲۸۶۸): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ نَخِيلًا. رواه ابوداؤد | د بي بي اسماء بنت ابي بکر رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د خرماؤ ونې زبير ﷺ ته د خاي په ډول ورکړي وې. (ابو داؤد) |

| | |
|---|---|
| (۲۸۶۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ حُضْرَ فَرَسِهِ فَأَجْرَى فَرَسَهُ حَتَّى | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ حضرت زبير ﷺ ته د آس د يوې ځغستيا |

| | |
|---|---|
| قَامَ ثُمَّ رَمَى بِسَوْطِهِ فَقَالَ أَعْطُوهُ مِنْ حَيْثُ بَلَغَ السَّوْطُ . رواه ابوداؤد . | په برابري مځکه ورکړي وه کله چي زبير خپل آس وځغلوي کوم وخت او ځای چي آس و |

درېدی بیا يې وغورزول غمچینه خپل نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: تر کوم ځايه چي غمچینه ورسیدا تر هغه ځايه پوري مځکه ورکړئ. (ابو داؤد).

| | |
|---|---|
| (۲۸۷۰): وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَهُ أَرْضًا بِحَضْرَمَوْتَ قَالَ فَأَرْسَلَ مَعِي مُعَاوِيَةَ قَالَ أَعْطِهَا إِيَّاهُ . رواه الترمذي والدارمي . | حضرت علقمه بن وائل ؓ دخپل پلاره ښخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وائل ته په حضر موت کي يوه مځکه ورکړه د وائل ؓ بيان دي نبي کريم ﷺ زما سره معاويه ؓ ولېږي او حکم |

يې وکړ چي فلاني مځکه و ده ته ور کړئ. (ترمذي او دارمي).

| | |
|---|---|
| (۲۸۷۱): وَعَنْ أَبْيَضَ بْنِ حَمَّالٍ الْمَارِبِيِّ أَنَّهُ وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَقْطَعَهُ الْمِلْحَ الذي بمارب فَاقطَعَه اياه فَلَمَّا وَلّٰى قال قَالَ رَجُلٌ يارسول الله إِنَّمَا قَطَعْتَ لَهُ الْمَاءَ الْعِدَّ قَالَ فرجعه منْهُ قَالَ وَسَأَلَهُ مَاذَا يُحْمٰى مِنَ الْأَرَاكِ قَالَ مَا لَمْ تَنَلْهُ أَخْفَافُ الْإِبِلِ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي . | د حضرت ابيض بن حمال ماربي ؓ ښخه روايت دی چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو هغه د مالګي هغه کان وغوښتي کوم چي په مارب کي وو نبي کريم ﷺ و هغه ته کان د جائيداد په ډول ور کړ وروسته چي کله ولاړی نو يوه سړی وويل يا رسول الله ﷺ هغه کان خو تيار جائيداد دي په هغه کي مالګه تيارېږي د |

محنت او مشقت ضرورت نه پېښيږي د راوي بيان دي د دې معلومات ښخه وروسته نبي کريم ﷺ هغه کان بيرته واخيست (ځکه چي په هغه کي د ټولو مسلمانانو حق وو او د يو چا په قبضه کي را وستل جائز نه دي) وروسته هغه سړی د نبي کريم ﷺ ښخه پوښتنه وکړه چي کوم قسم شاړه مځکه په ابادولو سره ملکيت ګرځي (يعني په يوه نا اباده مځکي کي د ابادي لپاره دېوالونه جوړلو سره اباده سي) نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه مځکه چي هلته د اوښانو پښې نه رسيږي (يعني د حيوانانو د څرېدو ځای نه وي يا کوم ځای چي ابادي نه وي) (ترمذي ابن ماجه دارمي).

**د الله ﷻ درې نعمتونه**

| | |
|---|---|
| (۲۸۷۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ | د حضرت ابن عباس ؓ ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په درو شيانو کي ټول |

فِي الْمَاءِ وَالْكَلَإِ وَالنَّارِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة .

مسلمانان سره شريكان دي يعني اوبه وابنه او اور دي چي پکښي د ټولو مسلمانانو حق دي (هيڅوک دي يو د بله سره نه منعه کوي). (ابو داؤد ابن ماجه).

**يو مباح شی چي هر څوک تر مخه حاصل کړي د هغه سو**

(٢٨٧٣): وَعَنْ اَسْمَرَ بْنِ مُضَرِّسٍ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ فَقَالَ مَنْ سَبَقَ إِلَى مَاءٍ لَمْ يَسْبِقْهُ إِلَيْهِ مُسْلِمٌ فَهُوَ لَهُ. رواه ابوداؤد .

د حضرت اسمر بن مضر ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم اسلام مي قبول کړ نبي کريم ﷺ وفرمايل : څوك چي اوبو ته اول ورسي چي مخکي يو بل مسلمان ورور نه وي ور رسېدلي نو هغه اوبه د هغه دي .(ابو داؤد)

**په کوم قوم کي چي د کمزورو انسانانو حقوق محفوظ نه وي...**

(٢٨٧٤): وَعَنْ طَاوُسٍ مُرْسَلاً اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اَحْيٰى مَوَاتًا مِنَ الْاَرْضِ فَهُوَ لَهُ وَعَادِيُّ الْاَرْضِ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ مِنِّيْ . رواه الشافعي وروى في " شرح السنة " : أن النبي صلى الله عليه وسلم أقطع لعبد الله بن مسعود الدور بالمدينة وهي بين ظهراني عمارة الأنصار من المنازل والنخل فقال بنو عبد بن زهرة : نكتب عنا ابن أم عبد فقال لهم رسول الله : " فلم ابتعثني الله إذا ؟ إن الله لا يقدس أمة لا يؤخذ للضعيف فيهم حقه .

د حضرت طاؤس ﷺ څخه مرسلا روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي نا اباده مځکه آباده کړي نو مځکه د هغه ده او پخواني مځکه د الله ﷺ او د هغه د رسول ﷺ ده او زما له لوري ستاسو ده او په شافعي او شرح السنة کي دا روايت داسي ذکر سوي دي: چي نبي کريم ﷺ عبد الله بن مسعود ته په مدينه کي کورونه ورکړه دا کورونه د انصارو په آباديو کي د ننه د هغوئ د کورونو او د خرماؤ د ونو تر مينځ واقع وه د عبد الله بن زهره زامنو نبي کريم ﷺ ته وويل : د ام عبد زوي زمونږ څخه ليري ساته نو رسول الله ﷺ و هغه ته وويل : خداي تعالي زه د څه دپاره را لېږلي يم ؟يعني که زه د کمزور مرسته و نه کړم) خداي تعالي هغه قوم نه پاکوي چي په هغوئ کي د کمزوري حق نه وي محفوظ .

**په وياله وغيره سره د کښت اوبول**

(٢٨٧٥): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضٰى فِي السَّيْلِ الْمَهْزُوْرِ اَنْ يُمْسَكَ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكَعْبَيْنِ

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ د خلاصو اوبو په اره داسي فرمايلي دي :چي (تږدي و کښت ته د) خپلي

ثُمَّ يُرْسِلُ الْأَعْلَى عَلَى الْأَسْفَلِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

اوبه را وګرځوئ کله چې اوبه تر بجلکو پورې ورسيږي نو د پورته کښت لرونکي دي او به د کښته کښت ولور ته ايله کړي .(ابو داؤد ابن ماجه) .

**د خپل جائيداد په ذريعه چا ته تکليف مه ورکوئ**

(٢٨٧٦): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ عَضُدٌ مِنْ نَخْلٍ فِي حَائِطِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَمَعَ الرَّجُلِ أَهْلُهُ فَكَانَ سَمُرَةُ يَدْخُلُ عليه فَيَتَأَذَّى به فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَطَلَبَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَهُ فَأَبَى فَطَلَبَ إِلَيْهِ أَنْ يُنَاقِلَهُ فَأَبَى قَالَ فَهِبْهُ لَهُ وَلَكَ وكَذَا أَمْرًا رَغَّبَهُ فيه فَأَبَى فَقَالَ أَنْتَ مُضَارٌّ فَقَالَ لِلْأَنْصَارِيِّ اذْهَبْ فَاقْطَعْ نَخْلَهُ رواه ابوداؤد و ذكر حديث جابر من احيى ارضا في باب الغصب بروایة سعيد بن زيد و سنذكر حديث ابي صرمة من ضار اضر الله به في باب ما ينهى من التهاجر .

د حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه څخه روايت دی چې د هغه يو څو د خرماؤ درختي د يوه انصاري په باغ کي وې او دی د خپل کور او اولاد سره په باغ کي اوسېدي کله چې هغه (سمره) به باغ ته تلي نو د هغه له لوري څخه به ده ته تکليف رسېدی، انصاري د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو د دې خبري يادونه يې ورته وکړه رسول الله ﷺ سمره را وغوښت او حکم يې ورته وکړ چې خپلي درختي پر انصاري باندي خرڅي کړه سمره د درختو خرڅولو څخه انکار وکړ بيا رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د دغه انصاري د درختو سره چې هغه بل ځای دي خپل درختي بدلي کړه سمره رضی الله عنه له دې څخه هم انکار وکړ بيا نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: خپلي درختي د انصاري ته هبه کړه تا ته به په اخرت کي د دې اجر درکول سي سمره رضی الله عنه له دې څخه هم انکار وکړ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ته انصاري ته ضرر رسونکی يې (او څوك چې چا ته ضرر رسونکي وي نو د هغه دفعه کول ضروري دي) بيا نبي کريم ﷺ انصاري ته حکم و کړ چې ولاړ سه او د هغه درختي پرېکړه او وه يې غورځوه .(ابو داؤد)او د جابر رضی الله عنه حديث په من احي ارضا د سعيد بن زيد څخه د غضب په باب کي بيان سوي دي او د بر ژر به د ابو صرمه په حديث کي من ضار اضر الله په باب ما ينهى من التهاجر کي بيان سوي دي .

## دريم فصل

**د اوبو، ما لګي او اور ورکولو څخه منع مه کوئ**

(٢٨٧٧): عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې ما د

الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ الْمَاءُ وَالْمِلْحُ وَالنَّارُ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَذَا الْمَاءُ قَدْ عَرَفْنَاهُ فَمَا بَالُ الْمِلْحِ وَالنَّارِ قَالَ يَا حُمَيْرَاءُ مَنْ أَعْطَى نَارًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَا أَنْضَجَتْ تِلْكَ النَّارُ وَمَنْ أَعْطَى مِلْحًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَا طَيَّبَتْ تِلْكَ الْمِلْحُ وَمَنْ سَقَى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ يُوجَدُ الْمَاءُ فَكَأَنَّمَا أَعْتَقَ رَقَبَةً وَمَنْ سَقَى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ لَا يُوجَدُ الْمَاءُ فَكَأَنَّمَا أَحْيَاهَا . رواه ابن ماجة

رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي هغه کوم شی دي چي د هغه د استعمال څخه منعه نه ده راغلې نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: اوبه مالګه او اور دي. بيا ما پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ د اوبو په اړه خو زه پوه سوم (يعني د دې د نه ورکولو څخه انسانانو او حيوانانو ته تکليف رسيږي) ليکن د مالګي او اور په اړه معلومات نسته نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې حميرا! (د ګلاب د ګل په شان سور رنګه)څوک چي چاته اور ورکړي هغه ته دومره ثواب رسيږي لکه هغه چي خپل ټول شيان په دې اور پخ سوي وي صدقه کړل او څوک چي چا ته مالګه ورکړي هغه ته دومره ثواب رسيږي لکه هغه چي خيرات کړه ټول هغه طعام (خوراک) چي په دغه مالګه خوندور کيږي او څوک چي د مسلمان په هغه ځاي کي اوبه و څښي کوم ځاي چي اوبه وي به يوه وار اوبو څښلو سره لکه يو غلام چي آزاد کړ او په داسي ځاي کي چي اوبه نه وي په يو مسلمان اوبه څښل داسي دي لکه هغه مسلمان ته چي يې نوی ژوند ورکړ .(ابن ماجه) ..

## بَابُ الْعَطَايَا (د بخښش بيان)

### لومړی فصل

#### د حضرت عمر ﷺ له خوا د خپل ملکي وقف

(۲۸۷۸): عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ أَصَابَ أَرْضًا بِخَيْبَرَ فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ أَنْفَسَ عِنْدِي مِنْهُ فَمَا تَأْمُرُ بِهِ قَالَ إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ أَنَّهُ لَا يُبَاعُ وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ وَتَصَدَّقَ بِهَا فِي الْفُقَرَاءِ وَفِي الْقُرْبَى وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي حضرت عمر ﷺ ته په خيبر کي يوه مځکه د غنيمت حاصله سوه حضرت عمر ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ! په خيبر کي يوه مځکه ماته را کول سوې ده د دې څخه بهتره تر ننه پوري ماته داسي شی نه دي حاصل سوي تاسو په دې اړه

| | |
|---|---|
| وَابْنِ السَّبِيلِ وَالضَّيْفِ لَا جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا اَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ وَيُطْعِمَ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ قَالَ ابْنَ سِيرِينَ غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالًا . متفق عليه. | څه فرمایاست ؟ نبي كريم ﷺ ورته و فرمايل : كه ته و غواړې چي مځكه وقف كړه او پيداوار يې صدقه كړه نو حضرت عمر ﷺ مځكه په دې |

شرط سره د خداي تعالي په لاره كي چي اصل مځكه به نه وركول كيږي نه يې هبه كولاى سي او په ميراث كي به زما وي او پيدا وار به يې په فقيرانو دوستانو په قريبانو په مجاهدينو مسافرو او ميلمنو باندي خرڅيږي او د غلامانو په ازادېدو كي به ور سره مرسته او كومك كيږي او متولي به يې هم په اندازه د حاجت شي خيني وصولوي نو څه حرج نسته كه يې متولي په خپلو قريبانو باندي خوري نو په شرط د دې څان غني او مالدار نه كړي ، ابن سيرين ويلي دي چي ددغه مال څخه دي مال نه جمع كوي . (بخاري او مسلم)

**عمرى جائز ده**

| | |
|---|---|
| (۲۸۷۹): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرَى جَائِزَةٌ . متفق عليه | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : عمرى يعني د چا له عمر لپاره |

(تر څو پوري چي ژوندى وي) يو شى وركول جائز دي . (بخاري او مسلم) علماء كرام وايي وركونكي له دې دپاره شرط لګوي چي ستا د مرګ څخه وروسته به زما ملكيت ته واپس راځي يا هغه شى د همېشه لپاره هغه ته وركړي چا ته چي وركړل سوي وي او د هغه د مرګ څخه وروسته به دهغه د وارثانو په برخه كي راځي او دا يو ډول هبه سوه .

**عمرى د وارثانو ملكيت وي**

| | |
|---|---|
| (۲۸۸۰): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ اِنَّ الْعُمْرَى مِيرَاثٌ لِاَهْلِهَا . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چي عمرى د هغه د كور والاؤ |

ميراث دي يعني تول عمر لپاره څه شى چي وركړل سو د هغه د كور خلك به د هغه د وفات څخه وروسته د هغه وارثان وي . (مسلم) .

| | |
|---|---|
| (۲۸۸۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا رَجُلٍ اُعْمِرَ عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ فَاِنَّهَا لِلَّذِي اُعْطِيَهَا لَا تَرْجِعُ اِلَى الَّذِي اَعْطَاهَا لِاَنَّهُ اَعْطَى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ . متفق عليه. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا لپاره چي عمرى وكول سوه هغه د هغې مالك دي او بيا د هغه قريبان عمرى په حقيقت كي د هغه چا وي چاته چي وركړل سي د وركونكي و لور ته نه راګرځي او په دې كي ميراث هم وي . (بخاري او مسلم) |

**د حضرت جابر ﷺ روایت او د هغه تاویل**

| | |
|---|---|
| (۲۸۸۲): وَعَنْهُ قَالَ إِنَّمَا عُمْرَى الَّتِي أَجَازَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقُولَ هِيَ لَكَ وَلِعَقِبِكَ فَأَمَّا إِذَا قَالَ هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا . متفق عليه. | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي کومه عُمری چي رسول الله ﷺ جائز گرځولې ده هغه داده چي (د شی ورکونکي) داسي ووايي: دا عمری ستا او ستا د وارثانو لپاره ده او کله |

چي داسي ووايي چي دا عمری ستا لپاره ده تر څو پوري چي ته ژوندی یې نو دا بېرته اصلي خاوند ته راگرځي. (بخاري او مسلم).

## دویم فصل

**د عمری او رقبی څخه د رسول الله ﷺ منع**

| | |
|---|---|
| (۲۸۸۳): عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُرْقِبُوا وَلَا تُعْمِرُوا فَمَنْ أُرْقِبَ شَيْئًا أَوْ أُعْمِرَهُ فَهِيَ لِوَرَثَتِهِ .رواه ابوداؤد . | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: رقبی او عمری مه کوئ او چا لپاره چي رقبی یا عمری سوي وي هغه او د هغه وارثان د هغو مالکان دي. (ابو داؤد) |

**عمری او رقبی جائز ده**

| | |
|---|---|
| (۲۸۸۴) وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرٰى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا وَالرُّقْبٰى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد . | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: عمری (یعني هغه شی چي د ټول عمر لپاره ورکول سوي وي) عمری والاؤ |

لپاره جائز ده او رقبی د رقبی خلکو لپاره. (احمد ترمذي ابو داؤد).

## دریم فصل

**د جواز عمری یو بل حدیث**

| | |
|---|---|
| (۲۸۸۵): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكُوا أَمْوَالَكُمْ عَلَيْكُمْ لَا تُفْسِدُوهَا فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرَى فَهِيَ لِلَّذِي أُعْمِرَ حَيًّا وَمَيِّتًا وَلِعَقِبِهِ . رواه مسلم | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خپل مال د خانه سره ساته مي ضائع کوه او مه یې خرابوه چا چي څوك د یو شی لپاره ټول عمر مالك جوړ کړ نو هغه دهغه شی حقیقي مالك دي په |

ژوند کي او د وفات څخه وروسته هم د مرگ څخه وروسته د هغه قریبان دهغه وارثان دي. (مسلم).

# بَـــــابٌ

## لومړی فصل

**د خوشبوداره شي تحفه مه ردکوئ**

(٢٨٨٦): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ رَيْحَانٌ فَلَا يَرُدُّهُ فَإِنَّهُ خَفِيفُ الْمَحْمِلِ طَيِّبُ الرِّيحِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا ته چي يو خوشبودار ګل (د تحفې په شکل کي) ورکړل سي هغه دي بير ته نه ور کوي څکه چي دا يو ډېر معمولي احسان دي او خوشبو ښه شی ده . (مسلم)

(٢٨٨٧): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ . رواه البخاري.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د خوشبو تحفه نه واپس کول .(بخاري)

**د يو شي ورکول او بيرته اخيستل بدكار دی**

(٢٨٨٨):وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هبې د واپس اخيستونكي حال داسي دي لكه سپی چي قی ووهي او وروسته يې وخني دا بد مثال زموږ سره نه ښائي . (بخاري) .

**د يو شي په وركولو كي د اولاد په مينځ كي فرق مه كوئ**

(٢٨٨٩): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّ أَبَاهُ أَتَى بِهِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي هَذَا غُلَامًا فَقَالَ أَكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَ مِثْلَهُ قَالَ لَا قَالَ فَارْجِعْهُ . و في رواية أَنَّهُ قَالَ أَيَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا إِلَيْكَ فِي الْبِرِّ سَوَاءً قَالَ بَلَى قَالَ فَلَا إِذًا و في رواية أَنَّهُ قَالَ أَعْطَانِي أَبِي عَطِيَّةً فَقَالَتْ عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ لَا أَرْضَى حَتَّى تُشْهِدَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت نعمان بن بشير ؓ څخه روايت دی چي زما پلار زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر كرم او وه يې ويل : ما خپل و دې زوي ته يو غلام هبه كړی دی نبي كريم ﷺ خپني پوښتنه وكړه چي ايا تا و هر يوه زوي ته يو يو غلام هبه كړی دی ؟ هغه وويل يا! نبي كريم ﷺ وفرمايل خپل غلام بيرته واخله او په يوه بل روايت كي دا الفاظ دي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل : ايا ته دا خبره خوښوې چي ستا ټول زامن ستا سره ښه

وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أَعْطَيْتُ ابْنِي مِنْ عَمْرَةَ بِنْتِ رَوَاحَةَ عَطِيَّةً فَأَمَرَتْنِي أَنْ أُشْهِدَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أَعْطَيْتَ سَائِرَ وَلَدِكَ مِثْلَ هٰذَا قَالَ لَا قَالَ فَاتَّقُوا اللهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ قَالَ فَرَجَعَ فَرَدَّ عَطِيَّتَهُ وَ فِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ لَا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ . متفق عليه.

چلن وکړي : هغه وویل : هو؛ (نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل، که دا خبره وي نو یوازي و دې زوي ته غلام مه ورکوه . په یو بل روایت کي راغلي دي چي نعمان وویل : زما پلار ما ته یو شی راکړ عمره بن رواحه (د بشیر ښځي) وویل : زه دا هدیه تر هغه وخته پوري نه خوښوم تر څو پوري چي رسول الله ﷺ د دې شاهد نسي زما پلار و نبي کریم ﷺ ته ورغي او عرض یې وکړ ما خپل دې زوي ته چي د عمره بنت رواحه د نس څخه پیدا سوی دی یو شی ورکړې دی عمره ما ته وویل چي زه په دې معامله کي (یا رسول الله ﷺ) تا شاهدوم نبي کریم ﷺ خیني پوښتنه وکړه ایا تا خپلو ټولو زامنو ته داسي شی ور کړي دي ؟ هغه وویل نه ؛ نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د خداي تعالي څخه وبېرېږه او د اولادو په مینځ کي انصاف کوه نعمان وایي چي د دې په اورېدو سره زما پلار بیرته راغي او خپله هبه یې بیرته واخیسته او په یوه بل روایت کي را خي چي رسول الله ﷺ د شهادت مطالبه واورېده نو ویې فرمایل :زه په ظلم باندي شاهد نه جوړېږم . (بخاري او مسلم) .

## دویم فصل

### تحفه بیرته اخیستل ښه کار نه دی

(۲۸۹۰): عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .لَا يَرْجِعُ أَحَدٌ فِي هِبَتِهِ إِلَّا الْوَالِدُ مِنْ وَلَدِهِ. رواه النسائي وابن ماجة .

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅوک دي خپله هبه واپس نه اخلي خو هغه هبه واپس اخیستل جائز دي چي پلار زوي ته ورکري وي .(نسائي ابن ماجه)

### د یو شي ورکول او بیرته اخیستل ښه کار نه دی

(۲۸۹۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً ثُمَّ يرجع فِيهَا إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ وَمَثَلُ الَّذِي يُعْطِي الْعَطِيَّةَ ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا كَمَثَلِ الْكَلْبِ اكل فَإِذَا شَبِعَ قَاءَ ثُمَّ عَادَ فِي قَيْئِهِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه او حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چي ور کري شی واپس اخیستل جائز نه دي خو پلار خپل زوي ته ورکول سوي شی واپس اخیستلای سي د هغه مثال د هغه سپي په

شان دي چي ښه په مور نس خوراك وكړي او كله چي يې نس ډك سي قى ورځي او بيا هغه قى وخني. (ابو داؤد ترمذي نسائي ابن ماجه) او په ترمذي كي د دې حديث تصحيح سوېده.

**د تحفې بدله تحفه**

(۲۸۹۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ اَعْرَابِيًّا اَهْدَى لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرَةً فَعَوَّضَهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَتَسَخَّطَهُ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ اِنَّ فُلَانًا اَهْدٰى اِلَيَّ نَاقَةً فَعَوَّضْتُهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَظَلَّ سَاخِطًا لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ لَا اَقْبَلَ هَدِيَّةً اِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ اَوْ اَنْصَارِيٍّ اَوْ ثَقَفِيٍّ اَوْ دَوْسِيٍّ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي يوه صحرائي يوه اوښه رسول الله ﷺ ته په هبه كي وركړه نبي كريم ﷺ و هغه ته په تحفه كي شپږ ځواني اوښې ور كړې مگر هغه خوشحاله نه سو رسول الله ﷺ ته چي د دې خبر ورسيدى نو نبي كريم ﷺ (د خلكو په مينځ كي ودرېدى) اول يې د خداي تعالي حمد او ثنا بيان كړه بيا يې وفرمايل: فلاني سړي ماته يوه اوښه په هديه كي را كړل ما و هغه ته په بدله كي شپږ ځواني اوښې وركړې مگر په دې هم هغه خوشحاله نه سو اوس ما اراده كړېده چي د قرشي، انصاري ثقفي او دوسي خلكو څخه پرته د بل چا هديه نه قبلوم. (ترمذي ابو داؤد نسائي).

(۲۸۹۳): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اُعْطِيَ عَطَاءً فَوَجَدَ فَلْيَجْزِ بِهٖ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُثْنِ فَاِنَّ مَنْ اَثْنٰى فَقَدْ شَكَرَ وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ وَمَنْ تَحَلّٰى بِمَا لَمْ يُعْطَهُ كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا ته چي يو شى وركول سي او د هغه د وركولو توان ولري نو خامخا دي دهغې په بدله كي يو شى وركړي او كوم څوك چي د هبې د بدلې توان و نه لري نو هغه دي د هبې د وركونكي تعريف وكړي ځكه چي چا تعريف وكړ هغه شكر ادا كړاو چا چي احسان پټ كړ يعني نه يې بدله وركړه او نه يې تعريف وكړ نو هغه د نعمت ناشكري وكړه او څوك چي په ځان كي هغه شى ظاهره كړي چي په هغه كي نه وي (مثلاً د دين او د دنيا د كمال اظهار يا علماؤ او صلحاؤ لباس په اغوستو سره خپل ځان عالم او صالح ښكاره كړي نو د هغه مثال د هغه چا په شان دي چي يوه داسي جامه واغوندي چي دوه ښكاري). (ابو داؤد ترمذي).

**د احسان كونكي لپاره د خير دعاء**

(۲۸۹۴): وَعَنْ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت اسامه بن زيد ﷺ څخه روايت دى چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ . رواه الترمذي .

رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا سره چي احسان وسي او هغه د خپل محسن په حق کي دا الفاظ ووايي جزاك الله خيرا (خداي دي تاته د خير جزا در کړي) نو هغه د خپل محسن پوره تعريف وکړ . (ترمذي) .

**د انسان شکر نه اداکونکی د الله ﷻ شکر هم نه اداکوي**

(۲۸۹۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَشْكُرْ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرْ اللّٰهَ . رواه احمد والترمذي .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د انسانانو شکريه ادا نه کړي نو هغه د الله تعالي شکر هم نه ادا کوي .(احمد ترمذي).

**د نعمت د شکر اهمیت**

(۲۸۹۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَتَاهُ الْمُهَاجِرُونَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا رَأَيْنَا قَوْمًا أَبْذَلَ مِنْ كَثِيرٍ وَلَا أَحْسَنَ مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيلٍ مِنْ قَوْمٍ نَزَلْنَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ لَقَدْ كَفَوْنَا الْمُؤْنَةَ وَأَشْرَكُونَا فِي الْمَهْنَإِ حَتَّى لَقَدْ خِفْنَا أَنْ يَذْهَبُوا بِالْأَجْرِ كُلِّهِ فَقَالَ لَا مَا دَعَوْتُمُ اللّٰهَ لَهُمْ وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ . رواه الترمذي و صححه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و مديني منوري ته تشريف راوړ نو مهاجرين د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ د کوم قوم چي موږ يې په کوړو کي او سيږو (انصار) د هغوئ په شان مو بل غوره قوم نه دي ليدلئ دهر غنيان زموږ لپاره زيات خرڅونکي او په لږ مال باندي بنه خدمت او کومك کونکي او موږ د دوي په وسيله باندي د خوارئ څخه خلاص يو او په خپلي ګټي کي يې موږ شريکان کړو تر دي پوري چي هغوئ زموږ سره (دومره بنه) چلن وکړ چي زموږ سره دا ويره پيدا سوه چي ټول ثواب به وازي دوئ يو نسي نبي کريم ﷺ وفرمايل يا هغوئ ټوله ثواب نسي وړلاي تر څو پوري چي تاسو د هغوئ لپاره دعاوي کوئ او د هغوئ تعريف کوئ .(ترمذي).

**يو بل ته تحفې ورکول عداوت له منځه وړي**

(۲۸۹۷): وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَهَادَوْا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ الضَّغَائِنَ . رواه الترمذي.

د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ و فرمايل : په خپلو کي تحفې او هديې ليږئ په دې سره د انسان بغض او کينه ليري کيږي (او محبت زياتيږي).(ترمذي)

**د کم شي تحفه سپکه مه گڼئ**

(۲۸۹۸): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَهَادَوْا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ وَحَرَ الصَّدْرِ وَلَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ شِقَّ فِرْسِنِ شَاةٍ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په خپلو کي تحفې او هدیې لیږئ ځکه چي په هدیه سره د سینو خیري لیري کیږي او یوه همسایه و بل همسایه ته هدیه لیږل سپک مه گڼئ که څه هم هغه هدیه د پسه د ښونګري یوه ټوټه وي .(ترمذي)

(۲۸۹۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ الْوَسَائِدُ وَالدُّهْنُ وَاللَّبَنُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب قِيلَ أَرَادَ بِالدُّهْنِ الطِّيبَ .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: درې شیان داسي دي چي د هغه د قبلولو څخه انکار باید ونسي، یو تکیه (بالښت)، دویم تیل د سر غوړولو او دریم شیدي ، امام ترمذي دا حدیث نقل کړی دی او فرمایي چي دا حدیث غریب دی.

**د خوشبوداره ګلانو تحفه مه رد کوئ**

(۲۹۰۰): وَعَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمْ الرَّيْحَانَ فَلَا يَرُدُّهُ فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ . رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت ابو عثمان نهدی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کـه څـوك در تـه خوشبوداره ګل در کړي نو انکار مه کوه ځکه چي ګل د جنت څخه راغلي دي دا حدیث ترمذي مرسلا روایت کړی دی.

## دريم فصل

**په اولاد کي د يوه سره ترجيحي سلوک کول مناسب نه دي**

(۲۹۰۱): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَتْ امْرَأَةُ بَشِيرٍ انْحَلْ ابْنِي غُلَامَكَ وَأَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ ابْنَةَ فُلَانٍ سَأَلَتْنِي أَنْ أَنْحَلَ ابْنَهَا غُلَامِي وَقَالَتْ أَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَهُ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي د بشیر ﷺ ښځي و بشیر تـه وویـل زما زوی (نعمان) ته یو غلام ورکړه او رسول الله ﷺ شاهد کړه، پـر دې خبره هغـه د رسول الله ﷺ پـه خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ (یا رسول الله ﷺ!) د فلاني سري لور (یعني دده ښځي) هغه ته دا حکم څرګند

إِخْوَةٌ قَالَ نَعَمْ قَالَ أَفَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَ مِثْلَ مَا أَعْطَيْتَهُ قَالَ لَا قَالَ فَلَيْسَ يَصْلُحُ هَذَا وَإِنِّي لَا أَشْهَدُ إِلَّا عَلَى حَقٍّ . رواه مسلم .

کړ چي زه د هغې و زوی ته خپل يو غلام ورکړم او دا يې ويلي دي چي په دې رسول الله ﷺ شاهد جوړول غواړم نبي کريم ﷺ ځيني پوښتنه وکړه

ايا د دې هلك نور وړونه سته ؟ بشير ﷺ وويل : هو! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل ايا تا خپلو ټولو زامنو ته غلامان ورکړي دي ؟ هغه وويل يا! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : دا مناسبه نه ده او زه د ناحقه شاهد نه جوړېږم د حق شاهد کېږم .(مسلم).

**رسول الله ﷺ به د نوي گل تحفه څرنګه قبلول**

﴿٢٩٠٢﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِبَاكُورَةِ الْفَاكِهَةِ وَضَعَهَا عَلَى عَيْنَيْهِ وَعَلَى شَفَتَيْهِ وَقَالَ اللَّهُمَّ كَمَا أَرَيْتَنَا أَوَّلَهُ فَأَرِنَا آخِرَهُ ثُمَّ يُعْطِيهَا مَنْ يَكُونُ عِنْدَهُ مِنَ الصِّبْيَانِ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ماليدلي دي چي کله به د رسول الله ﷺ په خدمت کي به مېوه حاضره سول نو نبي کريم ﷺ به په خپلو سترګو او شونډو مبارکو با ندي اينښودل او فرمايل به يې: اې الله! څنګه چي تا

موږ ته د دې مېوې شروع وښودل همدغسې د دې انجام هم را وښايه بيا به نبي کريم ﷺ هغه مېوه و هغه کوچني ته ورکړه چي هغه وخت به د نبي کريم ﷺ سره موجود وو . (په بيهقي دعوات کبير کي).

## بَابُ اللُّقْطَةِ (دورک سوي شي بيان)

## لومړی فصل

**که يو څوک يو شی پيدا کړي نو څه وکړي؟**

﴿٢٩٠٣﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَشَأْنَكَ بِهَا قَالَ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ قَالَ فَضَالَّةُ الْإِبِلِ قَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا تَرِدُ الْمَاءَ وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا . متفق عليه و في

د حضرت زيد بن خالد ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د «لقطه»(د ورک سوي شي) په باره کي يې ځيني پوښتنه وکړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هغه شی چي په هغه کي بند دي په ښه ډول يې و پېژنه او د هغه سر بند(سر پټ) هم ښه و پېژنه بيا تر يوه کاله پوري د هغه شي اعلان کوه که د هغه مالك پيدا سو نو شی و خپل مالك ته ورکړه او

رواية للمسلم فقال عرفها سنة ثم اعرف وِكَائَهَا وَ عِفاصَهَا ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا فَاِنْ جاءَ رَبُّهَا فَاَدِّهَا اِلَيْهِ.

که پيدا نسو نو په خپل خرڅ کي يې راوله هغه سړی پوښتنه وکړه چې د ورك سوي پسه په اړه څه بيان دي ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه ستا دي يا ستا د ورور دي يا د شرموښ بيا هغه د ورك سوي اوښ په اړه پوښتنه وکړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : د اوښ سره ستا څه کار دي ؟ هغه خپلي اوبه لري (مشك) او د هغه پښې دي اوبو ته رسوي او هغه د د رختو پاڼي خوري اخير دا چې د هغه مالك پيدا کيږي . (بخاري اومسلم) د مسلم شريف په روايت کي دا الفاظ زيات دي نبي کريم ﷺ دا وفرمايل : د يوه کاله پوري د دې اعلان کوه بيا په ښه شان يې شناخت وکړه د دې او د دې د سر بند او بيا هغه خپل په خرڅ کي راوله وروسته که د هغه مالك پيدا سي نو خومره مال چې يې کيږي هغه ورکړه يا يې قيمت ورکړه .

### د ورک سوي شي بېله تشهيره اخېستل خيانت دی

(۲۹۰۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آوَى ضَالَّةً فَهُوَ ضَالٌّ مَا لَمْ يُعَرِّفْهَا . رواه مسلم .

د حضرت زيد بن خالد ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې د ورك سوي شی پورته کړي په کور کي يې کښېږدي تر څو پوري چې د هغه اعلان ونه کړي گمراه دی . (مسلم)

### د حاجيانو ورک سوي شيان

(۲۹۰۵): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ . رواه مسلم

د حضرت عبد الرحمن بن عثمان تيمي ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د حاجيانو د ((لقطه (ورك سوي شی)) د پورته کولو څخه منعه فرمايلې ده .(مسلم)

## دويم فصل

### د غير اباد محکي لقطه

(۲۹۰۶): عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ فَقَالَ مَنْ أَصَابَ مِنْهُ من ذي حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَمَنْ خَرَجَ

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روايت کوي چې د رسول الله ﷺ څخه د هغو مېوو په اړه پوښتنه وسوه چې په ونو کي دي نو يې وفرمايل : اړ کس دي

بِشَيْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ وَمَنْ سَرَقَ شَيْئًا مِنْهُ بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ وذكر في ضالة الابل والغنم كما ذكر غيره قال و سئل عَنْ اللُّقَطَةِ فَقَالَ مَا كَانَ منها فِي طَرِيقٍ سياء والقرية جامعة فَعَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ وَإِنْ لَمْ يَأْتِ فَهُوَ لَكَ وَ مَا كَانَ فِي الْخَرَابِ الْعَادِيِّ فَفِيهِ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ . رواه النسائي و روى ابوداؤد عنه من قوله و سئل عن اللقطة الى آخره.

مېوه وخوري او خپله کڅوړه کښې نه ډکوي نو په دې کې څه ګناه نشته او څوك چې څيني مېوه وخوري او بيا يې وشکوي د خانه سره يې هم يوسي نو پر هغه باندي د هغه دوه چنده تاوان واجب دي او سزا هم او څوك چې مېوه د درمند څخه غلا کړي او د غلا سوي مېوې قيمت د يوه ډهال د قيمت سره برابر سي د هغه سزا لاس پرېکول دي . د دې څخه وروسته راوي د ورك سوي اوښ ورك سوي پسه په اړه پوښتنه وکړه څنګه چې نورو راويانو بيان کړې ده بيا د نبي کريم ﷺ څخه د ورك سوي شي پوښتنه وسوه نبي کريم ﷺ وفرمايل : کوم ورك سوي شی چې په عامه لاره کي پيدا سي کلي او يا يوې آبادۍ ته نژدې وي نو د هغه اعلان دې تر يوه کاله پوري کوي که يې مالك راسي هغه دې ومالك ته ورکول سي او که را نسي نو بيا هغه ستا دي او ورك سوي شی چې په زړو خزانو او خرابو کي پيدا سي نو په هغه کي يوازي پنځمه برخه د خداي تعالي ده .(نسائي ابو داؤد هم دومره د سئل عن اللقطة څخه پيل کړې بيا تر اخيره پوري).

### د ورک سوي شي استعمال او د مالک غوښتنه

(۲۹۰۷): وَ عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِب وَجَدَ دِينَارًا فَأَتَى بِهِ فَاطِمَةَ فَسَأَلَ عَنْهُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هذا رِزْقُ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فَأَكَلَ مِنْهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلَ عَلِيٌّ وَفَاطِمَةُ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ تَنْشُدُ الدِّينَارَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَلِيُّ أَدِّ الدِّينَارَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چې حضرت علي ﷺ يو دينار پيدا کړاو بي بي فاطمې ته يې راوړ او وروسته حضرت علي ﷺ د دې په اړه د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ ور ته وفرمايل : دا د خداي تعالي رزق دي نو د هغه ديناره څخه حضرت علي ﷺ بي بي فاطمې او نبي کريم ﷺ تولو وخوړه د دې څخه وروسته يوه ښځه د دينار په لټه پسي راغله نو رسول الله ﷺ وفرمايل : چې اې علي! دينار ورکړه . (ابوداؤد).

### ورک سوي شي په بد نيت سره مه پورته کوئ

(۲۹۰۸): وَعَنِ الْجَارُوْدِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت جارود ﷺ څخه روايت دی چې رسول

صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَالَّةُ الْمُسْلِمِ حَرَقُ النَّارِ . رواه الدارمي.

الله ﷺ وفرمایل: د مسلمانانو ورك سوي شی د اور سکروټي دي (یعني ځوك چي پورته کړي او د لقطې احکام ورباندي نافذ نه کړي نو هغه به يې دوزخ ته ورسوي). (دارمي)

**کله چي ورک سوی شی پورته کړی نو يو ځوک شاهد کړی**

(٢٩٠٩): وَ عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ وَجَدَ لُقَطَةً فَلْيُشْهِدْ ذَا عَدْلٍ اَوْ ذَوَيْ عَدْلٍ وَلاَ يَكْتُمْ وَ لاَ يُغَيِّبْ فَاِنْ وَجَدَ صَاحِبَهَا فَلْيَرُدَّهَا عَلَيْهِ وَاِلاَّ فَهُوَ مَالُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ . رواه احمد وابوداؤد والدارمي .

د حضرت عیاض بن حمار ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ځوك چي لقطه پیدا کړي نو هغه دي منصف مزاجه خلك شاهدان جوړ کړي بیا دي لقطه نه پټوي او نه دي غائبوي بیا که د هغه مالك راسي نو هغه دي بیرته ورکړي او که یې مالك را نه سي نو بیا هغه د خدای تعالی مال دي چاته چي یې خدای غواړي ورکوي یې (یعني بیا هغه د پیدا کونکي لپاره حلال دي هغه ته خدای تعالی ورکړي دي) (احمد ابو داؤد دارمي).

**د پیدا سوي شي هغه مقدار چي د اعلان ضرورت یې نسته**

(٢٩١٠): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَخَّصَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَصَا وَالسَّوْطِ وَالْحَبْلِ وَاَشْبَاهِهِ يَلْتَقِطُهُ الرَّجُلُ يَنْتَفِعُ بِهِ . رواه ابوداؤد و ذكر حديث المقدام بن معديكرب الا لا يحل في باب الاعتصام .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی که یو سړي لکړه یا رسی یا یو بل ورك سوي شی پیدا کړي نو رسول الله ﷺ د دې د ګټې د اخیستو اجازت ور کړي دي. (ابو داؤد)

# بَابُ الْفَرَائِـــــضِ (د فرائضو بیان)

## لومړی فصل

**د مړي ترکه د هغه د وارثانو حق دی**

(٢٩١١): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انا اولى بالمؤمنين من انفسهم فَمَنْ مات وعليه دين و لم يترك وفاء فعلي قضاءه و من تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ و في رواية مَنْ تَرَكَ دينا او ضياعا

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه و مسلمانانو ته د خپلو ځانو هم ګران یم په مسلمانانو کي چي ځوك مړ سي او په هغه باندي قرض وي او دومره مال پرې نه ږدي چي د هغه قرض په ادا سي نو د هغه قرض

| | |
|---|---|
| فلياتني فانا مولاه وفي رواية من ترك مالا فلورثته ومن ترك كلًّا فإلَيْنا . متفق عليه. | زما په ذمه دي او څوك چې مر سي او مال پرېږدي نو هغه د هغه د وارثانو دي په يوه بل |

روايت کي دا الفاظ دي رسول الله ﷺ فرمايلي دي څوك چي مر سي او قرض يا کوچنيان پرېږدي هغه ولي دي ما ته راسي زه به د هغه انتظام کوم او په يوه بل روايت کي دا الفاظ سته څوك چي مر سي مال ځيني پاته سي نو هغه مال د هغه د وارثانو دي او څوك چي مر سي قرض يا اولاد پرېږدي نو د هغه انتظام زما پر ذمه دي. (بخاري او مسلم)

**د مړي ترکه اول ذوي الفروض ته ورکړئ**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۹۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ . متفق عليه. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ميراث برخه دي د هغه وارثانو ته ورکړل سي وروسته چي څه پاته سي نو هغه د زيات نژدې سړی لپاره دي .(بخاري او مسلم) |

**د مذهب اختلاف د ميراث څخه محرومتيا راولي**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۹۱۳﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قال قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ . متفق عليه | د حضرت اسامه بن زيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان د کافر او کافر د مسلمان نسي وارث کېدای .(بخاري او مسلم) |

**ازاد کونکی د غلام وارث وي**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۹۱۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ . رواه البخاري. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يوه قوم ازاد سوي غلام د هغه د خپل قوم څخه نه شمېرل کېږي .(هغه په ميراث کي شريك کېږي) (بخاري) |

**خوریی د ماما وارث وي**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۹۱۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ. متفق عليه" وذكر حديث عائشة : " إنما الولاء " في باب قبل " باب السلم و سنذكر حديث البراء الخالة بمنزلة الام في باب بلوغ الصغير و حضانته ان شاء الله تعالى. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قوم خوريي د هغو سره دي (يعني خوريي د ماما د مال وارث وي).(بخاري او مسلم) د بي بي عائشې حديث دي د بلوغ الصغير و حضانته په باب کي به انشاء الله بيان کړل سي. |

## دویم فصل

### کافر د مسلمان او مسلمان د کافر وارث کیدای نه سي

(۲۹۱۶): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتَّى . رواه ابوداؤد وابن ماجة و رواه الترمذي عن جابر .

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه جلا مذهبه خلك یو دبله نسي وارث کیدای. (ابو داؤد ابن ماجه) او په ترمذي کي د حضرت جابر ﷺ څخه روایت نقل سوي دي.

### د خپل مورث قاتل د میراث څخه محروم وي

(۲۹۱۷): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْقَاتِلُ لَا يَرِثُ . رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قاتل د مقتول د مال وارث نه دي. (ترمذي ابن ماجه)

### د انا شپږمه برخه ده

(۲۹۱۸): وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ لِلْجَدَّةِ السُّدُسَ إِذَا لَمْ تَكُنْ دُوْنَهَا أُمٌّ . رواه ابوداؤد.

د حضرت بریده ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د انا لپاره شپږمه برخه ټاکلې ده په دې شرط چي مور نه وي موجوده. (ابو داؤد)

### ژوندی پیدا کېدونکی ماشوم وارث دی

(۲۹۱۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَهَلَّ الصَّبِيُّ صُلِّيَ عَلَيْهِ وَوُرِثَ. رواه ابن ماجة والدارمي .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوچنی (د پیدا کېدو څخه وروسته) که چغه ووهي (یا دهغه د خولې څخه یو اواز را ووځي وروسته مړ سي) نو په هغه جنازه کول پکار ده او هغه دي وارث جوړ کړل سي. (ابن ماجه دارمي).

### د اسلام د ابتداء یو حکم

(۲۹۲۰): وَعَنْ كَثِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ وَحَلِيْفُ الْقَوْمِ مِنْهُمْ وَابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ. رواه الدارمي

حضرت کثیر بن عبدالله ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د یوه قوم ازاد سوي غلام د قوم څخه دي (یعني که دغلام څوك عصبه نه وي

نو دهغه دمال وارث دهغه ازادونکي دي )او د قوم حلیف (قریب) هم د قوم څخه دي .(د احکم د اسلام په پېل کي وو وروسته منسوخ کړل سو) او د قوم خوریې د قوم څخه دي . (دارمي) .

**خوریې د خپل ماما ذي رحم وارث وي**

| | |
|---|---|
| (۲۹۲۱): وَعَنِ الْمِقْدَامِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ فَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيْعَةً فَإِلَيْنَا وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ وَأَنَا مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ أَرِثُ مَالَهُ وَأَفُكُّ عَانَهُ وَالْخَالُ مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ يَرِثُ مَالَهُ وَيَفُكُّ عَانَهُ و فِي رِوَايَةٍ وَأَنَا وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ أَعْقِلُ لَهُ وَأَرِثُهُ وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَعْقِلُ عَنْهُ وَيَرِثُهُ . | د حضرت مقدام ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه د هر مؤمن لپاره د هغه د ځان څخه زیات ګران یم نو څوک چي قرض یا اولاد پرېږدي او مړ سي زه د هغه کفیل یم او څوک چي مال پرېږدي نو هغه د هغه د وارثانو دي او زه د هغه سري مولا یم چي د هغه هیڅوک مولا نه وي او د هغه د مال وارث یم (یعني د چا چي هیڅوک وارث نه وي د هغه وارث زه یم زه به دهغه مال په بیت المال کي جمعه کړم څکه |

چي انبیاء علیهم السلام په حقیقت کي د چا د مال وارثان نه وي ) او د هغه قیدي د عذاب د قید څخه خلاصونکي یم او ماما د هغه چا وارث دي چي د هغه نور څوک وارث نه وي هغه به د هغه مال بیا پیدا کوي او د هغه قیدي به خلاصوي او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل : زه د هغه چا وارث یم چي د هغه بل څوک وارث نه وي زه به د هغه قصاص ادا کوم او د هغه وارث به جوړېږم ماما د هغه وارث دي چي د هغه بل هیڅوک وارث نه وي د هغه قصاص به ادا کوي او هغه به یې مال اخلي . (ابوداؤد) .

**ښځه د چا میراث تر لاسه کولای سي؟**

| | |
|---|---|
| (۲۹۲۲): وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحُوزُ الْمَرْأَةُ ثَلَاثَةَ مَوَارِيثَ عَتِيقَهَا وَلَقِيطَهَا وَوَلَدَهَا الَّذِي لَاعَنَتْ عَلَيْهِ .رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة. | د حضرت واثله بن اسقع ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ښځه د درو سړو میراث اخیستلای سي : ۱-یو خو د خپل ازاد سوي غلام یا مینځي . ۲-د لقیط (یعني د هغه یا هغې |

کوچني چیري پروت وي او د هغه روزنه وکړي). ۳-او هغه کوچنی چي د هغه په پیدائش لعان سي . (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه) .

**د ولد الزنا حکم**

| | |
|---|---|
| (۲۹۲۳): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ | حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره څخه |

جَدِّهٖ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ عَاهَرَ بِحُرَّةٍ أَوْ أَمَةٍ فَالْوَلَدُ وَلَدُ زِنًا لَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ . رواه الترمذي.

او هغه د خپل پلاره څخه روايت کوئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي ازادي ښځي يا مينځي سره زنا وکړي او د هغه د زنا د نطفي څخه کوچنی پيدا سي نو کوچني ته ولد زنا ويل کيږي نه هغه د چا وارث کيږي او نه د هغه ميراث ذ چا کيږي . (ترمذي) .

## د ازاد سوي غلام ميراث

(۲۹۲۴): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ مَوْلًى لِرسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَ وَتَرَكَ شَيْئًا وَلَمْ يَدَعْ حميما ولا وَلَدًا فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطُوا مِيرَاثَهُ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ قَرْيَتِهٖ . رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ يو ازاد سوي غلام مړ سو او د هغه هيڅ خپل پاته نسو چي وارثان سوي يې واي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه مال په کليوالو کي (مستحق) ته دي ورکول سي . (ابو داؤد ترمذي)

## د چا چي هيڅوک وارث نه وي...

(۲۹۲۵): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ مَاتَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِيرَاثِهٖ فَقَالَ الْتَمِسُوا لَهُ وَارِثًا أَوْ ذَا رَحِمٍ فَلَمْ يَجِدُوا لَهُ وَارِثًا وَلَا ذَا رَحِمٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطُوهُ الْكُبْرَ مِنْ خُزَاعَةَ . رواه ابوداؤد و في رواية له انْظُرُوا أَكْبَرَ رَجُلٍ مِنْ خُزَاعَةَ .

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چي د خزاعه د قبيلي يو سړی مړ سو د هغه ميراث يې د رسول الله ﷺ ته راوړ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د ده د وارث تلاش وکړئ نو يې هيڅوک وارث پيدا نسو نبي کريم ﷺ وفرمايل: د بنو خزاعه په قبيله کي چي کوم يو مشر وي دا مال و هغه ته ورکړي . (ابو داؤد)او د ابوداؤد په يوه بل روايت کي راغلي دي نبي کريم ﷺ وفرمايل : د بنو خزاعه په قبيله کي تر ټولو د مشر تلاش وکړئ.

## د مړي د پور ادا کول د هغه تر وصيت مخکي دي

(۲۹۲۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هٰذِهِ الْآيَةَ { مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ} وَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضٰى بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ وَإِنَّ أَعْيَانَ بَنِي الْأُمِّ يَتَوَارَثُونَ دُونَ بَنِي الْعَلَّاتِ

حضرت علي ﷺ (يوه ورځ خلکو ته يې وويل :تاسو دا ايت وايياست : من بعد وصية توصون بها او دين (چي په دې کي مخکي تر قرض د وصيت حکم سويدي) ، ليکن د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي حقيقي ورونه به د پلاره

الرَّجُلُ يَرِثُ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ دُونَ أَخِيهِ لِأَبِيهِ . رواه الترمذي و ابن ماجة و في رواية الدارمي قال الاخوة من الام يتوارثون دون بني العلات الى آخره .

وارثان وي نه مورني ورونه او دا چي سړي به د خپل وروړ وارث وي نه مورني ورونه .(ترمذي ابن ماجه)او د دارمي په يو بل روايت کي راغلي دي چي حضرت علي ﷺ فرمايلي دي: د يو مور پلار ورونه (سکني ورونه) د يو بل وارثان دي نه هغه وروړ چي فقط په پلار کي سره شريکان وي (يعني مورني ورونه) تر اخر د حديث پوري.

## د ميراث د ايت شان نزول

(۲۹۲۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ بِابْنَتَيْهَا مِنْ سَعْدِ بن الربيع إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَاتَانِ ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ قُتِلَ أَبُوهُمَا مَعَكَ فِي أُحُدٍ شَهِيدًا وَإِنَّ عَمَّهُمَا أَخَذَ مَالَهُمَا وَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا وَلَا تُنْكَحَانِ إِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ قَالَ يَقْضِي اللّٰهُ فِي ذٰلِكَ فَنَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ فَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَمِّهِمَا فَقَالَ أَعْطِ لِابْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ وَاعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي د سعد بن ربيع ښځي خپلي دواړي لوڼي چي د سعد ﷺ د نطفې څخه وې د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضري کړې او عرض يې وکړ يارسول الله ﷺ! دا دواړي انجوني د سعد بن ربيع دي د دوي پلار د احد په غزا کي چي ستاسو ملګري وو شهيد سو او د دوئ اکا د دوئ مال (چي په ميراث کي دوي ته رسيدل) واخيستي او د دوئ دواړو لپارهٔ يې هيڅ نه پرېښوده او اوس د مال نه درلودلو په خاطر د دوئ سره څوک نکاح نه کوي نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د دې معاملې فيصله به خداي تعالي کوي (يعني د وحي په ذريعه به وښي) نو د ميراث ايت نازل سو (يوصيکم الله في اولادکم) نبي کريم ﷺ سمدستي د انجونو اکا را وغوښت او حکم يې ور ته وکړ چي د سعد و لوڼو ته دوه پر دري ۲|۳ مال ورکړه او اتمه برخهٔ د انجونو و مور ته ورکړه او وروسته چي څومره پاته سي هغه ستا دي . (ترمذي ابو داؤد احمد ابن ماجه) او په ترمذي کي دا حديث حسن غريب ګڼل سوي دي.

## د لور، ملسى او خور برخې

(۲۹۲۸): وَعَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلَ قَالَ سُئِلَ أَبُو مُوسَى عَنْ بِنْتٍ وَابْنَةِ ابْنٍ وَأُخْتٍ فَقَالَ لِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَلِلْأُخْتِ النِّصْفُ وَأْتِ ابْنَ مَسْعُودٍ

د حضرت هزيل بن شرحبيل ﷺ څخه روايت دی چي د حضرت ابو موسى څخه پوښتنه وسوه يو سړى مړ سو او د هغه يوه لور يوه لمسۍ او يوه

فَسَيُتَابِعُنِي فَسُئِلَ ابْنُ مَسْعُودٍ وَأُخْبِرَ بِقَوْلِ أَبِي مُوسَى فَقَالَ لَقَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ أَقْضِي فِيهَا بِمَا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْابْنَةِ النِّصْفُ وَلِابْنَةِ ابْنِ السُّدُسُ تَكْمِلَةَ الثُّلُثَيْنِ وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ فَأَتَيْنَا أَبَا مُوسَى فَأَخْبَرْنَاهُ بِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ فَقَالَ لَا تَسْأَلُونِي مَا دَامَ هَذَا الْحَبْرُ فِيكُمْ. رواه البخاري.

خور وارثان پاته سوه نو مال به یې څنګه تقسیمیږي هغه ورته وویل: لور ته به یې نیمه او خور ته به یې نیمه (او لمسۍ ته به یې نه ورکوي) بیا ابو موسی ﷺ وویل: تا سو و ابن مسعود ته ورسئ او د هغه څخه پوښتنه وکړئ چي هغه زما سره اتفاق کوي (که یا)، نو ابن مسعود ﷺ څخه هم دا مسئله و پوښتل او ابو موسی چي څه ویلي وه د هغه څخه هم اګاه سو ابن مسعود ﷺ وویل: زه به ګمراه و شمېرل سم او څان بیا د هدایت په لار بیایم که زه د دې فتوی سره موافقت وکړم زه خو به هغه فیصله ورکوم کومه چي رسول الله ﷺ ور کړې ده (یعني) لور ته نیمه لمسۍ ته شپږمه چي دوه پر دریمه کیږي (یعني د دوو لونو حق دوه پر دریمه دي نو کله چي یوې لور دوه یا د دوو څخه زیاته برخه ورکول کیږي نو لمسۍ ته شپږمه برخه په ورکولو سره دوه پر دریمه کیږي او پاته چي څومره جوړیږي هغه یوه په دریمه د خور ده بیا مونږ یعني سوال کونکی و ابو موسی ﷺ ته راغلو او د دې فیصلې څخه مو هغه اګاه کړ نو هغه وویل: تر څو پوري په تاسو کي چي یو لوی عالم موجود وی (یعني ابن مسعود ﷺ) تر هغه وخته پوري تاسو زما څخه د هیڅ یوې مسئلي پوښتنه مه کوئ. (بخاري).

**د نیکه برخه**

(۲۹۲۹): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ ابْنَ ابْنِي مَاتَ فَمَا لِي فِي مِيرَاثِهِ قَالَ لَكَ السُّدُسُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ لَكَ سُدُسٌ آخَرُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ قَالَ إِنَّ السُّدُسَ الْآخَرَ طُعْمَةٌ لَكَ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کي وویل چي زما د زوی زوی (لمسی) مړ سوی دی ایا د هغه په مال کي زما یو څه برخه سته؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د هغه په مال کي ستا شپږمه برخه جوړیږي کوم وخت چي هغه ولاړی نو هغه یې را وغوښت او ورته یې وفرمایل: تا ته شپږمه برخه نوره رسیږي هغه ولاړی نبي کریم ﷺ هغه بیا را وغوښت او ورته یې وفرمایل: دویمه شپږمه برخه به ستا لپاره وی د رزق په ډول به وي. (احمد ترمذي ابو داؤد) او په ترمذي کي دا حدیث حسن صحیح شمېرل سوی دی.

## د انا برخه

(۲۹۳۰): وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ قَالَ جَاءَتِ الْجَدَّةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا فَقَالَ لَهَا مَا لَكِ فِي كِتَابِ اللّٰهِ شَيْءٌ وَمَا لَكِ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَارْجِعِي حَتَّى أَسْأَلَ النَّاسَ فَسَأَلَ فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ حَضَرْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهَا السُّدُسَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ هَلْ مَعَكَ غَيْرُكَ فَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ مِثْلَ مَا قَالَ الْمُغِيرَةُ فَأَنْفَذَهُ لَهَا أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ ثُمَّ جَاءَتِ الْجَدَّةُ الْأُخْرَى إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا فَقَالَ هو ذَلِكَ السُّدُسُ فَإِنِ اجْتَمَعْتُمَا فَهُوَ بَيْنَكُمَا وَأَيَّتُكُمَا خَلَتْ بِهِ فَهُوَ لَهَا . رواه مالك و احمد والترمذي و ابوداؤد والدارمي وابن ماجة .

د حضرت قبیصه بن ذویب ﷺ څخه روایت دی چې د یو وفات سوی سړی انا (د پلار مور) او انا (د مور مور) د حضرت ابو بکر صدیق ﷺ څخه د خپلې حصې په اړه پوښتنه وکړه هغه ورته وفرمایل: چې کتاب الله او سنة رسول (حدیث)کي ستا برخه نسته اوس ته ولاړه سه زه به د خلکو څخه پوښتنه وکړم او وروسته به درته ووایم (یعني چې زما خومره حدیثونه پیاد وي په هغه کي به پلار د مور او د مور دمور د حصې ذکر نسته او د خلکو څخه به پوښتنه وکړم چې د چا په دې اړه حدیثونه پیاد وي) حضرت ابو بکر صدیق ﷺ د خلکو څخه پوښتنه وکړه نو مغیره ﷺ بن شعبه ورته وویل: زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وم نبي کریم ﷺ د پلار مور ته شپږمه برخه ور کړې وه او حضرت ابو بکر صدیق پوښتنه وکړه ستا سره بل څوک هم وو؟ (دا چې هغه دا اورېدلي وي) محمدبن مسلمه ﷺ مغیره بن شعبه ﷺ د قول تائید وکړ نو حضرت ابو بکر صدیق ﷺ د پلار مور ته د شپږمه برخه ورکړه بیا د مور مور حضرت عمر ﷺ ته راغله او خپل میراث یې وغوښت هغه ورته وویل: دغه شپږمه برخه ستا ده که تاسو دوې یاست (د پلار مور او د مور مور) نو بیا هم دواړو ته شپږمه برخه ورکول کیږي او که په تاسو کي یوه وی نو هم شپږمه برخه به ورکول کیږي .(مالك احمد ترمذي ابو داؤد دارمي ابن ماجه).

## د پلار په موجود کېدو کي انا ته د شپږمي برخي ورکولو یو واقعه

(۲۹۳۱): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ فِي الْجَدَّةِ مَعَ ابْنِهَا إِنَّهَا أَوَّلُ جَدَّةٍ أَطْعَمَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُدُسًا مَعَ ابْنِهَا وَابْنُهَا حَيٌّ . رواه الترمذي والدارمي والترمذي ضعفه .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چې د هغه انا (د پلار مور) په نسبت چې د هغې زوی ژوندی وی وویل چې دا او اولني انا (د پلار مور) ده چې رسول الله ﷺ د زوی په موجودي کي شپږمه برخه ورکړې وه . (ترمذي دارمي)

**دیت د مقتول وارثانو ته ورکول کیږي**

| | |
|---|---|
| (۲۹۳۲): وَعَنِ الضَّحَاكِ بْنِ سُفْيَانَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَيْهِ أَنْ وَرِّثْ امْرَأَةَ أَشْيَمَ الضِّبَابِيِّ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا . رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح. | د حضرت ضحاك بن سفیان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ هغه ته ولیکل :د اشیم ضبابي ښځي ته د هغې د خاوند د قتل د دیت څخه میراث ورکړه .(ترمذي ابو داؤد)او په ترمذي کي دا حدیث حسن صحیح دی. |

**موالي د یو بل وارث نه وي**

| | |
|---|---|
| (۲۹۳۳): وَعَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا السُّنَّةُ فِي الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ يُسْلِمُ عَلَى يَدَيْ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ هُوَ أَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي. | د حضرت تمیم داری ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه د هغه سړي په اړه څه حکم دی چي یو د مشرکانو د یو مسلمان په لاس مسلمان سي (یعني دا مسلمان د هغه مولی وارث |

کېدای سي او که نه ؟) رسول الله ﷺ وفرمایل: دا سړی (یعني چي د چا په لاس مسلمان سوی دی) هغه په ژوند او مرګ کي د هغه مولی دی (دا حکم د اسلام په ابتداء کي وو وروسته منسوخ سو). (ترمذي ابن ماجه دارمي) ؟

**ازاد سوی غلام د خپل بادار وارث دی که یا؟**

| | |
|---|---|
| (۲۹۳۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا مَاتَ وَلَمْ يَدَعْ وَارِثًا إِلَّا غُلَامًا كَانَ أَعْتَقَهُ فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَهُ أَحَدٌ قَالُوا لَا إِلَّا غُلَامًا لَهُ كَانَ أَعْتَقَهُ فَجَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِيرَاثَهُ لَهُ . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي یو سړی مړ سو او هغه د یوه غلام څخه پرته چي هغه په خپله ازاد کړی وو بل هیڅ وارث یې نه درلود رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي څوك (وارث) یې سته یو چا وویل چي د یوه ازاد سوي غلام څخه پرته بل څوك وارث یې نسته |

نبي کریم ﷺ د مړي د میراث برخه هغه (غلام) ته ورکړه . (ابو داؤد ترمذي ابن ماجه).

**د ولاء مسئله**

| | |
|---|---|
| (۲۹۳۵): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَرِثُ الْوَلَاءَ مَنْ يَرِثُ الْمَالَ . رواه الترمذي وقال هذا حديث | حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه بیا د خپل پلاز څخه روایت کوی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د ولاء مالك وي هغه |

اسناده ليس بالقوي .

د مال وارث دی .(ترمذي دا حديث قوي نه دی) ولاء د یوه ازاد سوی غلام مال ته ویل کیږي) .

## دريم فصل

### د اسلام څخه مخکي تقسيم سوی ميراث ...

(۲۹۳۶): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا كَانَ مِنْ مِيرَاثٍ قُسِمَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ عَلَى قِسْمَةِ الْجَاهِلِيَّةِ وَمَا كَانَ مِنْ مِيرَاثٍ أَدْرَكَهُ الْإِسْلَامُ فَهُوَ عَلَى قِسْمَةِ الْإِسْلَامِ . رواه ابن ماجة.

د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم ميراث چي د جاهليت په زمانه کي تقسيم سوی دي هغه په جاهليت کي ختم سو (يعني اوس په هغه ميراث کي بدلون نسي کېدای) او کوم ميراث چي په اسلام کي دی (يعني د اسلام زمانه پرې راغلې) هغه به د اسلام په طريقه باندي ويشل کيږي . .(ابن ماجه).

### د عمه او وراره وارث کېدل

(۲۹۳۷): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ كَثِيرًا يَقُولُ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَقُولُ عَجَبًا لِلْعَمَّةِ تُورَثُ وَلَا تَرِثُ . رواه مالك .

د حضرت محمد بن ابي بكر بن حزم ﷺ څخه روايت دی چي هغه د خپل پلاره څخه په کثرت دا اورېدلي دي چي عمر بن خطاب ﷺ به دا فرمايل :پر عمه تعجب دی چي د هغې وراره د هغې وارث وي او هغه د خپل وراره وارثه کېدای نسي .(مالك).

### د فرضو زده کولو حکم

(۲۹۳۸): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَزَادَ ابْنُ مَسْعُودٍ وَالطَّلَاقَ وَالْحَجَّ قَالَا فَإِنَّهُ مِنْ دِينِكُمْ . رواه الدارمي

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چي د فرضو (ميراث) احکام زده کړئ او ابن مسعود ﷺ په دې الفاظو دا خبره زياته کړې ده او د طلاق او حج احکام او مسائل هم زده کړئ ځکه چي دا د ديني ضرورياتو څخه ګڼل کيږي . (دارمي).

# بَابُ الْوَصَايَا (دوصیت بیان)

## لومړی فصل

### د وصیت لیکلو حکم

(۲۹۳۹): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل. د کوم مسلمان معاملات یا تعلقات چي کومه خبره د وصیت قابله وی هغه ته پکار ده چي د دوو شپو د تېرېدو څخه مخکي هغه ولیکي .(بخاري او مسلم)

### د مال په دریمه برخه کي وصیت کیدای سي

(۲۹۴۰): وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ مَرِضْتُ عَامَ الْفَتْحِ مَرَضًا أَشْفَيْتُ عَلَى الْمَوْتِ فَأَتَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي فَقُلْتُ يَارَسُولَ اللّٰهِ اِنَّ لِيْ مَالاً كَثِيْرًا وَ لَيْسَ يَرِثُنِيْ اِلاَّ ابْنَتِيْ اَفَاُوْصِيْ بِمَالِيْ كُلِّهِ قَالَ لَا قُلْتُ فَثُلُثَيْ مَالِيْ قَالَ لَا قُلْتُ فَالشَّطْرُ قَالَ لَا قُلْتُ فَالثُّلُثُ قَالَ اَلثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ اِنَّكَ اَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ اَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُوْنَ النَّاسَ وَاِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِيْ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ اِلاَّ اُجِرْتَ بِهَا حَتّٰى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا اِلٰى فِيْ امْرَاَتِكَ .متفق عليه .

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روایت دی چي زه د مکې د فتحي په کال داسي سخت ناروغه سوم چي مرگ ته نږدې سوی وم رسول الله ﷺ ما ته تشریف راوړ ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ زما سره زیات مال دی او د یوې لور څخه پرته بل څوك زه وارث نلرم ایا زه د خپل ټول مال وصیت د هغې په حق کي وکړم؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: یا ! ما عرض وکړ د دوه پر دریمه مال وصیت وکړم؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: یا! ما عرض وکړ چي د نیم مال وصیت وکړم؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: یا! ما عرض وکړ چي د یو پر دریمه د مال وصیت وکړم؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: هو! د یو پر دریمي مال برخه هم ډېره ده که ته خپل وارثان مالداره او خوشحاله پرېږدې نو دا د دې څخه بهتره ده چي هغوئ مفلس پرېږدې او هغوئ د خلکو په مخکي (د سوال لپاره) لاس غځوي او ته چي څه د خداي تعالي د رضا لپاره خرڅ کوې د هغې به اجر در کول سي تر دې چي تا ته به د هغې څخه نور زیات ثواب در کول کیږي تر دې چي ته یې د خپلي بي بي (ښځي) په خوله کي گوله واچوې. بخاري او مسلم.

## دویم فصل

(۲۹۴۱): عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ عَادَنِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَرِيْضٌ فَقَالَ أَوْصَيْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ بِكَمْ قُلْتُ بِمَالِي كُلِّهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قَالَ فَمَا تَرَكْتَ لِوَلَدِكَ قُلْتُ هُمْ أَغْنِيَاءُ بِخَيْرٍ قَالَ أَوْصِ بِالْعُشْرِ فَمَا زِلْتُ أُنَاقِصُهُ حَتَّى قَالَ أَوْصِ بِالثُّلُثِ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ . رواه الترمذي .

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روایت دی چي زما د ناروغی په ورځو کي رسول الله ﷺ زما پوښتنه وکړه او رسول الله ﷺ زما څخه وغوښتل چي ایا ته د څه وصیت اراده لرې؟ ما عرض وکړ چي هو! نبي کریم ﷺ وفرمایل: د څومره مال؟ ما عرض وکړ د خدای تعالي په لار کي د ټول مال اراده لرم؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: د خپل اولاد لپاره تا یو څه پرېښودل؟ ما عرض وکړ چي هغوئ غنیان او خوشحاله دئ نبي کریم ﷺ وفرمایل: د لسمي حصې وصیت وکړه ما زیات ټینګار وکړ تر دې پوري چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: د دریمي حصې مال وصیت وکړه او دا چي دریمه برخه هم ډېره ده. (ترمذي).

### د وارث په حق کي وصیت صحیح نه دی

(۲۹۴۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَعْطَى كُلَّ ذِيْ حَقٍّ حَقَّهُ فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ . رواه أبو داود وابن ماجه وزاد الترمذي : " الولد للفراش وللعاهر الحجر وحسابهم على الله ويروى عن ابن عباس رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : " لا وصية لوارث إلا أن يشاء الورثة " منقطع هذا لفظ المصابيح . وفي رواية الدارقطني : قال : " لا تجوز وصية لوارث إلا أن يشاء الورثة "

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دی چي ما د حجة الوداع په خطبه کي د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي خدای تعالي حق د هر چا حق ټاکلی دی (یعني خدای تعالي د ټولو وارثانو لپاره حصې ټاکلي دي) اوس د یو وارث په حق کي د وصیت ضرورت نسته. (ابو داؤد ابن ماجه) او په ترمذي کي دا الفاظ زیات کړی دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوچني د صاحب فراش دي (چي په زنا نه وي پیدا سوی) او د زنا کاره لپاره حجر دی (سنګسارول) او هغه به د میراث څخه محرومه وي او د هغوئ حساب پر خدای تعالي دی او ابن عباس ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه دا روایت کړی دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دی د وارث لپاره د وصیت ضرورت نسته خو دا چي وارث وغواړي د دې څخه وروسته

نور الفاظ نسته او دا د مصابیح الفاظ وه او په دار القطني کي بیا دا الفاظ دي چي د وارث لپاره وصیت کول جائز نه دي خو دا چي وارث وغواړي.

**د بل چا لپاره په وصیت کولو سره وارثانو ته تاوان مه رسوئ**

﴿۲۹۲۳﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ وَالْمَرْأَةُ بِطَاعَةِ اللّٰهِ سِتِّينَ سَنَةً ثُمَّ يَحْضُرُهُمَا الْمَوْتُ فَيُضَارَّانِ فِي الْوَصِيَّةِ فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيَّ أَبُو هُرَيْرَةَ { مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِنَ اللّٰهِ إِلَى قَوْلِهِ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ } . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: سړی او ښځه د شپېتو کلو پوري د خداي تعالي عبادت او اطاعت کوي بیا چي د هغوئ د مرگ وخت راسي نو هغوئ وصیت کوئ وارثانو ته نقصان رسوئ (یعني د هغوئ حق نه ورکوئ بلکه د نورو په حق کي وصیت کوئ یا و بل چاته خپل تول حق و رکړئ)او په دي شکل خپل ځانونه د دوږخ مستحق گرځوي او وروسته حضرت ابو هریره ﷺ دا ایت و لوست من بعد وصیة یوصی بها او دین غیر مضار څخه بیا تر و ذلك الفوز العظیم پوري. (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه).

## دریم فصل

**د جائز وصیت کونکي لپاره زیری**

﴿۲۹۲۴﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ عَلَى وَصِيَّةٍ مَاتَ عَلَى سَبِيلٍ وَسُنَّةٍ وَمَاتَ عَلَى تُقًى وَشَهَادَةٍ وَمَاتَ مَغْفُورًا لَهُ . رواه ابن ماجة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي وصیت وکړي او مړ سي هغه په صراط المستقیم او سنت طریقه باندي مړ سو او په تقوی او شهادت باندي مړ سو او په داسي حال کي مړ سو چي د هغه بخشش کول کیږي. (ابن ماجه).

**کافر ته د نیک عمل ثواب نه رسیږي**

﴿۲۹۲۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ الْعَاصَ بْنَ وَائِلٍ أَوْصَى أَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ فَأَعْتَقَ ابْنُهُ هِشَامٌ خَمْسِينَ رَقَبَةً فَأَرَادَ ابْنُهُ عَمْرٌو أَنْ يُعْتِقَ عَنْهُ الْخَمْسِينَ الْبَاقِيَةَ فَقَالَ حَتّٰى

حضرت عمر بن شعیب ﷺ د خپل پلار څخه روایت کوي چي عاص بن وائل د ا وصیت وکړ چي د هغه له لوري دي سل غلامان ازاد کړل سي نو د هغه زوی هشام پنځوس غلامان ازاد

أَسْأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَبِي أَوْصَى بِعِتْقِ مِائَةِ رَقَبَةٍ وَإِنَّ هِشَامًا أَعْتَقَ عَنْهُ خَمْسِينَ وَبَقِيَتْ عَلَيْهِ خَمْسُونَ رَقَبَةً أَفَأُعْتِقُ عَنْهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ لَوْ كَانَ مُسْلِمًا فَأَعْتَقْتُمْ عَنْهُ أَوْ تَصَدَّقْتُمْ عَنْهُ أَوْ حَجَجْتُمْ عَنْهُ بَلَغَهُ ذٰلِكَ . رواه ابوداؤد .

کړل بیا د هغه دویم زوی اراده وکړه چي پاته پنځوس غلامان دي هم د خپل پلار له طرفه څخه ازاد کړي بیا هغه په خپل زړه کي سوچ وکړ چي د دي په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کول پکار دي نو هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ! زما پلار د سلو غلامانو وصيت کړی وو هشام خو يوازي پنځوس غلامان ازاد کړل پنځوس غلامان باقي پاته سوه ايا هغوئ زه ازاد کړم ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : که هغه مسلمان وای نو بیا تاسو د هغه له لوري غلامان ازادولای يا مو صدقه کولای يا مو حج کولای نو د هغه ثواب په مو پلار ته رسېدلای (مګر هغه کافر دی) نو په دي وجه سره هغه ټول ده لپاره بې فائدې دي . ابوداؤد .

## د وارث حق خوړونکي لپاره وعيد

(۲۹۲۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قطع مِنْ مِيرَاثِ وَارِثِهِ قَطَعَ اللّٰهُ مِيرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه ابن ماجة و رواه البيهقي في شعب الايمان عن ابي هريرة .

د حضرت انس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي خپل وارث د ميراث څخه وباسي نو د قيامت په ورځ به خداي تعالي په جنت کي د هغه ميراث اخلي (جنت ته به يې نه پرېږدي) .

(ابن ماجه او بيهقي په شعب الايمان کي د ابو هريره ؓ څخه روايت کړی دی)

# كِتَابُ النِّكَاحِ

## (د نكاح بيان)

## لومړى فصل

**ځوانانو ته د نكاح كولو حكم**

(۲۹۴۷): عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ منكم الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ . متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ځوانانو! په تاسو كي چي څوك د جماع د نفقې او ولورتوان ولرئ نو هغه ته پكار ده چي نكاح وكړى ځكه چي نكاح كول پټونكى د نظر او پاكونكى د فرج دى او څوك چي يې توان و نه لري نو هغه دي روژې نيسي ځكه چي روژه نيول د انسان شهوت ختموي .(بخاري او مسلم).

**د نكاح نه كولو څخه منع**

(۲۹۴۸): وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ رَدَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُوْنٍ التَّبَتُّلَ وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا . متفق عليه.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ عثمان بن مظعون ته د ښځو سره د تعلق د پرېښودلو اجازه ور نه كړه كه نبي كريم ﷺ و هغه ته اجازت وركړې واى نو موږ به ځان خصي كړي واى (بخاري او مسلم)

**د ديندارې ښځې سره نكاح كول غوره دي**

(۲۹۴۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِيْنِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاكَ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ښځو سره په څلورو وجهو نكاح كولاى شي ۱- د مالداري په وجه. ۲- د حسب په وجه ۳- د ښائست په وجه. ۴- د مذهب په وجه. په دې كي چي چا د دين او مذهب په وجه نكاح وكړه هغه كامياب سو او ستا لاس دي په خاورو ككړ سي (كه د مال او حسب يا د ښائست په وجه نكاح وكړي) .(بخاري اومسلم).

## نیک بخته ښځې د دنیا غوره متاع دی

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا كلها مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ . رواه مسلم . | د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دنیا ټوله متاع (د دنیا فائده) ده او د دنیا بهترین متاع نیکه ښځه ده . (مسلم) |

## د قریشو د ښځو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْإِبِلَ صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ . متفق عليه. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په اوښ سپرېدونکو ښځو (د عربو په ښځو) کې غوره ښځې د قریشو نېکې ښځې دي چې پر کوچنیانو ډېرې مهرباني |

او د خپل خاوند د مال ساتونکې او امانت دارې دي . (بخاري او مسلم) .

## د ښځو فتنه ډېره تاواني ده

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۲): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ . متفق عليه. | د حضرت اسامه بن زید ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زه د خان څخه وروسته د سړو لپاره د ښځو څخه زیاته ضرر رسونکې بله فتنه نه پرېږدم . (بخاري او مسلم) |

## د ښځو د فتنې څخه ځان وساتئ

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللّٰهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ . رواه مسلم . | د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دنیا (ډېره) شیرینه او شنه یعني په نظر کې غوره شی دي او خدای تعالی ستاسو په دنیا کې پرېښوونکی دی بیا هغه تاسو ته و خت درکوي چې تاسو څه کوئ ؟ نو د دنیا او د ښځو څخه ځان و ساتئ ځکه چې |

بني اسرائیلو ته لومړنی فتنه د ښځو وه . (مسلم) .

## نحوست په درو شیانو کې وي

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الشُّؤْمُ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : چې نحوست (سپیره توب) په |

والفرس . متفق عليه و في رواية الشوم في ثلاثة في المراة والمسكن والدابة .

ښځه په كور او په آس كي وي او په يوه روايت كي دا الفاظ دي نحوست په درو شيانو كي وي . (١) په ښځه كي (٢) په كور كي (٣) په حيوان كي . (بخاري او مسلم)

**د نكاح لپاره د پيغلې ښځې ترجيح**

(٢٩٥٥): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَلَمَّا قَفَلْنَا كُنَّا قَرِيبًا مِنَ الْمَدِينَةِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ أَتَزَوَّجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا قَالَ قُلْتُ بَلْ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا بِكْرًا تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ أَمْهِلُوا حَتّٰى نَدْخُلَ لَيْلًا أَيْ عِشَاءً لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ . متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي موږ په يوه غزا كي د رسول الله ﷺ سره وو كوم وخت چي موږ بيرته راغلو او و مديني منورې ته نږدې را ورسېدو ما عرض وكړ يا رسول الله ﷺ ما نوی واده كړی دی ايا زه وراندي ولاړ سم ؟ نبي كريم ﷺ راته وفرمايل : تا نكاح كړې ده ؟ ما عرض وكړ هو، نبي كريم ﷺ را څخه پوښتنه وكړه د انجلۍ سره يا د يوې كونډې سره ؟ ما عرض وكړ د كونډې سره نبي كريم ﷺ را ته وفرمايل : د انجلۍ سره دي واده ولي نكوی؟ چي ته د هغې سره او هغې ستا سره لوبي كړی وای (يعني په بې تكلفي سره به مو ژوند كولای) بيا چي موږ د مديني منورې ته را ورسېدو نو موږ خپلو كورو ته د تلو تلوار وكړ رسول الله ﷺ راته وفرمايل و درېږئ موږ به د شپې په وخت كي و كورو ته نه خو چي ښځي خپل بير ورېښتان ږمونځ كړئ او د نامه لاندي ورېښتان صفا كړئ . (بخاري او مسلم).

## دويم فصل

**هغه درې كسان چي الله ﷺ يې خامخا مرسته كوي**

(٢٩٥٦): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللّٰهِ عَوْنُهُمْ اَلْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الْأَدَاءَ وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ الْعَفَافَ وَالْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : درې كسان چي د هغوئ كومك پر الله ﷺ واجب دی (١) يو خو مكاتب غلام چي د خپل كتابت د ادا كولو اراده لري (٢) هغه نكاح كونكي سړی چي د هغه مقصد د نكاح څخه د زنا د څان ژغورل وي (٣) د خداي تعالي په لاره كي جنګېدونكي . (ترمذي نسائي ابن ماجه).

**د ښځې د ولي لپاره هدايت**

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ إِنْ لاَ تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ . رواه الترمذي . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه يو داسي سړى تاسو ته د نكاح پيغام را ورسوي چي د هغه د دين او اخلاقو څخه تاسو خوشحاله ياست نو د هغه |

پيغام و منئ نكاح ورسره وكړئ كه يې ونه كړئ نو په ځمكه كي به سخته فتنه او لوى فساد پيدا سي . (ترمذي).

**د مينه ناكه ښځي سره نكاح كوئ**

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۸): وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ . رواه ابوداؤد والنسائي . | د حضرت معقل بن يسار ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د هغه ښځي سره نكاح كوئ چي د خاوند سره محبت كونكې او زيات كوچنيان راوړونكې وي څكه چي زه به د |

نورو امتونو په مقابله كي ستاسو په كثرت فخر كوم .(ابو داؤد نسائي).

**د پيغلي سره نكاح كول غوره دي**

| | |
|---|---|
| (۲۹۵۹): وَعَنْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ سَالِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ عُوَيْمِ بْنِ سَاعِدَةَ الْأَنْصَارِيُّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالْأَبْكَارِ فَإِنَّهُنَّ أَعْذَبُ أَفْوَاهًا وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ . رواه ابن ماجة مرسلا . | حضرت عبد الرحمن بن سالم بن عتبه بن عويم بن سعديه انصاري ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د پيغلو ښځو سره نكاح كوئ څكه چي هغوئ خوش زبانه ډېر كوچنيان |

راوړونكې او په لږ شى راضي كېدونكي وي . (ابن ماجه).

## دريم فصل

**د نكاح يو خصوصيت**

| | |
|---|---|
| (۲۹۶۰): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ تَرَ لِلْمُتَحَابَّيْنِ مِثْلَ النِّكَاحِ . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو به د نكاح څخه پرته بل داسي شى نه وو لېدلي چي د دوو كسانو په مينځ كي د دومري درجي محبت وكړي . (ابن ماجه) |

### د ازادو ښځو سره د نکاح فضیلت

(۲۹۶۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يَلْقَى اللّٰهَ طَاهِرًا مُطَهَّرًا فَلْيَتَزَوَّجْ الْحَرَائِرَ .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چي د دې کار خواهش لري چي د خداي تعالي سره په پاکیزه حال کي ملاقات وکړي نو هغه له پکار ده چي ازادو ښځو سره نکاح وکړي .

### د ښه ښځي خصوصیت

(۲۹۶۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَقُولُ مَا اسْتَفَادَ الْمُؤْمِنُ بَعْدَ تَقْوَى اللّٰهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ إِنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِنْ نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِنْ أَقْسَمَ عَلَيْهَا أَبَرَّتْهُ وَإِنْ غَابَ عَنْهَا نَصَحَتْهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ . روى ابن ماجة الاحاديث الثلثة.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خداي تعالي مؤمن بنده چي د خداي تعالي د تقوی څخه وروسته کوم شی چي د ټولو څخه زیات د خان لپاره غوره کوي هغه نېکه ښځه ده (داسي ښځه) چي هغې ته د څه امر وکړي نو سمدستي عمل په وکړي هغې ته چي گوري نو هغه زړه خوشحاله کوي او که هغې ته قسم ورکړي نو هغه قسم پوره کوي او که د هغې څخه غائب سي نو د خپلي پاکدامني او د هغه د مال ساتنه کوي . دا درې حدیثونه ابن ماجه بیان کړی دی .

### نکاح نیم دین دی

(۲۹۶۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّينِ فَلْيَتَّقِ اللّٰهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي نکاح وکړه نو خپل نیم دین یې پوره کړ اوس هغه ته پکار ده چي په پاته نیم دین کي ویره او تقوی پرهیزگاري اختیار کړي . (بیهقي)

### بابرکته نکاح

(۲۹۶۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً . رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: برکتناکه نکاح هغه ده چي د محنت په لحاظ اسانه وي یعني د هغې ولور کم وي او ښځه په زیاتو مصرفو خپل خاوند پرېشانه نه کړي بلکه څه چي په مینځ کي وي پر هغه قناعت او صبر وکړي . (بیهقي) .

# بَابُ النَّظَرِ اِلَى الْمَخْطُوْبَةِ وَبَيَانِ الْعَوْرَاتِ

## (د نسبت کړل سوي ښځي ليدل او د عورت پټولو بيان)

## لومړی فصل

**د نکاح خخه مخکي يو وار ليدل مستحب دي**

(۲۹۶۵): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الْاَنْصَارِ قَالَ فَانْظُرْ اِلَيْهَا فَاِنَّ فِي اَعْيُنِ الْاَنْصَارِ شَيْئًا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي زه د يوې انصاري ښځي سره نکاح کول غواړم رسول الله ﷺ ور ته وفرمايل: يو وار هغه ووينه ځکه چي د انصارو د ښځو په سترګو کي يو څه خرابي وي. (مسلم)

**د ښځي حال مه بيانوئ**

(۲۹۶۶): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُبَاشِرُ الْمَرْاَةُ الْمَرْاَةَ فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَاَنَّهُ يَنْظُرُ اِلَيْهَا . متفق عليه.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ ښځه دي خپل بدن و بلي ښځي ته نه ښکاره کوي او داچي بيا د هغې ښځي بدني ښکلا و خپل خاوند ته بيان کړي ځکه چي د يوې ښځي بدني ښکلا د نارينه په وړاندي بيانول داسي دي لکه چي د هغې ښځي بدن يې ور وښودی. بخاري او مسلم.

**د نارينوو او ښځو لپاره يو څو لارښووني**

(۲۹۶۷): وَعَنْ اَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ اِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ وَلَا الْمَرْاَةُ اِلَى عَوْرَةِ الْمَرْاَةِ وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ اِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَلَا تُفْضِي الْمَرْاَةُ اِلَى الْمَرْاَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی دي د يوه سړي لڅ بدن ته نه ګوري او نه دي ښځه د بلي ښځي لڅ بدن ته ګوري او نه دي دوه نارينه په يوه جامه کي يو ځای کيږي او نه دي دوې لڅي ښځي په يوه جامه کي يو ځای کيږي (يعني په يو ځای کي بيديږي). (مسلم)

**د پردۍ ښځې سره د خلوت منع**

| | |
|---|---|
| (۲۹۶۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا لَا يَبِيْتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ نَاكِحًا أَوْ ذَا مَحْرَمٍ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پوه سئ! هيڅ يو نارينه دې د يوې خوانې واده سوې ښځې سره يوازې په يوه خونه کې شپه نه تېروې البته هغه سړی ور سره پاته |

کېدای سي چې هغه د ښځې خاوند يا محرم وي. (مسلم)

| | |
|---|---|
| (۲۹۶۹): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ وَالدُّخُوْلَ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ الْحَمْوَ قَالَ الْحَمْوُ الْمَوْتُ . متفق عليه. | د حضرت عقبه بن عامر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په يو خای کې ښځه وي هلته د ورتلو څخه ځان وساتئ يوه سړی پوښتنه وکړه ايا تاسو د لېور داخلېدل بد ګڼئ |

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ((لېور)) خو مرګ دی (يعني يوه تباه کوونکې فتنه ده) (بخاري او مسلم).

**علاج کوونکی د ښځې بدن کتلای سي**

| | |
|---|---|
| (۲۹۷۰): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحِجَامَةِ فَأَمَرَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجُمَهَا قَالَ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې ام سلمه رض د رسول الله ﷺ څخه د ويني کښلو اجازه وغوښته نبي کريم ﷺ و ابو طيبه ته د ويني کښلو حکم ورکړ د جابر ﷺ بيان دی چې ابو طيبه د ام سلمه رض رضاعي ورور وو يا هلک |

چې تر دغه وخته پوري بالغ سوی نه وو. (مسلم).

**ناڅاپه نظر لوېدل**

| | |
|---|---|
| (۲۹۷۱): وَعَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَأَمَرَنِي أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي . رواه مسلم . | د حضرت جرير بن عبد الله ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه يوې محرمې ښځې ته کتل په ناڅاپه ډول په باره کې پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ را ته وفرمايل: سترګې دې ژر واړوه. (مسلم) |

**د پردۍ ښځې په لېدو او بد خيال پيداکېدو سره خپل ښځې ته ځئ**

| | |
|---|---|
| (۲۹۷۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِيْ صُوْرَةِ شَيْطَانٍ وَ | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځه د شيطان په شکل کې را ځي او د شيطان په شکل کې ځي کله چې په تاسو |

تُدْبِرُ فِيْ صُوْرَةِ شَيْطَانٍ إِذَا أَحَدُكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا فَإِنَّ ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ . رواه مسلم .

کي يوه ته ښځه ښائسته ښکاره سي او په زړه کي مو مينه راسي نو سمدستي و خپل کور ته ولاړ سئ او د خپلو ښځو سره همبستري کوئ ځکه چي جماع د زړه وسوسه ليري کوي . (مسلم) .

## دويم فصل

**د واده څخه وړاندي د ښځي ليدل مستحب دي**

(۲۹۷۳): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :په تاسو کي چي کوم سړی و يوې ښځي ته د نکاح کولو پيغام وليږي نو هغه له پکار ده چي ممکنه وي يو وار دي يې و ګوري که د نکاح اراده يې وي . (ابو داؤد) .

(۲۹۷۴): وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ خَطَبْتُ امْرَأَةً فَقَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَظَرْتَ إِلَيْهَا قُلْتُ لَا قَالَ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا . رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة والدارمي.

د حضرت مغيره بن شعبه ﷺ څخه روايت دی چي ما د يوې ښځي سره د نکاح کولو اراده وکړه رسول الله ﷺ و ماته و فرمايل : تا هغه ليدلې ده ؟ ما عرض وکړ يا ! نبي کريم ﷺ وفرمايل : ته ! هغه و ګوره ځکه چي دا کار به ستاسو د دواړو ترمينځ د دائمي محبت ذريعه وګرځي . (احمد ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي) .

**د پردې ښځي په ليدو سره سمدستي د خپل ښځي څخه تسکين تر لاسه کړئ**

(۲۹۷۵): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ رَأَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةً فَأَعْجَبَتْهُ فَأَتَى سَوْدَةَ وَهِيَ تَصْنَعُ طِيْبًا وَعِنْدَهَا نِسَاءٌ فَأَخْلَيْنَهُ فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ رَأَى امْرَأَةً تُعْجِبُهُ فَلْيَقُمْ إِلَى أَهْلِهِ فَإِنَّ مَعَهَا مِثْلَ الَّذِيْ مَعَهَا . رواه الدارمي

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ښځه وليده چي ښه ورته ښکاره سوه نو نبي کريم ﷺ (سمدستي) بي بي سودې رض ته ورغی هغې په هغه وخت کي خوشبوئي تياروله او څو ښځي ور سره ناستي وې ښځي ولاړې سوې او د نبي کريم ﷺ لپاره يې خای خالي کړ نبي کريم ﷺ ضرورت رفع کړ او بيا يې وفرمايل : کوم سړي ته چي يوه ښځه ښه

ښکاره سي نو هغه دي سمدستي خپل کور ته ولاړسي او د خپلي بي بي سره دي نزدېکت وکړي ځکه چي د هغې سره هم هغه شی دی کوم چي د هغې ښځي سره وو . (دارمي) .

**ښځه دي په پرده کي اوسي**

(۲۹۷۶): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ . رواه الترمذي.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځه په پرده کي د اوسېدلو شی دي کله چي هغه د باندي را وځي نو شيطان ور پسې سي (يعني د خلکو په نظر کي يې راولي). (ترمذي) .

**پر پردې ښځي باندي د ناڅاپه نظر لوېدو وروسته دوهم وار کتل ناجائز دي**

(۲۹۷۷): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد والدارمي.

د حضرت بريده ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و حضرت علي ﷺ ته وفرمايل: اې علي! که په ښځه دي ناڅاپه نظر ولګېدی نو اولنی نظر تا ته جائز دي دوباره ور ته کتل جائز نه دی. (احمد ترمذي ابوداؤد دارمي)

**د مينځي د نکاح ورو بيته**

(۲۹۷۸): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ فَلَا يَنْظُرْ إِلَى عَوْرَتِهَا و في رواية فَلاَ يَنْظُرَنَّ الى مَا دُونَ السُّرَّةِ وَ فَوْقَ الرُّكْبَةِ . رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روايت کوي کله چي په تاسو کي يو څوک د يوه سړي نکاح د خپلي مينځي سره ور وتړئ نو بيا دي دی د خپلي مينځي و شرمګاه ته نه ګوري او په دويم روايت کي دا الفاظ دي چي بيا دي نو د مينځي تر نامه لاندي او تر زنګون لوړ حصې ته نه ګوري . (ابو داؤد).

**ورون شرمګاه ده**

(۲۹۷۹): وَعَنْ جَرْهَدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت جرهد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه نه ده چي ورون شرم ګاه ده (يعني د پټولو شی دی). (ترمذي ابو داؤد)

(۲۹۸۰): وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا عَلِيُّ لَا تُبْرِزْ اِلَى فَخِذِكَ ولا تنظر الى

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې علي! خپل ورون مه

فخذ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

ښکاره کوه او مه د چا د ژوندو يا مړو ورون ته ګوره (ابو داؤد ابن ماجه)

(٢٩٨١): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَحْشٍ قَالَ مَرَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَعْمَرٍ وَفَخِذَاهُ مَكْشُوْفَتَانِ قَالَ يَا مَعْمَرُ غَطِّ فَخِذَيْكَ فَإِنَّ الْفَخِذَيْنِ عَوْرَةٌ . رواه في شرح السنة

د حضرت محمد بن جحش ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و معمر ﷺ ته نژدې تېر سو دغه وخت د هغه دواړه ورونونه معلومېدل نبي کريم ﷺ ورته وويل : اې معمره! خپل ورونونه پټ کړه ځکه چي ورونونه هم په شرمګاه کي شامل دي . (شرح السنة).

**بېله ضرورته په يوازې ځاى کي ستر لوڅول ښه کار نه دي**

(٢٩٨٢): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ وَالتَّعَرِّيَ فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لَا يُفَارِقُكُمْ إِلَّا عِنْدَ الْغَائِطِ وَحِيْنَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى أَهْلِهِ فَاسْتَحْيُوْهُمْ وَأَكْرِمُوْهُمْ . رواه الترمذي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل ځانونه د لڅېدو څخه وساتئ که څه هم يوازې ياست ځکه چي ستاسو سره دوې ملائکي دئ چي هغوئ يوازې په بيت الخلاء د قضائي حاجت او په کوروالي کي ستا سو څخه جلا کيږي د هغوئ څخه حيا وکړئ او د هغوئ عزت وکړئ . (ترمذي) .

**ښځه سړي ته کتلای سي که يا؟**

(٢٩٨٣): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَيْمُوْنَةَ إِذْ أَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجِبَا مِنْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَلَيْسَ هُوَ أَعْمَى لَا يُبْصِرُنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دی چي زه او بي بي ميمونه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضري سوو په دې وخت کي ابن ام مکتوم ﷺ چي په سترګو ړوند وو راغی رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل : د ده څخه پرده وکړئ ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ! دی خو ړوند دی (يعني موږ خو نه ويني) نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : ايا تاسو هم ړندې ياست ؟ او دی نه وينئ ؟ (يعني تاسو خو دی وينئ که يا). (احمد ترمذي ابو داؤد)

**په يوازېوالي کي هم ستر پټ ساتئ**

(٢٩٨٤): وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيْمٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ

حضرت بهز بن حکيم ﷺ د خپل پلاره څخه او

| | |
|---|---|
| قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَفَرَأَيْتَ إِذَا كَانَ الرَّجُلُ خَالِيًا قَالَ فَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة . | هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپلي ښځي او مينځي څخه پرته خپله شرمګاه پټه ساتی ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ اکه څه هم موږ يوازي يو ؟ هغه وخت هم موږ خپل بدن پټ ساتو نبي کريم ﷺ |

وفرمايل : د خداي تعالي څخه شرم او حيا کول زيات مناسب دی . (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه) .

## د پردی ښځي سره يوازي مه اوسئ

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۵): وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ . رواه الترمذي | حضرت عمر ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه روايت کوي چي کله يو سړی د يوې ښځي سره يوازي يو ځاي سي نو هلته دريم نفر شيطان وي |

(يعني د دواړو په فکرو کي بد خيالات را ګرځوي) . (ترمذي) .

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۶): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَلِجُوا عَلَى الْمُغِيبَاتِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ أَحَدِكُمْ مَجْرَى الدَّمِ قُلْنَا وَمِنْكَ يا رسول الله قَالَ وَمِنِّي وَلٰكِنَّ اللّٰهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ فَأَسْلَمُ . رواه الترمذي . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغو ښځو ته مه ورځئ چي د هغوئ خاوندان په سفر کي وی ځکه چي په داسي وختو کي شيطان د ويني په شان په په ټولو رګو کي ګرځي موږ عرض وکړ يا رسول الله ﷺ ايا |

شيطان ستاسو په رګو کي هم ګرځي نبي کريم ﷺ راته وفرمايل : هو ! په ما کي هم مګر خداي تعالي زما کومک کړی دی او ما هغه تابع کړی دی .(ترمذي) .

## غلام د پردي سړي په ډول دی

| | |
|---|---|
| (۲۹۸۷): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى فَاطِمَةَ بِعَبْدٍ قَدْ وَهَبَهُ لَهَا وَعَلَى فَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ثَوْبٌ إِذَا قَنَّعَتْ بِهِ رَأْسَهَا لَمْ يَبْلُغْ رِجْلَيْهَا وَإِذَا غَطَّتْ بِهِ رِجْلَيْهَا لَمْ يَبْلُغْ رَأْسَهَا فَلَمَّا رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَلْقَى قَالَ إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ . رواه ابوداؤد . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د بي بي فاطمي رض کره د يوه غلام سره تشريف راوړ کوم چي نبي کريم ﷺ و بي بي فاطمي ته ور کړی وو او بي بي فاطمي پر بدن باندي داسي جامه اچولې وه که به يې سر پټ کړو نو پښې او که به يې پښې پټي کړې نو سر به يې معلومېدی کله يې چي رسول الله ﷺ |

ولیدی نو بي بي فاطمې رض د پټولو ډېر زيات کوښښ کوی نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هيڅ پروا نه لري (اې فاطمې) يو دي پلار دی او بل دي غلام . (ابوداؤد) .

## دریم فصل

**نو ښځې هم په کور کي مه پرېږدئ**

(۲۹۸۸): عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَهَا وَفِي الْبَيْتِ مُخَنَّثٌ فَقَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ أَخِي أُمِّ سَلَمَةَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ إِنْ فَتَحَ اللّٰهُ لَكُمْ غَدًا الطَّائِفَ فَإِنِّي أَدُلُّكَ عَلَى بِنْتِ غَيْلَانَ فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلَنَّ هَؤُلَاءِ عَلَيْكُمْ . متفق عليه.

د حضرت ام سلمه رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغې سره تشريف درلود او په کور کي يو نرښځوکي هم وو هغې نرښځوکي عبدالله بن ابي اميه (د ام سلمه ورور) ته وويل اې عبدالله که سبا تاسو ته خداي تعالي په طائف کي فتحه در کړه نو زه به د غيلان لور در ته وښيم هغه د څلورو سره راځي او د اتو سره ځي (يعني دومره غټه ده چي کوم وخت راځي نو د هغې په خېټه څلور ولې وي او کوم وخت چي ځي نو د هغې په شا اته ولې وي دا د غيلان دلور تعريف دی عربو به غټي ښځي خوښولې )(د دې په اورېدوسره) نبي کريم ﷺ وفرمايل : دا نرښځوکي په کور کي مه پرېږدئ . (بخاري او مسلم).

**د لوڅ ګرځېدو څخه منع**

(۲۹۸۹): وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ حَمَلْتُ حَجَرًا ثَقِيلًا فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَقَطَ عَنِّي ثَوْبِي فَلَمْ أَسْتَطِعْ أَخْذَهُ فَرَآنِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي خُذْ عَلَيْكَ ثَوْبَكَ وَلَا تَمْشُوْا عُرَاةً . رواه مسلم .

د حضرت مسور بن مخرمه رض څخه روايت دی چي ما يو درونده کاڼی پورته کړ او را روان سوم چي زما جامه وشکېدل او د بوج په وجه ما جامه پر بدن باندي نسوای اينبوولای رسول الله ﷺ چي زه کله لوڅ وليدم نو يې وفرمايل :اول جامه واغونده او لوڅ مه ځئ .(مسلم) .

**د شرم او حياء انتهائي درجه**

(۲۹۹۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا نَظَرْتُ أَوْ مَا رَأَيْتُ فَرْجَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطُّ . رواه ابن ماجة .

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي ما هيڅکله د نبي کريم ﷺ شرمګاه نه ده ليدلې .(ابن ماجه)

**ښځي ته په نظر لوېدو سره سمدستي نظر واړول**

﴿۲۹۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَنْظُرُ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهُ إِلَّا أَحْدَثَ اللَّهُ لَهُ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا . رواه احمد.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم مسلمان بنده نظر چي د يوې ښځي په حسن و جمال ولګيږي نو هغه سمدستي مخ څيني واړوي نو هغه ته به خداي تعالي يو داسي خوږوالي ورکړی چي د هغې لطف به ورته حاصل سي .(احمد) .

**منع شي ته پر کتلو باندي وعيد**

﴿۲۹۹۲﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت حسن ﷺ څخه مرسلا روايت دی وايي چي ما ته د اصحابو کرامو څخه دا معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : پر هغه سړی دي د خداي تعالي لعنت وي چي د بل شرمګاه ته ګوري او پر هغه دي هم وي چي دده شرمګاه ته ګوري. (بيهقي).

# بَابُ الْوَلِيِّ فِي النِّكَاحِ وَ اسْتِيْذَانِ الْمَرْأَةِ

## ( د نکاح د ولي او د ښځي څخه د اجازې اخيستلو بيان )

## لومړی فصل

**د نکاح څخه مخکي د ښځي اجازه اخيستل**

﴿۲۹۹۳﴾:وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا قَالَ أَنْ تَسْكُتَ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تر څو پوري چي د کونډې ښځي څخه اجازت نه وي اخيستل سوی نو د هغې نکاح کول نسي کولای او همداسي چي د پيغلو ښځو څخه اجازت نه وي اخيستل سوی نو نکاح يې نه صحيح کيږي اصحابو کرامو عرض وکړ يا رسول الله ﷺ د پيغلو څخه به (چي شرميږي)اجازت څنګه حاصل سي ؟نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل :د هغې اجازت دادي چي چپه خوله پاته سي .(يعني د اجازت دغوښتلو څخه وروسته چپه خوله پاته سي). (بخاري او مسلم).

(٢٩٩٤): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا ، و في رواية الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْمَرُ وَ إِذْنُهَا سُكُوتُهَا وَ فِي رِوَايَةٍ الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ يَسْتَأْذِنُهَا أَبُوهَا فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا .رواه مسلم .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كونډه ښځه (د خپلي نكاح په معامله كي) د خپل ولي څخه زياته حقداره ده (يعني د نكاح د اجازت د ور كولو په معامله كي) ، او پيغله ښځه هم د دې حقداره ده چي د هغې څخه د نكاح كولو اجازت واخيستل سي او د هغې اجازت اخيستل چپه خوله پاته كېدل دي . او په دويم روايت كي دا الفاظ دي چي كونډه ښځه دخپل ولي څخه په خپلو معاملاتو كي (د نكاح وغيره) زيات حق لري او د پېغلې څخه دي هم اجازت واخيستل سي او د هغې اجازت ور كول چپه خوله پاته كېدل دي . او په يو بل روايت كي دا الفاظ دي چي كونډه د ولي څخه زياته حقداره ده او د پيغلې څخه دي هم اجازت واخيستل سى او د هغې څخه د اجازت حق و پلار ته حاصل دى او د هغې اجازت وركول چپه خوله پاته كېدل دي . (مسلم).

**كونډه خپل ناخوښه نكاح رد كولاى سي**

(٢٩٩٥): وَعَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذٰلِكَ فَأَتَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ نِكَاحَهَا. رواه البخاري و في رواية ابن ماجة نِكَاحَ أَبِيهَا.

د حضرت خنساء بنت خدام رض څخه روايت دى چي هغه كونډه وه د هغې پلار د هغې نكاح د يو چا سره وكړه او دا د هغه د نكاح څخه خوشحاله نه وه نو دا د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او د دې په اړه يې عرض وكړ نو نبي كريم ﷺ د هغه نكاح ور رد كړه او په ابن ماجه كي يو روايت دى د هغې دپلار ترل سوې نكاح .

**د رسول الله ﷺ سره د نكاح پر وخت د حضرت عائشې (رض) عمر**

(٢٩٩٦): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سَبْعِ سِنِينَ وَزُفَّتْ إِلَيْهِ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ وَلُعَبُهَا مَعَهَا وَمَاتَ عَنْهَا وَهِيَ بِنْتُ ثَمَانَ عَشْرَةَ . رواه مسلم .

د بي بي عائشې رض څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د هغې سره نكاح وكړه كوم وخت چي د هغې عمر اووه كاله وو كوم وخت چي هغه د نهو كالو سوه نو د رسول الله ﷺ وكور ته ولېږل سوه او د هغې سره د بازى شيان وه او كوم وخت چي رسول الله ﷺ ور څخه وفات سو هغه وخت د دې عمر د اتلسو كلو وو . (مسلم).

## دويم فصل

### دکم عمره انجلۍ نکاح د ولي د اجازې پرته نه کيږي

| | |
|---|---|
| (۲۹۹۷): عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي . | د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ولي (سرپرست) د اجازت څخه ماسيوا نکاح نه صحيح کيږي. (احمد ترمذي ابوداؤد ابن ماجه دارمي) |
| (۲۹۹۸): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ نَفْسَهَا بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَإِنْ دخل بِهَا فَلَهَا الْمهر بِمَا استحل مِنْ فَرْجِهَا فَإِنْ اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة والدارمي . | د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کومه ښځه چي خپله نکاح د خپل ولي (سرپرست) د اجازت څخه ماسيوا وکړي د هغې نکاح باطله ده د هغې نکاح باطله ده د هغې نکاح باطله ده بيا که د هغې خاوند د دې سره همبستري وکړي نو د هغې د شرمگاه |

څخه د فائدې د اخيستلو مهر پر خاوند واجب دی او که د يوې ښځي په ولايت (سرپرستي) کي اختلاف وي نو د هغې ښځي ولي باچا (د وخت) دی که څوك ولي ونه لري. (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي)

### بېله شاهدانو نکاح نه صحيح کيږي

| | |
|---|---|
| (۲۹۹۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَغَايَا اللَّاتِي يُنْكِحْنَ أَنْفُسَهُنَّ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ . والاصح انه موقوف على ابن عباس .رواه الترمذي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که ښځي بېله شاهدانو نکاح وکړه نو هغوئ زنا کوی د ترمذي بيان دی دا حديث په ابن عباس موقوف دی (يعني د هغه قول دی). (ترمذي) |

### د ښځي سکوت د هغې رضا ده

| | |
|---|---|
| (۳۰۰۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَتِيمَةُ تُسْتَأْمَرُ فِي نَفْسِهَا فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا . رواه | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د پيغلو انجونو سره د نکاح په معامله کي اجازت واخلئ (که د پوښتني کولو |

الترمذي وابوداؤد والنسائي ورواه الدارمي عن ابي موسى .

ښخه وروسته) که چپه خوله پاته سوه نو د دې د لورې ښخه د اجازت ور کول ګڼل کيږي او که انکار يې وکړ نو په هغې باندې جبر کول پکار نه دی. (ترمذي ابو داؤد نسائي په دارمي کې د ابو موسى ښخه).

**د غلام نکاح د بادار د اجازې پرته نه صحيح کيږي**

(٣٠٠١): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ فَهُوَ عَاهِرٌ . رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي .

د حضرت جابر ﷺ ښخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم غلام چې د خپل مالك د اجازې ښخه پرته نکاح وکړي هغه زاني (زنا کاره) دی. (ترمذي ابو داؤد دارمي)

## دريم فصل

**بالغه د خپل نکاح په اړه خودمختار ده**

(٣٠٠٢): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ جَارِيَةً بِكْرًا أَتَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ فَخَيَّرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ ښخه روايت دی چې يو پيغلـه انجلـۍ ذ رسـول الله ﷺ پـه خـدمت کـې حاضره سوه او عرض يې وکړ چې د هغې پلار دا په نکاح ور کړې ده او په دغه نکاح باندې دا راضي نه وه نو نبي کريم ﷺ هغې ته د نکاح د فسخ کولو اختيار ور کړ. (ابو داؤد)

**د بالغې نکاح ولي ته کول مستحب دي**

(٣٠٠٣): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَإِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِي تُزَوِّجُ نَفْسَهَا . رواه ابن ماجة.

د حضرت ابوهريره ﷺ ښخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايـل: هـيڅ يـوه ښـځه دې د يـوې ښـځې نکاح نه کوي او نه دې يوه ښځه په خپل اختيار سره نکاح کوي ځکه چې هره ښځه خپله نکاح کوي هغه زنا کاره ده. (ابن ماجه)

**پر پلار د اولاد حقوق**

(٣٠٠٤): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنِ اسْمَهُ وَأَدَبَهُ فَإِذَا بَلَغَ فَلْيُزَوِّجْهُ فَإِنْ بَلَغَ وَلَمْ

د حضرت ابو سعيد ﷺ او ابن عباس ﷺ ښخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايـل: د کـوم سړي چې بچی پيدا سي نو ښه نوم دې پر

يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ إِثْمًا فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى أَبِيْهِ .

کښېږدي او ادب دي ور زده کړي کله چي هغه بالغ سي نو نکاح دي ور وکړي که د بالغ کېدو سره يې د هغه نکاح و نه کړه او هلك په ګناه کي مبتلا سو نو د هغه ګناه پر پلار ده . (بيهقي) .

**د انجلۍ پر بالغ کېدو باندي د هغې نکاح وکړئ**

(٣٠٠٥): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي التَّوْرٰىةِ مَكْتُوْبٌ مَنْ بَلَغَتِ ابْنَتُهُ اثْنَتَيْ عَشَرَةَ سَنَةً وَلَمْ يُزَوِّجْهَا فَأَصَابَتْ إِثْمًا فَإِثْمُ ذٰلِكَ عَلَيْهِ . رواهما البيهقي في " شعب الإيمان "

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ او د انس بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تورات کي ليکلی دی چي د کوم سړي لور چي د دولسو کلو سوه او هغې ته نکاح ور و نه کړي او د هغې څخه ګناه وسوه نو پلار به يې هم پکښې شريك وي . دواړه حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي روايت کړي دي .

# بَابُ اِعْلاَنِ النِّكَاحِ وَالْخُطْبَةِ وَالشَّرْطِ

## ( د نکاح د اعلان، خطبې او شرط بيان )

## لومړی فصل

**د نکاح پر وخت دريا وهل جائز ده**

(٣٠٠٦): عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ حِيْنَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي فَجَعَلَتْ جُوَيْرِيَاتٌ لَنَا يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِي يَوْمَ بَدْرٍ إِذْ قَالَتْ إِحْدَاهُنَّ وَفِيْنَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَالَ دَعِي هٰذِهِ وَقُوْلِي بِالَّذِي كُنْتِ تَقُوْلِيْنَ . رواه البخاري

د بي بي ربيع ﷺ بنت معوذ بن عفراء څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په هغه زمانه کي چي زه د خپل خاوند کور ته د نکاح وروسته راغلم زموږ کور ته تشريف راوړ او زما پر بستره داسي کښيناستی لکه څرنګه چي ته زما پر بستره ناست يې (دا خبره ربيع و حضرت خالد بن ذکوان ته وکړه) په کور کي چي کومي انجوني موجودي وی هغوئ دريې وهلې او زموږ په مشرانو کي چي کوم خلك د بدر په غزا کي شهيدان سوی وو د هغوئ ښه والي يې بيانول پيل کړل په هغوئ کي يوې انجلۍ دا هم وويل: چي په موږ کي داسي نبي دی چي د سبا خبره ورته معلومه ده په دې اورېدو سره نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: دا خبره پرېږده هغه څه وا يه چي وړاندي دي ويل .(بخاري).

| | |
|---|---|
| (۳۰۰۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ زَفَّتْ امْرَأَةً إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ فَإِنَّ الْأَنْصَارَ يُعْجِبُهُمُ اللَّهْوُ . رواه البخاري. | د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي په انصارو کي د یوه سړي نکاح د یوې ښځي سره وسوه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: چي ستاسو سره لوبه (دریې او غزلي ویل) نسته د انصارو خو غزلي ویل خوښ دي. (بخاري) |

**د شوال په میاشت کي نکاح کول مستحب دي**

| | |
|---|---|
| (۳۰۰۸): وَعَنْهَا قَالَتْ تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَوَّالٍ وَبَنَى بِي فِي شَوَّالٍ فَأَيُّ نِسَاءِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَحْظَى عِنْدَهُ مِنِّي . رواه مسلم . | د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زما سره په شوال کي نکاح وکړه او دري کاله وروسته په شوال کي یې زه کورته راوستم بیا د رسول الله ﷺ په بي بي گانو کي زما څخه |

زیاته خوش نصیبه څوک ده (یعني د دوو اخترو په مینځ کي واده کول باید بد ونه گڼل سي). مسلم

**د مهر ادا کولو تاکید**

| | |
|---|---|
| (۳۰۰۹): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَقُّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ . متفق عليه. | د حضرت عقبه بن عامر رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په هغه شرطونو کي چي د هغې پوره کول دېر ضروري دی هغه شرط دادي چي د هغې په ذریعه تاسو د خان لپاره د ښځو شرمگاوي حلال کړي دي (یعني مهر ولور). (بخاري) |

**د بل منسوبې ښځي ته پیغام مه استوئ**

| | |
|---|---|
| (۳۰۱۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْطُبُ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَنْكِحَ أَوْ يَتْرُكَ . متفق عليه. | د حضرت ابوهریره رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅوک دي د بل سړی د نکاح پر پیغام خپل پیغام نه ورکوي تر څو پوري |

چي هغه نکاح و نه کړي یا یې د نکاح خیال پر مخ نه وي پرېښی. (بخاري او مسلم)

**ښځه دي د خپل خواهش پوره کولو لپاره د بلي ښځي د طلاق سبب نه جوړيږي**

| | |
|---|---|
| (۳۰۱۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا وَلْتَنْكِحْ فَإِنَّ لَهَا مَا قُدِّرَ لَهَا . متفق عليه. | د حضرت ابوهریره رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ یوه ښځه دي د خپل (دیني) خور د طلاق خواهش نه کوي چي د هغې پیاله خالي کړي (یعني هغه بې خاونده کړي) او په |

خپله د هغې د خاوند سره نکاح وکړي ځکه څه چې د هغې لپاره تاکل سوي دي د هغې لپاره دي .بخاري او مسلم

**د شغار (موخې) منع**

| | |
|---|---|
| (۳۰۱۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلٰى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْاٰخَرُ ابْنَتَهُ لَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ . متفق عليه . و في رواية لمسلم قَالَ لَا شِغَارَ فِي الْاِسْلَامِ . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د شغار څخه منعه فرمایلې ده او شغار دادي چې یو سړی د خپلې لوړ نکاح د یو چا سره په دې شرط وکړي چې هغه به د خپلې لور نکاح د ده سره کوي او په دواړو کي به هیڅ مهر نه |

وي .(بخاري او مسلم) او د مسلم په یو بل روایت کي دي چې په اسلام کي شغار جائز نه دی .

**د متعه منع**

| | |
|---|---|
| (۳۰۱۳): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ . متفق عليه. | د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د خیبر په ورځ د ښځو سره د متعه (عارضي نکاح) کولو څخه او د کورو د خرو د غوښو خوړلو څخه منعه کړې ده . (بخاري او مسلم) |
| (۳۰۱۴): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ أَوْطَاسٍ فِي الْمُتْعَةِ ثَلَاثًا ثُمَّ نَهٰى عَنْهَا .رواه مسلم . | د حضرت سلمه بن اکوع ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د جنګ اوطاس په کال یوازې د درو ورځو لپاره د متعې (عارضي نکاح) اجازت |

ور کړې وه بیا يې منعه ځيني وفرمایل .(مسلم).

## دویم فصل

**د نکاح خطبه**

| | |
|---|---|
| (۳۰۱۵): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ عَلَّمَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلتَّشَهُّدُ فِي الصَّلٰوةِ وَالتَّشَهُّدُ فِي الْحَاجَةِ قَالَ اَلتَّشَهُّدُ فِي الصَّلٰوةِ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ | د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته د لمونځ کولو تشهد او د حاجت او ضرورت په موقع تشهد را وښودی په لمانځه کي خو د تشهد لوستل دادي : التحيات لله والصلوة والطيبات السلام عليك |

أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَالتَّشَهُّدُ فِي الْحَاجَةِ أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ثُمَّ يَقْرَأُ ثَلَاثَ آيَاتٍ { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ } { يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا } { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا }. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي و في جامع الترمذي فسر الايات الثلث سفيان الثوري و زاد ابن ماجة بعد قوله ان الحمدلله نَحمده و بعد قوله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا والدارمي بعد قوله عظيما ثم يتكلم بحاجته و روى في شرح السنة عن ابن مسعود في خطبة الحاجة من النكاح وغيره .

ايهاالنبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده ورسوله او د حاجت په وخت كي تشهد دادي : الحمدلله نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادي له و اشهد ان لا اله الا الله واشهدان محمدا عبده ورسوله او د دې څخه وروسته به نبي كريم ﷺ دا درې آياتونه لوستل : ( ياايها الذين امنوا اتقوا الله حق تقته و لا تموتن الا و انتم مسلمون ، يايها الذين امنوا اتقوا الله الذي تساءلون به و الارحام ان الله كان عليكم رقيبا ، يا ايها الذين امنوا اتقوا الله وقولو قولا سديدا يصلح لكم اعمالكم ويغفرلكم ذنوبكم و من يطع الله ورسوله فقد فاز فوزا عظيما). (احمد ترمذي ابو داؤد نسائي ابن ماجه دارمي )او په جامع ترمذي كي د درو اياتو تفسير سفيان ثوري وكړ ابن ماجه په خپل روايت كي : ان الحمد : څخه وروسته د نحمده : لفظ زيات كړى دي او من شرور انفسنا څخه وروسته يې و من سيئات اعمالنا الفاظ زيات كړى دى او دارمي عظيما څخه وروسته ليكلي دي چي د دې څخه وروسته دې د خپل حاجت بيان وكړي او په شرح السنة كي د ابن مسعود څخه دا تشهد د نكاح په خطبه كي نقل سوې دى .

### د خطبې پرته نكاح بې بركته وي

(٣٠١٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ خُطْبَةٍ لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په كومه نكاح كي چي خطبه

فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

(يعني د خداي تعالي حمد وثنا) و نه ويل سي هغه داسي نكاح ده لكه پرهكرى لاس. (يعني بيكاره). (ترمذي كي دا حديث حسن غريب گڼل سوى دى) .

(٣٠١٧): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَا يُبْدَأُ فِيهِ بِالْحَمْدِ فَهُوَ أَقْطَعُ . رواه ابن ماجة.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم مهم او شانداره كار چي د خداي ﷻ د حمد او ثنا څخه پرته پيل سي هغه كار بې بركته دى . (ابن ماجه)

## د نكاح اعلان كول مستحب دى

(٣٠١٨): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلِنُوا هٰذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د بي بي عائشي رض څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د نكاح اعلان كوئ او نكاح په مسجدو كي ترئ او دف (دريه) ورباندي وهئ. (په ترمذي كي دا حديث غريب دى)

(٣٠١٩): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ الْجُمَحِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَرَامِ وَالْحَلَالِ الصَّوْتُ وَالدُّفُ فِي النِّكَاحِ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة .

د حضرت محمد بن حاطب الجمحي ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د حلال او حرام مال په مينځ كي د اعلان كولو او دريي وهلو فرق دى (يعني د نكاح اعلان كول د حلال او حرام په مينځ كي فرق ظاهروي) (احمد ترمذي نسائي ابن ماجه) .

## په واده كي د سندرو اجازه

(٣٠٢٠): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ عِنْدِيْ جَارِيَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ زَوَّجْتُهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ أَلَا تُغَنِّيْنَ ؟ فَإِنَّ هٰذَا الْحَيَّ مِنَ الْأَنْصَارِ يُحِبُّوْنَ الْغِنَاءَ . رواه ابن حبان في صحيحه

د بي بي عائشي رض څخه روايت دى چي زما سره يوه انصاري انجلۍ وه ما د هغې نكاح وكړه نو رسول الله ﷺ وفرمايل: اي عائشي! ايا ته غزلي نه پر وايې ؟ د انصارو قوم خو غزلي ويل ډيري خوښوي .(صحيح ابن حبان)

(٣٠٢١): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنْكَحَتْ عَائِشَةُ ذَاتَ قَرَابَةٍ لَهَا مِنَ الْأَنْصَارِ فَجَاءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت ابن عباس څخه روايت دى چي بي بي عائشي رض د يوي شريكي انصاري ښځي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَهْدَيْتُمُ الْفَتَاةَ قَالُوا نَعَمْ قَالَ أَرْسَلْتُمْ مَعَهَا مَنْ يُغَنِّي قَالَتْ لَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْأَنْصَارَ قَوْمٌ فِيهِمْ غَزَلٌ فَلَوْ بَعَثْتُمْ مَعَهَا مَنْ يَقُولُ أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ . رواه ابن ماجة.

نكاح وترله نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې وفرمايل: آيا انجوني مو ورليږلي دي؟ عرض يې وكړ هو! نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تا ورسره څوك غزلي والا هم ليږلي دي؟ عرض يې وكړ يا! نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د انصارو داسي قوم دئ چي دغزلو شوقيان دئ كاشكي چي تاسو د هغوئ سره يو څوك ليږلي واى چي غزلي يې ويلي واى ا موږ تاسو ته راغلي يو موږ تاسو ته راغلي يو خداي تعالي دي تاسو هم سلامت لري او موږ هم. (ابن ماجه)

**په دوو نكاحو كي اوله نكاح صحيح ده**

(۳۰۲۲): وَعَنْ سَمُرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ فَهِيَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا وَمَنْ بَاعَ بَيْعًا مِنْ رَجُلَيْنِ فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والدارمي.

د حضرت سمره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كومي ښځي نكاح چي دوه وليان ور وتړي نو هغه ښځه د هغه ده چاسره چي يې اول نكاح سوې وي او كوم دوه سړيان چي د دوو سړو په لاس څه شى خرڅ كړي نو هغه د اولني خريدار دى (يعني دوئمه يا وروسته نكاح باطله ده او دغسي دويمه بيع). (ترمذي ابو داؤد نسائي دارمي).

## دريم فصل

**متعه د اسلام په پيل كي جائز وه**

(۳۰۲۳): عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كُنَّا نَغْزُو مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ مَعَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا أَلَا نَخْتَصِي فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ ثم رخص لنا ان نستمتع فكان احدنا ينكح المراة بالثوب الى احل قرء عبدالله { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ } . متفق عليه.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي موږ په جهاد كي د رسول الله ﷺ سره تلو او زموږ سره به ښځې نه وې موږ عرض وكړ ايا موږ خانونه خصيان كړو؟ نبي كريم ﷺ موږ د دې څخه منعه كړو او بيائي د متعې اجازت راكړ په موږ كي به څينو خلكو د جامو په بدل كي متعه (عارضي نكاح) كوله د دې څخه وروسته حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دا ايت ولوستي: يا

ایها الذین ...... لکم «اې مؤمنانو ؛ کوم پاك شیان چې الله تعالي در ته حلال کړی وی هغه مه حراموئ ». «بخاري او مسلم».

﴿۳۰۲۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّمَا كَانَتْ الْمُتْعَةُ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ كَانَ الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْبَلْدَةَ لَيْسَ لَهُ بِهَا مَعْرِفَةٌ فَيَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ بِقَدْرِ مَا يَرَى أَنَّهُ يُقِيمُ فَتَحْفَظُ لَهُ مَتَاعَهُ وَتُصْلِحُ لَهُ شَيْئَهُ حَتَّى إِذَا نَزَلَتْ الْآيَةُ إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَكُلُّ فَرْجٍ سِوَاهُمَا فَهُوَ حَرَامٌ. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی د متعې جواز «جائز کېدل» د اسلام په پېل کې وو کله چې به یو څوك یو ښار ته ولاړ او هلته به یې د پېژندو څوك نه وه نو هلته به یې تر هغه مودې پورې واده وکړ تر څو پورې چې به هلته وو هغې ښځې به د هغه د سامان حفاظت کوی او هغه ته به یې غذا برابروله تر دې پورې چې دا ایت کریمه نازل سو : الا علی ازواجهم او ماملکت ایمانهم حضرت ابن عباس ﷺ وایي چې د دې ایت د نازلېدو څخه وروسته د نکاح سوی ښځو او مینځو څخه پرته نورې ټولې ښځې حرامې سوې .«ترمذي» .

## په واده کې د سندرو اجازه

﴿۳۰۲۵﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى قَرَظَةَ بْنِ كَعْبٍ وَأَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ فِي عُرْسٍ وَإِذَا جَوَارٍ يُغَنِّينَ فَقُلْتُ اي صاحبي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَهْلِ بَدْرٍ يُفْعَلُ هَذَا عِنْدَكُمْ فَقَالا اجْلِسْ إِنْ شِئْتَ فَاسْمَعْ مَعَنَا وَإِنْ شِئْتَ فَاذْهَبْ فانه قَدْ رُخِّصَ لَنَا فِي اللَّهْوِ عِنْدَ الْعُرْسِ. رواه النسائي.

د حضرت عامر بن سعد ﷺ څخه روایت دی چې زه یوه واده ته ورغلم او قرظه بن کعب ﷺ او ابو مسعود انصاري ﷺ سره مې ملاقات وکړ څو انجونو غزلې ویلې ما وویل : اې د رسول الله ﷺ دوه اصحابو ایا ستاسو په وړاندې بدر والا داسې کوي هغوئ راته وویل : کښېنه که دې زړه غواړي ته یې هم زموږ سره واوره او که دې خوښه وي بیرته ولاړ سه ځکه چې رسول الله ﷺ د واده په ورځ موږ ته د دې اجازه راکړې ده . «نسائي» .

# بَابُ الْمُحَرَّمَاتِ

## ( د هغه ښځو بیان چي نکاح ورسره حرامه وي )

## لومړی فصل

**د ښځي د عمه او خاله سره نکاح**

| | |
|---|---|
| (۳۰۲۶): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا . متفق علیه. | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د خپلي ښځي د عمه او خاله سره (د خپلي ښځي په موجودگي کي) نکاح نسي کېدای . (بخاري او مسلم) |

**د رضاعت ذکر**

| | |
|---|---|
| (۳۰۲۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ . رواه البخاري. | د بي بي عائشي رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د نسب په خاطر حرام وي هغه په رضاعت (تی رودل) کي هم حرام وی |

(یعني د چا سره چي نکاح د نسب په خاطر حرامه وی همداسي په تی رودلو سره هم حرامیږي). (بخاري) .

| | |
|---|---|
| (۳۰۲۸):وَعَنْهَا قَالَتْ جَاءَ عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيَّ فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ إِنَّهُ عَمُّكِ فَأْذَنِي لَهُ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ عَمُّكِ فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ وَذَلِكَ بَعْدَ أَنْ ضُرِبَ عَلَيْنَا الْحِجَابُ . متفق علیه . | د بي بي عائشي رض څخه روایت دی زما د شودو د رودلو اکا راغی ما ورته وویل تر څو پوري چي ما د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه نه یې کړې تا ته د ننه راتلو اجازت نه درکوم رسول الله ﷺ تشریف راوړ نو ما څیني پوښتنه وکړه نبي کریم ﷺ راته وفرمایل : دا خو ستا اکا دی د راتلو اجازت به دي ورکړی وای ما عرض و کړ یا رسول الله ﷺ ما ته خو یوې ښځي شیدي را کړي دي سړی خو را باندي نه دي چښلي |

نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل هغه ستا اکا دي هغه ته د ننه راتلو اجازت ورکوه دا واقعه د هغه وخت ده چي د پردې احکام نافذ سوي وه (بخاري اومسلم).

**د رضعي وروړي سره نکاح حرامه ده**

(۳۰۲۹): وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّهُ قَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ هَلْ لَكَ فِيْ بِنْتِ عَمِّكَ حَمْزَةَ فَاِنَّهَا اَجْمَلُ فَتَاةٍ فِيْ قُرَيْشٍ فَقَالَ لَهُ اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ حَمْزَةَ اَخِيْ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَاَنَّ اللهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا حَرَّمَ مِنَ النَّسَبِ . رواه مسلم .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ! ايا تاسو د خپل اکا حمزه ﷺ د لور سره نکاح نه کوئ؟ هغه د قريشو يو ښائسته انجلۍ ده نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې علي! تا ته معلومه نه ده چي حمزه ﷺ زما رضعي ورور دی او خداي تعالي چي کوم شيان د نسب په وجه حرام کړي دي هغه يې د رضاعت د لحاظه هم حرام کړي دي. (مسلم).

**د رضاعت مقدار**

(۳۰۳۰): وَعَنْ اُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ اَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ اَوِ الرَّضْعَتَانِ وَفِيْ رِوَايَةِ عَائِشَةَ قال لاَ تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَالْمَصَّتَانِ وَ فِيْ اُخْرٰى لِاُمِّ الْفَضْلِ قَالَ لاَ تُحَرِّمُ الْاِمْلَاجَةُ وَالْاِمْلَاجَتَانِ. هذه روايات لمسلم .

د حضرت ام فضل ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو يا دوه واره تی رودل نکاح نه حراموي د بي بي عائشي رض په روايت کي دا الفاظ دی چي يو يا دوه واره د تی رودل نکاح نه حراموي د ام فضل ﷺ په روايت کي دی د ښځي په تی باندي يو يا دوه واره ژهلو سره نکاح نه حراموي دا دري واړه روايونه د مسلم دی.

(۳۰۳۱): وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِيمَا اُنْزِلَ مِنَ الْقُرْاٰنِ عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُوْمَاتٍ يُحَرِّمْنَ ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُوْمَاتٍ فَتُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ فِيمَا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْاٰنِ . رواه مسلم .

د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي په قرانکريم کي دا حکم نازل سوی دی چي په لس واره شيدو رودلو سره چي کله د هغې د چښلو پوره يقين وي نو نکاح حراميږي بيا دا حکم منسوخ سو او پنځه واره د شيدو رودلو حکم نازل سو د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفات سو او د دې ايت شريف په قرانکريم کي تلاوت کېدی. (مسلم).

**د رضاعت د مدت وروسته په شيدو رودلو سره حرمت نه ثابتيږي**

(۳۰۳۲): وَعَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا رَجُلٌ فَكَاَنَّهُ كَرِهَ ذَالِكَ فَقَالَتْ اِنَّهُ اَخِيْ فَقَالَ انْظُرْنَ مَنْ اِخْوَانُكُنَّ فَاِنَّمَا الرَّضَاعَةُ

د بي بي عائشي رض څخه روايت دی يوه ورځ رسول الله ﷺ په خپله تشريف راوړ هغه وخت د هغې سره يو سړی ناست وو نبي کريم ﷺ خو دا خبره ښه ونه ګڼله ما عرض وکړ دا زما رضعي

مِنَ الْمَجَاعَةِ . متفق عليه.

وروَر دی نبي کریم ﷺ وفرمایل: فکر و کړه ستا وروَر څوك کېدای سي ؟ د شیدو د چښلو اعتبار د لوږي په وخت دی (یعني د شیدو د چښلو احکام هغه وخت جاري کېدای سي چي کله د لوږي د غذا په وخت کي يې شيدې چښلي وي او شیدي يې غذا وي). (بخاري او مسلم).

## د رضاعت د ثبوت لپاره شاهدي

(۳۰۳۳): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ: إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ بِهَا فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ قد أَرْضَعْتِنِي وَلَا أَخْبَرْتِنِي فَأَرْسَلَ إِلَى الِ أَبِي إِهَابٍ فَسَأَلَهُمْ فَقَالُوْا مَا عَلِمْنَا أَرْضَعَتْ صَاحِبَتَنَا فَرَكِبَ إِلَى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ . رواه البخاري.

د حضرت عقبه بن حارث رضي الله عنه څخه روایت دی چي هغه د ابو اهاب بن عزیز د لور سره نکاح وکړه بیا یوه ښځه راغله او ویې ویل: چي عقبه او د ابو اهاب ولور ته ما تی ورکړی دي عقبه هغې ته وویل: زما په یاد نه دی چي تا ماته شیدې را کړی دي او نه دي پخوا ما ته د دې خبر راکړی دی بیا عقبه یو سړی د ابو اهاب کورنۍ ته د حال د معلومولو لپاره و لېږی هغوئ موږ ته وویل: دا معلومه نه ده چي دې انجلۍ ته دې ښځي تی ورکړی دی عقبه رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته مدینې منورې ته ورغی او واقعه يې ورته بیان کړه نبي کریم ﷺ ور ته وفرمایل: ته دا څنګه (په خپله نکاح کي ساتلای سی ؟) کله چي دا خبره وسوه نو عقبه هغه ښځه د خانه څخه جلا کړه او هغې د بل سړی سره نکاح وکړه. (بخاري).

## د دار الحرب د بندي ښځي سره نکاح

(۳۰۳۴): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ بَعَثَ جَيْشًا إِلَى أَوْطَاسَ فَلَقُوا عَدُوًّا فَقَاتَلُوهُمْ فَظَهَرُوا عَلَيْهِمْ وَأَصَابُوا لَهُمْ سَبَايَا فَكَأَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّجُوا مِنْ غِشْيَانِهِنَّ مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي ذَلِكَ { وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ

د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د حنین په جګړه کي (یو اسلامي) لښکر اوطاس لور ته ولېږی هغه د دښمن سره و جنګېدی او ور باندي غالب سوه او غلامان او مینځي يې و نیولې د رسول الله ﷺ اصحابو کرامو په دې خیال چي د دې مینځو مشرك خاوندان سته نو هغوئ د مینځو سره کوروالي و نه کړه په دې اره دا ایت نازل سو :

أَيْمَانُكُمْ} أَيْ فَهُنَّ لَكُمْ حَلَالٌ إِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ . رواه مسلم .

والمحصنت ........ايمانكم. (په تاسو هغه ښځې حرامي نه دي چې د هغو تاسو مالکان یاست او تاسو په جګړه کې نیولې دي) یعني کله چې د مینځو د عدت ورځې پوره سي نو هغوئ ستاسو لپاره حلالي دي. (مسلم)

## دويم فصل

### هغه ښځي چي په يو وخت کي په نكاح كول منع دي

(٣٠٣٥): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوْ الْعَمَّةُ عَلَى ابْنَةِ أَخِيهَا أَوْ الْمَرْأَةُ عَلَى خَالَتِهَا أَوْ الْخَالَةُ عَلَى بِنْتِ أُخْتِهَا وَلَا تُنْكَحُ الصُّغْرَى عَلَى الْكُبْرَى وَلَا الْكُبْرَى عَلَى الصُّغْرَى . رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي والنسائي و روايته الى قوله بنت اختها.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دې څخه منعه فرمايلې ده چي عمه د وريرې سره يا د وريرې سره خاله نكاح جمع كړل سي او د خاله سره يې د خورزې جمع كولو څخه (يعني خاله او خورزه يو ځاى په نكاح ساتلو څخه) او دا چي د كشري د دوستي په موجودوالي کي د مشري سره د دوستي. او د مشري په موجودوالي کي د کشري سره نکاح نسي کولای. (ترمذي ابو داؤد دارمي نسائي).

### د پلار د مايني سره نكاح كول حرا م دي

(٣٠٣٦): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ مَرَّ بِي خَالِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ وَمَعَهُ لِوَاءٌ فَقُلْتُ أَيْنَ تذهب قَالَ بَعَثَنِي النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةَ أَبِيهِ آتِيَهُ بِرَأْسِهِ .رواه الترمذي وابوداؤد و في رواية له وللنسائي وابن ماجة والدارمي فامرني ان اضرب عنقه واخذ ماله وفي هذه الرواية قال عمي بدل خالي .

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دی چي زما ماما ابو برده بن نيار زما سره تېر سو د هغه په لاس کي بيرغ يا نشان وو ما ځيني پوښتنه وكړه چي ته چيري ځې؟ هغه را ته وويل يو سړي د خپل پلار د ښځي سره نكاح كړېده رسول الله ﷺ ما ته د هغه د سر پرېكېدو امر راكړی دی. (ترمذي ابو داؤد) او د ابو داؤد نسائي ابن ماجه او دارمي په روايتو کي دا الفاظ دي رسول الله ﷺ ما ته حكم راكړی دي چي زه د هغه غاړه ووهم او د هغه مال راوړم او په دې روايت کي د «خالي» پر ځاي «عمي» دی.

**د رضاعت د مدت تېرېدو وروسته په شېدو څښلو سره حرمت نه ثابتېږي**

| | |
|---|---|
| (۳۰۳۷): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعِ إِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ فِي الثَّدْيِ وَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ . رواه الترمذي. | د بي بي ام سلمه رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په رضاعت کې یوازې هغه رضاعت نکاح حراموي چې کوچنی د |

شېدو د پرېښېدو څخه وړاندې (د شېدو رودلو په وخت کې) شېدې وخېښې (هغه وخت چې شېدې د هغه غذا وی). (ترمذي)

**د رضاعت حق ادا کول**

| | |
|---|---|
| (۳۰۳۸): وَعَنْ حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ الْأَسْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قال يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرَّضَاعِ فَقَالَ غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والدارمي . | حضرت حجاج بن حجاج اسلمي ؓ د خپل پلار څخه روایت کوي چې هغه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ هغه کوم شی دی چې د شېدو د څښلو حق ادا کوي ؟ نبي کریم ﷺ |

ورته وفرمایل: شېدو رودونکي ته غلام یا مینځه ورکول په دې سره د هغې د رضاعت د خدمت حق ادا کېږي. (ترمذي ابوداؤد نسائي دارمي).

**د رسول الله ﷺ د رضعي مور تعظیم او تکریم**

| | |
|---|---|
| (۳۰۳۹): وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ الْغَنَوِيِّ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَقْبَلَتْ امْرَأَةٌ فَبَسَطَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِدَاءَهُ حَتّٰى قَعَدَتْ عَلَيْهِ فَلَمَّا ذَهَبَتْ قِيلَ هٰذِهِ أَرْضَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو طفیل غنوي ؓ څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر وم یوه ښځه (یعني بي بي حلیمه رض د نبي کریم ﷺ دایي) راغله نبي کریم ﷺ ورته خپل پټو هوار کړ او هغه په پټو باندي کښېنستل نو هغو خلکو ته |

(چې د نبي کریم ﷺ په دې احترام حیران وه) وښودل سوه کله چې هغه ولاړه چې دې ښځې د نبي کریم ﷺ ته شېدې ورکړي وی (د سینې شېدې ورکړی وی). (ابو داؤد).

**تر څلورو زیاتي ښځې ناجائز دي**

| | |
|---|---|
| (۳۰۴۰): وعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكْ أَرْبَعًا وَفَارِقْ سَائِرَهُنَّ . | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چې غیلان د سلمه ثقفي زوی مسلمان سو د جاهلیت په زمانه کې د هغه په نکاح کې لس ښځې وی هغه هم مسلماني سوې نبي کریم ﷺ هغه ته وفرمایل: په دې کې څلور ښځې |

رواه أحمد والترمذي وابن ماجه | وساته او نوري د خانه ښځه جلا کړه. (احمد ترمذي ابن ماجه)

(۳۰۴۱): وَعَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ أَسْلَمْتُ وَتَحْتِيْ خَمْسُ نِسْوَةٍ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ فَارِقْ وَاحِدَةً وَأَمْسِكْ أَرْبَعًا فَعَمَدْتُ إِلَى أَقْدَمِهِنَّ صُحْبَةً عِنْدِيْ عَاقِرٍ مُنْذُ سِتِّيْنَ سَنَةً فَفَارَقْتُهَا. رواه في شرح السنة

د حضرت نوفل بن معاويه ﷺ ښځه روايت دی کوم وخت چې زه مسلمان سوم زما پنځه ښځي وی ما د رسول الله ﷺ ښځه پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ را ته وفرمايل: يوه ښځه د خانه ښځه جلا کړه او نوري څلور وساته نو ما د تولو ښځه اولني ښځه چې تر شپېتو کالو پوري وچه وه ما د خانه جلا کړه (شرح السنة).

**د دوو خوېندو سره په يو وار نکاح کول منع دي**

(۳۰۴۲): وَعَنِ الضَّحَّاكِ ابْنِ فَيْرُوزَ الدَّيْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّي أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي أُخْتَانِ قَالَ اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة.

حضرت ضحاك بن فيروز ديلمي ﷺ د خپل پلار ښځه روايت کوي چې هغه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! ما اسلام قبول کړی دی او زما په نکاح کي دوې خوندي دی نبي کريم ﷺ ور ته وفرمايل: په دوارو کي يوه خوښه کړه (او بله د خان ښځه جلا کړه). (ترمذي ابو داؤد ابن ماجه).

**په کافر ښځي او خاوند کي که يو اسلام قبول کړي نو نکاح قائمه ده که يا؟**

(۳۰۴۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَسْلَمَتِ امْرَأَةٌ فَتَزَوَّجَتْ فَجَاءَ زَوْجُهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ قَدْ أَسْلَمْتُ وَعَلِمَتْ بِإِسْلَامِيْ فَانْتَزَعَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَوْجِهَا الْآخَرِ وَرَدَّهَا إِلَى زَوْجِهَا الْأَوَّلِ وَفِيْ رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّهَا أَسْلَمَتْ مَعِيْ فَرَدَّهَا عَلَيْهِ. رواه أبو داود، وَرُوِيَ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ أَنَّ جَمَاعَةً مِنَ النِّسَاءِ رَدَّهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنِّكَاحِ الْأَوَّلِ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ عِنْدَ اجْتِمَاعِ الْإِسْلَامَيْنِ بَعْدَ اخْتِلَافِ الدِّيْنِ وَالدَّارِ مِنْهُنَّ بِنْتُ الْوَلِيْدِ بْنِ مُغِيْرَةَ كَانَتْ تَحْتَ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ فَأَسْلَمَتْ يَوْمَ الْفَتْحِ

د حضرت ابن عباس ﷺ ښځه روايت دی يوه ښځه مسلمانه سوه او هغې نکاح وکړه او د هغې اولنی خاوند د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ يا رسول الله! زه مسلمان سوی يم او زما ښځي ته زما د مسلمان کېدو خبر نه وو معلوم (او بيا هغې د دويم سړي سره نکاح وکړه) نبي کريم ﷺ هغه ښځه د دويم خاوند ښځه جلا کړه او اولني خاوند ته يې حواله کړه. (ابوداؤد) او په شرح السنة کي ليکلي دی چې نبي کريم ﷺ ديري ښځي د هغوئ خاوندانو ته وسپارلې کله چې دواړه مسلمان سوی وه په دې ښځو کي يوه د وليد بن مغيره

وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ فَبَعَثَ إِلَيْهِ ابْنَ عَمِّهِ وَهْبَ بْنَ عُمَيْرٍ بِرِدَاءِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَانًا لِصَفْوَانَ فَلَمَّا قَدِمَ جَعَلَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْيِيْرَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ حَتّٰى أَسْلَمَ فَاسْتَقَرَّتْ عِنْدَهُ وَأَسْلَمَتْ أُمُّ حَكِيْمٍ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ امْرَأَةُ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِيْ جَهْلٍ يَوْمَ الْفَتْحِ بِمَكَّةَ وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ حَتّٰى قَدِمَ الْيَمَنَ فَارْتَحَلَتْ أُمُّ حَكِيْمٍ حَتّٰى قَدِمَتْ عَلَيْهِ الْيَمَنَ فَدَعَتْهُ إِلَى الْإِسْلَامِ فَأَسْلَمَ فَثَبَتَا عَلٰى نِكَاحِهِمَا . رواه مالك عن ابن شهاب مرسلا

لور وه چي د صفوان بن اميه ښځه وه دا ښځه د مکې د فتحې په ورځ مسلمانه سوه او د هغې خاوند د اسلام څخه تښتېدلی وکړه نبي کريم ﷺ د هغې خاوند ته د هغه د اکا زوی وهب بن عمير وليږی او د نبي په ډول يې خپل پټوورکړ او هغه ته يې د امن اطلاع ورکړه کوم وخت چي صفوان په خدمت نبوي کي شامل سو نو هغه ته يې څلور مياشتي امان ورکړ چي هغه په ابادیو کي وګرځي او د مسلمانانو حالت وګوری تر دې چي صفوان مسلمان سو نو ښځه ورسره پاته سوه دويمه ښځه د حارث بن هشام لور ام حکيم وه چي د عکرمه (د ابو جهل د زوی) ښځه وه دا هم د مکې دفتحې په ورځ مسلمانه سوې ده او د دې خاوند د اسلام څخه و تښتېد اخير عکرمه چي يمن ته ورسيدې نو ام حکيم و هغه ته ورغله او هغه ته يې د اسلام هدايت وکړ هغه مسلمان سو او د دواړو نکاح برقراره پاته سوه . (دا حديث مالك د ابن شهاب څخه مرسلا ذکر کړی دی) .

## دريم فصل

### محرمات څوک دي؟

(٣٠٤٤): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حُرِّمَ مِنَ النَّسَبِ سَبْعٌ وَمِنَ الصِّهْرِ سَبْعٌ ثُمَّ قَرَأَ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ الآية . رواه البخاري

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د نسب د نکاح په وجه د اوو قسمو ښځو سره نکاح کول حرامه ده او د نکاح په ذريعه چي کومه رشته او قرابت قائم وي د هغه سره هم د اوو ښځو نکاح کول حرامه ده بيا هغه دا ايت ولوست حرمت عليکم امهاتکم الاية (بخاري) .

### د ښځې د لور سره نکاح منع ده

(٣٠٤٥): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهٖ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روايت کوي چي رسول الله

رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَدَخَلَ بِهَا فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ ابْنَتِهَا وَإِنْ لَمْ يدخل بِهَا فَلْيَنْكِحْ ابْنَتَهَا وَأَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَلَا يَحِلُّ لَهُ ان ينكح أُمَّهَا دَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ . رواه الترمذي وقال هذا حديث لا يصح من قبل اسناده انما رواه ابن لهيعة والمثنى ابن الصباح عن عمرو بن شعيب و هما يضعفان في الحديث .

ﷺ وفرمايل : څوك چې د يوې ښځې سره نكاح وكړي بيا د هغې سره بستر سي نو هغه لپاره د هغې دلور سره نكاح كول حرامه ده (يعني د هغې د لور سره چې د هغې د نكاح كولو څخه مخكې د بل خاوند څخه وي) او كه يې د هغې سره كوروالي نه وي كړى نو د هغې د وفات يا طلاق وروسته د هغې د لور سره نكاح كول جائز ده او څوك چې د يوې ښځې سره نكاح وكړي نو د هغې د مور سره نكاح كول حرامه ده كه څه هم د هغې سره يې صحبت كړى وي يا يې نه وي كړى . (ترمذي) او په ترمذي كې دا حديث د اسناد د اعتباره دا حديث مستند نه دى د ابن لهيعه او مثنى بن صباح عمرو بن شعيب څخه روايت كړى دى په حديث شريف كې دواړه راويان ضعيفه دي .

## بَابُ الْمُبَاشَرَةِ (د كوروالى بيان)

### لومړى فصل

**د مباشرت په اړه د يهودو يو غلط خيال**

(٣٠٤٦): عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَتْ الْيَهُودُ تَقُولُ إِذَا أَتَى الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ مِنْ دُبُرِهَا فِيْ قُبُلِهَا كَانَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ فَنَزَلَتْ { نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ } . متفق عليه

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چې يهوديانو به ويله څوك چې د ښځې د شا په طرف كې د شرمگاه مخكښې برخه يعني فرج كې جماع وكړي نو د هغې كوچنى چپك پيدا كيږي په دې خبره دا ايت نازل سو نساؤكم ....... انى شئتم . (ستاسو ښځې ستاسو پټي دي تا سو ته اختيار دى (چې هغوئ د شرمگاه په مخكښې برخه كې) څنگه چې غواړئ ورسره كوروالي وكړئ . (بخاري او مسلم).

**د عزل مسئله**

(٣٠٤٧): وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ متفق عليه و زاد مسلم فَبَلَغَ ذَالِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَنْهَنَا .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چې موږ به عزل (د عزل صورت دادى چې كوروالي د ښځې سره وسي كله چې مني خالي كيږي نو ذكر را ايستل او مني د باندې خارجول) كوئ او قرانكريم به نازلېدى . (بخاري او مسلم) او د مسلم په

رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَدَخَلَ بِهَا فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ ابْنَتِهَا وَإِنْ لَمْ يدخل بِهَا فَلْيَنْكِحْ ابْنَتَهَا وَأَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَلَا يَحِلُّ لَهُ ان ينكح أُمَّهَا دَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث لا يصح من قبل اسناده انما رواه ابن لهيعة والمثنى ابن الصباح عن عمرو بن شعيب و هما يضعفان في الحديث.

ﷺ وفرمايل: څوك چي د يوې ښځي سره نكاح وكړي بيا د هغې سره بستر سي نو هغه لپاره د هغې دلور سره نكاح كول حرامه ده (يعني د هغې د لور سره چي د هغې د نكاح كولو څخه مخكي د بل خاوند څخه وي) او كه يې د هغې سره كوروالي نه وي كړى نو د هغې د وفات يا طلاق وروسته د هغې د لور سره نكاح كول جائز ده او څوك چي د يوې ښځي سره نكاح وكړي نو د هغې د مور سره نكاح كول حرامه ده كه څه هم د هغې سره يې صحبت كړى وي يا يې نه وي كړى. (ترمذي) او په ترمذي كي دا حديث د اسناد د اعتباره دا حديث مستند نه دى د ابن لهيعه او مثنى بن صباح عمرو بن شعيب څخه روايت كړى دى په حديث شريف كي دواړه راويان ضعيفه دي.

# بَابُ الْمُبَاشَرَةِ (د كوروالي بيان)

## لومړى فصل

### د مباشرت په اړه د يهودو يو غلط خيال

(۳۰۴۶): عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَتْ الْيَهُودُ تَقُولُ إِذَا أَتَى الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ مِنْ دُبُرِهَا فِي قُبُلِهَا كَانَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ فَنَزَلَتْ { نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ } . متفق عليه

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي يهوديانو به ويله څوك چي د ښځي د شا په طرف كي د شرمگاه مخكني برخه يعني فرج كي جماع وكړي نو د هغې كوچنى چپك پيدا كيږي په دې خبره دا ايت نازل سو نساؤكم ....... انى شئتم. (ستاسو ښځي ستاسو پټي دي تا سو ته اختيار دى (چي هغوئ د شرمگاه په مخكنئ برخه كي) څنگه چي غواړئ ورسره كوروالي وكړئ. (بخاري او مسلم).

### د عزل مسئله

(۳۰۴۷): وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ متفق عليه و زاد مسلم فَبَلَغَ ذَالِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَنْهَنَا .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ به عزل (د عزل صورت دادى چي كوروالي د ښځي سره وسي كله چي مني خالي كيږي نو ذكر را ايستل او مني د باندې خارجول) كوو او قرانكريم به نازلېدى. (بخاري او مسلم) او د مسلم په

یو روایت کي دا الفاظ دي چي نبي کریم ﷺ ته دا (زموږ عزل کول) معلوم وه او نبي کریم ﷺ موږ د دې څخه نه یو منعه کړی.

(۳۰۴۸): وَعَنْهُ قَالَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ لِي جَارِيَةً هِيَ خَادِمَتُنَا وَأَنَا أَطُوفُ عَلَيْهَا وَ أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ فَقَالَ اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا فَلَبِثَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ الْجَارِيَةَ قَدْ حَبِلَتْ فَقَالَ قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ زما سره یوه مینځه ده چي زموږ خدمت کوي زه د هغې سره کوروالي کوم مګر زه دا نه خوښوم چي هغه حامله سي نبي کریم ﷺ وفرمایل: که ته غواړې نو عزل کوه او کوم شی چي په تقدیر کي سوی وي هغه به ضرور پیدا کیږي هغه سړی ولاړ او تر ډیرو ورځو پوري را نغی بیا هغه حاضر سو عرض یې وکړ چي هغه ښځه حامله سوې ده نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ما پخوا لا خبر کړی یې چي کوم شی مقرر وي هغه به ضرور پیدا کیږي. (مسلم).

(۳۰۴۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ فَاشْتَهَيْنَا النِّسَاءَ وَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ وَأَحْبَبْنَا الْعَزْلَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَعْزِلَ وَقُلْنَا نَعْزِلُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ مَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ. متفق عليه.

د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دی چي د بنی مصطلق په جګړه کي موږ نبي کریم ﷺ سره ولاړو او د عربو یو څو مینځي زموږ په لاس کي راغلي زموږ و ښځو ته خواهش وسو او جره والي زموږ لپاره یو مشکل سو خو د ښځو سره مو په دې خیال جماع و نکړه چي حامله داره سي اخیر مو د عزل اراده وکړه وروسته مو سوچ وکړ چي کله رسول الله ﷺ دلته تشریف راوړی نو د هغه ﷺ څخه د پوښتني کولو پرته عزل کول مناسب نه دی موږ چي کله د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو یې راته وفرمایل: د عزل په پرېښولو کي ستاسو څه نقصان نسته خکه چي کوم نفس (بشر) د قیامته پوري پیدا کیدونکي دی هغه به ضرور پیدا کیږي. (بخاري او مسلم).

(۳۰۵۰): وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُونُ الْوَلَدُ وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ خَلْقَ شَيْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَيْءٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د عزل په باره کي پوښتنه وسوه نو نبي کریم ﷺ وفرمایل:

د منيو د ټولو اوبو څخه کوچنی نه پيدا کيږي (بلکه د دې لپاره يوه قطره هم کافي ده) او کله چې الله تعالي د يو شی د پيدا کولو اراده وکړي نو هيڅ شی هغه نسي منعه کولای. (مسلم).

(۳۰۵۱): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي أَعْزِلُ عَنِ امْرَأَتِي فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَ تَفْعَلُ ذٰلِكَ فَقَالَ الرَّجُلُ أُشْفِقُ عَلَى وَلَدِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ ذٰلِكَ ضَارًّا ضَرَّ فَارِسَ وَالرُّومَ. رواه مسلم.

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دی چې يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض يې وکړ چې زه د خپلې بي بي سره عزل کوم نبي کريم ﷺ ور څخه پوښتنه وکړه چې عزل ولې کوی؟ هغه وويل د خپل شېر خوار کوچني په وجه عزل کوم دا چې حمل و نسي او کوچني ته په شېدو رودلو کې تاوان پېښ نسي نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: که په دې (يعني د حمل په ورځو کې شيدو ور کولو کې تاوان وای نو د روم او فارس خلکو ته به يې خامخا تاوان رسولای (څکه چې هغوئ په دې عادت دي). (مسلم).

(۳۰۵۲): وَعَنْ جُذَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ قَالَتْ حَضَرْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ وَهُوَ يَقُولُ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ فَنَظَرْتُ فِي الرُّومِ وَفَارِسَ فَإِذَا هُمْ يُغِيلُونَ أَوْلَادَهُمْ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ ذٰلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَأَلُوهُ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ وَهِيَ { وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ }. رواه مسلم.

د بي بي جذامه بنت وهب رض څخه روايت دی چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوم نو نبي کريم ﷺ د خلکو يوې ډلی ته مخاطب سو چې ما اراده کړې وه چې خلک به د (غيله)، (غيله په دوو معنی ده ۱- يو خو داد چې د کوچني د شيدو رودلو په وخت کې د هغه د مور سره جماع کول او ۲- دا چې د حمل په وخت کې و کوچني ته تی ورکول چې دا به عربو بد ګڼل او ويل به يې دې باندي و کوچني ته تاوان رسوی)، څخه منعه کړم مګر کله چې ما وليدل چې د روم او فارس خلکو به د حمل په وخت کې غيله کوله او د غيلې په وجه و کوچني ته تاوان نه رسېدئ نو بيا ما خپله اراده پرېښودل وروسته خلکو د نبي کريم ﷺ څخه د عزل په اړه پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: عزل کول د کوچني د ښخولو پټ شکل دی او د دې ايت په مفهوم کې داخل دی واذاالموءودة سئلت (يعني کومه کوچنۍ چې ژوندی ښخ کړل سي او د هغې څخه به پوښتنه وسي). (مسلم).

### ښځي ته د راز خبرو ښوولو څخه منع

(۳۰۵۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دی

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان اعظم الامانة عند الله يوم القيامة وفي رواية إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللّٰهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا . رواه مسلم .

چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به د خداي تعالي په نظر هغه سړی ډیر خراب وي چي د خپلي بي بي سره کوروالي وکړي او د هغې پټ راز و نورو ته څرگند کړي (یعني کومي خبري چي تر پر دې شاته سوي وي یا کوم افعال او حرکات چي کړی وی د هغو بیان کوی) (مسلم)

## دویم فصل

**په حیض کي د کوروالی منع**

(٣٠٥٤): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أُوحِيَ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ} أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ وَاتَّقِ الدُّبُرَ وَالْحَيْضَةَ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چي پر رسول الله ﷺ باندي دا ایت نازل سو نسائکم .... حرثکم (یعني ښځي ستاسو کښت دی څنگه چي غواړی د هغوئ سره کوروالي وکړئ) (که د مخکني لور څخه دخول کوئ یا د وروسته طرفه څخه) البته د لویو بولو د ځاي د دخول څخه ځان وژغورئ او دحیض په وخت کي ور سره جماع مه کوئ. (ترمذي ابن ماجه دارمي)

(٣٠٥٥): وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَدْبَارِهِنَّ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت خزیمه بن ثابت ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالي د حق خبره د کولو څخه نه شرمیږي تاسو د ښځو سره د لویو بولو په ځاي کي کوروالي مه کوئ. (احمد ترمذي ابن ماجه دارمي)

**د ښځي سره د شاله خوا کوروالي کونکی ملعون دی**

(٣٠٥٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَلْعُونٌ مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا . رواه احمد وابوداؤد .

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خوك چي په مقعد (کونه) کي د ښځي سره بد کار کوي هغه لعنتي دی. (احمد ابو داؤد)

(٣٠٥٧): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الَّذِيْ يَأْتِيْ امْرَأَتَهُ فِيْ دُبُرِهَا-لاَ يَنْظُرُ

د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خوك چي د خپلي ښځي سره په

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ اِلَيْهِ . رواه في شرح السنة. | مقعد(كونه) كي جماع كوى خداي تعالي هغه ته |

د شفقت او د رحمت په سترگه نه گوري . (شرح السنة).

| | |
|---|---|
| (۳۰۵۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ اِلٰى رَجُلٍ اَتٰى رَجُلًا اَوْ امْرَاَةً فِي الدُّبُرِ . رواه الترمذي . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خداي تعالي هغه سري ته په د رحمت او شفقت نه گوري چي د نر يا |

ښځي سره په مقعد(كونه) كي جماع كوى . (ترمذي).

**د غيله منع**

| | |
|---|---|
| (۳۰۵۹): وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا تَقْتُلُوْا اَوْلَادَكُمْ سِرًّا فَاِنَّ الْغَيْلَ يُدْرِكُ الْفَارِسَ فَيُدَعْثِرُهُ عَنْ فَرَسِهِ . رواه ابوداؤد | د بي بي اسماء بنت يزيد رض څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دى چي تاسي خپل اولادونه په پټه سره |

مه قتلوئ (يعني غيله مه كوئ) ځكه چي غيله سپور كمزوره كوي او هغه د آس څخه غورځوي يعني د رضاعت په حالت كي استقرار د حمل سره كوچنى كمزوره كيږي او په ځوانئ كي دا كمزوري خپل اثر ښيي . (ابو داؤد).

## دريم فصل

**د عزل مشروط جواز**

| | |
|---|---|
| (۳۰۶۰): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُعْزَلَ عَنِ الْحُرَّةِ اِلَّا بِاِذْنِهَا . رواه ابن ماجة . | د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د يوي ازادي ښځي سره د جماع په وخت كي د ښځي د اجازت څخه بغير د عزل څخه منعه كړېده . (ابن ماجه) |

# بَابُ خیار الْمملکو کیْن

## ( مینځي ته د ازادۍ وروسته اختیار ورکول )

## لومړی فصل

مینځه د ازادۍ وروسته نکاح فسخ کولای سي

(۳۰۶۱): عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا فِيْ بَرِيْرَةَ خُذِيْهَا فَاعْتِقِيْهَا وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا فَخَيَّرَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا . متفق عليه .

حضرت عروه ﷺ د بي بي عائشي رض څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ د بریره په معامله کي هغې ته وفرمایل: ته دا واخله ازاده یې کړه د بریرې رض خاوند یو غلام وو کوم وخت چي هغه ازاده کړل سوه نو رسول الله ﷺ و هغې ته اختیارات ورکړه (یعني د خپل خاوند په نکاح کي پاته کیږي یا ځان ازادوي) بریرې رض ازادي خوښه کړه او د خاوند څخه جلا سوه که د هغې خاوند ازاد وای نو نبي کریم ﷺ هغې ته اختیار نه ور کوی (بخاري او مسلم).

(۳۰۶۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ زَوْجُ بَرِيْرَةَ عَبْدًا اَسْوَدَ يُقَالُ لَهُ مُغِيْثٌ كَاَنِّيْ اَنْظُرُ اِلَيْهِ يَطُوْفُ خَلْفَهَا فِيْ سِكَكِ الْمَدِيْنَةِ يَبْكِيْ وَدُمُوْعُهُ تَسِيْلُ عَلٰى لِحْيَتِهٖ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ يَا عَبَّاسُ اَلَا تَعْجَبُ مِنْ حُبِّ مُغِيْثٍ بَرِيْرَةَ وَمِنْ بُغْضِ بَرِيْرَةَ مُغِيْثًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ رَاجَعْتِيْهِ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ تَاْمُرُنِيْ قَالَ اِنَّمَا اَشْفَعُ قَالَتْ لَا حَاجَةَ لِيْ فِيْهِ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي د بریرې رض خاوند یو تور رنګه غلام وو او مغیث نو مېدی لکه هغه چي زه اوس هم وینم چي هغه د مدیني منورې په کوڅو کي په بریرې پسي ګرځېدی او د سترګو څخه یې اوښکي څڅېدلې او پر بیره یې پر هو تلې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ وفرمایل: اې عباس! ایا تا ته په دې تعجب نه دي چي مغیث ﷺ د بریرې رض سره څومره مینه کوله او بریرې رض د هغه څخه څومره نفرت کوی بیا نبي کریم ﷺ و بریرې ته وفرمایل: اې بریرې! کشکي تا رجوع کړې وای یعني د مغیث سره دې د دویم وار لپاره نکاح کړې وای! بریرې رض عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! ایا تاسو ما ته حکم را کوئ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: زه سفارش کوم بریرې رض عرض وکړ زه ده ته

ضرورت نه لرم یعني زه دده سره نکاح کول نه غوارم. (بخاري).

## دويم فصل

**مملوك ښځه او خاوند ازادول**

| | |
|---|---|
| (۳۰۶۳): عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تُعْتِقَ مَمْلُوكَيْنِ لَهَا زَوْجٌ فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهَا أَنْ تَبْدَأَ بِالرَّجُلِ قَبْلَ الْمَرْأَةِ . رواه ابوداؤد والنسائي . | د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې هغې د دوو غلامانو چې يو ښځه او بل يې خاوند وه د ازادولو اراده وکړه د نبي کريم ﷺ څخه يې پوښتنه وکړه نبي کريم ﷺ ورته امر وکړ چې اول |

سړی ازاد کړه بيا ښځه (چې ښځې ته د نکاح د فسخ کولو اختيار پاته نسي). (ابو داؤد نسائي).

**مينځې ته د نکاح اختيار**

| | |
|---|---|
| (۳۰۶۴): وَعَنْهَا أَنَّ بَرِيرَةَ عَتَقَتْ وَهِيَ عِنْدَ مُغِيثٍ فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَهَا إِنْ قَرِبَكِ فَلَا خِيَارَ لَكِ . رواه ابوداؤد. | د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې بريره رض په داسي حال کي ازاده سوه چې هغه دمغيث په نکاح کي وه نبي کريم ﷺ هغې ته د نکاح د ساتلو يا نه ساتلو اختيارات ورکړه او ورته يې وفرمايل: که ستا خاوند |

ستا سره جماع وکړي نو بيا تاته د نکاح د فسخ کولو اختيار نه پاته کيږي . ابو داؤد .

# بَابُ الصَّـــــدَاقِ (د مهر بيان)

## لومړی فصل

**د مهر کم از کم مقدار**

| | |
|---|---|
| (۳۰۶۵): عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَارَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي وَهَبْتُ نَفْسِي لَكَ فَقَامَتْ طَوِيلًا فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَارَسُولَ اللّٰهِ زَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ فِيهَا حَاجَةٌ فَقَالَ هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا قَالَ مَا عِنْدِي إِلَّا إِزَارِي هٰذَا قَالَ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ | د حضرت سهل بن سعد رض څخه روايت دی چې يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ زه خپل ځان و تاسو ته هبه کوم په دې ويلو سره هغه د جواب لپاره تر ډيره و درېده يو سړی را ولاړ سو او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ که ستاسو دې ته ضرورت نه وي نو نکاح يې زما سره وکړه |

فَالْتَمَسَ فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ قَالَ نَعَمْ سُوْرَةُ كَذَا وَسُوْرَةُ كَذَا فَقَالَ قَدْ زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، و في رواية قال انطلق فقد زوجتكها فعلمها من القرآن .متفق عليه.

نبي كريم ﷺ ور ځخه پوښتنه وكړه چي ايا ستا سره يې د ولور يو څه شی سته ؟ هغه عرض وكړ چي د دې لونګ څخه پرته (چي ما پر ځان اچولي دی) نور هيڅ راسره نسته نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ولاړ سه يو شی پيدا كړه كه څه هم

هغه د اوسپني ګوتمۍ وي د هغې تلاش وكړه مګر هغه هيڅ شی پيدا نكړ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا تا ته د قرانكريم څخه هم يو شی ياد نه دي ؟ هغه عرض وكړ چي فلاني فلاني سورتونه مي په ياد دي نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل څه چي دي د قرانكريم څخه په ياد دي د هغه په بدله كي مي ستا نكاح د دې ښځي سره وكړه او په يوه بل روايت كي راځي چي نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل ما ستا نكاح د دې سره وكړه ته دې ته قرانكريم ور زده كړه . (بخاري او مسلم).

**د ازواج مطهراتو د مهر مقدار**

(۳۰۶۶): وَعَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَمْ كَانَ صَدَاقُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ صَدَاقُهُ لِأَزْوَاجِهِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشٌّ قَالَتْ أَتَدْرِيْ مَا النَّشُّ قُلْتُ لَا قَالَتْ نِصْفُ أُوقِيَّةٍ فَتِلْكَ خَمْسُ مِائَةِ دِرْهَمٍ. رواه مسلم و نش بالرفع في شرح السنة في جميع الاصول .

د حضرت ابو سلمه ﷺ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې رض څخه پوښتنه وكړه چي د رسول الله ﷺ مهر څومره وو هغې راته وويل: د نبي كريم ﷺ مهر د خپلو بي بي ګانو لپاره دولس اوقيه او يو نش وو بيا بي بي عائشې رض وويل: په نش پوهېږې (چي څه ته وايي؟) ما ورته وويل چي يا نو هغې راته وويل :نيم اوقيه او ټول چي يو ځای سي نو پنځه

سوه درهمه سوه . (مسلم) د شرح السنه او د اصول په ټولو كتابو كي «نش» په پېښ (رفع) سره دی .

## دويم فصل

**د ډېر مهر منع**

(۳۰۶۷): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ أَلَا لَا تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا وَ تَقْوَى عِنْدَ اللهِ لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عَلِمْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دی چي يوه سړی اد ښځو درووند مهر مه ټاكئ كه ډېر مهر د بزرګئ او عظمت وجه وي او دخداي تعالي په نېزد د پرهېزګارۍ موجب وي نو رسول الله ﷺ د

| | |
|---|---|
| وَسَلَّمَ نَكَحَ شَيْئًا مِنْ نِسَائِهِ وَلَا أَنْكَحَ شَيْئًا مِنْ بَنَاتِهِ عَلَى أَكْثَرَ مِنْ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي . | دې زيات مستحق وو او ماته معلومه ده چې نبي كريم ﷺ د خپلو بي بي گانو او لور مهر دولس اوقيه څخه زيات نه دى ابښي. (احمد ترمذي ابو داؤد نسائي ابن ماجه دارمي) |

**د مهر لږ برخه سمدستي ورکول غوره دي**

| | |
|---|---|
| (٣٠٦٨): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْطَى فِي صَدَاقِ امْرَأَتِهِ مِلْءَ كَفَّيْهِ سَوِيقًا أَوْ تَمْرًا فَقَدْ اسْتَحَلَّ . رواه ابوداؤد. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم سړى چې د خپلې بي بي په مهر كې دواړه ډك لاسونه ستوان يا خرماوى وركړي |

نو هغه خپله بي بي په ځان حلاله كړه . (ابو داؤد) .

| | |
|---|---|
| (٣٠٦٩): وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي فَزَارَةَ تَزَوَّجَتْ عَلَى نَعْلَيْنِ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَضِيتِ مِنْ نَفْسِكِ وَمَالِكِ بِنَعْلَيْنِ قَالَتْ نَعَمْ فَأَجَازَهُ . رواه الترمذي. | د حضرت عامر بن ربيعه ﷺ څخه روايت دى چې د بني فزاره د قبيلې يوې ښځې په يوه جوړه څپلې سره د يوه سړي سره نكاح وكړه رسول الله ﷺ و هغې ته وفرمايل :ايا تا خپل ځان يوازې |

د دوو څپليو په بدله كې حواله كړ او په دې راضي سوې هغې وويل: چې هو نو نبي كريم ﷺ د هغې د نكاح د باقي پاته كېدو اجازت وركړ. (ترمذي) .

**د مهر مثل واجب كېدو يو صورت**

| | |
|---|---|
| (٣٠٧٠): وَعَنْ عَلْقَمَةَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا شيئا وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا حَتَّى مَاتَ فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ لَهَا مِثْلُ صَدَاقِ نِسَائِهَا لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ وَلَهَا الْمِيرَاثُ فَقَامَ مَعْقِلُ بْنُ سِنَانٍ الْأَشْجَعِيُّ فَقَالَ قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ امْرَأَةٍ مِنَّا بِمِثْلِ ما قَضَيْتَ فَفَرِحَ بِهَا ابْنُ مَسْعُودٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي . | حضرت علقمه ﷺ د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت كوي چې د هغه څخه دا مسئله و پوښتل سوه چې يوه سړي د يوې ښځې سره نكاح وكړه چې نه يې مهر مقرر كړى دي او نه يې ورسره جماع كړې ده چې مړ سو ابن مسعود ﷺ وويل : د هغه په قوم كې چې د ښځو كوم مهر تاكل سوى دي هغومره مهر دي وركړي نه كم نه زيات په دې عده تېرول واجب ده او په ميراث كې هم ور سره شريكيږي په دې اوربدو سره |

معقل بن سنان اشجعي ﷺ و دربدئ او اعلان يې وكړ چې زموږ د قبيلې د يوې ښځې بروع بنت

واشق په معامله كي رسول الله ﷺ دا حكم وركړی وو په دې اورېدو سره ابن مسعود ؓ ډېر خوشحاله سو (چي زما فيصله د نبي كريم ﷺ د فيصلې سره موافقه وخته).

# دريم فصل

## د ام حبيبې نكاح او مهر

(۳۰۷۱): عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ فَمَاتَ بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ فَزَوَّجَهَا النَّجَاشِيُّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمْهَرَهَا عَنْهُ أَرْبَعَةَ آلَافٍ و في رواية أَرْبَعَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ وَبَعَثَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ شُرَحْبِيلَ ابْنِ حَسَنَةَ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د بي بي ام حبيبې رض څخه روايت دی چي زه د عبدالله بن جحش په نكاح كي وم چي زما خاوند په حبشه كي مړ سو د حبشې باچا زما نكاح د نبي كريم ﷺ سره په څلور زره مهر باندي وكړه او په يوه روايت كي د څلورو زرو درهمو الفاظ سته او هغه يې د نبي كريم ﷺ په خدمت كي د شرحبيل بن حسنه په نگرانئ كي ولېږه. (ابو داؤد نسائي).

## د اسلام قبلول د مهر قائمقام دی

(۳۰۷۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ تَزَوَّجَ أَبُو طَلْحَةَ أُمَّ سُلَيْمٍ فَكَانَ صِدَاقُ مَا بَيْنَهُمَا الْإِسْلَامَ أَسْلَمَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ قَبْلَ أَبِي طَلْحَةَ فَخَطَبَهَا فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ فَإِنْ أَسْلَمْتَ نَكَحْتُكَ فَأَسْلَمَ فَكَانَ صِدَاقَ مَا بَيْنَهُمَا. رواه النسائي.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دی چي ابو طلحه ؓ په دې شرط د ام سليم سره نكاح وكړه چي اسلام قبلول به يې مهر وي ام سليم د ابو طلحه ؓ څخه وراندي مسلمانه سوې وه بيا يې ابو طلحه ته پيغام ور ولېږئ چي ما اسلام قبول كړی دی كه ته هم مسلمان سوې نو زه به ستا سره نكاح كوم نو ابو طلحه اسلام قبول كړ او اسلام قبلول يې مهر سو. (نسائي).

# بَابُ الْوَلِيْمَةَ (دواده دډوډۍ كولو بيان)

## لومړى فصل

### د وليمې كولو حكم

﴿٣٠٧٣﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ فَقَالَ مَا هَذَا قَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ . متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د عبد الرحمن بن عوف په جامو د ژړوالي نښه وليده پوښتنه يې خيني وكړه چي دا څه دي ؟ هغه ورته وويل : يو نوا (پنځه درهمه) په سرو زرو باندي مي د يوې ښځي سره نكاح وكړه نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل :خداي تعالي دي در باندي مبارك كړي ته وليمه وكړه كه څه هم يو پسه وي . بخاري او مسلم .

### د رسول الله ﷺ تر ټولو لويه وليمه

﴿٣٠٧۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ مَا أَوْلَمَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى احد مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ أَوْلَمَ بِشَاةٍ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د خپلي يوې بي بي په نكاح كي هم دومره وليمه نه وه كړې څومره چي يې د بي بي زينب رضي الله عنها په نكاح كي كړې وه نو نبي كريم ﷺ د هغې په نكاح كي د يو پسه وليمه كړې وه . (بخاري او مسلم) .

﴿٣٠٧٥﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَوْلَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَنَى بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَأَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ بي بي زينب بنت جحش د نكاح كولو وروسته كور ته راوسته نو نبي كريم ﷺ وليمه وكړه او دِ خلكو نسونه يې په غوښو او ډوډۍ سره ماره كړه . (بخاري)

### د ښځي ازادول د هغې مهر كيداى سي كه يا؟

﴿٣٠٧٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ انَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَتَزَوَّجَهَا وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا وَأَوْلَمَ عَلَيْهَا بِحَيْسٍ . متفق عليه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ته بي بي صفيه د خيبر په غزا كي په لاس راغلې وه هغه يې ازاده كړه او وروسته يې در

سره نکاح وکړه او د هغې مهر یې د هغې ازادي وکرځوله او د حیس (خرماوي پنیر او غوړیو) ولیمه یې وکړه (بخاري او مسلم).

## د حضرت صفیه (رض) ولیمه

(۳۰۷۷): وَعَنْهُ قَالَ أَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِينَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِينَ إِلَى وَلِيمَتِه وَمَا كَانَ فِيهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ وَمَا كَانَ فِيهَا إِلَّا أَنْ أَمَرَ بِالْأَنْطَاعِ فَبُسِطَتْ فَأَلْقَى عَلَيْهَا التَّمْرَ وَالْأَقِطَ وَالسَّمْنَ . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ (د خیبر د غزا څخه وروسته) د خیبر او مدینې په مینځ کې درې ورځې قیام وکړ او د بي بي صفیې رض سره یې د نکاح کولو څخه وروسته هلته یې شپه تېره کړه او (سهار ته) د ولیمې لپاره یې مسلمانان را وبولل او په ولیمه کې نه غوښه وه نه ډوډۍ بلکه نبي کریم ﷺ سترخان را وړ او حکم یې وکړ چې سترخوان هوار کړي کله چې سترخوان هوار سو نو پر هغه باندې د خرما پنیر او غوړي کښېښودل سوه. (بخاري او مسلم).

## د حضرت ام سلمه (رض) ولیمه

(۳۰۷۸): وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ أَوْلَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَعْضِ نِسَائِه بِمُدَّيْنِ مِنْ شَعِيرٍ . رواه البخاري.

د بي بي صفې رض بنت شیبه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ د خپلې یوې بي بي ولیمه په دوه سېره اوربشو سره وکړه. (بخاري)

## د ولیمې بلنه قبلول پکار ده

(۳۰۷۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا . متفق علیه و في روایة لمسلم فلیجب عرسا کان او نحوه.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د ولیمې دعوت وکړي هغه قبلول پکار ده او د مسلم په یوه روایت کې دا الفاظ دي د ولیمې دعوت دې قبول کړي که واده وي یا دا ډول بل یو دعوت وي. (بخاري او مسلم).

(۳۰۸۰): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ فَإِنْ شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ . رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د ډوډۍ لپاره وبلل سي هغه ته پکار ده چې دعوت قبول کړي او هلته دې ولاړ سي که یې خوري او که یې نه خوري (خپله خوښه یې ده). (مسلم).

**په وليمه كي يوازې شتمن خلک را بلل بدكار دى**

(٣٠٨١): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرُّ الطَّعَامِ طعام الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُولَهُ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د وليمې هغه طعام خراب طعام دي چي په هغه كي دولتمند خلك و بلل سي او فقيران و نه غوښتل سي او چا چي د دعوت څخه انكار وكړ هغه د خداي ﷻ او د رسول الله ﷺ نافرماني وكړه . (بخاري او مسلم) .

**نابلل سوي كس ته خوراک وركول ....**

(٣٠٨٢): وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُكْنَى أَبَا شُعَيْبٍ وَكَانَ لَهُ غُلَامٌ لَحَّامٌ فَقَالَ اصْنَعْ لِي طَعَامًا يَكْفِي خَمْسَةً لَعَلِّي أَدْعُو النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَامِسَ خَمْسَةٍ فَصَنَعَ لَهُ طُعَيِّمًا ثُمَّ أَتَاهُ فَدَعَاهُ فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا شُعَيْبٍ إِنَّ رَجُلًا تَبِعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَذِنْتَ لَهُ وَإِنْ شِئْتَ تَرَكْتَهُ قَالَ لَا بَلْ أَذِنْتُ لَهُ . متفق عليه .

د حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ څخه روايت دى چي يو انصاري سړى چي د هغه كنيت ابو شعيب وو دده يو غلام وو چي غوښه به يې خرخوله يوه ورځ هغه خپل غلام ته وويل : د پنځو كسانو غذا تيارە كړه شايد چي زه رسول الله ﷺ ته دعوت وركړم غلام يو څه (لږ) غذا تياره كړه بيا هغه سړى د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او د دوى بلنه يې وركړه يو بل كس هم د نبي كريم ﷺ سره ملگري سو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : اې ابو شعيبه ! يو بل سړى هم زموږ سره ملگري سوى دى كه دي خوښه وي ده ته اجازه وكړه او كه دي خوښه وي پرې يې ږده ابو شعيب ﷺ ورته وويل زه ده ته هم اجازت وركوم . (بخاري او مسلم).

## دويم فصل

**د حضرت صفيه (رض) وليمه**

(٣٠٨٣): عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَمَ عَلَى صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ بِسَوِيقٍ وَتَمْرٍ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ د بي بي صفيې رض وليمه يې د ستوانو او خرماؤ سره كړې وه . (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه)

**د دنياوي زيب او زينت څخه د رسول الله ﷺ پرهيز**

(٣٠٨٤): وَعَنْ سَفِينَةَ أَنَّ رَجُلًا ضَافَ عَلِيَّ بْنَ

د حضرت سفينه رض څخه روايت دى چي

أبي طَالِب فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا فَقَالَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا لَوْ دَعَوْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَ مَعَنَا فدعوه فجاء فوضع يديه على عضادتي الباب فراى القرام قَدْ ضُرِبَ فِي نَاحِيَةِ الْبَيْتِ فَرَجَعَ قَالَتْ فَاطِمَةُ فتبعته فقلت يَا رَسُولَ اللَّهِ ماردك قَالَ إِنَّهُ لَيْسَ لِي أَوْ لِنَبِيٍّ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتًا مُزَوَّقًا . رواه احمد وابن ماجة .

حضرت علي ﷺ ته يو ميلمه راغی حضرت علي ﷺ د هغه لپاره غذا تیاره کړه بي بي فاطمې رض وویل :که موږ و نبي کریم ﷺ ته دعوت ورکړو او طعام زموږ سره وخوری نو دا به بهتره وي نو نبي کـریم ﷺ تشریف راوړ او د دروازې پـه دواړو اړخو یې لاس کښېښودی او و درېد نبي کریم ﷺ په کور کې د ننه په کونج کې یوه پرده وهل سوې ولیدل نو واپس یې تشریف یوړ بي بي فاطمه رض وایي زه هم په نبي کریم ﷺ پسي روانه سوم او عرض مې وکړ یا رسول الله ﷺ تاسو بیرته ولې تشریف یووړ نبي کریم ﷺ راته وفرمایل:ما او هیڅ یو نبي ته د زینت والا په کور کي داخلېدل مناسب نه دی . (ابن ماجه احمد) .

**بېله بلني مېلمستيا ته ورکول بدکار دی**

(٣٠٨٥): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دُعِيَ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَمَنْ دَخَلَ عَلَى غَيْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا وَخَرَجَ مُغِيرًا . رواه ابوداود .

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا تـه چي د خوراك بلنه وسي او هغه دعوت قبول نه کړي نو هغه دخداي تعالي او دهغه د رسول الله ﷺ نافرماني وکړه او څوك چي بېله اجازې د چا و دوډۍ ته ورسی نو هغه د غلو پشان راغی او د مال د غلا کولو څخه وروسته بیر ته ولاړی . (ابو داؤد).

**که دوه کسان په يو وار بلنه ورکړي نو اول د چا بلنه قبول بکار دي؟**

(٣٠٨٦): وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اجْتَمَعَ الدَّاعِيَانِ فَأَجِبْ أَقْرَبَهُمَا بَابًا وَإِنْ سَبَقَ أَحَدُهُمَا فَأَجِبِ الَّذِي سَبَقَ . رواه احمد وابوداؤد .

پـه صحابه کرامو رض کـي د يـو سري بيـان دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کـه دوو نفرو دعوت در کړی نـو د هغـه دعـوت قـبول کـړه چـي د چـا دروازه در نژدې وي او کـه پـه هغوئ کـي هر يوه اول در ته وويل نو دهغه دعوت قبول کړه .(احمد ابوداؤد) .

**د نامه لپاره تر دېرو ورځو پوري د وليمي کولو وعيد**

(٣٠٨٧): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامُ أَوَّلِ يَوْمٍ حَقٌّ وَطَعَامُ

د حضرت ابـن مسعود ﷺ څخـه روايـت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايـل : د اولـي ورځي طعام حق

يَوْمِ الثَّانِي سُنَّةٌ وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّالِثِ سُمْعَةٌ وَمَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللّٰهُ بِهِ . رواه الترمذي .

دی يعني ضروري دی او د دويمي ورځي سنت دی او د دريمي ورځي مشهورتيا ده الله تعالي به (د قيامت په ورځ) هغه مشهور او رسوا كړي . (ترمذي) ..

**د فخر كونكو بلنه منع ده**

(۳۰۸۸): وَعَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ اَنْ يُؤْكَلَ . رواه ابوداؤد وقال محي السنة والصحيح انه عن عكرمة عن النبي صلى الله عليه وسلم مرسلا.

حضرت عكرمه ﷺ د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ د ددو مقابله كونكو او فخر كونكو د دوی خوړلو څخه منعه كړي ده (يعني د داسي دوو سړو د طعام خوړلو څخه يې منعه كړېده چي په خپل مينځو كي مقابله كوي). (ابوداؤد) محي السنه وفرمايل : صحيح دا ده چي عكرمه ﷺ د رسول الله ﷺ څخه مرسلا بيان كړي دی .

## دريم فصل

(۳۰۸۹): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُتَبَارِيَانِ لاَ يُجَابَانِ وَلاَ يُؤْكَلُ طَعَامُهُمَا، قَالَ الْاِمَامُ اَحْمَدُ يَعْنِيْ الْمُتَعَارِضَيْنِ بِالضِّيَافَةِ فَخْرًا وَرِيَاءً .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د فخر كونكو دي نه دعوت قبلوي او نه دي د هغوئ طعام خوري امام احمد رح وايي د مقابله كونكو څخه مراد هغه خلك دي چي د فخر او ريا په ډول په دعوت كي مقابله كوي . (بيهقي) .

**د فاسق بلنه مه قبلوئ**

(۳۰۹۰): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اِجَابَةِ طَعَامِ الْفَاسِقِيْنَ .

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ټولو فاسقانو خلكو د دعوت قبلولو څخه منعه فرمايلې ده . (بيهقي)

**د يو پرهېزګار د خوراك پلټنه مه كوئ**

(۳۰۹۱): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمْ عَلٰى اَخِيْهِ الْمُسْلِمِ فَلْيَاْكُلْ مِنْ طَعَامِهِ وَلاَ يَسْاَلْ وَيَشْرَبْ مِنْ شَرَابِهِ وَلاَ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي په تاسو كي يو مسلمان ورور ته ورسئ نو د هغه سره خوراك او څيښاك وكړئ خو دا پوښتنه دي نه كوي.

يَسْأَلُ، روى الأحاديث الثلاثة البيهقي في " شعب الإيمان " وقال : هذا إن صح فلأن الظاهر أن المسلم لا يطعمه ولا يسقيه إلا ما هو حلال عنده .

چي هغه خوراك او چينباك د كوم خايه څخه او څنگه راځي دا درې حديثونه بيهقي په ((شعب الايمان)) كي روايت كړي دي .

# بَابُ الْقَسَمِ (د ښځو په منځ كي دوختو وېشلو بيان)

## لومړى فصل

**د رسول الله ﷺ د ازواج مطهراتو شمېر**

(۳۰۹۲): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ عَنْ تِسْعِ نِسْوَةٍ وَكَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دى چي كوم وخت رسول الله ﷺ وفات سو نو هغه وخت د نبي كريم ﷺ په نكاح كي نهه بيبياني وې او په هغوئ كي د اتو وار تاكل سوى وو (ځكه چي نهمي بي بي سودې رض د خپل وار ورځ بي بي عائشې ته ور كړې وه). (بخاري او مسلم).

**يو ښځه خپل وار خپل بني ته ورکولاى سي**

(۳۰۹۳): وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا كَبِرَتْ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَدْ جَعَلْتُ يَوْمِي مِنْكَ لِعَائِشَةَ فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لِعَائِشَةَ يَوْمَيْنِ يَوْمَهَا وَيَوْمَ سَوْدَةَ . متفق عليه .

د بي بي عائشې رض څخه روايت دى كوم وخت چي بي بي سوده رض د ډېر وخت سوه نو هغې وويل : يا رسول الله ﷺ ما دخپل وار ورځ بي بي عائشې رض ته ورکړه نو د دې څخه وروسته نبي كريم ﷺ دوې ورځي د بي بي عائشې رض سره وو يوه ورځ د بي بي سودې رض او بله ورځ د بي بي عائشې رض خپله ورځ . (بخاري او مسلم).

(۳۰۹۴): وَعَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْأَلُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ اَيْنَ اَنَا غَدًا اَيْنَ اَنَا غَدًا يُرِيدُ يَوْمَ عَائِشَةَ فَاَذِنَ لَهُ اَزْوَاجُهُ يَكُوْنُ حَيْثُ شَاءَ فَكَانَ فِي بَيْتِ عَائِشَةَ حَتّٰى مَاتَ عِنْدَهَا. رواه البخاري.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په خپلي ناروغي كي چي په هغه كي وفات سو پوښتنه كوله سبا به زه د چا په كور كي يم سبا به زه د كومي بي بي سره يم او د نبي كريم ﷺ خواهش دا وو چي د بي بي عائشې د نمبر ورځ معلومه سي د نبي كريم ﷺ د خواهش او رغبت په محسوسولو سره بيبيانو اجازت ور

کړ چي کوم ځاي مو خوښه وي هلته قیام وکړئ نو د فات تر وخته پوري نبي کریم ﷺ د بي بي عائشې رض سره وو. (بخاري).

**د ښځي په سفر بېولو لپاره قرعه اندازي کول**

(۳۰۹۵): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِه فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ. متفق علیه.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ د سفر اراده کوله نو د خپلو بیبیانو په منځ کي به یې قرعه اندازي کوله او د کومي بي بي نوم چي په قرعه کي را ووت نو هغه به یې د ځان سره په سفر کي بېول. (بخاري او مسلم).

(۳۰۹۶): وَعَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا وَقَسَمَ وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَسَمَ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ وَلَوْ شِئْتُ لَقُلْتُ إِنَّ أَنَسًا رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق علیه.

د حضرت ابو قلابه ﷺ څخه روایت دی چي د انس ﷺ بیان دی چي د سنتو څخه یو دادی چي کله یو سړی په کونډه ښځه باندي د پیغلي سره نکاح وکړي نو اووه ورځي دي د پیغلي سره وي او بیا دي وار و تاکي او کله چي د انجلي څخه وروسته د یوې کونډي سره واده وکړي نو دري ورځي د هغې سره وي بیا دي وار مقرر کړي ابو قلابه ﷺ وایي زړه مي غواړي چي دا ووایم چي د انس ﷺ دا حدیث د نبي کریم ﷺ د لوري مرفوع کړی دی. (بخاري او مسلم).

(۳۰۹۷): وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ واصبحت عنده قال لها ليس بك على اهلك هوان ان شئت سبعت عندك و سبعت عندهن وان شئت ثلثت عندك ودرت قالت ثلث وفي رواية انه قال لها لِلْبِكْرِ سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابو بکر بن عبد الرحمن ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د بي بي ام سلمه رض سره نکاح وکړه نو په دویمه ورځ سهار یې هغې ته وویل ستا دپاره دا خبره د ذلت نه ده چي زه دري شپې ستا سره یم که ته غواړي نو زه به اووه ورځي ستا سره یم او اووه اووه ورځي به د نورو بیبیانو سره یم او که ستا خوښه وي نو دري ورځي به ستا سره یم او بیا به وار و تاکم ام سلمې رض وویل: تاسو دري ورځي زما سره و اوسیږئ او په یو بل روایت کي دي د پیغلو لپاره اووه ورځي دي او کونډو دپاره دري ورځي. (مسلم).

## دویم فصل

**یو خوک د خپل تولو ښځو سره په یو ډول مینه کولو مجبور نه دی**

| | |
|---|---|
| (۳۰۹۸): عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْسِمُ بَيْنَ نِسَائِهِ فَيَعْدِلُ وَيَقُولُ اللّٰهُمَّ هٰذِهِ قِسْمَتِي فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي . | د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د خپلو بیبیانو په مینځ کي وار تاکلی وو او د عدل او انصاف څخه به یې کار اخیستی او فرمایل به یې اې الله ! ما دا وارونه ټاکلي دي دا زما تقسیم دي په هغه شی کي چي په هغه |

کي زه مالك یم او د کوم شی چي ته مالك یې زه یې مالك نه یم ما په هغه شی باندي ملامت نه کړې. (ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

**په ښځو په منځ کي پر انصاف نه کولو وعید**

| | |
|---|---|
| (۳۰۹۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي . | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا چي دوې ښځي وي او د هغوی په مینځ کي عدل او انصاف ونه کړي نو د قیامت په ورځ به هغه داسي راځي چي نیم |

بدن به یې غورځېدلي وي. (ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

## دریم فصل

**د نبي کریم ﷺ په نهه بي بیانو کي د یوې وار ټاکلی نه وو**

| | |
|---|---|
| (۳۱۰۰): عَنْ عَطَاءٍ قَالَ حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ جَنَازَةَ مَيْمُونَةَ بِسَرِفَ فَقَالَ هٰذِهِ زَوْجَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلَا تُزَعْزِعُوهَا وَلَا تُزَلْزِلُوهَا وَارْفُقُوا بِهَا فَإِنَّهُ كَانَ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعُ نِسْوَةٍ كَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ وَلَا يَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ قَالَ عَطَاءٌ الَّتِي كَانَ رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يقسم لها بلغنا أنها صفية و | د حضرت عطاء ﷺ څخه روایت دی چي موږ د ابن عباس ﷺ سره په سَرِف په ځاي کي د بي بي میمونې رض په جنازه کي شریك سو ابن عباس ﷺ وویل چي دا د رسول الله ﷺ د بي بي جنازه ده کله چي دا پورته کړئ نو زیات حرکت مه ورکوئ او کرار ځئ د رسول الله ﷺ په نکاح کي نهه بیبیاني وې نبي کریم ﷺ په هغوی کي د اتو لپاره وار مقرر کړی وو او د یوې بي بي واري نه |

كَانَتْ آخِرَهُنَّ مَوْتًا مَاتَتْ بِالْمَدِينَةِ . متفق عليه، وَقَالَ رَزِيْنٌ قَالَ غَيْرُ عَطَاءٍ هِيَ سَوْدَةُ وَهُوَ أَصَحُّ وَ وَهَبَتْ يَوْمَهَا لِعَائِشَةَ حِيْنَ أَرَادَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَاقَهَا فَقَالَتْ لَهُ : اَمْسِكْنِيْ قَدْ وَهَبْتُ يَوْمِيْ لِعَائِشَةَ لَعَلِّيْ اَكُوْنُ مِنْ نِسَائِكَ فِي الْجَنَّةِ .

وو حضرت عطاء ﷺ فرمايي چي د كومي بي بي چي واري مقرر نه وو موږ ته معلومه سوې ده چي هغه بي بي صفيه رض وه چي هغه د نبي كريم ﷺ په بيبيانو كي تر تولو په اخير كي په نكاح سوې وه او په مدينه كي وفات سوه.

(بخاري او مسلم) د رزين بيان دی چي هغه بي بي چي د هغې واري مقرر نه وو هغه بي بي سوده رض وه كوم وخت چي رسول الله ﷺ هغې ته د طلاق وركولو اراده وكړه نو هغې خپله ورځ د بي بي عائشې رض ته وركړه او دا د هغې الفاظ دي ((تاسو ما په خپله نكاح كي و ساتئ زه خپله ورځ بي بي عائشې رض ته وركوم د دې لپاره چي په جنت كي ستاسو د بيبيانو سره شامله سم)).

# بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ وَمَا لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِّنَ الْحُقُوْقِ

## (د ښځو د حقوقو بيان)

## لومړی فصل

**د ښځي كوږوالی په بده لهجه نه سي سيدلای**

(۳۱۰۱): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ښځو سره نيكي كوئ (نرمي) څكه چي دوئ د كږې پوښتۍ څخه پيدا سوې دي چي كوږ شی دی او په پوښتۍ كي تر تولو زيات كوږ پورته برخه ده كه تاسو د هغې د سيده كولو كوښښ كوئ نو پوښتۍ به ماته سي او كه يې په خپل حال پرېږدئ نو د هغې كوږ والي به ليري نسي نو زما وصيت قبول كړئ د ښځو سره د ښه كولو په باره كي. (بخاري او مسلم).

(۳۱۰۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا كَسَرْتَهَا وَكَسْرُهَا

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چي ښځه د پوښتۍ څخه پيدا سوې ده هغه هيڅكله ستا لپاره په يوه سيده حالت كي نسي پاته كېدای كه ته د هغې څخه

طَلَاقُهَا . رواه مسلم .

فائده پورته کول غواړي نو په دغه حالت کي ور څخه فائده حاصله کړه او که یې ته سیده کول غواړې نو ماته به یې کړې او د هغې ماتول طلاق ورکول دي . (مسلم) .

**د ښځو سره ښه چلن کول**

(۳۱۰۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅکله دي یو مسلمان د یوې مسلماني ښځي سره بغض او عناد نه کوي څکه چي یو عادت که خراب وي نو بل عادت یې ښه دی .(مسلم) .

**کوروالی هري ښځي ته په میراث کي تر لاسه دی**

(۳۱۰۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْنَزْ اللَّحْمُ وَلَوْلَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوْجَهَا الدَّهْرَ . متفق عليه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کـه بنـي اسـرائیل نـه وای نـو غوښه به نه خرابېدلای او که بي بي حوا نه وای نو ښځي به د خپل خاوند سره هیڅکله خیانت نه کولای (بني اسرائیل د شیانو د جمعه کېدو څخه منعه سوي وه حکم یوازي داوو چي د ضرورت موافق به یې شیان اخیستل او خوړل به یې دا چي دوئ د دې حکم نافرماني وکړه او خداي ﷻ هغوئ ته د دې سزا ورکړه چي کوم شی به هغوئ ساتئ هغه به خرابیدئ). (بخاري او مسلم) .

**د ښځي د وهلو منع**

(۳۱۰۵): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجْلِدُ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ و في رواية يَعْمَدُ أَحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ امْرَأَتَهُ جَلْدَالْعَبْدِ فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا فِيْ آخِرِ يَوْمِهِ ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِي ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ فَقَالَ لِمَ يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ . متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن زمعه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پـه تاسو کـي دي څوک خپله ښځه داسي نه وهي څنګه چي (په بې دردي سره) غـلام وهـي او بیـا دي د ورځـي په اخیري برخه د هغې سره کوروالي وکړي (یعني دا مناسبه نه ده چي هغې ته وهل هم ورکړي او بیا په هغه ورځ ورسره جماع هم وکړي) او په یو بل روایت کي دي په تاسو کي چي یو سړی اراده وکړي او خپله ښځه ووهي داسي لکه څنګه چي غلام وهي او شاید هغه په هغه ورځ د هغې سره هم بستر هم سي (دا مناسبه نه ده) بیا نبي کریم ﷺ

د باد د خارجېدو (ګوز) پسې خندېدونکي ته په نصیحت کولو سره وفرمایل: په تاسو کي یو سړی په داسي خبره باندي ولي خاندي چي هغه په خپله هم دا کار کوي. (بخاري او مسلم).

**د خپل ښځي سره ښه چلن کول**

(۳۱۰۶): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ لِي صَوَاحِبُ يَلْعَبْنَ مَعِي فَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ يَتَقَمَّعْنَ مِنْهُ فَيُسَرِّبُهُنَّ إِلَيَّ فَيَلْعَبْنَ مَعِي . متفق عليه.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي ما به د رسول الله ﷺ کره (په ګوډیانو سره) لوبي کولې او زما همځولو به هم زما سره لوبي کولې بیا چي نبي کریم ﷺ به راغلی نو زما همزولي به د شرم په وجه پټي سوې نو نبي کریم ﷺ به هغوئ وما ته را لېږلې او هغوئ به زما سره لوبي کولې. (بخاري او مسلم).

(۳۱۰۷): وَعَنْهَا قَالَتْ وَاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ عَلَى بَابِ حُجْرَتِي وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ بالحراب فِي الْمَسْجِدِ و رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِي بردائه لأنظر إِلَى لَعِبِهِمْ بين اذنه وعاتقه ثُمَّ يَقُومُ مِنْ أَجْلِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّتِي أَنْصَرِفُ فَاقْدِرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ الْحَرِيصَةِ عَلَى اللَّهْوِ . متفق عليه.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي ما نبي کریم ﷺ ولیدی او ښه مي په یاد دي چي هغه زما دحجرې د دروازې سره ولاړ دی او د حبشې خلکو په یوه مسجد کي په نېزو سره لوبي کولې (جنګي مشق به یې کوئ) او نبي کریم ﷺ په خپل پټو سره پرده وکړه د دې لپاره چي زه هم د هغوئ لوبه ووینم نو زه د نبي کریم ﷺ تر شا ودرېدم او د نبي کریم ﷺ د غوږ او اوږې په مینځ کي مي لوبه کتله نبي کریم ﷺ تر هغه وخت پوري زما په خاطر ولاړ وو تر څو پوري چي زه ولاړه وم د دې څخه اندازه ولګوئ چي د یوې کم عمره انجلۍ چي د لوبي د تماشې (لیدني) شوق یې در لودي تر هغه وخته پوري نبي کریم ﷺ ور سره ولاړ وو . (بخاري او مسلم).

**رسول الله ﷺ د عائشې (رض) خوښي او ناخوښي څرنګه پېژندل؟**

(۳۱۰۸): وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى فَقُلْتُ مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذَلِكَ فَقَالَ إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً فَإِنَّكِ تَقُولِينَ لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى قُلْتِ لَا وَرَبِّ

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل: زه پوهېږم چي ته کله زما څخه خوشحاله یې او کله زما څخه ناراضه یې ما عرض وکړ تاسو به څنګه معلومه سي؟ نبي کریم ﷺ را ته وفرمایل: کله چي ته زما څخه خوشحاله او راضي یې نو داسي وایې

إِبْرَاهِيمَ قَالَتْ قُلْتُ أَجَلْ وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ . متفق عليه.

د محمد ﷺ په پروردګار دي مي قسم وي دا خبره داسي نه ده او چي ناراضه يې نو داسي وايي چي د ابراهيم ﷺ په پروردګار دي مي قسم وي دا خبره داسي نه ده بي بي عائشه رض وايي ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ! دا خبره صحيح ده زه يوازي ستاسو نوم پريږدم. (بخاري او مسلم).

**ښځي ته د کوروالۍ څخه انکار کول نه دي ښکار**

(۳۱۰۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَبَاتَ غَضْبَانَ لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ متفق عليه و في رواية لهما قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَتَأْبَى عَلَيْهِ إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي يو سړی خپله بي بي د کوروالي لپاره و بولي او هغه انکار وکړي او خاوند د هغې د انکاره څخه ټوله شپه په قهر وي نو تر سهاره پوري ملائکي پر هغې ښځي باندي لعنت وايي. (بخاري او مسلم) او دبخاري او مسلم په دويم روايت کي راغلي دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما دي په هغه ذات باندي قسم وي چي زما روح د هغه په لاس کي ده څوک چي خپله ښځه د خوب خاي ته وبولي (يعني د کوروالي لپاره) او هغه انکار وکړي نو هغه ذات چي په اسمان کي دي (الله ﷻ) تر هغه وخته ځيني ناراضه دی تر څو يې چي خاوند ناراضه وي.

**ښځه دي د خپل ښي سره بد چلن نه کوي**

(۳۱۱۰): وَعَنْ أَسْمَاءَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي ضَرَّةً فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ إِنْ تَشَبَّعْتُ مِنْ زَوْجِي غَيْرَ الَّذِي يُعْطِينِي الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ . متفق عليه

د بي بي اسماء رض څخه روايت دی يوې ښځي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ يا رسول الله ﷺ! زما يوه بن ده که زه د هغې په مخکي د داسي شيانو ذکر وکړم چي زما خاوند ماته نه وي راکړي نو ايا دا کار ګناه لري؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د نه ورکول سوي شی اظهار داسي دی لکه چا چي د دوکي لباس اغوستي وي (يعني دا سي لباس چي په حقيقت کي يوه جامه وي مګر دوه تر سترګو کيږي څو مره ګناه چي دغه لري هغو مره ګناه د دي هم ده). (بخاري اومسلم).

**د ايلاء مطلب**

(۳۱۱۱): وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ آلَى رَسُولُ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نِسَائِهِ شَهرا وَكَانَتْ انْفَكَّتْ رِجْلُهُ فَأَقَامَ فِي مَشْرُبَةٍ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً ثُمَّ نَزَلَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ آلَيْتَ شَهْرًا فَقَالَ إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ . رواه البخاري.

الله ﷺ د خپلو بيبيانو سره د يوې مياشتې ايلاء وكړه (چې هغوئ ته به نه ورځي) د نبي كريم ﷺ پښه له بنده ختلې وه او نبي كريم ﷺ تر نهه ويشت ورځو پورې په بالاخانه كې وو كله چې بې لاندې تشريف راوړ نو خلكو پوښتنه پر وكړه چې يا رسول الله ﷺ تاسو خو د يوې مياشتې ايلاء كړې وه او تر اوسه پورې نهه ويشت ورځې كيږي نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: مياشت نهه ويشت ورځې هم وي. (بخاري).

**د رسول الله ﷺ د ايلاء واقعه**

(۳۱۱۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ النَّاسَ جُلُوسًا بِبَابِهِ لَمْ يُؤْذَنْ لِأَحَدٍ مِنْهُمْ قَالَ فَأُذِنَ لِأَبِي بَكْرٍ فَدَخَلَ ثُمَّ أَقْبَلَ عُمَرُ فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَوَجَدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا حَوْلَهُ نِسَاؤُهُ وَاجِمًا سَاكِتًا قَالَ فَقَالَ لَأَقُولَنَّ شَيْئًا أُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَوْ رَأَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ سَأَلَتْنِي النَّفَقَةَ فَقُمْتُ إِلَيْهَا فَوَجَأْتُ عُنُقَهَا فَضَحِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ فَقَامَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى عَائِشَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا وَقَامَ عُمَرُ إِلَى حَفْصَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا كِلَاهُمَا يَقُولُ تَسْأَلِينَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَيْسَ عِنْدَهُ فَقُلْنَ وَاللّٰهِ لَا نَسْأَلُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا أَبَدًا لَيْسَ عِنْدَهُ ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا أَوْ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ثُمَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ {يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ حَتَّى بَلَغَ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا} قَالَ فَبَدَأَ بِعَائِشَةَ

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دى چې حضرت ابو بكر ؓ تشريف راوړ او د رسول الله ﷺ په خدمت كې د حاضرېدو اجازه يې وغوښتل هغه وليدل چې په دروازه كې خلك سره ټول دي او هيچا ته د حاضرېدو اجازه ور نه كړل سو يوازې ابو بكر صديق ؓ ته اجازت ور كړل سو وروسته حضرت عمر ؓ راغلى او اجازه يې وغوښتل او هغه ته اجازت وركړل سو ابوبكر ؓ وليدل چې نبي كريم ﷺ تشريف فرما دى او د نبي كريم ﷺ په خدمت كې بيبياني ناستې وې نبي كريم ﷺ دغه وخت فكرمند او خاموش ناست وو د راوي بيان دى چې حضرت عمر ؓ په خپل زړه كې وويل چې زه يوه داسې خبره وكړم چې نبي كريم ﷺ پرې وخاندي اخير حضرت عمر ؓ عرض وكړ يا رسول الله ﷺ كه د خارجه لور (زما ښځه) زما څخه زياته نفقه وغواړي نو زه را ولاړ سم او د هغې څټ وپېچم رسول الله ﷺ په خندا سو او ويې فرمايل: دا بيبيگاني چې زما شاوخوا ناستې دي زما څخه زيات خرڅ غواړي په دې

فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَعْرِضَ عَلَيْكِ أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَشِيرِي أَبَوَيْكِ قَالَتْ وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَتَلَا عَلَيْهَا الْآيَةَ قَالَتْ أَفِيكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَسْتَشِيرُ أَبَوَيَّ بَلْ أَخْتَارُ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ وَأَسْأَلُكَ أَنْ لَا تُخْبِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِكَ بِالَّذِي قُلْتُ قَالَ لَا تَسْأَلُنِي امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ إِلَّا أَخْبَرْتُهَا إِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَبْعَثْنِي مُعَنِّتًا وَلَا مُتَعَنِّتًا وَلَكِنْ بَعَثَنِي مُعَلِّمًا مُيَسِّرًا . رواه مسلم .

اوربهدو سره حضرت ابو بکر ﷺ و درپ‍ .ی او بي بي عائشه رض يې تر ستوني ونيول او حضرت عمر ﷺ ولاړ سو او خپله لور حفصه رض يې تر ستوني ونيول (ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ) وويل : ته د رسول الله ﷺ څخه هغه شی غواړې چې دده سره نسته د نبي کريم ﷺ بيبيانو وويل قسم په خداي چې موږ به د رسول الله ﷺ څخه هيڅکله داسې شی نه غواړو چې د نبي کريم ﷺ سره نه وي د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ د خپلو بيبيانو څخه جلاوالي اختيار کړ (يعني ايلاء يې وکړه) تر نويشت ورځو پورې بيا دا ايت نازل سو : ياايهاالنبي ........عظيما. د دې ايت تر نازلېدو وروسته نبي کريم ﷺ تر ټولو وړاندې بي بي عائشې رض ته ورغی او هغې ته يې وفرمايل : اې عائشې ! زه وتاته يوه خبره پېش کوم او اميد لرم چې ته به (په فيصله کولو کې) په دې کار کې تلوار نه کوې او په دې معامله کې به د خپل پلار او مور سره مشوره کوې بي بي عائشې رض ورته وفرمايل يا رسول الله ﷺ ! راته ووايه هغه څه خبره ده ؟ نبي کريم ﷺ ورته دغه ايت ولوستی (چې د هغه په اوربهدو سره) بي بي عائشې رض وويل : يا رسول الله ﷺ ايا ستا په هکله زه د خپل پلار او مور سره مشوره وکړم ما الله تعالي او دهغه رسول الله ﷺ او د اخرت کور ته ترجيح ورکړېده او زه اميد لرم چې په دې خبره چې ما تاسو ته عرض کړل تاسو د دې ذکر بلې بي بي ته مه کوئ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هغه بيبياني چې کومه يوه زما څخه پوښتنه وکړي زه به هغې ته هم وا يم خکه چې الله ﷺ زه د دې لپاره نه يم را لېږلی چې چاته تکليف ورسوم بلکه د دې لپاره يې را لېږلي يم چې د خداي تعالي و مخلوق ته د دين احکام ور وښودم او اساني وکړم . (مسلم) .

(۳۱۱۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغَارُ عَلَى اللَّاتِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقلت أَتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَلَمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ { تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ قُلْتُ مَا

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چې ما به هغې ښځې ته په ذليله سترګه کتل کومې چې خپل ځان و نبي کريم ﷺ ته هبه کوی يعني خپل ځان به يې د نبي کريم ﷺ په خوښه کې پرېښودی يوه ورځ ما عرض وکړ ايا يوه ښځه خپل ځان هبه کولای سي ؟ (يعني دومره ذليله

أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ . متفق عليه ، و حديث جابر اتقوالله في النساء ذكر في قصة حجة الوداع .

كيداى سيبيا چي دا ايت نازل سو : ترجي من تشاء.....جناح عليك .(يعني د هغو ښځو ځخه چي ته غواړې اې محمده!) هغه جلا كړه او كومه چي غواړې هغه د ځان سره وساته او كومي ښځي چي تا جلا كړى دي كه د هغوئ ځخه ته هم ځوك وبلې نو په تا څه گناه نسته) نو ما (بي بي عائشه رض وايي) نبي كريم ﷺ ته عرض وكړ زه وينم چي ستاسو پروردگار ستاسو رضامندي او خواهش ژر پوره كوي او وروسته د دې ايت حكم منسوخ سو او د جابر ﷺ په حديث كي چي د ښځو په باره كي چي دالله تعالى ځخه ووېرېږئ د حجة الوداع په واقعه كي بيانيږي .

## دويم فصل

### د رسول الله ﷺ د خپل ښيانو سره ښه چلن

(٣١١٤): عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ قَالَتْ فَسَابَقْتُهُ فَسَبَقْتُهُ عَلَى رِجْلَيَّ فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهُ فَسَبَقَنِي قَالَ هَذِهِ بِتِلْكَ السَّبْقَةِ . رواه ابوداؤد .

د بي بي عائشي رض ځخه روايت دى چي (په يوه سفر كي) زه د رسول الله ﷺ سره وم (په دې موقع) زما او د رسول الله ﷺ په مينځ كي دځغاستي مقابله وسوه زه د نبي كريم ﷺ تر مخه سوم بيا ډېر وخت وروسته چي زه غټه سوم نو بيا د ځغاستي مقابله وسوه نو په دې وار رسول الله ﷺ زما ځخه مخته سو نو نبي كريم ﷺ وفرمايل :دا د هغه ځغاستي بدله ده . (چي په هغه كي ته زما ځخه مخته سوې وې) . (ابوداؤد) .

### د خپل كورني سره ښه چلن كونكى غوره انسان دى

(٣١١٥): وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ . رواه الترمذي والدارمي وابن ماجة عن ابن عباس الى قوله لاهلي.

د بي بي عائشي رض ځخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي بهتره سړى هغه دى چي د خپل اهل او عيال (عزيزانو خپلوانو او خادمانو)سره بهترين چلن وكړي او په ښه اخلاقو سره ور سره مخامخ كيږي او زه په خپل اهل و عيال كي په تاسو كي تر ټولو ښه يم په تاسو كي چي كوم سړى مړ سي نو بيا هغه پرېږدى (يعني په بدي يې د هغه ذكر مه كوئ). (ترمذي) او په دارمي او ابن ماجه كي د حضرت ابن عباس ځخه تر «اهله» پوري روايت را غلى دى .

## فرمانبرداره ښځې ته د جنت زیری

| | |
|---|---|
| (٣١١٦): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمَرْأَةُ اِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَاَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَاَطَاعَتْ بَعْلَهَا فَلْتَدْخُلْ مِنْ اَيِّ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ . رواه ابونعيم في الحلية . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کومه ښځه چي پنځه وخته لمونځ کوي د روژې د مياشتي روژه نيسي خپل شرمگاه وساتي د خپل خاوند اطاعت کوي هغې ته اختيار دي د جنت کومي دروازې څخه چي يې خوښه وي داخله دي سي . (ابو نعيم) |

## که چيري غير الله ته سجده کول جائز وای نو ...

| | |
|---|---|
| (٣١١٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ آمِرًا اَحَدًا اَنْ يَسْجُدَ لِاَحَدٍ لَاَمَرْتُ الْمَرْأَةَ اَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا . رواه الترمذي . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که ما يو چاته د سجدي کولو امر ورکولای نو ښځي ته به مي حکم کړی وای چي د خپل خاوند ته دي سجده کوي . (ترمذي) |

## د خاوند د رضا اهميت

| | |
|---|---|
| (٣١١٨): وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ . رواه الترمذي . | د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کومه ښځه چي په دې حال کي وفات سي چي د هغې خاوند د هغې څخه راضي او خوشحاله وي نو هغه و جنت ته داخله سوه . (ترمذي) |

## د خاوند اطاعت وکړئ

| | |
|---|---|
| (٣١١٩): وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَاْتِهِ وَاِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّوْرِ . رواه الترمذي . | د حضرت طلق بن علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي يو خاوند خپله ښځه د کوروالي لپاره را وبولي نو ښځي ته د هغه د حکم منل پکار دي که څه هم هغه پر تنور |

وي . (يعني په ډوډۍ يا د خوراك په شي باندي مصروفه وي نو هغه دي پرېږدي او د خپل خاوند حاجت دي پوره کړي) . (ترمذي)

## خاوند ته تکليف مه ورکوئ

| | |
|---|---|
| (٣١٢٠): وَعَنْ مُعَاذٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چي رسول |

| | |
|---|---|
| وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ لَا تُؤْذِيهِ قَاتَلَكِ اللّٰهُ فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب . | الله ﷺ وفرمايل: كله چي يوه ښځه و خپل خاوند ته په دنيا كي تكليف وركوي نو هغې ته په جنت كي غټو سترګو والا حوره وايي خداي دي تباه كړي ته خپل خاوند ته تكليف مه وركوه دى خو ستا مېلمه دى چي |

ژر به ستا څخه جلا سي او موږ ته به جنت ته راسي .(ترمذي ابن ماجه) او په ترمذي كي دا حديث غريب شمېرل سوي دى .

**پر خاوند د ښځي حق**

| | |
|---|---|
| (۳۱۲۱): وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ قَالَ أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ وَلَا تَضْرِبْ الْوَجْهَ وَلَا تُقَبِّحْ وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ . رواه احمد وابن ماجة | د حضرت حكيم بن معاويه قشيري رضي الله عنه د خپل پلار څخه نقل كوي چي ما عرض وكړ يا رسول الله ﷺ! د ښځي پر خاوند څه حق دى ؟ نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: كله چي ته څه خوري و هغې ته يې هم وركوه او چي څه اغوندي نو په |

هغې يې هم اغونده هغه پر مخ مه وهه بدو رد مه ورته وايه او د هغې څخه جلاوالي مه اختياروه خو په كور كي د ننه (يعني په كور كي د ښځي سره ناخوښي او ناراضګي وي نو د هغې سره په كور كي جلاوالي اختياروه). (احمد ابوداؤد ابن ماجه)

**بدژبانه ښځي ته طلاق وركړئ**

| | |
|---|---|
| (۳۱۲۲): وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي امْرَأَةً فِي لِسَانِهَا شَيْءٌ يَعْنِي الْبَذَاءَ قَالَ طَلِّقْهَا قُلْتُ إِنَّ لِيْ مِنْهَا وَلَدًا وَلَهَا صُحْبَةٌ قَالَ فَمُرْهَا يَقُولُ عِظْهَا فَإِنْ يَكُ فِيهَا خَيْرٌ فَسَتَقْبَلُ وَلَا تَضْرِبَنَّ ظَعِينَتَكَ ضَرْبَكَ أُمَيَّتَكَ . رواه ابوداؤد . | د حضرت لقيط بن صبره رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما عرض وكړ يا رسول الله ﷺ زما ښځه بد ژبانه ده نبي كريم ﷺ راته وويل: طلاق وركړه ما عرض وكړ د هغې د نس څخه زما اولاد پيدا سوي دى او پخواني اړيكي ورسره لرم نبي كريم ﷺ راته وويل (نصيحت ور ته وكړه) |

كه په هغې كي يو څه نيكي هم وي نو ستا نصيحت به قبول كړي او هغه داسي مه وهه لكه څوك چي خپله مينځه وهي يعني زياته يې مه وهه . (ابوداؤد).

**د ښځو د وهلو څخه منع**

| | |
|---|---|
| (۳۱۲۳): وَعَنْ إِيَاسِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ | د حضرت اياس بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دى |

اللّٰهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَضْرِبُوا إِمَاءَ اللّٰهِ فَجَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ فَرَخَّصَ لِي ضَرْبِهِنَّ فَأَطَافَ بِآلِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ. رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپلي بيبياني مه وهئ (د دې حکم څخه وروسته) حضرت عمر رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض يې وکړ (يا رسول الله ﷺ) ښځې په خپلو خاوندانو باندې غالبه سوي دي او جرائت يې زيات سوی دی (په دې اوريدو سره) نبي کريم ﷺ د ښځو د وهلو اجازت ورکړ د دې څخه وروسته ديرې ښځې د نبي کريم ﷺ بيبيانو ته را تولې سوې او د خپلو خاوندانو شکايتونه يې ورته وکړل (يعني دا چي هغوئ وهي او بد و رد ورته وايي) (د دې شکايت په اوريدو سره) اصحابو کرامو ته رسول الله ﷺ وفرمايل : د محمد بيبيانو ته ديرې ښځې د خپلو خاوندانو څخه په شکايت راغلې دي دغه کسان په تاسو کي ښه نه دي کوم چي د خپلو ښځو سره د اندازې زياته سختي کوي. (ابوداؤد ابن ماجه دارمي).

## د ښځي د خاوند پر خلاف د پارولو منع

(۳۱۲۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا أَوْ عَبْدًا عَلَى سَيِّدِهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړی زموږ د ډلي څخه نه دی کوم چي و يوې ښځي ته بد چلن ورزده کړي يا يو غلام و خپل مالك ته بې لارې کړي. (ابوداؤد)

## د کمال ايمان دليل

(۳۱۲۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَكْمَلِ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ. رواه الترمذي

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي کامل مؤمن هغه مسلمان دی چي د هغه اخلاق ښه وي او په خپل اهل و اولاد باندې مهربانه وي . (ترمذي)

(۳۱۲۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ . رواه الترمذي و قال هذا

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په مسلمانانو کي کامل مؤمن هغه دی چي د هغه اخلاق ښه وي او په تاسو کي بهتره سړی هغه دی چي

حدیث حسن صحیح و رواه ابوداؤد الی قوله خلقا . | د خپلې ښځې سره په ښه چلن مخته کيږئ (يعني ښه چلن ور سره کوئ) او په ترمذي کي دا حديث صحيح حسن دی او په ابوداؤد کي تر «خلقا» پوري روايت سوی دی.

**د حضرت عائشې سره د رسول الله ﷺ یو واقعه**

(۳۱۲۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تُبُوكَ أَوْ حُنَيْنٍ وَفِي سَهْوَتِهَا سِتْرٌ فَهَبَّتْ رِيحٌ فَكَشَفَتْ نَاحِيَةَ السِّتْرِ عَنْ بَنَاتٍ لِعَائِشَةَ لُعَبٍ فَقَالَ مَا هَذَا يَا عَائِشَةُ قَالَتْ بَنَاتِي وَرَأَى بَيْنَهُنَّ فَرَسًا لَهُ جَنَاحَانِ مِنْ رِقَاعٍ فَقَالَ مَا هَذَا الَّذِي أَرَى وَسْطَهُنَّ قَالَتْ فَرَسٌ قَالَ وَمَا الَّذِي عَلَيْهِ قَالَتْ جَنَاحَانِ قَالَ فَرَسٌ لَهُ جَنَاحَانِ قَالَتْ أَمَا سَمِعْتَ أَنَّ لِسُلَيْمَانَ خَيْلًا لَهَا أَجْنِحَةٌ قَالَتْ فَضَحِكَ حَتَّى رَأَيْتُ نَوَاجِذَهُ . رواه ابوداؤد.

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دتبوک د غزا يا د حنين د غزا څخه واپس راغی نو په کور کي يې په لويه تاخچه کي يوه لويه پرده وليده چي د هغې يو څوکه په هوا سره خلاصه سوه او په هغه کي د بي بي عائشې رض ناوکياني په نظر راغلې نو رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه اې عائشې، دا څشي دي؟ بي بي عائشې رض ورته وويل چي دا زما ناوکياني دي په دې ناوکيانو کي نبي کريم ﷺ يو آس هم وليدی چي هغه د توکر دوه وزره درلودل نبي کريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه د دې ناوکيانو په مينځ کي څشي دي؟ بي بي عائشې ورته وويل چي دا آس دی نبي کريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه او د ده دا وزر څنګه دی؟ بي بي عائشې ورته وويل ايا تاسو نه دي اورېدلي چي د حضرت سليمان ﷺ آس وزرونه درلودل بي بي عائشه رض وايي په دې اورېدوسره رسول الله ﷺ په خندا سو تر دې چي ما د هغوئ اخيري غاښونه وليدل. (ابو داؤد).

## دريم فصل

**غير الله ته سجده کول جائز نه دي**

(۳۱۲۸): عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَقُلْتُ لَرَسُولُ اللّٰهِ أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَهُ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ إِنِّي أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَأَنْتَ أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَكَ فَقَالَ

د حضرت قيس بن سعيد ﷺ څخه روايت دی چي زه و حيرې (ديو ځاي نوم دی) ته ولاړم ما وليدل چي د هغه ځاي خلکو و خپل مشر ته سجده کوله ما په زړه کي وويل رسول الله ﷺ خو د دې زيات مستحق دی چي سجده ورته وسي نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي

أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِي أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ فَقُلْتُ لَا فَقَالَ فَلَا تَفْعَلُوا لَوْ كُنْتُ امِر أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ النِّسَاءَ أَنْ يَسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ حَقٍّ . رواه ابوداؤد و رواه احمد عن معاذ بن جبل .

وکړ چي زه حيرې ته تللي وم هلته مي وليدل چي د هغه ځای خلکو و خپل سردار ته سجده کوله تر ده خو ته ډېر زيات حقداره يې چي سجده درته وکړل سي نبي کريم ﷺ راته وفرمايل که ته زما و قبر ته ور سي نو ايا ته به زما قبر ته سجده کوې ؟ ما عرض وکړ يا انبي کريم ﷺ راته وفرمايل : داسي مه کوه که ما چاته دسجدې حکم ورکولای نو ښځو ته به مي حکم ورکړی وای چي خپلو خاوندانو ته دي سجده کوي ځکه چي الله ﷻ په ښځو باندي د خاوندانو حق تاکلي دی . (ابوداؤد او احمد د معاذ بن جبل ځخه).

**نافرمانه ښځي ته سزا**

(٣١٢٩): وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَا ضَرَبَ امْرَأَتَهُ عليه . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت عمر ﷺ ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي خپله ښځه وهي نو د هغه د وهلو وجه به نه ځيني معلوموئ. (ابوداؤد ابن ماجه)

**ښځه دي د خاوند د اجازې پرته نفل روژه نه نيسي**

(٣١٣٠): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَقَالَتْ زَوْجِي صَفْوَانَ بْنَ الْمُعَطَّلِ يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ وَيُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ وَلَا يُصَلِّي الْفَجْرَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ قَالَ وَصَفْوَانُ عِنْدَهُ قَالَ فَسَأَلَهُ عَمَّا قَالَتْ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَمَّا قَوْلُهَا يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ فَإِنَّهَا تَقْرَأُ بِسُورَتَيْنِ وَقَدْ نَهَيْتُهَا قَالَ فَقَالَ له رسول الله صلى الله عليه وسلم لَوْ كَانَتْ سُورَةً وَاحِدَةً لَكَفَتِ النَّاسَ قَالَ وَأَمَّا قَوْلُهَا يُفَطِّرُنِي اذا صُمْتُ فَإِنَّهَا تَنْطَلِقُ تَصُومُ وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَا أَصْبِرُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصُومُ امْرَأَةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا وَأَمَّا قَوْلُهَا إِنِّي لَا أُصَلِّي حَتَّى تَطْلُعَ

د حضرت ابو سعيد ﷺ ځخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي ناست وو يوه ښځه حاضره سوه او عرض يې وکړ زما خاوند صفوان بن معطل کوم وخت چي زه لمونځ کوم ما وهي او کله چي روژه نيسم نو روژه رابانديي ماتوی او د سهار لمونځ په داسي وخت کي کوي چي لمر را ختيږي د راوي بيان دی دغه وخت صفوان هم د نبي کريم ﷺ سره موجود وو نبي کريم ﷺ د هغه ځخه حقيقي احوال و پوښتی هغه عرض وکړ يا رسول الله ﷺ د دې دا ويل چي کله زه لمونځ کوم نو زه دا وهم وجه يې داده چي دا په لمانځه کي دوه اوږده سورته وايي او زه يې د دې ځخه منعه کوم راوي وايي په دې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : د سورة

الشَّمْسُ فَإِنَّا أَهْلُ بَيْتٍ قَدْ عُرِفَ لَنَا ذَاكَ لَا نَكَادُ نَسْتَيْقِظُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ قَالَ فَإِذَا اسْتَيْقَظْتَ يَا صَفْوَانُ فَصَلِّ . رواه ابوداؤد وابن ماجة

فاتحې څخه وروسته یو سورت ویل هم مناسب دی بیا صفوان ﷺ عرض وکړ د دې دا قول چې روژه نیسي او زه یې وربانديږ ماتوم وجه یې داده چې کوم وخت نفلي روژې پیل کړی نو مسلسل روژه نیسي او روژه نه پرېږدي او زه یو ځوان یم صبر نسم کولای نو نبي کریم ﷺ ورته وویل : هیڅ یوه ښځه دې د خپل خاوند د اجازې څخه ماسیوا نفلي روژې نه نیسي د دې څخه وروسته صفوان ﷺ عرض وکړ او د دې دا بیان چې زه دلمر ختو په وخت کې لمونځ کوم د دې وجه داده چې موږ د شپې کار کوو او زموږ د خلکو دا عادت سوی دی چې د لمر ختو په وخت کې بیداریږو نبي کریم ﷺ وفرمایل کوم وخت چې دې سترګې وغړیږې لمونځ کوه .(ابوداؤد ابن ماجه) .

## په سخت حکم کې هم د خاوند اطاعت وکړئ

(۳۱۳۱): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي نَفَرٍ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ فَجَاءَ بَعِيرٌ فَسَجَدَ لَهُ فَقَالَ أَصْحَابُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ تَسْجُدُ لَكَ الْبَهَائِمُ وَالشَّجَرُ فَنَحْنُ أَحَقُّ أَنْ نَسْجُدَ لَكَ فَقَالَ اعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَأَكْرِمُوا أَخَاكُمْ وَلَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا وَلَوْ أَمَرَهَا أَنْ تَنْقُلَ مِنْ جَبَلٍ أَصْفَرَ إِلَى جَبَلٍ أَسْوَدَ وَمِنْ جَبَلٍ أَسْوَدَ إِلَى جَبَلٍ أَبْيَضَ كَانَ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تَفْعَلَهُ . رواه احمد.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د انصارو او مهاجرینو په مینځ کې تشریف درلود په دې وخت کې یو اوښ راغی او نبي کریم ﷺ ته یې سجده وکړه اصحابو کرامو عرض وکړ یا رسول الله ﷺ تاسو ته چارپایه او درختې سجده کوي بیا خو موږ ته اول پکار ده چې تا سو ته سجده وکړو نبي کریم ﷺ وویل : د خپل رب عبادت کوئ او د خپل ورور عزت کوئ (یعني زما عزت کوئ نه سجده کول که ما چاته د سجدې کولو حکم ورکولای نو ښځي ته به مې حکم کړی وای چې و خپلو خاوندانو ته سجده کوئ (نه بزرګ یا پیر ته) او خاوند چې ښځي ته دا حکم ورکړی چې د هغه ژېړ غره څخه دبري و هغه بل تور غر ته وړي او د هغه ځایه څخه یې بیا و هغه بل سپین غر ته یوسي نو ښځي ته همداسې کول پکار ده .(احمد) .

## د کومې ښځې خاوند چې ناراض وي د هغې لمونځ په پوره توګه نه قبلیږي

(۳۱۳۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ لَهُمْ صَلَاةٌ وَلَا تَصْعَدُ لَهُمْ حَسَنَةٌ الْعَبْدُ الْآبِقُ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلَى مَوَالِيهِ فَيَضَعَ يَدَهُ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د درو کسانو لمونځ نه صحیح کیږي او نه د هغو څه نیکي د اسمان

فِيْ أَيْدِيهِمْ وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ عَلَيْهَا زَوْجُهَا وَالسَّكْرَانُ حَتّٰى يَصْحُوْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

پر لور خي (۱)- يو تښتېدلی غلام چې تر څو هغه بیرته راسي او خپل ځان و خپل خاوند ته حواله نه کړي .(۲)- هغه ښځه ده چې خپل خاوند څيني ناراضه وي .(۳)- هغه نشه کونکي چې ترڅو پوري په هوش کي نه وي راغلی .(بيهقي په شعب الايمان کي).

## د غوره ښځي پېژندنه

(۳۱۳۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ قَالَ الَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَلَا مَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ . رواه النسائي و البيهقي في شعب الايمان .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې کومه ښځه بهترینه ده نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : هغه ښځه چې کوم وخت د هغې خاوند وهغې ته وګوري نو هغه يې خوشحاله کړي او کله چې خاوند ورته څه حکم وکړي نو د هغه اطاعت وکړي او په خپل ځان او د خاوند په مال کي داسي کار ونه کړي چې په هغه باندي خاوند خفه کيږي .(نسائي بيهقي).

## د امانت داره ښځي فضيلت

(۳۱۳۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ مَنْ أُعْطِيَهُنَّ فَقَدْ أُعْطِيَ خَيْرُ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ قَلْبٌ شَاكِرٌ وَلِسَانٌ ذَاكِرٌ وَبَدَنٌ عَلَى الْبَلَاءِ صَابِرٌ وَزَوْجَةٌ لاَ تَبْغِيهِ خَوْنًا فِيْ نَفْسِهَا وَلاَ مَالِهِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څلور داسي شیان دي چې چاته حاصل سوه نو د دین او دنیا خیر يې نصيب سو : (۱)-يو شکرګزاره زړه (۲)- په هر حالت کي خداي يادونکي ژبه (۳)- په مصيبتونو باندي صبر کونکي (٤)- هغه ښځه چې په خپل ذات او د خاوند په مال کي خيانت نه کوي . (بيهقي په شعب الايمان کي).

# بَابُ الْخُلْعِ وَالطَّلَاقِ (د خلعي او طلاق بيان)

## لومړی فصل

**د ناخوښه خاوند څخه طلاق تر لاسه کيدای سي**

(۳۱۳۵): عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ وَلَا دِينٍ وَلَكِنِّي أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْبَلْ الْحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً .رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د ثابت بن قيس ﷺ ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ د ثابت بن قيس ﷺ ما ته غصه نه راځي او نه د هغه په اخلاقو او دين کي ماته څه عيب په نظر راځي مگر زه د هغه په نعمتو کي ناشکري نه خوښوم (يعني زما ورسره محبت نسته) په دې پوښتني نبي کريم ﷺ ور ته وفرمايل :ايا ته هغه باغ چي هغه يې په مهر کي در کړی دی ورکولای سی ؟ هغې ورته وويل : هو ! نبي کريم ﷺ ثابت را وغوښت ورته يې وفرمايل : ته خپل باغ د هغې څخه بيرته واخله او هغې ته يو طلاق ورکړه .(بخاري).

**په حيض کي د طلاق څخه منع**

(۳۱۳۶): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَةً وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ عُمَرُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَغَيَّظَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ ان تطلق لها النساء وفي رواية مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا . متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي هغه و خپلي ښځي ته د حيض په حالت کي طلاق ورکړ حضرت عمر ﷺ د دې ذکر و نبي کريم ﷺ ته وکړ نبي کريم ﷺ په دې واقعه باندي دير خفه سو او و يې فرمايل : عبد الله دې خپله ښځه بير ته واخلي او هغه ته پکار دي چي خپله ښځه د خپل ځان سره وساتي تر دې پوري چي هغه پاکه سي د دې څخه وروسته که طلاق ضروري وي نو د پاکۍ په حالت کي دې طلاق ورکړي او په دې دوران کي دې لاس نه ور وړي او دا هغه عدت دی چي خداي ﷻ د هغه حکم په قرانکريم کي فرمايلی دی چي په دې کي دې طلاق ورکړل سي . او په دويم روايت کي دا الفاظ دي

چي نبي كريم ﷺ و حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل : عبد الله ته امر ور كړه چي بيرته رجوع وكړي او بيا چي هغه پاكه سي يا د حمل په حالت كي دي طلاق وركړي .(بخاري او مسلم)

**د اختيار مسئله**

(٣١٣٧): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَيَّرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرْنَا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَلَمْ يَعُدَّ ذٰلِكَ عَلَيْنَا شَيْئًا . متفق عليه .

د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و موږ ته د دنيا او اخرت اختيار را كړ او په دې اختيار را كولو كي په موږ كي هيڅ شی واقع نه سو (يعني هيڅ ډول طلاق واقع نه سو ) او د دې صورت دادی چي كه څوك و خپلي ښځي ته ووايي چي تا ته اختيار دی ما قبلوي يا د خپل نفس اختيار لرې نو په دې سره ښځه نه طلاقيږي .(بخاري او مسلم).

**يو شی پر ځان باندي حراملو سره كفاره لازميږي**

(٣١٣٨): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِي الْحَرَامِ يُكَفِّرُ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ }. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي كوم سړی په ځان باندي يو شی حرام كړی نو پر هغه باندي كفاره ده او ستاسو لپاره د رسول الله ﷺ پيروي كول خوږمره ښه ده .(بخاري او مسلم).

(٣١٣٩):وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَشَرِبَ عِنْدَهَا عَسَلًا فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ أَنْ أَيَّتُنَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَقُلْ إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ فَدَخَلَ عَلَى إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ له ذٰلِكَ فَقَالَ لَا بَأْسَ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَلَنْ أَعُودَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِي بِذٰلِكَ أَحَدًا يَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِهِ فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ الاية . متفق عليه .

د بي بي عائشي رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به بي بي زينب بن حجش (خپله بي بي)ته ور تلی او هلته به يې شات خوړل (بي بي عائشه رض وايي) چي ما او بي بي حفصې رض په خپلو مينځو كي مشوره وكړه چي په موږ كي چي د كومي يوې ته تشريف راوړي نو هغه وخت به رسول الله ﷺ ته ووايو چي ستا د خولې څخه د مغافيرو (يو قسم ميوه چي د شاتو سره مشابه ده) بوی راځي ايا تاسو مغافير خوړلی دي؟ نو نبي كريم ﷺ په هغوئ كي يوې ته تشريف راوړ او هغې د نبي كريم ﷺ څخه دغه عرض وكړ نبي كريم ﷺ ورته وويل : هيڅ خبره نه ده د بي بي زينبي رض كره مي شات خوړلی دي او بيا به هيڅكله زه شات نه خورم خو ته د دې څخه څوك مه خبروه چي ما د شاتو د خوړلو څخه قسم اخيستي دی . چي په بيبيانو كي د دې څخه و چاته تكليف و نه رسيږي . په دې خبره باندي دا ايت نازل سو :

يا ايها النبي ........ازواجك (اې نبي اته په ځان باندې ولې هغه شيان حراموې چې د هغې خوراك تاته حلال دی). (بخاري او مسلم).

## دويم فصل

### د بېله ضرورته طلاق غوښتونکې ښځې لپاره وعيد

(۳۱۲۰): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا مِنْ غَيْرِ بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

د حضرت ثوبان ﷜ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كومه ښځه چې بېله كومې وجې د خپل خاوند څخه طلاق غواړي په هغې باندې د جنت بوی حرام دی. (احمد ترمذي ابو داؤد ابن ماجه دارمي)

### طلاق ښه شی نه دی

(۳۱۲۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَبْغَضُ الْحَلَالِ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى الطَّلَاقُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عمر ﷜ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په حلالو شيانو كې تر ټولو بد شی د الله تعالى په نزد طلاق دی. (ابوداؤد)

### د نكاح څخه مخكې د طلاق ورکولو مسئله

(۳۱۲۲): وَعَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ طَلَاقَ قَبْلَ نِكَاحٍ وَلاَ عَتَاقَ إِلاَّ بَعْدَ مِلْكٍ وَلاَ وِصَالَ فِيْ صِيَامٍ وَلاَ يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ وَلاَ رِضَاعَ بَعْدَ فِطَامٍ وَلاَ صَمْتَ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ . رواه في شرح السنة .

د حضرت علي ﷜ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د نكاح تر مخه طلاق نشته او نه د مالك كېدو تر مخه غلام ازادولای سي او په يو مخ روژې نيول جائز نه دي او د بالغ كېدو څخه وروسته څوك يتيم نه پاته كيږي او د شيدو رودلو د مودې څخه وروسته څوك په رضاعت كې نه شامليږي او ټوله ورځ چپه خوله پاته كېدل هم جائز نه دي. (شرح السنة).

(۳۱۲۳): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْرَ لِابْنِ آدَمَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَلَا عِتْقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَلَا طَلَاقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ . رواه الترمذي و زاد

حضرت عمرو بن شعيب ﷜ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان فكر په هغه شي كې درست نه دي چې د هغه مالك نه وي او د هغه شي ازادول هم صحيح نه دي كوم چې د هغه

ابوداؤد ولا بيع الا فيما يملك .

مالك نه وي او نه د هغې ښځې طلاق صحيح كيږي كوم چې د هغې سره يې نكاح نه وي كړې . (ترمذي ابوداؤد) او د ابوداؤد په يو بل روايت كې راغلي دي د هغه شي بيع صحيح نه ده چې د هغه مالك نه وي .

## د طلاق بت مسئله

(٣١٢٤): وَعَنْ رُكَانَةَ بْنِ عَبْدِ يَزِيدَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ سُهَيْمَةَ الْبَتَّةَ فَأَخْبَرَ بِذَالِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتَ إِلَّا وَاحِدَةً فَقَالَ رُكَانَةُ وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً فَرَدَّهَا إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطَلَّقَهَا الثَّانِيَةَ فِي زَمَانِ عُمَرَ وَالثَّالِثَةَ فِي زَمَانِ عُثْمَانَ . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي الا انهم لم يذكروا والثانية والثالثة .

د حضرت ركانه بن عبد يزيد ﷺ څخه روايت دى چې هغه و خپلې ښځې سهيمه رض ته طلاق بائن ور كړ وروسته يې رسول الله ﷺ ته اطلاع وركړه او عرض يې وكړ چې قسم په خداي ما د يوه طلاق اراده كړې وه رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: چې قسم په خداي تا د يوه طلاق اراده كړې وه ؟ ركانه وويل: قسم په خداي ما د يوه طلاق اراده كړې وه رسول الله ﷺ و هغه ته خپله ښځه بيرته وركړه وروسته ركانه ﷺ و خپلې ښځې ته دويم طلاق د حضرت عمر ﷺ په خلافت كې ور كړ او دريم طلاق يې د حضرت عثمان ﷺ په خلافت كې وركړ (ابوداؤد ترمذي ابن ماجه) خو ابن ماجه د دويم او دريم طلاق ذكر نه دى كړى .

## د نكاح او طلاق الفاظ په خندا او مخسرو كې هم ثابتيږي

(٣١٢٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ النِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالرَّجْعَةُ . رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درې داسې شيان دي چې د ارادې سره واقع كيږي او په خندا (مسخرو) كې هم واقع كيږي . (١): نكاح (٢): طلاق (٣): رجعت (يعني په يوه يا دوو طلاق وركول څخه وروسته رجوع كول). (ترمذي ابوداؤد) او په ترمذي كې دا حديث حسن غريب ګڼل سوى دى .

## په زوره طلاق واقع كيږي كه يا؟

(٣١٢٦): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا طَلَاقَ وَلَا عَتَاقَ فِي اغْلَاقٍ . رواه ابوداؤد وابن ماجة قيل معنى الاغلاق الاكراه .

د بي بي عائشې رض څخه روايت دى چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي د زور په حالت كې نه طلاق واقع كيږي او نه

ازادي (یعني که په زوره سره یو چا ښځي ته طلاق ور کړي یا یو غلام یې ازاد کړي نو طلاق او ازادي نه صحیح کیږي). (ابوداؤد ابن ما جه) او د اغلاق څخه مراد زور دی.

**د لیوني طلاق نه واقع کیږي**

| | |
|---|---|
| (۳۱۴۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ وَالْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وعطاء بن عجلان الراوي ضعيف ذاهب الحديث . | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر طلاق ورکول واقع کیږي خو د بې عقل او مغلوب العقل طلاق نه واقع کیږي. (ترمذي کي د احدیث غریب ګڼل کیږي) او عطاء بن عجلان راوي ضعیف دی او حافظه یې خرابه ده. |

**درې مرفوع القلم کسان**

| | |
|---|---|
| (۳۱۴۸): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يبلغ وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتَّى يَعْقِلَ . رواه الترمذي وابوداؤد و رواه الدارمي عن عائشة وابن ماجة عنهما . | د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د درو کسانو څخه قلم پورته سوی دی (یعني د هغوئ قول او فعل د مواخذې څخه پاك دی). (۱): یو خو بیده دي تر څو پوري چي بیداره سوی نه وي. (۲): هغه کوچنی دی تر څو |

پوري چي بالغ سوی نه وی (۳): بې عقل تر څو پوري چي په هوش نه وي را غلی. (ترمذي ابو داؤد دارمي) د بي بي عائشې رض او د ابن ماجه دوارو څخه روایت روایت سوې دی.

**مینځي ته دوه طلاقه دي**

| | |
|---|---|
| (۳۱۴۹): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ . رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة والدارمي . | د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دی: د مینځي لپاره دوه طلاقه دي او عدت یې دوه حیضه دی او د دریم طلاق ضرورت نسته. (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه دارمي) |

## دریم فصل

**د خپل خاوند څخه د طلاق یا خلع غوښتونکو ښځو وعید**

| | |
|---|---|
| (۳۱۵۰): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُنْتَزِعَاتُ وَالْمُخْتَلِعَاتُ هُنَّ | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خپلو خاوندانو نافرماني |

اَلْمُنَافِقَاتُ . رواه النسائي .

ښځي او د خلعي (خلع د شرعي په اصطلاح کي دېته ويل کيږي چي د مال په مقابل کي دخپلي ښځي څخه جلاوالي اختيار کړي که خاوند مال واخلي نو د ښځي سره يې خلعه وکړه نو ښځه په طلاق بائن سره طلاقيږي) مطالبه کونکي ښځي منافقي دي . (نسائي) .

**د ښځو د ټول مال په عوض کي خلع مکروه ده**

(۳۱۵۱): وَعَنْ نَافِعٍ عَنْ مَوْلَاةٍ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ أَنَّهَا اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا بِكُلِّ شَيْءٍ لَهَا فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ . رواه مالك .

حضرت نافع ﷺ د صفيه بنت ابو عبيد ﷺ د ازادي سوي مينځي څخه نقل کوي چي صفيې رض د خپل ټول مال په ورکولو سره د خپل خاوند څخه د خلعي مطالبه وکړه او عبدالله بن عمر ﷺ د هغې څخه انکار ونکړ . (مالك).

**په يو وار درې طلاقه ورکول حرام دي**

(۳۱۵۲): وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ قَالَ أُخْبِرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ جَمِيعًا فَقَامَ غَضْبَانًا ثُمَّ قَالَ أَيُلْعَبُ بِكِتَابِ اللّٰهِ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ حَتّٰى قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلَا أَقْتُلُهُ. رواه النسائي

د حضرت محمود بن لبيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ خبر کړل سو چي يوه سړي و خپلي ښځي ته درې طلاقه په يوه ځاي ورکړی دي نبي کريم ﷺ په قهر سو او ودرېدی او وې فرمايل: د خداي تعالي د کتاب سره توکي کيږي او حال دا چي زه ستا سو سره موجود يم په دې اورېدو سره په صحابه کرامو کي يو کس و درېدی او وه يې ويل: يا رسول الله ﷺ ايا زه دغه سړی قتل نه کړم ؟ (نسائي) .

(۳۱۵۳): وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ إِنِّيْ طَلَّقْتُ امْرَأَتِيْ مِائَةَ تَطْلِيقَةٍ فَمَاذَا تَرٰى عَلَيَّ ؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طُلِّقَتْ مِنْكَ بِثَلَاثٍ وَسَبْعٌ وَتِسْعُونَ اتَّخَذْتَ بِهَا آيَاتِ اللّٰهِ هُزُوًا . رواه في الموطأ

د حضرت مالك ﷺ څخه روايت دی چي هغه ته معلومه سوې ده چي يوه سړي عبدالله ابن عباس ﷺ ته وويل: چي ما و خپلي ښځي ته په يوه وار سل طلاقه ورکړی دي تاسو زما په هکله څه حکم کوی ؟ ابن عباس ﷺ ورته وويل: په درې واره طلاق ويلو سره ستا طلاقونه واقع سوه او ستا ښځه ستا څخه جلا سوه او پاته اووه نيوي طلاقو سره دې د خداي ﷻ د اياتونو سره توکي وکړې . (مؤطا) .

**د الله ﷻ په نزد طلاق بد شی دی**

(۳۱۵۴): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُولُ

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چي

اللّٰهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مُعَاذُ مَا خَلَقَ اللّٰهُ شَيْئًا عَلَى وَجْهِ الْاَرْضِ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنَ الْعِتَاقِ وَلَا خَلَقَ اللّٰهُ شَيْئًا عَلَى وَجْهِ الْاَرْضِ اَبْغَضَ اِلَيْهِ مِنَ الطَّلَاقِ . رواه الدارقطني

رسول الله ﷺ وفرمايل : اې معاذه ! الله تعالي چي څومره شيان د مځکي پر مخ پيدا کړي دي نو په هغوئ کي تر ټولو خوښ شئ الله ﷺ ته د مينځي يا غلام ازادول دي او تر ټولو بد شي د الله ﷺ په نزد طلاق دی. (دار قطني)

# بَابُ الْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثًا

## (د هغه ښځي بيان چي درې طلاقه ورکول سوي وي)

## لومړی فصل

**د حلالي صحيح کېدل ...**

(٣١٥٥): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ اِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اِنِّيْ كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِيْ فَبَتَّ طَلَاقِيْ فَتَزَوَّجْتُ بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الزَّبِيْرِ وَ مَا مَعَهُ اِلَّا مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ فَقَالَ اَتُرِيْدِيْنَ اَنْ تَرْجِعِيْ اِلَى رِفَاعَةَ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَا حَتّٰى تَذُوْقِيْ عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوْقَ عُسَيْلَتَكِ . متفق عليه

د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي د رفاعه قرظي ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ زه د رفاعه په نکاح کي وم او هغه ما ته درې طلاقه راکړه وروسته مي د عبدالرحمن بن زبير ؓ سره نکاح وکړه او د هغه سره (مخصوصه عضوه) نسته خو د زړېدلي توکر په شان رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا ته د دويم وار لپاره اراده لرې چي د رفاعه په نکاح کي راسې؟ هغې ورته وويل : هو! وروسته نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ته تر هغه وخته پورې د رفاعه سره نکاح نسې کولاي تر څو چي ته د عبدالرحمن څخه خوند وانخلې او عبدالرحمن ستا څخه خوند وا نخلي. (بخاري او مسلم)

## دوهم فصل

**پر محلل او محلل له باندې لعنت**

(٣١٥٦): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ . رواه الدارمي ورواه ابن ماجه عن علي وابن

د حضرت عبدالله بن مسعود ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په حلالونکي او چي ورته حلاليږي دواړو باندې لعنت ويلي دی (يعني که

عباس وعقبة بن عامر .

يو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي

بيا هغه بل سړي ته ووايي چې ته د دې سره نکاح وکړه او زما دپاره يې حلاله کړه نبي کريم ﷺ پر دې دواړو باندې لعنت ويلی دی. (دارمي او ابن ماجه د حضرت علي ؓ حضرت ابن عباس ؓ او حضرت عقبه بن عامر ؓ څخه روايت نقل کړی دی).

**د ايلاء مسئله**

(٣١٥٧): وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ أَدْرَكْتُ بِضْعَةَ عَشَرَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَقُوْلُ يُوْقَفُ الْمُوْلِيْ . رواه في شرح السنة

د حضرت سليمان بن يسار ؓ څخه روايت دی چې ما د نبي کريم ﷺ په صحابه وو کې تر لسو کسانو زيات ليدلي دي چې د هغوئ بيان دی

چې ايلاء کونکي ته دې مهلت ورکړل سي (يعني چاچې دا قسم کړی وي چې تر څلورو مياشتو پورې يا د دې څخه زيات د خپلې بي بي سره کوروالي ونه کړي نو د ميعاد تر تېرېدو وروسته و هغه ته وخت ور کړل سي يا خو به خپله بي بي بيرته اخلي او کفاره دې اداء کړي يا دې طلاق ورکړي). (شرح السنة).

**د ظهار حکم**

(٣١٥٨): وَعَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ أَنَّ سَلْمَانَ بْنَ صَخْرٍ وَيُقَالُ لَهُ سَلَمَةُ بْنُ صَخْرٍ الْبَيَاضِيُّ جَعَلَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ كَظَهْرِ أُمِّهِ حَتَّى يَمْضِيَ رَمَضَانُ فَلَمَّا مَضَى نِصْفٌ مِنْ رَمَضَانَ وَقَعَ عَلَيْهَا لَيْلًا فَأَتَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتِقْ رَقَبَةً قَالَ لَا أَجِدُهَا قَالَ فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا أَسْتَطِيْعُ قَالَ أَطْعِمْ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا قَالَ لَا أَجِدُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَرْوَةَ بْنِ عَمْرٍو أَعْطِهِ ذٰلِكَ الْعَرَقَ وَهُوَ مِكْتَلٌ يَأْخُذُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا أَوْ سِتَّةَ عَشَرَ صَاعًا لِيُطْعِمَ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا. رواه الترمذي و روى ابوداؤد وابن ماجة والدارمي عن سليمان بن يسار عن سلمة بن صخر نحوه قال كنت امرء اصيب

د حضرت ابو سلمه ؓ څخه روايت دی چې سليمان بن صخر خپله ښځه د ځان لپاره د خپلې مور د شا په شان وگرځوله (مثلا دا يې ورته وويل چې ته ما ته د خپلې مور د شا په شان يې) تر هغه وخته پورې ترڅو چې روژه ختمه نسي وروسته روژه نه وه تيره سوې چې سليمان د خپلې ښځې سره کوروالي وکړه وروسته هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او واقعه يې ورته بيان کړه رسول الله ﷺ ورته حکم ورکړ ته يو غلام ازاد کړه هغه عرض وکړ چې زه د غلام د ازادېدو وس نه لرم نبي کريم ﷺ ورته وويل نو بيا دوې مياشتې مسلسل روژې و نيسه عرض يې وکړ چې د روژو د نيولو هم طاقت نلرم نبي کريم ﷺ ورته وويل په شپېتو

من النساء ما لا یصیب غوي و في روایتهما اعني ابادا‌ؤد والدارمي فاطعم وسقا من تمر بین ستین مسکینا.

مسکینانو باندي دودي وخوره عرض یې وکړ چي د دې هم را سره ګنجائش نسته نو رسول الله ﷺ فروه بن عمر ﷺ ته حکم وکړ چي د خرماؤ یوه

کڅوړه هغه ته ورکړه (چي هغه یوه سرې راوړېوه ) او په هغه کي تر پنځلسو صاعو او شپاړلسو کاسو پورې خرماوې وې چي ورکړې دې شپېتو مسکینانو ته. (ترمذي او ابو داؤد)ابن ماجه او دارمي د سلیمان بن یسار څخه او هغه د سلمه بن صخر څخه هم په دې شان روایت کړې دی هغه وویل چي د ښځو سره زما تعلق د نورو څخه زیات دی او د ابوداؤد او دارمي په روایت کي بیان دی چي د خرماؤ یو وسق شپېتو مسکینانو ته ورکړه.

### د ظهار کفاره

(۳۱۵۹): وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبْلَ اَنْ يُكَفِّرَ قَالَ كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ . رواه الترمذي وابن ماجة .

د حضرت سلیمان بن یسار ﷺ څخه او هغه د سلمه بن صخر څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ د ظهار کونکي په اړه فرمایلي دي: که هغه دکفاره ورکولو څخه ترمخه د ښځي سره صحبت وکړي نو په هغه باندي یوه کفاره واجب ده. (ترمذي ابن ماجه).

## دریم فصل

(۳۱۶۰): عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَجُلًا ظَاهَرَ مِنِ امْرَاَتِهِ فَغَشِيَهَا قَبْلَ اَنْ يُكَفِّرَ فَاَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ مَا حَمَلَكَ عَلَى ذٰلِكَ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ رَاَيْتُ بَيَاضَ حِجْلَيْهَا فِي الْقَمَرِ فَلَمْ اَمْلِكْ نَفْسِي اَنْ وَقَعْتُ عَلَيْهَا فَضَحِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَمَرَهُ اَلَّا يَقْرَبَهَا حَتّٰى يُكَفِّرَ . رواه ابن ماجة و روى الترمذي نحوه .وقال هذا حديث حسن صحيح غريب و روى ابوداؤد والنسائي ونحوه

حضرت عکرمه ﷺ د ابن عباس ﷺ څخه روایت کوي چي یوه سړي د خپلي ښځي سره ظهار وکړ او بیا د کفارې د ورکولو څخه وړاندې یې د هغې سره صحبت وکړ او وروسته د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او واقعه یې ور ته بیان کړه نبي کریم ﷺ ور ته و فرمایل ته په دا کار کولو باندي څه شي اماده کړې؟ هغه عرض وکړ یا رسول الله ﷺ د سپوږمۍ په رڼا کي د هغې سپین پائزېب زما په نظر راغی او زه یې په جماع کولو مجبور کړم په دې اوږېدو سره

مسندا ومرسلا وقال النسائي المرسل اولى بالصواب من المسند .

نبي كريم ﷺ وخندل بيا يې حكم وركړ تر څو پورې چې دې كفاره نه وي ادا كړې هغې ته

نژدېمه ورځه .(ابن ماجه) ترمذي ويلي چې دا حديث حسن صحيح غريب دى . او ابو داؤد دا مسندا او مرسلا روايت كړى او ويلي يې دى چې مرسل بهتر دى د مسند څخه په حقوالي كې .

## بَابُ فِيْ وُجُوْب كَوْن الرَّقَبَة الْمصتقة كَفارة مؤمنة

## (په كفارهٔ ظهار كې چې كوم غلام آزاد كړل سي د هغه مؤمن كېدل ضروري دي كه يا؟)

## لومړى فصل

### كفاره ظهار

(۳۱۶۱): عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ جَارِيَةً كَانَتْ لِي تَرْعَى غَنَمًا لِي فَجِئْتُهَا وَقَدْ فُقِدَتْ شَاةٌ مِنَ الْغَنَمِ فَسَأَلْتُهَا عَنْهَا فَقَالَتْ أَكَلَهَا الذِّئْبُ فَأَسِفْتُ عَلَيْهَا وَكُنْتُ مِنْ بَنِي آدَمَ فَلَطَمْتُ وَجْهَهَا وَعَلَيَّ رَقَبَةٌ أَفَأُعْتِقُهَا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ اللّٰهُ فَقَالَتْ فِي السَّمَاءِ فَقَالَ مَنْ أَنَا فَقَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتِقْهَا رواه مالك . و في رواية مسلم قَالَ كَانَتْ لِي جَارِيَةٌ تَرْعَى غَنَمًا لِي قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا الذِّئْبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنا وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي آدَمَ آسَفُ كَمَا يَأْسَفُونَ لَكِنْ صَكَكْتُهَا صَكَّةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاويه بن حكم ﷺ څخه روايت دى چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سوم او عرض مې وكړ يا رسول الله ﷺ زما يوه مينځه ده چې پسونه پيايي يوه ورځ زه و هغې ته ورغلم نو يو پسه پكښې كم وو ما د هغې څخه د دې پوښتنه وكړه نو هغې را ته وويل چې شرموښ خوړلى دى ما ته په دې خبره غصه راغله او زه هم انسان يم (چې غصه كېږم) نو هغه مې پر مخ په چپلاخه ووهله او پر ما باندې د كفارې په ډول يو غلام ازادول واجب دى ايا زه دغه مينځه ازاده كړم؟ نبي كريم ﷺ مينځه را وغوښتل او پوښتنه يې ځيني وكړه چې الله تعالى چېرې دى؟ هغې وويل چې په اسمان كې بيا نبي كريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وكړه چې زه څوك يم؟ هغې ورته وويل ته د الله تعالى رسول يې نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا ازاده كړه .

فَعَظُمَ ذٰلِكَ عَلَيَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَفَلَا أُعْتِقُهَا قَالَ ائْتِنِي بِهَا فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَالَ لَهَا أَيْنَ اللّٰهُ قَالَتْ فِي السَّمَاءِ قَالَ مَنْ أَنَا قَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ .

(مالك) او د مسلم په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې معاویه وویل زما یوه مینځه ده چې د احد په جوانیه ځای کې زما پسونه څروي یوه ورځ ما خپل پسونه ولیدل چې ښرموښ یو

ځیني خوړلي وو او زه یو انسان یم (د بشریت په تقاضا سره) ماته هم داسي غصه راغي ځنګه چې نورو ته ما د هغې وهل وغوښته ، ګر یو وازي په یوه چپلاخه باندي مي اکتفاء وکړه بیا زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او قصه مي ورته بیان کړه نو رسول الله ﷺ زما په هکله دا کار لوی وبللی ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! ایا زه دغه مینځه ازاده کړم ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل : هغه مینځه دلته راوله نو ما هغه راوستل نو نبي کریم ﷺ د هغې ځخه پوښتنه وکړه چې خداي تعالي چیري دی ؟ هغې وویل په اسمان کې بیا نبي کریم ﷺ ور ځخه پوښتنه وکړه زه څوک یم ؟ هغې عرض وکړ تاسو د خداي تعالی رسول یاست نبي کریم ﷺ وفرمایل : ازاده یې کړه دا مسلمانه ده .

## بَابُ اللِّعَانِ (د لعان بیان)

## لومړی فصل

### د لعان یو واقعه

(۳۱۶۲): عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ قَالَ أَنَّ عُوَيْمِرَ الْعَجْلَانِيَّ قَالَ يَارَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَيَقْتُلُونَهُ أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُنْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا قَالَ سَهْلٌ فَتَلَاعَنَا فِي المسجد وَأَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ أَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرُوا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَسْحَمَ أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ عَظِيمَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ

د حضرت سهل ﷺ بن سعد ساعدي ځخه روایت دی چې عویمر عجلاني د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض یې وکړ یا رسول الله ﷺ! تاسو د هغه سړي په باره کې څه حکم ور کوئ چې د خپلي ښځي سره یو ناولده سړی د نیسي ایا هغه وژني ؟ نو د مقتول وارثان به څوک وژني ؟ یا په یو داسي صورت کې څه کول پکار دي ؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : خداوند تعالي ستا او ستا د ښځي په باره کې حکم نازل کړیدی ته ولاړه سه خپله ښځه راوله د سعد بن سهل بیان دی زمونږ په مینځ کې د ښځي خاوند

السَّاقَيْنِ فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أُحَيْمِرَ كَأَنَّهُ وَحَرَةٌ فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ كَذَبَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ بِهِ عَلَى النَّعْتِ الَّذِي نَعَتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ تَصْدِيقِ عُوَيْمِرٍ فَكَانَ بَعْدُ يُنْسَبُ إِلَى أُمِّهِ .متفق عليه .

دواړو په جماعت کي لعان وکړ کوم وخت چي لعان وسو نو عويمر وويل: که زه دا ښځه د خانه سره وساتم نو گويا ما په دې باندي د درواغو تور لگولي دی د دې څخه وروسته هغه و خپلي ښځي ته دري طلاقه ورکړه بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: که دا ښځه داسي بچی (اولاد) راوړي چي د هغه رنگ تور او سترگي يې توري وي د سترگو مردگي يې لوی وي او د دواړو پنډيو غوښه يې ډکه وي نو عويمر رښتني دی او د زنا تور لگول صحيح دي او که داسي بچی راوړي چي د هغه رنگ سوربخن وي نو عويمر درواغجن دی نو ښځي هغسي بچی راوړ چي د هغه صفت رسول الله ﷺ بيان کړی وو او د عويمر بيان رښتني ثابت سو د دې څخه وروسته هغه کوچنی د خپلي مور ولور ته منسوب سو. (بخاري او مسلم).

### د لعان په صورت کي د خاوند او ښځي په مينځ کي د تفريق مسئله

(۳۱۶۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاعَنَ بَيْنَ رَجُلٍ وَامْرَأَتِه فَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ، متفق عليه وَ فِيْ حَدِيْثِه لَهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ وَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ ثُمَّ دَعَاهَا فَوَعَظَهَا وَذَكَّرَهَا وَأَخْبَرَهَا أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ .

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د يوه سړي او ښځي په مينځ کي لعان وکړ بيا يې د سړي او ښځي په مينځ کي جلا والي راوست او بچی يې د ښځي ولور ته منسوب کړ: (بخاري او مسلم) او په بخاري او مسلم کي يو بل روايت د ابن عمر ؓ څخه راغلی دی رسول الله ﷺ و هغه سړي ته نصيحت وکړ: او د اخرت عذاب يې وریاد کړ او پوه يې کړ چي د دنيا عذاب د اخرت د عذاب څخه ډېر اسانه دی (د دې لپاره چي هغه درواغ ونه وايي) بيا يې هغه ښځه را وغوښتل او هغې ته يې هم نصيحت وکړ او د اخرت عذاب يې وریاد کړ او پوه يې کړه چي د دنيا عذاب د اخرت د عذاب څخه اسانه دی.

### د لعان کونکو محاسبه په اخرت کي کيږي

(۳۱۶۴): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ حِسَابُكُمَا عَلَى اللّٰهِ أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ لَا سَبِيْلَ لَكَ عَلَيْهَا قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَالِي قَالَ لَا

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و لعان کونکو ته وفرمايل: ستاسو حساب به د خداي ﷻ سره وي په تاسو کي خامخا يو درواغجن دی اوس ستا د دې ښځي

مَالَ لَكَ إِنْ كُنتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَإِنْ كُنتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَاكَ أَبْعَدُ وَأَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا .متفق عليه.

سره هيڅ اريكي نسته (دا ښځه پر تا باندي د همېش لپاره حرامه ده) هغه سړی ورته وويل: زما مال (زما وركول سوی مهر) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ستا مال و تا ته نسي دركول كيدای كه ته په دعوه كي رېښتني يې نو ستا مال د هغې دشرمګاه دحلالولو په بدله كي ولاړی او كه ستا دعوه د درواغو وي نو د مهر بيرته اخيستل ستا څخه ډېر لېري دي. (بخاري او مسلم).

**د لعان د ايت شان نزول**

(۳۱۶۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيِّنَةَ أَوْ حَدًّا فِي ظَهْرِكَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذَا رَأَى أَحَدُنَا عَلَى امْرَأَتِهِ رَجُلًا يَنْطَلِقُ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ فَقَالَ هِلَالٌ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ فَلَيُنْزِلَنَّ اللَّهُ مَا يُبَرِّئُ ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ {وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ} فَجَاءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ وَقَّفُوهَا وَقَالُوا إِنَّهَا مُوجِبَةٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهَا تَرْجِعُ ثُمَّ قَالَتْ لَا أَفْضَحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ فَمَضَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصِرُوهَا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَجَاءَتْ بِهِ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي هلال بن اميه د رسول الله ﷺ په حضور كي په خپلي ښځي او شريك بن سحماء باندي د زنا تور ولګوی نبي كريم ﷺ وفرمايل: شاهدان راوله كه نه په تا باندي به شرعي حد قائم سي هلال عرض وكړ يا رسول الله ﷺ كله چي په موږ كي يو سړی د خپلي ښځي سره يو څوك ووينې نو ايا هغه به په شاهدانو پسي ګرځي؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: شاهدان راوله كني ستا په شا باندي به شرعي حد قائم كړل سي هلال عرض وكړ په هغه ذات دي مي قسم وي چي تاسو يې په حق سره را لېږلي ياست زه رېښتني يم نو ضرور به خدای تعالى په دي موقع باندي احكام نازل كړي چي په هغه سره به زما ملا خلاصه سي له حده نو جبرئيل ﷺ په واسطه دا ايت نازل كړ والذين يرمون ازواجهم (فقرا حتي بلغ) وان كان من الصدقين پوري د دې څخه وروسته هلال حاضر سو. او شاهدي يې وركړه يعني لعان يې وكړ نبي كريم ﷺ به د هغه شهادت اورېدی او فرمايل به يې: خداي تعالى ته معلومه ده چي په

كَذٰلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ. رواه البخاري .

تاسو كي خامخا يو دروغجن دی پـه تاسو كي به هغه څوك وي چي توبه وباسي بيا هغه ښځه را ولاړه سوه هغې هم لعان وكړ يعني څلور واره

يې د خپل ذات شاهدي وركړه په پنځم وار چي يې شاهدي وركوله نو اصحابو كرامو رض هغه منعه كړه ستا اخيري شاهدي وركول واجب كونكي دی (يعني د ښځي او خاوند په مينځ كي جدائي يا د اخرت عذاب). د ابن عباس ﷺ بيان دی په دې اوږېدو سره ښځه لږ ايشاره سوه سوچ يې وكړ په هغې باندي زموږ خيال راغی چي رجوع به وكړي او په پنځم وار به قسم و نه خوري مگر بيا هغې وويل زه خپل قوم د ټول عمر لپاره نه ذليله كوم نو پنځمه شاهدي يې هم پوره كړه د دې څخه وروسته نبي كريم ﷺ و فرمايل : كه دا ښځه تورو سترگو لرونكي او درانه كوناتي او غټو پنډيو لرونكي كوچنی راوړي نو هغه به د شريك بن سحماء زوی وي نو هغسي بچی يې راوړ او نبي كريم ﷺ وفرمايل : كه د خداي تعالي په كتاب كي د لعان كونكي دا حكم نه وي (نو تاسو به ليدلي وای چي) ما به دې ښځي ته كومه سزا وركولای . (بخاري) .

**د زنا تهمت د څلورو شاهدانو په ذريعه ثابتيږي**

(٣١٦٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ لَوْ وَجَدْتُ مَعَ أَهْلِي رَجُلًا لَمْ أَمَسَّهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ قَالَ كَلَّا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ كُنْتُ لَأُعَاجِلُهُ بِالسَّيْفِ قَبْلَ ذٰلِكَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ سَيِّدُكُمْ إِنَّهُ لَغَيُورٌ وَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللّٰهُ أَغْيَرُ مِنِّي . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چي سعد بن عباده ﷺ وويل : كه زه د خپلي ښځي سره يو ناولده سړی ووينم نو تر څو پوري چي ما څلور شاهدان نه وي را ټول كړی نو هغه ته به لاس ور نه وړم رسول الله ﷺ ورتـه وفرمايل : هو ا سعد ﷺ وويل : هيڅكله نه : په هغه ذات دې مي قسم وي چي ته يې په حقه سره رالېږلي يې شايد زه د شاهدانو د راټولولو څخه وړاندي په توره باندي د هغه خاتمه كوم رسول الله ﷺ وفرمايل : واورئ ستاسو مشر څه وايي ؟ البته هغه غيرتمند دی او زه د ده څخه زيات غيرتمند يم او الله تعالي زما څخه زيات غيرت مند دی . (مسلم).

**د الله ﷻ څخه زيات هيڅوك غيرتمند نشته**

(٣١٦٧): وَعَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ لَوْ رَأَيْتُ رَجُلًا مَعَ امْرَأَتِي لَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ غَيْرَ مُصْفَحٍ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مغيره ﷺ څخه روايت دی چي سعد بن عباده ﷺ وويل : كه زه يو ناولـده سړی د خپلي ښځي سره ووينم نو زه به يې په توره باندي قتل

فَقَالَ أَتَعْجَبُوْنَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ وَاللّٰهِ لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللّٰهُ أَغْيَرُ مِنِّي وَمِنْ أَجْلِ غَيْرَةِ اللّٰهِ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللّٰهِ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ بَعَثَ الْمُبَشِّرِيْنَ وَالْمُنْذِرِيْنَ وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللّٰهِ وَمِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ وَعَدَ اللّٰهُ الْجَنَّةَ .متفق عليه.

کرم پـه دې الفـاظ اوربـدو سره رسـول الله ﷺ وفرمايـل : ايـا تاسـو د سـعد پـه غيـرت بانـدې تعجب کـوئ ؟ قسـم پـه خـداي چې زه دده څخه زيات غيرتمند يم او الله تعالي زما څخه زيات غيرتمنـد دی او د الله تعـالی د غيـرت پـه وجـه گناهونه حرام سوی دي هغه گناوي چي ظاهري وي او که پټي وي د خداي تعالي څخه زيات څوك عذر نه خوښوي په دې و جه الله ﷺ بيروونکي او زيري ورکونکي (پيغمبران) رالېږلي دي دخداي ﷺ څخه زيات هيڅوك تعريف نه خوښوي په دې وجه الله ﷺ د جنت وعده کوي . (بخاري او مسلم) .

**د الله ﷻ د غيرت تقاضا څه شی ده ؟**

(۳۱۶۸): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَغَارُ وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ وَغَيْرَةُ اللّٰهِ أَنْ لَا يَأْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ غيرت مند دی او مسـلمان هـم غيرتمنـد دی او د الله ﷻ غيرت دادی چي مسلمان بنده هغه کار ونکړی کوم چي الله ﷻ حرام کړی دی . (بخاري او مسلم) .

**د کوچني د نسبت څخه انکار مه کوئ**

(۳۱۶۹): وَعَنْهُ أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ امْرَأَتِيْ وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وَإِنِّيْ أَنْكَرْتُهُ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَمَا أَلْوَانُهَا قَالَ حُمْرٌ قَالَ هَلْ فِيْهَا مِنْ أَوْرَقَ قَالَ إِنَّ فِيْهَا لَوُرْقًا قَالَ فَأَنّٰى تُرٰى ذٰلِكَ جَاءَهَا قَالَ عِرْقٌ نَزَعَهَا قَالَ فَلَعَلَّ هٰذَا عِرْقٌ نَزَعَهُ وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ فِي الْاِنْتِفَاءِ مِنْهُ . متفق عليه.

: حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ زما ښـځي تور کوچني راوړی دی او ما د هغه څخه انکار کړی دی (يعني دا کوچنی زمـا د نطفي څخـه نـه دی) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا ستا سره اوښان سته ؟ هغه عرض وکړ هو ! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : د هغو رنگونه څنگه دي ؟ هغه عرض وکړ چي سره دي ايا په هغو کي خاکي اوښان هم سته ؟ هغه وويل : خاکي هم پکښي سته نبي کريم ﷺ وفرمايل : خاکي اوښان د کوم ځايه څخه پيدا سوه ؟ (يعني د سرو اوښانو بچئ خاکي

څنګه سوه؟) هغه عرض وکړ یو رګ دی چي دا یې خاکي رنګه جوړ کړه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: شاید دې رګ ستا په کوچني کي تور رنګ پیدا کړې وي رسول الله ﷺ هغه پوه کړ چي هغه دي د خپل کوچني څخه انکار نه کوي. (بخاري او مسلم).

**د زنا په نتیجه کي د پیداکېدونکي ماشوم نسب د زاني څخه نه ثابتېږي**

(٣١٧٠): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ مِنِّي فَاقْبِضْهُ إِلَيْكَ فَلَمَّا كَانَ عَامَ الْفَتْحِ أَخَذَهُ سَعْدٌ فَقَالَ إِنَّهُ ابْنُ أَخِي وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ أَخِي فَتَسَاوَقَا إِلَى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَعْدٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَخِي كَانَ عَهِدَ إِلَيَّ فِيهِ وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ أَخِي وَابْنُ وَلِيدَةِ أَبِي وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ ثُمَّ قَالَ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ احْتَجِبِي مِنْهُ لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِهِ بِعُتْبَةَ فَمَا رَآهَا حَتَّى لَقِيَ اللَّهَ و فِي رواية هُوَ أَخُوكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِيهِ . متفق عليه.

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی چي عتبه بن ابي وقاص ﷺ خپل ورور سعد بن ابي وقاص ﷺ ته وصیت وکړ چي د زمعه د مینځي زوی زما د نطفې څخه دی ته هغه واخله د مکې د فتحي په کال هغه کوچنی واخیستی او وه یې ویل چي هغه زما د ورور زوی دی او عبد بن زمعه ﷺ وویل: چي دا کوچنی زما ورور دی. دواړو خپله معامله د نبي کریم ﷺ ته راوړه، سعید وویل یا رسول الله ﷺ زما ورور ماته دا وصیت کړې وو چي دا زما کوچنی دی او عبد بن زمعه وویل چي دا کوچنی زما ورور دی او زما د پلار د مینځي زوی دی زما د پلار پر بستره پیدا سوی دی رسول الله ﷺ وفرمایل: اې عبد بن زمعه! ته د دې کوچني وارث یې کوچنی د هغه دي چي د چا پر بستره دي پیداسي او زنا کاره لپاره حجر دي یعني هغه د کوچني څخه محروم دی بیا رسول الله ﷺ خپلي بي بي سودې رض ته وویل: چي هغه د زمعه لور وه د دې کوچني څخه پرده کوه څکه چي په دې کي د عتبه سره مشابهت پیدا کیږي نو بي بي سودې رض د هغه کوچني څخه تول عمر پرده کوله او هیڅ کله یې ونه لیدی تر هغو چي وفات سو . او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: اې عبد بن زمعه! دا ستا وروز دی څکه چي ستا د پلار پر بستره پیدا سوی دی. (بخاري او مسلم).

**د نسب په اثبات کي د قیافه شناس قول معتبر دی که یا؟**

(٣١٧١): وَعَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ مَسْرُورًا فَقَالَ أَيْ

د بي بي عائشې رض څخه روایت دی یوه ورځ نبي کریم ﷺ په خوشحالي خوشحالي زما کره

عَائِشَةُ أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ فَلَما رَأَى أُسَامَةَ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيفَةٌ قَدْ غَطَّيَا رُءُوسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ . متفق عليه.

راغلی او ویې فرمایل: اې عائشې ! نن مجزز مدلجي(قیافه شناس) چې اسامه او زید ولیدل چې یو شی یې اغوستي او بیده وو او پښې یې ښکارېدې نو هغه وویل: چې دا پښې خینې د خینو څخه دي (یعني په دې پښو کي نسبتي شرکت دی) عربو به ویله چې د اسامه رنګ د زید د رنګه څخه مختلف دی نو په دې وجه هغه د زید زوی نه دی نو دقیافه شناسه په دې ویلو سره د دې تردید وسو او نبي کریم ﷺ په دې ډېر خوشحاله سو د زید بن حارثه ﷺ یعني د اسامه پلار د نبي کریم ﷺ متبنی (جوړ سوی زوی) وو . (بخاري او مسلم)

**د خپل پلار څخه د انکار کونکي وعید**

(۳۱۷۲): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ وَأَبِي بَكْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ .متفق عليه.

د حضرت سعدبن ابي وقاص ﷺ او ابي بکره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چې د خپل پلار څخه پرته بل سړی ته خان منسوبه کوي او هغه د دې حقیقت څخه خبر وي چې دی دپلار څخه دی نو په هغه جنت حرام دی . (بخاري او مسلم).

(۳۱۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَرْغَبُوا عَنْ آبَائِكُمْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيهِ فَقَدْ كَفَرَ. متفق عليه و قد ذكر حديث عائشة ما من احد اغير من الله في باب صلوة الخسوف .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د خپلو پلرو څخه انکار مه کوئ (یعني د هغو د نسب څخه څانونه مه بېګانه کوئ) څکه چې کوم سړی د خپل نسب څخه انکار وکړ هغه د نعمت ناشکري وکړه.(بخاري او مسلم) او د بي بي عائشې رض حدیث ما من احد الخ صلوة خسوف کي بیان سوې دی .

## دویم فصل

**د خپل کوچني څخه انکار کونکي د الله ﷺ د دیدار څخه محروم دی**

(۳۱۷۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الْمُلَاعَنَةِ أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلَى قَوْمٍ مَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ فَلَيْسَتْ مِنَ

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې د لعان دایت په نازلېدو هغه د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي وه چې کومه ښځه چې په یو قوم کي

اللهِ فِيْ شَيْءٍ وَلَنْ يُدْخِلَهَا اللهُ جَنَّتَهُ وَأَيُّمَا رَجُلٍ جَحَدَ وَلَدَهُ وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ احْتَجَبَ اللهُ مِنْهُ وَفَضَحَهُ عَلَى رُؤُوْسِ الْخَلَائِقِ فِي الْأَوَّلِيْنَ وَالْآخِرِيْنَ . رواه أبو داود والنسائي والدارمي

هغه بچی شامل کړي چي هغه د هغو ځخه نه وي (يعني په زنا يې کوچنی راوړي وي او هغه يې د خپل خاوند ته منسوب کړی وي) هغه ښځه قابل اعتبار نه ده خداي تعالي به هغه په جنت کي داخله نه کړي او کوم سړی چي د خپل زوی ځخه انکار وکړي حال دا چي پوهيږي چي دا زما زوی دي خداي تعالي به د هغه ځخه پرده وکړي (يعني هغه ته به د خداي تعالي ديدار نصيب نسي) او خداي تعالي به هغه په اولينو او اخيرنيو خلکو کي رسوا کړي. (ابوداؤد نسائي دارمي).

### بدکاره ښځي ته طلاق ورکول غوره دي

(۳۱۷۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ لِيْ امْرَأَةً لَا تَرُدُّ يَدَ لَامِسٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلِّقْهَا قَالَ إِنِّيْ أُحِبُّهَا قَالَ فَأَمْسِكْهَا إِذًا . رواه أبو داود والنسائي وقال النسائي : رفعه أحد الرواة إلى ابن عباس وأحدهم لم يرفعه قال : وهذا الحديث ليس بثابت .

د حضرت ابن عباس ﷺ ځخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ زما ښځه د هيچا ځخه مخ نه اړوي (يعني کوم سړی چي ور سره جماع کوي د هغه ځخه انکار نه کوي) نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغې ته طلاق ورکړه هغه عرض وکړ زما ور سره زياته مينه ده نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل :نو د هغې ساتنه کوه او د ځان سره يې ساته. (ابوداؤد نسائي) نسائي وايي په راويانو کي يو راوي خو د ابن عباس ﷺ ولور ته مرفوع کوي او دويم نه کوي نسائي وايي دا حديث ثابت نه دی.

### د نسب د اثبات په اړه يو هدايت

(۳۱۷۶): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ كُلَّ مُسْتَلْحَقٍ اسْتُلْحِقَ بَعْدَ أَبِيْهِ الَّذِيْ يُدْعَى لَهُ ادَّعَاهُ وَرَثَتُهُ فَقَضَى أَنَّ مَنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ يَمْلِكُهَا يَوْمَ أَصَابَهَا فَقَدْ لَحِقَ بِمَنْ اسْتَلْحَقَهُ وَلَيْسَ لَهُ مِمَّا قُسِمَ قَبْلَهُ مِنَ الْمِيْرَاثِ شَيْءٌ وَمَا أَدْرَكَ مِنْ مِيْرَاثٍ لَمْ يُقْسَمْ فَلَهُ نَصِيْبُهُ وَلَا يَلْحَقُ إِذَا كَانَ أَبُوْهُ الَّذِيْ

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره ځخه او هغه د خپل پلاره ځخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ د هغه کوچني په نسبت چي هغه د پلار د مرګ ځخه وروسته د هغه په وارثانو کي شامل کړ د دې حکم د ورکولو اراده يې وکړه چي کوم کوچنی د داسي مينځي ځخه پيدا وي چي د هغه پلار په هغه ورځ د هغې مينځي مالک وي چي په کومه ورځ يې ورسره صحبت کړي

يُدْعَى لَهُ أَنْكَرَهُ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ لَمْ يَمْلِكْهَا أَوْ مِنْ حُرَّةٍ عَاهَرَ بِهَا فَإِنَّهُ لَا يَلْحَقُ بِهِ وَلَا يَرِثُ وَإِنْ كَانَ الَّذِي يُدْعَى لَهُ الَّذِي هُوَ ادَّعَاهُ فَهُوَ وَلَدُ زِنْيَةٍ مِنْ حُرَّةٍ كَانَ أَوْ أَمَةٍ.رواه ابوداؤد

وي نو هغه كوچنى د هغه په نسب كي شامل سو او د هغه وارث سو او د هغه د پيدا كېدو ترمخه چي كوم مال تقسيم سوي وي په هغه كي د هغه هيڅ برخه نسته او كه ميراث د هغه د پېدا كېدو څخه وروسته بيا پيدا سي او تقسيم سوي نه وي نو په هغه كي د هغه برخه نسته او هغه كوچنى چي د هغه پلار د هغه څخه انكار كړي وي د هغه په نسب كي شاملېداى نسي كه څه هم هغه كوچنى د هغې مينځي څخه وي چي د هغې سره يې په هغه ورځ صحبت كړي وي په كومه ورځ چي د هغې مالك سوي نه وو كه د ازادي ښځي سره يې زنا كړي وي هغه كوچنى نه د هغه په نسب كي شاملېداى سي او نه يې هم وارث كېداى سي كه څه هم پلار يې د هغه كوچني دعوا كړي وي چي دا د هغه كوچنى دى هغه كوچنى كه د مينځي څخه وي كه د ازاداي ښځي څخه وي حرامي به وي .(ابوداؤد).

## غيرت په ځينو صورتو كي خوښ او په ځينو كي ناخوښه دى

(۳۱۷۷): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنَ الْغَيْرَةِ مَا يُحِبُّ اللّٰهُ وَمِنْهَا مَا يُبْغِضُ اللّٰهُ فَأَمَّا الَّتِي يُحِبُّهَا اللّٰهُ فَالْغَيْرَةُ فِي الرِّيبَةِ وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُهَا اللّٰهُ فَالْغَيْرَةُ فِي غَيْرِ رِيبَةٍ وَإِنَّ مِنَ الْخُيَلَاءِ مَا يُبْغِضُ اللّٰهُ وَمِنْهَا مَا يُحِبُّ اللّٰهُ فَأَمَّا الْخُيَلَاءُ الَّتِي يُحِبُّ اللّٰهُ فَاخْتِيَالُ الرَّجُلِ عِنْدَ الْقِتَالِ وَاخْتِيَالُهُ عِنْدَ الصَّدَقَةِ وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُ اللّٰهُ فَاخْتِيَالُهُ فِي الْفَخْرِ و في رواية فِي الْبَغْيِ . رواه احمد و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت جابر بن عتيك ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د غيرت يو قسم چي خداي تعالي يې خوښوي او د غيرت يو قسم چي الله ﷺ يې نه خوښوي كوم چي الله ﷺ يې خوښوي هغه غيرت دى چي د شك او شبې په ځاي وي (لكه په ښځي يا په مينځي باندي شك او شبه وي چي د دې اريكي د بل سړي سره دي). او هغه غيرت چي الله ﷺ يې نه خوښوي هغه غيرت دى چي د شك او شبهې په ځاى نه وي (يعني ځاني گمان يې وي او د شك څه قرينه نه وي) او ځيني لويي (تكبر) ښودل داسي دي چي د الله ﷺ بد ايسي او ځيني هغه ده چي خداي تعالي يې خوښوي كومه لويي چي خداي تعالي خوښوي هغه داده چي د غزا په وخت يا دصدقي د وركولو په وخت كي سړى ښكاره كړي او كومه چي د خداي تعالي بد ايسي نو هغه په نسب باندي فخر كول دي او په يو بل روايت كي دا الفاظ دي چي تكبر د الله ﷺ خوښ نه دى هغه په ظلم كي تكبر كول دي . (احمد ابوداؤد نسائي).

## دریم فصل

### د ولد الزنا نسب

(۳۱۷۸): عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ فُلَانًا ابْنِي عَاهَرْتُ بِأُمِّهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا دَعْوَةَ فِي الْإِسْلَامِ ذَهَبَ أَمْرُ الْجَاهِلِيَّةِ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ . رواه ابوداؤد

حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روایت کوي چي یو سړی و دریدی او عرض یې وکړ یا رسول الله ﷺ! فلانی زما زوي دی ما د هغه د مور سره د جاهلیت په زمانه کي زنا کړې وه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د جاهلیت د زماني خبري تیري سوې په اسلام کي د هغه دعوا نه چلیږي کوچنی د صاحب فراش (د بستري د خاوندی یعني د چا په بستره دي پیدا سوی وي) او د زنا کاره لپاره په کاڼو سنګسارول دی. (ابوداؤد).

### هغه څلور ښځي چي د هغو څخه لعان نه کیږي

(۳۱۷۹): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ مِنَ النِّسَاءِ لَا مُلَاعَنَةَ بَيْنَهُنَّ النَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْيَهُودِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْحُرَّةُ تَحْتَ الْمَمْلُوكِ وَالْمَمْلُوكَةُ تَحْتَ الْحُرِّ . رواه ابن ماجة

د حضرت عمرو بن شعیب ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څلور ښځي دي چي په هغوئ باندي لعان نسته: (۱): یوه نصراني ښځه ده چي د یوه مسلمان په نکاح کي وي (۲): بله یهودي ښځه ده چي د یوه مسلمان په نکاح کي وي. (۳): بله هغه ازاده ښځه ده چي د یوه غلام په نکاح کي وي. (٤): هغه مینځه ده چي د یوه ازاد په نکاح کي وي. (ابن ماجه)

### رسول الله ﷺ تر خپل امکان پوري د لعان څخه خان ساتی:

(۳۱۸۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ رَجُلًا حِينَ أَمَرَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يَتَلَاعَنَا أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ عَلَى فِيهِ وَقَالَ إِنَّهَا مُوجِبَةٌ . رواه النسائي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي د دوو کسانو لعان کېدی رسول الله ﷺ یوه سړي ته امر ورکړ کله چي دا خلک په پنځم وار شاهدي ورکوي نو ته د هغوئ په خوله لاس کښېږده څکه چي د پنځم وار شهادت واجب کېدونکي دی (یعني جلاوالي په مینځ کي راولي). (نسائي).

### شیطان د خاوند او ښځي په مینځ کي د بدګماني پیدا کولو هڅه کوي

(۳۱۸۱): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا لَيْلًا قَالَتْ فَغِرْتُ عَلَيْهِ

د بي بي عائشي رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه شپه (یعني د شعبان په پنځلسمه شپه)

فَجَاءَ فَرَأَى مَا أَصْنَعُ فَقَالَ مَا لَكِ يَا عَائِشَةُ أَغِرْتِ فَقُلْتُ وَمَا لِي لَا يَغَارُ مِثْلِي عَلَى مِثْلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ جَاءَكِ شَيْطَانُكِ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ أَمَعِيَ شَيْطَان قَالَ نَعَمْ قلت وَمَعَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ نَعَمْ وَلَكِنْ أَعَانَنِي اللهُ عَلَيْهِ حَتَّى أَسْلَمَ. رواه مسلم.

زما خخه ولاړ سو او ولاړی د بي بي عائشې رض بيان دی په دې باندې ما ته غيرت راغی (لږ وخت وروسته) رسول الله ﷺ بيرته تشريف راوړ او زه چې په کوم خلجان (تردد) کې مبتلا وم نبي کريم ﷺ هغه ملاحظه کړ (يعني محسوس يې کړ او ويې ليدل) او وې فرمايل: اې عائشې! په تا خه وسوه ايا تا په ما باندې غيرت وکړ؟ ما عرض وکړ په ما څه وسوه چې زما په شان کې ستاسو په ډول سړی باند غيرت ونه کړي نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: هو، تا ته شيطان راغلی دی او ته يې په وسوسه کې اچولې يې بي بي عائشې رض وايي چې ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ ايا زما سره شيطان سته؟ نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: او بيا ما عرض وکړ او ستاسو سره (يا رسول الله ﷺ) نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: زما سره هم شيطان سته مګر الله ﷻ ما ته په هغه باندې کومک را کړی دی. او زه يې د هغه څخه ساتلی يم. (مسلم).

## بَابُ الْعِدَّةِ (د عدې بيان)

## لومړی فصل

**د عدت په ورځو کې پر خاوند نفقه واجب ده که يا؟**

(۳۱۸۲): عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ بِالشَّعِيرِ فَسَخِطَتْهُ فَقَالَ وَاللهِ مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ فَجَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ لَيْسَ لَكِ نَفَقَةٌ فَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ ثُمَّ قَالَ تِلْكَ امْرَأَةٌ يَغْشَاهَا أَصْحَابِي اعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى تَضَعِينَ ثِيَابَكِ فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي قَالَتْ فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي

د حضرت ابو سلمه ؓ څخه روايت دی چې فاطمه بنت قيس ؓ دا بيان وکړ چې ابو عمرو بن حفص ؓ د هغې خاوند و هغې ته طلاق ورکړ او ابو عمرو (يعني د هغې خاوند) د هغې سره موجود نه وو د هغه ځايه څخه يې طلاق را ولېږی بيا د ابو عمرو وکيل فاطمې رض ته څه اوربشې راولېږلې فاطمه په هغه باندې ډيره خفه سوه وکيل و فاطمې ته وويل قسم په خداي چې ستا پر موږ باندې حق نسته يعني ستا نفقه پر موږ باندې واجب نه ده موږ چې څه درکوو

سُفْيَانَ وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي فَقَالَ أَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِه وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَكَرِهْتُهُ ثُمَّ قَالَ انْكِحِي أُسَامَةَ فَنَكَحْتُهُ فَجَعَلَ اللّٰهُ فِيهِ خَيْرًا وَاغْتَبَطْتُ و في رواية عنها قال فاما ابو جهم فرجل ضراب للنساء رواه مسلم و في رواية عنها ان زوجها طلقها ثلاثا فاتت النبي صلى الله عليه وسلم فقال لا نَفَقَةَ لَكِ إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلًا .

هغه د احسان په ډول در کوو د دې ښځه وروسته فاطمه د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضره سوه او واقعه يې ورته بيان کړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ستا نفقه په خاوند باندې واجب نه ده بيا نبي کريم ﷺ و فاطمې ته وفرمايل چي ته د ام شريك په کور کي د عدت ورځي تيري کړه بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: ام شريك يوه داسي ښځه ده چي د هغې په کور کي زما اصحاب (د ام شريك خپلوان) ځي او راځي په دې وجه ته د ابن مکتوم کره د عدت ورځي تيري کړه هغه يو ړوند سړی دی هلته در سره د اغوستلو کالي هم واخله چي کله حلاله سې (د عدت ورځي دي ختمي سي) نو ما خبر کړه د فاطمې رض بيان دی کله چي زما د عدت ورځي تيري سوې نو ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ معاويه بن ابو سفيان او ابو جهم ما ته د نکاح پيغام راوليږی نبي کريم ﷺ وفرمايل: ابو جهم خو يو داسي سړی دی چي هيڅ وخت يې لرګی د اوږې ښځه نه کښېښته کيږي (يعني ډېر سخت مزاجه سړی دی) او معاويه يو مفلس سړی دی د هغه سره هيڅ نسته ته د اسامه بن زيد ﷺ سره نکاح وکړه د فاطمې رض بيان دی ما د رسول الله ﷺ دغه مشوره خوښه نکړه د اسامه سره مي د نکاح تجويز زړه ته نه تلئ نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: ته د اسامه سره نکاح وکړه نو ما د اسامه سره نکاح وکړه الله ﷺ زما په دې نکاح کي برکت واچوی او وروسته په ما باندي ښځو غبطه کول ، په يو روايت کي د فاطمې رض ښځه دا الفاظ منقول دی د فاطمې رض خاوند درې طلاقه ورکړه نو هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : (د خاوند د لوري ښځه) ستا لپاره نفقه نسته البته که حملداره يې نو ستا نفقه پر خاوند باندي واجب ده .(بخاري او مسلم).

(۳۱۸۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ فِي مَكَانٍ وَحْشٍ فَخِيفَ عَلَى نَاحِيَتِهَا فَلِذَلِكَ رَخَّصَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعني في النقلة و في رواية قالت ما لفاطمة الا تتقي الله تعني في قولها لا سكنى و لا نفقة .رواه البخاري .

د بي بي عائشې رض ښځه روايت دی چي فاطمه بنت قيس چي په کوم کور کي اوسېده هغه خرابه (زړه آبادي) وه او هلته هر وخت خطره وه په دې وجه رسول الله ﷺ و هغې ته اجازت ورکړ چي هغه د عدت په ورځو کي د هغه ځايه ښځه ولاړه سي او په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي بي بي عائشې رض وفاطمې رض ته وويل: چي

ته د الله ﷺ ښځه نه ببرېږي چي دا وايي چي کومي ښځي ته درې طلاقه ورکړل سي د هغې لپاره نه خو د اوسېدو لپاره کور سته او نه نفقه (یعني ته دا قول و نبي کریم ﷺ ته منسوبوې د خدايه ښځه نه ببرېږي چي دا نبي کریم ﷺ داسي ویلي دي. (بخاري)

(۳۱۸۴): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ قَالَ اِنَّمَا نُقِلَتْ فَاطِمَةُ لِطُوْلِ لِسَانِهَا عَلٰى اَحْمَائِهَا . رواه في شرح السنة .

د حضرت سعید بن مسیب ؓ ښځه روایت دی چي فاطمه بن قیس رض د عدت په ورځو کي په دې وجه د خاوند د کور ښځه وایستل سوه چي د خاوند د قریبانو سره به یې ژبه چلول. (شرح السنة)

**د عدت په زمانه کي د ضرورت لپاره د کور ښځه وتل جائز دي که یا؟**

(۳۱۸۵): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ طُلِّقَتْ خَالَتِي ثَلَاثًا فَاَرَادَتْ اَنْ تَجُدَّ نَخْلَهَا فَزَجَرَهَا رَجُلٌ اَنْ تَخْرُجَ فَاَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَلٰى فَجُدِّي نَخْلَكِ فَاِنَّهٗ عَسٰى اَنْ تَصَدَّقِي اَوْ تَفْعَلِي مَعْرُوْفًا .رواه مسلم .

د حضرت جابر ؓ ښځه روایت دی چي زما خاله ته درې طلاقه ورکول سوه هغې اراده وکړه چي د کوره ښځه دباندي ولاړه سي او خپل خرماوي ووهي یو سړي د هغې د وتلو مخه و نیول او د رسول الله ﷺ په خدمت کي یې حاضره کړه او واقعه یې ورته بیان کړه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ولاړه سه او خپلي د خرماؤ درختي ووهه شاید ته د دې خرماؤ ښځه صدقه وکړې یا د دې په ذریعه یو بل احسان وکړې. (مسلم).

**د حاملې ښځي عدت**

(۳۱۸۶): وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ اَنَّ سُبَيْعَةَ الْاَسْلَمِيَّةَ نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ فَجَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَاْذَنَتْهُ اَنْ تَنْكِحَ فَاَذِنَ لَهَا فَنَكَحَتْ . رواه البخاري.

د حضرت مسور بن مخرمه ؓ ښځه روایت دی چي سبیعه اسلمیه د خپل خاوند تر مرگ وروسته کوچنی راوړ بیا هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او د نکاح کولو اجازت یې وغوښت نبي کریم ﷺ ورته اجازه ورکړه او هغې نکاح وکړه. (بخاري).

**د عدت په زمانه کي د سترگو تورولو منع**

(۳۱۸۷): وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ جَاءَتِ امْرَاَةٌ اِلَى النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنَهَا اَفَتَكْحُلُهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا

د بي بي ام سلمه رض ښځه روایت دی چي یوه ښځه د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړ یا رسول الله ﷺ زما د لور خاوند مړ سو او د هغې سترگي خوږېږي ایا زه

مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلَّ ذَلِكَ يَقُولُ لَا ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ . متفق عليه

د هغې سترګې توري کړم ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: يا ! څو واره هغې ښځې داسي پوښتنه کوله او نبي کريم ﷺ هر وار د يا جواب ورکوی بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: د عدت تېرول څلور مياشتي او لس ورځي دی او د جاهلت په زمانه کي به يو کال په عدت کي اوسېدلاست او پچه به مو ويشتل په تېرېدو د کال. بخاري او مسلم.

**د عدت په زمانه کي د وېر کولو حکم**

(۳۱۸۸): وَعَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ وَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا . متفق عليه.

د بي بي ام حبيبه رض او زينب بنت جحش رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو مسلمانه ښځه چي پر الله ﷺ او په اخيرت باندي ايمان لری په يو مړی باندي د درو ورځو څخه زيات وېر نه کوي ماسوا د خاوند د وير څخه چي هغه تر څلورو مياشتو او لسو ورځو پوري کولای سي.

(۳۱۸۹): وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ وَلَا تَكْتَحِلُ وَلَا تَمَسُّ طِيبًا إِلَّا إِذَا طَهُرَتْ نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ أَوْ أَظْفَارٍ متفق عليه و زاد ابوداؤد وَلَا تَخْتَضِبُ .

د بي بي ام عطيه رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ ښځه دي پر مړي باندي تر درو ورځو زيات وير نه کوي خو د خاوند د وير څخه ما سوا چي هغه تر څلورو مياشتو او لسو ورځو پوري کولای سي په دې ورځو کي دي نه رنګينه جامه اغوندي مګر هغه خادر چي د هغې په سوت رنګ سوی جوړ سوی وي هغه استعمالولای سي او نه دي په دې ورځو کي خوشبوئي او نه رانجه لګوي خو کله چي د حيض څخه پاکه سي نو هغه وخت د قسط او اظفار معمولي خوشبوئي لګولای سي .(بخاري او مسلم) او د ابو داؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي په دغه ورځو کي دي ورېښتان هم په نکروځو نه سره کوي .

## دویم فصل

**په عدت کي د يوه ځاى نه بل ځاى ته نقل کېدل جائز نه دي**

(۳۱۹۰): عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ كَعْبٍ أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ وَهِيَ أُخْتُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَتْهَا أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ فَإِنَّ زَوْجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ أَبَقُوا فَقَتَلُوهُ قَالَتْ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي فَإِنَّ زَوْجِي لَمْ يَتْرُكْنِي فِي مَنْزِلٍ يَمْلِكُهُ وَلَا نَفَقَةٍ فَقَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ فَانْصَرَفْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي الْحُجْرَةِ او في المسجد دعاني فَقَالَ امْكُثِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ قَالَتْ فَاعْتَدَدْتُ فِيهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا . رواه مالك و الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي .

د بي بي زينب بنت كعب رض څخه روايت دى چي ماته فريعه بنت مالك بن سنان چي د ابو سعيد خدري ﷺ خور ده خبر راكړې دى چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كي د دې خبرې د پوښتني لپاره حاضره سوه چي د هغې خاوند د تښتېدلو غلامانو په لټه پسې وتلى وو نو غلامانو هغه ووژه اوس هغې ته د خپل خاوند په كور كي د عدت ورځي تېرول پكار دي مگر هغه غواړي چي خپلي قبيلې حدره ته ولاړه سي او هلته د عدت ورځي تيري كړي د فريعې بنت مالك بيان دى هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضره سوه او عرض يې وكړ چي ايا هغه د عدت ورځي د خپلو قريبانو كره تيري كړي؟ ځكه چي د هغې خاوند خپل ذاتي كور نه دى پرېښنبي او نه ورسره نفقه سته رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو ! (ته د خپل كور والاؤ كره تللاى سې) فريعه وايي زه و خپل كور ته ولاړم كوم وخت چي زه صحن يا مسجد نبوي ته ورسېدم نو نبي كريم ﷺ زه واپس راوغوښتم او را ته يې وفرمايل: ته خپل و هغه كور ته ولاړه سه كوم چي ستا د خاوند څخه پاته سوى دى. تر څو پوري چي ستا عده پوره كيږي فريعه وايي زه د څلورو مياشتو او لسو ورځو پوري په هغه ځاى كي پاته سوم .(مالك ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي).

**په عدت کي سنګار کول نه دي پکار**

(۳۱۹۱): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ أَبُو سَلَمَةَ وَقَدْ جَعَلْتُ عَلَيَّ صَبِرًا فَقَالَ مَا هَذَا يَا أُمَّ سَلَمَةَ قُلْتُ إِنَّمَا هُوَ صَبِرٌ لَيْسَ فِيهِ طِيبٌ فَقَالَ إِنَّهُ يَشُبُّ الْوَجْهَ

د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دى كوم وخت چي زما خاوند ابو سلمه ﷺ وفات سو نو رسول الله ﷺ موږ ته په خپله تشريف راوړ ما هغه وخت په خپل مخ باندي مصبر لگولي وو نبي كريم ﷺ

فَلَا تَجْعَلِيه إِلَّا بِاللَّيْلِ وَتَنْزَعِيهُ بِالنَّهَارِ وَلَا تَمْتَشِطِي بِالطِّيبِ وَلَا بِالْحِنَّاءِ فَإِنَّهُ خِضَابٌ قُلْتُ بِأَيِّ شَيْءٍ أَمْتَشِطُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ بِالسِّدْرِ تغلفين به رَأْسَكِ. رواه ابوداؤد والنسائي.

پوښتنه وكړه ام سلمه ؛ دا څه دي ؟ ما عرض وكړ دا مصبر دی چي هيڅ يو قسم خوشبوئي په كښي نسته نبي كريم ﷺ وفرمايل: مصبر مخ روښانه كوي كه يې په دې وجه ته لگوې نو د شپې يې لگوه او د ورځې يې مينځه خوشبوئي مه لگوه او مه په نكروخو باندي لاسونه سره كوه خكه چي د نكروخو رنگ سور وي ما عرض وكړ يا رسول الله ﷺ نو بيا يې په څه شي باندي سره كوم نبي كريم ﷺ وفرمايل: د بيرو پاڼي په سر دومره اچوه چي هغه ستا سر پټ كړي. (ابو داؤد نسائي).

(۳۱۹۲): وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا لَا تَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ مِنَ الثِّيَابِ وَلَا الْمُمَشَّقَةَ وَلَا الْحُلِيَّ وَلَا تَخْتَضِبُ وَلَا تَكْتَحِلُ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كومي ښځي خاوند چي مړ سي هغه دي د كسم (يو قسم گل چي سور رنگ خيني جوړيږي) رنگه جامې اغوندي او نه دي د گيرو (يو ډول ژړ خاوره ژړ رنگ) (بلكه د هر ډول شوخ رنگه جامه) نه دي زيور اچوي نه دي نكريځي لگوي او نه رانجه. (ابوداؤد نسائي).

## دریم فصل

### د مطلقه د عدت په اړه یو بحث

(۳۱۹۳): عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ الْأَحْوَصَ هَلَكَ بِالشَّامِ حِينَ دَخَلَتْ امْرَأَتُهُ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ وَقَدْ كَانَ طَلَّقَهَا فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ إِلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ يَسْأَلُهُ عَنْ ذَلِكَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ إِنَّهَا إِذَا دَخَلَتْ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ وَبَرِئَ مِنْهَا لَا يَرِثُهَا وَلَا تَرِثُهُ. رواه مالك.

د حضرت سليمان بن يسار ﷺ څخه روايت دی چي احوص په شام كي هغه وفات سو چي د هغه ښځه د عدت په وخت كي وه او د عدت اخيري ورځ يعني د دريم حيض ورځي پوره سوې او احوص و هغې ته د خپل مرگ څخه وړاندي طلاق وركړی وو معاويه بن ابو سفيان د دې د مسئلې د پوښتني لپاره و زيد بن ثابت ته خط وليكی (يعني د دې خبري د پوښتني لپاره يې پوښتنه وكړه چي ايا په دې صورت كي ښځه د خپل خاوند په ميراث كي پاته كيدای سي؟ او كه يا ؟) زيد بن ثابت په جواب كي وليكل

کله چي ښځه د دريم حيض ورځي تېروي نو د هغې اړيکي د خاوند څخه قطعه سوي (يعني خاوند ور څخه جلا سو) اوس نه خاوند د هغې د مال وارث کېدای سي او نه ښځه د خاوند د مال وارث کېدای سي. (مالك).

**د مطلقې د عدت مسئله**

(۳۱۹۴): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَيُّمَا امْرَأَةٍ طُلِّقَتْ فَحَاضَتْ حَيْضَةً أَوْ حَيْضَتَيْنِ ثُمَّ رَفَعَتْهَا حَيْضَتُهَا فَإِنَّهَا تَنْتَظِرُ تِسْعَةَ أَشْهُرٍ فَإِنْ بَانَ بِهَا حَمْلٌ فَذَلِكَ وَإِلَّا اعْتَدَّتْ بَعْدَ التِّسْعَةِ أَشْهُرٍ ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ ثُمَّ حَلَّتْ. رواه مالك

د حضرت سعيد بن مسيب رضي الله عنه څخه روايت دی چي عمر بن خطاب رضي الله عنه وفرمايل: کومي ښځي ته چي طلاق ورکړل سي او د هغې د دوو حيضو موده پوره سوې وي او وروسته يې حيض بند سي نو هغه دي د نهو مياشتو انتظار وکړي که حمل ظاهره سي نو خير کنې د نهو مياشتو وروسته دي بيا د درو مياشتو عدت تيري کړي او د دې څخه وروسته بيا د عدت څخه وځي. (مالك).

# بَابُ الْاسْتِبْرَاءِ (د پاکۍ طلب کولو بيان)

## لومړی فصل

**د استبراء څخه پرته د مينځي سره جماع کول...**

(۳۱۹۵): عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ مُجِحٍّ فَسَأَلَ عَنْهَا فَقَالُوا أَمَةٌ لِفُلَانٍ قَالَ أَيُلِمُّ بِهَا قَالُوا نَعَمْ قَالَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَلْعَنَهُ لَعْنًا يَدْخُلُ مَعَهُ فِي قَبْرِهِ كَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ أَمْ كَيْفَ يُورِثُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ. رواه مسلم

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د يوې مينځي سره نژدې تير سو چي هغه د کوچني د پيدا کېدو په درد کي وه نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چي دا د چا ښځه ده؟ عرض وکړل سو چي دا د فلاني مينځه ده نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه ايا هغه سړي د دې سره صحبت کوئ؟ خلکو ووېل هو نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: ما اراده کړې وه چي هغه سړي ته لعنت ولېږم چي د هغه سره و قبر ته ولاړ سي هغه به څنګه و خپل زوی ته د خدمت کولو لپاره وايي لکه څنګه چي د زوی څخه د خدمت کار اخيستل جائز نه دی يا زوی غلامول صحيح نه دی يا څنګه به هغه دی خپل وارث کوي دا چي هغه د ده زوی نه وي (يعني د مينځي سره د هغې د حمل په ورځو کي جماع کول او هغه پاکېدو ته نه

پرهېښودل يو داسې خراب كار دى چې پر هغه لعنت ويل صحيح دى په داسې حال كې چې هغه حمل د بل سړي وي يعنې هغه په داسې حالت كې رانيسي چې هغه حامله وي. (مسلم)

## دويم فصل

### د استبراء پرته د مينځې سره د صحبت كولو منع

(۳۱۹۶): عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رَفَعَهُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي سَبَايَا أَوْطَاسَ لَا تُوطَأُ حَامِلٌ حَتّٰى تَضَعَ وَلَا غَيْرُ ذَاتِ حَمْلٍ حَتّٰى تَحِيضَ حَيْضَةً . رواه احمد وابوداؤد والدارمي .

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د هغو بنديانو په هكله چې د اوطاس په غزا كې نيول سوي وه دا حكم جاري كړ چې د حاملو ښځو سره تر هغه وخته چې د هغې كوچنى پيدا سوى نه وي جماع نسي كولاى او د غير حاملې سره تر هغه وخته پوري جماع نسي كولاى تر څو چې د هغې يو حيض پوره نسي .(احمد ابوداؤد دارمي).

(۳۱۹۷): وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْقِيَ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ يَعْنِي إِتْيَانَ الْحَبَالَى وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَقَعَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنَ السَّبْيِ حَتّٰى يَسْتَبْرِئَهَا وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَبِيعَ مَغْنَمًا حَتّٰى يُقْسَمَ . رواه ابوداؤد رواه الترمذي الى قوله زرع غيره

د حضرت رويفع بن ثابت انصاري ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د حنين په غزا كې و فرمايل: كوم سړى چې پر الله ﷺ او د اخيرت پر ورځ ايمان لري د هغه لپاره دا خبره جائز نه ده چې هغه خپلې اوبه (مني) د بل په كښت كې واچوي (يعني كومه ښځه چې د بل د نطفې څخه حامله سوې وي د هغې سره جماع وكړي) او كوم سړى چې په الله ﷺ او د اخيرت پر ورځ ايمان لري د هغه لپاره دا هم جائز نه ده چې هغه په جګړه كې د نيول سوي مينځې سره تر هغه وخته پوري جماع وكړي تر څو چې هغه پاكه سوې نه وي او كوم سړي چې پر الله ﷺ او د اخيرت په ورځ ايمان لري د هغه لپاره دا جائز نه ده چې د غنيمت مال تر تقسيم وړاندې خرڅ كړي .(ابوداؤد) خو ترمذي (زرع غيره) پوري روايت كړى دى .

## دريم فصل

### د غير حائضې مينځې د استبراء مدت

(۳۱۹۸): عَنْ مَالِكٍ قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت مالك ﷺ څخه روايت دى چې رسول

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ بِاسْتِبْرَاءِ الْإِمَاءِ بِحَيْضَةٍ إِنْ كَانَتْ مِمَّنْ تَحِيضُ وَثَلَاثَةِ أَشْهُرٍ إِنْ كَانَتْ مِمَّنْ لَاتَحِيضُ وَيَنْهٰى عَنْ سَقْيِ مَاءِ الْغَيْرِ.

الله ﷺ به د مینځو د پاکولو حکم ورکوی یعني که هغه به د حیض والا ښځه وه نو تر یوه حیض راتلو پوري او چاته چي به حیض نه راتلي نو هغه به تر درو میاشتو مودي پوري انتظار کیدی او نبي کریم ﷺ د بل په اوبو کي د اوبو د یو خای کولو څخه (یعني د دویم سړي د حاملې سره د جماع کولو څخه) منعه فرمایلې ده. (رزین).

**د پیغلي مینځي لپاره استبراء واجب ده که یا؟**

(۳۱۹۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ إِذَا وُهِبَتِ الْوَلِيْدَةُ الَّتِي تُوْطَأُ أَوْ بِيْعَتْ أَوْ أُعْتِقَتْ فَلْتَسْتَبْرِئْ رَحِمَهَا بِحَيْضَةٍ وَلَا تَسْتَبْرِئُ الْعَذْرَاءُ. رواهما رزين

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي هر کله یوه مینځه چي د هغې سره جماع کیدلای سي هغه یو چا ته هبه کړه سي یا و پلورل سي یا آزاده کړل سي نو هغې ته پکار ده چي خپل رحم په یو حیض سره پاك کړي او پیغلي انجلۍ مینځي ته د پاکولو ضرورت نسته. رزین.

# بَابُ النَّفَقَاتِ وَحَقِّ الْمَمْلُوْكِ

## (د نفقې او غلامانو او مینځو د حقوقو بیان)

## لومړی فصل

**د ښځي او اولاد نفقه پر خاوند واجب ده**

(۳۲۰۰): عَنْ عَائِشَةَ قالت أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِيْنِي مَا يَكْفِيْنِي وَوَلَدِي إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ فَقَالَ خُذِي مَا يَكْفِيْكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوْفِ. متفق عليه.

د بي بي عائشي رض څخه روایت دی چي د عتبه لور هنده د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړ یا رسول الله ﷺ (زما خاوند) ابو سفیان ډېر بخیل سړی دی ما ته دومره نه راکوي چي زما او زما د زوی د نفقې د اخراجاتو کافي سي که زه د هغه د مال څخه د ضرورت په اندازه یو څه وکارم په داسي ډول چي هغه خبر نسي نو اخراجات پوره کیږي؟ (نو ایا دا صورت جائز دی؟) نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: د هغه د مال څخه د ضرورت په اندازه اخله او خپل او د خپل زوی د شرعي حقوقو په اندازه یې خرخوه. بخاري او مسلم.

**د الله ﷻ ورکړې دولت باید اول پر خپل کورنۍ مصرف کړل سي**

(۳۲۰۱): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَعْطَى اللّٰهُ أَحَدَكُمْ خَيْرًا فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ . رواه مسلم .

د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي الله ﷻ په تاسو کي یو چاته مال ورکړ نو هغه ته پکار ده چي اول هغه په خپل ځان خرڅ کړي او په خپل کورنۍ (یعني په ښځي او کوچنیانو). (مسلم)

**د غلام نفقه پر مالک واجب ده**

(۳۲۰۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمَمْلُوكِ طَعَامُهُ وَكِسْوَتُهُ وَلَا يُكَلَّفُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا يُطِيقُ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په مالك باندي د غلام ډوډۍ جامه فرض ده او د غلام څخه دي دومره کار اخلي چي هغه یې توان او طاقت ولري. (مسلم)

**د غلام سره د ښه چلن حکم**

(۳۲۰۳): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللّٰهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَمَنْ جَعَلَ اللّٰهُ أَخَاهُ تَحْتَ يَدِيهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا يُكَلِّفُهُ مِنَ الْعَمَلِ مَا يَغْلِبُهُ فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ عَلَيْهِ . متفق علیه .

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو غلامان ستاسو ورونه دي چي الله ﷻ ستاسو د لاس لاندي کړي دي کوم سړی چي الله ﷻ د یوه ورور او خادم مالك کړي نو هغه ته پکار ده چي په خپل غلام باندي هغه څه وخوري کوم چي یې مالك خوري او هغه جامه به وراغوندي کومه چي خپله یې اغوندي او د هغه څخه دي دومره کار نه اخلي کوم چي د هغه په توان کي نه وي او که داسي څه کار د هغه څخه اخلي چي د هغه په توان کي نه وي نو په هغه کي دي ورسره خپله کومك وکړي (بخاري او مسلم)

**د غلام روزي منع کول ګناه ده**

(۳۲۰۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو جَاءَهُ قَهْرَمَانٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ أَعْطَيْتَ الرَّقِيقَ قُوتَهُمْ قَالَ لَا قَالَ فَانْطَلِقْ فَأَعْطِهِمْ فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَفَى بِالرَّجُلِ إِثْمًا أَنْ يَحْبِسَ عَمَّنْ يَمْلِكُ قُوتَهُ وَ فِي رِوَايَةٍ كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوتُ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي هغه ته قهرمان راغی نو هغه څیني پوښتنه وکړه چي ده و خپلو غلامانو ته د خوراك سامان ورکړی دی هغه عرض وکړ یا هغه ورته وویل بیرته ولاړ سه د هغوئ د خوراك سامان فوراً ورکړه ځکه چي رسول الله ﷺ فرمایلي دی چي د انسان لپاره دا ګناه کافي ده چي د چا روزي د هغه په لاس کي وي چي هغه د

هغه روزي ضائع کړي . (مسلم)

**د خپل خادم او مزدور سره په خوراک کولو کي شرم مه کوئ**

| | |
|---|---|
| (۳۲۰۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَنَعَ لِأَحَدِكُمْ خَادِمُهُ طَعَامَهُ ثُمَّ جَاءَهُ بِهِ وَقَدْ وَلِيَ حَرَّهُ وَدُخَانَهُ فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ فَلْيَأْكُلْ فَإِنْ كَانَ الطَّعَامُ مَشْفُوهًا قَلِيلًا فَلْيَضَعْ فِي يَدِهِ مِنْهُ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ . رواه مسلم . | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي په تاسو کي یو غلام یو خوراک تیار کړي او مالك ته یې راوړي نو په کومه ګرمي او دود چي هغه خوراك تیار کړي وي نو د هغه غوښتنه داده چي خپل مالك یې د خانه سره کښېنوي او د خان سره یې په وخوري او که خوراك لږ وي او خورونکي زیات وي |

نو یو یا دوه نوړۍ دي دهغه په لاس کي کښېږدي . (مسلم) .

**غلام ته دوه چنده ثواب**

| | |
|---|---|
| (۳۲۰۶): وَعَنِ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ وَأَحْسَنَ عِبَادَةَ اللّٰهِ فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ . متفق علیه . | د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي یو غلام په ښه طور سره د خپل مالك خدمت وکړي او د الله ﷺ عبادت هم په ښه ډول سره کوي نو د هغه لپاره دوه چنده ثواب دی . (بخاري او مسلم) |

**د غلام لپاره غوره خبره څه شي ده ؟**

| | |
|---|---|
| (۳۲۰۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعِمَّا لِلْمَمْلُوكِ أَنْ يَتَوَفَّاهُ اللّٰهُ بِحُسْنِ عِبَادَةِ رَبِّهِ وَطَاعَةِ سَيِّدِهِ نِعِمَّا لَهُ . متفق علیه . | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د غلام لپاره تر ټولو څخه بهترینه خبره دا ده چي هغه د الله ﷺ په عبادت او د خپل مالك په خدمت کي وفات سي . (بخاري او مسلم) |

**د تښتېدلي غلام لمونځ نه قبلېږي**

| | |
|---|---|
| (۳۲۰۸): وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ و في رواية عنه قَالَ أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ و في رواية قَالَ أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ مِنْ مَوَالِيهِ فَقَدْ كَفَرَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْهِمْ . رواه مسلم | د حضرت جریر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي یو غلام وتښتي نو د هغه لمونځ نه قبلېږي او د جریر ﷺ په یو بل روایت کي دا الفاظ دی کوم غلام چي وتښتي نو د هغه څخه د اسلام ذمه داري ختمه سوه او د جریر ﷺ |

په بل روايت كي دا الفاظ دي كوم غلام چي د خپل مالكانو څخه وتښتي تر څو پوري چي بيرته رانسي هغه كافر سو . (مسلم).

**پر غلام د زنا تهمت لګولو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۳۲۰۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ وَهُوَ بَرِيءٌ مِمَّا قَالَ جُلِدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ كَمَا قَالَ . متفق عليه . | د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ما د ابو قاسم ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوك چي په خپل غلام باندي د زنا تهمت ولګوي او غلام د هغه څخه پاك وي نو د قيامت په ورځ به يې |

مالك په درو ووهل سي كه چيري تهمت ويل بې ځايه نه وو نو داسي به نه كيږي . (بخاري او مسلم).

**د غلام بېله خطا وهلو كفاره**

| | |
|---|---|
| (۳۲۱۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا لَمْ يَأْتِهِ أَوْ لَطَمَهُ فَإِنَّ كَفَّارَتَهُ أَنْ يُعْتِقَهُ . رواه مسلم . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوك چي خپل غلام بې ګناه ووهي يا په مخ باندي چكه وركړي نو د هغه كار كفاره داده چي ازاد يې كړي . (مسلم) |

| | |
|---|---|
| (۳۲۱۱): وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِي صَوْتًا اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ لَلّٰهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللّٰهِ فَقَالَ أَمَا لَوْ لَمْ تَفْعَلْ لَلَفَحَتْكَ النَّارُ أَوْ لَمَسَّتْكَ النَّارُ . رواه مسلم . | د حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ څخه روايت دی چي ما خپل غلام وواهه نو ما تر شا دا اواز وا وريدی ابو مسعوده ! اګاه سه ، الله ﷻ پر تا باندي د دې څخه زيات قدرت لري څومره چي ته پر دغه غلام باندي قدرت لرې ما چي تر شا وكتل نو رسول الله ﷺ وو ما عرض وكړ يا رسول الله ﷺ ! دی د خداي ﷻ لپاره ازاد دی نو |

نبي كريم ﷺ راته وفرمايل :كه تا دی ازاد كړی نه وای نو د دوږخ اور به ته سوځلي وای . (مسلم).

## دويم فصل

**د اولاد پر كټه د پلار حق دی**

| | |
|---|---|
| (۳۲۱۲): عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي مَالًا | حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره او هغه د خپل پلاره څخه روايت كوي چي |

وَإِنَّ وَالِدِي يَحْتَاجُ الى مَالِي قَالَ أَنتَ وَمَالُكَ لِوَالِدِكَ إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِكُمْ كُلُوا مِنْ كَسْبِ أَوْلَادِكُمْ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

يوسرى د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ زما سره مال دى او زما پلار زما د مال محتاجه دى رسول الله ﷺ ورته فرمايل: ته او ستامال دواړه ستا د پلار دي ببشكه چي ستاسو اولاد ستاسو بهترينه گټه ده د خپل اولاد گټه خورئ. (ابو داؤد ابن ما جه).

**د مربي په حق كي د يتيم د مال حكم**

(٣٢١٣): وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي فَقِيرٌ لَيْسَ لِي شَيْءٌ وَلِي يَتِيمٌ فَقَالَ كُلْ مِنْ مَالِ يَتِيمِكَ غَيْرَ مُسْرِفٍ وَلَا مُبَادِرٍ وَلَا مُتَأَثِّلٍ . رواه بوداؤد والنسائي وابن ماجة .

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره او هغه د خپل پلاره څخه روايت كوي يو سړى د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ يا رسول الله ﷺ! زه مفلس او فقير يم زما سره هيڅ هم نسته او زما په ذمه باندي يو يتيم كوچنى دى (ايا زه د هغه دمال څخه يې خورم) نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د يتيم د مال څخه يې خوره مگر فضول خرڅي مه كوه او مه په خرڅولو كي د تلوار څخه كاز اخله او مه يې د ځان لپاره مال جمعه كوه. (ابوداؤد نسائي ابن ماجه).

**د غلامانو د حق ادا كولو تاكيد**

(٣٢١٤): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان وروى أحمد وأبو داود عن علي نحوه .

د بي بي ام سلمه رض څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ دخپلي ناروغي په حالت كي وفرمايل: د لمانځه دېر زيات خيال ساتئ او د هغو غلامانو او مينځو چي ستاسو په قبضه كي دي. (بيهقي په شعب الايمان كي) خو احمد او ابو داؤد د حضرت علي ﷺ څخه هم په دغه شان نقل كړى دى.

**د غلام سره د بد چلن كونكو وعيد**

(٣٢١٥): وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصديق عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ . رواه الترمذي وابن ماجة .

د حضرت ابو بكر صديق ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د خپلو ماتحت سره بد چلن كوي هغه په جنت كي نه داخليږي. (ترمذي ابن ماجه)

**د غلام سره ښه چلن کول د خیر او برکت باعث دی**

(۳۲۱۶): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ مَكِيْثٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حُسْنُ الْمَلَكَةِ يُمْنٌ وَسُوْءُ الْخُلُقِ شُوْمٌ. رواه ابوداؤد و لم ار في غير المصابيح ما زاد عليه فيه من قوله والصدقة تمنع مية السوء والبر زيادة في العمر .

د حضرت رافع بن مکیث ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د غلامانو سره ښه چلن او نیکي د خیر او برکت باعث ده او د غلامانو سره بد اخلاقي د بې برکتی عامل دی. (ابوداؤد) او په مصابیح کې د دې حدیث سره دا الفاظ هم لیکلي دي چې په بل کتاب کې زما تر نظر نه دي تیر سوی او صدقه کول انسان د بد مرگ څخه ساتي او نیکي کول عمر زیاتوي.

**که غلام د خدای روی درکړی نو خپل لاس ودروئ**

(۳۲۱۷): وَعَنْ اَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا ضَرَبَ اَحَدُكُمْ خَادِمَهٗ فَذَكَرَ اللّٰهَ فَارْفَعُوْا اَيْدِيَكُمْ . رواه الترمذي و البيهقي في شعب الايمان لكن عنده فليمسك بدل فارفعوا ايديكم .

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې په تاسو کې یو څوک خپل غلام وهي او هغه و تاته خدای تعالی وسیله کړي یا د خدای تعالی په نوم باندې معافي وغواړي نو خپل لاس ځیني پورته کړئ او د غلام وهل پرېږدئ. (ترمذي د بیهقي په نیزد) فارفعوا ایدیکم پر ځای: فلیمسك راغلې دی.

**کم عمره کوچنی د مور څخه مه بېلوئ**

(۳۲۱۸): وَعَنْ اَبِي اَيُّوْبَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ وَالِدَةٍ وَوَلَدِهَا فَرَّقَ اللّٰهُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ اَحِبَّتِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه الترمذي والدارمي .

د حضرت ابو ایوب ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ اورېدلي دي څوك چې د مور او زوی په مینځ کې جلاوالی راولي (یعنې د مینځې زوی خرڅ یا هبه کړي او د هغې څخه یې جلا کړي) نو الله ﷻ به د قیامت په ورځ د هغه او د هغه د قریبانو په مینځ کې جلاوالي راولي. (ترمذي دارمي)

(۳۲۱۹): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ وَهَبَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامَيْنِ اَخَوَيْنِ فَبِعْتُ اَحَدَهُمَا فَقَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَلِيُّ

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ و ماته دوه غلامان راکړل چې په خپلو کې ورونه وه ما په هغوئ کې یو خرڅ کړ بیا نبي

مَا فَعَلَ غُلَامُكَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رُدَّهُ رُدَّهُ . رواه الترمذي وابن ماجة .

کریم ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه اې علي! ستا هغه دويم غلام څه سو؟ نو ما ورته واقعه بيان کړه نو نبي کریم ﷺ راته وفرمايل: اې علي! هغه بيرته را وله. (ترمذي ابن ماجه).

(۳۲۲۰): وَعَنْهُ أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ جَارِيَةٍ وَوَلَدِهَا فَنَهَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَرَدَّ الْبَيْعَ . رواه أبو داود منقطعا

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي هغه د يوې منيځي او د هغې د کوچني په مينځ کي جلا والي راوستی يعني په دواړو کي يې يو خرڅ کړ رسول الله ﷺ د دې څخه منعه وکړه نو هغه بيع يې بيرته فسخ کړه. (ابو داؤد).

## پر غلام باندي د احسان کولو اجر

(۳۲۲۱): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ يسر الله حتفه وَأَدْخَلَهُ جَنَّتَهُ رِفْقٌ بِالضَّعِيفِ وَشَفَقَةٌ عَلَى الْوَالِدَيْنِ وَإِحْسَانٌ إِلَى الْمَمْلُوكِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که په چا کي دا درې خبري پيدا سوې نو الله ﷻ به پر هغه باندي مرګ اسانه کړي او هغه به خپل جنت ته داخل کړي (۱): يو د کمزور او نادار سره نرمي کول. (۲): پر مور او پلار باندي شفقت کول. (۳): د غلامانو سره احسان کول. (ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی).

## لمونځ کونکی غلام مه وهئ

(۳۲۲۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَبَ لِعَلِيٍّ غُلَامًا فَقَالَ لَا تَضْرِبْهُ فَإِنِّي نُهِيتُ عَنْ ضَرْبِ أَهْلِ الصَّلَاةِ وَقَدْ رَأَيْتُهُ يُصَلِّي . هذا لفظ المصابيح وفي المجتبى للدارقطني أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضَرْبِ الْمُصَلِّينَ .

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و حضرت علي ﷺ ته يو غلام هبه کړ چي دی به نه وهې ځکه چي زه د لمونځ کونکي د وهلو څخه منعه سوی يم او ما دا غلام په لمونځ کولو باندي ليدلی دی. (او په مصابيح کي داالفاظ دي) مګر په مجتبي دار قطني کي د عمر ﷺ څخه نقل سوی دي چي هغه وويل چي نبي کريم ﷺ موږ د لمونځ کونکي د وهلو څخه منعه کړی يو .

## د مملوک د خطاوو معاف کولو حکم

(۳۲۲۳): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر

كَمْ نَعْفُو عَنْ الْخَادِمِ فَسكت ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ الْكَلَامَ فَصَمَتَ فَلَمَّا كَانَتْ الثَّالِثَة قَالَ اعْفُوا عَنْهُ فِي كُلِّ يَوْمٍ سَبْعِينَ مَرَّةً . رواه ابوداؤد و رواه الترمذي عن عبدالله بن عمرو .

سو او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ موږ د خپلو غلامانو غلطياني تر کومه اندازې پورې ور معاف کړو ؟ په دې اوربدو سره نبي کريم ﷺ خاموشه سو هغه سړي د دويم وار لپاره پوښتنه ښيني وکړه مگر نبي کريم ﷺ بيا هم جواب ورنکړ په دريم ور يې پوښتنه وکړه نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د خپل غلام غلطي هره ورځ اويا واره ور معافوه .(ابو داؤد ترمذي) .

### د مملوک په اړه يو هدايت

(٣٢٢٤): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَاءَمَكُمْ مِنْ مَمْلُوكِيكُمْ فَأَطْعِمُوا مِمَّا تَأْكُلُونَ وَاكْسُوهُ مِمَّا تَكسون وَمَنْ لَا يُلَائِمُكُمْ مِنْهُمْ فَبِيعُوهُ وَلَا تُعَذِّبُوا خَلْقَ اللَّهِ . رواه احمد و ابوداؤد .

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو په غلامانو کې چې کوم غلام ستاسو د طبيعت کار کوي نو په هغه باندې هغه څه خوروئ کوم چې تاسو يې خورئ او هغه کالي ور باندې اغوندئ کوم چې تاسو يې اغوندئ او کوم غلام چې ستاسو د طبيعت کار نه کوي نو هغه ته تکليف مه ورکوئ بلکه خرڅ يې کړئ د خداى تعالي و مخلوق ته تکليف ورکول صحيح کار نه دی .(احمد ابو داؤد) .

### د حيوانانو سره د ښه چلن کولو حکم

(٣٢٢٥): وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعِيرٍ قَدْ لَحِقَ ظَهْرُهُ بِبَطْنِهِ فَقَالَ اتَّقُوا اللَّهَ فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ فَارْكَبُوهَا صَالِحَةً واتركوها صالحة . رواه ابوداؤد .

د حضرت سهل بن حنظليه ﷺ څخه روايت دی رسول الله ﷺ يو اوښ وليدی چې د هغه شا د نس سره مښتې وه (يعني د ډېر وږې او تږې وو کار ورڅخه زيات اخيستل کېدی چې د هغه له وجې زيات کمزوره سوی وو) نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دې بې زبانه حيوان باندې رحم کوئ او دخدايه څخه و ډېرېږئ په دوئ باندې په هغه حالت کې سپرېږئ چې د سپرتيا قابله وي او پرېږدئ يې چې زيات ستړی نه وي . (ابوداؤد) .

## دريم فصل

### د يتيم د مال په اړه د الله ﷺ قول

(٣٢٢٦): عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نزل قوله تعالى

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی کوم

{ وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ }وَ قوله تعالى{ إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا}الْآيَةَ انْطَلَقَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ يَتِيمٌ فَعَزَلَ طَعَامَهُ مِنْ طَعَامِهِ وَشَرَابَهُ مِنْ شَرَابِهِ فاذا فضل مِنْ طَعَامِ اليتيم وشرابه شي حبس لَهُ حَتَّى يَأْكُلَهُ أَوْ يَفْسُدَ فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ{وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ} فَخَلَطُوا طَعَامَهُمْ بِطَعَامِهِمْ وَشَرَابَهُمْ بِشَرَابِهِمْ. رواه ابوداؤد والنسائي .

وخت چي الله ﷻ دا فرمان نازل کړ ولاتقربوا مال اليتيم الا بالتي هي احسن «د يتيم و مال ته مه نږدې کيږئ مگر په هغه طريقه سره چي هغه نبکــــــه وي» او د الله ﷻ دا قــــــول : ان الذين .......ظلما : «کوم خلك چي د يتيمانو مال په ظلم سره خوري» نو د کومو خلکو تر نگرانی لانـدي چي کـوم کوچنيـان وه هغـوئ سـخت احتياط شروع کړی د هغوئ خوراکي مواد يې د خپلو خوراکي مـوادو څخـه جلا کړه او خپل د څښبنلو شيان يې د هغوئ د څښبنلو د شيانو څخه جلا کړه او کومه خوراکه چي به د يتيمانو څخه پاته سوه نو هغه به يې د دويم وار لپاره په يتيمانو خوړل او يا به يې خيرات کړه دا خبره د يتيمانو د سرپرستانو لپاره تکليف سوه نو هغوئ و رسول الله ﷺ ته د دې ذکر وکړ نو په دې معامله الله ﷻ دا حکم نازل کړ: ويسئلونك .....فاخوانکم . «اې محمده! ستا څخه خلك د يتيمانو مسئلي پوښتي د هغوئ په اړه ورته ووايه چي د هغوئ مال جلا په ديانت سره اينبودل بهتره ده او که تاسو د هغوئ مال د خپلو سره يوځای کوئ نو هغوئ ستاسو ورونه دي د دوارو د مال په يو ځای کبدو سره که په ديانت سره خرڅ سي نو په دې کي څه حرج نسته .» د دې ايت په نازلبدو خلکو د يتيمانو خوراك چيښاك د خپل خوراك او چيښاك سره يو ځای کړ . «ابوداؤد نسائي» .

**د پلار او زوی او دوو ورونو په مينځ کي بېلوالی مه راولئ**

(۳۲۲۷): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الْوَالِدِ وَوَلَدِهِ وَبَيْنَ الْأَخِ وَبَيْنَ أَخِيهِ . رواه ابن ماجة والدار قطني .

د حضرت ابو موسی ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په هغه سري باندي لعنت ويلې دی چي د پلار او د زوی په مينځ کي جلاوالي راولي او يا دوه ورونه سره جلا کوي . «ابن ماجه دار قطني»

(۳۲۲۸): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِالسَّبْيِ أَعْطَى أَهْلَ الْبَيْتِ جَمِيعًا كَرَاهِيَةَ أَنْ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷜ څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ ته به د يو کور قيديان راوستل سول نو هغوئ ټول به يې و يوه سري ته سپارل د دې لپاره

يُفَرِّقَ بَيْنَهُمْ . رواه ابن ماجة .

چي نبي کريم ﷺ د هغوئ په مينځ کي جلاوالي راوستل بد گڼل . (ابن ماجه)

**بد خلک څوک دي؟**

(۳۲۲۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِشِرَارِكُمْ ؟ اَلَّذِيْ يَأْكُلُ وَحْدَهُ وَيَجْلِدُ عَبْدَهُ وَيَمْنَعُ رِفْدَهُ. رواه رزين

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو د هغو خلکو څخه اگاه کړم چي په تاسو کي د ټر بد دي ؟ دا هغه خلك دي چي په ځان يې خوري او غلامان وهي او چاته خيرات نه ورکوي . (رزين) .

**غلامان د خپل اولاد او ورور په ډول وساتئ**

(۳۲۳۰): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيقِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللهِ أَلَيْسَ أَخْبَرْتَنَا أَنَّ هٰذِهِ الْأُمَّةَ أَكْثَرُ الْأُمَمِ مَمْلُوكِيْنَ وَيَتَامَى قَالَ نَعَمْ فَأَكْرِمُوهُمْ كَكَرَامَةِ أَوْلَادِكُمْ وَأَطْعِمُوهُمْ مِمَّا تَأْكُلُوْنَ قَالُوا فَمَا تَنْفَعُنَا فِي الدُّنْيَا قَالَ فَرَسٌ تَرْتَبِطُهُ تُقَاتِلُ عَلَيْهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَمَمْلُوكٌ يَكْفِيْكَ فَإِذَا صَلَّى فَهُوَ أَخُوْكَ . رواه ابن ماجة .

د حضرت ابو بکر صديق ﷺ څخه روايت دی چي رسـول الله ﷺ وفرمايـل : څـوك چـي دخپـل مملوك(غلام او مينځه) سره بد چلن کوي هغه په جنت کي نه دا خليږي اصحابو کرامو عرض وکړ يا رسول الله ﷺ ايا تاسو و موږ ته نه دي فرمايلي چي ستاسو په دې امت کي به تر ټولو امتو زيات غلامان او يتيمان وي ؟ايا د دومره کثرت په حالت کي د هر يوه سره په ښو سره چلن کول ممکن دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو ! تاسو د هغوئ سره داسي چلن کوئ څنگه چي يې د خپلو اولادو سره کوئ په هغوئ باندي هغه څه خورئ څه چي خپله خورئ اصحابو کرامو عرض وکړ موږ ته په دنيا کي خير رسونکي کوم شی دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : هغه آس چي تاسو د دښمن د جگړې لپاره د ځانو سره تړلی وي او هغه غلام چي تا ته د لمانځه او عبادت لپاره وخت در کړي او ستا کارونه و سر ته رسوي او کله چي ستاسو غلام لمونځ کوي نو هغه ستاسو ورور دی . (ابن ماجه) .

# بَابُ بُلُوْغِ الصَّغِيْرِ وَ حضَانَته في الصِّغْرِ

## ( د نابالغه کوچنیانو د بلوغ او په وړکتوب کي د هغوئ د روزني بیان)

## لومړی فصل

### د بلوغ عمر پنځلس کاله دی

(۳۲۳۱): عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ عُرِضْتُ عَلٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عام اُحُد وَاَنَا ابْنُ اَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَرَدَّنِيْ ثُمَّ عُرِضْتُ عَلَيْهِ عَامَ الْخَنْدَقِ وَاَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَاَجَازَنِيْ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِالْعَزِيْزِ هٰذَا فَرْقٌ مَا بَيْنَ الْمُقَاتِلَةِ وَ الذُّرِّيَّةِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی د احد د غزا په کال کي زما عمر څوارلس کاله وو . زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي وړاندي سوم هغوئ زه بیر ته ولیږم بیا د خندق په غزا کي چي عمر مي پنځلس کاله وو د دویم وار وړاندي سوم نو نبي کریم ﷺ و ماته اجازه را کړه عمر بن عبدالعزیز ﷺ وایي دا عمر (یعني د پنځلسو کلو عمر) د فوجي خدمت او کوچنیوالي تر مینځ فرق کونکي دی. (بخاري او مسلم).

### د حضرت حمزه د لور روزنه

(۳۲۳۲): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَّةِ عَلٰى ثَلَاثَةِ اَشْيَاءَ عَلٰى اَنَّ مَنْ اَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ رَدَّهُ اِلَيْهِمْ وَمَنْ اَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ لَمْ يَرُدُّوْهُ وَعَلٰى اَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ وَيُقِيْمَ بِهَا ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ فَلَمَّا دَخَلَهَا وَمَضَى الْاَجَلُ خَرَجَ فَتَبِعَتْهُ ابْنَةُ حَمْزَةَ تُنَادِيْ يَا عَمِّ يَا عَمِّ فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ فَاَخَذَ بِيَدِهَا فَاخْتَصَمَ فِيْهَا عَلِيٌّ وَزَيْدٌ وَجَعْفَرٌ قَالَ عَلِيٌّ اَنَا اَخَذْتُهَا وَهِيَ بِنْتُ عَمِّيْ وَقَالَ جَعْفَرٌ بِنْتُ عَمِّيْ وَخَالَتُهَا تَحْتِيْ وَقَالَ زَيْدٌ بِنْتُ اَخِيْ فَقَضٰى بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَالَتِهَا وَقَالَ

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت دی چي د حدیبي په کال کي نبي کریم ﷺ په درو خبرو باندي معاهده کړې وه : (۱): یو خو دا چي په مشرکانو کي کوم سړی نبي کریم ﷺ ته راغی نو هغه بیرته دوئ ته واپس کوي .(۲): دویم دا چي په مسلمانانو کي کوم سړی و مشرکانو ته ولاړسي نو مشرکان به هغه و مسلمانانو ته نه سپاري . (۳): دریم دا چي نبي کریم ﷺ په راتلونکي کال کي چي مکې معظمې ته راسي نو یوازي به تر درو ورځو پوري په مکه کي قیام کوي کله چي نبي کریم ﷺ و مکې ته تشریف

اَلْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ وَقَالَ لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّيْ وَأَنَا مِنْكَ وَقَالَ لِجَعْفَرٍ أَشْبَهْتَ خَلْقِيْ وَخُلُقِيْ وَقَالَ لِزَيْدٍ أَنْتَ أَخُوْنَا وَمَوْلَانَا . متفق عليه .

راوړ نو د دروو ورځو وروسته يې د بيرته تلو اراده وكړه نو د حضرت حمزه ﷺ لور په اكا اكا نعرو وهلو په نبي كريم ﷺ پسې را وخغستل

حضرت علي زيد او حضرت جعفر (رض) په مينځ كې د دې كوچنۍ د روزنې پر سر سره جګړې سوې حضرت علي ﷺ وويل ما دا كوچنۍ اخيستې دی او بل دا چې دا زما د اكا زوې دی جعفر ﷺ وويل چې دا كوچنۍ زما د اكا زوی دی او د دې خاله ز ما په نكاح كې ده زيد ﷺ وويل چې دا كوچنۍ زما د ورور لور ده نبي كريم ﷺ د دې جګړې پرېكړه په داسې وكړه چې د حضرت حمزه ﷺ لور يې د هغې و خاله ته وسپارل او و يې فرمايل: خاله د مور په شان ده او حضرت علي ﷺ ته يې وفرمايل: ته زما څخه يې او زه ستا څخه يم او زيد ته يې وفرمايل: ته زموږ ورور يې او زموږ محبوب پالل سوې يې. (بخاري او مسلم).

## دويم فصل

### د يو ماشوم د روزنې تر ټولو زياته حقداره مور ده

(٣٢٣٣): عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ ابْنِيْ هٰذَا كَانَ بَطْنِيْ لَهُ وِعَاءً وَثَدْيِيْ لَهُ سِقَاءً وَحِجْرِيْ لَهُ حِوَاءً وَإِنَّ أَبَاهُ طَلَّقَنِيْ وَأَرَادَ أَنْ يَنْزِعَهُ مِنِّيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ مَا لَمْ تَنْكِحِيْ . رواه احمد وابوداؤد .

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره او هغه بيا د خپل پلاره څخه روايت كوي چې يو ښځې عرض وكړ يا رسول الله ﷺ زما د زوې په موده كې زما نس د ده لوښي وو او زماتيا د ده مشك وو او زما غېږه د ده ځانګو وه اوس د ده پلار و ماته طلاق را كړی دی او دا كوچنی زما څخه په زور اخيستل غواړي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تر څو پوري چې ته بله نكاح و نكړې نو د كوچني د روزنې ته زياته حقداره يې .(احمد ابو داؤد).

### د روزنې وروسته كوچني ته اختيار وركول

(٣٢٣٤): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيَّرَ غُلَامًا بَيْنَ أَبِيْهِ وَأُمِّهِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ و يوه هلك ته د دې اختيار وركړ كه هغه د مور سره اوسيږي او كه د پلاره سره . (ترمذي)

(٣٢٣٥): وَعَنْهُ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ سَقَانِي وَنَفَعَنِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ فَانْطَلَقَتْ بِهِ . رواه ابوداؤد والنسائي والدارمي .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چي يـو ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ يا رسول الله ﷺ! زما خاوند غواړي چي زما زوي بوځي حالانکه هغه اوس د دې قابله دى چي په ما اوبه و څيښي او نفعه راته ورسوي رسول الله ﷺ هلك ته وفرمايل: دا ستا پلار دى او دا ستا مور ده په دوئ کي چي ستا کوم يو خوښ وي نو د هغه لاس و نيسه هلك د مور لاس و نيوى او د هغې سره ولاړ. (ابوداؤد نسائي دارمي).

## دريم فصل

(٣٢٣٦): عَنْ هِلَالِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَبِي مَيْمُونَةَ سُلَيْمَانَ مَوْلَى لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا جَالِسٌ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَارِسِيَّةٌ مَعَهَا ابْنٌ لَهَا وَقَدْ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا فَادَّعَيَاهُ فَرَطَنَتْ لَهُ تَقُولُ يَا أَبَاهُرَيْرَةَ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اسْتَهِمَا عَلَيْهِ رَطَنَ لَهَا بِذَلِكَ فَجَاءَ زَوْجُهَا وَقَالَ مَنْ يُحَاقُّنِي فِي ابْنِيْ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ اللّٰهُمَّ إِنِّي لَا أَقُولُ هَذَا إِلَّا أَنِّي كُنْتُ قَاعِدًا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ نَفَعَنِي وَسَقَانِي مِنْ بِئْرِ أَبِي عِنَبَةَ وعند النسائي مِنْ عَذْبِ الْمَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَهِمَا عَلَيْهِ فَقَالَ زَوْجُهَا مَنْ يُحَاقُّنِي فِي وَلَدِي فَقَالَ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ فَخُذْ

حضرت هلال بن اسامه ﷺ د ميموني (رض) څخه روايت کوي کوم وخت چي سليمان د مديني منورې حاکم وو او زه د ابو هريره ﷺ سره ناست وم نو و هغه ته يوه ښځه راغله چي د فارس (ايران) او سېدونکې وه او د هغې سره خپل زوى وو د هغې خاوند طلاق ورکړى وو او د ښځي او خاوند تر مينځ جګړه وه ښځي په فارسي باندي و ابو هريره ﷺ ته وويل اې ابو هريره! زما خاوند زما د زوى بېول غواړي ابو هريره ورته وفرمايل: تا سو په دې هلك باندي پچه وکړي ابوهريره ﷺ و هغې ته دا الفاظ په فارسي وويل وروسته د هغې خاوند راغى او هغه وويل زما د زوي په اره څوك زما سره جګړه کوي ابو هريره ﷺ وويل يا الله ﷺ زه چي څه وايم د خپله خانه څخه نه وايم واقعه داده چي يوه ورځ زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي ناست

بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ . رواه ابوداؤد والنسائي والدارمي .

وم يوه ښځه راغله او هغې وويل يا رسول الله ﷺ زما دا خاوند زما زوي را څخه په زوره بيايي

حالانکه دی وماته نفعه رسوي او د ابو عتبه د څاه څخه راته اوبه راوړي او د نسائي په يو روايت کي دا الفاظ دي چي په ما خوږي اوبه څيښي نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چي دواړه درباندي پچه اچونه وکړئ نو خاوند يې وويل چي څوك سته چي زما په زوي کي دي را سره جګړه و کړي ؟ نو رسول الله ﷺ و هغه هلك ته و فرمايل: دا ستا پلار دي او دا ستا مور ده په دوئ کي چي دي کوم يو خوښ وي د هغه لاس و نيسه هلك د مور لاس و نيوي . ابوداؤد، نسائي، دارمي.

# كِتَابُ الْعِتْقِ

## (د غلام او مينځې د ازادولو بيان)

## لومړی فصل

### د غلام او مينځې د ازادولو ثواب

(۳۲۳۷): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُسْلِمَةً أَعْتَقَ اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنَ النَّارِ حَتَّى فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې خپل مسلمان ورور ازاد كړي نو الله ﷺ د هغه د غلام د هر اندام په بدله كې د هغه د مالك هر اندام د دوږخ څخه ازاد كړي تردې پورې چې د هغه د شرمگاه په بدله كې به د هغه دشرم‌گاه هم. (بخاري او مسلم).

### گران بيه او خوښ غلام ازادول غوره دي

(۳۲۳۸):وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ بِاللّٰهِ وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ قال قُلْتُ فَأَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ قَالَ أَغْلَاهَا ثَمَنًا وَأَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ قَالَ تُعِينُ صَانِعًا أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ قَالَ فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ قَالَ تَدَعُ النَّاسَ مِنَ الشَّرِّ فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ تَصَدَّقُ بِهَا عَلَى نَفْسِكَ .متفق عليه.

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چې كوم عمل افضل او بهتر دی ؟ نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: په الله ﷺ ايمان راوړل او د الله ﷺ په لاره كې جهاد كول بيا مې پوښتنه ځيني وكړه چې نور څه ؟ نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: غلام ازادول چې زيات قيمتي وي او د مالك زيات خوښ وي ما عرض وكړ كه چيرې زه داسې ونكړم نو بيا زه څه وكړم ؟نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: د كار كونكي سره كومك وكړه يا كوم سړي چې د يو شي په جوړولو نه پوهيږي و هغه ته هغه شی جوړول ور زده كړه ما عرض وكړ كه ما دا هم ونه كړه، نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: خلكو ته د بدو او شر رسولو څخه ځان وساته دا هم يوه صدقه ده يا يوه نيكي ده چې ته يې د خپل نفس سره كوې . (بخاري او مسلم).

# دویم فصل

### د غلام په ازادولو کي مرسته کول

(۳۲۳۹): عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَلِّمْنِيْ عَمَلاً يُدْخِلُنِيْ الْجَنَّةَ قَالَ لَئِنْ كُنْتَ أَقْصَرْتَ الْخُطْبَةَ لَقَدْ أَعْرَضْتَ الْمَسْأَلَةَ أَعْتِقِ النَّسَمَةَ وَفُكَّ الرَّقَبَةَ قَالَ أَوَ لَيْسَا وَاحِدًا ؟ قَالَ لَا عِتْقُ النَّسَمَةِ أَنْ تَنْفَرِدَ بِعِتْقِهَا وَفَكُّ الرَّقَبَةِ أَنْ تُعِيْنَ فِيْ ثَمَنِهَا وَالْمِنْحَةُ الْوَكُوْفُ وَالْفَيْءُ عَلَى ذِيْ الرَّحْمِ الظَّالِمِ فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ فَأَطْعِمِ الْجَائِعَ وَاسْقِ الظَّمْآنَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ فَكُفَّ لِسَانَكَ إِلاَّ مِنْ خَيْرٍ .رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت دی چي یو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ ماته څه داسي عمل را وښیه چي د هغه په ذریعه زه و جنت ته داخل سم نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : تا خو پوښتنه په ډیر مختصر ډول سره وکړه مگر د ډېره مهمه خبره دي و پوښتل ته ځان ازاد کړه او غلام ازاد کړه صحرائي عرض وکړ ایا د ا دواړه یوه خبره نه ده ؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : یا ! د ځان ازادول دادي چي پوره غلام ازاد کړې یا یوازي غلام ازاد کړې او د غلام ازادول دادي چي ته د هغه په ازادی کي د هغه سره مرسته او کومك وکړی او (په جنت کي د شاملېدو والا عمل دادی چي) یو محتاج ته شیدي ورکونکي حیوان د شیدو د څښلو لپاره ورکړې او دهغه ظالم رشته دار سره چي په تا ظلم کوي مهرباني او احسان کوه که داسي نسي کولای نو په وږي باندي خوراك و خوره او په تږي باندي اوبه و څښه خلك و ښو ته را بوله او د بدو څخه یې منعه کوه او که دا هم نسي کولای نو بیا د خپلي ژبي حفاظت کوه سېوا د ښو خبرو څخه بده خبره د خولې څخه مه را باسه .(بیهقي په شعب الایمان کي) .

(۳۲۴۰): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ بَنٰى مَسْجِدًا لِيُذْكَرَ اللّٰهُ فِيْهِ بُنِيَ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ أَعْتَقَ نَفْسًا مُسْلِمَةً كَانَتْ فِدْيَتَهُ مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ شَابَ شَيْبَةً فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَانَتْ لَهُ نُوْرًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه في شرح السنة .

د حضرت عمرو بن عبسه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي په دې نیت سره یو مسجد اباد کړي چي په هغه کي د الله ﷻ ذکر وسي نو د هغه لپاره په جنت کي یو ځای جوړېږي او څوك چي یو مسلمان غلام ازاد کړي د هغه د ا کار به هغه ته د دوږخ څخه نجات ورکړي او څوك چي د الله ﷻ په لاره (جهاد) کي سپین ږیري سي نو دا سپین ږیروالی به د قیامت په ورځ د هغه لپاره نور وي . (شرح السنه) .

## دريم فصل

(۳۲۴۱): عَنِ الْغَرِيفِ الدَّيْلَمِيِّ قَالَ أَتَيْنَا وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ فَقُلْنَا لَهُ حَدِّثْنَا حَدِيثًا لَيْسَ فِيهِ زِيَادَةٌ وَلَا نُقْصَانٌ فَغَضِبَ وَقَالَ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَقْرَأُ وَمُصْحَفُهُ مُعَلَّقٌ فِي بَيْتِهِ فَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ فَقُلْنَا إِنَّمَا أَرَدْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَاحِبٍ لَنَا أَوْجَبَ يَعْنِي النَّارَ بِالْقَتْلِ فَقَالَ أَعْتِقُوا عَنْهُ يُعْتِقِ اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت غريف د يلمي ﷺ څخه روايت دی چي موږ و واثله بن اسقع ﷺ ته ورغلو هغه ته مو وويل: موږ ته يو حديث بيان کړه چي په هغه کي کمي او زياتوالي نه وي (په دې اورېدو سره) واثله ﷺ په قهر سو او و يې ويل: په تاسو کي چي هر څوک قرانکريم وايي او قران کريم د هغه په کور کي وي مگر بيا هم په هغه کي کمي او زياتوالي راځي موږ ورته وويل زموږ مطلب دادی چي کوم حديث تا د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي وي نو هغه و موږته ووايه هغه وويل يوه ورځ موږ د نبي کريم ﷺ په خدمت کي د يوه قريب په معامله کي حاضر سو چي هغه خپل ځان په خپله وژلي وو او د ځان لپاره يې دوږخ واجب کړی وو (د دې قصې په اورېدو سره) نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هغه له لوري يو غلام ازاد کړه الله تعالي به د هغه غلام د هر اندام په بدله کي د هغه و اندام ته نجات ورکړي. (ابوداؤد نسائي)

**د يو غلام په اړه سفارش کول غوره صدقه ده**

(۳۲۴۲): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ الشَّفَاعَةُ بِهَا تُفَكُّ الرَّقَبَةُ . رواه البيهقي في شعب الايمان.

د حضرت سمره بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بهترينه صدقه سفارش کول دي هغه سفارش چي د هغه په ذريعه ځان ته ازادي يا نجات حاصل سي. (بيهقي په شعب الايمان کي).

# بَابُ اِعْتَاقِ الْعَبْدِ الْمُشْتَرَكِ وَشِرَى الْقَرِيْبِ وَالْعِتْقِ فِي الْمَرَضِ

## (د ګډ غلام ازادولو، دَ قريب رانيولو او د ناروغۍ په حالت کي د ازادولو بيان)

## لومړی فصل

**د مشترک غلام ازادولو په اړه يو هدايت**

(۳۲۴۳): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ وَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ قُوِّمَ الْعَبْدُ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د مشترك غلام خپله برخه ازاده کړي (هغه ته پکار ده) که د هغه سره دومره مال وي چي په هغه سره د غلام پاته برخه رانيولای سي نو غلام دي پوره ازاد کړي نو په انصاف سره دي د غلام قيمت کښېښودل سي او شريکانو ته دي د خپلو حصو قيمت ورکول سي او که دومره مال ور سره نه وي نو يوازي دي خپله برخه ازاده کړي .(بخاري او مسلم) .

**د صاحبينو مستدل حديث**

(۳۲۴۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا فِي عَبْدٍ اعتق كله ان كَانَ لَهُ مَالٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي په يوه مشترك غلام کي خپله برخه ازاده کړي که د هغه سره دومره مال وو چي د نورو شريکانو د حصو قيمت ورکولای سي نو هغه غلام دي پوره ازاد کړي او که دومره مال ورسره نه وو نو په غلام دي مزدوري وکړي او پاته برخه دي ازاده کړي مګر د غلام څخه دي دومره کار نه اخيستل کيږي چي د هغه د توان څخه وتلی وي. (بخاري او مسلم) .

**د ژکندن پر وخت د خپل ټولو غلامانو په ازادولو سره د وارثانو حق نه تلفوي**

(۳۲۴۵): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی

سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ لَهُ عِنْدَ مَوْتِهِ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُمْ فَدَعَا بِهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَزَّأَهُمْ أَثْلَاثًا ثُمَّ أَقْرَعَ بَيْنَهُمْ فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً وَقَالَ لَهُ قَوْلًا شَدِيدًا رواه مسلم و روى النسائي عنه وذكر لقد هممت ان لا اصلي عليه بدل وقال له قولا شديدا و في رواية ابي داؤد قال لو شهدته قبل ان يدفن لم يدفن في مقابر المسلمين .

چې يوه سړي د مرګ په وخت کې شپږ غلامان ازاد کړل او د هغه سره د دې څخه پرته نور بل څه نه وه رسول الله ﷺ هغه غلامان را وغوښتل او هغوئ يې درې حصې کړل وروسته يې د دوئ په مينځ کې قرعه (پچه اچونه) وکړه په هغوئ کې يې دوه ازاد کړه او څلور يې غلامان و ساتل او د ازاد کونکي لپاره يې سخت الفاظ وفرمايل او دنسائي په يوه روايت کې دا الفاظ دي ما اراده کړې وه چې دده په جنازه باندې لمونځ و نکړم او د ابوداؤد په يوه روايت کې دي که زه د هغه د ښخولو په وخت کې واى نو ما د هغه قبر د مسلمانانو د هديرې څخه ايستلي واى ..

### د غلام پلار ازادول

(۳۲۴۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجْزِي وَلَدٌ وَالِدًا إِلَّا أَنْ يَجِدَهُ مَمْلُوكًا فَيَشْتَرِيَهُ فَيُعْتِقَهُ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو زوى د خپل پلار د احساناتو بدله نسي پوره کولاى خو په هغه صورت کې چې پلار يې د يو چا غلام وي هغه رانيسي او ازاد يې کړي .(مسلم).

### د مدبر غلام خرڅول جائز دي که يا؟

(۳۲۴۷):وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ دَبَّرَ مَمْلُوكًا لَهُ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ النَّحَّامِ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ .متفق عليه و في رواية لمسلم فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْعَدَوِيُّ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَجَاءَ بِهَا النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ابْدَأْ بِنَفْسِكَ فَتَصَدَّقْ عَلَيْهَا فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ فَلِأَهْلِكَ فَإِنْ فَضَلَ عَنْ أَهْلِكَ شَيْءٌ فَلِذِي قَرَابَتِكَ فَإِنْ فَضَلَ عَنْ ذِي قَرَابَتِكَ شَيْءٌ فَهَكَذَا وَهَكَذَا يَقُولُ فَبَيْنَ يَدَيْكَ وَعَنْ يَمِينِكَ وَعَنْ شِمَالِكَ .

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دى چې يوه انصاري خپل يو غلام مدبر (چې زما د مرګ وروسته ته ازاد يې) کړ او د هغه سره د غلام پرته بل څه نه وه نبي کريم ﷺ د دې څخه خبر سو نو خلکو ته يې وفرمايل: دا غلام زما څخه څوک رانيسي ؟ نعيم بن نحام هغه غلام په اته سوه درهمه باندې را نيوي .(بخاري او مسلم) او د مسلم په يوه بل روايت کې دا الفاظ دي چې نعيم بن عبدالله عدوي په اته سوه درهمه هغه غلام را نيوي او اته سوه درهمه يې د نبي کريم ﷺ ته پېش کړې نبي کريم ﷺ درهم

و هغه سري ته ور كړل د چا چي غلام وو بيا يې ورته وفرمايل: تر تولو ښه مخكي دا پيسې په خپل ځان باندي خرڅې كړه او وروسته ښيني خيرات وكړه بيا چي څه پاته سي په خپل كور والايې و خوره او د دې ښه چي هم پاته سي نو په قريبانو يې خرڅ كړه او د دې ښه چي هم يو څه پاته سي نو داسې او داسې يې خرڅې كړه نبي كريم ﷺ رسته او چپه خواته اشاره وكړه.

## دويم فصل

### د ذي رحم په ملكيت كي راتلو سره ازاد كيږي

| | |
|---|---|
| (۳۲۴۸): عَنْ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ فَهُوَ حُرٌّ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة . | حضرت حسن رضي الله عنه د سمره رضي الله عنه څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د محرم قرابتدار مالك وي هغه قرابتدار محرم ازاد |

دی .(يعني څوك چي يو محرم قريب رانيسي يا و هغه ته په هبه او يا وصيت كي ورسيږي د هغه په ملكيت كي د را تلو سره ازاد دی .)(ترمذي ابوداؤد ابن ماجه).

### ام ولد د خپل بادار د وفات وروسته ازاد وي

| | |
|---|---|
| (۳۲۴۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَلَدَتْ أَمَةُ الرَّجُلِ مِنْهُ فَهِيَ مُعْتَقَةٌ عَنْ دُبُرٍ مِنْهُ أَوْ بَعْدَهُ . رواه الدارمي . | د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا مينځه چي د هغه د نطفې څخه بچی راوړي نو هغه د هغه سري |

(يعني د خپل مالك)د مرگ وروسته دي ازاده سي. (دارمي).

| | |
|---|---|
| (۳۲۵۰): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ بِعْنَا أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ نَهَانَا عنه فَانْتَهَيْنَا . رواه ابوداؤد . | د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ او ابو بكر رضي الله عنه په زمانه كي هغه منيځي خرڅولې چي د هغې څخه اولاد سوي وو مگر حضرت عمر رضي الله عنه په خپل خلافت كي د دې څخه منعه كړو او موږ د دې څخه منعه سولو .(ابو داؤد) |

### كه چيري د ازادۍ پر وخت د غلام سره مال وي نو د بادار د اجازې وروسته د هغه مالك دی

| | |
|---|---|
| (۳۲۵۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُ الْعَبْدِ لَهُ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَهُ السَّيِّدُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :څوك چي غلام ازاد كړي او د غلام سره مال وي نو هغه مال د هغه مالك دی |

مګر که شرط یې کړی بادار یا ازادونکي دی خو دا چي مالك ووايي چي غلام د خپل مال هم مالك دی . (ابوداؤد ابن ماجه) .

**ازادي په جزوي توګه واقع کېږي که یا؟**

| | |
|---|---|
| (۳۲۵۲): وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ شِقْصًا مِنْ غُلَامٍ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَيْسَ لِلّٰهِ شَرِيكٌ فَأَجَازَ عِتْقَهُ . رواه ابوداؤد . | حضرت ابو الملح ﷺ د خپله پلاره څخه روایت کوي چي یوه سړي د خپل غلام یوه برخه دده لپاره ازاده کړه د دې ذکر یې و رسول الله ﷺ ته وکړ نبي کریم ﷺ وفرمایل: د خدای تعالی هیڅوك شریك نسته |

بیا نبي کریم ﷺ حکم وکړ چي غلام دې بالکل ازاد کړل سي . (ابوداؤد) .

**د مشروط ازادي یو واقعه**

| | |
|---|---|
| (۳۲۵۳): وَعَنْ سَفِينَةَ قَالَ كُنْتُ مَمْلُوكًا لِأُمِّ سَلَمَةَ فَقَالَتْ أُعْتِقُكَ وَأَشْتَرِطُ عَلَيْكَ أَنْ تَخْدُمَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عِشْتَ فَقُلْتُ وَإِنْ لَمْ تَشْتَرِطِي عَلَيَّ مَا فَارَقْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عِشْتُ فَأَعْتَقَتْنِي وَاشْتَرَطَتْ عَلَيَّ . رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت سفینه (رض) څخه روایت دی چي زه د بي بي ام سلمه (رض) په ملکیت کي وم (یوه ورځ) هغې ماته وویل زه تا په دې شرط ازادوم چي تر څو پوري ژوندی یې د رسول الله ﷺ څخه به نه جلا کېږي (خدمت به یې کوي) ما وویل که پر ما شرط نه ایږدې هم به د نبي کریم ﷺ څخه جلا نسم نو ام سلمه رض زه ازاد کړم او د نبي |

کریم ﷺ د خدمت شرط یې پر ما ولګوی . (ابن ماجه ابو داؤد) .

**مکاتبت کله ختمیږي**

| | |
|---|---|
| (۳۲۵۴): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ مِنْ مُكَاتَبَتِهِ دِرْهَمٌ . رواه ابوداؤد. | حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره او هغه د خپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په مکاتب غلام باندي ترڅو پوري چي یو درهم هم پاته وي هغه غلام دی . (ابوداؤد) |

**د مکاتب غلام څخه پرده**

| | |
|---|---|
| (۳۲۵۵): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ عِنْدَ مُكَاتَبِ إِحْدَاكُنَّ وَفَاءٌ فَلْتَحْتَجِبْ مِنْهُ . رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة . | د بي بي ام سلمه رض څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چي داسي یو مکاتب غلام وي چي دومره مال ولري چي د هغه په بدله کي (د خپلي ازادي |

قیمت) ادا کړي نو د هغه مالکي ته پکار ده چي د هغه څخه ستر او پرده کوي .(ترمذي ابوداؤد ابن ماجه) .

**د مکاتب له خوا د بدل کتابت د جزوي ادایني مسئله**

(۳۲۵۶): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَاتَبَ عَبْدَهُ عَلَى مِائَةِ أُوقِيَّةٍ فَأَدَّاهَا إِلَّا عَشَرَةَ أَوَاقٍ أَوْ قَالَ عَشَرَةَ دَنَانِيرَ ثُمَّ عَجَزَ فَهُوَ رَقِيقٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره او هغه د خپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چاچي خپل غلام سل اوقیه مکاتب جوړ کړ او په هغه یوازي لس اوقیه پاته وي او یا یې دویل چي لس اشرفي او نیوي یې ادا کړي وي او د هغه څخه وروسته د قیمت د ادا کولو څخه عاجزه سو نو هغه غلام دي (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه)

(۳۲۵۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَصَابَ الْمُكَاتَبُ حَدًّا أَوْ مِيرَاثًا وَرِثَ بِحِسَابِ مَا عَتَقَ مِنْهُ . رواه ابوداؤد والترمذي و في رواية له قال يؤدي المكاتب بحصة ما ادى دية حر ومابقي دية عبد وضعفه .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :کله چي یوه مکاتب ته د خپل قریب وینه بهېدل حاصل سي یا هغه د چا دمال وارث سي نو هغه ته به یوازي دومره مال ورکول کیږي خومره چي هغه په ازادیږي .(ابوداؤد ترمذي) او د ترمذي په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي حضرت ویلي دي چي دیت به ورکول کیږي مکاتب ته په حصه د هغه چي ادا کړی وي دیت د اصیل او هغه چي باقي دیت وي د مریي . (ترمذي و دې حدیث ته ضعیف ویلي دي) .

## دریم فصل

**د مالي عبادت ثواب مړي ته رسیږي**

(۳۲۵۸): عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ عُمْرَةَ الْاَنْصَارِيِّ اَنَّ اُمَّهٗ اَرَادَتْ اَنْ تُعْتِقَ فَاَخَّرَتْ ذَالِكَ اِلٰى اَنْ تُصْبِحَ فَمَاتَتْ قَالَ عَبْدُالرَّحْمٰنِ فَقُلْتُ لِلْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ اَيَنْفَعُهَا اَنْ اُعْتِقَ عَنْهَا فَقَالَ الْقَاسِمُ اتَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالرحمن بن ابی عمره انصاري ﷺ څخه روایت دی چي زما مور د یوه غلام د ازادلو اراده وکړه او په ازادولو کي یې ځنډ وکړ تر صبا پوري تر دې پوري چي مړه سوه ما (د هغې د مرګ څخه وروسته) د قاسم بن محمد څخه پوښتنه وکړه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال إِنَّ أُمِّي هَلَكَتْ فَهَلْ يَنْفَعُهَا أَنْ أُعْتِقَ عَنْهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ . رواه مالك .

که زه د خپلې مور له طرفه (غلام) ازاد کړم نو ایا هغې ته به یو څه فائده ورسیږي ؟ قاسم ووېل یو وار حضرت سعد بن عباده د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض یې وکړ زما مور مړه سوې ده که زه د هغې له طرفه څوک ازاد کړم نو هغې ته به څه ګټه ورسیږي ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: هو! (یعني نفعه به ورته وکړي) . (مالك) .

(۳۲۵۹): وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ فِي نَوْمٍ نَامَهُ فَأَعْتَقَتْ عَنْهُ عَائِشَةُ اخته رِقَابًا كَثِيرَةً . رواه مالك .

د حضرت یحیی بن سعید ؓ څخه روایت دی چې عبدالرحمن نا څاپه په خوب خوب کې مړ سو د هغه د مرګ څخه وروسته د هغه خور حضرت عائشې رض ډېر غلامان ازاد کړل . (مالك)

**په غیر مشروط توګه د غلام رانیونکی د هغه غلام د مال حقدار نه دی**

(۳۲۶۰): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اشْتَرَى عَبْدًا فَلَمْ يَشْتَرِطْ مَالَهُ فَلَا شَيْءَ لَهُ . رواه الدارمي .

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې یو غلام رانیسي او د هغه د مال شرط و نه کړي نو رانیونکي ته د هغه غلام د مال هیڅ برخه نسته .(دارمي) .

# بَابُ الْأَيْمَانِ وَالنُّذُوْرِ (د قسمو او نذرو بیان)

## لومړی فصل

(۳۲۶۱): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَكْثَرَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْلِفُ لَا وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به اکثره وخت داسې قسم کوی : لا و مقلب القلوب (نه ده داسې قسم دی زما د زړونو په ګرځونکي). (بخاري)

**په غیر الله سره د قسم اخیستو منع**

(۳۲۶۲): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي : الله ﷻ تاسې د دې څخه منعه کوي چې تاسې په خپلو پلرو باندې قسم اخلئ که قسم

يَصْمُتْ . متفق عليه.

ضروري وي نو يوازي يې په خداي تعالى اخلئ كه نه نو چپ خوله سئ . (بخاري)

(۳۲۶۳): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْلِفُوْا بِالطَّوَاغِي وَلَا بِآبَائِكُمْ . رواه مسلم .

د حضرت عبد الرحمن بن سمره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چي تاسو مه په بتانو او مه په پلرو قسم اخلئ . (مسلم)

(۳۲۶۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلْفِه وَاللَّاتِ وَالْعُزّٰى فَلْيَقُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِه تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي قسم واخلي او په خپل قسم كي ذاسي ووايي چي په لات او عزى دي مي قسم وي نو هغه ته پكار ده چي: لااله الا الله دي ووايي (يعني توبه دي وكاږي چي هغه په بتانو قسم واخيستي) او څوك چي د خپل يو دوست ته ووايي چي راځه چي خمار وكړو نو هغه ته پكار ده چي صدقه يا خيرات وكړي . (بخاري او مسلم)

**د اسلام خلاف د بل مذهب د قسم اخيستو مسئله**

(۳۲۶۵): وَ عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلٰى مِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَلَيْسَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَذْرٌ فِيْمَا لَا يَمْلِكُ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهٗ بِشَيْءٍ فِي الدُّنْيَا عُذِّبَ بِه يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَعَنَ مُؤْمِنًا فَهُوَ كَقَتْلِه وَمَنْ قَذَفَ مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَتْلِه وَمَنِ ادَّعٰى دَعْوٰى كَاذِبَةً لِيَتَكَثَّرَ بِهَا لَمْ يَزِدْهُ اللّٰهُ إِلَّا قِلَّةً . متفق عليه

د حضرت ثابت بن ضحاك ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د اسلام په خلاف په يوه بل مذهب باندي قسم وكړي او هغه دروغجن وي نو هغه داسي دی لكه چي ووايي (مثلا هغه قسم وكړ كه زه دا كار وكړم نو يهودي او يا نصراني به يم يا د اسلام څخه به بېزاره يم او وروسته د قسم كولو هغه كار وكړي او خپل قسم دروغ كړي نو هغه هغسي دی يعني يهودي نصراني او د اسلام څخه بېزاره دی) ، څوك چي د يوه شي مالك نه وي نو د هغه شي نذر نه صحيح كيږي او څوك چي خپل ځان په خپله ووژني نو په كومه اله سره چي يې ځان وژلی وي نو د هغې الې په وسيله به تر قيامته پوري عذاب وركول كيږي او څوك چي په يوه مسلمان باندي لعنت ووايي د هغه گناه داسي ده لكه چي هغه يې قتل كړ او څوك چي په يوه مسلمان باندي د كفر فتوى ولگوي د هغه گناه همداسي ده لكه چي هغه يې قتل كړ او څوك چي

د مال د حاصلولو په وجه د درواغو دعوې وکړي نو الله ﷺ به د هغه مال کم کړي. (بخاري او مسلم).

**که چیرې په قسم ماتولو کې خیر وي نو هغه قسم ماتول بکار دي**

(۳۲۶۶): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ لَا أَحْلِفُ عَلٰى يَمِينٍ فَأَرٰى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِيْنِي وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ . متفق علیه.

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: قسم په خدای چې زه په یو شی قسم واخلم او هغه شی بهتر وي نو زه به خپل قسم مات کړم او د قسم کفاره به ورکړم او د هغه څخه په بهتر شی باندې به عمل وکړم. (بخاري او مسلم)

(۳۲۶۷): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ سَمُرَةَ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا وَإِذَا حَلَفْتَ عَلٰى يَمِينٍ فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ وَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ . و في رواية فات الذي هو خير و كفر عن يمينك . متفق عليه.

د حضرت عبدالرحمن بن سمره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ماته وفرمایل: اې عبدالرحمن بن سمره! ته د یوه ځای مشري په خپل خواهش سره مه حاصلوه ځکه که ستا په خواهش سره مشري درته حاصله سوه نو ته به د هغه د بوج پورته کونکی یې او که په بې خواهشه درته مشري درکول سي نو په هغه به ستا کومک کیږي او کله چې ته په یو شی باندې قسم وکړې او د قسم خلاف کار بهتر خیال وي نو د خپل قسم کفاره ورکړه او هغه ښه کار په ځان کې راوله او په یو بل روایت کې داسې دي چې په هغه ښه کار باندې عمل وکړه او د خپل قسم کفاره ورکړه. (بخاري او مسلم).

(۳۲۶۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ عَلٰى يَمِينٍ فَرَأٰى خَيْرًا مِنْهَا فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ وَلْيَفْعَلْ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په یوه خبره باندې قسم واخلي او بیا د قسم خلاف هغه کار ښه و بولي نو هغه کار دې وکړي او د قسم کفاره دې ادا کړي. (بخاري او مسلم).

(۳۲۶۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَأَنْ يَلَجَّ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ فِي أَهْلِهِ آثَمُ لَهُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ أَنْ يُعْطِيَ كَفَّارَتَهُ الَّتِي افْتَرَضَ اللّٰهُ عَلَيْهِ . متفق علیه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په خدای دې مې قسم وي چې ستاسو قسم د خپل کور په اړه وي اصرار یا ضد کول (دا قسم) د خدای تعالی په نزد د دې څخه زیاته

گناه لري خومره چي قسم ماتول او د هغې کفاره ورکول چي الله ﷺ پر فرض کړي دي. بخاري او مسلم.

**د يو تنازعې په صورت کي د قسم ورکونکي د نيت اعتبار دی**

| | |
|---|---|
| (۳۲۷۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِينُكَ عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهِ صَاحِبُكَ . رواه مسلم . | د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستا قسم هغه وخت صحيح کيږي چي قسم در کونکي تا رېښتني وګڼي . (مسلم) |
| (۳۲۷۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَمِينُ عَلَى نِيَّةِ الْمُسْتَحْلِفِ. رواه مسلم | د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم د قسم ورکونکي په نيت باندي مبني دی . (مسلم) |

**پر لغوه قسم باندي مؤاخذه نه سته**

| | |
|---|---|
| (۳۲۷۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ} فِي قَوْلِ الرَّجُلِ لَا وَاللّٰهِ وَبَلَى وَاللّٰهِ .رواه البخاري و في شرح السنة لفظ المصابيح وقال رفعه بعضهم عن عائشة. | د بي بي عائشې رض څخه روايت دی چي دا ايت : لايؤخذكم ......... في ايمانكم . (الله ﷻ ستاسو په (پالتو) قسمونو باندي مؤاخذ . نه کوي )دا د هغو خلکو په باره کي نازل سوی دی چي په هره خبره به يې قسم اخيستی قسم په |

خداي ما دا کار نه دي کړی او قسم په خداي چي دا کار ما ندي کړی (يعني د هغو خلکو تکيه کلام دا الفاظ وو او خپل قسم يې مقصد نه وو )بخاري ) او په شرح السنه کي د مصابيحو دا الفاظ دي : چي ځينو راويانو دا حديث د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه مرفوع نقل کړی دی .

## دويم فصل

**د غير الله د قسم منع**

| | |
|---|---|
| (۳۲۷۳): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ وَلَا بِأُمَّهَاتِكُمْ وَلَا بِالْأَنْدَادِ وَلَا تَحْلِفُوا بِاللّٰهِ إِلَّا وَأَنْتُمْ صَادِقُونَ . رواه ابوداؤد والنسائي . | د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو په خپلو پلرو باندي قسمونه مه اخلئ او نه په ميندو او نه په بتانو او په خداي تعالي باندي هم قسم مه اخلئ تر څو پوري چي تاسو په خپلو خبرو کي رېښتني نه ياست . (ابوداؤد نسائي) |
| (۳۲۷۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ | د حضرت ابن عمر څخه روايت دی چي ما د رسول الله |

| | |
|---|---|
| رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللّٰهِ فَقَدْ أَشْرَكَ . رواه الترمذي. | ﷺ ځخه دا اورېدلي دي چاچي د الله ﷻ ځخه ماسېوا په بل شي باندي قسم واخيستى هغه شرك وكړ. (ترمذي) |
| (۳۲۷۵): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ فَلَيْسَ مِنَّا . رواه ابوداؤد والنسائي . | د حضرت بريده رضی الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچي د امانت قسم واخيستى (يعني دخداي ﷻ د نوم اخيستو ځخه بغير يې |

يوازي د امانت قسم واخيستى) هغه زموږ ځخه نه دی. (ابوداؤد نسائي).

**د اسلام ځخه د بېزارۍ د قسم مسئله**

| | |
|---|---|
| (۳۲۷۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِنَ الْإِسْلَامِ فَإِنْ كَانَ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَإِنْ كَانَ صَادِقًا فَلَنْ يَرْجِعَ إِلَى الْإِسْلَامِ سَالِمًا . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة . | د حضرت بريده رضی الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ځوك چي دا ووايي چي زه د اسلام ځخه بېزاره يم (يعني دا ووايي كه زه داسي كار وكړم نو د اسلام ځخه بېزاره يم) بيا |

هغه درواغجن وي (يعني هغسي كار يې وكړ)نو بيا هغه هغسي دی (يعني واقعي د اسلام ځخه بېزاره دی) او كه هغه رېښتني وي نو هغه په پوره توگه سره د اسلام و لور ته نه را ځي. (ابوداؤد نسائي ابن ماجه) .

**رسول الله ﷺ به څېنو ځايو کي ځرنگه قسم اخيستی**

| | |
|---|---|
| (۳۲۷۷): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اجْتَهَدَ فِي الْيَمِينِ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي الْقَاسِمِ بِيَدِهِ . رواه ابوداؤد . | د حضرت ابو سعيد خدري رضی الله عنه ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به چي كله په قسم كولو كي زور وكړ نو داسي به يې ويل: قسم په هغه ذات چي د هغه په لاس كي د ابو القاسم روح دی. (ابوداؤد) |
| (۳۲۷۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَتْ يَمِينُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَلَفَ لَا وَأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ . رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابوهريره رضی الله عنه ځخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ قسم به داسي وو يا (يعني دا خبره نه ده) زه د خداي تعالي ځخه بخښنه غواړم. (ابوداؤد ابن ماجه) |

**د قسم سره د انشاء الله ويلو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۳۲۷۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى | د حضرت ابن عمر رضی الله عنه ځخه روايت دی چي رسول |

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَقَالَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي ، و ذكر الترمذي جماعة وقفوه على ابن عمر .

الله ﷺ وفرمايل: چا چي قسم واخيستى نو د هغه سره يې انشاء الله هم وويل (نو د هغه قسم په خلاف کولو سره) په هغه څه گناه نسته .(ترمذي ابو داؤد نسائي ابن ماجه دارمي) په ترمذي کي د يوه جماعت ذکر وکړ چا چي دا په ابن عمر ﷺ باندي موقوفه کړي دی .

## دريم فصل

**غير مناسب قسم مات کړئ او د هغه کفاره ادا کړئ**

(۳۲۸۰): عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ ابْنَ عَمٍّ لِي أَتِيْتُهُ أَسْأَلُهُ فَلَا يُعْطِينِي وَلَا يَصِلُنِي ثُمَّ يَحْتَاجُ إِلَيَّ فَيَأْتِينِي فَيَسْأَلُنِي وَقَدْ حَلَفْتُ أَنْ لَا أُعْطِيَهُ وَلَا أَصِلَهُ فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَأُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِي . رواه النسائي وابن ماجة و في رواية قال قلت يا رسول الله ياتيني ابن عمي فاحلف ان لا اعطيه ولا اصله قال كفر عن يمينك .

د حضرت ابو الاحوص عوف بن مالك ﷺ څخه هغه د خپل پلاره څخه روايت کوي هغه وايي ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ تاسو ماته په دې معامله کي څه حکم راکوي چي کله ما ته ضرورت سي زه خپل د اکا زوی ته د څه غوښتلو لپاره ورځم نو هغه ضرورتًا ما ته څه نه راکوي او نه زما سره په خپله ښه چلن کوي بيا چي و هغه ته ضرورت پېښ سي نو هغه ماته راځي زما څخه يې غواړي او ما په دې خبره باندي قسم اخيستي دی چي زه به هيڅ نه ورکوم او نه به د هغه سره هيڅ ډول ښه چلن کوم نبي کريم ﷺ حکم وکړ هغه کار کوه چي بهتر وي (يعني د هغه ضرورت پوره کړه او د هغه سره ښه چلن هم وکړه ) او د خپل قسم کفاره ورکړه .(نسائي ابن ماجه) د ابن ماجه په روايت کي دا الفاظ دي مالك و نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ يا رسول الله ﷺ زما د اکا زوی زما څخه د يو څه د غوښتو لپاره راځي او زه قسم اخلم چي ده ته به څه نه ورکوم او نه به د هغه سره هيڅ ډول ښه چلن کوم نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل :ته د غلط قسم د قسم په اخيستلو سره کفاره ورکړه .

# بَابُ فِي النُّذُوْرِ (د نذرو بیان)

## لومړی فصل

**د نذر ممانعت**

| | |
|---|---|
| (۳۲۸۱): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنُ عُمَرَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنْذِرُوا فَإِنَّ النَّذْرَ لَا يُغْنِي مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ . متفق عليه . | د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو نذر په خپلو ځانو باندي مه ایږدئ ځکه چي نذر د تقدیر څخه هیڅ شی نسي لیري کولای البته په دې سره د بخیل |

انسان څخه یو اندازه مال خرڅیږي. (بخاري او مسلم).

**د کوم نذر په پوره کولو کي چي ګناه وي هغه مه پوره کوئ**

| | |
|---|---|
| (۳۲۸۲): وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَذَرَ اَنْ يُطِيعَ اللّٰهَ فَلْيُطِعْهُ وَمَنْ نَذَرَ اَنْ يَعْصِيَهُ فَلَا يَعْصِه . رواه البخاري. | د بي بي عائشي رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د الله ﷺ د اطاعت نذر و مني هغه ته پکار ده چي خپل نذر پوره کړي |

او د الله ﷺ اطاعت وکړي او څوک چي د الله ﷺ د نافرماني نذر وکړي نو هغه دي خپل نذر نه پوره کوي او د خداي ﷺ نافرماني دي نه کوي. (بخاري).

| | |
|---|---|
| (۳۲۸۳): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةٍ وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ الْعَبْدُ . رواه مسلم و في رواية لا نذر في معصية الله . | د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ګناه د نذر پوره کول جائز نه دی او نه د هغه شي نذر پوره کول جائز دی چي په وس او توان کي يې نه وي. ( |

مسلم) او په یوه روایت کي دا الفاظ دي د خداي تعالي د نافرماني نذر پوره کول جائز نه دی.

**د نذر کفاره**

| | |
|---|---|
| (۳۲۸۴): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ . رواه مسلم . | د حضرت عقبه بن عامر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د نذر کفاره هم د قسم کفاره ده. (مسلم) |

**په نذر کې چې د کومو شیانو پوره کولو امکان نه وي د هغه نه پوره کولو اجازه**

(۳۲۸۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَائِمٍ فَسَأَلَ عَنْهُ فَقَالُوا أَبُو إِسْرَائِيلَ نَذَرَ أَنْ يَقُومَ وَلَا يَقْعُدَ وَلَا يَسْتَظِلَّ وَلَا يَتَكَلَّمَ وَيَصُومَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرُوهُ فَلْيَتَكَلَّمْ وَلْيَسْتَظِلَّ وَلْيَقْعُدْ وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ خطبه ویله نو یو سړی یې ولاړ ولیدی د هغه د حالت پوښتنه یې وکړه خلکو عرض وکړ د ده نوم ابو اسرائیل دی ده نذر منلی دی چې ولاړ به وي کښېني به نه او نه به د شي سایې ته کښېني او نه به د چا سره خبرې کوي او همېشه به روژې نیسي نبي کریم ﷺ وفرمایل: و ده ته ووایاست چې خبرې دې کوي سایې ته دې کښېني او روژه دې پوره کړي . (بخاري) .

(۳۲۸۶): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى شَيْخًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ فَقَالَ مَا بَالُ هٰذَا قَالُوا نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ الى بيت الله قَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَنْ تَعْذِيبِ هٰذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ . متفق عليه و في رواية لمسلم عن ابي هريرة قال اركب ايها الشيخ فان الله غني عنك وعن نذرك .

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ یو سپین ږیري ولیدی چې د خپلو دوو زامنو په اوږو یې لاس نیولي وو تګ یې کوی نبي کریم ﷺ پوښتنه وکړه د ده څه حال دی ؟ خلکو عرض وکړ ده نذر منلی دی چې بیت الله ته به پیاده ځي نبي کریم ﷺ وفرمایل: ده د خپل ځان په دې تکلیف اچولو کې د خدای تعالی څه پروا نسته د دې څخه وروسته یې و هغه سپین ږیري ته حکم وکړ چې سپور سي . (بخاري او مسلم)او په مسلم کې د ابوهریره ﷛ څخه دا الفاظ نقل سوي دي نبي کریم ﷺ و هغه سپین ږیري ته وفرمایل: اې سپین ږیری! سپور سه ځکه چې الله ﷻ ستا او ستا د نذر څخه بې پروا دی.

**د نذر اېښودونکي پر وارثانو باندې نذر پوره کول واجب دي که یا؟**

(۳۲۸۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ اسْتَفْتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَذْرٍ كَانَ عَلَى أُمِّهِ فَتُوُفِّيَتْ قَبْلَ أَنْ تَقْضِيَهُ فَأَفْتَاهُ أَنْ يَقْضِيَهُ عَنْهَا . متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی چې سعد بن عباده د نبي کریم ﷺ څخه د هغه نذر مسئله و پوښتله کوم چې د هغه مور منلی وو او هغه د دې نذر د پوره کولو څخه وراندې مړه سوې وه نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : ته د هغې نذر د هغې له طرفه څخه پوره کړه . (بخاري او مسلم) .

د خپل ټول مال خیراتولو څخه منع

(٣٢٨٨): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللّٰهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم أَمْسِكْ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ فَإِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِي الَّذِي بِخَيْبَرَ . متفق عليه و هذا طرف من حديث مطول .

د حضرت کعب بن مالك ﷺ څخه روایت دی چي ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ زما د تمام او کمال توبه دا ده چي د خپل ټوله مال څخه لاس پر سر سم او د خداي ﷻ او د هغه د رسول الله ﷺ لپاره يې خيرات کړم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا لپاره بهتره داده چي یو څه مال را وگرځوه ما عرض وکړ زه د خیبر خپله برخه را گرځوم. (بخاري او مسلم) او داده د یو لوی حدیث یوه برخه ده.

## دويم فصل

د گناه نذر پوره کول جائز نه دي

(٣٢٨٩): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةٍ وَكَفَّارَتُه كَفَّارَةُ الْيَمِينِ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي

د بي بي عائشي رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خداي تعالی څخه د نافرماني نذر پوره کول جائز نه دی او د نذر کفاره د قسم کفاره ده. (ابوداؤد ترمذي نسائي)

د غیر معین نذر کفاره

(٣٢٩٠): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا فِي مَعْصِيَةٍ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَا يُطِيقُهُ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا أَطَاقَهُ فَلْيَفِ بِهِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة و قفه بعضهم على ابن عباس .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د يو غيري معين شي نذر و مني د هغه کفاره د قسم کفاره ده او څوك چي د يوې گناه نذر و مني د هغه کفاره د قسم کفاره ده او څوك چي د يو داسي شی نذر و مني چي د هغه پوره کول د هغه په طاقت کي نه وي نو د هغه کفاره هم د قسم کفاره ده او څوك چي د يو داسي شي نذر و مني چي هغه پوره کولای سي نو هغه دي پوره کړي. (ابوداؤد ابن ماجه) او ځينو دا په حضرت ابن عباس ﷺ باندي موقوفه کړي دی.

**پوازي جائز نذر پوره کوئ**

(۳۲۹۱): وَعَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ قَالَ نَذَرَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْحَرَ إِبِلًا بِبُوَانَةَ فَأَتَى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فاخبره فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ كَانَ فِيهَا وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ قَالُوا لَا قَالَ فَهَلْ كَانَ فِيهَا عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ قَالُوا لَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْفِ بِنَذْرِكَ فَإِنَّهُ لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ثابت بن ضحاك ﷺ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي يوه سړى پر خان باندي دا نذر منلي وو د بوانه په (چي مکې ته نژدې واقع دى) ځاى کي به اوښ حلالوي وروسته هغه سړى د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د خپل نذر منلو څخه يې خبر کړ رسول الله ﷺ د اصحابو کرامو څخه پوښتنه وکړه ايا په بوانه کي د جاهليت په وخت کي څه بتان وه چي د هغو عبادت کېدى يا هلته څه مېله د اختر لګېدله ؟ اصحابو کرامو عرض وکړ هيڅ هم نه وه نو نبي کريم ﷺ و هغه سړي ته حکم ورکړ چي خپل نذر پوره کړه د خداي تعالى د نافرمانۍ نذر البته د پوره کولو قابل نه دى او په انسان باندي د هغه شي نذر پوره کول هم جائز نه دي چي د هغه په وس او توان کي نه وي . (ابوداؤد) .

**د دريا وهلو نذر پوره کولو حکم**

(۳۲۹۲): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ قَالَ أَوْفِي بِنَذْرِكِ . رواه ابوداؤد و زاد رزين قالت و نذرت ان اذبح بمكان كذا وكذا مكان يذبح فيه اهل الجاهلية فقال هل كان بذالك المكان وثن من اوثان الجاهلية يعبد قالت لا قال هل كان فيه عيد من اعيادهم قالت لا قال اوفي بنذرك .

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي يوې ښځي عرض وکړ يا رسول الله ﷺ! ما نذر منلى دى چي کوم وخت تاسو د جهاد څخه بيرته راسئ نو زه به ستاسو و مخته دريې وهم نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : خپل نذر پوره کړه . (ابوداؤد) او د رزين په دې روايت کي دا الفاظ زيات دي چي هغې ښځي دا هم وويله چي ما دا نذر منلي دى چي زه به فلاني فلاني ځاي باندي چي د جاهليت په زمانه کي هلته قرباني کېدله ذبح کوم نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چي ايا د جاهليت په زمانه کي په دغو ځايونو کي بتان وه چي د هغوئ عبادت کېدى ؟ښځي عرض وکړ يا نبي کريم ﷺ بيا پوښتنه وکړه ايا د جاهليت په زمانه کي هلته د اختر مېله لګېدله ؟ هغې ښځي عرض وکړ يا ! نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : خپل نذر پوره کړه .

د دریمې برخې مال خیرات ورکولو ښه منع

﴿۳۲۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي لُبَابَةَ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَهْجُرَ دَارَ قَوْمِي الَّتِي أَصَبْتُ فِيهَا الذَّنْبَ وَأَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي كُلِّهِ صَدَقَةً قَالَ يُجْزِئُ عَنْكَ الثُّلُثُ . رواه رزین

د حضرت ابو لبابه ﷺ څخه روایت دی چې هغه و رسول الله ﷺ ته عرض وکړ زما کامله توبه داده چې زه د خپل قوم کور پریږدم چې هلته زما څخه گناه سوې ده او خپل ټول مال خیرات کړم نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: دریمه برخه مال خیراتول ستا لپاره کافي ده . (رزین)

د یو خاص ځای لمونځ کولو نذر ...

﴿۳۲۹۴﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ رَجُلًا قَامَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي نَذَرْتُ لِلّٰهِ إِنْ فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكَ مَكَّةَ أَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ رَكْعَتَيْنِ قَالَ صَلِّ هَاهُنَا ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ فَقَالَ صَلِّ هَاهُنَا ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ فَقَالَ شَأْنَكَ إِذًا . رواه ابوداؤد و الدارمي .

د حضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روایت دی چې د مکې د فتحې په ورځ یوه سړي عرض وکړ یا رسول الله ﷺ ما خداي تعالي ته دا نذر منلی دی چې کله الله ﷺ د مکې فتحه را نصیب کړي نو زه به په بیت المقدس کښې دوه رکعته لمونځ کوم نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: دلته لمونځ وکړه (یعني په مسجد حرام کې) هغه بیا عرض وکړ نبي کریم ﷺ بیا داسې ورته وفرمایل: چې په دې ځای باندې لمونځ وکړه د دریم وار په پوښتنې باندې نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: اوس دې چې کوم ځای زړه غواړي هلته لمونځ وکړه . (ابوداؤد دارمي).

که نذر ناممکن وي نو د هغه کفاره ...

﴿۳۲۹۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً وَأَنَّهَا لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنْ مَشْيِ أُخْتِكَ فَلْتَرْكَبْ وَلْتُهْدِ بَدَنَةً . رواه ابوداؤد والدارمي ، و في رواية لابي داؤد فامرها النبي صلى الله عليه وسلم ان تركب و تهدي هديا، و في رواية له فقال النبي صلى الله عليه وسلم ان الله لا تصنع بشقاء اختك شيئا فلتركب ولتحج و تكفر يمينها .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې د عقبه بن عامر ﷺ خور پر خان باندې دا نذر منلی وو چې هغه به پیاده حج کوي مگر د دې توان او طاقت یې نه درلود (په دې اورېدو سره) رسول الله ﷺ وفرمایل: ستا د خور د پیاده تلو څخه الله ﷺ بې پروا دی هغې له پکار ده چې سپره ولاړه سي او قرباني دې وکړي . (ابوداؤد دارمي) او د ابوداؤد په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې نبي کریم ﷺ د عقبه خور ته دا حکم وکړ چې سپره ولاړه سه او یو حیوان حلال کړه او په یو بل روایت کې د

ابوداؤد دادي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: خداي تعالي ستا د خور د دې مشقت او تکليف هيڅ ثواب نه ورکوي هغې له پکار ده چي سپره حج ته ولاړه سي او د خپل قسم کفاره ادا کړي.

(۳۲۹۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أُخْتٍ لَهُ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ حَافِيَةً غَيْرَ مُخْتَمِرَةٍ فَقَالَ مُرُوهَا فَلْتَخْتَمِرْ وَلْتَرْكَبْ وَلْتَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ . رواه ابوداؤد والترمذي و النسائي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت عبد الله بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي عقبه بن عامر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د هغه خور دا نذر منلی دی چي هغه به سرتور سر پښې (پياده) حج کوي نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغې ته ووايه چي سر پټ کړي او سپره ولاړه سي او (د نذر په کفاره کي) درې روژې دي و نيسي. (ابوداؤد ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي)

**د ناجائز نذر کفاره ورکول واجب دي**

(۳۲۹۷): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَخَوَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ بَيْنَهُمَا مِيرَاثٌ فَسَأَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ الْقِسْمَةَ فَقَالَ إِنْ عُدْتَ تَسْأَلُنِي عَنِ الْقِسْمَةِ فَكُلُّ مَالٍ لِي فِي رِتَاجِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ إِنَّ الْكَعْبَةَ غَنِيَّةٌ عَنْ مَالِكَ كَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ وَكَلِّمْ أَخَاكَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَمِينَ عَلَيْكَ وَلَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ الرَّبِّ وَفِي قَطِيعَةِ الرَّحِمِ وَفِيمَا لَا تَمْلِكُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت سعيد بن مسيب ﷺ څخه روايت دی چي دوو انصاري ورونو ته د يو چا ميراث و رسيدی نو په هغوی کي يو بل ته د ميراث د تقسيم خواهش ښرگند کړ دويم ورته وويل که ته ما ته د تقسيم خواهش ښرگند کړې نو زما ټول مال به په کعبه کي خرڅ کړل سي (يعني هغه دا الفاظ د نذر په ډول سره وويل) حضرت عمر ﷺ هغه ته وويل کعبې ته ستا د مال هيڅ ضرورت نسته ته د خپل نذر کفاره ورکړه او که ستا ورور تا ته د دويم وار د وراثت د تقسيم پوښتنه وکړه نو په دې معامله کي ته د هغه سره خبري اترې وکړه ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي د خدای تعالی په نافرماني کي او قطع رحمي کي نذر پوره کول نسته او د کوم شي چي انسان مالك نه وي نو دهغه نذر پوره کول جائز نه دي بلکه د دې ډول د نذرونو کفاره دي ورکړي او نذر دي نه پوره کوي. (ابوداؤد)

## دريم فصل

**جائز او ناجائز نذر**

(۳۲۹۸): عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ النَّذْرُ نَذْرَانِ فَمَنْ كَانَ نَذَرَ فِي طَاعَةٍ فَذٰلِكَ لِلّٰهِ فِيهِ الْوَفَاءُ وَمَن كَانَ نَذَرَ فِي مَعْصِيَةٍ فَذٰلِكَ لِلشَّيْطَانِ وَلَا وَفَاءَ فِيهِ وَيُكَفِّره ما يكفر الْيَمِينَ .رواه النسائي

چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي نذر پر دوه قسمه دي : (۱)- يو هغه نذر چي د خداي تعالى د بندګۍ او اطاعت لپاره و منل سي نو د دي پوره کول ضروري دی ځکه چي دا خاص و الله ﷻ ته دی . (۲)- او دويم نذر هغه دي چي د خداي تعالى د نافرمانۍ او ګناه لپاره ومنل سي دا نذر د شيطان لپاره دی او د دي پوره کول جائز نه ده . او د دي ډول نذر کفاره د قسم کفاره ده . (نسائي) .

## د خپل ځان قربانولو نذر

(۳۲۹۹): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ قَالَ إِنَّ رَجُلاً نَذَرَ أَنْ يَنْحَرَ نَفْسَهُ إِنْ نَجَاهُ اللّٰهُ مِنْ عَدُوِّهِ فَسَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَهُ سَلْ مَسْرُوْقًا فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَهُ لاَ تَنْحَرْ نَفْسَكَ فَإِنَّكَ إِنْ كُنْتَ مُؤْمِنًا قَتَلْتَ نَفْسًا مُؤْمِنَةً وَإِنْ كُنْتَ كَافِرًا تَعَجَّلْتَ إِلَى النَّارِ وَاشْتَرِ كَبْشًا فَاذْبَحْهُ لِلْمَسَاكِيْنِ فَإِنَّ إِسْحَاقَ خَيْرٌ مِّنْكَ وَفُدِيَ بِكَبْشٍ فَأَخْبَرَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ هٰكَذَا كُنْتُ أَرَدْتُ أَنْ أُفْتِيَكَ . رزين .

د حضرت محمد بن منتشر رض څخه روايت دی چي يوه سړي دا نذر و منی که خدای تعالى هغه د دښمن د لاسه څخه خلاص کړ نو خپل ځان به قربان(حلال ذبح) کړي (کوم وخت چي الله ﷻ هغه د دښمن څخه وژغوري)نو هغه د خپل نذر په هکله د حضرت ابن عباس رض څخه پوښتنه وکړه هغه ورته وويل د مسروق څخه پوښتنه وکړه نو هغه د مسروق څخه پوښتنه وکړه نو هغه ورته وويل خپل ځان مه حلالوه که ته مؤمن يې نو د مؤمن نفس به ووژني او که کافر يې نو اور (يعني جهنم ته) به ورسيږې خو ته يو پسه واخله او د مسکينانو لپاره يې حلال کړه ځکه چي ستا څخه د يوه غوره (هستي) اسحق ﷺ په بدل کي هم يو پسه حلال سوي وو هغه سړي د دي جواب څخه ابن عباس اګاه کړ نو هغه ورته وويل ما هم د داسي فتوی د ورکولو اراده درلوده . (رزين) .

# كِتَابُ الْقِصَـــاصِ (د قصاص بيان)

## لومړی فصل

### د مسلمان د وينې حرمت

| | |
|---|---|
| (۳۳۰۰): عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنِّي رَسُوْلُ اللّٰهِ إِلَّا بِإِحْدٰى ثَلَاثٍ النَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالثَّيِّبُ الزَّانِي وَالْمَارِقُ لِدِينِهِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ . متفق عليه. | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم مسلمان چي د دې شاهدي وركړي چي د الله ﷺ څخه پرته بل څوك د عبادت ور نسته او زه (محمد ﷺ) د الله ﷺ رسول يم نو د هغه وينه تويول جائز نه ده څو |

په دې درو خبرو باندي د هغه وينه تويول جائز ده: (۱)- يو څو نفس په نفس سره (۲)- د واده لرونكي ازاد او مكلف مسلمان زنا كول (۳)- چي خپل مذهب (اسلام) يې پرې اينبي وي او د خپل جماعت څخه جلا سوى وي (يعني د مرتد قتلول هم جائز دى). (بخاري او مسلم).

### په ناحقه قاتل د الله ﷺ د رحمت څخه ليري وي

| | |
|---|---|
| (۳۳۰۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَزَالَ الْمُؤْمِنُ فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا . رواه البخاري. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تر څو پوري چي يو مسلمان د ناجائزي ويني (قتل) مرتكب سوي نه وي تر |

هغه وخته پوري هغه د دين د خپرېدو او نشرېدلو په لټه كي وي (يعني د خداي تعالى د رحمت اميد لرونكي وي). (بخاري)

### د قيامت په ورځ تر ټولو مخكي د قتل په اړه پوښتنه كيږي

| | |
|---|---|
| (۳۳۰۲): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يوم القيامة فِي الدِّمَاءِ . متفق عليه. | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ چي الله ﷺ د ټولو وړاندي د انسانانو د معاملاتو حكم اوري هغه به د ويني معاملات وي. (بخاري او مسلم) |

### چا چي كلمه ووېل هغه معصوم الدم سو

| | |
|---|---|
| (۳۳۰۳): وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ أَنَّهُ قَالَ يَا | د حضرت مقداد بن اسود ﷺ څخه روايت دى چي |

رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ فاقتتلنا فَضَرَبَ إِحْدٰى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فَقَطَعَهَا ثُمَّ لَاذَ مِنِّي بِشَجَرَةٍ فَقَالَ أَسْلَمْتُ لِلّٰهِ وفي رواية فَلَمَّا أَهْوَيْتُ لِأَقْتُلَهُ قَالَ لَاإِلٰهَ إِلَّاللّٰهُ أَقْتُلُهُ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا قال لَا تَقْتُلْهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ قَطَعَ إِحْدٰى يَدِي فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ . متفق عليه

هغه عرض وكړ يا رسول الله ﷺ كه زه د كافر سره مقابله وكړم او زموږ د دواړو په مينځ كي مقابله سي او هغه كافر زما يو لاس ووهي او وتښتي تر يوې ونې پورې دا ووايي چې زه د الله ﷻ لپاره مسلمان سوم او په يوه روايت كي دا الفاظ دي كوم وخت چې زه د هغه د قتلولو اراده وكړم هغه ووايي چې لا اله الا الله نو ايا د دې الفاظو د ويلو څخه وروسته زه هغه قتل كړم ؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه مه وژنه ما عرض وكړ يا رسول الله ﷺ هغه خو زما يو لاس پرېكړى دى نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه مه قتلوه كه ته هغه قتل كړې نو د هغه به هغه درجه وي چې د هغه د قتلولو څخه وړاندي ستا وه او ستا درجه به هغه سي چې د دې كلمې د ويلو څخه وړاندي د هغه وه . (بخاري او مسلم).

(۳۳۰۲): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُنَاسٍ مِنْ جُهَيْنَةَ فَأَتَيْتُ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَذَهَبْتُ أَطْعَنُهُ فَقَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فَطَعَنْتُهُ فَقَتَلْتُهُ فَجِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ أَقَتَلْتَهُ وَقَدْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّمَا فَعَلَ ذٰلِكَ تَعَوُّذًا قَالَ فَهَلَّا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ متفق عليه وَ فِيْ رِوَايَةِ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ الْبَجَلِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَهُ مِرَارًا .رواه مسلم .

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ موږ د جګړې لپاره د جهينې د قبيلې لپاره ولېږلو زه د يوه سړي سره په مقابله سوم او په هغه مې د نېزې ګزار كوى چې هغه لااله الا الله وويل ما هغه په نېزه وواهه او قتل مې كړ بيا د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او واقعه مې ورته بيان كړه نبي كريم ﷺ راته وفرمايل: كله چې يې لا اله الا الله وويل نو بيا تا هغه ولې قتل كړ ؟ ما عرض وكړ يا رسول الله ﷺ هغه خو د خپل ځان د ژغورلو لپاره كلمه وويل نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا تا د هغه زړه څيرلي وو ؟ (يعني تا ته خو د باطن حالت معلوم نه وو ځرګند ته دې ولې نه و كتل؟) (بخاري او مسلم) او دجندب بن عبدالله په روايت كي دا الفاظ دي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې د قيامت په ورځ د ى د لا اله الا الله په جګړه راسي نو هغه وخت به ته څه جواب وركوې څو واره نبي كريم ﷺ دا الفاظ وفرمايل . (مسلم).

**د معاهد د قتل څخه منع**

(٣٣٠٥): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ خريفا . رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي يو معاهد قتل کړي (يعني هغه کافر چي د جګړې نه کولو عهد ورسره سوې وي) هغه به د جنت بوی پیدا نه کړي او د جنت بوی د څلوېښتو کلو د لاري پوري ر سیږي . (بخاري) .

**د ځان وژني په اړه وعید**

(٣٣٠٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ يَتَرَدَّى فيه خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ تَحَسَّى سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يتوجاء بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا . متفق عليه .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چي خپل ځان د غره څخه را وغورځوي او ځان ووژني نو هغه به په دوږخ کي غورځول کیږئ همیشه او د همیشه لپاره به په دوږخ کي وي او چا چي د زهرو په خوړلو سره ساه ورکړه نو زهر به يې په لاس کي وي څیښي به يې په اور د دوږخ کي همیشه او همیشه به په دوږخ کي وي .او چا چي د اوسپني په ذریعه سره ځان قتل کړ نو اوسپنه به دده په لاس کي وي په خپل نس به يې منډي په اور د دوږخ کي همیشه او دی به همیشه په دوږخ کي وي. (بخاري او مسلم) .

(٣٣٠٧): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَخْنُقُ نَفْسَهُ يَخْنُقُهَا فِي النَّارِ وَالَّذِي يَطْعُنُهَا يَطْعُنُهَا فِي النَّارِ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي خپله غاړه په خفه کولو سره خپل ځان قتل کړي نو هغه به په دوږخ کي هم خپله غاړه خفه کونکی او څوك چي ځان په نېزې سره ووژني نو هغه به په دوږخ کي هم ځان په نېزو سره وهي .(بخاري) .

(٣٣٠٨): وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ بِهِ جُرْحٌ فَجَزِعَ فَأَخَذَ سِكِّينًا فَحَزَّ بِهَا يَدَهُ فَمَا رَقَأَ الدَّمُ حَتَّى

د حضرت جندب بن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تر تاسو وړاندي خلکو کي يو سړی وو د هغه لاس زخمي سوې وو هغه (د زخم تکلیف برداشت نه کړ) په چاړه سره خپل لاس پرې کړ د هغه وینه بنده نه سوه او مړ سو خدای تعالی وفرمایل:

مَاتَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى بَادَرَنِي عَبْدِي بِنَفْسِهِ فَحَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ .متفق عليه.

زما بنده د خپل ځان په هلاکولو کي تلوار وکړ ما په هغه باندي جنت حرام کړ . (بخاري او مسلم) .

**د ځان وژني په اړه يو واقعه**

(۳۳۰۹): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ الطُّفَيْلَ بْنَ عَمْرٍو الدَّوْسِيَّ لَما هاجر النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ هَاجَرَ إِلَيْهِ وَهَاجَرَ مَعَهُ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ فَمَرِضَ فَجَزِعَ فَأَخَذَ مَشَاقِصَ لَهُ فَقَطَعَ بِهَا بَرَاجِمَهُ فَشَخَبَتْ يَدَاهُ حَتَّى مَاتَ فَرَآهُ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فِي مَنَامِهِ وَهَيْئَتُهُ حَسَنَةٌ وَرَآهُ مُغَطِّيًا يَدَيْهِ فَقَالَ لَهُ مَا صَنَعَ بِكَ رَبُّكَ فَقَالَ غَفَرَ لِي بِهِجْرَتِي إِلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا لِي أَرَاكَ مُغَطِّيًا يَدَيْكَ قَالَ قِيلَ لِي لَنْ نُصْلِحَ مِنْكَ مَا أَفْسَدْتَ فَقَصَّهَا الطُّفَيْلُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ وَلِيَدَيْهِ فَاغْفِرْ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و مديني منوري ته تشريف يو وړ نو طفيل بن عمرو دوسي او د هغه د قوم يوه سړي هم هجرت وکړ او د طفيل ملګري په مدينه کي ناروغه سو او تکـ ـيې برداشت نکړ هغه د نېزې په تېره څوکـ ـدي د خپلو ګوتو بندونه پرېکړه (يعني هغه ته د ګوتو د بندو ناروغي وه) د دوارو لاسونو وينه يې ونه درېدل او مړ سو بيا طفيل بن عمرو ﷺ هغه په خوب کي وليدی د هغه کيفيت ښه وو البته خپل دواړه لاسونه يې پټ کړي وه طفيل بن عمرو ﷺ پوښتنه ځيني وکړه ستا رب ستا سره څه معامله وکړه ؟ هغه وويل خداي تعالی زه څکه وبخښلمه چي ما د نبي کريم ﷺ و لور ته هجرت کړي وو بيا طفيل بن عمرو ﷺ ور څخه پوښتنه وکړه تا خپل دواړه لاسونه ولي پټ کړی دي ؟ هغه وويل ما ته خداي تعالي وفرمايل: کوم چي تا په خپله خراب کړی دی مورږ هغه نه صحيح کوو . د خوب دا واقعه چي طفيل بن عمرو ﷺ رسول الله ﷺ ته بيان کړه نو رسول الله ﷺ وفرمايل: يا الله ﷺ د هغه دواړه لاسونه هم ور وبخښې . (مسلم) .

**د مقتول وارثانو ته د قصاص او ديت دواړو څخه د يوه اخيستلو اختيار**

(۳۳۱۰): وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثم انتم يَا خُزَاعَةَ قَدْ قَتَلْتُمْ هَذَا الْقَتِيلَ مِنْ هُذَيْلٍ وَأَنَا وَاللّٰهِ عَاقِلُهُ مَنْ قَتَلَ بَعْدَهُ قَتِيلاً فَأَهْلُهُ بَيْنَ خِيرَتَيْنِ إِنْ أَحَبُّوا قَتَلُوا وَإِنْ أَحَبُّوا أَخَذُوا الْعَقْلَ.رواه الترمذي والشافعي و في

د حضرت ابو شريح کعبی ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ای خزاعه بيا اتاسو دا مقتول چي د هذيل د قبيلې څخه دی قتل کړی دی او زه قسم په خداي د دې څخه وروسته چي کوم قتل وسي د هغه وينه تويونکي يم اوس د مقتول وارثانو ته د دو خبرو

شرح السنة باسناده و صرح بانه ليس في الصحيحين عن ابي شريح وقال و اخرجاه من رواية الي هريرة يعني بمعناه .

شخه د يوې خبرې اختيار دی که هغوئ غواړئ نو قاتل دې قتل کړي او که غواړي نو د هغه د وينو تاوان دې واخلي . (ترمذي شافعي) په شرح السنه کې ليکلي دي چې دا حديث په بخاري او مسلم کې نشته او د ابو هريره ﷺ څخه چې کوم حديث په بخاري او مسلم کې منقول دی د هغه دا الفاظ نه دي بلکه هغه د دې هم معنی دي.

**د ښځې د خاوند قاتل قتل کيدای سي**

(۳۳۱۱): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ يَهُودِيًّا رَضَّ رَأْسَ جَارِيَةٍ بَيْنَ حَجَرَيْنِ فَقِيلَ لَهَا مَنْ فَعَلَ بِكِ هٰذا أَفُلَانٌ أَوْ فُلَانٌ حَتّٰى سُمِّيَ الْيَهُودِيُّ فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا فَجِيءَ بِهِ بالیهودي فَاعْتَرَفَ. فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُضَّ رَأْسُهُ بِالْحِجَارَةِ . متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې يوه يهودي د يوې انجلۍ سر پر کاڼو کښېښودی او په بل کاڼي سره يې سر ور وواهه د انجلۍ څخه پوښتنه وسول چې دا کار چا در سره وکړ؟ فلاني سړي او که فلاني نو کله چې د يهودي نوم د هغې په وړاندې واخيستل سو نو هغې د سر په اشاره سره هغه يهودي وښودی يهودي د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر کړل سو هغه د خپل جرم اعتراف وکړ نو د نبي کريم ﷺ په حکم سره د هغه سر هم په کاڼو سره چيت کړل سو . (بخاري او مسلم)

**څوک چې څه کوې هغسې سزا به ورکول کيږي**

(۳۳۱۲): وَعَنْهُ قَالَ كَسَرَتِ الرُّبَيِّعُ وَهِيَ عَمَّةُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِالْقِصَاصِ فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ لَا وَاللّٰهِ لَا تُكْسَرُ سِنُّهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَنَسُ كِتَابُ اللّٰهِ الْقِصَاصُ فَرَضِيَ الْقَوْمُ وَقَبِلُوا الْأَرْشَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ . متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې د انس عمه ربيع د يوې انصاري انجلۍ د مخ غاښ ورمات کړ د هغې قريبان د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سول رسول الله ﷺ د قصاص (د بدل اخيستلو) حکم وکړ د انس بن مالک اکا انس بن نضر ﷺ عرض وکړ يا رسول الله ﷺ! قسم په خدای چې د هغې غاښ به نه ماتوي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې انس! د خدای تعالی په کتاب کې قصاص دی نو هغه خلک وديت ته تيار سوه او ديت يې قبول کړ رسول الله ﷺ وفرمايل: د خدای تعالی ځيني بندګان داسي دي که هغوئ په يو څه باندې قسم واخلي نو خدای تعالی د هغوئ قسم پوره کوي . (بخاري او مسلم).

**د کافر په قتل کي مسلمان قتل کیدای سي که یا؟**

(٣٣١٣): وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَلِيًّا هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ لَيْسَ فِي الْقُرْآنِ فَقَالَ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ مَا عِنْدَنَا إِلَّا مَا فِي الْقُرْآنِ إِلَّا فَهْمًا يُعْطَى رَجُلٌ فِي كِتَابِهِ وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ قُلْتُ وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ قَالَ الْعَقْلُ وَفِكَاكُ الْأَسِيرِ وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. رواه البخاري و ذكر حديث ابن مسعود لا تقتل نفس ظلما في كتاب العلم.

د حضرت ابو جُحیفه ﷺ څخه روایت دی چي ما د حضرت علي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ستا سره داسي شی سته چي هغه په قرانکریم کي نه وي؟ حضرت علي ﷺ وویل په هغه ذات دي مي قسم وي چي غله یې پیدا کړه او ساه یې وجود ته ورکړه زما سره د قرانکریم څخه پرته بل هیڅ شی نسته هو! چي خداي تعالی انسان ته ورکوي چي په هغه سره هغه په قران پوهیږي او هغه شی چي موږ سره په کاغذ لیکلي دی ابو جُحیفه ﷺ پوښتنه وکړه چي په دې کي څه لیکلي دي؟ حضرت علي ﷺ جواب ورکړ «د قتل بدل اخیستل قیدي پرېښودل او دا چي د کافر په بدله کي مسلمان نسي قتلولای د ابن مسعود ﷺ حدیث: لاتقتل الخ ... په «کتاب العلم» کي بیان سوې دی.

## دویم فصل

**د مسلمان د وینې اهمیت**

(٣٣١٤): عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ. رواه الترمذي والنسائي و وقفه بعضهم وهو الاصح. رواه ابن ماجة عن البراء بن عازب.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خداي تعالی په نیزد د مسلمان د قتل په مقابله کي د دنیا زوال اسان دی. (ترمذي نسائي) خینو دا حدیث موقوف کړی دی دا صحیح دی ابن ماجه د براء بن عازب څخه روایت کړ.

(٣٣١٥): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَأَهْلَ الْأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ لَأَكَبَّهُمُ اللهُ فِي النَّارِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو سعید ﷺ او حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که د اسمان والا او د ځمکي والا ذواړه د یو مسلمان په قتل کي شریك سي نو الله ﷺ به دا ټول د دوږخ په اور کي نسکوره کړي. (په ترمذي کي دا حدیث غریب ګڼل سوی دی)

**د قیامت په ورځ د مقتول استغاثه**

(۳۳۱۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِالْقَاتِلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَاصِيَتُهُ وَرَأْسُهُ بِيَدِهِ وَأَوْدَاجُهُ تَشْخَبُ دَمًا يَقُولُ يَا رَبِّ قَتَلَنِي حَتَّى يُدْنِيَهُ مِنَ الْعَرْشِ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به مقتول قاتل راولي چي د قاتل تندی او سر به د مقتول په لاس کي وي او د مقتول د رګونو څخه به وینه بهیږي مقتول به الله ﷻ مخاطب کړي ورته و به وایي اې پروردګاره! دې سړي زه قتل کړی یم تر دې پوري چي مقتول به قاتل عرش الهي ته نژدې ور ولي . (ترمذي نسائي ابن ماجه).

**د خپل مظلومیت په ورځ د حضرت عثمان ﷺ تقریر**

(۳۳۱۷): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ أَشْرَفَ يَوْمَ الدَّارِ فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ أَوْ كُفْرٍ بَعْدَ إِسْلَامٍ أَوْ قَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ حَقٍّ فَقُتِلَ بِهِ فَوَاللَّهِ مَا زَنَيْتُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا فِي إِسْلَامٍ وَلَا ارْتَدَدْتُ مُنْذُ بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا قَتَلْتُ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ فَبِمَ تَقْتُلُونَنِي . . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة وللدارمي لفظ الحديث .

د حضرت ابو امامه بن سهل بن حنیف ﷺ څخه روایت دی چي حضرت عثمان بن عفان ﷺ په ورځ د دار کي د خپل د کور پر بام باندي و دربدی او تولیې مخاطب کړه ورته یې وویل اې خلکو ! زه تاسو ته د خدای تعالی په قسم درکولو سره وایم ایا تاسو ته د دې خبري څخه خبر نه یاست چي رسول الله ﷺ دا فرمایلي دي د هیڅ یوه مسلمان وینه بهدل جائز نه دي تر څو پوري چي یوه په دا درو خبرو کي وجود پیدا نه کړي : (۱)-یعني تر نکاح کولو وروسته زنا کول .(۲)-د اسلام د راوړلو څخه وروسته کافر کېدل .(۳)- یو څوک په ناحقه باندي قتلول .(د دې خبرو په بدله)کي به مسلمان وژل کیږي (او د دې څخه پرته په هیڅ بل ډول سره د مسلمان وینه تویول جائز نه ده .) قسم په خدای چي ما نه د جاهلیت په زمانه کي زنا کړېده او نه په اسلام کي او کله چي ما د رسول الله ﷺ سره بیعت کړی دی د هغې ورځي څخه تر اوسه پوري په اسلام باندي قائم یم او مرتد سوی نه یم او د کوم مسلمان وینه چي الله ﷻ حرامه کړېده ما د هغه وینه نه ده توی کړې نو بیا په څه وجه باندي تاسو زما قتلول غواړئ .(ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي).

**قاتل د خير د توفيق څخه محروم وي**

(۳۳۱۸): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان بنده همېشه د نيکي و لور ته په تيزي سره روان دی تر څو پوري چي د ناجائز ويني مرتکب سوی نه وي او کله چي هغه د حرامي ويني ارتکاب وکړي نو ستړي سي .(او د نيکی ولور ته نه مخته کيږي). (ابوداؤد).

**ناحقه قتل نه معاف کېدونکي جرم دی**

(۳۳۱۹): وَعَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ ذَنْبٍ عَسَى اللّٰهُ أَنْ يَغْفِرَهُ إِلَّا مَنْ مَاتَ مُشْرِكًا أَوْ مُؤْمِنٌ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: و الله ﷻ ته اميد دی چي هره گناه معاف کړي خو د هغه سړي گناه نه معافوي چي د شرك په حالت کي مړ سي يا يو مسلمان قتل کړي په قصد . (ابوداؤد).

**پر پلار باندي د اولاد قصاص نه سته**

(۳۳۲۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُقَامُ الْحُدُودُ فِي الْمَسَاجِدِ وَلَا يُقَادُ الْوَالِدُ بِالْوَلَدِ . رواه الترمذي والدارمي .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مسجدو کي شرعي حدود نسي قائمولای او پلار د اولاد (د قتل) په بدله کي قصاص نسي اخيستلای. (ترمذي دارمي).

**پلار او زامن د يو بل په جرم کي د مؤاخذې قابل نه دي**

(۳۳۲۱): وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَبِي فَقَالَ مَنْ هٰذَا الَّذِي مَعَكَ ؟ قَالَ ابْنِي اشْهَدْ بِهِ قَالَ أَمَا إِنَّهُ لَا يَجْنِي عَلَيْكَ وَلَا تَجْنِي عَلَيْهِ . رواه أبو داود والنسائي وزاد في شرح السنة في أوله قال دَخَلْتُ مَعَ أَبِي عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى أَبِي الَّذِي بِظَهْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دَعْنِي أُعَالِجُ الَّذِي بِظَهْرِكَ فَإِنِّي طَبِيبٌ فَقَالَ أَنْتَ رَفِيقٌ وَاللّٰهُ الطَّبِيبُ .

د حضرت ابو رمثه رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د خپل پلاره سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه دا ستا سره څوك دی ؟ زما پلار عرض وکړ دا زما زوی دی تاسو د دې څخه خبر سئ نبي کريم ﷺ وفرمايل: خبر سئ! چي د ده د گناه مواخذه (پوښتنه) به ستا څخه کيږي او ستا د گناه پوښتنه به د ده څخه نه کيږي .(ابوداؤد نسائي) او د «شرح السنه» کي د دې حديث په پيل کي دا الفاظ زيات دي چي ابو رمثه رضي الله عنه وويل زه

د خپل پلاره سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم زما پلار د نبي کریم ﷺ په شا باندي د نبوت مهر ولیدي نو عرض یې وکړ ماته اجازه راکړه چي ستا په شا مبارکه چي څه دي زه د هغې علاج وکړم زه طبیب یم نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: ته رفیق (یعني په مریض باندي مهربانه) یې او خداي تعالي طبیب دی.

**د زوی څخه د پلار قصاص اخیستل کېږي**

(۳۳۲۲): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ قَالَ حَضَرْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقِيدُ الْأَبَ مِنِ ابْنِهِ وَلَا يُقِيدُ الِابْنَ مِنْ أَبِيهِ . رواه الترمذي فضعفه .

حضرت عمرو بن شعیب ؓ خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روایت کوي چي د سراقه بن مالك ؓ بیان دی چي زه هغه وخت د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو م چي نبي کریم ﷺ د زوی څخه د هغه د پلار قصاص (بدل) واخیستی او رسول الله ﷺ به د پلاره څخه د زوی قصاص نه اخیستی. (ترمذي).

**د غلام په قصاص کي ازاد سړی قتل کېدای سي که یا؟**

(۳۳۲۳): وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ وَمَنْ جَدَعَ عَبْدَهُ جَدَعْنَاهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي وزاد النسائي في رواية أخرى و من خصى عبده خصيناه .

د حضرت حسن د سمره ؓ څخه روایت کي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي خپل غلام قتل کړي مونږ به د هغه په بدله کي هغه قتلوو او څوك چي د خپل غلام اندامونه پرېکړي نو مونږ به د هغه اعضاء ور پرېکوو. (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه دارمي) او په نسائي کي دا الفاظ زیات لیکل سوي دي او څوك چي خپل غلام خصي کړي نو مونږ به هغه خصي کړو.

**قاتل دي د مقتول وارثانو ته حواله کړل سي**

(۳۳۲۴): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا دُفِعَ إِلَى أَوْلِيَاءِ الْمَقْتُولِ فَإِنْ شَاءُوا قَتَلُوا وَإِنْ شَاءُوا أَخَذُوا الدِّيَةَ وَهِيَ ثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً وَأَرْبَعُونَ خَلِفَةً وَمَا صَالَحُوا عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُمْ . رواه الترمذي .

حضرت عمرو بن شعیب ؓ خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي قصدا یو بل کس قتل کړي نو قاتل دي د مقتول و وارثانو ته حواله کېږاو که خوښه یې وي د هغوئ قتل دي یې کړي او که خوښه یې وي د هغه دیت دي خیني

واخلي او د قتل دیت سل اوښي دي چي په هغه کي دیرش اوښي هغه اوښي شاملي دي چي د درو کلو وي او په څلورم کال کي داخلي سوي وي او دیرش اوښي به د څلورو کلو وي او په پنځم کال کي به شاملي سوي وي او څلوینښت اوښي به حمله اره وي . د مقتول وارثانو ته اختیار دي که يې خوښه وي دیت څیني واخلي او یا دي صله ورسره وکړي هر څو چي يې څیني واخیستلي هغه د دوئ دي . (ترمذي).

**په قصاص او دیت کي ټول مسلمانان برابر دي**

(۳۳۲۵): وَعَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ يَسْعٰى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ وَهُمْ يَدٌ عَلٰى مَنْ سِوَاهُمْ أَلَا لَا يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ. رواه ابوداؤد والنسائي ورواه ابن ماجة عن ابن عباس .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :ټول مسلمانان (که هغه کوچني وي که لوئ که عالم وي او که جاهل)قصاص او دیت کي برابر دي او که معمولي مسلمان په یوه معمولي شی باندي عهد وکړي نو هغه عهد به پوره کوي او که. یو چا د لیري څخه د یو شی معاهده کړي وي نو هغه دي نه ماتوي او ټول مسلمانان د کافرانو په خای باندي د یوه لاس حکم لري اگاه سئ ! چي د هیڅ کافر په قتل کي دي مسلمان نه قتل کیږي نه هغه سړی چي په خپل عهد و ضمان (ضامن) کي دي تر څو پوري چي هغه عهد ضمان کي وي . (ابوداؤد. نسائي)او په ابن ماجه کي دا حدیث د ابن عباس ﷺ څخه نقل کړي دی .

**د مقتول یا ژوبل سوي د وارثانو حق**

(۳۳۲۶): وَعَنْ شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ أُصِيبَ بِدَمٍ أَوْ خَبْلٍ وَالْخَبْلُ الْجُرْحُ فَهُوَ بِالْخِيَارِ بَيْنَ إِحْدٰى ثَلَاثٍ فَإِنْ أَرَادَ الرَّابِعَةَ فَخُذُوْا عَلٰى يَدَيْهِ بَيْنَ أَنْ يَقْتَصَّ أَوْ يَعْفُوَ أَوْ يَأْخُذَ الْعَقْلَ فَإِنْ أَخَذَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا ثُمَّ عَدَا بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهُ النَّارُ خَالِدًا فِيْهَا مُخَلَّدًا أَبَدًا . رواه الدارمي

د حضرت ابو شریح خزاعي ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واورېدل ویل يې څوك چي د خپل عزیز په ناحقه قتل کي مبتلا وي یا د یو زخم په مصیبت کي (یعني د یو چا دوست وژل سوي وي ) نو هغه په دي درو خبرو کي یوه خبره اختیارولای سي که چیري هغه د دغه درو خبرو څخه زیات د څلورمي خبري ته تیر سي نو لاسونه يې و نیسئ .(۱)- یا خو د هغه بدل وا خلي .(۲)-یا معاف دي يې کړي .(۳)-یا دي دیت قبول کړي بیا که په دي خبرو کي یوه خبره قبول کړي او د هغه څخه وروسته زیاتي وکړي یعني د بل شي مطالبه وکړي نو دهغه لپاره د دوږخ اور دی چي په هغه کي به همېشه وي . (دارمي).

## د قتل خطا حکم

(۳۳۲۷): وَ عَنْ طَاؤُوسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ مَنْ قُتِلَ فِي عِمِّيَّة فِي رَمْيٍ يَكُونُ بَيْنَهُمْ بحجارة او جلد أَوْ بالسِّياط أَوْ ضَرْب بعَصًا فَهُوَ خَطأٌ وَعَقْلُهُ عَقْلُ الْخَطَإِ وَمَنْ قُتِلَ عَمْدًا فَهُوَ قَوَدٌ وَمَنْ حَالَ دُونَهُ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَغَضَبُهُ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ .رواه ابوداؤد والنسائي.

حضرت طاؤس ﷺ د ابن عباس ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي بې دریغه (بې خایه لکه په رندو سترګو په بې فکري)مثلا د کانو په جګړه کي یا د لرګو کي مر سي (او د قاتل درک نه وي نو دا قتل قتل خطا دی)او د دي وینه تویونه د قتل د خطا وینه تویونه ده او څوک چي قصدا وو ژل سي نو دا قتل قصاص واجبوي او څوک چي په قصاص اخیستلو کي خنډ وي نو پر هغه باندي د الله ﷻ لعنت او غضب الهي دی د هغه نه فرض قبلیږي او نه نفل. (ابوداؤد نسائي).

## د دیت اخیستلو وروسته قتل جائز نه دئ

(۳۳۲۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أُعْفِيَ مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخذه الدِّيَةَ .رواه بوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه به هغه سړی عفوه نه کړم (د قصاص اخیستلو څخه ماسوا پرې نه ږدم) چي هغه د خپل مقتول وینه تویول اخیستي وي او وروسته یې مر کړي .(ابوداؤد).

## د زخمي کونکي د معافولو اجر

(۳۳۲۹): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ رَجُلٍ يُصَابُ بِشَيْءٍ فِي جَسَدِه فَيَتَصَدَّقُ بِه إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ بِه دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْهُ بِه خَطِيئَةً . رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي څوک چي زخمي سوي وي او د بدل اخیستلو په ځای هغه کس معاف کړي چا چي دی زخمي کړی دی نو الله ﷻ به د هغه درجه ورلوړه کړي او د هغه ګناه به ورمعاف کړي. (ترمذي ابن ماجه).

# دریم فصل

## په قتل کي شریک ټولو ته سزا

(۳۳۳۰): عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَتَلَ نَفَرًا خَمْسَةً أَوْ سَبْعَةً بِرَجُلٍ وَاحِدٍ

د حضرت سعید بن مسیب ﷺ څخه روایت دی چي حضرت عمر بن خطاب ﷺ د یوه سړي په قتل

قَتَلُوهُ قَتْلَ غِيلَةٍ وَقَالَ عُمَرُ لَوْ تَمَالَأَ عَلَيْهِ أَهْلُ صَنْعَاءَ لَقَتَلْتُهُمْ جَمِيعًا . رواه مالك و روى البخاري عن ابن عمر نحوه.

كي پنځه يا اووه كسان قتل كړى وه دا ټول د هغه كس په قتل كې سره شريكان وه او د قتلولو څخه يې وروسته وويل كه په دې سرې باندې د صنعا ټولو خلكو حمله كړې واى يا د قاتلانو مرسته يې كړې واى نو ما به د صنعا ټول خلك قتل كړي واى. (مالك) په بخاري كې دا حديث د ابن عمر ﷺ څخه نقل كړى دى.

## د قيامت په ورځ به مقتول خپل قاتل نيولى فرياد كوي

(۳۳۳۱): وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ حَدَّثَنِي فُلَانٌ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِقَاتِلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ سَلْ هٰذَا فِيمَ قَتَلَنِي فَيَقُولُ قَتَلْتُهُ عَلَى مُلْكِ فُلَانٍ قَالَ جُنْدَبٌ فَاتَّقِهَا . رواه النسائي .

د حضرت جندب ﷺ څخه روايت دى چې ماته فلانې سړي بيان كړې دى. چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به مقتول خپل قاتل نيولى را ولي او الله ﷺ ته به عرض وكړي دده څخه پوښتنه وسي چې ولې يې زه قتل كړى وم؟ قاتل به ووايي چې دى مې د فلاني باچا په سلطنت كې (د هغه په كومك سره) قتل كړې وو د جندب ﷺ بيان دي چې ته د دې څخه ځان وساته. (نسائي).

## د قاتل مرسته كونكي ته وعيد

(۳۳۳۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَعَانَ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ بِشَطْرِ كَلِمَةٍ لَقِيَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ . رواه ابن ماجة .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې د مؤمن په قتل كې په نيمه كلمه سره كومك وكړي (مثلا د قتل ويلو په ځاى قت ووايي) نو الله ﷺ به د هغه سره په دا سې حال كې ملاقات وكړي چې د دوارو سترګو په مينځ كې به يې ليكلي وي چې دا كس د خداي تعالى د رحمت څخه نا اميده دى. (ابن ماجه).

## د قاتل مرسته كونكى دې بندي كړل سي

(۳۳۳۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَمْسَكَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ وَقَتَلَهُ الْآخَرُ يُقْتَلُ الَّذِي قَتَلَ وَيُحْبَسُ الَّذِي أَمْسَكَ . رواه الدارقطني

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې څوك د يو چا لپاره و نيسي او بل يې قتل كړي نو قاتل دې د هغه په بدل كې قتل سي او كومك كونكي دې بندي كړل سي. (دار قطني).

## بَابُ الدِّيَاتِ (د قتل په بدله کي د تلوان بيان)

## لومړی فصل

### دګوتي پرې کېدو ديت

(۳۳۳۴): عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَذِهِ وَهَذِهِ سَوَاءٌ يَعْنِي الْخِنْصَرَ وَالْإِبْهَامَ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خچي ګوته او بټه ګوته دواړي سره برابري دي (يعني په بدله کي دواړه سره مساوي دي). (بخاري)

### د حاملي ښځي ديت

(۳۳۳۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنِينِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي لَحْيَانَ سَقَطَ مَيِّتًا بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ ثُمَّ إِنَّ الْمَرْأَةَ الَّتِي قَضَى لَهَا بِالْغُرَّةِ تُوُفِّيَتْ فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنَّ مِيرَاثَهَا لِبَنِيهَا وَزَوْجِهَا وَالْعَقْلَ عَلَى عَصَبَتِهَا . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د بني لحيان د يوې ښځي د نس څخه د مړ کوچني په غورځېدو چي په جګړه کي په نس باندي د لګېدو څخه غورځېدلي وو د غلام يا مينځي د «غُره» (د ويني تويوني شلمه برخه ده) په ورکولو باندي حکم وکړ بيا د هغې ښځي په مرګ چي په هغې د «غُره» د ورکولو حکم نبي کريم ﷺ ورکړی وو د ا حکم نبي کريم ﷺ وکړ چي د هغې ميراث د هغې زامنو او خاوند لپاره دی او وينه تويونه د هغې د عصبه (د پلار لخوا خپلوان چي په ميراث کي وارثان وي) وارثانو باندي ده. (بخاري او مسلم).

### په ډېره سره قتل ديت واجبوي

(۳۳۳۶): وَعَنْهُ قَالَ اقْتَتَلَتْ امْرَأَتَانِ مِنْ هُذَيْلٍ فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ فَقَتَلَتْهَا وَمَا فِي بَطْنِهَا فَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ دِيَةَ جَنِينِهَا غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ وَلِيدَةٌ وَقَضَى بِدِيَةِ الْمَرْأَةِ عَلَى عَاقِلَتِهَا وَ وَرَّثَهَا وَلَدَهَا وَمَنْ مَعَهُمْ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي د هذيل د قبيلي دوې ښځي په خپلو کي سره و جنګېدې يوې بلي سره په کانو و ويشتلې چي په هغوئ کي يوه مړه سوه او کوم بچی چي يې په نس کي وو هغه هم مړ سو رسول الله ﷺ په دې معامله کي دا حکم وکړ چي د ښځي د کوچني بدله د غلام يا مينځه «غُره» ده او د ښځي د قتل بدله د دې ښځي پر عاقلو د قوم

باندي ده چاچي دا قتل کړي ده او د دې د ويني تويونه نبي کريم ﷺ د هغې زامن او نور خلك وارثان جوړ کړه چې د زامنو سره يې وه . (بخاري او مسلم) .

(٣٣٣٧): وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ كَانَتَا ضَرَّتَيْنِ فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ أَوْ عَمُودِ فُسْطَاطٍ فَأَلْقَتْ جَنِينَهَا فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِينِ غُرَّةً عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ وَجَعَلَهُ عَلَى عَصَبَةِ الْمَرْأَةِ هذه رواية الترمذي و في رواية مسلم قَالَ ضَرَبَتْ امْرَأَةٌ ضَرَّتَهَا بِعَمُودِ فُسْطَاطٍ وَهِيَ حُبْلَى فَقَتَلَتْهَا قَالَ وَإِحْدَاهُمَا لِحْيَانِيَّةٌ قَالَ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيَةَ الْمَقْتُولَةِ عَلَى عَصَبَةِ الْقَاتِلَةِ وَغُرَّةً لِمَا فِي بَطْنِهَا .

د حضرت مغيره بن شعبه ﷺ څخه روايت دى چې دوو بنو يو د بله په کانو سره وويشتل يا يې د خيمو په لرگيو سره ووهل چې په دې وجه د يوې د نس کوچنى و غورځېدى نو رسول الله ﷺ د کوچني په بدله کې غلام يا مينځه «غره» تجويز کړه او هغه بدله يې د ښځې په وارث باندې واجب کړه (دا د ترمذي روايت وو) او د مسلم په يوه روايت کې دا الفاظ دي مغيره وويل يوې ښځې خپله اميدواره بن د خېمې په لرگي ووهل په هغه سره هغه مړه سوه

او د هغې د نس کوچنى هم مړ سو په هغوئ کي يوه ښځه د بني لحيان د قبيلې څخه وه رسول الله ﷺ د مقتولې وينه تويونه د قاتلې په وارثانو باندې واجب کړه او د کوچني په بدله کي د غلام يا مينځه (غره) يې و ټاکله . (غره) : په اصل کي هغه سپين والي ته ويل کيږي چې د آس په تندي کي وي او اطلاق يې پر مريي او مينځه باندې هم کيږي او پر نورو شيانو باندې هم . (مصحح) .

## دويم فصل

### د خطا قتل او شبه عمد ديت

(٣٣٣٨): عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا إِنَّ دِيَةَ الْخَطَإِ شِبْهِ الْعَمْدِ مَا كَانَ بِالسَّوْطِ وَالْعَصَا مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ مِنْهَا أَرْبَعُونَ فِي بُطُونِهَا أَوْلَادُهَا. رواه النسائي وابن ماجة والدارمي و رواه ابوداؤد عنه وعن ابن عمر و في شرح السنة لفظ المصابيح عن ابن عمر .

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : قتل خطا (چې د قتل عمد مشابه دى) که په چلاخو او لکړه سره واقع سي نو د ويني تويونکي سل اوښان دي چې په هغوئ کي څلوېښت بلاربي اوښې هم وي . (نسائي ابن ماجه دارمي) او د ابو داؤد او ابن عمر څخه هم . دغسي روايت کړې دى

او په شرح السنة کي لفظ مصابيح د ابن عمر ﷺ څخه روايت دى .

## د مختلفو اندامو دیت

(۳۳۳۹): وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى أَهْلِ الْيَمَنِ وَكَانَ فِي كِتَابِهِ أَنَّ مَنِ اعْتَبَطَ مُؤْمِنًا قَتْلًا فَإِنَّهُ قَوَدٌ إِلَّا أَنْ يَرْضَى أَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِ وَ فيه ان الرجل يقتل بالمراة وفيه فِي النَّفْسِ الدِّيَةَ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ وعلى اهل الذهب الف دينار وَفِي الْأَنْفِ إِذَا أُوعِبَ جَدْعُهُ الدِّيَةُ مائة من الابل وَفِي الاسنان الدِّيَةُ وَفِي الشَّفَتَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الْبَيْضَتَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الذَّكَرِ الدِّيَةُ وَفِي الصُّلْبِ الدِّيَةُ وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الرِّجْلِ الْوَاحِدَةِ نصفُ الدِّيَةِ وَفِي الْمَأْمُومَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ وَفِي الْجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ وَفِي الْمُنَقِّلَةِ خَمْسَ عَشْرَةَ مِنَ الْإِبِلِ وَفِي كُلِّ أُصْبُعٍ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ وَالرِّجْلِ عَشْرٌ مِنَ الْإِبِلِ وَفِي السِّنِّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ . رواه النسائي والدارمي و في رواية مالك وَ فِي الْعَيْنِ خَمْسُونَ وَفِي الْيَدِ خَمْسُونَ وَ فِي الرِّجْلِ خَمْسُونَ وَ فِي الْمُوضِحَةِ خَمْسٌ .

حضرت ابوبکر بن محمد بن عمرو بن خرزم د خپل پلاره څخه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ د یمن د اوسېدونکو په نامه یو خط ولیکي په هغه کي دا الفاظ هم وه «څوک چي قصدا یو مسلمان قتل کړي نو دا د هغه د لاسونو د فعل قصاص دی په شرط د دې چي د مقتول وارث په وينه تويونه باندي راضي سي» او په دې خط کي دا الفاظ هم وه چي د ښځي په بدله کي د سړي قتل کیږي او دا هم لیکل سوی وه چي د نفس وینه تویونه (یعني وژل) سل اوښان دي او پر خاوندانو د سرو زرو باندي زر ديناره دي او په پزه کي چي توله پرېکړل سي ديت سل اوښان دي او د تولو غاښونو وينه تويونه پوره وينه تويونه سل اوښان دي او د شونډانو په پرېکولو باندي هم کامله وينه تويونه ده سل اوښان دي، او د خصي کولو کي هم پوره وينه تويونه (ديت) ده او ذکر پوره ديت دی او په پشت (د ملا ماتول) پوره ديت دی. او په سترگو د ړندولو هم پوره ديت دی او په يوه پښه پرېکولو يا ما تولو نيم ديت دی او د سې په پوستکي پرېکولو او زخمي کولو باندي دريم برخه ديت دی او د نس په زخمي کولو باندي دريمه برخه ديت دی او کوم زخم چي د هډوکي د خپل ځای څخه لیري سي مات سي و نو پنځلس اوښان واجبوي او د لاس او پښو د هري گوتي د پرېکولو معاوضه لس اوښان دي او د هر غاښ معاوضه پنځه اوښان دي. او په روايت د مالك کي راغلي دي چي په سترگه کي پنځوس اوښان دي او په لاس کي پنځوس اوښان دي او په يوه پښه کي پنځوس دي او په زخم چي هډوکی ښکاره سي پنځوس اوښان دي. . (نسائي دارمي.

(۳۳۴۰): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَوَاضِحِ خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْاِبِلِ وَالْاَسْنَانِ خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْاِبِلِ . رواه ابوداؤد والنسائي والدارمي و روى الترمذي وابن ماجة الفصل الاول.

حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل نیکه څخه روایت کوي چې د هغه زخم دیت چې په هغه کې هډوکي دباندي راووځي پنځه اوښان دي او د هر یوه غاښ پنځه پنځه اوښان دي .(ابوداؤد نسائي دارمي)او د ترمذي او ابن ماجه یوازي مخکنی جمله روایت کړې ده .

**په دیت کې ګوتي برابري دي**

(۳۳۴۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ سَوَاءً . رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د لاسونو او د پښو ګوتي تولي برابري ګرځولي دي . .(ابوداؤد ترمذي)

(۳۳۴۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْأَصَابِعُ سَوَاءٌ وَالْأَسْنَانُ سَوَاءٌ اَلثَّنِيَّةُ وَالضِّرْسُ سَوَاءٌ هٰذِهٖ وَهٰذِهٖ سَوَاءٌ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تولي ګوتي په دیت کې سره مساوي دي او مخامخ او نور غاښونه برابر دي او کوچنۍ ګوته او بټه ګوته سره برابري دي . (ابوداؤد) .

**د ذمي کافر دیت نیم دی**

(۳۳۴۳): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ خَطَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ ثُمَّ قَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ وَمَا كَانَ مِنْ حِلْفٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّ الْإِسْلَامَ لَا يَزِيْدُهُ إِلَّا شِدَّةً الْمُؤْمِنُوْنَ يَدٌ عَلٰى مَنْ سِوَاهُمْ يُجِيْرُ عَلَيْهِمْ أَدْنَاهُمْ وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ يَرُدُّ سَرَايَاهُمْ عَلٰى قَعِيْدَتِهِمْ لَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ دِيَةُ الْكَافِرِ نِصْفُ دِيَةِ الْمُسْلِمِ لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا يُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِيْ دُوْرِهِمْ . وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ

حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل نیکه څخه روایت کوي چې د مکې د فتحې په کال رسول الله ﷺ خطبه وویل بیا یې د حاضرینو ته وفرمایل: اې خلکو (کوم حلف چې د جاهلیت په زمانه کې وو یعني د یو بل د وارث کېدو په معاهده کې یا نور) په اسلام کې هغه عهد نسته مګر د جاهلیت هغه عهد (چې په هغه کې د مظلوم مدد او د قریبانو سره چلن او د حقوقو د حفاظت معاهدې وې) اسلام هغه په ټینګه سره قائمي ساتلي دي تول

دِيَةُ الْمُعَاهِدِ نِصْفُ دِيَةِ الْحُرِّ. رواه أبو داؤد . | مسلمانان د يوه لاس حکم لري د هغو خلکو

په مقابله کي چي د دوئ څخه پرته يعني د کفارو وغيره يو معمولي مسلمان د ټولو مسلمانانو د لوري پناه ورکولای سي او رد کولای يې سي په هغوئ کي هغه مسلمان چي ډېر له ليري ځاي اوسېدونکي دي او د مسلمانانو لښکري په هغه خلکو کي ناست دي ګرځي هيڅ مسلمان د هيڅ کافر په بدله کي نسي قتلېدای او د کافر د قتل ديت د مسلمان د ديت نيمائي دی د زکوة ځاروی خان ته را غوښتل جائز نه دی او د ځاروی ډېر ليري بېول هم جائز نه دی او د ځارويو زکات دی د هغوئ دکورو ته په ورتلو سره واخيستل سي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د معاهدې ديت د ازاد د ديت نيمائي دی. (ابوداؤد).

**د قتل خطا ديت**

(٣٣٤٤): وَعَنْ خِشْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دِيَةِ الْخَطَإِ عِشْرِيْنَ بِنْتَ مَخَاضٍ وَعِشْرِيْنَ بَنِي مَخَاضٍ ذُكُوْرًا وَعِشْرِيْنَ بِنْتَ لَبُوْنٍ وَعِشْرِيْنَ جَذَعَةً وَعِشْرِيْنَ حِقَّةً. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والصحيح انه موقوف على ابن مسعود و خشف مجهول لا يعرف الا بهذا الحديث و روى في شرح السنة ان النبي صلى الله عليه وسلم ودى قتيل خيبر بمائة من ابل الصدقة و ليس في اسنان ابل الصدقة ابن مخاض انما فيها ابن لبون.

حضرت خشف بن مالك د ابن مسعود ﷺ څخه روايت کوي چي د خطاء د قتل ديت رسول الله ﷺ سل اوښان ټاکلي دي چي په هغو کي شل اوښي دوه کلنی او شل اوښان دوه کلن او شل اوښي دري کلني او شل اوښي پنځه کلني او شل اوښي څلور کلني. (ترمذي ابو داؤد نسائي) او صحيح خبره داده چي دا حديث په ابن مسعود ﷺ باندي موقوف دی او خشف يو داسي نامعلومه راوي دی چي پرته د دي حديث څخه په بل حديث کي تعارف نسته او په شرح السنه کي دا روايت دي چي نبي کريم ﷺ د

هغه سړي ديت چي په خيبر کي په قتل رسېدلي وو سل اوښان د زکوة د اوښانو څخه ورکړل او په هغو اوښانو کي يو کلن اوښ نه وو بلکه دوه کلن اوښان وه.

**د ديت بنياد پر اوښ دی**

(٣٣٤٥): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَتْ قِيمَةُ الدِّيَةِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانَ مِائَةِ دِينَارٍ أَوْ ثَمَانِيَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ وَدِيَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ يَوْمَئِذٍ النِّصْفُ مِنْ

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بيا د خپل نيکه څخه روايت کوي چي د ديت د اوښانو قيمت د رسول الله ﷺ په زمانه کي اته سوه ديناره يا اته زره درهمه وو او د اهل

دِيَةَ الْمُسْلِمِينَ قَالَ فَكَانَ كَذَلِكَ حَتّٰى اسْتُخْلِفَ عُمَرُ فَقَامَ خَطِيبًا. فَقَالَ أَلَا إِنَّ الْإِبِلَ قَدْ غَلَتْ قَالَ فَفَرَضَهَا عُمَرُ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ أَلْفَ دِينَارٍ وَعَلَى أَهْلِ الْوَرِقِ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا وَعَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ وَعَلَى أَهْلِ الْحُلَلِ مِائَتَيْ حُلَّةٍ قَالَ وَتَرَكَ دِيَةَ أَهْلِ الذِّمَّةِ لَمْ يَرْفَعْهَا فِيمَا رَفَعَ مِنَ الدِّيَةِ .رواه ابوداؤد .

کتابو دیت په هغه زمانه کي د مسلمانانو د دیت نیماني وو د عمرو بن شعیب ﷺ د نیکه بیان دی چي د حضرت عمر ﷺ تر خلیفه کېدو پوري په دي عمل کیدی حضرت عمر په خلیفه کېدو سره وفرمایل: د اوښ قیمت گران سوی دی د راوي بیان دی چي حضرت عمر ﷺ د خلافت په زمانه کي په سره زر اینبودونکو باندي دیت زر دیناره مقرر کړل او په غني سپینو زرو په خاوندو باندي دولس زره درهمه او په غوایانو والا ؤ باندي یې دوه سوه غوایان او په پسو والاؤ باندي یې دوه زره پسونه او په جامو والا ؤ باندي یې دوه سوه جوړي اینبي وي . د راوي بیان دی چي حضرت عمر ﷺ د ذمیانو دیت هغه مقرر کړ کوم چي نبي کریم ﷺ ټاکلی وو . (ابوداؤد) .

## د امام شافعي رحمه الله مستدل حدیث

(۳۳۴۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ جَعَلَ الدِّيَةَ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ دولس زره درهمه دیت مقرر کړی وو . (ترمذي ابوداؤد نسائي دارمي)

## دیت د مقتول د وارثانو حق دی

(۳۳۴۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَوِّمُ دِيَةَ الْخَطَإِ عَلَى أَهْلِ الْقُرَى أَرْبَعَ مِائَةِ دِينَارٍ أَوْ عَدْلَهَا مِنَ الْوَرِقِ وَيُقَوِّمُهَا عَلَى أَثْمَانِ الْإِبِلِ فَإِذَا غَلَتْ رَفَعَ فِي قِيمَتِهَا وَإِذَا هَاجَتْ رُخْصًا نَقَصَ مِنْ قِيمَتِهَا وَبَلَغَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ أَرْبَعِ مِائَةِ دِينَارٍ إِلَى ثَمَانِ مِائَةِ دِينَارٍ وَعَدْلُهَا مِنَ الْوَرِقِ ثَمَانِيَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ قَالَ وَقَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ وَعَلَى أَهْلِ

حضرت عمرو بن شعیب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل نیکه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ به د قتل خطا دیت په اخستونکو څلور سوه دیناره یا د دي مساوي قیمت سپین زر مقررول هدا دیت به د اوښانو د قیمت موافق مقرر کېدی بیا چي د اوښانو قیمت به زیات سو نو د دیت قیمت به هم اضافه سو او چي د اوښانو قیمت به کم سو نو د دیت قیمت به هم کم سو او د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د دیت رقم د څلور سوه دینارو څخه بیا تر اتو سوو دینارو پوري رسېدلی وو او د دي سره مساوي د سپینو زرو رقم تر اتو

الشَّاۃ أَلْفَيْ شَاۃٍ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَقْلَ مِیرَاثٌ بَیْنَ وَرَثَةِ الْقَتِیلِ وَقَضَی رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَقَضَی رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَقْلَ الْمَرْأَۃِ بَیْنَ عَصَبَتِهَا وَلَا یَرِثُ الْقَاتِلُ شَیْئًا . رواہ ابوداؤد والنسائي .

زرو پوري د راوي بیان دی چي رسول الله ﷺ په غواؤ والاؤ باندي دوه سوه غواوي او په پسو والاؤ باندي دوه زره پسونه مقرر کړی وه رسول الله ﷺ وفرمایل: دیت د مقتول دوارثانو میراث دی او رسول الله ﷺ حکم وفرمایي چي دیت دي د هغه عصبه تر مینځ تقسیم کړل سي او قاتل د هیڅ شی وارث نه دی (یعني د مقتول د مال څخه) (ابوداؤد نسائي) .

**په قتل شبه عمد کي د مرګ سزا نه سي ورکول کیدای**

(۳۳۴۸): وَعَنْهُ عَنْ أَبِیهِ عَنْ جَدِّہِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَقْلُ شِبْهِ الْعَمْدِ مُغَلَّظٌ مِثْلُ عَقْلِ الْعَمْدِ وَلَا یُقْتَلُ صَاحِبُهُ . رواہ ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شعیب ؓ د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل نیکه څخه روایت کوي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: د قتل شبه عمد دیت تر قتل عمد سخت دی مګر د شبه عمد قاتل قتلولای نسي. (ابوداؤد)

**د ړوند سوي سترګي دیت**

(۳۳۴۹): وَعَنْهُ عَنْ أَبِیهِ عَنْ جَدِّہِ قَالَ قَضَی رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَیْنِ الْقَائِمَةِ السَّادَّۃِ لِمَکَانِهَا بِثُلُثِ الدِّیَةِ . رواہ ابوداؤد والنسائي .

حضرت عمرو بن شعیب ؓ د خپل پلاره څخه او هغه بیا د خپل نیکه څخه روایت کوي چي د کومي سترګي رڼا د چا د وهلو په وجه ضائع سي او هغه سترګه په خپل خاي باندي قائمه وي نو د هغې دیت رسول الله ﷺ یوه پر دریمه برخه مقرر کړی دی. (ابوداؤد نسائي).

**د نس د کوچني دیت**

(۳۳۵۰): وَعَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَیْرَۃَ قَالَ قَضَی رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِینِ بِغُرَّۃٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ أَوْ فَرَسٍ أَوْ بَغْلٍ . رواہ ابوداؤد وقال روی هذا الحدیث حماد بن سلمة وخالد الواسطي عن محمد بن عمرو ولم یذکر او فرس او بغل . رواہ ابوداؤد والنسائي .

حضرت محمد بن عمرو ؓ د ابو سلمه ؓ څخه او هغه بیا د حضرت ابوهریره ؓ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ د نس د کوچني په بدله کي مینځه یا غلام یا اس یا قچره یې مقرر کړې ده . (د غړه څخه مراد بهترینه مینځه غلام یا آس یا قچره ده). (ابوداؤد)، دا حدیث د حماد بن سلمه او خالد واسطي د محمد بن عمر څخه روایت کړی دی. (ابوداؤد نسائي).

**که ناپوه ډاکتر د مرګ سبب سي نو هغه به ضامن وي**

(۳۳۵۱): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَطَبَّبَ وَلَا يُعْلَمُ مِنْهُ طِبٌّ فَهُوَ ضَامِنٌ. رواه ابوداؤد والنسائي.

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلاره څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي خپل ځان طبيب (ډاکټر) ښائي او د هغه طبيب کېدل معلوم نه وي نو هغه د طيب په فن کي مهارت نه لري (د هغه د لاسه چي چاته تاوان ورسيږي) نو هغه به (د دې نقصان) ضامن وي. (ابوداؤد نسائي).

**د ديت د معافولو يو واقعه**

(۳۳۵۲): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ غُلَامًا لِأُنَاسٍ فُقَرَاءَ قَطَعَ أُذُنَ غُلَامٍ لِأُنَاسٍ أَغْنِيَاءَ فَأَتَى أَهْلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا إِنَّا أُنَاسٌ فُقَرَاءُ فَلَمْ يَجْعَلْ عَلَيْهِ شَيْئًا. رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی د مسکينو او غريبو خلکو يو هلك د غني خلکو د يوه هلك غوږ پرېکړ د مفسلو خلکو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ مونږ خو) يوه غريبه ډله يو نبي کريم ﷺ هغوئ معاف کړه او په هغوئ يې هيڅ مقرر نه کړه. (ابوداؤد نسائي).

## دريم فصل

**د قتل شبه عمد او قتل خطا ديت**

(۳۳۵۳): عَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ قَالَ دِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ أَثْلَاثٌ ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ ثَنِيَّةً إِلَى بَازِلِ عَامِهَا كُلُّهَا خَلِفَاتٌ وفي رواية قال في الْخَطَإِ أَرْبَاعًا خَمْسٌ وَعِشْرُونَ حِقَّةً وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ جَذَعَةً وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی د قتل شبه عمد ديت دري ډوله اوښان دي دروديرش اوښي چي څلورم کال يې پيل سوی وی او د دروديرشو اوښو چي پنځم کال يې پيل سوی وي او څلور ديرش اوښي چي شپږم کال يې پيل سوی وي د اتو کلو پوري چي نهم کال يې پيل سوی وي او دا ټولي به بلار بي وي په يوه بل روايت کي داسي دي چي د قتل خطا څلور ډوله اوښان دي پنځه ويشت دري کلني پنځه ويشت څلور کلني پنځه ويشت دوه کلني او پنځه ويشت يو کلني او دا به ټولي اوښي وي. (ابوداؤد).

(۳۳۵۴): وَعَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَضَى عُمَرُ فِي

د حضرت مجاهد ﷺ څخه روايت دی چي حضرت

شِبْهِ الْعَمْدِ ثَلَاثِينَ حِقَّةً وَثَلَاثِينَ جَذَعَةً وَأَرْبَعِينَ خَلِفَةً مَا بَيْنَ ثَنِيَّةٍ إِلَى بَازِلِ عَامِهَا . رواه ابوداؤد .

عمر ﷺ د شبه عمد په قتل کي دېرش اوښې درې کلنۍ او دېرش اوښې څلور کلنۍ او څلوېښت اوښې به بلاربې پوره پنځه کلنۍ یا پوره د اتو کلو مقرري کړی وی .(ابوداؤد)

د نس د کوچني دیت

(۳۳۵۵): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي الْجَنِينِ يُقْتَلُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ وَلِيدَةٍ فَقَالَ الَّذِي قُضِيَ عَلَيْهِ كَيْفَ أَغْرَمُ مَا لَا شَرِبَ وَلَا أَكَلَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ وَمِثْلُ ذَلِكَ بَطَلَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هَذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ . رواه مالك والنسائي مرسلا ورواه ابوداؤد عنه عن ابي هريرة متصلا.

د حضرت سعید بن مسیب ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د حاملې ښځي د کوچني د دیت چي د هغې په نس کي وي غلام یا مینځه مقرره کړې ده. پر کوم سړي چي دا تاوان مقرر سوی وو هغه عرض وکړ چي د هغې د کوچني تاوان څنګه ادا کړم چي هغه نه شی خوړلی او نه یې چښلی وو ؟ نه یې خبره کړې ده او نه یې اواز ایستلی دی او د دې دول قتل خو ساقط کیږي (یعني په دې باندي هیڅ تاوان نسته) رسول الله ﷺ وفرمایل: د دې څخه پرته زه څه ووایم چي دا سړی خو د کاهنانو ورور دی .(مالك نسائي مرسلا ابو داؤد د ا حدیث د ابو هریره ﷺ څخه متصلا روایت کړی دی ) .

# بَابُ مَا لاَ يُضْمَنُ مِنَ الْجَنَايَات

## ( د کومو شیانو تاوان چي واجب نه وي د هغو بیان )

## لومړی فصل

د حیوان وهلو، په کان کي ښخېدلو او په څاه کي لوېدلو تاوان نه سته

(۳۳۵۶): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَجْمَاءُ جُرْحُهَا جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ وَالْبِئْرُ جُبَارٌ . متفق عليه .

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د حیوانانو زخمي کول (یعني چي یو حیوان پر بل حیوان یا انسان باندي حمله وکړي) معاف دي د کان زخمي کېدل معاف دي او په څاه کي د لویدو څخه مړکیدل او یا په څاه کي د کښېنستلو هلاك کېدل معاف دي .مطلب دا چي یو سړی په خپله مځکه کي څاه وکاږي او بل څوك پکښې ولوېږي نو د څاه پر مالك تاوان نسته . (بخاري او مسلم) .

**په مدافعت کې تاوان نه سته**

(۳۳۵۷): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ وَكَانَ لِي أَجِيرٌ فَقَاتَلَ إِنْسَانًا فَعَضَّ أَحَدُهُمَا يَدَ الْآخَرِ فَانْتَزَعَ الْمَعْضُوْضُ يَدَهُ مِنْ فِيِّ الْعَاضِّ فَانْدَرَ ثَنِيَّتَهُ فَسَقَطَتْ فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهْدَرَ ثَنِيَّتَهُ وَقَالَ أَيَدَعُ يَدَهُ فِي فِيكَ تَقْضَمُهَا كَالْفَحْلِ . متفق عليه.

د حضرت يعلي بن اميه ﷺ څخه روايت دی چي جيش عسره (د تبوك په غزا کې) زه د رسول الله ﷺ سره و جګړې ته ولاړم زما يو نوکر وو هغه د يوه سړي سره جګړه وکړه او دواړو د يو بل لاس و چيچل په هغوئ کې چي يوه د بل د خولې څخه خپل لاس را کش کړ نو د هغه غاښ وغورځېدی بيا نبي کريم ﷺ ته راغی چي د هغې معاوضه ځيني واخلي نبي کريم ﷺ د هغه غاښ ساقط کړی ا ورته وه يې فرمايل : ايا هغه خپل لاس ستا په خوله کې پرېښي وو ؟ چي تا د اوښ په شان هغه چيچلي وو . (بخاري او مسلم).

**د خپل مال ساتونکی که مړ سي نو شهيد دئ**

(۳۳۵۸): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِه فَهُوَ شَهِيدٌ . متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي څوک چي د خپل مال په حفاظت کې قتل سي هغه شهيد دی . (بخاري او مسلم)

(۳۳۵۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي قَالَ فَلَا تُعْطِه مَالَكَ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي قَالَ قَاتِلْهُ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي قَالَ فَأَنْتَ شَهِيدٌ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ قَالَ هُوَ فِي النَّارِ . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي يوه سړي عرض وکړ يا رسول الله ﷺ که يو څوک زما مال په غلا سره (يا په زور سره) واخلي نو زه څه وکړم ؟ هغه ته مال پرېږدم او که څه ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : چي خپل مال و هغه ته مه پرېږده (مه ورکوه) هغه عرض وکړ که هغه زما سره جګړه کوله ؟ (نو بيا زه څه وکړم؟) نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ته هم ورسره جګړه وکړه عرض يې وکړ که چيري هغه ما قتل کړي ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ته شهيد يې عرض يې وکړ که زه هغه قتل کړم ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : نو هغه به په دوزخ کې دا خليږي (او پر تا باندي هيڅ ګناه نسته). (مسلم).

**کور ته ننوتونکی زخمي کول معاف دي**

(۳۳۶۰): وَعَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي ما د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَوْ اطَّلَعَ فِي بَيْتِكَ أَحَدٌ وَلَمْ تَأْذَنْ لَهُ خَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ فَفَقَأْتَ عَيْنَهُ مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ . متفق عليه.

رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي، که چیري یوه سړي چي تا اجازه نه وي ورکړې ستا په کور کي داخل سي او ته یې په یوه لرګي ووهې او د هغه څخه یې سترګه وچاؤ دي نو پر تا باندي هیڅ ګناه نسته . (بخاري او مسلم)

(٣٣٦١): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ اَنَّ رَجُلاً اطَّلَعَ فِيْ جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و مع رسول الله صلى الله عليه وسلم مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ فَقَالَ لَوْ اَعْلَمُ اَنَّكَ تَنْظُرُنِيْ لَطَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنِكَ اِنَّمَا جُعِلَ الاِسْتِئْذَانُ مِنْ اَجْلِ الْبَصَرِ . متفق عليه.

د حضرت سهل بن سعد ؓ څخه روایت دی چي یوه سړي د رسول الله ﷺ د دروازې په سوري کي وکتل د رسول الله ﷺ په لاس کي هغه وخت د شا د ګرولو یوه اله وه چي په هغه سره یې سر مبارک ګروی نبي کریم ﷺ وفرمایل: که ما ته معلومه وای چي ته قصدا ما ته ګوري نو ما به په دې آلې باندي ستا په سترګو ګزار کړی وای د اجازت اخیستلو حکم خو د سترګو لپاره دی (چي هغه چیري پر غیر محرمي باندي ونه لګیږي). (بخاي او مسلم).

## ډبري غورځول منع دي

(٣٣٦٢): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ اَنَّهُ رَاٰى رَجُلاً يَخْذِفُ فَقَالَ لاَ تَخْذِفْ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْخَذْفِ وَقَالَ اِنَّهُ لاَ يُصَادُ بِهِ صَيْدٌ وَ لَا يَنْكَأُ بِهِ الْعَدُوَّ وَلٰكِنَّهَا قَدْ تَكْسِرُ السِّنَّ وَتَفْقَأُ الْعَيْنَ. متفق عليه .

د حضرت عبد الله بن مغفل ؓ څخه روایت دی چي هغه یو سړی ولید چي ډبري یې ویشتلې هغه ورته وویل چي ډبري مه غورځوه څکه چي رسول الله ﷺ د ډبرو ویشتلو څخه منعه کړې ده او ارشاد یې فرمایلی دی چي په داسي ډبرو ویشتلو باندي نه خو ښکار کولای سي او نه دښمن زخمي کولای سي بلکه په داسي ویشتلو باندي غاښ ماتیږي او سترګه چووي . (بخاري او مسلم)

## په ټولنه او بازار کي اسلحه په احتیاط سره ساتئ

(٣٣٦٣): وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا مَرَّ اَحَدُكُمْ فِيْ مَسْجِدِنَا اَوْ فِيْ سُوْقِنَا وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ عَلٰى نِصَالِهَا اَنْ يُصِيْبَ اَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْهَا شَيْءٌ .متفق عليه.

د حضرت ابو موسی ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چي څوک زموږ و مسجدو ته راځي او په بازارو کي تیریږي او د هغه سره غشي وي نو توبري د غشو

دي ونیسي د دې لپاره چې یوه مسلمان ته ضرر و نه رسیږي. (بخاري او مسلم).

**په وسلې سره اشاره منع ده**

(۳۳۶۴): وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یُشِیرُ اَحَدُکُمْ عَلَی اَخِیهِ بِالسِّلَاحِ فَإِنَّهُ لَا یَدْرِي لَعَلَّ الشَّیْطَانَ یَنْزِعُ فِي یَدِهِ فَیَقَعُ فِي حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ. متفق علیه.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کې دې یو څوك د یوه مسلمان وررور ولور ته په اسلحه باندې اشاره نه کوي څکه چې هغه ته نه ده معلومه شاید شیطان د هغه د لاس څخه اسلحه را وکاږي او په هغه بل باندې ولګیږي او بیا هغه د هغه په سبب د دوږخ و کندې ته ولویږي. (بخاري او مسلم).

(۳۳۶۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَشَارَ اِلٰی اَخِیْهِ بِحَدِیْدَةٍ فَاِنَّ الْمَلَائِکَةَ تَلْعَنُهٗ حَتّٰی یَضَعَهَا وَاِنْ کَانَ اَخَاهُ لِاَبِیْهِ وَاُمِّهٖ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې د یوه مسلمان وررور ولور ته په اوسپنه سره اشاره وکړي نو ملائکې پر هغه لعنت وایي تر هغه وخته پورې چې هغه اوسپنه نه وي ایښې اګر که هغه اشاره کونکي د هغه حقیقي وررور وي. (بخاري).

(۳۳۶۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَاَبِیْ هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَیْنَا السِّلَاحَ فَلَیْسَ مِنَّا. رواه البخاري و زاد مسلم وَ مَنْ غَشَّنَا فَلَیْسَ مِنَّا.

د حضرت ابن عمر ﷺ او حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې پر موږ باندې اسلحه پورته کړي (که د مقابلې لپاره وي او که د مسخرو لپاره) هغه زموږ څخه نه دی. (بخاري) او د مسلم په روایت کې دا الفاظ زیات دي څوك چې موږ ته فریب راکوي هغه زموږ څخه نه دی.

(۳۳۶۷): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَکْوَعِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَلَّ عَلَیْنَا السَّیْفَ فَلَیْسَ مِنَّا. رواه مسلم.

د حضرت سلمه بن اکوع ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې پر موږ توره را وکاږي هغه زموږ څخه نه دی. (مسلم)

**په دنیا کې یو چا ته سخت عذاب ورکونکی به په اخرت کې خپله په عذاب کې وي**

(۳۳۶۸): وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِیهِ اَنَّ هِشَامَ بْنَ حَکِیمٍ مَرَّ بِالشَّامِ عَلٰی اُنَاسٍ مِنَ الْاَنْبَاطِ وَقَدْ اُقِیمُوا

حضرت هشام بن عروه ﷺ د خپل پلاره څخه روایت کوي چې هشام بن حکیم په شام کې د ېر نبطیان ولیدل چې هغوي و لمر ته درول

فِي الشَّمْسِ وَصُبَّ عَلَى رُءُوسِهِمْ الزَّيْتُ فَقَالَ مَا هَذَا قِيلَ يُعَذَّبُونَ فِي الْخَرَاجِ فَقَالَ هشام اشهد لسمعت رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ الناس فِي الدُّنْيَا . رواه مسلم .

سوي وه او پر سرونو يې تېل (زيتون) اچول سوي وه هشام بن حكيم ؓ ورڅخه پوښتنه وكړه چي دا څه دي ؟ نو ورته يې وويل د محصول يا خراج د نه ادا كولو په وجه دا سزا

وركول كيږي هشام وويل زه شاهدي ادا كوم ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي الله ﷻ به هغه خلكو ته سخته سزا وركړي كوم چي په دنيا كي و خلكو ته عذاب وركوي. (مسلم)

**د ظلم كونكي پای**

(٣٣٦٩): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ إِنْ طَالَتْ بِكَ مُدَّةٌ أَنْ تَرَى قَوْمًا فِي أَيْدِيهِمْ مِثْلُ أَذْنَابِ الْبَقَرِ يَغْدُونَ فِي غَضَبِ اللّٰهِ وَيَرُوحُونَ فِي سَخَطِ اللّٰهِ . وفي رواية في لعنة الله .رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه ستا عمر زيات سو نو ژر به يوه تولي ووينې چي د هغوئ په لاس كي د غوايانو د لكۍ په شان يو شی وي (يعني چلاخي) هغوئ به په هغو چلاخو باندي خلك بيروي

او وهي به يې او د ظالمانو به دربانې كوي دا خلك به د الله ﷻ په غضب كي سهار كوي او د خداي تعالى په غصه كي به مابنام كوي (يعني سهار او مابنام به د خداي تعالى لعنت ور باندي وي) او په يوه بل روايت كي دا الفاظ دي چي دا خلك به د خداي تعالى په لعنت كي وي. (مسلم) .

**د ناروا فيشن كونكو ښځو لپاره وعيد**

(٣٣٧٠): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَتُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوزخيان دوه ډوله دي چي هغوئ ته زه نه گورم يو خو هغه خلك دي چي د هغوئ سره د غوايانو د لكۍ په شان چلاخ وي چي په هغه سره خلك وهي او بل هغه ښځه چي په ظاهره يې كالي اغوستي وي مگر په حقيقت كي ښكاريږي (يعني ډيري

نازكي جامې يې اغوستي وي)او د خلكو په زړونو كي خواهش پيدا كونكي ښځي او د نارينه ؤ و لور ته خواهش لرونكي ښځي(يعني ډيري په فيشن سره اوسېدونكي ښځي) د هغوئ سر (يعني د سر وربښتان به يې داسي پورته وي لكه د نجدي اوښ بوك)داسي ښځي به نه جنت ته ځي نه به د هغه بوي ويني حال دا چي بوی د جنت د ډېر ليري څخه پيدا كيږي او د جنت بوی به ور څخه دومره

دومره ليري وي (تر ډېره مسافته پوري). (مسلم).

**خوک پر مخ باندي مه وهئ**

(۳۳۷۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبْ الْوَجْهَ فَإِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُوْرَتِهِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تا سو کي يو څوک و هل کوي نو په مخ دي يې نه وهي ځکه چي الله ﷺ انسان په خپل شکل و صورت پيدا کړي دی. (بخاري او مسلم).

## دويم فصل

**پردي کور ته ننوتل او کتل**

(۳۳۷۲): عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَشَفَ سِتْرًا فَأَدْخَلَ بَصَرَهُ فِي الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يُؤْذَنَ لَهُ فَرَأَى عَوْرَةَ أَهْلِهِ فَقَدْ أَتَى حَدًّا لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ لَوْ أَنَّهُ حِيْنَ أَدْخَلَ بَصَرَهُ اسْتَقْبَلَهُ رَجُلٌ فَفَقَأَ عَيْنَيْهِ مَا عَيَّرْتُ عَلَيْهِ وَإِنْ مَرَّ الرَّجُلُ عَلَى بَابٍ لَا سِتْرَ لَهُ غَيْرِ مُغْلَقٍ فَنَظَرَ فَلَا خَطِيْئَةَ عَلَيْهِ إِنَّمَا الْخَطِيْئَةُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو څوک چي مخکي تر دې چي هغه ته د پردې د پورته کولو يا وکور ته د راتلو اجازه ورکړل سي د کور پرده پورته کړي او د هغه کور ښځي ويني نو هغه پر خپل ځان باندي شرعي حد واجب کړ د هغه دغسي راتلل او کتل روا نه دي او که هغه په کور کي په کتلو سره وکتل او د کور سړی د هغه و مخته راغی او هغه سړي يې پر سترګه وواهه او روند يې کړی نو زه به سزا نه ورکوم او که يو څوک د يو چا د دروازې و مخ ته تيرېږي چي پر هغه باندي پرده نه وي او د هغه نظر د کور په وګړو باندي ولګيږي نو په هغه باندي هيڅ ګناه نسته قصور د کوروالاؤ دی. (ترمذي دا حديث غريب ګڼلي دی).

**بله تيکي توره ګرځول منع دي**

(۳۳۷۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَعَاطَى السَّيْفُ مَسْلُوْلًا . رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي توره د تيکي څخه را کښل او بل چاته ورکول رسول الله ﷺ د دې څخه منعه کړېده. (ترمذي ابوداؤد)

**د تسمې په دوو ګوتو نيول**

(۳۳۷۴): وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ

حضرت حسن ﷺ د سمره ﷺ څخه روايت کوي چي

| | |
|---|---|
| أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُقَدَّ السَّيْرُ بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ . رواه ابوداؤد . | رسول الله ﷺ د تسمې په دوو گوتو کي نيولو سره د څيرلو څخه منع فرمايلې ده (ځکه چي کيداى سي په دې سره گوتو ته تاوان ورسيږي) . ابوداؤد ، |

**د خپل دين، ځان ، مال او اولاد ساتونکي شهيد دى**

| | |
|---|---|
| ﴿٣٣٧٥﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي . | د حضرت سعيد بن زيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي ددين په ساتنه کي ووژل سي شهيد دئ ، او څوك چي د خپل ځان په ساتنه کي ووژل سي هغه هم شهيد دئ او څوك چي د خپل مال په ساتنه کي ووژل سي |

هغه هم شهيد دئ او څوك چي د خپل کورنۍ په ساتنه کي ووژل سي هغه هم شهيد دئ . ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

**پر مسلمان د توره راکښونکي وعيد**

| | |
|---|---|
| ﴿٣٣٧٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجَهَنَّمَ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ بَابٌ مِنْهَا لِمَنْ سَلَّ السَّيْفَ عَلَى أُمَّتِي أَوْ قَالَ عَلَى أُمَّةِ مُحَمَّدٍ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و حديث ابي هريرة الرجل جبار ذكر في باب الغضب. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوږخ اووه دروازې دي په هغو کي يوه دروازه هغه ده چي په هغه کي به هغه څوك داخليږي چي زما پر امت توره راوکاږي (يا رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل |

څوك چي د محمد ﷺ پر امت توره راوکاږي) . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ ، د ابوهريرة حديث (الرجل جبار) په باب الغضب کي بيان سوى دى .

# بَابُ الْقَسَامَةِ (د قسم اخیستلو بیان)

## لومړی فصل

**په قسامت کي د مدعی څخه قسم واخیستل سي که د مدعی علیه څخه**

(۳۳۷۷): عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ وَّ سَهْلِ بْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ اَنَّهُمَا حَدَّثَا اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُوْدٍ اَتَيَا خَيْبَرَ فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ فَقُتِلَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَهْلٍ فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ سَهْلٍ وَحُوَيِّصَةُ وَمُحَيِّصَةُ ابْنَا مَسْعُوْدٍ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَكَلَّمُوْا فِي اَمْرِ صَاحِبِهِمْ فَبَدَأَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَكَانَ اَصْغَرَ الْقَوْمِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبِّرِ الْكُبْرَ قَالَ يَحْيَى بن سعيد يَعْنِي لِيَلِيَ الْكَلَامَ الْاَكْبَرُ فَتَكَلَّمُوْا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَسْتَحِقُّوْنَ قَتِيْلَكُمْ اَوْ قَالَ صَاحِبَكُمْ بِاَيْمَانِ خَمْسِيْنَ مِنْكُمْ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَمْرٌ لَمْ نَرَهُ قَالَ فَتُبْرِئُكُمْ يَهُوْدُ فِيْ اَيْمَانِ خَمْسِيْنَ مِنْهُمْ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَوْمٌ كُفَّارٌ ففداهم رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِهِ وفي رواية تَحْلِفُوْنَ خَمْسِيْنَ يَمِيْنًا وَتَسْتَحِقُّوْنَ قاتلكم او صَاحِبَكُمْ فَوَدَاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ بِمِائَةِ نَاقَةٍ . متفق عليه. وهذا الباب خال عن الفصل الثاني .

د حضرت رافع بن خدیج او سهل بن ابي حثمه څخه روایت دئ چي عبدالله بن سهل او محیصه ابن مسعود خیبر ته راغلل او دواړه د خرماوو په درختو کي د یو بل څخه بیل سول ، عبدالله بن سهل یو چا ووژئ ، د سهل زوی عبدالرحمن او د ابن مسعود زامن حویصه او محیصه د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او د مقتول په اړه یې خبري پیل کړې تر ټولو وړاندي عبدالرحمن خبري پیل کړې چي تر ټولو کوچنی وو ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل د مشر د مشری خیال وساته (یعني لومړی مشر ته د خبرو کولو موقع ورکړه) ددې حدیث یو راوي یحیی بن سعید وایي د رسول الله ﷺ مراد ددې څخه دا وو چي په تاسو کي دي مشر خبري وکړي ، نو هغوئ خبري اتري وکړې ، نبي کریم ﷺ دا وفرمایل : تاسو به د خپل مقتول یا د خپل ملګری د خون بها هغه وخت وړ سئ هر کله چي په تاسو کي پنځوس کسان قسم وکړي هغوئ عرض وکړ اې د الله رسوله ! موږ ته ددې پېښې هیڅ علم نسته ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل نو پنځوس یهودیان به قسم اخلي ، نو هغوئ به ستاسو د دعوې څخه خلاص سي ، هغوئ عرض وکړ اې دالله رسوله ! هغوئ خو کافران دي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د خپل لورې هغوئ ته خون بها ورکړه او په یوه روایت کي د االفاظ دي چي

نبي کريم ﷺ دا وفرمايل تاسو پنځوس قسمونه واخلئ او د خپل مقتول د تاوان په بيا مستحق سئ ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د خپل لوري سل اوښي په ديت کي ورکړې . بخاري او مسلم

**په دې باب کي دويم فصل نشته**

## دريم فصل

**د قسم پيل د مدعي عليه څخه کېدل بکار دي**

(۳۳۷۸): عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ أَصْبَحَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مَقْتُولًا بِخَيْبَرَ فَانْطَلَقَ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ لَكُمْ شَاهِدَانِ يَشْهَدَانِ عَلَى قَاتِلِ صَاحِبِكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ يَكُنْ ثَمَّ أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَإِنَّمَا هُمْ يَهُودُ وَقَدْ يَجْتَرِئُونَ عَلَى أَعْظَمَ مِنْ هَذَا قَالَ فَاخْتَارُوا مِنْهُمْ خَمْسِينَ فَاسْتَحْلِفُوهُمْ فَأَبَوْا فَوَدَاهُ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت رافع بن خديج ﷺ څخه روايت دئ چي د انصارو يو سړی په خيبر کي ووژل سو د هغه وارثان د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول او پېښه يې بيان کړه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا ستاسو دوه شاهدان سته چي ستاسو د مقتول په اړه شاهدي ورکړي ، هغوئ عرض وکړ اې د الله رسوله ! هلته هيڅ مسلمان موجود نه وو پاته سول يهود نو هغوئ ددې څخه پر زيات جرئت لري ، رسول الله ﷺ وفرمايل پنځه تاسو په يهوديانو کي پنځوس کسه وټاکئ او د هغوئ څخه قسم واخلئ ، هغوئ ددې څخه انکار وکړ نو رسول الله ﷺ د مقتول ديت د خپل لوري ورکړ . ابوداؤد .

# بَابُ قَتْلِ اَهْلِ الرِّدَّةِ وَالسُّعَاةِ بِالْفَسَادِ

## (د مرتد او فاسدو خلکو دوژلو بيان)

## لومړی فصل

**د مرتد سزا قتل دی**

(۳۳۷۹): عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ أُتِيَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِزَنَادِقَةٍ فَأَحْرَقَهُمْ فَبَلَغَ ذَلِكَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَوْ كُنْتُ أَنَا لَمْ أُحْرِقْهُمْ لِنَهْيِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللَّهِ وَلَقَتَلْتُهُمْ لِقَوْلِ

د حضرت عکرمة ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت علي ﷺ ته يو څو زنديقان (مجوسيان، آتش پرست او نور ملحد او مرتد) راوستل سول نو هغه په اور کي وسوځول، دا خبره چي ابن عباس ﷺ ته ورسيدل نو هغه وويل : که زه واې نو

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ . رواه البخاري .

هغوئ به مي په اور کي نه واى سوځلي ځکه چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي تاسو داسي عذاب مه ورکوئ کوم چي د الله تعالى سره مخصوص وي ما به هغوئ قتل کړي واى ځرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي څوك خپل اسلام مذهب بدل کړي نو هغه قتل کړئ . بخاري.

**چا ته د اور سوځلو سزا مه ورکوئ**

(۳۳۸۰): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا إِلَّا اللّٰهُ . رواه البخاري

د حضرت عبد الله ابن عباس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اور عذاب يوازي د الله تعالى سره خاص دئ (د بل چا لپاره د اور عذاب ورکول جائز نه دي) بخاري.

**د خوارجو نښاني**

(۳۳۸۱): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَيَخْرُجُ قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ أَحْدَاثُ الْأَسْنَانِ سُفَهَاءُ الْأَحْلَامِ يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ قَوْلِ الْبَرِيَّةِ لَا يُجَاوِزُ إِيمَانُهُمْ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ فَأَيْنَمَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ فَإِنَّ فِي قَتْلِهِمْ أَجْرًا لِمَنْ قَتَلَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . متفق عليه.

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : دير ژر به آخره زمانه کي به داسي يو قوم پيدا سي چي د نوعمر او کم عقل کېدو سربيره به د غوره خلکو په دول خبري کوي د هغوئ ايمان به د هغوئ د حلق څخه وراندي نه ځي د مذهب څخه به هغوئ داسي وزي ځرنګه چي د لينديٰ څخه غشي وځي، په تاسو کي چي څوك د هغه قوم سره يو ځاى سئ هغه دي قتل کړي د دې په قتلولو کي به هغه سړي ته د قيامت په ورځ ثواب ورکول کيږي څوك چي هغه قتل کړي . بخاري او مسلم.

**د خوارج په اره د رسول الله ﷺ پيشګوئي**

(۳۳۸۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكُونُ أُمَّتِي فِرْقَتَانِ فَتَخْرُجُ مِنْ بَيْنِهِمَا مَارِقَةٌ يَلِي قَتْلَهُمْ أَوْلَاهُمْ بِالْحَقِّ . رواه مسلم .

د حضرت ابو سعيد خدري ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت به دوې دلي سي د هغو دوارو دلو په منځ کي به يوه بله دله راووزي د هغو په قتل به هغه سړى واك تر لاسه کوي کوم چي په هغه دلو کي حق ته زيات نژدې وي . مسلم .

**د مسلمان قتل کفر ته نژدې دی**

(۳۳۸۳): وَعَنْ جَرِيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ لَا تَرْجِعُنَّ بَعْدِيْ كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ . متفق علیه.

د حضرت جریر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع کي وفرمایل: زما وروسته مه کافران کیږئ چي په تاسو کي ځیني د ځینو غاړي وهي (چي دا کار د کفارو دئ). بخاري او مسلم.

(۳۳۸۴): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ حَمَلَ أَحَدُهُمَا عَلَى أَخِيْهِ السِّلَاحَ فَهُمَا فِيْ جُرُفِ جَهَنَّمَ فَإِذَا قَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ دَخَلَاهَا جَمِيْعًا وفي رواية اذا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُوْلُ فِي النَّارِ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُوْلِ قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيْصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ . متفق علیه.

د حضرت ابوبکرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي دوه مسلمانان په داسي حال کي یو ځای سي چي پر یو بل یې سلاح راکښلي وي نو هغوئ دواړه د دوږخ پر غاړه دي بیا که په هغوئ کي یو بل ووژني نو دواړه به دوږخ ته ځي، د ابوبکرة یو بل روایت دئ چي هر کله دوه مسلمانان توري راوکاږي او یو بل ته مخامخ سي نو قاتل او مقتول دواړه به جهنم ته ځي، ما عرض وکړ چي د قاتل دوږخ ته تلل خو ځرګند دي مګر مقتول به په کومه وجه دوږخ ته ځي، رسول الله ﷺ وفرمایل: مقتول خو هم د خپل مقابل د وژلو حریص وو. (له دې کبله به هغه هم دوږخ ته ځي.) بخاري او مسلم.

**د مرتد سزا**

(۳۳۸۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَرٌ مِنْ عُكْلٍ فَأَسْلَمُوْا فَاجْتَوَوُا الْمَدِيْنَةَ فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَأْتُوْا إِبِلَ الصَّدَقَةِ فَيَشْرَبُوْا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا فَفَعَلُوْا فَصَحُّوْا فَارْتَدُّوْا وَقَتَلُوْا رُعَاتَهَا وَاسْتَاقُوا الْإِبِلَ فَبَعَثَ فِيْ آثَارِهِمْ فَأُتِيَ بِهِمْ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ ثُمَّ لَمْ يَحْسِمْهُمْ حَتّٰى مَاتُوْا . و في رواية فسمروا اعينهم و في رواية امر بمسامير فاحميت فكحلهم بها وطرحهم بالحرة يستسقون فما يسقون حتى ما

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي د عکل د قبیلې څو کسان د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او اسلام یې قبول کړ، مګر د مدینې هوا د هغوئ موافق نه وه. رسول الله ﷺ هغوئ ته حکم وکړ چي هغوئ د زکوٰة د اوښانو د اوسیدو ځای ته ولاړ سي او د هغو د بولو او شیدو څخه دي چیښل کوي، هغوئ داسي وکړل او ښه سول، بیا هغوئ د دین اسلام څخه واوښتل مرتد سول او قتل یې کړل ساربانان د هغه اوښانو او روان یې کړل اوښان نو رسول الله ﷺ

توا . متفق علیه. | په هغو پسي سپاره ولیږل هغوئ یې نیولي

راوستل او په دغه جرم کي یې د هغوئ لاسونه او پښې پرې کړې او سترګي یې څیني وکښلي ، بیا د هغوئ لاسو او پښوته د وینو بندولو لپاره په ګرمو تیلو کي داغ ورنه کړل سو تر څو چي هغوئ مړه سوه ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي د هغوئ په سترګو کي ګرم سیخونه ومنډل سول ، او په یوه روایت کي داسي دي چي نبي کریم ﷺ د سیخونو د ګرمولو حکم ورکړ او کله چي هغه ګرم کړل سول نو هغوئ د هغوئ په سترګو کي وګرځول سول او بیا هغوئ د مدینې په سنګستان کي وغورځول سول او هغوئ به اوبه غوښتلې او اوبه به نه ورکول کېدلې تر څو چي مړه سول . بخاري او مسلم .

## دویم فصل

**د مثله ممانعت**

| | |
|---|---|
| (۳۳۸۶): عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ . رواه ابوداؤد و رواه النسائي عن انس . | د حضرت عمران بن حصین ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به موږ ته د صدقي او خیرات ورکولو شوق راکوئ او د مثله (لاسونه ، پښې یا بل اندام پرې کولو) څخه به یې منع کولو . ابوداؤد او نسائي د حضرت انس څخه روایت کړی دئ . |

**د حیوانانو سره د رسول الله ﷺ د رحمت جلبه**

| | |
|---|---|
| (۳۳۸۷): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ فَرَأَيْنَا حُمَّرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا فَجَاءَتِ الْحُمَّرَةُ فَجَعَلَتْ تُفَرِّشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ فَجَعَ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَّقْنَاهَا قَالَ مَنْ حَرَّقَ هٰذِهِ قُلْنَا نَحْنُ قَالَ إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ . رواه ابوداؤد | حضرت عبد الرحمن بن عبد الله د خپل پلار څخه روایت کوي چي په یوه سفر کي موږ د رسول الله ﷺ سره وو ، رسول الله ﷺ پر یوه موقع د قضاء حاجت لپاره تشریف ویوړ ، موږ یوه سره مرغۍ ولیدل چي د هغې سره دوه بچیان وه ، موږ د هغې بچیان ونیول ، هغه مرغۍ راغلل خپل وزر یې پر مځکه خپاره کړل او نس یې د مځکي سره ولګوئ ، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ تشریف راوړ او وه یې فرمایل ددې بچیان چا ونیول |

او په مصیبت یې اخته کړل ، ددې بچیان بیزته ورکړئ ، بیا رسول الله ﷺ د میږیانو غارونه ولیدل

چي مور هغه سوځلي وه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا ميږيان چا سوځلي دي ؟ مور عرض وکړ مور سوځلي دي ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : دا مناسب نه دي چې څوك يو چا ته د اور عذاب ورکړي ، د اور عذاب ورکونکی يوازې الله تعالی دی چې رب د اور دی . ابوداؤد .

## د يو باطلي ډلي په اړه پيشګوئي

(٣٣٨٨): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي اخْتِلَافٌ وَفُرْقَةٌ قَوْمٌ يُحْسِنُونَ الْقِيلَ وَيُسِيئُونَ الْفِعْلَ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ لَا يَرْجِعُونَ حَتَّى يَرْتَدَّ السهم عَلَى فُوقِهِ هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ طُوبَى لِمَنْ قَتَلَهُمْ وَقَتَلُوهُ يَدْعُونَ إِلَى كِتَابِ اللَّهِ وَلَيْسُوا مِنا فِي شَيْءٍ مَنْ قَاتَلَهُمْ كَانَ أَوْلَى بِاللَّهِ مِنْهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا سِيمَاهُمْ قَالَ التَّحْلِيقُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو سعيد خدري او انس بن مالك رضي الله عنهما څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کې به اختلاف او فرقه والی پيدا سي، په هغوئ کې به يوه داسې ډله وي چې خبرې به ښه کوي مګر عمل به يې بد وي ، هغوئ به قرآن وايي مګر قرآن به د هغوئ د حلق څخه نه کښته کيږي (يعني د قرآن د ويلو هيڅ اثر به نه وي) هغوئ به د مذهب (اسلام) څخه داسې ووزي لکه څرنګه چې غشی د ليندۍ څخه وزي ، هغوئ به د مذهب په لوري تر هغه وخته رانسي تر څو پوري چې غشی د خپل ليندۍ په لور رانسي ، دا خلك د بدترين مخلوقات او د حيوانانو څخه به وي، زيری دئ هغه چا ته چې هغوئ قتل کړي او هغوئ دوئ قتل کړئ (يعني د دوئ د قتل په صورت کې به هغوئ غازيان وي او د دوئ د لاسه به خپله د قتل کېدو په صورت کې شهيدان وي) دوئ به خلك د الله تعالی د کتاب په لور رابولي (او د سنت رسول او احاديث نبوي د پرېښودلو ترغيب به ورکوي)، دوئ زمور څخه نه دي (يعني په هيڅ خبره کې دوئ مسلمان نه دي) څوك چې دوئ قتل کړي هغه به تر ټولو زيات الله تعالی ته نږدې وي ، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله ! د دوئ شناخت به څه وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: سر خريل . ابوداؤد .

## هغه درې صورتونه چې په هغو کې مسلمان ته د مرګ سزا ورکول کيږي

(٣٣٨٩): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ رَجُلٌ زَنَى بَعْدَ إِحْصَانٍ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ وَرَجُلٌ خَرَجَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د هيڅ مسلمان چې ددې شاهدي ورکوي چې د الله څخه پرته بل د عبادت ور نسته او محمد ﷺ د الله تعالی

مُحَارِبًا لِلّٰهِ وَرَسُولِه فَإِنَّهُ يُقْتَلُ أَوْ يُصْلَبُ أَوْ يُنْفَى مِنَ الْأَرْضِ أَوْ يَقْتُلُ نَفْسًا فَيُقْتَلُ بِهَا . رواه ابوداؤد

رسول دئ ، وژل حلال نه دي خو په دغه درو خبرو کي يوه خبره په وقوع کي راتلو سره د

هغه وژل حلاليږي : (۱) يو خبره خو داده چي د نکاح وروسته زنا وکړي په دې صورت کي به سنگسار کيږي . (۲) دويمه خبره داده چي څوك د الله تعالى او د رسول الله ﷺ خلاف جنگ ته راووزي ، يعني قتل کوي او د الله او د هغه د رسول پر خلاف سرکښي کوي ، په دې صورت کي به هغه وژل کيږي يا به په دار کيږي او يا به بندي کيږي (يعني څه ډول چي د جرم کيفيت وي) (۳) دريمه خبره دا چي يو څوك قتل کړي نو د هغه په بدله کي به قاتل هم ووژل سي . ابوداؤد.

**مسلمان ييرول منع دي**

(۳۳۹۰): وَعَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ حَدَّثَنَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ كَانُوا يَسِيرُونَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَانْطَلَقَ بَعْضُهُمْ إِلَى حَبْلٍ مَعَهُ فَأَخَذَهُ فَفَزِعَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا.رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن ابي ليلي ؓ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ اصحابو موږ ته بيان کړی دئ چي د رسول الله ﷺ صحابه کرامو به د شپې د رسول الله ﷺ سره سفر کوئ (يوه ورځ) يو سړی د دوئ سره بيده سو بيا نور خلك ولاړ سوه او د بيده سړي نژدې چي کومه رسۍ پرته وه هغه يې پورته کړه او دا بيده سړی د هغه بل څخه و بيريدئ ،

رسول الله ﷺ وفرمايل : د هيڅ مسلمان لپاره دا جائز نه ده چي هغه يو مسلمان و بيروي . ابوداؤد .

**د اسلام عزت د کفر په ذلت سره مه سودا کوئ**

(۳۳۹۱): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِجِزْيَتِهَا فَقَدِ اسْتَقَالَ هِجْرَتَهُ وَمَنْ نَزَعَ صَغَارَ كَافِرٍ مِنْ عُنُقِهِ فَجَعَلَهُ فِي عُنُقِهِ فَقَدْ وَلَّى الْإِسْلَامَ ظَهْرَهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي د يو جزيې والا مځکه رانيول هغه خپل هجرت مات کړ او چا چي د کافر ذلت د هغه د غاړې و ايستئ او په خپله غاړه کي يې واچوئ نو هغه د اسلام څخه مخ وگرځوئ . ابوداؤد .

**مسلمان دي په کافرانو کي نه گډيږي**

(۳۳۹۲): وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى خَثْعَمٍ فَاعْتَصَمَ نَاسٌ مِنْهُمْ بِالسُّجُودِ فَأَسْرَعَ فِيهِمُ الْقَتْلَ

د حضرت جرير بن عبد الله ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو لښکر د خثعم د قبيلې په لور وليږئ په هغو کي ځينو خلکو د لښکر په ليدو سره لمونځ پيل کړ او پر سجده پريوتل،

| | |
|---|---|
| فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُمْ بِنِصْفِ الْعَقْلِ وَقَالَ أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ لِمَ قَالَ لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا . رواه ابوداؤد. | خو د هغوئ په وژلو کي د تلوار څخه کار واخيستل سو د هغوئ د سجدي اعتبار يې ونه کړئ هغوئ يې قتل کړل ، ددې ښېښي خبر چي نبي کريم ﷺ ته ورسيدئ نو رسول الله ﷺ د هغه |

وژل سوو خلکو وارثانو ته د نيمي ضمان ورکولو حکم وکړ او وه يې فرمايل : زه دهر هغه مسلمان څخه بريئ الذمة يم ُچي د کافرانو په منځ کي اوسيدل اختياروي، صحابه کرامو عرض وکړ اي دالله رسوله ! دا ولي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (مسلمان او کافر بايد دومره ليري ليري وي) چي د يو بل اور ونه ويني (يعني چي اور بل کړل سي نو معلوم نسي) . ابوداؤد .

**بېله پلټني څوک مه وژنئ**

| | |
|---|---|
| (٣٣٩٣): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِيمَانُ قَيَّدَ الْفَتْكَ لَا يَفْتِكُ مُؤْمِنٌ . رواه ابوداؤد. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايمان د ناڅاپه قتل څخه منع کوي، مؤمن سړی دي ناڅاپه څوك نه قتلوي . ابوداؤد . |

**د غلام مرتد کېدل**

| | |
|---|---|
| (٣٣٩٤): وَعَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ إِلَى الشِّرْكِ فَقَدْ حَلَّ دَمُهُ . رواه ابوداؤد. | د حضرت جرير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي غلام شرك ته وتښتي نو د هغه وژل حلال دي . ابوداؤد . |

**د رسول الله ﷺ بې ادبي کونکې...**

| | |
|---|---|
| (٣٣٩٥): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ يَهُودِيَّةً كَانَتْ تَشْتُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقَعُ فِيهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّى مَاتَتْ فَأَبْطَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا . رواه ابوداؤد . | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي يوې يهودي ښځي به رسول الله ﷺ پسي بد ويل او د رسول الله ﷺ عيب به يې وايه . يوه سړي دا خفه کړه تر څو چي مړه يې کړه، نبي کريم ﷺ د هغې وينه باطله (معاف) کړه . ابوداؤد. |

**جادوگر دي قتل کړل سي**

| | |
|---|---|
| (٣٣٩٦): وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدُّ السَّاحِرِ ضَرْبَةٌ بِالسَّيْفِ . رواه الترمذي. | د حضرت جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جادوگر شرعي سزا (حد) په توره سره وژل دي . ترمذي . |

## دريم فصل

(۳۳۹۷): عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا رَجُلٍ خَرَجَ يُفَرِّقُ بَيْنَ أُمَّتِي فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ . رواه النسائي .

د حضرت اسامة بن شريك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي زما د امت د بيلولو لپاره ووځي نو د هغه غاړه ووهئ (پرې كړئ . نسائي.

### د خوارجو په اړه پيشګوئي

(۳۳۹۸): وَعَنْ شَرِيكِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ كُنْتُ أَتَمَنَّى أَنْ أَلْقَى رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ عَنِ الْخَوَارِجِ فَلَقِيتُ أَبَا بَرْزَةَ فِي يَوْمِ عِيدٍ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقُلْتُ لَهُ هَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ الْخَوَارِجَ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُذُنِي وَرَأَيْتُهُ بِعَيْنِي أُتِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَالٍ فَقَسَمَهُ فَأَعْطَى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ وَمَنْ عَنْ شِمَالِهِ وَلَمْ يُعْطِ مَنْ وَرَاءَهُ شَيْئًا فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ وَرَائِهِ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ مَا عَدَلْتَ فِي الْقِسْمَةِ رَجُلٌ أَسْوَدُ مَطْمُومُ الشَّعْرِ عَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَبْيَضَانِ فَغَضِبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَضَبًا شَدِيدًا وَقَالَ وَاللّٰهِ لَا تَجِدُونَ بَعْدِي رَجُلًا هُوَ أَعْدَلُ مِنِّي ثُمَّ قَالَ يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ كَأَنَّ هٰذَا مِنْهُمْ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الْإِسْلَامِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ سِيمَاهُمُ التَّحْلِيقُ لَا يَزَالُونَ يَخْرُجُونَ حَتّٰى يَخْرُجَ آخِرُهُمْ مَعَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ. رواه النسائي .

د حضرت شريك بن شهاب ﷺ څخه روايت دئ چي زه په دې اميد وم چي د رسول الله ﷺ يو صحابي ووينم ، او د هغه څخه د خوارجي حال و پوښتم، (يعني كوم خوارج چي نن سبا پيدا سوي دي ايا د دوئ په اړه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي) نو د اختر په ورځ زه د ابوبرزه سره يو ځاى سوم چي د ملګرو يوه ډله ورسره وه ما د هغه څخه پوښتنه وكړه ايا تا د رسول الله ﷺ څخه د خوارجو په اړه څه اوريدلي دي ، هغه وويل : هو ما د رسول الله ﷺ څخه په خپلو غوږو سره اوريدلي دي او په خپلو سترګو سره مي ليدلي دي ، يو وار رسول الله ﷺ ته مال راغلئ ، رسول الله ﷺ هغه د خپل راسته او چپه لوري په خلكو وويشئ او كوم خلك چي شاته ناست وه هغوئ ته يې هيڅ ورنه كړل ، د رسول الله ﷺ د شا د لوري څخه يو سړى ولاړ سو او عرض يې وكړ اي محمد ﷺ! تا انصاف ونه كړ دا سړى تور وو ، ورېښتان يې خريلي وه او دوې سپيني جامې يې اغوستي وي ، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ په غصه سو او وه

يې فرمايل : قسم په الله زما څخه وروسته به تاسو هيڅوك زيات انصاف كونكى بيا تر لاسه نه كړئ ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : په آخره زمانه كې به يو قوم پيداسي (مطلب دا سړى د هغه قوم څخه دئ) هغه قوم به قرآن وايي مگر قرآن به د هغو د حلق څخه نه وځي هغوئ به د اسلام څخه داسي ووځي لكه څرنگه چي غشى د ښكار لپاره وځي د هغوئ نښه به سر خريل وي دا قوم به هميشه كرار راوځي تر څو چي د دوئ آخري سړى به مسيح دجال سره خروج وكړي ، هر كله چي تاسو هغوئ سره يو ځاى سئ نو هغوئ مړه كړئ ، هغوئ په انسانانو او حيوانانو كې بد مخلوق دي ، نسائي .

**د قيامت په ورځ به د اهل حق مخان منور او د اهل باطل مخان تور وي**

(٣٣٩٩): وَعَنْ أَبِي غَالِبٍ قَالَ رَأَى أَبُو أُمَامَةَ رُءُوسًا مَنْصُوبَةً عَلَى دَرَجِ دِمَشْقَ فَقَالَ أَبُو أُمَامَةَ كِلَابُ النَّارِ شَرُّ قَتْلَى تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ خَيْرُ قَتْلَى مَنْ قَتَلُوهُ ثُمَّ قَرَأَ { يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ }إِلَى آخِرِ الْآيَةِ قُلْتُ لِأَبِي أُمَامَةَ أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ لَمْ أَسْمَعْهُ إِلَّا مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا أَوْ حَتَّى عَدَّ سَبْعًا مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ . رواه الترمذي و ابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن.

د حضرت ابو غالب ﷺ څخه روايت دئ چي ابوامامة د دمشق په لاره كي سرونه زړيدلي وليدل ، ابوامامة وويل دا د دوزخ سپي دي، او تر آسمان لاندي بدترين مقتولان هم دادي خو چا چي دوئ وژلي دي هغه ډير ښه وژونكي دي. بيا هغه دا آيت ووايه : يوم تبيض وجوه وتسود وجوه، (په هغه ورځ به ډير مخونه سپين وي او ډير به تور وي) ابو غالب وايي ، ما د ابوامامة څخه پوښتنه وكړه تا دا خبره د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي ده ؟ هغه وويل كه ما نه واى اوريدلي مگر يو وار يا دوه واره يا درې واره يا تر څو چي اووه واره يې وشميرل نو هيڅكله به مي تاته نه بيانولاى . ترمذي، او ابن ماجة . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دى .

# كِتَــابُ الْحُـــدُوْدِ (د شرعي سزاوو بيان)

## لومړی فصل

### د رسول الله ﷺ له خوا د زنا د یو مقدمې فیصله

(۳۴۰۰): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا اقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللّٰهِ وَقَالَ الْآخَرُ أَجَلْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللّٰهِ وَأْذَنْ لِي أَنْ أَتَكَلَّمَ قَالَ تَكَلَّمْ قَالَ إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هٰذَا فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَبِجَارِيَةٍ لِي ثُمَّ إِنِّي سَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ مَا عَلَى ابْنِي جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ وَإِنَّمَا الرَّجْمُ عَلَى امْرَأَتِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللّٰهِ أَمَّا غَنَمُكَ وَجَارِيَتُكَ فَرَدٌّ عَلَيْكَ واما ابنك فعليه جَلْدَ مِائَةٍ وَتغريب عَامًا واما انت يا انيس فاعد الى امراة هذا فان اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا فَاعْتَرَفَتْ فَرَجَمَهَا .متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ او حضرت زيد بن خالد ﷺ څخه روايت دئ چي دوه کسان رسول الله ﷺ ته په جګړه راغلل ، په هغوئ کي يوه وويل (اې دالله رسوله) زموږ په منځ کي د کتاب الله سره سمه پريکړه وکړه ، دويم وويل :هو ، اې د الله رسوله زموږ په منځ کي د کتاب الله سره سم حکم وکړئ، او ما ته د پيښي عرض کولو اجازت راکړئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ووايه! هغه وويل : زما زوی ددغه سړي سره مزدوري وو، هغه دده د ښځي سره زنا وکړه ، خلکو ما ته وويل ستا زوی به سنګسار سي ، ما د هغه په بدله کي سل پسونه او يوه وينځه ورکړه ، بيا ما د علماؤ څخه د مسئلې پوښتنه وکړه هغوئ وويل : ستا زوی به سل دوري وهل کيږي، او د يوه کال لپاره به جلا وطنه کيږي او هغه ښځه به سنګسار کيږي څکه چي هغه واده سوې ده ،

ددې پيښي په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار! قسم دی په هغه ذات چي د هغه په لاس کي زما ساه ده زه به ستاسو په منځ کي د کتاب الله سره سمه پريکړه وکړم ستاوينځه او ستا پسونه به تاته بيرته درکول کيږي او ستا زوی به سل دورې وهل کيږي او د يوه کال لپاره به جلا وطن کيږئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل اې انيس ! ته هغه ښځي ته ورسه، که هغه د جرم اقرار وکړي نو هغه سنګسار کړئ نو هغې ښځي اقرار وکړ او انيس هغه سنګسار کړه . بخاري او مسلم .

## د غیر محصن زنا کونکي سزا

| | |
|---|---|
| (۳۴۰۱): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ فِيمَنْ زَنٰى وَلَمْ يُحْصَنْ جَلْدَ مِائَةٍ وَتَغْرِيبَ عَامٍ . رواه البخاري. | د حضرت زید بن خالد ﷛ څخه روایت دئ چي ما د نبي کریم ﷺ څخه د بې واده واده سړي زناکار لپاره داحکم اوریدلی دئ چي هغه دي سل دورې |

ووهل سي او د یوه کال لپاره دي د وطن څخه وشړل سي . بخاري.

## د محصن زناکونکي سزا

| | |
|---|---|
| (۳۴۰۲): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ فَكَانَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةُ الرَّجْمِ رَجَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ وَالرَّجْمُ فِي كِتَابِ اللّٰهِ حَقٌّ عَلَى مَنْ زَنٰى إِذَا أَحْصَنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ إِذَا قَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَبَلُ أَوِ الِاعْتِرَافُ . متفق عليه. | د حضرت عمر ﷛ څخه روایت دئ چي الله تعالی محمد ﷺ د حق سره رالیږلی دئ او پر هغوئ یې خپل کتاب نازل کړی دئ په هغه کې د سنګسارۍ آیت هم سته ، رسول الله ﷺ سنګساري کړې وو او د هغوئ څخه وروسته موږ هم سنګسار کړي دئ او رجم د الله تعالی په کتاب کې تاکلی دئ ب هغه سړي چي زنا وکړي او هغه واده کړی وي که هغه سړی وي یا ښځه، |

کله چي شاهدان موجود وي یا حمل ښکاره سي یا د جرم اقرار وي. بخاري او مسلم .

## واده سوی زنا کونکی او زنا کونکې دي سنګسار کړل سي

| | |
|---|---|
| (۳۴۰۳): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ . رواه مسلم . | د حضرت عبادة بن صامت ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما څخه (د زناکار او زناکارې په اره) حکم تر لاسه کړئ (او) زما څخه (د دوئ په اره) حکم واخلئ ، الله تعالی د ښځو |

لپاره یوه طریقه تاکلې ده ، ناواده ښځه که د ناواده سړي سره زنا وکړي نو سل دورې دي ووهل سي او د یوه کال لپاره دي جلاوطن کړل سي او واده کړی سړی که د واده سوي ښځي سره زنا وکړي نو سل دورې دي ووهل سي او دواړه دي سنګسار سي . مسلم .

| | |
|---|---|
| (۳۴۰۴): وَعَنْ عبدالله ابْنِ عُمَرَ أَنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا إِلَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْهُمْ وَامْرَأَةً زَنَيَا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى | د حضرت عبدالله بن عمر ﷛ څخه روایت دئ چي د یهودو یوه ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سول عرض یې وکړ چي د هغوئ د قوم څخه یو سړی او یوې ښځي زنا کړې ده ، رسول |

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ فِي شَأْنِ الرَّجْمِ قَالُوا نَفْضَحُهُمْ وَيُجْلَدُونَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ كَذَبْتُمْ إِنَّ فِيهَا الرَّجْمَ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَنَشَرُوهَا فَوَضَعَ أَحَدُهُمْ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ فَقَرَأَ مَا قَبْلَهَا وَمَا بَعْدَهَا فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ ارْفَعْ يَدَكَ فَرَفَعَ يَدَهُ فَإِذَا فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ فَقَالُوا صَدَقَ يَا مُحَمَّدُ فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ فَأَمَرَ بِهِمَا النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَا، و في رواية قَالَ ارْفَعْ يَدَكَ فَرَفَعَ فَإِذَا آيَةُ الرَّجْمِ تَلُوحُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ انَّ فِيهَا آيَةَ الرَّجْمِ وَلٰكِنَّا نَتَكَاتَمُهُ بَيْنَنَا فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا . متفق عليه .

الله ﷺ هغوئ ته وفرمایل: تاسو په تورات کي د رجم په اړه څه تر لاسه کوئ؟ هغوئ عرض وکړ موږ زنا کونکی ذلیل او رسوا کوو، او هغوئ په دورو وهل کیږي، عبدالله بن سلام ورته وویل تاسو درواغ وایاست، تورات راوړئ په هغه کي د رجم حکم هم سته ، هغوئ تورات راوړ او په هغوئ کي تورات راوړونکي سړي د رجم پر آیت لاس کښېښودئ هغه یې پټ کړ او مخکي او وروسته آیاتونه یې وویل، عبدالله بن سلام ورته وویل خپل لاس لیري کړه نو وه یې لیدل چي هلته د رجم آیت موجود وو، یهودو وویل: عبدالله بن سلام رښتیا وویل په دې کي د رجم آیت موجود دئ، بیا رسول الله ﷺ پر هغه دواړو زناکونکو باندي د رجم حکم وکړ، او هغوئ سنگسار کړل سول، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي عبدالله بن سلام وویل خپل لاس لیري کړه هغه چي خپل لاس لیري کړ نو هلته د رجم آیت موجود وو، لاس ایښودونکي وویل اې محمد ! په تورات کي د رجم آیت موجود دئ مگر موږ ذا پټوو، نو رسول الله ﷺ د دواړو د سنگسارولو حکم وکړ او هغوئ سنگسار کړل سول، بخاري او مسلم .

## د زنا د اقراري مجرم په باره کي د رسول الله ﷺ فیصله

(۳۴۰۵):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنَحَّى لِشِقِّ وَجْهِهِ الَّذِي أَعْرَضَ قِبَلَهُ فَقَالَ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا شَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبِكَ جُنُونٌ قَالَ لَا فَقَالَ أَحْصَنْتَ قَالَ نَعَمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ اذْهَبُوا بِهِ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ په مسجد کي وو چي یو سړی راغلی او نعره یې وکړه اې د الله رسوله ! ما زنا کړې ده ، رسول الله ﷺ د هغه څخه مخ واړوئ . هغه سړی بیا رسول الله ﷺ ته ورمخته سو او وه یې ویل ما زنا کړې ده . رسول الله ﷺ بیا مخ خیني واړوئ ، هر کله چي هغه څلور واره دغه الفاظ وویل او شهادت پوره سو نو نبي کریم ﷺ خان ته نژدې راوبلی او ورته وه یې فرمایل: ایا ته لیونی یې ،

فَارْجُمُوهُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بن عبدالله يَقُولُ فَرَجَمْنَاهُ بِالْمَدِيْنَةِ فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ حَتَّى أَدْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ فَرَجَمْنَاهُ حَتَّى مَاتَ متفق عليه و في رواية للبخاري عن جابر بعد قوله قال نعم فامر به فرجم بالمصلى فلما اذلقته الحجارة فر فادرك فرجم حتى مات فقال له النبي صلى الله عليه وسلم خيرا وصلى عليه .

هغه عرض وكړ :يا ، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا تا واده كړى دئ؟ هغه عرض وكړ چي هو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل دئ بوځئ او سنگسار يې كړئ، ددې حديث د يو راوي ا بن شهاب ؓ بيان دئ چي ما ته هغه سړي چي هغه د جابر بن عبدالله څخه دا اوريدلي وه چي وه يې ويل موږ په مدينه منوره كي هغه سړى سنگسار كړ كله چي د هغه بدن په ډبرو ولگيدئ نو هغه وتښتېدئ تر دې چي موږ هغه د مدينې په ډبرينه مځكه كي راونيوئ او بيا مو سنگسار كړ تر څو چي هغه مړ سو . بخاري او مسلم، د بخاري په روايت كي چي د جابر ؓ څخه نقل دي دا الفاظ دي كوم وخت چي هغه سړي د واده كېدو اقرار وكړ ، رسول الله ﷺ د هغه د سنگسارولو حكم وكړ نو هغه په عيدگاه كي سنگسار كړل سو، كله چي هغه په ډبرو ولگيدئ نو هغه وتښتېدئ هغه ونيول سو او بيا سنگسار كړل سو تر څو چي هغه مړ سو د هغه د مرگ وروسته رسول الله ﷺ د هغه تعريف وكړ او د هغه د جنازې لمونځ يې ادا كړ.

**تر څو چي د زناكونكي په باره كي پوره پلټنه ونه سي تر هغو فيصله مه كوئ**

(۳۴۰۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا أَتَى مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ لَعَلَّكَ قَبَّلْتَ أَوْ غَمَزْتَ أَوْ نَظَرْتَ قَالَ لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ أَنِكْتَهَا لَا يَكْنِي قَالَ فَعِنْدَ ذٰلِكَ أَمَرَ بِرَجْمِهِ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي كله ماعزبن مالك نبي كريم ﷺ ته حاضر سو نو رسول الله ﷺ ورتـه وفرمايـل : كيـداى سـي تـا مچـه اخيستې وي يا لاس دي ور وړى وي او يا دي ورته كتلي وي، هغه عرض وكړ چي يا، اې د الله رسوله ! ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ايا تا (په حقيقت كي ) زنا كړې ده او كه نه؟ هغه عرض وكړ چي هو، (ما جماع كړې ده) ددې وروسته رسول الله ﷺ د هغه د سنگسارولو حكم وكړ. بخاري.

**د حد قائم كېدل گناه ساقطوي**

(۳۴۰۷):وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ جَاءَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ وَيْحَكَ ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ وَتُبْ إِلَيْهِ قَالَ فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ

د حضرت بريدة ؓ څخه روايت دئ چي ماعزبن مالك ؓ د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ چي اې د الله رسوله ! ما پاك كړئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پر تا افسوس

طَهِّرْنِي. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ حَتّٰى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ قَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ فِيمَ أُطَهِّرُكَ فَقَالَ مِنَ الزِّنٰى فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبِهِ جُنُوْنٌ فَأُخْبِرَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَجْنُوْنٍ فَقَالَ أَشَرِبَ خَمْرًا فَقَامَ رَجُلٌ فَاسْتَنْكَهَهُ فَلَمْ يَجِدْ مِنْهُ رِيْحَ خَمْرٍ فَقَالَ أَزَنَيْتَ قَالَ نَعَمْ فَأَمَرَ بِهٖ فَرُجِمَ فَلَبِثُوْا يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً ثُمَّ جَاءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اسْتَغْفِرُوْا لِمَاعِزِ بْنِ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الْأَزْدِ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ وَيْحَكِ ارْجِعِي فَاسْتَغْفِرِي اللّٰهَ وَتُوْبِي إِلَيْهِ فَقَالَتْ تُرِيْدُ أَنْ تُرَدِّدَنِي كَمَا رَدَّدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ إِنَّهَا حُبْلٰى مِنَ الزِّنٰى فَقَالَ آنْتِ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَهَا حَتّٰى تَضَعِي مَا فِي بَطْنِكِ قَالَ فَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ حَتّٰى وَضَعَتْ قَالَ فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قَدْ وَضَعَتِ الْغَامِدِيَّةُ فَقَالَ إِذًا لَا نَرْجُمُهَا وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيْرًا لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ إِلَيَّ رَضَاعُهُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ قَالَ فَرَجَمَهَا، وَ فِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ لَهَا اذْهَبِي حَتّٰى تَلِدِي فَلَمَّا وَلَدَتْ قَالَ اذْهَبِي فَأَرْضِعِيْهِ حَتّٰى تَفْطِمِيْهِ فَلَمَّا فَطَمَتْهُ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ فِي يَدِهٖ كِسْرَةُ خُبْزٍ فَقَالَتْ هٰذَا يَا نَبِيَّ اللّٰهِ قَدْ فَطَمْتُهُ وَقَدْ أَكَلَ الطَّعَامَ فَدَفَعَ الصَّبِيَّ إِلٰى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ لَهَا إِلٰى صَدْرِهَا وَأَمَرَ النَّاسَ فَرَجَمُوْهَا فَيُقْبِلُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ بِحَجَرٍ فَرَمٰى رَأْسَهَا فَتَنَضَّحَ الدَّمُ عَلٰى وَجْهِ خَالِدٍ

دئ بيرته ولاړ سه بخښنه وغواړه او الله پاك ته توبه وكاږه، راوي ويلي دي چې هغه ولاړ او بيرته ژر راغلی او عرض يې وكړ اې د الله رسوله! ما پاك كړئ. رسول الله ﷺ بيا ورته هغه الفاظ وويل كوم چې يې مخكې ويلي وه، څلور واره هم داسې وسول، په څلورم وار رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چې د څه شي څخه دې پاك كړم، هغه عرض وكړ د زنا څخه، نبي كريم ﷺ د صحابه كرامو څخه پوښتنه وكړه ايا دا ليونی سوی دئ؟ صحابه كرامو عرض وكړ چې يا، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا ده شراب څښلي دي؟ يو سړی ولاړ سو د هغه خوله يې بوی كړه مګر بوی نه وو، بيا رسول الله ﷺ د ماعز څخه پوښتنه وكړه ايا تا زنا كړې ده، هغه عرض وكړ چې هو، نو رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حكم وكړ او هغه سنګسار كړل سو، دوې درې ورځې هم داسې تيرې سوې يوه ورځ نبي كريم ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل چې د ماعز بن مالك د مغفرت لپاره دعاء وكړئ، هغه داسې توبه كښلې ده كه پر ټول امت وويشل سي نو د هغه ثواب د ټولو لپاره بس دئ، بيا يوه ښځه چې د ازد قبيلې د غامد څخه وه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضره سوه او عرض يې وكړ اې د الله رسوله! ما پاكه كړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پر تا دې افسوس وي بيرته ولاړه سه د الله ﷻ څخه بخښنه وغواړه او الله ته توبه وباسه، ښځې عرض وكړ ايا تاسو دا غواړئ لكه

| | |
|---|---|
| فَسَبَّهَا فَقال نَبِيُّ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْلًا يَا خَالِدُ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِه لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَصَلَّى عَلَيْهَا وَدُفِنَتْ . رواه مسلم . | ځرنګه چي تاسو ماعز ښتون کړی وو ما هم ستنوئ ، هغه خو د زنا څخه حامله ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ته حامله یې ، هغې عرض وکړ چي هو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : صبز |

کوه تر څو چي ستا دنس څخه کوچنی پیداسي ، د راوي بیان دئ چي یو انصاري د هغې ښځي ذمه داري واخیستل تر څو چي د هغې کوچنی پیداسو ، بیا څه وخت وروسته هغه انصاري ښځه حاضره سوه او عرض یې وکړ چي د هغې غامدې ښځي څخه کوچنی پیدا سوی دئ ، رسو ل الله ﷺ وفرمایل : اوس موږ هغه نه سنګساروو او د هغې کوچنی په دغه حالت کې نه پرېږدو چي څوك نی ورکونکی نه وي ، یو انصاري ودریدئ او عرض یې وکړ چي اې دالله رسوله ! د هغه د رضاعت (شېدو ورکولو) زه ذمه دار یم ، نو نبي کریم ﷺ د هغې ښځي د سنګسارولو حکم وکړ ، او په یوه روایت کي داسي الفاظ دي کله چي هغې ښځي د خپل حمل اظهار وکړ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : بیرته ولاړه سه او صبره کوه تر څو چي کوچنی پیدا سي ، کله چي هغې کوچنی راوړئ نو نبي کریم ﷺ هغې ته وفرمایل کوچني ته شیدې ورکوه او صبر کوه چي هغه د تي څخه پرې کړې ، کله چي یې هغه د تي څخه پرې کړ نو هغه کوچنی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړ د کوچني په لاس کي د ډوډۍ ټوټه وه هغې غرض وکړ اې دالله رسوله ! ما دا کوچني د تي څخه پرې کړ او اوس ده ته خوراك ورکول پیل سوي دي ، رسول الله ﷺ هغه کوچني یو مسلمان ته حواله کړ او بیا یې حکم وکړ چي ددې ښځي لپاره تر سینې پوري یوه کنده وکاږي ، بیا یې خلکو ته د هغې د سنګسارولو حکم وکړ ، سنګسار پیل سو ، خالد بن ولید په یو ډبره هغه پر سر وویشتل د هغې د سر څخه وینه د خالد پر خوله ولوېدل ، خالد هغه بده وګڼل او رسول الله ﷺ د هغه ښکنځل واورېده ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اې خالده ! خوله پټه کړه زما دي په هغه ذات قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده دغه ښځي داسي توبه کښلې ده که داسي توبه محصول یا عشر اخیستونکی وکاږي نو د هغه ظلم او ستم به وبخښل سي ، بیا رسول الله ﷺ حکم وکړ چي د هغې د جنازې لمونځ دي ادا کړل سي او ښخه دي کړل سي . مسلم .

### د مینځي زنا

| | |
|---|---|
| (۳۴۰۸): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا زَنَتْ اَمَةُ اَحَدِكُمْ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ إِنْ | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي که په تاسو کي د چا مینځه زنا وکړي او د هغې زنا کول ځرګند |

زَنَتْ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ الثَّالِثَةَ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعَرٍ . متفق عليه.

سي نو پر هغې دي شرعي حد جاري كړل سي ، لعن طعن دي پر مينځو نه وي او پر دي دي لعن او طعن نه كيږي بيا كه دا دويم وار زنا وكړي نو دويم وار دي سزا وركړل سي او بد رد دي ورته نه ويل كيږي ، بيا كه دا دريم وار زنا وكړي او د هغې زنا څرگنده سي نو وه دي پلورل سي كه څه هم په يوه وېښتنه رسۍ سره وي . بخاري او مسلم.

**پر ناروغ باندي د حد جاري كولو مسئله**

(۳۴۰۹): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَقِيمُوا عَلَى أَرِقَّائِكُمُ الْحَدَّ مَنْ أَحْصَنَ مِنْهُمْ وَمَنْ لَمْ يُحْصِنْ فَإِنَّ أَمَةً لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَنَتْ فَأَمَرَنِي أَنْ أَجْلِدَهَا فَإِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهْدٍ بِنِفَاسٍ فَخَشِيتُ إِنْ أَنَا جَلَدْتُهَا أَنْ أَقْتُلَهَا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْسَنْتَ . رواه مسلم و في رواية ابي داؤد قَالَ دَعْهَا حَتَّى يَنْقَطِعَ دَمُهَا ثُمَّ أَقِمْ عَلَيْهَا الْحَدَّ وَ أَقِيمُوا الْحُدُودَ عَلَى مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ .

حضرت علي ﵁ خلك مخاطب كړل او ورته وه يې ويل : اې خلكو كه ستاسو مينځي او غلامان زنا وكړي نو هغوئ ته شرعي سزا وركړئ كه هغه واده سوي وي يا نه ، د رسول الله ﷺ يوې مينځي زنا كړې وه رسول الله ﷺ حكم وكړ چي زه (علي) هغه په دورو ووهم ، مگر د هغې تازه كوچنى پيدا سوى وو زما سره بيزه پيدا سوه كه زه هغه په دورو ووهم نو هغه به مړه سي ، ما نبي كريم ﷺ ته ددې خبري يادونه وكړه ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل تا ښه وكړل (چي په دغه حالت كي دې هغې ته سزا ور نه كړل) ، مسلم ، د ابوداؤد په روايت كي بيا داسي الفاظ دي چي رسول الله ﷺ حضرت علي ﵁ ته وفرمايل : دا تر هغه وخته پوري پريږده چي ددې د نفاس وينه بنده سي بيا پر دې حد جاري كړه او پر خپلو غلامانو باندي حدونه قائموئ .

## دويم فصل

**د زنا د اقرار څخه رجوع كول...**

(۳۴۱۰): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ مَاعِزٌ الْأَسْلَمِيُّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ زَنَى فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَ مِنْ شِقِّهِ الْآخَرِ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ زَنَى فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَ مِنْ شِقِّهِ الْآخَرِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ قَدْ زَنَى فَأَمَرَ بِهِ فِي الرَّابِعَةِ فَأُخْرِجَ

د حضرت ابوهريرة ﵁ څخه روايت دى چي راغلى ماعز اسلمي ﵁ او د رسول الله ﷺ په خدمت كي يې عرض وكړ چي ما زنا كړې ده ، رسول الله ﷺ مخ څيني واړوئ ، هغه بيا له هغه بل اړخ څخه راغلى نو وه يې ويل : ما زنا كړې ده

إِلَى الْحَرَّةِ فَرُجِمَ بِالْحِجَارَةِ فَلَمَّا وَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ فَرَّ يَشْتَدُّ حَتَّى مَرَّ بِرَجُلٍ مَعَهُ لَحْيُ جَمَلٍ فَضَرَبَهُ بِهِ وَضَرَبَهُ النَّاسُ حَتَّى مَاتَ فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ فَرَّ حِينَ وَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ وَمَسَّ الْمَوْتِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ. رواه الترمذي و ابن ماجة، و في رواية هَلاَّ تَرَكْتُمُوهُ لَعَلَّهُ اَنْ يَّتُوبَ فَيَتُوبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ.

، رسول الله ﷺ بيا مخ ځيني واړوی هغه بيا لـه هغه بل اړخ څخه راغلی نو وه يې ويل چي ما زنا کړي ده ، په څلورم وار پر هغه د زنا اقرار وکړل سو ، نو رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم ورکړ نو هغه د مدينې د برينې مځکي ته وليږل سو او هلته سنګسار کړل سو ، کله چي د هغه پر بدن ډبري ولګيدې نو هغه په تيزۍ سره وتښتېدی تر دې چي هغه د يوه سړي سره تير سو چي د هغه سره د اوښ هډوکی وو هغه په هډوکي ووهئ تر څو چي هغه مړ سو ، رسول الله ﷺ ته ددې پېښې يادونه وسول چي کله پر هغه ډبري ولګيدې او مرګ ورته ځرګند سو نو هغه وتښتېدی ، رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو هغه ولي نه پرېښودئ. ترمذي او ابن ماجه، او په يوه روايت کي د االفاظ دي که تاسو هغه پرې ايښی وای نو ډيره ممکن وه چي هغه توبه کړي وای او الله د هغه توبه قبوله کړې وای.

## د ماعز ﷺ د جرم اعتراف

(٣٤١١): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ قَالَ وَمَا بَلَغَكَ عَنِّي قَالَ بَلَغَنِي أَنَّكَ وَقَعْتَ بِجَارِيَةِ آلِ فُلَانٍ فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ ثُمَّ أَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ماعز بن مالك ته وفرمايل: ايا دا پېښه رښتيا ده چي ستا په اړه ما ته را رسيدلې ده هغه عرض وکړ زما په اړه تاسو ته څه ځرګند سوي دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما ته ځرګنده سوې ده چي تا د فلاني سړي د مينځي سره زنا کړې ده ، هغه عرض وکړ چي هو، هغه څلور واره ددې اقرار وکړ ، رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ نو هغه په ډبرو ووژل سو. مسلم.

## د نورو د عيب پټول وکړئ

(٣٤١٢): وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ مَاعِزًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَأَمَرَ بِرَجْمِهِ وَقَالَ لِهَزَّالٍ لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ كَانَ خَيْرًا لَكَ قَالَ ابْنُ الْمُنْكَدِرِ أَنْ هَزَّالًا أَمَرَ مَاعِزًا أَنْ يَأْتِيَ النَّبِيَّ

حضرت يزيد بن نعيم د خپل پلار څخه روايت کوي چي ماغز د نبي کريم ﷺ په خدمت کي څلور واره د خپل زنا اقرار وکړ او رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ، بيا رسول الله

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُخْبِرَهُ . رواه ابوداؤد . | ﷺ هزال (چا چي رسول الله ﷺ د زنا د پيښي

خبه خبر كړي وو) ته وفرمايل: كه تا پر هغه پرده اچولې واى نو غوره به واى، ددې حديث يو راوي ابن منكدر وايي چي هزال ماعز پر دې اماده كړى وو چي هغه دنبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سي او د خپل جرم اقرار وكړي او د پيښي خبه يې خبر كړي . ابوداؤد.

**حاكم ته د حد معافولو اختيار نه سته**

| | |
|---|---|
| (۳۴۱۳): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعَافُوا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ وَجَبَ . رواه ابوداؤد والنسائي . | حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار خبه او هغه د خپل پلار عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ خبه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې خبه وراندي چي د هغه خبر ما ته راورسيږي تاسو په خپل منځ كي حدود |

معاف كوئ . . مگر كله چي پيښه ما ته راورسيږي نو سزا واجب سي . ابوداؤد او نسائي .

**د عزت دارو خطاوي معافول ښكا ردي**

| | |
|---|---|
| (۳۴۱۴): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ أَقِيلُوا ذَوِي الْهَيْئَاتِ عَثَرَاتِهِمْ إِلَّا الْحُدُودَ . رواه ابوداؤد . | د حضرت عائشي (رض) خبه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د عزتمندو خلكو د خطاو خبه تيروتنه كوئ مگر شرعي حدود مه معافوئ . ابوداؤد . |

**د شک فائده ملزم ته ښكا رده**

| | |
|---|---|
| (۳۴۱۵): وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْرَءُوا الْحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ فَخَلُّوا سَبِيلَهُ فَإِنَّ الْإِمَامَ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعَفْوِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعُقُوبَةِ . رواه الترمذي و قال قد روي عنها و لم يرفع وهو اصح . | د حضرت عائشي (رض) خبه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تر څو پوري چي ممكن وي حدود د مسلمانانو خبه ليري ساتئ كه لږ هم د ژغورلو موقع وي نو هغه پرېږدئ څكه چي د امام (حاكم) په معاف كولو كي غلطي كول په سزا كي د غلطي كولو خبه غوره دي، دا ترمذي |

روايت كړى دئ او وايي چي دا د حضرت عائشي خبه مرفوع نه دى روايت كړل سوى او هم دا زيات صحيح دئ .

**په زوره زنا كولو سره يوازي نارينه ته حد وركول كيږي**

| | |
|---|---|
| (۳۴۱۶): وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ اسْتُكْرِهَتْ | د حضرت وائل بن حجر ﷺ خبه روايت دئ چي د |

امْرَأَةٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَرَأَ عَنْهَا الْحَدَّ وَأَقَامَهُ عَلَى الَّذِي أَصَابَهَا وَلَمْ يُذْكَرْ أَنَّهُ جَعَلَ لَهَا مَهْرًا . رواه الترمذي .

رسول الله ﷺ په زمانه كې د يوې ښځې سره زور وكړل سو (يعني په زوره زنا ورسره وكړل سول) نبي كريم ﷺ هغه ښځه معاف كړه او پر سړي يې حد قائم كړ ، زاوي ددې ذكر ونه كړ چې رسول الله ﷺ هغې ته مهر هم و تاكئ كه يا ، ترمذي.

(۳۴۱۷): وَعَنْهُ أَنَّ امْرَأَةً خَرَجَتْ عَلَى عَهْدِ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرِيدُ الصَّلَاةَ فَتَلَقَّاهَا رَجُلٌ فَتَجَلَّلَهَا فَقَضَى حَاجَتَهُ مِنْهَا فَصَاحَتْ وَانْطَلَقَ وَمَرَّتْ عِصَابَةٌ مِّنَ الْمُهَاجِرِينَ فَقَالَتْ إِنَّ ذَاكَ الرَّجُلَ فَعَلَ بِي كَذَا وَكَذَا فَأَخَذُوا الرَّجُلَ فَأَتَوْا بِهِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهَا اذْهَبِي فَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ لَكِ وَقَالَ لِلرَّجُلِ الَّذِي وَقَعَ عَلَيْهَا ارْجُمُوهُ وَقَالَ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَقُبِلَ مِنْهُمْ . رواه الترمذي و ابوداؤد .

د حضرت وائل بن حجر ﷺ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې يوه ښځه د لمانځه په اراده د باندې ووتل ، يو سړي هغه ونيول پر هغې يې جامه واچول او د هغې څخه يې خپل حاجت پوره كړ (يعني زنا يې ورسره وكړه) هغې ښځي شور وكړ سړي هغه پرېښودل او ولاړى ، د مهاجرينو يو ډله د هغې ښځي سره نژدې تير سول نو هغه ښځي دوئ ته وويل چې دغه سړي زما سره داسي داسي وكړل ، هغوئ سړى ونيوئ او رسول الله ﷺ ته يې وراندې كړ ، نو رسول الله ﷺ هغه ښځي ته وفرمايل ته ولاړه سه الله تعالى ته و بخښلې، او د هغه سړي په اړه چې زنا يې كړې ده وفرمايل دى بوځئ او سنگسار يې كړئ ، د هغه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه توبه وكښل (په سزا خوړلو سره يې) داسي توبه وكښل كه د مدينې خلكو داسي توبه كړې واي نو توبه به يې قبوله سوې واى . ترمذي او ابوداؤد .

**د يوې زنا دوې سزاوې**

(۳۴۱۸): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا زَنَى بِامْرَأَةٍ فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجُلِدَ الْحَدَّ ثُمَّ أُخْبِرَ أَنَّهُ مُحْصَنٌ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې يو سړي د يوې ښځي سره زنا وكړه، نبي كريم ﷺ د هغه په دوررو وهلو حكم وكړ هغه په دوررو ووهل سو د هغه وروسته رسول الله ﷺ ته و ښودل سوه چې هغه واده كړى دئ نو رسول الله ﷺ د هغه د سنگسارولو حكم وكړ نو هغه سنگسار كړل سو . ابوداؤد .

**ناروغ مجرم ته د سزا وركولو طريقه**

(۳۴۱۹): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ أَنَّ

د حضرت سعيد بن سعد بن عبادة ﷺ څخه روايت دئ

سَعْدَ بْنِ عُبَادَةَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ كَانَ فِي الْحَيِّ مُخْدَجٍ سَقِيْمٍ فَوُجِدَ عَلَى أَمَةٍ مِنْ إِمَائِهِمْ يَخْبُثُ بِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوْا لَهُ عِثْكَالاً فِيْهِ مِائَةُ شِمْرَاخٍ فَاضْرِبُوْهُ ضَرْبَةً . رواه في شرح السنة وفي رواية ابن ماجه نحوه

چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو هغه سړی ډیر کمزوری او ناروغ وو ، هغه د محل د یوې ښځي سره زنا کړې وه ، نبي کریم ﷺ حکم وکړ چي دده د وهلو لپاره د خرماوو یوه څانګه واخلئ چي په هغه کي کوچنۍ کوچنۍ سل څانګي وي او په هغه څانګو یې داسي په یو وار ووهئ چي ټولي څانګي د هغه پر بدن ولګیږي . شرح السنة او ابن ماجة .

## د لواطت سزا

(۳۴۲۰): وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ وَجَدْتُمُوْهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُوْلَ بِهِ . رواه الترمذي وابن ماجة .

حضرت عکرمـة د حضـرت ابـن عبـاس ﷺ څخـه روایت کوي چي رسـول الله ﷺ فرمـایلي دي کوم سړی چي تاسو د قوم لوط په ډول په عمل کولو ووینئ نو فاعل او مفعول دواړه ووژنئ . ترمذي او ابن ماجة .

## د حیوان سره د بد فعلۍ سزا

(۳۴۲۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى بَهِيْمَةً فَاقْتُلُوْهُ وَاقْتُلُوْهَا مَعَهُ قِيْلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَا شَأْنُ الْبَهِيْمَةِ قَالَ مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذٰلِكَ شَيْئًا وَلٰكِنْ أَرَى كَرِهَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْ لَحْمِهَا أَوْ يُنْتَفَعَ بِهَا وَقَدْ فُعِلَ بِهَا ذٰلِكَ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضـرت ابـن عبـاس ﷺ څخـه روایـت دئ چي رسـول الله ﷺ وفرمـایـل : کـوم څوك چي د حیوان سره بدفعلي وکړي هغه سړی او حیوان قتل کړئ ، ابن عباس څخه پوښتنه وسول چي په دې کي د حیوان څه قصور دئ؟ هغه وویـل پـه دې اړه مـا د رسـول الله ﷺ څخـه هـیڅ نـه دي اوریـدلي ، البتـه زما خیال دئ چي دداسي حیوان غوښه خوړل یا دډي څخه ګټه اخیستل چي بدفعلي ورسره سوې وه مکروه دي . ترمذي ،ابوداؤد او ابن ماجة .

## لواطت بدترین عمل دی

(۳۴۲۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي عَمَلُ قَوْمِ لُوْطٍ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په خپل امت کي چي د کومي خبري مـا تـه زیاتـه بیـره ده هغـه د قـوم لوط عمـل دئ . ترمذي او ابن ماجه .

## یوه کس ته دوې سزاوې

(٣٤٢٣): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَكْرِ بْنِ لَيْثٍ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَجَلَدَهُ مِائَةً وَكَانَ بِكْرًا ثُمَّ سَأَلَهُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمَرْأَةِ فَقَالَتْ كَذَبَ وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَجَلَدَهُ حَدَّ الْفِرْيَةِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې د بنې بکر د قبیلې یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او اقرار یې وکړ چې ده د یوې ښځې سره زنا کړې ده څلور واره یې وویل ، نبي کریم ﷺ هغه په دورو ووهئ ځکه چې هغه واده نه وو کړی بیا نبي کریم ﷺ شاهدان طلب کړل پر ښځه باندي ، ښځې وویل قسم په خدای دا سړی درواغجن دئ، نبي کریم ﷺ هغه سړي ته دویمه سزا د تهمت لګولو ورکړه او په دورو ووهل سو . ابوداؤد .

## پر حضرت عائشې (رض) باندي د تهمت لګونکو سزا

(٣٤٢٤): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَ عُذْرِي قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَذَكَرَ ذَالِكَ فَلَمَّا نَزَلَ مِنَ الْمِنْبَرِ أَمَرَ بِالرَّجُلَيْنِ وَالْمَرْأَةِ فَضُرِبُوا حَدَّهُمْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې کله زما د برائت (بې ګناه کېدو) په اړه آیاتونه نازل سول نو نبي کریم ﷺ پر منبر ددې یادونه وکړه بیا چې د منبر څخه راکښته سو نو دوو خلکو او یوې ښځې ته یې د تهمت ویلو سزا ورکړل . ابوداؤد .

# دریم فصل

## په زوره زنا کې یوازې زنا کونکی د حد حقدار دی

(٣٤٢٥): عَنْ نَافِعٍ أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ أَبِي عُبَيْدٍ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ عَبْدًا مِنْ رَقِيقِ الْإِمَارَةِ وَقَعَ عَلَى وَلِيدَةٍ مِنَ الْخُمُسِ فَاسْتَكْرَهَهَا حَتَّى اقْتَضَّهَا فَجَلَدَهُ عُمَرُ وَلَمْ يَجْلِدْهَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ اسْتَكْرَهَهَا . رواه البخاري .

د حضرت نافع ﷺ څخه روایت دئ چې د ابوعبید لور بي بي صفیې هغه ته بیان وکړ چې د امارت یو غلام د غنیمت د مال د یوې مینځې سره په زوره زنا وکړه او د هغې پیغلتوب یې زائل کړ ، حضرت عمر ﷺ هغه غلام ته دورې ورکړې او مینځې ته یې هیڅ سزا ورنه کړل ، ځکه چې د هغې سره په زوره زنا سوې وه . بخاري .

## د ماعز بن مالک پېښه

(٣٤٢٦): وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمِ بْنِ هَزَّالٍ عَنْ أَبِيهِ

حضرت یزید بن نعیم بن هزال د خپل پلار څخه

قَالَ كَانَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ يَتِيمًا فِي حِجْرِ أَبِي فَأَصَابَ جَارِيَةً مِنَ الْحَيِّ فَقَالَ لَهُ أَبِي ائْتِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبِرْهُ بِمَا صَنَعْتَ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ لَكَ وَإِنَّمَا يُرِيدُ بِذَلِكَ رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ لَهُ مَخْرَجًا فَأَتَاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللّٰهِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ فَعَادَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللّٰهِ حَتَّى قَالَهَا أَرْبَعَ مِرَارٍ قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ قَدْ قُلْتَهَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَبِمَنْ قَالَ بِفُلَانَةَ فَقَالَ هَلْ ضَاجَعْتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ بَاشَرْتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ جَامَعْتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ فَأُخْرِجَ بِهِ إِلَى الْحَرَّةِ فَلَمَّا رُجِمَ فَوَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ جَزِعَ فَخَرَجَ يَشْتَدُّ فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُنَيْسٍ وَقَدْ عَجَزَ أَصْحَابُهُ فَنَزَعَ لَهُ بِوَظِيفِ بَعِيرٍ فَرَمَاهُ بِهِ فَقَتَلَهُ ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ لَعَلَّهُ أَنْ يَتُوبَ فَيَتُوبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ . رواه ابوداؤد.

روایت کوي چي ماعز بن مالك ﷺ یتیم وو ، زما پلار د هغه روزنه کړې وه ، هغه د قبیلې د یوې مینځې سره زنا وکړه ، زما پلار هغه ته وویل چي ته نبي کریم ﷺ ته ورسه، او پښېنه ورته بیان کړه، کیدای سي رسول الله ﷺ ستا د بخښني دعاء وکړي ، زما د پلار مقصد رسول الله ﷺ ته د لیږلو یوازې همدغه وو چي دده د ګناه د تلافي یو سبب راووځي ، ماعز د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي اې دالله رسوله ! ما زنا کړې ده تاسو د کتاب الله حکم پر ما جاري کړئ ، رسول الله ﷺ د هغه څخه مخ واړوئ هغه بیا د رسول الله ﷺ مخته راغلئ او وه یې ویل اې دالله رسوله ! ما زنا کړې ده پر ما باندې د الله حد قائم کړئ ، هغه همداسي څلور واره د خپلې زنا اقرار وکړي ، رسول الله ﷺ وویل تا خو څلور واره وویل اوس ووایه چي تا د چا سره زنا کړې ده ، هغه عرض وکړ د فلانۍ ښځې سره ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا ته ورسره په څنګ سوی وې هغه وویل هو، بیا رسول الله ﷺ وویل : ایا تا د هغې سره معانقه (غاړه په غاړه کېدل) کړې وه ، هغه عرض وکړ چي هو ، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا تا د هغې سره جماع هم کړې ده ؟ هغه عرض وکړ چي هو، د راوي بیان دئ ددې وروسته رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ ، هغه د مدینې د بریني مځکي ته بوتلل سو او رجم پیل سو ، کله چي هغه د ډبرو ویشتل برداشت نه کړل نو هغه چغې کړې او وه تښتېدئ ، په لاره کي عبدالله بن انیس ﷺ ورسره یو ځای سو د هغه ملګري ستړي سوي وه یا دا چي د ماعز سنګسارونکي په ډبرو ویشتلو ستړي سوي وه ، عبدالله د اوښ د پښې هډوکي پورته کړ او په هغه یې ماعز وویشتئ ، تر څو چي هغه یې مړ کړ ، بیا عبدالله بن انیس د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پښېنه یې عرض کړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : کاش چي تاسو هغه پرې ایښی وای کیدای سوه چي هغه توبه کړې

واى او الله تعالى د هغه توبه قبوله كړې واى . ابوداؤد .

**د زنا د زياتوب وبال**

(۳۴۲۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيهِمُ الزنا إِلَّا أُخِذُوا بالسَّنَة وَمَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيهِمُ الرُّشَا إِلَّا أُخِذُوا بِالرُّعْب . رواه احمد.

د حضرت عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې په كوم قوم كې زنا ښرګنده سي (يعني خپره سي) نو هغه قوم په قحط (وچ كالى) كې اخته كيږي او په كوم قوم كې چې رشوت خپور سي پر هغوئ رعب غالب سي . احمد.

**لواطت د لعنت باعث دى**

(۳۴۲۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَلْعُونٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ . رواه رزين، وفي رواية له عن ابن عباس أَنَّ عَلِيًّا أَحْرَقَهُمَا وَأَبَا بَكْرٍ هَدَمَ عَلَيْهِمَا حَائِطًا .

د حضرت ابن عباس او ابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې د لوط د قوم عمل (يعني لواطت) كوي هغه ملعون دئ ، رزين ، او دابن عباس په روايت كې دا الفاظ چې حضرت علي ﷺ د لواطت فاعل او مفعول وسوځل او حضرت ابوبكر ﷺ پر هغوئ ديوال ونړوئ .

(۳۴۲۹): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ إِلَى رَجُلٍ أَتَى رَجُلًا أَوْ امْرَأَةً فِي دُبُرِهَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى هغه سړي ته د رحمت په نظر نه ګوري چې د سړي يا ښځي سره لواطت كوي. ترمذي، دا حديث حسن غريب دئ .

**د حيوان سره بد فعلي**

(۳۴۳۰): وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ .رواه الترمذي وأبو داود وقال الترمذي : عن سفيان الثوري أنه قال : وهذا أصح من الحديث الأول وهو : " من أتى بهيمة فاقتلوه " والعمل على هذا عند أهل العلم .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې څوك د حيوان سره بد فعلي وكړي پر هغه شرعي حد نسته ، ترمذي ، ابوداؤد ، ترمذي ويلي دي چې د سفيان ثوري بيان دئ چې دا حديث د لومړني حديث څخه چې په هغه كې د حيوان سره د بدفعلى كونكي د وژلو حكم دئ زيات صحيح دئ او د علماء پر دي عمل دئ .

**په حد جاري کولو کي فرق مه کوئ**

(۳۴۳۱): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقِيمُوا حُدُودَ اللّٰهِ فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ وَلَا تَأْخُذُكُمْ فِي اللّٰهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ . رواه ابن ماجة .

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په قریب او بعید (یعني نژدې او لیري تولو قریبانو کي) حدود الهي جاري کړئ په دې کي د ملامت کونکي پروا مه کوئ. ابن ماجه

**د حد جاري کولو دوې فائدې**

(۳۴۳۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِقَامَةُ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فِي بِلَادِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ . رواه ابن ماجة و رواه النسائي عن ابوهريرة.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷺ د حدودو څخه د یو حد جاري کول تر دې غوره دي چي په ښارونو کي څلوېښت ورځي پرله پسې د رحمت باران اوریږي.

ابن ماجة او نسائي دا حدیث د حضرت ابوهریره څخه روایت کړئ دی.

# بَابُ قَطْعِ السَّرِقَةِ (د غله د لاس پرېکولو بیان)

## لومړی فصل

**د امام شافعي رحمه الله مستدل حدیث**

(۳۴۳۳): عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُقْطَعُ يَدُ السَّارِقِ إِلَّا بِرُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا . متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: لاس دي نه پرې کیږي د غل مگر په څلورمه د دینار او یا تر دې زیات کي. بخاري او مسلم.

**د سپر د قیمت په تعین کي اختلافي اقوال**

(۳۴۳۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ سَارِقٍ فِي مِجَنٍّ ثَمَنُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د سپر په غلا چي د هغه بیه درې درهمه وه د غله لاس پرې کړ. بخاري او مسلم.

**د تولو امامانو د مذهب خلاف یو حدیث**

(۳۴۳۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ السَّارِقَ يَسْرِقُ الْبَيْضَةَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ وَيَسْرِقُ الْحَبْلَ فَتُقْطَعُ يَدُهُ . متفق عليه.

الله ﷺ وفرمايل: پر غله دي د الله تعالى لعنت وي چي هگۍ پټوي او د هغه لاس دي پرې کړل سي او يا سى غلا کوي نو د هغه لاس دي پرې کړل سي . بخاري او مسلم.

## دويم فصل

### د ميوو پر غلا سزا د لاس پرېکول سته که يا؟

(٣٤٣٦): عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ . رواه مالك والترمذي وابوداؤد والنسائي و الدارمي وابن ماجة .

د حضرت رافع بن خديج ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د درختو د ميوو او د سپينو خرماوو په غلا کي لاس نه پرې کيږي. ابوداؤد ، مالك، ترمذي، نسائي ، دارمي، او ابن ماجه.

(٣٤٣٧): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ قَالَ مَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ . رواه ابوداؤد والنسائي .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار عبدالله بن عمرو بن العاص ﷛ څخه روايت کوي چي د رسول الله ﷺ څخه د ميوو په اړه پوښتنه وسول چي پر درخته زړيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي ميوه هغه وخت غلا کړي چي هغه د درختو څخه شکول سوې وي او جمع کړې يې وي او د هغه ميوو بيه د يوه سپر بيي ته ورسيږي نو د هغه لاس دي پرېکړل سي . ابوداؤد او نسائي.

### پر غير مملوکه غرني حيوانانو باندي د غلا اطلاق نه کيږي

(٣٤٣٨): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ الْمَكِّيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ مُعَلَّقٍ وَلَا فِي حَرِيسَةِ جَبَلٍ فَإِذَا آوَاهُ الْمُرَاحُ أَوِ الْجَرِينُ فَالْقَطْعُ فِيمَا يَبْلُغُ ثَمَنَ الْمِجَنِّ . رواه مالك .

د حضرت عبدالله بن عبد الرحمن بن ابي حسين مکي ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په درختو کي د زړېدلو ميوو پر غلا باندي لاس نسي پرې کېدلاى او نه پر غره د څرېدونکي حيوان پر غلا باندي ، البته چي حيوان د هغه په خاى کي تړل سوى وي او يا ميوه شکول سوې يو خاى پرته وي لکه (درمند) او بيا غلا کړل سي نو دغلا مال که د سپر بيي ته ورسيږي نو لاس دي پرې کړل سي . مالك .

## د ډاکو سزا دلاس پرېکول نه دي

(۳۴۳۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ عَلَى الْمُنْتَهِبِ قَطْعٌ وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً مَشْهُورَةً فَلَيْسَ مِنَّا . رواه ابوداؤد .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي د چا مال په زوره واخلي د هغه لاس نسي پرې کېدلای او څوك چي په ښکاره خلك لوټ کړي هغه زموږ څخه نه دئ. ابوداؤد .

## خائن د لاس پرېکولو حقدار نه دي

(۳۴۴۰): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ عَلَى خَائِنٍ وَلَا مُنْتَهِبٍ وَلَا مُخْتَلِسٍ قَطْعٌ .رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي وَرَوَى فِي شَرْحِ السُّنَّةِ أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فَنَامَ فِي الْمَسْجِدِ وَتَوَسَّدَ رِدَاءَهُ فَجَاءَ سَارِقٌ وَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَأَخَذَهُ صَفْوَانُ فَجَاءَ بِهِ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ أَنْ تُقْطَعَ يَدُهُ فَقَالَ صَفْوَانُ إِنِّيْ لَمْ أُرِدْ هٰذَا هُوَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلَّا قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَنِيْ بِهِ ، وروى نحوه ابن ماجه عن عبد الله بن صفوان عن أبيه والدارمي عن ابن عباس .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خیانت کونکي، لوټ کونکي او چمباز لاس پرې کول نسته. ترمذي، نسائي، ابن ماجة، دارمي او په شرح السنة کي دا روایت دئ چي صفوان بن امیه مدینې ته راغلئ او په یوه مسجد کي یې پټو تر سر لاندي کېښېنودئ او بیده سو، غل راغلی او د هغه پټو یې پټ کړ، صفوان هغه غل ونیوئ او د نبي کریم ﷺ په خدمت کي یې حاضر کړ، رسول الله ﷺ حکم وکړ چي د هغه لاس پرې کړل سي، صفوان عرض وکړ ما ددې لپاره تاسو ته نه دی راوستلی چي تاسو دده لاس پرې کړئ ما خپل څادر ده ته صدقه کړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل دلته د راوستو څخه وړاندي دي ولې خپل څادر نه ورته صدقه کوئ. ابن ماجه د عبدالله بن صفوان څخه او هغه د خپل پلار څخه او دارمي د حضرت ابن عباس څخه روایت کړی دئ.

## د جهاد په سفر کي دي د غله لاس نه پرې کېږي

(۳۴۴۱): وَعَنْ بُسْرِ بْنِ أَرْطَاةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا تُقْطَعُ الْأَيْدِيْ فِي الْغَزْوِ. رواه الترمذي والدارمي وأبو داود والنسائي إلا أنهما قالا في السفر بدل الغزو .

د حضرت بسر بن ارطاة ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمایل یې: په جهاد کي لاسونه مه پرې کوئ. ترمذي، دارمي، ابوداؤد، نسائي، مګر دوئ دواړو د غزا پر ځای د سفر الفاظ نقل کړي دي.

## په دوهم او دريم وار د غلا كولو سزا

(۳۴۴۲): وَعَنْ أَبِيْ سَلْمَةَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي السَّارِقِ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْا يَدَهُ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْا رِجْلَهُ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْا يَدَهُ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوْا رِجْلَهُ . رواه في شرح السنة.

د حضرت ابو سلمة او ابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي غل غلا وكړي نو د هغه لاس پرې كړئ بيا چي غلا وكړي نو پښه يې پرې كړئ بيا چي غلا وكړي نو بل لاس يې پرې كړئ بيا چي غلا وكړي نو بله پښه يې پرې كړئ . شرح السنة .

(۳۴۴۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ جِيءَ بِسَارِقٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اقْطَعُوْهُ فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّانِيَةَ فَقَالَ اقْطَعُوْهُ فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّالِثَةَ فَقَالَ اقْطَعُوْهُ فَقُطِعَ ثُمَّ أُتِيَ بِهِ الرَّابِعَةَ فَقَالَ اقْطَعُوْهُ فَقُطِعَ فَأُتِيَ بِهِ الْخَامِسَةَ فَقَالَ اقْتُلُوْهُ فَانْطَلَقْنَا بِهِ فَقَتَلْنَاهُ ثُمَّ اجْتَرَرْنَاهُ فَأَلْقَيْنَاهُ فِي بِئْرٍ وَرَمَيْنَا عَلَيْهِ الْحِجَارَةَ . رواه ابوداؤد والنسائي و روي في شرح السنة في قطع السارق عن النبي صلى الله عليه وسلم اقطعوه ثم احسموه .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي يو غل رسول الله ﷺ ته راوستل سو ، رسول الله ﷺ حكم وكړ چي لاس يې پرې كړئ ، نو د هغه لاس پرې كړل سو ، هغه بيا دوهم وار راوستل سو ، نو رسول الله ﷺ حكم وكړ چي دده پښه پرې كړئ ، په دريم وار هغه په غلا كي راوستل سو ، نو رسول الله ﷺ حكم وكړ چي دده لاس پرې كړئ ، دهغه لاس پرې كړل سو ، په څلورم وار چي بيا په غلا كي راوستل سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل دده پښه پرې كړئ نو پښه يې پرې كړل سول ، په پنځم وار په غلا كي راوستل سو نو رسول الله ﷺ حكم وكړ چي دى دي قتل كړل سي نو هغه قتل كړل سو بيا موږ د هغه مړى راوړ او په څاه كي مو وغورزوئ او سربيره مو په ډبرو وويشتئ ، ابوداؤد ، نسائي ، او په شرح السنة كي د غله د لاس پرې كولو په اړه د رسول الله ﷺ څخه دا الفاظ منقول دي چي د هغه لاس پرې كړئ او په ګرمو تيلو كي يې داغ كړئ .

## د غله پرې سوى لاس د هغه په غاړه ګول

(۳۴۴۴): وَعَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ أُتِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ فَقُطِعَتْ يَدُهُ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَعُلِّقَتْ فِي عُنُقِهِ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

د حضرت فضالة بن عبيد ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په خدمت كي يو غل راوستل سو ، د رسول الله ﷺ د حكم سره د هغه غله لاس پرې كړل سو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه لاس

پرې کړئ او د هغه په غاړه کې یې واچوئ. ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

**غل غلام خرڅ کړئ**

| | |
|---|---|
| (۳۴۴۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَرَقَ الْمَمْلُوكُ فَبِعْهُ وَلَوْ بِنَشٍّ. رواه ابوداؤد والنسائي و ابن ماجة. | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که غلام غلا وکړي نو هغه خرڅ کړئ که څه هم په یوه نش خرڅ سي. نش: نیمي اوقیې ته ویل کیږي چې شل درهمه کیږي. |

ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

## دریم فصل

**د مجرم د معافولو حق حاکم ته نه سته**

| | |
|---|---|
| (۳۴۴۶): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُتِيَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ فَقَطَعَهُ فَقَالُوا مَا كُنَّا نُرَاكَ تَبْلُغ بِهِ هٰذَا قَالَ لَوْ كَانَتْ فَاطِمَةَ لَقَطَعْتُهَا. رواه النسائي. | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې یو غل راوستل سو، رسول الله ﷺ د هغه د لاس پرې کولو حکم وکړ، صحابه کرامو عرض وکړ چې زموږ دا خیال نه وو |

چې تاسو به دده لاس پرې کړئ، رسول الله ﷺ وفرمایل: که فاطمه هم وای نو ما به د هغې لاس پریکړی وای. نسائي.

**که غلام د خپل مالک غلا وکړي نو د هغه لاس نه پرې کیږي**

| | |
|---|---|
| (۳۴۴۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بِغُلَامٍ لَهُ فَقَالَ اقْطَعْ يَدَهُ فَإِنَّهُ سَرَقَ مِرْآةً لِامْرَأَتِي فَقَالَ عُمَرُ لَا قَطْعَ عَلَيْهِ وَهُوَ خَادِمُكُمْ أَخَذَ مَتَاعَكُمْ. رواه مالك. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې حضرت عمر ﷺ ته یو کس خپل غلام راوستی چې ده زما د ښځې څخه هنداره غلا کړې ده تاسو دده لاس پریکړئ، حضرت عمر ﷺ ورته وویل دده لاس |

پریکول واجب نه دي دا ستا خادم دئ ستا شی یې اخیستی دئ. مالك

**د کفن کښ سزا**

| | |
|---|---|
| (۳۴۴۸): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل: اې ابوذره! ما وویل حاضر یم تا ته اې رسوله د خدای ﷺ او فرمان بردار ه دي یم، رسول الله ﷺ وفرمایل: ته به هغه |

مَوْتٌ يَكُونُ الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ يَعْنِي الْقَبْرَ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ عَلَيْكَ بِالصَّبْرِ قَالَ حَمَّادُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ تُقْطَعُ يَدُ النَّبَّاشِ لِأَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الْمَيِّتِ بَيْتَهُ . رواه ابوداؤد .

وخت څه کوې چي خلکو ته مرګ (وبا) ورسيږي ، او د کور (يعني د قبر ځای) بيه د يوه غلام د بيې سره برابره سي ، ما عرض وکړ چي الله او د هغه رسول ښه پوهيږي (چي هغه وخت به زما څه حال وي)، رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه وخت به پر تا صبر لازم وي، ددې حديث يو راوي حماد بن ابي سليمان وايي د کفن د غله لاس دي پريکړل سي ځکه چي هغه د مړي په کور کي داخل سو . ابوداؤد.

# بَابُ الشَّفَاعَةِ فِي الْحُدُوْدِ

## (په شرعي سزاوو کي د سفارش بيان)

## لومړی فصل

**په حدودو کي سفارش نه سته**

(۳۴۲۹): عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ فَقَالُوا وَمَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللّٰهِ ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ ثُمَّ قَالَ إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللّٰهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا . متفق عليه و في رواية لمسلم قَالَتْ كَانَتِ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُقْطَعَ يَدُهَا فَأَتَى أَهْلُهَا أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي قريش د مخزوميي ښځي په اره ډير فکر مند وه چي هغې غلا کړې وه (او نبي کريم ﷺ د هغې د لاس پرې کولو حکم کړی وو)، قريشو فکر وکړ چي په دې اره به څوک د رسول الله ﷺ سره خبري وکړي، ځيني خلکو وويل حضرت اسامه بن زيد ﷺ چي د رسول الله ﷺ ډير محبوب دئ ، نو حضرت اسامه د رسول الله ﷺ سره ددې خبري يادونه وکړه ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل : ته د الله په حدودو کي سفارش کوې ، د دې په فرمايلو سره رسول الله ﷺ ولاړ سو او دخلکو په وړاندي يې خطبه ورکړل بيا يې وفرمايل : ستاسو څخه وړاندني امتونه په دې هلاك سول چي په هغوی کي به يو لوی سړي غلا وکړل نو هغه به يې پرېښودئ او کله چي به يو کمزوري

| | |
|---|---|
| فَكَلَّمُوْهُ فَكَلَّمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا ثُمَّ ذَكَرَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ مَا تَقَدَّمَ . | سري غلا وکړه نو هغه ته به يې سزا ورکړه ، قسم په الله که زما خپل لور فاطمه غلا وکړي نو زه |

به د هغې لاس هم پريکړم، بخاري او مسلم، د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د بي بي عائشې بيان دئ چي يوې مخزومي ښځي به عاريتا د يو چا څخه شی واخيستئ بيا به يې د ورکولو څخه انکار کوی ، نبي کريم ﷺ د هغې د لاس پريکولو حکم وکړ د ښځي خپلوان حضرت اسامه ته راغلل د هغه سره يې په دې اړه خبري وکړې، حضرت اسامه نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ ددې وروسته پورتني حديث دئ .

## دريم فصل

**په حد کي سفارش کونکی گويا د الله ﷻ د حکم مخالفت کونکی دی**

| | |
|---|---|
| (۳۴۵۰): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُوْنَ حَدٍّ مِنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ فَقَدْ ضَادَّ اللّٰهَ وَمَنْ خَاصَمَ فِي بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ لَمْ يَزَلْ فِي سَخَطِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْزِعَ وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ مَا لَيْسَ فِيهِ أَسْكَنَهُ اللّٰهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ حَتّٰى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ. رواه احمد و ابوداؤد و في رواية البيهقي في شعب الايمان مَنْ أَعَانَ عَلٰى خُصُوْمَةٍ لاَ يَدْرِيْ أَحَقٌّ أَمْ بَاطِلٌ فَهُوَ فِيْ سَخَطِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْزِعَ . | د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د چا سفارش د الله تعالی په حدود قائمولو کي حائل وګرځي هغه د الله تعالی سره ضد وکړ او چا چي په ناحقه او درواغ خبره کي جګړه وکړه او هغه د هغه د ناحق کېدو څخه خبر وي هغه هميشه د الله تعالی په غضب کي وي ، تر څو پوري چي د هغه څخه منع نسي او څوک چي د يو مسلمان په اړه يوه داسي خبره وکړي چي په هغه کي نه وي نو هغه تر هغه وخته پوري دوږخيانو په نوونو |

او وينو کي وي تر څو پوري چي د هغه څخه توبه ونه کړي . احمد، ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان کي ليکلي دي څوک چي د يوې داسي جګړې مرسته وکړي چي د هغه د حق او ناحق کېدو هغه ته خبر نه وي نو هغه تر هغه وخته پوري په الهي غضب کي وي تر څو پوري چي د هغه څخه منع نسي .

**د غلا پر اقرار سزا**

| | |
|---|---|
| (۳۴۵۱): وَعَنْ أَبِي أُمَيَّةَ الْمَخْزُوْمِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلِصٍّ قَدِ اعْتَرَفَ اعْتِرَافًا | د حضرت ابو اميه المخزومي ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ته يو غل راوستل سو چي هغه |

وَلَمْ يُوجَدْ مَعَهُ مَتَاعٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا إِخَالُكَ سَرَقْتَ قَالَ بَلٰى فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذَالِكَ يَعْتَرِفُ فَأَمَرَ بِه فَقُطِعَ وَجِيءَ بِه فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَغْفِرْ اللّٰهَ وَتُبْ إِلَيْهِ فَقَالَ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ ثَلَاثًا . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي هكذا وجدت في الاصول الاربعة و جامع الاصول وشعب الايمان ومعالم السنن عن ابي امية و في نسخ المصابيح عن ابي رمثة بالراء والثاء المثلثة بدل الهمزة والياء .

په ښکاره الفاظو سره د خپل غلا اقرار وکړ مګر د هغه سره د غلا مال تر لاسه نه سو ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : زما خيال دئ چي تا غلا نه ده کړې ، هغه وويل : ولي نه هو ما غلا کړې ده ، رسول الله ﷺ دويم دريم وار ورته داسي وفرمايل او هغه هر وار د غلا اقرار وکړ ، په پای کي رسول الله ﷺ د هغه د لاس پريکولو حکم وکړ ، د لاس پريکولو څخه وروسته هغه رسول الله ﷺ ته راوستل سو ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل د الله څخه بخښنه وغواړه او توبه وکړه ، هغه وويل : زه د الله څخه بخښنه غواړم او توبه کوم ، رسول الله ﷺ دري واره وفرمايل : اي الله ! د ده توبه قبوله کړې . ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجة ، دارمي ، ما په اصول اربعه ، جامع الاصول ، شعب الايمان او د مصابيحو په نسخو کي د ابي رمثه په حوالې سره همداسي تر لاسه کړی دئ چي رمثه په راء او ثاء مثلثه سره پر ځای د همزه او ياء دی .

# بَابُ حَدِّ الْخَمْرِ

## (د شرابو چیښلو د حد بیان)

## لومړی فصل

### د رسول الله ﷺ په زمانه کې د شرابو زنا

(۳۴۵۲): عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيْدِ وَالنِّعَالِ وَجَلَدَ أَبُوْ بَكْرٍ أَرْبَعِيْنَ ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَضْرِبُ فِي الْخَمْرِ بِالنِّعَالِ وَالْجَرِيْدِ أَرْبَعِيْنَ .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د شرابو چیښلو په سزا کې د خرماوو په لښتو او په چپلانو د وهلو حکم ورکړ او ابوبکر صدیق ﷺ (په خپل خلافت کې) څلویښت دورې وهل کړي وه، او د حضرت انس ﷺ په یوه بل روایت کې د االفاظ دي چې نبي کریم ﷺ به وهلو په حد د شرابو کې په چپلکو او لښتو د خرما څلویښت واره .

### اتیا دورې سزا د صحابه کرامو په زمانه کې وټاکل سول

(۳۴۵۳): وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ كَانَ يُؤْتَى بِالشَّارِبِ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِمْرَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ فَنَقُوْمُ إِلَيْهِ بِأَيْدِيْنَا وَنِعَالِنَا وَأَرْدِيَتِنَا حَتّٰى كَانَ آخِرُ إِمْرَةِ عُمَرَ فَجَلَدَ أَرْبَعِيْنَ حَتّٰى إِذَا عَتَوْا وَفَسَقُوْا جَلَدَ ثَمَانِيْنَ . رواه البخاري .

د حضرت سائب ﷺ څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې د حضرت ابوبکر د خلافت په ورځو کې او د حضرت عمر د خلافت په پیل کې چې به شراب چیښونکی ونیول سو نو موږ به په خولیو ، لاسونو ، چپلانو او خادرونو سره وهئ ، بیا چې د حضرت عمر ﷺ د خلافت آخري دور سو نو د څلویښت دورو حد و ټاکل سو ، او هر کله چې د شراب چیښونکو شمیر زیات سو نو د هغه سزا اتیا دورې و ټاکل سول . بخاري .

## دويم فصل

### د شرابي د قتل کولو حکم منسوخ دی

(۳۴۵۴): عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوْهُ فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوْهُ قَالَ ثُمَّ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الرَّابِعَةِ فَضَرَبَهُ وَلَمْ يَقْتُلْهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد عن قبيصة بن دوايب و في اخرى لهما و للنسائي وابن ماجة والدارمي عن نفر من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم منهم ابن عمر ومعاوية و ابو هريرة والشريد الى قوله فاقتلوه .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي شراب وڅښي هغه په دورو ووهئ او څوك چي په څلورم وار په شرابو څښلو وليدل سي هغه قتل کړئ، د راوي بيان دئ ددې وروسته نبي کريم ﷺ ته يو سړی راوستل سو چي هغه په څلورم وار شراب څښلي وه، رسول الله ﷺ هغه هم ووهئ او قتل يې نه کړ، ترمذي، ابوداؤد د قبيصه بن ذويب څخه او د ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجة او دارمي په يو بل روايت کي د صحابه کرامو يو ټولی (چي حضرت عمر، حضرت معاويه، حضرت ابوهريرة او شريد شامل دي) د رسول الله ﷺ څخه تر (فاقتلوه) پوري دا حديث بيان کړی دئ.

### د شرابي تحقير

(۳۴۵۵): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَزْهَرَ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ إِذْ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَقَالَ لِلنَّاسِ اضْرِبُوْهُ فَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالنِّعَالِ وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْعَصَا وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْمِيتَخَةِ قَالَ ابْنُ وَهْبٍ الْجَرِيدَةُ الرَّطْبَةُ ثُمَّ أَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرَابًا مِنَ الْأَرْضِ فَرَمَى بِهِ فِي وَجْهِهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عبد الرحمن بن ازهر ﷺ څخه روايت دئ چي زه لکه هغه ننداره چي اوس هم د خپلو سترګو په وړاندي وينم چي ما يو وار ليدلي وه او هغه دا چي يو سړی چي هغه شراب څښلي وه نبي کريم ﷺ ته راوستل سو، رسو ل الله ﷺ خلکو ته وفرمايل چي دی ووهئ، په موږ کي څينو هغه په څپلانو ووهئ څيني په لکړو ووهئ، څيني د خرماوو په څانګو ووهئ، ابو وهب د (ميتخة) معنا د خرماوو په لندو لښتو کړې ده، بيا رسول الله ﷺ د مځکي څخه خاوره پورته کړه او د هغه پر مخ يې وپاشل. ابوداؤد.

### شرابي ته سزا ورکړئ مګر هغه ته ښيرا مه کوئ

(۳۴۵۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَقَالَ اضْرِبُوهُ فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهِ ثُمَّ قَالَ بَكِّتُوهُ فَأَقْبَلُوا عَلَيْهِ يَقُولُونَ مَا اتَّقَيْتَ اللّٰهَ مَا خَشِيتَ اللّٰهَ وَمَا اسْتَحْيَيْتَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ أَخْزَاكَ اللّٰهُ قَالَ لَا تَقُولُوا هٰكَذَا لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ وَلٰكِنْ قُولُوا اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ . رواه ابوداؤد .

رسول الله ﷺ ته يو سړی راوستل سو چي هغه شراب چښلي وه ، رسول الله ﷺ حكم وكړ دی ووهئ نو په موږ كي ځينو هغه په لاسونو ووهئ، ځيني په جامو ووهئ او ځيني په چمپلانو ووهئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ده ته زورونه او پيغور وركړئ نو خلك د هغه په لور متوجه سول او ورته وه يې ويل ته د الله څخه نه بيريدئ د الله د عذاب خيال نه درته راتلئ او د رسول الله ﷺ څخه دي هم شرم ونه كړ او ځينو خلكو ورته دا هم وويل الله دي تا ذليل او رسوا كړي . (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : داسي مه واياست او شيطان ته په دې خبره سره مرسته مه كوئ بلكه داسي واياست اې الله دی و بخښې او پر ده رحم وكړې . ابوداؤد .

## د جرم د ثبوت پرته سزا نه سته

(۳۴۵۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَرِبَ رَجُلٌ فَسَكِرَ فَلُقِيَ يَمِيلُ فِي الْفَجِّ فَانْطُلِقَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا حَاذَى دَارَ الْعَبَّاسِ انْفَلَتَ فَدَخَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ فَالْتَزَمَهُ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ وَقَالَ أَفَعَلَهَا وَلَمْ يَأْمُرْ فِيهِ بِشَيْءٍ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي شراب وچښل او نشه سو ، او خلكو په لاس كي په داسي حال كي وليدئ چي په تالي وهلو سره تلئ خلكو هغه ونيوئ او رسول الله ﷺ ته يې حاضر كړ كله چي د حضرت عباس ﷺ د كور مخته ته ورسيدل نو هغه د خلكو د لاسڅخه خان خلاص كړ او د حضرت عباس سره جخت (يو ځاى) سو (يعني د هغه څخه يې سفارش وغوښتئ) هر كله چي نبي كريم ﷺ ته د هغه يادونه وسول نو رسول الله ﷺ وخندل او وه يې فرمايل : ښه هغه داسي وكړل او د هغه په اړه يې څه ونه كړل . ابوداؤد.

## دريم فصل

**خوک چي په سزا ورکولو کي مړ سي د هغه ديت واجب نه دی**

(٣٤٥٨): عَنْ عُمَيْرَ بْنَ سَعِيد النَّخعيُّ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يقول مَا كُنْتُ لأقِيمَ على حَدًّا أحَد فَيَمُوتَ فَأجدَ فِي نَفْسي منه شيئا إلّا صَاحِبَ الْخَمْرِ فَإنَّهُ لَوْ مَاتَ وَدَيْتُهُ وَذَلكَ أنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّهُ . متفق عليه.

د حضرت عمير بن سعيد نخعي ﷺ څخه روايت دئ چي ما د حضرت علي ﷺ څخه دا اوريدلي دي هر کله چي زه پر يو سړي شرعي حد قائم کړم او هغه په هغه سزا کي مړ سي نو پر ما د هغه هيڅ اثر نسته البته د شراب چښنلو سزا کي که هغه مړ سي نو د هغه به زه ديت ورکوم او دا له دې کبله چي نبي کريم ﷺ د شرابو چښونکي لپاره يوه خاصه سزا نه ده ټاکلې . بخاري او مسلم .

**د حضرت عمر ﷺ له خوا د شراب څښونکي سزا**

(٣٤٥٩): وَعَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْد الدِّيلِيِّ أنَّ عُمَرَ اسْتَشَارَ فِي حَدِّ الْخَمْرِ فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ أرٰى أنْ تَجْلِدَهُ ثَمَانِينَ فَإنَّهُ إذَا شَرِبَ سَكِرَ وَإذَا سَكِرَ هَذَى وَإذَا هَذَى افْتَرَى فَجَلَدَ عُمَرُ فِي الْخَمْرِ ثَمَانِينَ . رواه مالك .

د حضرت ثور بن زيد الديلمي ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت عمر ﷺ د شرابو چښنلو سزا په ټاکلو کي د صحابه کرامو څخه مشوره واخيستل ، نو حضرت علي ﷺ وويل زما په رايه کي اتيا دوري پکار دي ځکه چي کوم وخت سړی شراب وچښي نو مست سي او هر کله چي مست سي نو پوچ وايي او کله چي پوچ وايي نو بهتان لګوي ، حضرت عمر ﷺ دا مشوره قبوله کړه او د شرابو چښنلو سزا يې اتيا دوري و ټاکلې . مالك .

# بَابُ مَا لاَ يُدْعٰى عَلَى الْمَحْدُوْدِ

## (په شرعي سزاور کولو کي د ښراوو نه کولو بيان)

## لومړی فصل

**پر يو گناه کار باندي لعنت ويل جائز نه دي**

(۳۴۶۰): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلًا اسْمُهُ عَبْدَ اللّٰهِ يُلَقَّبُ حِمَارًا كَانَ يُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَلَدَهُ فِي الشَّرَابِ فَأُتِيَ بِهِ يَوْمًا فَأَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ اللّٰهُمَّ الْعَنْهُ مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتَى بِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْعَنُوهُ فَوَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ إِنَّهُ يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ . رواه البخاري .

د حضرت عمر بن الخطاب ﷛ څخه روايت دئ چي يو سړی چي نوم يې عبدالله او لقب يې حمار وو هغه به رسول الله ﷺ په خپلو خبرو سره خندوئ، رسول الله ﷺ پر هغه د شرابو چښلو په علت کي (يو وار) حد قائم کړی وو بيا په بله يوه ورځ د شرابو چښلو په علت کي راوستل سو او رسول الله ﷺ پر هغه د درو وهلو حکم ولګوئ، يو سړي وويل اې الله پر ده لعنت وکړې په څو څو واره دی د شرابو چښلو په جرم کي راوستل کيږي، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: پر ده لعنت مه کوئ په الله دي مي قسم وي زه پوهېږم چي دا سړی د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه لري. بخاري.

(۳۴۶۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ فَقَالَ اضْرِبُوهُ فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ أَخْزَاكَ اللّٰهُ قَالَ لَا تَقُولُوا هٰكَذَا لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته يو سړی راوستل سو چي هغه شراب چښلي وه، رسول الله ﷺ وفرمايل دی ووهئ، په موږ کي ځينو هغه په لاسونو ووهئ ځينو په څپليو، بيا چي هغه سړی ولاړی نو ځيني خلکو وويل الله دي تاذليل او رسوا کړي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: داسي مه واياست شيطان پر ده مه غالب کوئ. بخاري.

## دویم فصل

**کوم مجرم چي سزا وخوري د هغه سپکتیا مه کوئ**

(۳۴۶۲): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ الْاَسْلَمِيُّ اِلَى نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ اَنَّهُ أَصَابَ امْرَأَةً حَرَامًا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ فَأَقْبَلَ فِي الْخَامِسَةِ فَقَالَ أَنِكْتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ حَتَّى غَابَ ذَلِكَ مِنْكَ فِي ذَلِكَ مِنْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِي الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِي الْبِئْرِ قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ تَدْرِي مَا الزِّنَا قَالَ نَعَمْ أَتَيْتُ مِنْهَا حَرَامًا مَا يَأْتِي الرَّجُلُ مِنْ اَهْلِهِ حَلَالًا قَالَ فَمَا تُرِيدُ بِهَذَا الْقَوْلِ قَالَ أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ انْظُرْ إِلَى هَذَا الَّذِي سَتَرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ فَسَكَتَ عَنْهُمَا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً حَتَّى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ فَقَالَ أَيْنَ فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَقَالَا نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ انْزِلَا فَكُلَا مِنْ جِيفَةِ هَذَا الْحِمَارِ فَقَالَا يَا نَبِيَّ اللّٰهِ مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هَذَا قَالَ فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ الْآنَ لَفِي أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْغَمِسُ فِيهَا . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي ماعز اسلمي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو شاهدي يې وويل پر خپل ځان چي دی رسيدلی دی يوې ښځي ته په حرام سره او داسي يې څلور واره وويل، رسول الله ﷺ د هغه څخه مخ واړوئ مګر څه وخت چي هغه په پنځم وار اقرار وکړ نو رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه ايا تا د هغې ښځي سره جماع کړې ده ؟ هغه وويل چي هو، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه تا دهغې سره داسي جماع وکړه چي هغه غائب سو (يعني ستا خاص اندام د هغې په خاص اندام کي داخل سو) هغه عرض وکړ چي هو، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه ايا ستا خاص اندام د هغې په خاص اندام کي غائب سو لکه څرنګه چي سلائي په رنجنونې کي غائب سي او رسۍ څاه ته ولاړه سي ؟ هغه عرض وکړ چي هو، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه چي تا ته معلومه ده چي زنا څه ته وايي ؟ هغه عرض وکړ چي هو ، زه د هغې ښځي سره داسي د حرامو مرتکب سوم څرنګه چي يو سړی د خپلي ښځي سره په حلاله طريقه کوروالي کوي، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ددې قول څخه ستا څه مطلب دئ ؟ هغه عرض وکړ زه غواړم چي تاسو ما (ددې ګناه څخه) پاك کړئ ، نو رسول الله ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړ ، ددې وروسته رسول الله ﷺ په خپلو صحابوو کي د دوو خلکو څخه دا واوريدل چي په هغوئ کي يوه دا وويل دې سړي ته وګورئ چي الله دده پرده پوشي کړې وه خو ده خپل ځان پر کراره نه پرېښودئ، تر څو چي سنګسار کړل سو، د سپي په دول

سنګساریدل یې خوښ کړل ، د دې په اوریدو سره رسول الله ﷺ پټه خوله سو ،تر لږ وخت مزل وروسته رسول الله ﷺ د یوه مړه خره سره نژدې تیرېدی چې د هغه نس پړسیدلی وو ، او پښې یې پورته نیولې وې هغه ته په کتلو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : فلانی او فلانی سړی چیرې دي ؟ هغو ئ عرض وکړ اې دالله رسوله ! موږ حاضر یو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ورکښته سئ او ددغه مردار خره غوښه وخورئ، هغوئ عرض وکړ اې دالله رسوله ! ددې غوښه څوك خوړلای سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تاسو اوس اوس د خپل ورور بې عزتي کړې ده هغه ددې خره د غوښې خوړلو څخه زیاته بده خبره ده په هغه ذات دې مې قسم وي چې د چا په واك کې زما روح ده هغه (سنګسار سوی) اوس د جنت په ویالو کې غوټې وهي . ابوداؤد .

| | |
|---|---|
| (٣٤٦٣): وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصَابَ ذَنْبًا أُقِيْمَ عَلَيْهِ حَدُّ ذٰلِكَ الذَّنْبِ فَهُوَ كَفَّارَتُهُ. رواه في شرح السنة | د حضرت خزیمه بن ثابت ؓ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چې یوه ګناه وکړه او هغه ته د هغې سزا ورکړل سوه نو هغه سزا د هغه د ګناهونو کفارہ ده . شرح السنة. |

**دنیاوي سزا د اخرت پاکي ده**

| | |
|---|---|
| (٣٤٦٤): وَعَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَصَابَ حَدًّا فَعُجِّلَ عُقُوْبَتُهُ فِي الدُّنْيَا فَاللّٰهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يُثَنِّيَ عَلَى عَبْدِهِ الْعُقُوْبَةَ فِي الْآخِرَةِ وَمَنْ أَصَابَ حَدًّا فَسَتَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَفَا عَنْهُ فَاللّٰهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يَعُوْدَ فِي شَيْءٍ قَدْ عَفَا عَنْهُ . رواه الترمذي و ابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب . هذا الباب خال عن الفصل الثالث | د حضرت علي ؓ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چې یوه داسې ګناه وکړي چې د هغې سزا تاکلې ده او په دنیا کې هغه ته سزا ژر ورکړل سي نو هغه ته به په آخرت کې سزا نسي ورکول کیدلای ځکه چې الله تعالی عادل دئ هغه ته به دویم وار سزا نه ورکوي او چا چې یوه ګناه وکړل او الله تعالی د هغه پر ګناه پرده واچول او معاف یې کړل نو الله تعالی زیات بخښونکی دئ په آخرت کې به هم هغه ته سزا ور نه کړي او معاف به یې کړي |

. ترمذي، ابن ماجة، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ .دا باب دریم فصل نه لري .

# بَابُ التَّعْزِيْرِ د سزا او تنبيه بيان)

## لومړی فصل

### د تعزير سزا

(٣۴٦٥): عَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ نِيَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلاَّ فِيْ حَدٍّ مِّنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ . متفق عليه .

د حضرت ابو برده بن نيار ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (د يو گناه په تنبيه کي) تر لس دورو زيات څوك مه وهئ مگر الله تعالى چي د گناهو كوم حدونه ټاكلي دي په هغه كي زياتي دورې وركول كيدلای سي . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

### مجرم پر مخ باندي مه وهئ

(٣۴٦٦): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ . رواه أبو داود

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي يو څوك وهل كوي نو پر مخ دي وهل نه كوي . ابوداؤد .

### د بد زباني سزا

(٣۴٦٧): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ يَا يَهُوْدِيُّ فَاضْرِبُوْهُ عِشْرِيْنَ وَإِذَا قَالَ يَا مُخَنَّثُ فَاضْرِبُوْهُ عِشْرِيْنَ وَمَنْ وَقَعَ عَلَى ذَاتِ مَحْرَمٍ فَاقْتُلُوْهُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي يو څوك يو مسلمان ته وروايي اې يهودي، نو هغه شل دورې ووهئ او هر كله چي ورته وروايي اې نرگديه نو بيا يې هم شل دورې ووهئ او څوك چي د محرم ښځي سره زنا وكړي هغه ووژنئ . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

### د غنيمت په مال كي د خيانت كونكي سزا

(٣۴٦٨): وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اذَا وَجَدْتُمْ الرَّجُلَ قَدْ غَلَّ فِي سَبِيْلِ

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو يو څوك ووينئ

اللّٰهِ فَاحْرِقُوا مَتَاعَهُ وَاضْرِبُوْهُ . رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث غريب . هذا الباب خال عن الفصل الثالث

چي د الله په لار کي يې (د غنيمت په مال کي) خيانت کړی دئ نو د هغه سامان وسوځئ او هغه قتل کړئ . ترمذي، ابوداؤد، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

# بَابُ بَيَانِ الْخَمْرِ وَ عِيْدِ شَارِبِهَا

## (د شرابو بيان او د شرابو څښلو د وعيد بيان)

## لومړی فصل

### شراب د څه شي څخه جوړيږي ؟

(۳۴۶۹): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَجَرَتَيْنِ النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ .رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شراب ددغه دوو درختو څخه جوړيږي يعني خرما او انګورو څخه . مسلم.

(۳۴۷۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالْعَسَلِ وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت عمر ﷺ د رسول الله ﷺ پر منبر خطبه وويل او وه يې فرمايل : د شرابو حراميدو حکم نازل سوی دئ او شراب د پنځو شيانو څخه جوړيږي : د انګورو څخه، د خرماوو څخه، د غنمو څخه، د اوربشو څخه، او د شاتو څخه ، او شراب هغه شی دئ چي پر عقل پرده خپروي (يعني عقل ګډ ووډ کوي) بخاري.

### مخکي د خرماوو څخه شراب جوړېدل

(۳۴۷۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَقَدْ حُرِّمَتْ الْخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ وَمَا نَجِدُ خَمْرَ الْأَعْنَابِ إِلَّا قَلِيلًا وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي شراب حرام سول نو د انګورو شراب به موږ ډير کم تر لاسه کول زموږ شراب به اکثر د اومو او وچو خرماوو څخه وه . بخاري.

**هر نشه کونکی شی حرام دئ**

(۳۴۷۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ وَهُوَ نَبِيذُ الْعَسَلِ فَقَالَ كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ . متفق عليه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه د شاتو د شیرې حکم وپوښتل سو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : د څښلو هر هغه شی چې نشه راولي حرام دئ . بخاري او مسلم .

**څوک چې په دنیا کې شراب څښي هغه د شراب طهور څخه محروم دی**

(۳۴۷۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مُسْكِرٍ خمر و كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ .وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ . رواه مسلم

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم شی چې نشه راولي هغه شراب دي او هر نشه راوښتونکی شی حرام دئ او کوم سړی چې په دنیا کې همیشه شراب څښي تر دې چې بې توبې مړ سي نو په آخرت کې به هغه ته د څښلو لپاره شراب نه ورکول کیږي . مسلم.

**د شرابي په اړه وعید**

(۳۴۷۴): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا قَدِمَ مِنَ الْيَمَنِ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَرَابٍ يَشْرَبُونَهُ بِأَرْضِهِمْ مِنَ الذُّرَةِ يُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَ مُسْكِرٌ هُوَ قَالَ نَعَمْ قَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ إِنَّ عَلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ عَهْدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ قَالَ عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ أَوْ عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چې یو سړی د یمن څخه راغلی او د رسول الله ﷺ څخه یې د هغه شرابو حکم و پوښتی چې د هغه په وطن کې څښل کیدل دا شراب د جوارو څخه جوړېدل او هغه ته مزر ویل کیدل، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا هغه نشه راولي؟ هغه عرض وکړ چې هو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هر هغه شی چې نشه راولي حرام دئ، او د الله تعالی عهد دئ څوک چې د نشې شی وڅښي نو په هغه به طينة الخبال وڅښل سي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! طينة الخبال څه شی دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د دوږخیانو خوله یا ددوږخیانو نوونه .مسلم.

**د نبیذ په اړه یو حکم**

(۳۴۷۵): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ خَلِيطِ التَّمْرِ والبسر وَعَنْ خَلِيطِ

د حضرت ابوقتادة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د اومو او وچو خرماوو یو ځای

الزبیب والتمر وعن خلیط الزَّهْوِ وَالرُّطَبِ وَقَالَ انْتَبِذُوا كُلُّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَتِهِ . رواه مسلم

کولـو سره د نبیـذ (شیري) جوړولو څخه منع فرمایلې ده ، او وچ انګور او وچې خرماوې یو ځای کولو سره نبیذ جوړولو څخه یې منع فرمایلې ده او وچه اومه خرماوو یو ځای کولو سره د نبیذ جوړولو څخه یې منع کړې ده او فرمایلي یې دي چې په دې کې هر یو بیل بیل نستېږي . مسلم .

**د شرابو څخه سورکه جوړول**

(۳۴۷۶): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْخَمْرِ تُتَّخَذُ خَلًّا فَقَالَ لَا . رواه مسلم .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول که د شرابو څخه سورکه جوړه سي نو جائز دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : یا . مسلم .

**شراب د دواء په توګه استعمالول جائز نه دي**

(۳۴۷۷): وَعَنْ وَائِلٍ الْحَضْرَمِيِّ أَنَّ طَارِقَ بْنَ سُوَيْدٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ فَنَهَاهُ أَوْ كَرِهَ أَنْ يَصْنَعَهَا فَقَالَ إِنَّمَا أَصْنَعُهَا لِلدَّوَاءِ فَقَالَ إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ وَلٰكِنَّهُ دَاءٌ . رواه مسلم .

د حضرت وائل حضرمي ﷺ څخه روایت دئ چې طارق بن سوید ﷺ د رسول الله ﷺ څخه د شرابو په اړه پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ هغـه ددې د څښلو څخه منع کړ ، طارق وویل : موږ دا د دوا په توګه استعمالوو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :دا دواء نه بلکه ناروغي ده . مسلم .

## دویم فصل

**د شراب څښلو وبال**

(۳۴۷۸):عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَإِنْ عَادَ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَإِنْ عَادَ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَإِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ لَمْ يَتُبِ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَقَاهُ مِنْ نَهْرِ الْخَبَالِ . رواه الترمذي و

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې (یو وار) شراب وڅښـي الله تعالی تـر څلوېښـت ورځـو پـوري د هغـه لمونځ نـه قبلوي ، وروسته که چیري توبه وکاږي نو الله تعالی د هغـه توبه قبلوي بیا چې هغـه دویـم وار شـراب وڅښـي نـو تـر څلوېښت ورځو پوري د هغـه لمونځ نـه قبلیږي او چې کله توبـه وکـاږي نو د هغـه توبـه قبلوي، بیـا چې پـه دریـم وار شـراب وڅښـي نـو څلوېښـت ورځـو

رواه النسائي وابن ماجة والدارمي عن عبدالله بن عمرو .

پوري د هغه لمونځ نه قبليږي چي توبه وباسي نو توبه يې قبليږي . بيا چي په ځلورم وار شراب وڅښي نو تر ځلوېښت ورځو پوري د هغه لمونځ نه قبليږي او که توبه وکړي نو توبه يې نه قبليږي او په دوږخ کي به د نوونو د ويالي څخه ژړي اوبه ور وڅيښل سي . ، ترمذي، نسائي . ابن ماجه ، او دارمي دا حديث د عبدالله بن عمرو څخه روايت کړی دی.

**د نشه کوونکي شي لږ مقدار هم حرام دی**

(۳۴۷۹): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ . رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم شی چي په زيات استعمال سره نشه راولي د هغه په لږ اندازه استعمالول هم حرام دي . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة .

(۳۴۸۰): وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَسْكَرَ مِنْهُ الْفَرَقُ فَمِلْءُ الْكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم شی چي (په لنداژه د ۱۶ رطلو نشه راولي) نو د هغه يو ورغوی اندازه هم حرام دي . احمد ، ترمذي، ابوداؤد .

**شراب د څښي څخه جوړيږي**

(۳۴۸۱): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الْحِنْطَةِ خَمْرًا وَمِنَ الشَّعِيرِ خَمْرًا وَمِنَ التَّمْرِ خَمْرًا وَمِنَ الزَّبِيبِ خَمْرًا وَمِنَ الْعَسَلِ خَمْرًا . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب.

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د غنمو څخه هم شراب جوړيږي د اوربشو څخه هم شراب جوړيږي د خرماوو څخه هم شراب جوړيږي د انگورو څخه هم شراب جوړيږي او د شاتو څخه هم شراب جوړيږي . ترمذي ، ابوداؤد ، ابن ماجة، د ترمذي په قول دا حديث غريب دئ.

**شراب مال متقوم نه دی**

(۳۴۸۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ عِنْدَنَا خَمْرٌ لِيَتِيمٍ فَلَمَّا نَزَلَتِ الْمَائِدَةُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُ وَقُلْتُ إِنَّهُ لِيَتِيمٍ فَقَالَ أَهْرِقُوهُ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي زموږ سره د يو يتيم شراب وه ، کله چي سورة مائدة نازله سوه (چي په هغه کي د شرابو حرمت دئ) نو ما په دې په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه او عرض مي وکړ چي دا د يتيم مال دئ ، رسول الله ﷺ حکم وکړ چي دا چپه کړئ . ترمذي .

(۳۴۸۳): وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ قَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ إِنِّي اشْتَرَيْتُ خَمْرًا لِأَيْتَامٍ فِي حِجْرِي قَالَ أَهْرِقِ الْخَمْرَ وَاكْسِرِ الدِّنَانَ. رواه الترمذي و ضعفه و في رواية ابي داوٗد أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَيْتَامٍ وَرِثُوا خَمْرًا قَالَ أَهْرِقْهَا قَالَ أَفَلَا أَجْعَلُهَا خَلًّا قَالَ لَا .

حضرت انس ﷺ د ابو طلحة ﷺ څخه روایت کوي چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چي اې د الله رسوله ! ما ددغه یتیمانو لپاره شراب په بیه اخیستي وه د کومو چي زه پالنه کوم (په هغه شرابو څه وکړم) نو وه یې فرمایل چي شراب چپه کړه (توی یې کړه) او لوښي یې مات کړه، ترمذي، او د ابوداؤد په روایت کي د االفاظ دي چي ابوطلحة عرض وکړ زما په پالنه کي دغه یتیمانو ته په میراث کي شراب رسیدلي دي (په دغه څه وکړم) ورته وه یې فرمایل : چي توی یې کړه هغه بیا عرض وکړ چي سورکه ځیني جوړه کړم ، نو وه یې فرمایل چي یا .

## دریم فصل

### هر نشه کونکی شی حرام دی

(۳۴۸۴): عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ . رواه ابوداؤد

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د هغه شي د استعمال څخه منع فرمایلې ده کوم چي نشه راولي او په بدن کي سستي پیدا کوي . ابوداؤد .

### د شراب څښلو په هیڅ صورت کي اجازه نه سته

(۳۴۸۵): وَعَنْ دَيْلَمٍ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ قُلْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم يا رسول الله إِنَّا بِأَرْضٍ بَارِدَةٍ نُعَالِجُ فِيهَا عَمَلًا شَدِيدًا وَإِنَّا نَتَّخِذُ شَرَابًا مِنْ هٰذَا الْقَمْحِ نَتَقَوَّى بِهِ عَلَى أَعْمَالِنَا وَعَلَى بَرْدِ بِلَادِنَا قَالَ هَلْ يُسْكِرُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاجْتَنِبُوهُ قَالَ قُلْتُ فَإِنَّ النَّاسَ غَيْرُ تَارِكِيهِ قَالَ ان لم يتركوه فَقَاتِلُوهُمْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت دیلم حمیري ﷺ څخه روایت دئ چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! موږ د یخ وطن اوسیدونکي یو او موږ د غنمو شراب جوړوو چي زموږ بدن ته توان رسوي ، په سختو کارونو کي بدنونه قوي کوي او د وطن د یخنی څخه مو هم ژغوري، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا هغه نشه راولي ؟ ما عرض وکړ چي هو ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل د هغه څخه ځان وژغوره ، ما وویل خلک یې نه پرېږدي، رسول الله ﷺ وفرمایل چي نه یې پرېږدي نو جهاد ورسره وکړئ . ابوداؤد .

**د شرابو او خمار ممانعت**

(۳۴۸۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ وَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ. رواه ابوداود

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د شرابو ڇښلو او خمار کولو څخه منع فرمایلې ده او د نرد او سطرنج (یو ډول لوبي دي) او غبیرا (یو ډول شراب) څخه یې هم منع فرمایلې ده او فرمایلي یې دي چي هر نشه والا شی حرام دئ. ابوداؤد.

**شرابي به جنت ته نه داخلیږي**

(۳۴۸۷): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَاقٌّ وَلَا قَمَّارٌ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ. رواه الدارمي وفي رواية له ولا ولد زنية بدل قمار.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د مور او پلار عاق سوی، خمار کونکی، احسان اچونکی، او همیشه شراب ڇښونکی به جنت ته هیڅکله داخل نسي. دارمي. او د دارمي په یوه بل روایت کي د خمار پر ځای د ولد الزنا الفاظ دي.

**د شرابي په اړه یو وعید**

(۳۴۸۸): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَنِي رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ وَأَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ وَالْمَزَامِيرِ وَالْأَوْثَانِ وَالصُّلُبِ وَأَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَحَلَفَ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِعِزَّتِهِ لَا يَشْرَبُ عَبْدٌ مِنْ عَبِيدِي جَرْعَةً مِنْ خَمْرٍ إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنَ الصَّدِيدِ مِثْلَهَا وَلَا يَتْرُكُهَا مِنْ مَخَافَتِي إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنْ حِيَاضِ الْقُدُسِ. رواه احمد

د حضرت ابو امامه ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی زه د خلکو لپاره د رحمت او هدایت سبب رالیږلی یم او د باجو، مزامیرو، بتانو، صلیب او د جاهلیت د ټولو خرابو رسمونو او طریقو د ورانولو حکم یې راکړی دئ او زما بزرگ او برتر الله قسم خوړلی دئ چي زما په بندګانو کي کوم بنده د شرابو یو څاڅکي وڇښي زه به پر هغه د دوږخیانو د بدن نوونه وڇښم، او څوک چي زما د ویري شراب ڇښل پریږدي په هغه به د پاکو حوضو نو څخه (پاک شراب) وڇښم. احمد.

**د مور او پلار پر نافرمان او شرابي باندي د جنت دروازې بندي دي**

(۳۴۸۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَالْعَاقُّ وَالدَّيُّوثُ الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دري کسان دي چي پر هغوئ الله تعالی جنت حرام کړی دئ: یو خو هغه سړی

الْخَبَثُ . رواه احمد والنسائي .

چي هغه همېشه شراب چښني ، دويم هغه چي د مور او پلار نافرماني کوي. دريم : دووث چي د خپل کوروالا ښځه د زنا کار اخلي . احمد او نسائي

(۳۴۹۰): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَقَاطِعُ الرَّحِمِ وَمُصَدِّقٌ بِالسِّحْرِ . رواه احمد.

د حضرت ابو موسى اشعري ﷺ ښځه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي ، درې ډوله خلك به جنت ته نه ځي همیشه شراب چېښونکی. د قریبانو سره تعلق پرې کونکی او پر جادو باندي یقين او باور ساتونکی . احمد .

**شراب څښل د بت پرستی مترادف دی**

(۳۴۹۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ إِنْ مَاتَ لَقِيَ اللّٰهَ تَعَالٰى كَعَابِدِ وَثَنٍ . رواه أحمد وروى ابن ماجه عن أبي هريرة والبيهقي في " شعب الإيمان " عن محمد بن عبيد الله عن أبيه . قال : ذكر البخاري في التاريخ عن محمد بن عبد الله عن أبيه .

د حضرت ابن عباس ﷺ ښځه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي همیشه شراب چښونکی مړ سي نو الله تعالی به د هغه سره دا سي ملاقات کوي څرنګه چي د بت عبادت کونکي سره ملاقات کوي . احمد او ابن ماجة. ابن ماجه د ابوهريرة ښځه او بيهقي په شعب الايمان کي د محمد بن عبدالله ښځه او هغه د خپل پلار ښځه ددې یادونه کړې ده بخاري په تاريخ کي د محمد بن عبيدالله ښځه د هغه د پلار په واسطه روايت کړ .

(۳۴۹۲): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ مَا أُبَالِيْ شَرِبْتُ الْخَمْرَ أَوْ عَبَدْتُ هٰذِهِ السَّارِيَةَ دُوْنَ اللّٰهِ . رواه النسائي

حضرت ابو موسی ﷺ به ويل چي زه هيڅ کله ددې خيال هم نه کوم چي شراب وچښنم يا د الله تعالی ښځه پرته ددې ستون (يا ميل ) عبادت وکړم . نسائي

# كِتَابُ الْاَمَارَةِ وَالْقَضَاءِ (د حکومت او قضاء بیان)

## لومړی فصل

### د امیر اطاعت د الله ﷻ او د هغه د رسول اطاعت دی.

(۳۴۹۳): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ وَعَدَلَ فَإِنَّ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرًا وَإِنْ قَالَ بِغَيْرِهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ مِنْهُ . متفق علیه .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل چا چي زما اطاعت وکړ هغه د الله اطاعت وکړ او چا چي زما نافرماني وکړه هغه د الله نافرماني وکړه او چا چي د امیر اطاعت وکړ هغه زما اطاعت وکړ او چا چي د امیر نافرماني وکړه هغه زما نافرماني وکړه . او خرګنده دي وي چي امام د سپر په ډول دئ چي د هغه شا ته جګړه کیږي (یعني د هغه تر قومندي لاندي د دښمن سره جګړه کیږي) او د هغه په نګراني کي امن عافیت تر لاسه کیږي ، نو کوم حاکم چي د الله د بیري سره د هغه د حکم سره سم حکمراني کوي او د انصاف څخه کار اخلي هغه ته به پر دې اجر تر لاسه کیږي او که داسي ونه کړي نو د هغه ګناه به د هغه پر سر وي . بخاري او مسلم .

### د امیر اطاعت ضروري دی

(۳۴۹۴): وَعَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنْ أُمِرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا . رواه مسلم

د حضرت ام حصین (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : که پر تاسو باندي یو پز پریکړی غلام حاکم جوړ کړل سي او هغه پر تاسو د کتاب الله سره سم حکمراني کوي نو د هغه اطاعت کوئ او حکم یې منئ . مسلم .

(۳۴۹۵): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د حاکم حکم اورئ او اطاعت یې کوئ که څه هم ستاسو حاکم یو حبشي غلام جوړ کړل سي چي د هغه د انګور په ډول کوچنی سر وي . مسلم

## د غیر شرعي حکم اطاعت واجب نه دی

(۳۴۹۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ . متفق علیه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دیٰ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د حاکم حکم اوریدل او اطاعت یې کول پر هر مسلمان فرض دي که څه هم هغه حاکم یې خوښ وي یا ناخوښه ، تر څو پوري چي حاکم د یو گناه حکم ورنه کړي او هر کله چي د یو گناه حکم ورکړي نو نه یې اوریدل سته او نه یې منل. بخاري او مسلم.

(۳۴۹۷): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ . متفق علیه

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دیٰ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د یو گناه په کار کي د چا اطاعت واجب نه دیٰ ، اطاعت یوازي په نیکو کارونو کي واجب دیٰ. بخاري او مسلم.

## د اطاعت عهد

(۳۴۹۸): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ بَايَعْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ وَعَلَى أَنْ نَقُوْلَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ وفي رواية عَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرْهَانٌ . متفق علیه

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روایت دیٰ چي موږ د رسول الله ﷺ پر لاس بیعت وکړ او موږ پر دې خبره عهد وکړ چي پر موږ چا ته ترجیح ورکړل سي نو موږ به صبر کوو او پر دې خبره مو عهد وکړ چي موږ به حکومت د ور کس د لاسو څخه په زوره نه اخلو ، او پر دې خبره مو عهد وکړ چي موږ به حقه خبره کوو په هر ځای کي چي یو د خدای ﷺ په حق کي به د ملامت کس څخه نه بیریږو ، او په یوه روایت کي د االفاظ دي چي موږ پر دې خبره عهد وکړ چي موږ به امر (یعني حکومت) د ور خلکو د لاسو څخه نه کاږو پر ته ددې څخه چي ځرگند کفرووینو او د الله د لوري څخه ستاسو سره د هغه ټینگ دلیل وي. بخاري او مسلم.

## فرمانبرداري د توان سره سم

(۳۴۹۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا إِذَا بَايَعْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ يَقُوْلُ لَنَا فِيمَا اسْتَطَعْتُمْ . متفق علیه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دیٰ چي موږ د رسول الله ﷺ سره بیعت وکړ یعني ددې عهد مو وکړ چي د رسول الله ﷺ احکام به موږ اورو .

او اطاعت به يې کوو، او رسول الله ﷺ ددې په جواب کې دا وفرمايل په هغه شي کې چې د هغه په تاسو کې توان وي. بخاري او مسلم.

**د ټولنې په اجتماعيت کې پر ځند کېدو باندې وعيد**

﴿۳۵۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَأٰى مِنْ أَمِيْرِهِ شَيْئًا فَكَرِهَهُ فَلْيَصْبِرْ فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَيَمُوتُ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې څوك د خپل حاکم د لوري داسي خبره ويني چې پر هغه بنه نه لګيږي نو صبر دې وکړي ځکه چې څوك د ډلې څخه يوه لوېشت بيل سو او په دې حال کې مړ سو نو د هغه مرګ به د جاهليت مرګ وي. بخاري او مسلم.

**د تعصب خلاف تنبيه**

﴿۳۵۰۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ وَمَنْ خَرَجَ عَلَى أُمَّتِي بِسَيْفِهِ يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا وَلَا يَتَحَاشَى مِنْ مُؤْمِنِهَا وَلَا يَفِي لِذِي عَهْدٍ عَهْدَهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې څوك د امام (خليفه) د اطاعت څخه ووتئ او د اسلام د ډلې څخه بيل سو او په دغه حال کې مړ سو نو د هغه مرګ به د جاهليت د مرګ په ډول وي او څوك چې د يو داسي بيرغ لاندې و جنګيدئ چې د هغه حق او باطل کېدل ځرګند نه وي او د تعصب څخه غضبناك سو او د يو تعصب په مرسته يې خلك ځان ته راوبلل او په دې حال کې مړ سو نو د جاهليت په مرګ مړ سو، او څوك چې زما د امت خلاف توره واخلي ودربږي او د ښه او بد خلك يې ووژل او نه يې د مؤمن پروا وکړه او نه د عهد والا عهد يې پوره کړ نو هغه کس زما څخه نه دئ او نه زه د هغه څخه يم. مسلم

**غوره او بد حاكم**

﴿۳۵۰۲﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خِيَارُ أَئِمَّتِكُمْ الَّذِيْنَ تُحِبُّوْنَهُمْ وَيُحِبُّوْنَكُمْ وَيُصَلُّوْنَ عَلَيْكُمْ وَتُصَلُّوْنَ عَلَيْهِمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمْ الَّذِيْنَ تُبْغِضُوْنَهُمْ وَيُبْغِضُوْنَكُمْ

د حضرت عوف بن مالك اشجعي ﷺ څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو په حاکمانو کې غوره هغه وي چې د هغوئ سره تاسو مينه کوئ او هغوئ ستاسو سره مينه

وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ قال قلنا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ عند ذالك قال لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلٰوةَ لا ما اقاموا فيكم الصلوة الا من ولي عليه وال فرأه ياتي شيئا من معصية الله فليكره مايأتي من معصية الله ولا ينزعن يدا من طاعة. رواه مسلم

کوي ، او د هغوئ لپاره تاسو دعاء کوئ او هغوئ ستاسو لپاره دعا کوي ، او بد ترين حاکم هغه دئ چي تاسو د هغوئ سره بغض ولرئ او هغوئ ستاسو سره بغض ولري ، او تاسو پر هغوئ لعنت کوئ او هغوئ پر تاسو د لعنت کوي، راوي بيان دئ چي موږ (صحابه کرامو) عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا موږ هغه بدترين حاکمان مات نه کړو؟ او عهد چي د هغوئ سره مو کړی دئ مات نه کړو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :نه ، تر څو پوري چي هغوئ په تاسو کي لمونځ قائموي نه تر څو پوري چي هغوئ په تاسو کي لمونځ قائموي. خبردار! کوم سړی چي په تاسو کي حاکم جوړ سي او تاسو د هغه يو داسي کار ووينئ چي د الله تعالى پر نافرماني مبني وي نو تاسو د هغه دغه عمل بد وګڼئ خو د هغه د اطاعت څخه لاس مه کاږئ . مسلم

## د حاکم بې لارې

(۳۵۰۳): وَعَنْ اُمِّ سَلْمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُوْنُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ تَعْرِفُوْنَ وَتُنْكِرُوْنَ فَمَنْ انكر فَقَدْ برِئَ وَمَنْ كره فَقَدْ سَلِمَ وَلٰكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ قَالُوا أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ قَالَ لَا مَا صَلَّوْا أَيْ مَنْ كَرِهَ بِقَلْبِهِ وَأَنْكَرَ بِقَلْبِهِ . رواه مسلم

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي به داسي حاکم و ټاکل سي چي ښه کارونه به هم کوي او بد هم، چا چي انکار وکړ يعني د هغه د خراب کار په نسبت د هغه په وړاندي يې وويل چي ستا دا کار د شريعت خلاف دئ نو هغه د خپل فرض څخه خلاص سو او چا چي داسي ونه کړل يعني دومره جرئت يې ونه کړ چي په ژبه سره يې وويل مګر په زړه سره يې د هغه کار بد وګڼئ هغه سالم پاته سو يعني د هغه په ګناه کي د ګډون څخه سالم او خوندي پاته سو. مګر څوک چي د هغه په کار راضي سو او د هغه پيروي يې وکړه نو هغه د هغوئ په ګناه کي ګډ سو ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا دهغوئ سره وجنګيږو ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :يا. تر څو پوري چي هغوئ لمونځ قائموي نه تر څو پوري چي هغوئ لمونځ کوي يعني هغه څوک چي بد ګڼي په زړه کي او انکار کوي په زړه کي . مسلم.

## د حاکم په هر وخت کي فرمانبرداري

(۳۵۰۴):وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو به زما

| | |
|---|---|
| وَأُمُورًا تُنْكِرُونَهَا قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ أَدُّوا إِلَيْهِمْ حَقَّهُمْ وَسَلُوا اللّٰهَ حَقَّكُمْ . متفق علیه | ښځه وروسته ترجیح تـه ګوري او ډیـري داسي خبري دي چي هغه به تاسو بد ګڼئ ، |

صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! هر کله چي داسي وخت راسي نو زموږ لپاره څه حکم دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل تاسو د هغوئ حق ادا کوئ او د الله تعالی څخه خپل حق غواړئ . بخاري او مسلم

| | |
|---|---|
| (۳۵۰۵): وَعَنْ وَائِلِ ابْنِ حُجْرٍ قَالَ سَأَلَ سَلَمَةُ بْنُ يَزِيدَ الْجُعْفِيُّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قَامَتْ عَلَيْنَا أُمَرَاءُ يَسْأَلُونَا حَقَّهُمْ وَيَمْنَعُونَا حَقَّنَا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ . رواه مسلم . | د حضرت وائل بن حجر ﷺ څخه روایت دئ چي سلمه بـن یزیـد جعفـي ﷺ د رسـول الله ﷺ څخـه پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! تاسو په دې اړه څه فرمایاست که پر موږ داسي امیران مسلط سي چي زموږ څخه خپل حق غواړي او زموږ د حق څخه انکار کوي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : د |

هغوئ احکام اورئ او اطاعت یې کوئ ځکه چي پر هغوئ هغه خبره فرض ده چي هغوئ پر خپل ذمه اخیستي ده او پر تاسو هغه شی دئ چي تاسو پورته کړی دئ . مسلم .

**د امام د اطاعت نه کونکي په اړه وعید**

| | |
|---|---|
| (۳۵۰۶): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللّٰهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً . رواه مسلم | د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي ځوک چي د امام (خلیفه) د اطاعت څخه لاس وباسي هغه به د قیامت په ورځ د الله تعالی سره په داسي حال |

کي یو ځای کیږي چي هیڅ دلیل به د هغه لپاره نه وي او ځوک چي په داسي حال کي مړ سي چي د هغه پر غاړه بیعت نه وي نو هغه د جاهلیت په مرګ مړ سو . مسلم .

**د خلیفه په موجودنیا کي د بل خلیفه اطاعت مه کوئ**

| | |
|---|---|
| (۳۵۰۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ سَائِلُهُمْ | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : بني اسرائیلو ته به انبیاؤ ادب ښودئ ، او کله چي به یو نبي وفات سو نو بل نبي بـه د هغـه پـر ځـای راتلئ مګر زما څخه وروسته هیڅ نبي راتلونکی نه دئ البته زما څخه |

عمَّا استرعاهم .متفق علیه

وروسته به زما خلفاء وي چي ډير به وي، صحابه کرامو عرض وکړ (هر کله چي خليفه گان ډير وي او د هغوئ په منځ کي اختلافات وي نو موږ ته څه کول پکار دي) تاسو څه حکم راکوئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د لومړني خليفه پيروي کوئ (په دغه زمانه کي) او بيا د لومړني خليفه (په دويمه زمانه کي) د هغوئ حق هغوئ ته ورکړئ ، او الله تعالى به د هغوئ د رعيت حال په خپله د هغوئ څخه پوښتي . بخاري او مسلم

(٣٥٠٨): وَعَنْ أَبِي سَعِيد قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا. رواه مسلم

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي د دوو خليفه گانو بيعت کړل کيږي نو دويم خليفه مړ کړئ . مسلم.

**څوک چي په امت کي بېلتون راولي هغه ووژنئ**

(٣٥٠٩): وَعَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ سَيَكُونُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ . رواه مسلم

د حضرت عرفجة ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي ډير ژر به ډول ډول فسادونه ښکاره سي ، څوک چي ددې امت په اتحاد کي تفريق پيدا کوي او د امت اجتماع ماتوي د هغه غاړه په توره ووهئ که څه هم هغه هر څوک وي . مسلم.

(٣٥١٠): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ . رواه مسلم .

د حضرت عرفجة ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي څوک چي تاسو ته راسي او حال دا وي چي تاسو ټول د يوه امير پر اطاعت متحد ياست او هغه ستاسو د اتحاد ماتولو اراده يا ستاسو جماعت متفرق کول غواړي نو تاسو هغه ووژنئ .مسلم.

(٣٥١١): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ إِنِ اسْتَطَاعَ فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د امام بيعت وکړي او خپل لاس د هغه په لاس کي ورکولو سره قسم وکړي او زړه د هغه په بيعت راضي کړي څومره چي کيدای سي نو د هغه اطاعت دي کوي بيا که دويم امام ودريږي او د امامت دعوا وکړي نو د دويم غاړه ووهئ . مسلم.

د حکومت او امارت غوښتونکي مه کيږئ

(۳۵۱۲): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنُ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُعْطِيتَهَا مِنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا. متفق عليه.

د حضرت عبد الرحمن بن سمرة ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: د اميرئ او حکومت خواهش مه کوه ځکه که تا ته په غوښتلو سره حکومت تر لاسه سي نو ته به حکومت ته حواله کړل سي او که پرته د غوښتلو درته تر لاسه سي نو د الله تعالى د لوري به ستا مرسته کيږي. بخاري او مسلم.

(۳۵۱۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ وَبِئْسَتِ الْفَاطِمَةُ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو خلك بـه د سرداري او امارت حرص کوئ او ژر به پښېماني کوئ په ورځ د قيامت او دا سرداري غوره مرضعه (تی ورکونکې) او بد ترينه تی پرېښودونکې ده (يعني د امارت پيل ډير ښه او انجام يې خراب وي) بخاري.

(۳۵۱۴): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَلَا تَسْتَعْمِلُنِيْ قَالَ فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلٰى مَنْكِبِيْ ثُمَّ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا وفي رواية قال له يَا أَبَا ذَرٍّ إِنِّي أَرَاكَ ضَعِيفًا وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي لَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ. رواه مسلم

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله! ايا تاسو ما د يو ځای عامل (حاکم) نه ټاکئ؟ رسول الله ﷺ زه پر اوږه وټکولم او وه يې فرمايل: اې ابوذره! ته کمزوری يې او امارت او سرداري لوی دروند امانت دئ او بيا دا سرداري د قيامت په ورځ د ذلت او رسوائي موجب ده، البته څوك چي د حق سره ملګری سو او هغه حق چي د امارت په لړ کي پر هغه واجب دئ هغه ادا کړ د هغه لپاره ذلت او رسوائي نسته او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذره! زه تا کمزوری وينم، زه ستا لپاره هغه شی خوښوم کوم چي د ځان لپاره خوښوم، ته د دوو کسانو هم امير او حاکم مه جوړيږه او مه د يتيم د مال سرپرستي پر خپل غاړه اخله. مسلم.

څوك چي خپله يې منصب وغواړي نو هغه ته منصب مه ورکوئ

(۳۵۱۵): وَعَنْ أَبِي مُوْسٰى قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَرَجُلَانِ مِنْ بَنِي

د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دئ چي زه او زما د اکا دوه زامن د نبي کريم ﷺ په خدمت

عَمِّي فَقَالَ أَحَدُهُمَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَمِّرْنَا عَلَى بَعْضِ مَا وَلَّاكَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَقَالَ الْآخَرُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّا وَاللّٰهِ لَا نُوَلِّي عَلَى هٰذَا الْعَمَلِ أَحَدًا سَأَلَهُ وَلَا أَحَدًا حَرَصَ عَلَيْهِ ، وفي رواية قَالَ لَا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ . متفق عليه

كي حاضر سو ، په هغو كي يوه ووييل أي د الله رسوله ! تاسو الله حاكم او والي جوړ كړى ياست ما هم د ځيني كارو يا ځايو والي و ټاكئ، دويم هم دا ډول غوښتنه ځرګنده كړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : قسم په الله موږ د دين او شريعت د كارو هغه كس والي نه ټاكو چي زموږ ځخه د ولايت غوښتونكى وي او نه هغه سړى كوم چي دده حرص لري ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي موږ پر خپل كار هغه سړى عامل نه ټاكو څوك چي دده اراده لري. بخاري او مسلم

**د حكومت ځخه انكار كونكي غوره انسان دي**

(٣٥١٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِدُونَ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ أَشَدَّهُمْ كَرَاهِيَةً لِهٰذَا الْأَمْرِ حَتَّى يَقَعَ فِيهِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو به هغه خلك غوره تر لاسه كړئ چي امارت او حكومت ډير زيات بد ګني. تر څو پوري چي هغوئ په دې كي اخته نه وي. بخاري او مسلم

**د قيامت په ورځ به هر يو د خپل ذمه داري جواب وركوي**

(٣٥١٧): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى أَهْلِ بَيْتِ زَوْجِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ وَعَبْدُ الرَّجُلِ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ . متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار! په تاسو كي هر سړى راعي (ساتونكى) دئ او د هر سړي ځخه به د هغه د رعيت په اړه پوښتنه كيږي نو كوم څوك چي د څومره خلكو حاكم دئ د هغومره خلكو په اړه به جواب وركونكي وي. او سړى د خپل اهل بيتو راعي دئ او د هغه ځخه به د هغه د رعيت په اړه پوښتنه كيږي او ښځه د خپل خاوند د كور او د هغه د كوچنيانو ساتونكي ده د هغې ځخه به په دې اړه پوښتنه كيږي او غلام د خپل بادار د مال ساتونكى دئ او د هغه ځخه به په دې اړه پوښتنه كيږي ، خبردار! په تاسو كي هر څوك راعي (ساتونكى) دئ او د هر ساتونكي ځخه به د هغه د رعيت په اړه پوښتنه كيږي. بخاري او مسلم

**د خائن او ظالم حاکم په اړه وعید**

| | |
|---|---|
| (۳۵۱۸): وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ وَالٍ يَلِي رَعِيَّةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَيَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌ لَهُمْ إِلَّا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ . متفق عليه. | د حضرت معقل بن یسار ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي کوم حاکم د مسلمانانو سرداري په خپل لاس کي واخلي او خیانت کونکی او ظالم مړ سي نو |

الله تعالی به جنت پر حرام کړي. بخاري او مسلم.

**پر خائن امیر باندي د جنت بوی حرام دی**

| | |
|---|---|
| (۳۵۱۹): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللّٰهُ رَعِيَّةً فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ إِلَّا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ . متفق عليه | د حضرت معقل بن یسار ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي کوم بنده ته چي الله تعالی د رعیت ساتنه و |

سپاري او هغه په ښه توګه او خیر سره د هغوئ ساتنه ونه کړي نو پر هغه به د جنت بوی هم ونه لګیږي . بخاري او مسلم.

**بد ترین حاکم**

| | |
|---|---|
| (۳۵۲۰): وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ . رواه مسلم. | د حضرت عائذ بن عمرو ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي په حاکمانو کي بدترین حاکم هغه دئ چي ظالم وي . مسلم. |

**سخت او نرم حاکم**

| | |
|---|---|
| (۳۵۲۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ . رواه مسلم | د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : اي الله ! څوک چي زما د امت د یو کار والي او متصرف جوړ کړل سوی وي او هغه زما پر امت مصیبت او سختي |

راولي نو ته هم پر هغه مصیبت او سختي راولي، او څوک چي زما د امت سره رحم او نرمي وکړي نو ته هم د هغه سره رحم او نرمي وکړي . مسلم.

**د عادل حاکم مرتبه**

| | |
|---|---|
| (۳۵۲۲): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : عادل او منصف حاکم |

وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللّٰهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمٰنِ عَزَّ وَجَلَّ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا. رواه مسلم

به د الله تعالى سره پر راسته لوري د نور پر منبر وي، او د الله تعالى لاسونه راسته دي ، هو هغه عادلان حاکمان چي په خپلو احکامو کي، په خپله کورنی کي ، په خپل ولايت او حکومت کي عدل کوي . مسلم.

**د هر حاکم او امير سره هميشه دوه متضاد طاقتونه وي**

(۳۵۲۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَعَثَ اللّٰهُ مِنْ نَبِيٍّ وَ لَااسْتَخْلَفَ خَلِيفَةً إِلَّا كَانَتْ لَه بِطَانَتَانِ بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْمَعْرُوفِ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَبِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالشَّرِّ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَالْمَعْصُومُ مَنْ عَصَمَ اللّٰهُ . رواه البخاري

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى چي کوم نبي راليږي او کوم خليفه ټاکي نو د هغه دوه ملگري وي مخفي (پټ) يو ملگری وي چي هغوئ ته د نيکي امر کوي او د نيکو کارونو حکم ورکوي او بل ملگری د بدی حکم ورکوي او د بدی په لور امر ور ته کوي او معصوم هغه دئ چي الله تعالى يې د گناهونو څخه وژغوري. بخاري.

**د حضرت قيس بن سعد ﷺ منصب**

(۳۵۲۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ قَيْسُ بْنُ سَعْدٍ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْزِلَةِ صَاحِبِ الشُّرَطِ مِنَ الْأَمِيرِ . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي قيس بن سعد د نبي کريم ﷺ سره د کوتوال په ډول وو (شرطي هغه کس ته ويل کيږي چي د حاکم په مخ کي ولاړ وي چي تنفيذ د احکامو او د اوامرو د حاکم کوي) . بخاري.

**د ښځي حاکم جوړونکی قوم هيڅکله کاميابي نسي تر لاسه کولای**

(۳۵۲۵): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى قَالَ لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً . رواه البخاري .

د حضرت ابوبکرة ﷺ څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسيدل چي فارسيانو د کسرى لور خپله حاکمه جوړه کړي ده نو رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه قوم هيڅکله خلاصون نسي تر لاسه کولای چي هغوئ واکداره کړي ښځه پر خپل کار . بخاري.

## دويم فصل

**د ټولني څخه بېلوالي**

〈٣٥٢٦〉: عَنِ الْحَارِثِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ بِالْجَمَاعَةِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَالْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلَى أَنْ يَرْجِعَ وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَا جَهَنَّمَ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت حارث اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه تاسو ته د پنځو خبرو حکم درکنوم: د جماعت اتباع، د حاکم د احکامو قبلولو او اطاعت کولو، د هجرت، د الله په لار کي د جهاد، ځوك چي د جماعت څخه يوه لوېشت هم بېل سو نو هغه د اسلام د رسۍ څخه غاړه وکښل خو دا چي هغه بيا راستون سي او په جماعت کي شامل سئ او چا چي خلك د جاهليت د رسمونو او طرېقو په لور راوبلل هغه د دوږخيانو د ډلي څخه دئ که څه هم هغه روژه نيسي او لمونځ کوي او دا خيال کوي چي هغه مسلمان دئ. احمد او ترمذي.

**د امير او والي اهانت وکړئ**

〈٣٥٢٧〉: وَعَنْ زِيَادِ بْنِ كُسَيْبٍ الْعَدَوِيِّ قَالَ كُنْتُ مَعَ أَبِي بَكْرَةَ تَحْتَ مِنْبَرِ ابْنِ عَامِرٍ وَهُوَ يَخْطُبُ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَقَالَ أَبُو بِلَالٍ انْظُرُوا إِلَى أَمِيرِنَا يَلْبَسُ ثِيَابَ الْفُسَّاقِ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ اسْكُتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ أَهَانَهُ اللّٰهُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت زياد بن کسيب عدوي ﷺ څخه روايت دئ چي ابن عامر خطبه ويل زه د منبر لاندي د ابوبکرة سره ناست وم، او د هغه پر بدن نرۍ جامي وې، ابوبلال وويل زموږ دي امير ته وگورئ چي د فاسقانو په ډول جامي يې اغوستي دي، ابوبکره وويل: پټه خوله سه، ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي ځوك چي د هغه پاچا سپکاوی کوي کوم چي الله ﷻ پر ځمکه (خليفه) ټاکلی دئ نو الله تعالی به د هغه سپکاوی وکړي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**که حاکم د گناه حکم وکړي نو د هغه اطاعت مه کوئ**

〈٣٥٢٨〉: وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت نواس بن سمعان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په کوم امر کي چي د خالق د حکم خلاف ورزي وي په هغه کي د مخلوق اطاعت صحيح نه دئ. شرح السنة.

**د حاکم انجام**

| | |
|---|---|
| (۳۵۲۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَمِيْرِ عَشْرَةٍ إِلاَّ يُؤْتٰى بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَغْلُوْلاً حَتّٰى يَفُكَّ عَنْهُ الْعَدْلُ أَوْ يُوْبِقَهُ الْجَوْرُ . رواه الدارمي | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل. څوك چي د لسو کسانو حاکم وي هغه به د قیامت په ورځ په داسي حال کي راوستل سي چي د هغه په غاړه کي به طوق وي ، ددې |

طوق څخه به د هغه غاړه د هغه عدل سپکه کړي او یا به د هغه ظلم هغه هلاك کړي. دارمي.

**د قیامت په ورځ د امیرانو او حاکمانو افسوس**

| | |
|---|---|
| (۳۵۳۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِّلْأُمَرَاءِ وَيْلٌ لِّلْعُرَفَاءِ وَيْلٌ لِّلْأُمَنَاءِ لَيَتَمَنَّيَنَّ أَقْوَامٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَّ نَوَاصِيَهُمْ مُعَلَّقَةٌ بِالثُّرَيَّا يَتَجَلْجَلُوْنَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَأَنَّهُمْ لَمْ يَلُوْا عَمَلاً . رواه في شرح السنة ورواه أحمد وفي روايته أَنَّ ذَوَائِبَهُمْ كَانَتْ مُعَلَّقَةً بِالثُّرَيَّا يَتَذَبْذَبُوْنَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَكُوْنُوْا عَمِلُوْا عَلٰى شَيْءٍ . | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: افسوس دئ پر امیرانو او حاکمانو باندي ، افسوس دئ پر سردارانو او ملکانو باندي، افسوس دئ پر امینانو باندي. ډیر خلك به د قیامت په ورځ ددې غوښتنه کوي چي د هغوئ د تندي وربښتان ثریا سره تړلي وای او هغوئ د آسمان او مځکي په منځ کي تال وهلای مگر هغوئ د هیڅ عمل واکداره نه دي . شرح السنة ، او د احمد په یوه روایت کي دا الفاظ دي |

چي د هغوئ کوڅی به لوړ له ثریا (پیرونو) سره زړیدلي وي او هغوئ به د آسمان او مځکي په منځ کي زړیدلي وي او په هیڅ شي به عاملان سوي نه وي.

**اکثر ملکان دوږخ ته ځي**

| | |
|---|---|
| (۳۵۳۱): وَعَنْ غَالِبِ الْقَطَّانِ عَنْ رَجُلٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعِرَافَةَ حَقٌّ وَلَا بُدَّ لِلنَّاسِ مِنَ الْعُرَفَاءِ وَلٰكِنَّ الْعُرَفَاءَ فِي النَّارِ . رواه ابوداؤد. | حضرت غالب قطان ﷺ د یو سړي څخه او هغه د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي : ملکي حق دئ او د خلکو لپاره د ملك کېدل ضروري دي |

مگر اکثر ملکان به په اور کي وي. ابوداؤد.

**د احمق حاکم څخه پناه غوښتل**

| | |
|---|---|
| (۳۵۳۲): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُعِيْذُكَ بِاللّٰهِ مِنْ | د حضرت کعب بن عجرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : زه دعا کوم چي الله |

إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ قَالَ وَمَا ذَاكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ أُمَرَاءُ سَيَكُوْنُوْنَ مِنْ بَعْدِيْ مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِمْ فَصَدَّقَهُمْ بِكِذْبِهِمْ وَأَعَانَهُمْ عَلٰى ظُلْمِهِمْ فَلَيْسُوْا مِنِّيْ وَلَسْتُ مِنْهُمْ وَلَنْ يَرِدُوْا عَلَيَّ الْحَوْضَ وَمَنْ لَمْ يَدْخُلْ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكِذْبِهِمْ وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلٰى ظُلْمِهِمْ فَأُولٰئِكَ مِنِّيْ وَأَنَا مِنْهُمْ وَأُولٰئِكَ يَرِدُوْنَ عَلَيَّ الْحَوْضَ. رواه الترمذي والنسائي

تعالی تا ته د بې عقلو خلکو سرداري در نه کړي، حضرت کعب عرض وکړ اې دالله رسوله! دا سرداري به کله وي، څنګه به وي او هغه به کوم خلك وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا اميران او حاکمان به زما څخه وروسته وي، څوك چي هغوئ ته ورغلی د هغوئ د دروغو تصديق يې وکړی او د هغوئ په ظلم کي يې د هغوئ سره مرسته وکړل، هغوئ زما څخه نه دي او نه زه د هغوئ سره څه تعلق لرم، هغوئ به زما حوض کوثر ته نه رانسي، څوك چي هغوئ ته ورنسي د هغوئ د دروغو تصديق ونه کړي او د هغوئ په ظلم کي د هغوئ مرسته ونه کړي هغه زما څخه دي او زه د هغو څخه يم او دا خلك به پر حوض کوثر ما ته راځي. ترمذي او نسائي.

**د حاکمانو ناسته ولاړه د تباهی سبب دی**

(٣٥٣٣): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ وَمَنْ أَتَى السُّلْطَانَ افْتُتِنَ. رواه احمد والترمذي والنسائي وفي رواية أبي داود مَنْ لَزِمَ السُّلْطَانَ افْتُتِنَ وَمَا ازْدَادَ عَبْدٌ مِنَ السُّلْطَانِ دُنُوًّا إِلاَّ ازْدَادَ مِنَ اللهِ بُعْدًا.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي په ځنګل کي اوسي بې عقل او جاهل وي او څوك چي په ښکار پسي ګرځي غافل وي او څوك چي پاچا ته ځي راځي په فتنه کي لويدلی وي. احمد، ترمذي، نسائي او د ابوداؤد په يوه روايت کي د االفاظ دي چي څوك د پاچا سره حاضر باش وي په فتنه کي اخته وي او څوك چي د پاچا سره قربت لتوي هغه د الله تعالی څخه ليري وي.

**ګمنامي د راحت باعث ده او شهرت د الم باعث**

(٣٥٣٤): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ عَلٰى مَنْكِبِهِ ثُمَّ قَالَ لَهُ أَفْلَحْتَ يَا قُدَيْمُ إِنْ مُتَّ وَلَمْ تَكُنْ أَمِيْرًا وَلَا كَاتِبًا وَلَا عَرِيْفًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت مقدام بن معدي کرب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه پر اوږو و ټکولم او وه يې فرمايل: اې مقدام! که په دې حال کي مړ سوې چي ته نه حاکم سوې، نه منشي او نه يو ملك نو تا خلاصون تر لاسه کړ. ابوداؤد.

**غیر شرعي محصول**

(۳۵۳۵): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ صَاحِبُ مَكْسٍ يَعْنِيْ الَّذِيْ يَعْشُرُ النَّاسَ . رواه احمد وابوداؤد والدارمي .

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : عشر اخستونکی به جنت ته داخل نه سي . احمد، ابوداؤد او دارمي.

**د عادل امام فضیلت**

(۳۵۳۶): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَقْرَبَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ عَادِلٌ وَ اِنَّ أَبْغَضَ النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَشَدَّهُمْ عَذَابًا وفي رواية وَأَبْعَدَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ جَائِرٌ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به د الله تعالی په نزد په ټولو خلکو کي محبوب او په مرتبه کي تر ټولو نژدي عادل پاچا وي، او د الله تعالی په نزد به د قیامت په ورځ په ټولو خلکو کي بدترین او په مرتبه کي ذلیل ظالم حاکم وي ، او په یوه روایت کي دي چي د مجلس په لحاظ به تر ټولو لیري ظالم حکمران وي . ترمذي دا حدیث حسن غریب دئ .

**غوره جهاد**

(۳۵۳۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ كَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة ورواه احمد والنسائي عن طارق ابن شهاب .

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غوره جهاد دادئ چي د ظالم پاچا په وړاندي حق خبره وکړي ، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجة او نسائي د طارق بن شهاب څخه روایت کړی دئ .

**د حاکم صالح مشیر**

(۳۵۳۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِالْأَمِيرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِهِ غَيْرَ ذٰلِكَ جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوْءٍ إِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي الله تعالی د یو امیر یا حاکم سره د ښېګړي اراده لري نو د هغه لپاره داسي وزیر و ټاکي که چیري د امیر څخه یو خبره هېره سي نو وزیر یې ور په یاد کړي او که خبره یې یاد وي نو وزیر د هغه مرسته کوي او هر کله چي الله تعالی د یو امیر سره د بدۍ

اراده کوي نو هغه ته خراب وزير ورکړي که د امير څخه يو خبره هيره سي نو وزير يې نه ور په يادوي او که خبره يې په ياد وي نو د هغه مرسته نه کوي ، ابوداؤد او نسائي .

**د حاکم شک او شبه کول**

| | |
|---|---|
| (۳۵۳۹): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْأَمِيرَ إِذَا ابْتَغَى الرِّيبَةَ فِي النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ . رواه ابوداؤد | د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي يو حاکم په خلکو کي د شك او شبهې خبره لټوي نو خلك خرابوي . ابوداؤد. |
| (۳۵۴۰): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّكَ إِذَا اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ النَّاسِ أَفْسَدْتَهُمْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان. | د حضرت معاويه ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي هر کله ته د خلکو د عيبونو په لټه کي سوې نو ته به هغوئ خراب کړې. بيهقي . |

**د نا انصافه حاکم پر خلاف صبر کول غوره دي**

| | |
|---|---|
| (۳۵۴۱): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَنْتُمْ وَأَئِمَّةٌ مِنْ بَعْدِي يَسْتَأْثِرُونَ بِهٰذَا الْفَيْءِ قُلْتُ اما وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ أَضَعُ سَيْفِي عَلَى عَاتِقِي ثُمَّ أَضْرِبُ بِهِ حَتَّى أَلْقَاكَ قَالَ أَوَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَيْرٍ مِنْ ذٰلِكَ تَصْبِرُ حَتَّى تَلْقَانِي . رواه بوداؤد | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما څخه وروسته به تاسو د خپلو امامانو سره څنګه وخت تيروئ ؟ هر کله چي هغوئ د بيت المال څخه خپل کار اخلي او ور خلکو ته به يې نه ورکوي يعني په دې حالت کي به تاسو صبر کوئ يا د هغوئ سره جنګ |

کوئ ؟ما وويل : قسم دی په هغه ذات چي تاسو يې په حق سره رالېږلي ياست زه به خپله توره پر خپله اوږه کښېږدم بيا به يې په توره سره قتل کړم ، تر دې چي ستاسو سره يو خاى سم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ايا زه تا ته تر دې ښه خبره ونه ښيم؟ ته صبره کوه تر څو چي زما سره يو خاى سې . ابوداؤد.

## دريم فصل

**د عادل امام فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۳۵۴۲): عَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَنِ السَّابِقُونَ إِلَى ظِلِّ اللّٰهِ عَزَّ | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ته څرګنده ده چي |

وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ الَّذِينَ إِذَا أُعْطُوا الْحَقَّ قَبِلُوهُ وَإِذَا سُئِلُوهُ بَذَلُوهُ وَحَكَمُوا لِلنَّاسِ كَحُكْمِهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ.

د قيامت په ورځ به د الله تعالی سايې ته تر تولو وړاندي کوم خلك ځي؟ صحابه کرامو وويل: الله تعالى او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل د عرش الهي سايې ته به تر تولو وړاندي هغه خلك ځي چي هغوئ ته حق خبره وکړل سي نو هغه يې قبوله کړي او هر کله چي د هغوئ څخه د حق غوښتنه وکړل سي نو حق ورکوي او خلکو ته داسي حکم ورکوي څرنګه چي پر خپل ځان حکم کوي. احمد.

**د حاکمانو د ظلم څخه د رسول الله ﷺ خوف**

(٣٥٤٣): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ثَلَاثٌ أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الِاسْتِسْقَاءُ بِالْأَنْوَاءِ وَحَيْفُ السُّلْطَانِ وَتَكْذِيبٌ بِالْقَدَرِ. رواه احمد

د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي زه د خپل امت په اړه د درو خبرو څخه بيريږم، يو خو د سپوږمۍ د منازلو په حساب د باران طلب کول، دويم د پاچا ظلم کول، دريم تقدير دروغ ګڼل. احمد.

**بيله ضرورته مه امين جوړيږئ او مه حاکم**

(٣٥٤٤): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ أَيَّامٍ اعْقِلْ يَا أَبَا ذَرٍّ مَا يُقَالُ لَكَ بَعْدُ فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ السَّابِعُ قَالَ أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ فِي سِرِّ أَمْرِكَ وَعَلَانِيَتِهِ وَإِذَا أَسَأْتَ فَأَحْسِنْ وَلَا تَسْأَلَنَّ أَحَدًا شَيْئًا وَإِنْ سَقَطَ سَوْطُكَ وَلَا تَقْبِضْ أَمَانَةً وَلَا تَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ. رواه احمد

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذره! شپږ ورځي وروسته به زه تا ته يوه خبره کوم، پر هغه ښه فکر وکړه او بيا عمل په وکړه، اوومه ورځ چي پيل سوه نو رسول الله ﷺ وفرمايل زه تا ته امر کوم په تقوی د خدای ﷻ سره په پټ کار ستا کي او په ښکاره کي او هر کله چي ته د چا سره بدي وکړې نو د هغه سره نيکي هم وکړه او د چا څخه يو شی مه غواړه که څه هم ستا غمچينه ولويږي (يعني که ستا غمچينه ايله سي نو چا ته مه وايه چي دا را پورته کړه) او د چا امانت د ځان سره مه ساته او د دوو کسانو په منځ کي پريکړه مه کوه. احمد.

**د حکومت دري تدريجي مرحلې**

(٣٥٤٥): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَا مِنْ رَجُلٍ يَلِي أَمْرَ عَشَرَةٍ فَمَا فَوْقَ

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د لسو کسانو يا زياتو حاکم وي الله تعالی به د

ذٰلِكَ إِلَّا أَتَى اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ مَغْلُولًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَدُهُ إِلَى عُنُقِهِ فَكَّهُ بِرُّهُ أَوْ أَوْبَقَهُ إِثْمُهُ أَوَّلُهَا مَلَامَةٌ وَأَوْسَطُهَا نَدَامَةٌ وَآخِرُهَا خِزْيٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه احمد.

قیامت په ورځ هغه په داسي حال کي را پورته کړي چي د هغه په غاړه کي به دده لاس وي ددې مصیبت څخه به هغه د هغه نیکي خلاصوي او یا د هغه گناه به هغه هلاك کړي ، د امارت پیل ملامتیا ده او مینځ یې پښیماني ده او د هغه پای په قیامت کي ذلت او رسوایي ده . احمد.

## د حضرت معاویه ﷺ په اړه د رسول الله ﷺ پیشگویي

(۳۵۴۶): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مُعَاوِيَةُ إِنْ وُلِّيتَ أَمْرًا فَاتَّقِ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ وَاعْدِلْ قَالَ فَمَا زِلْتُ أَظُنُّ أَنِّي مُبْتَلًى بِعَمَلٍ لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ابْتُلِيتُ . رواه احمد

د حضرت معاویه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : اې معاویه ! که ته د یو کار والي او حاکم و ټاکل سې نو د الله څخه بیرېږه او انصاف کوه ، د معاویه بیان دئ چي ما به همیشه دا خیال کوئ چي د رسول الله ﷺ د قول په وجه زه خامخا په یو کار کي اخته کیږم تر څو چي زه په حکومت کي اخته سوم . احمد.

## د راتلونکي زماني په اړه یو پیشگویي

(۳۵۴۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَوَّذُوا بِاللّٰهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِينَ وَمِنْ إِمَارَةِ الصِّبْيَانِ . روى الاحاديث الستة احمد و روى البيهقي حديث معاوية في دلائل النبوة .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو د الله ﷺ په ذریعه د اویا کالو د سر څخه (د هجرت په ۶۰ کال کي یزید والي سو) او د کوچنیانو د سرداری او امارت څخه پناه غواړئ ، شپږ سره حدیثونه امام احمد روایت کړي دي ، د معاویه حدیث بیهقي په دلائل النبوة کي روایت کړی دی .

## څرنگه چي تاسو عمل کوئ هم هغسي حاکم به در باندي مقرر وي

(۳۵۴۸): وَعَنْ يَحْيَى بْنِ هَاشِمٍ عَنْ يُونُسَ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا تَكُونُونَ كَذٰلِكَ يُؤَمَّرُ عَلَيْكُمْ .رواه البيهقي.

حضرت یحیی بن هاشم د حضرت یونس بن اسحاق او هغه د خپل پلار څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څرنگه چي تاسو یاست هم هغه دول به ستاسو امیران تاکل کیږي . بیهقي .

## پاچا د الله ﷺ سایه ده

(۳۵۴۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول

وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ السُّلْطَانَ ظِلُّ اللهِ فِي الْأَرْضِ يَأْوِيْ إِلَيْهِ كُلُّ مَظْلُوْمٍ مِنْ عِبَادِهِ فَإِذَا عَدَلَ كَانَ لَهُ الْأَجْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الشُّكْرُ وَإِذَا جَارَ كَانَ عَلَيْهِ الْإِصْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الصَّبْرُ. رواه البيهقي.

الله ﷺ وفرمايل: پاچا پر مځکه د الله تعالى سايه ده او د الله تعالى په بندګانو کي هر مظلوم بنده په هغه سره پناه تر لاسه کولای سي بيا چي هغه عدل او انصاف کوي نو هغه ته ثواب تر لاسه کيږي او پر رعيت د هغه شکر واجب کيږي او هر کله چي ظلم کوي پر هغه ګناه وي او پر رعيت باندي صبر لازم دئ. بيهقي.

**د قيامت په ورځ تر ټولو لويه مرتبه والا عادل حاکم**

(٣٥٥٠): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَفْضَلَ عِبَادِ اللهِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِمَامٌ عَادِلٌ رَفِيْقٌ وَإِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِمَامٌ جَائِرٌ خَرِقٌ. رواه البيهقي.

د حضرت عمر بن خطاب ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى په نزد د قيامت په ورځ د مرتبې په اعتبار د الله تعالى په بندګانو کي تر ټولو غوره عادل او نرمي کونکی حاکم دئ او بد ترين سړی سختي کونکی ظالم حاکم دئ. بيهقي.

**د مسلمان بېرول**

(٣٥٥١): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَظَرَ إِلَى أَخِيْهِ نَظْرَةً يُخِيْفُهُ أَخَافَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. روى الأحاديث الأربعة البيهقي في " شعب الإيمان ". وقال في حديث يحيى هذا: منقطع وروايته ضعيف.

د حضرت عبد الله بن عمرو ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د يو مسلمان ورور لوري ته په داسي نظر سره وګوري چي هغه د هغه څخه و بيرېږي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى هغه و بيروي. پورتني څلور سره حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي روايت کړي دي د وروستني حديث په باره کي ليکلي دي چي دا منقطع دئ او ددې روايت ضعيف دئ.

**د حاکم ظلم ته د بد ويلو پر ځای خپل عمل سم کړئ**

(٣٥٥٢): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُوْلُ أَنَا اللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا مَالِكُ الْمُلُوْكِ وَمَلِكُ الْمُلُوْكِ قُلُوْبُ الْمُلُوْكِ فِيْ يَدِيْ وَإِنَّ الْعِبَادَ إِذَا أَطَاعُوْنِيْ حَوَّلْتُ قُلُوْبَ مُلُوْكِهِمْ

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: زه الله يم هيڅ معبود زما څخه پرته د عبادت ور نسته زه د پاچاهانو پاچا يم د پاچاهانو زړونه زما په لاس کي دي او هر کله چي بندګان زما

| | |
|---|---|
| عَلَيْهِمْ بِالرَّحْمَةِ وَالرَّأْفَةِ وَإِنَّ الْعِبَادَ إِذَا عَصَوْنِي حَوَّلْتُ قُلُوبَهُمْ بِالسُّخْطَةِ وَالنِّقْمَةِ فَسَامُوْهُمْ سُوْءَ الْعَذَابِ فَلَا تَشْغَلُوْا أَنْفُسَكُمْ بِالدُّعَاءِ عَلَى الْمُلُوْكِ وَلٰكِنْ اَشْغَلُوْا أَنْفُسَكُمْ بِالذِّكْرِ وَالتَّضَرُّعِ كَيْ أَكْفِيَكُمْ مُلُوكَكُمْ . رواه أبو نعيم في الحلية. | اطاعت كوي زه د پاچاهانو زړونه د هغوئ په لور د رحمت او شفقت وګرځوم او هر كله چي بندګان زما نافرماني كوي نو زه د پاچاهانو زړونه د هغوئ لپاره سخت او غضبناك كوم، بيا چي خراب پاچا هغوئ ته لويه سزا وركړي |

نو د پاچاهانو لپاره بدد دعاء مه كوئ بلكه زما په ذكر كي مشغول سئ او عاجزي او زاري كوئ لپاره ددې چي زه تاسو د پاچا د شر څخه وساتم. دا حديث ابو نعيم په حليه كي روايت كړی دی.

# بَابُ مَا عَلَى الْوُلَاةِ مِنَ التَّيْسِيْرِ

## (د واليانو د لوري پر رعيت د نرمۍ كولو بيان)

## لومړی فصل

### حاكمانو ته نرمي كول پكار دي

| | |
|---|---|
| (٣٥٥٣): عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَعَثَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِهِ فِي بَعْضِ أَمْرِهِ قَالَ بَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا وَيَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا . متفق عليه. | د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په خپلو اصحابو كي يو څوك د يو كار پوره كولو لپاره ليږئ نو فرمايل به يې: خلكو ته زيری وركوئ، نفرت مه پيدا كوئ، آساني كوئ او سختي مه كوئ. بخاري او مسلم. |
| (٣٥٥٤):وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَسَكِّنُوا وَلَا تُنَفِّرُوا . متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو اساني كوئ سختي مه كوئ تسكين وركوئ نفرت مه پيدا كوئ. بخاري او مسلم. |
| (٣٥٥٥): وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جده وَأَبَا مُوسَى ومعاذا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا . متفق عليه. | د حضرت ابو بردة ﷺ څخه روايت دئ چي نبي كريم ﷺ د هغه نيكه ابو موسى او معاذ يمن ته وليږل او وه يې فرمايل: آساني كوئ، په ستونزه كي خلك مه غورځوئ، زيری وركوئ نفرت |

مه پیدا کوئ او اتفاق کوئ اختلاف مه کوئ . بخاري او مسلم

**د قیامت په ورځ د عهد ماتونکي رسوايي**

| | |
|---|---|
| (۳۵۵۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ . متفق عليه. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د عهد ماتونکي لپاره به د قیامت په ورځ یو بیرغ یا نښه ودرول سي او ورته وبه ویل سي دا د فلاني بن فلاني د عهد ماتولو نښه ده . بخاري او مسلم |
| (۳۵۵۷): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعْرَفُ بِهِ . متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به د عهد ماتولو یو نښه وي چې په هغه سره به د هغه شناخت کیږي . بخاري او مسلم . |
| (۳۵۵۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ عِنْدَ اسْتِه يَوْمَ الْقِيَامَةِ وفي رواية لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرْفَعُ لَهُ بِقَدْرِ غَدْرِهِ أَلَا وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ غَدْرًا مِنْ أَمِيرِ عَامَّةٍ . رواه مسلم | د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به د هر عهد ماتونکي نښه د هغه کوناتو ته نژدې ولاړه وي او په یوه روایت کښې دا الفاظ دي چې د هر عهد ماتونکي نښه به د قیامت په ورځ د هغه د |

عهد ماتولو سره سم لوړه کړل سي . خبردار ! هیڅ عهد ماتونکی د عهد ماتوني په اعتبار د عام امام څخه لوی نه دئ . مسلم .

## دویم فصل

**د عوامو ضروریات نه پوره کونکي حاکم په باره کي وعید**

| | |
|---|---|
| (۳۵۵۹): عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ وَلَّاهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ فَاحْتَجَبَ دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمْ احْتَجَبَ اللّٰهُ دُونَ حَاجَتِه وَخَلَّتِه وَفَقْرِه فَجَعَلَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا عَلَى | د حضرت عمرو بن مرة ﷺ څخه روایت دئ چې هغه حضرت معاویه ته وویل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي څوک چې الله تعالی د مسلمانانو د یو کار والي او حاکم جوړ کړي او هغه د هغوئ د حاجت، مطلب او فقر څخه |

حَوَائِجِ النَّاسِ . رواه ابوداؤد والترمذي و في رواية له ولاحمد اغلق الله ابواب السماء دون خلته و حاجته و مسكنته .

سترګي پټوي نو الله تعالی به د هغه د حاجت ، مطلب او فقر څخه په پرده کې سي، د دې په اوریدو سره معاویه یو سړی و ټاکی چې هغه د خلکو په ضروریاتو نظر وساتي او هغه پوره کوي. ابوداؤد، ترمذي، او د ترمذي او احمد په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي الله تعالی به د هغه په حاجت ، ضرورت او افلاس د آسمان دروازې بندې کړي.

## دریم فصل

### د حاکمانو دروازه باید خلاصه وي

(۳۵۶۰): عَنْ أَبِي الشَّمَّاخِ الْأَزْدِيِّ عَنِ ابْنِ عَمٍّ لَهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَتَى مُعَاوِيَةَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ النَّاسِ شَيْئًا ثُمَّ أَغْلَقَ بَابَهُ دُوْنَ الْمُسْلِمِيْنَ أَوِ الْمَظْلُوْمِ أَوْ ذِي الْحَاجَةِ أَغْلَقَ اللّٰهُ دُوْنَهُ أَبْوَابَ رَحْمَتِهِ عِنْدَ حَاجَتِهِ وَفَقْرِهِ أَفْقَرَ مَا يَكُوْنُ عَلَيْهِ . رواه البيهقي .

حضرت ابو شماخ ازدي خپل د اکا د زوی څخه روایت کوي چي صحابي دئ د هغه بیان دئ چي هغه حضرت معاویه ته ورغلی او ورته وه یې ویل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي څوك چي د خلکو پر یو کار ماموره کړل سو او بیا هغه خپله دروازه د مسلمانانو لپاره یا د مظلوم یا اړو کسانو لپاره بنده کړه نو الله تعالی به د خپل رحمت دروازې د هغه د ضرورت، حاجت او مفلسی پر وخت بندې کړي په خاصه توګه چي هغه اړ وي . بیهقي.

### خپل حاکمانو ته د حضرت عمر ؓ هدایت

(۳۵۶۱): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ كَانَ إِذَا بَعَثَ عُمَّالَهُ شَرَطَ عَلَيْهِمْ أَنْ لَا تَرْكَبُوْا بِرْذَوْنًا وَلَا تَأْكُلُوْا نَقِيًّا وَلَا تَلْبَسُوْا رَقِيْقًا وَلَا تُغْلِقُوْا أَبْوَابَكُمْ دُوْنَ حَوَائِجِ النَّاسِ فَإِنْ فَعَلْتُمْ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ فَقَدْ حَلَّتْ بِكُمُ الْعُقُوْبَةُ ثُمَّ يُشَيِّعُهُمْ . رواهما البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت عمر بن خطاب ؓ څخه روایت دئ کوم وخت چي هغه خپل عاملان لیږل نو د هغوئ سره به یې دا شرط کوئ چي پر ترکي آس به نه سپریږئ میده به نه خورئ ، نرۍ جامه به نه اغوندئ او خپل دروازه به د اړو کسانو څخه نه بندوئ که تاسي په دغو کي یو کار وکړی نو د سزا مستحق به سئ ، ددې څخه وروسته به حضرت عمر ؓ د هغو سره تر یو ځایه روان سو دوئ به یې رخصت کړل . بیهقي.

# بَابُ الْعَمَلِ فِي الْقَضَاءِ وَالْخَوْفِ مِنْهُ

(د قضاء عمل او د هغه څخه د ډيرېدو بيان)

## لومړی فصل

د غصې په حالت کي د جا فيصله مه کوئ

| | |
|---|---|
| (۳۵۶۲): عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَقْضِيَنَّ حَكَمٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ . متفق عليه | د حضرت ابوبکرة ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي حاکم په غصه کي وي نو د دوو کسانو په منځ کي دي حکم (پريکړه) نه کوي. بخاري او مسلم. |

قاضي ته د اجتهاد اختيار

| | |
|---|---|
| (۳۵۶۳): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ وَ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ وَاحِدٌ . متفق عليه | د حضرت عبدالله بن عمرو او ابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي حاکم پر حکم کولو اماده سي که اجتهاد وکړي (يعني پر معاملو باندي ډير غور او فکر |

وکړي) او د هغه پريکړه صحيح وي نو هغه ته به دوه برابر ثواب تر لاسه کيږي او که هغه پوره پوره کوښښ وکړي مگر غلطي خيني وسوه نو يو برابر ثواب به تر لاسه کړي. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

د قضاء منصب يو ابتلاء ده

| | |
|---|---|
| (۳۵۶۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړی چي د خلکو قاضي جوړ کړل سي نو هغه بې چړې حلال سو. احمد، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة. |

د قاضي جوړېدو غوښتنه مه کوئ

| | |
|---|---|
| (۳۵۶۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ ابْتَغَى الْقَضَاءَ وَسَأَلَ وُكِلَ إِلَى | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د قضاء د عهدې |

| | |
|---|---|
| نَفْسِهِ وَمَنْ أُكْرِهَ عَلَيْهِ أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْهِ مَلَكًا يُسَدِّدُهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة . | غوښتونکی وي او پاچا یا خلیفه څخه د هغه غوښتنه کوي هغه خپل ځان ته سپارل کیږي |

او چا ته چې دا منصب په زوره حواله کړل سي الله تعالی د هغه د مرستي لپاره یوه ملائکه رالیږي چې دده کارونه ور برابروي . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة.

## جنتي او دوزخي قاضیان

| | |
|---|---|
| (٣٥٦٦): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قاضیان پر درې ډوله دي چي په هغو کي به یو جنت ته او دویم به دوزخ ته ځي جنت ته به هغه حاکم ځي چي هغه حق و پیژندئ او په حق سره یې پریکړه وکړه او چا چي حق و پیژندئ او په ظلم یې پریکړه وکړه هغه به دوزخ |

ته ځي او بل (دریم) هغه دی چي د خلکو په منځ کي په جهالت (ناپوهي) سره پریکړه وکړه او حق یې ونه پیژندئ هغه به هم دوزخ ته ځي . ابوداؤد او ابن ماجة.

| | |
|---|---|
| (٣٥٦٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ قَضَاءَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى يَنَالَهُ ثُمَّ غَلَبَ عَدْلُهُ جَوْرَهُ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَمَنْ غَلَبَ جَوْرُهُ عَدْلَهُ فَلَهُ النَّارُ . رواه ابوداؤد . | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي د مسلمانانو حکومت او امارت وغوښتئ او هغه ورته تر لاسه سو او بیا د هغه انصاف د هغه پر ظلم غالب سو نو هغه |

ته به جنت تر لاسه کیږي او د چا ظلم چي پر انصاف غالب سو د هغه لپاره دوزخ دئ. ابوداؤد .

## قیاس او اجتهاد حق دی

| | |
|---|---|
| (٣٥٦٨): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ كَيْفَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ قَالَ أَقْضِي بِكِتَابِ اللّٰهِ قَالَ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللّٰهِ قَالَ فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَجْتَهِدُ رَأْيِي | د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دئ چي کله هغه رسول الله ﷺ یمن ته ولیږئ نو پوښتنه یې ځیني وکړه هر کله چي یوه معامله ستا په وړاندي راسي نو ته به څرنګه پریکړه کوي ، هغه عرض وکړ د الله د کتاب سره سم به پریکړه کوم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل که په کتاب الله کي هغه خبره نه وه ده وویل د رسول الله ﷺ د سنت |

وَلَا آلُو فَضَرَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ وَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللّٰهِ لِمَا يَرْضٰى بِهِ رَسُولَ اللّٰهِ . رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي.

سره سم به پريكړه كوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كه د رسول الله ﷺ په سنت كي هم هغه خبره نه وه؟ هغه عرض وكړ په خپل رايه سره به هغه كوم او په اجتهاد كي به كوتاهي نه كوم ،
ويلي دي راوي د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ هغه پر سينه په خپل مبارك لاس ووهاه او وه يې فرمايل : تول تعريفونه هغه الله تعالى لره دي چي هغه د رسول الله ﷺ استاذي ته ذدې امر توفيق وركړ چي د الله رسول پر هغه راضي دئ. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

**د مدعى عليه د بيان اورېدو پرته فيصله مه كوئ**

(۳۵۶۹): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ قَاضِيًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ تُرْسِلُنِي وَأَنَا حَدِيثُ السِّنِّ وَلَا عِلْمَ لِي بِالْقَضَاءِ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ سَيَهْدِي قَلْبَكَ وَيُثَبِّتُ لِسَانَكَ اذَا تَقَاضٰى إِلَيْكَ رَجُلَانِ فَلَا تَقْضِ لِلْأَوَّلِ حَتّٰى تَسْمَعَ كَلَامَ الْآخَرِ فَإِنَّهُ أَحْرٰى أَنْ يَتَبَيَّنَ لَكَ الْقَضَاءُ قَالَ فَمَا شَكَكْتُ فِي قَضَاءٍ بَعْدُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة، و سنذكر حديث ام سلمة انما قضي بينكم برايي في باب الاقضية والشهادات ان شاء الله.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه د قضا كولو لپاره يمن ته وليږلم ، ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! تا سو ما قاضي جوروئ زه زلمى يم او د قضا كولو علم نه لرم ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل الله تعالى به ستا زړه رهنمائي كړي او ستا ژبه به ثابته ساتي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي دوه كسان په يوه معامله كي تا ته راسي نو ته د لومړني كس يعني مدعى په حق كي تر هغه وخته پوري حكم (پريكړه) مه كوه تر څو پوري چي د دويم كس بيان وا نه ورې ، ځكه چي د مدعا عليه بيان به تا ته په حكم كولو كي مرسته دركړي ، حضرت علي ﷺ وايي ددې څخه وروسته ما په هيڅ حكم (پريكړه) كولو كي شك ونه كړ. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة.او ژر دی چي د ام سلمى حديث چي سر يې دادی (انما اقضی بينكم....) به په كتاب الاقضية والشهادات كي راوړو انشاء الله.

## دريم فصل

**د ظالم حاكم انجام**

(۳۵۷۰): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ حَاكِمٍ يَحْكُمُ بَيْنَ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر هغه حاكم چي د

النَّاسِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَلَكٌ آخِذٌ بِقَفَاهُ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَإِنْ قَالَ أَلْقِهِ أَلْقَاهُ فِي مَهْوَاةٍ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا . رواه احمد وابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان

خلكو په مينځ کي حکم کوي د قيامت په ورځ به په داسي حال کي راوستل سي چي يوې ملائکي به تر څټ نيولی وي بيا به ملائکه د آسمان په لور وګوري که الله تعالی حکم ورکړي چي دی وغورځوه نو هغه به د دوږخ په کنده کي وغورځول سي چي د هغه ژور والی د څلوېښتو کالو لار ده. احمد، ابن ماجة او بيهقي په شعب الايمان کي.

**د قيامت په ورځ د قاضي افسوس ناک حشر**

(٣٥٧١): وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى الْقَاضِي الْعَدْلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَتَمَنَّى أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ فِي تَمْرَةٍ قَطُّ . رواه احمد.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: انصاف خوښونکی حاکم به د قيامت په ورځ ددې آرزو کوي چي کاش هغه د دوو کسانو په منځ کي د يوې خرما د جګړې پريکړه هم نه وای کړې. احمد.

**عادل ته د الله ﷻ توفيق حاصل وي**

(٣٥٧٢): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الْقَاضِي مَا لَمْ يَجُرْ فَإِذَا جَارَ تَخَلَّى عَنْهُ وَلَزِمَهُ الشَّيْطَانُ . رواه الترمذي و ابن ماجة وفي رواية فاذا جار وكله الى نفسه.

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تر څو پوري چي قاضي ظلم نه کوي د هغه سره د الله تعالی توفيق او مرسته وي خو کله چي هغه ظلم را واخلي نو د الله تعالی توفيق او مرسته ځيني بيل سي او شيطان د هغه سره سي . ترمذي، ابن ماجة، او په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي کوم وخت چي هغه ظلم راواخلي نو هغه د هغه نفس ته حواله کړل سي.

(٣٥٧٣): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ مُسْلِمًا وَ يَهُودِيًّا اخْتَصَمَا اِلَى عُمَرَ فَرَأَى الْحَقَّ لِلْيَهُودِيِّ فَقَضَى لَهُ عُمَرُ بِهِ فَقَالَ لَهُ الْيَهُودِيُّ وَاللَّهِ لَقَدْ قَضَيْتَ بِالْحَقِّ فَضَرَبَهُ عُمَرُ بِالدِّرَّةِ و قَالَ وَمَا يُدْرِيكَ فَقَالَ الْيَهُودِيُّ وَاللَّهِ إِنَّا نَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّهُ لَيْسَ قَاضٍ يَقْضِي بِالْحَقِّ إِلَّا كَانَ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكٌ

د حضرت سعيد بن مسيب ﷺ څخه روايت دئ چي يو يهودي او يو مسلمان د حضرت عمر ﷺ په خدمت کي خپله جګړه راوړه ، حضرت عمر ﷺ د يهودي دعوا درسته وګڼل او د هغه په حق کي يې پريکړه وکړه ، يهودي وويل: په الله دي مي قسم وي تاسو د حق سره سم پريکړه وکړه ، حضرت عمر ﷺ هغه يهودي يوه دوره ووهئ او

وَعَنْ شِمَالِهِ مَلَكٌ يُسَدِّدَانِهِ وَيُوَفِّقَانِهِ لِلْحَقِّ مَا دَامَ مَعَ الْحَقِّ فَإِذَا تَرَكَ الْحَقَّ عَرَجَا وَتَرَكَاهُ . رواه مالك

ورته وه يې ويل تا ته څرنګه معلومه سوه ؟ چي پريکړه د حق سره سم وسول ، هغه عرض وکړ په الله تعالى دي مي قسم وي په تورات کي موږ ليدلي دي چي کوم حاکم په حق سره پريکړه کوي د هغه راسته او چپه لوري ته دوي ملائکي وي چي د هغه کارونه سموي تر څو پوري چي هغه حق پرست وي او هغه ته د حق توفيق ورکوي او هر کله چي هغه حق پريږدي نو هغه ملائکي آسمان ته ولاړي سي او هغه پريږدي . مالك .

### د حضرت ابن عمر ﷺ د قاضي کېدو څخه انکار

(٣٥٧٤): وَعَنِ ابْنِ مَوْهَبٍ أَنَّ عُثْمَانَ بن عفان قَالَ لِابْنِ عُمَرَ اقْضِ بَيْنَ النَّاسِ قَالَ أَوَ تُعَافِينِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ وَمَا تَكْرَهُ مِنْ ذَلِكَ وَقَدْ كَانَ أَبُوكَ يَقْضِي قَالَ لِأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ كَانَ قَاضِيًا فَقَضَى بِالْعَدْلِ فَبِالْحَرِيِّ أَنْ يَنْقَلِبَ مِنْهُ كَفَافًا فَمَا رَاجَعَهُ بَعْدَ ذَلِكَ ، رواه الترمذي وَفِي رِوَايَةِ رَزِينٍ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ لِعُثْمَانَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ لَا أَقْضِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ قَالَ فَإِنَّ أَبَاكَ كَانَ يَقْضِي فَقَالَ إِنَّ أَبِي لَوْ أَشْكَلَ عَلَيْهِ شَيْءٌ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ أَشْكَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ سَأَلَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَإِنِّي لَا أَجِدُ مَنْ أَسْأَلُهُ وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ عَاذَ بِاللَّهِ فَقَدْ عَاذَ بِعَظِيمٍ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ مَنْ عَاذَ بِاللَّهِ فَأَعِيذُوهُ وَإِنِّي أَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تَجْعَلَنِي قَاضِيًا فَأَعْفَاهُ وَقَالَ لَا تُخْبِرْ أَحَدًا .

د حضرت ابن موهب ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت عثمان ﷺ ابن عمر ﷺ ته وفرمايل : د خلکو په منځ کي حکم کوه ، ابن عمر ورته وويل : اي امير المؤمنين ! ما دې کار څخه معاف کړه ، حضرت عثمان ﷺ ورته وويل : ته دا مکروه ګڼي حال دا چي ستا پلار قضا کول، ابن عمر ﷺ ورته وويل څکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چي حاکم يا قاضي وي او حکم په انصاف سره وکړي نو هغه ته مناسب دي چي ددې منصب څخه وګرځي برابر ، ددې څخه وروسته حضرت عثمان ﷺ په دې اره د هغه سره څه خبره ونه کړه ، ترمذي، او د رزين په روايت کي چي د نافع څخه نقل دي دا الفاظ دي چي ابن عمر ﷺ حضرت عثمان ﷺ ته وويل : اي امير المؤمنين ! زه د دوو کسانو په منځ کي پريکړه نه سم کولای ، حضرت عثمان ﷺ ورته وويل ستا پلار خو به کول، عرض يې وکړ زما پلار ته چي به په دې اره څه مشکل پيش سو نو د رسول الله ﷺ څخه به يې پوښتنه کول او که مشکل به وو پر نبي کريم ﷺ يو شی نو د جبرائيل ﷺ څخه به يې پوښتنه کول، مګر زه نه وينم داسي څوك چي پوښتنه څيني وکړم ، او ما د رسول

الله ﷺ څخه دا هم اوریدلي دي چا چي په الله تعالی سره پناه وغوښتل هغه په لوی ذات سره پناه وغوښتل او دا مي هم د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي څوك چي د الله تعالی په ذریعه پناه و غواړي هغه ته پناه ورکړئ او زه د الله تعالی په ذریعه هم ددې خبري څخه پناه غواړم چي تاسو ما قاضي و ټاکئ، حضرت عثمان ؓ (پر دې خبره) ابن عمر ؓ معذور وګڼئ او وه یې فرمایل څوك ددې خبري څخه مه خبروه.

# بَابُ رِزْقِ الْوُلَاةِ وَهَدَايَاهُمْ

## (د والیانو د تنخواه او تحفو بیان)

### لومړی فصل

#### د رسول الله ﷺ د مال وېشل

| | |
|---|---|
| (۳۵۷۵): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أُعْطِيكُمْ وَلَا أَمْنَعُكُمْ أَنَا قَاسِمٌ أَضَعُ حَيْثُ أُمِرْتُ . رواه البخاري | د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه نه څه درکوم او نه یې درڅخه منع کولای سي زه خو یوازې قاسم (وېشونکی) |

یم ما ته چي کوم ځای د یو شي اېښودلو حکم راکړل سي زه هلته هغه شی رسوم. بخاري.

#### په قومي خزانې کي پر خیانت کونکي وعید

| | |
|---|---|
| (۳۵۷۶): وَعَنْ خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه البخاري . | د حضرت خوله انصاریه (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ډیر خلك د الله تعالی په مال کي ناحق تصرف کوي (یعني په زکوة، غنیمت او بیت المال کي) د هغوئ لپاره د |

قیامت په ورځ د دوږخ اور دئ. بخاري.

#### امام د بیت المال څخه تنخواه اخیستلای سي

| | |
|---|---|
| (۳۵۷۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا اسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ قَالَ لَقَدْ عَلِمَ قَوْمِي أَنَّ حِرْفَتِي لَمْ تَكُنْ تَعْجِزُ عَنْ مَئُونَةِ أَهْلِي وَشُغِلْتُ بِأَمْرِ الْمُسْلِمِينَ فَسَيَأْكُلُ آلُ أَبِي بَكْرٍ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَيَحْتَرِفُ | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ کله چي حضرت ابوبکر صدیق ؓ خلیفه سو، نو هغه وویل زما قوم ته څرګنده ده چي زما کاروبار زما د اهل او عیال د مصارفو لپاره کافي وو، اوس |

| | |
|---|---|
| لِلْمُسْلِمِيْنَ فِيْهِ . رواه البخاري. | زه د مسلمانانو په خدمت كې بوخت سوى يم ، |

له دې كبله د ابوبكر ﷺ اهل او عيال به د بيت المال څخه خوري او ابوبكر به دمسلمانانو لپاره په هغه مال كي كار كوي . بخاري .

## دويم فصل

### تر تنخواه زيات اخيستل خيانت دى

| | |
|---|---|
| (٣٥٧٨): عَنْ بُرَيْدَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَرَزَقْنَاهُ رِزْقًا فَمَا أَخَذَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ غُلُولٌ . رواه ابوداؤد. | د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي موږ پر يو كار و تاكو او هغه ته ددغه كار تنخواه و تاكل سي ، ددې |

څخه وروسته كه هغه د بيت المال څخه څه واخلي نو دا خيانت دئ . ابوداؤد

### د حاكم اجرت

| | |
|---|---|
| (٣٥٧٩): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَمَّلَنِي . رواه ابوداؤد . | د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه عامل جوړ كړم او د هغه اجرت ما ته راكړل سو . ابوداؤد. |

### حضرت معاذ ﷺ ته هدايت

| | |
|---|---|
| (٣٥٨٠): وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ بَعَثَنِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ فَلَمَّا سِرْتُ أَرْسَلَ فِي أَثَرِي فَرُدِدْتُ فَقَالَ أَتَدْرِي لِمَ بَعَثْتُ إِلَيْكَ لَا تُصِيْبَنَّ شَيْئًا بِغَيْرِ إِذْنِي فَإِنَّهُ غُلُولٌ { وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ } لِهٰذَا دَعَوْتُكَ فَامْضِ لِعَمَلِكَ . رواه الترمذي. | د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه يمن ته وليږلم ، كله چي زه روان سوم نو په ما پسي يې يو سړى راوليږئ ، كله چي زه بيرته راغلم نو نبي كريم ﷺ وفرمايل : تا ته څرګنده ده چي ما ته ولې دويم وار رابللى يې، ته زما د اجازې څخه پرته يو شى وانه خلې |

(ځكه چي )داسي اخيستل خيانت دئ او څوك چي خيانت وكړي : قيامت په ورځ به د هغه شي سره راسي په كوم كي چي يې خيانت كړى دئ نو ما ته ددې لپاره رابللى يې اوس ته په خپل كار پسي څه . ترمذي.

### د بېله تنخواه حاكم د مصارفو بيت المال كفيل وي

| | |
|---|---|
| (٣٥٨١): وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ كَانَ لَنَا عَامِلًا | د حضرت مستورد بن شداد ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك |

فَلْيَكْتَسِبْ زَوْجَةً فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ خَادِمٌ فَلْيَكْتَسِبْ خَادِمًا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَسْكَنٌ فَلْيَكْتَسِبْ مَسْكَنًا وفي رواية مَنِ اتَّخَذَ غَيْرَ ذَلِكَ فَهُوَ غَالٌّ . رواه ابوداؤد

چې زموږ حاكم سو هغه ته پكار دي كه د هغه سره ښځه نه وي نو يوه ښځه دې تر لاسه كړي او كه خادم يې نه وي نو يو خادم دې رانيسي او كه كور يې نه وي نو يو كور دې رانيسي (دا په هغه صورت كې چې د حاكم تنخواه تاكل سوې نه وي) او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې ددې څخه پرته څه اخلي دې نو هغه په خيانت كې داخل دې . ابوداؤد.

**په بيت المال كې خيانت مه كوئ**

(٣٥٨٢): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عُمِّلَ مِنْكُمْ لَنَا عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِنْهُ مَخِيطًا فَمَا فَوْقَهُ فَهُوَ غُلٌّ يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالَ سَمِعْتُكَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا قَالَ وَأَنَا أَقُولُ ذَلِكَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَأْتِ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَهُ وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى . رواه مسلم وابوداؤد واللفظ له .

د حضرت عدي بن عمير ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې خلكو ! څوك چې په تاسو كې د يو كار حاكم وټاكل سي او هغه زموږ څخه ددې كار د آمدني څخه د ستني په اندازه يا ددې څخه زيات پټ كړي نو هغه خيانت كونكى دئ او د قيامت په ورځ به هغه د خيانت كړل سوې شي سره راوستل سي ، يو انصاري ولاړ سو او وه يې ويل اې دالله رسوله ! خپل كار زما څخه بيرته واخلئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل :ولې ، ده وويل چې ما ستاسو څخه داسې او داسې اوريدلي دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه اوس هم دا وايم چې څوك موږ پر يو كار حاكم و ټاكو هغه دې د هغه د آمدني جز او كل (لږ او ډېر) هر څه راوړي او د هغه څخه چې څومره وركړل سي هغه دې واخلي او څه چې ور نه كړل سي د هغه څخه دې منع سي . مسلم او ابوداؤد .

**پر رشوت وركونكي او اخيستونكي لعنت**

(٣٥٨٣): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ .رواه ابوداؤد وابن ماجة و روى الترمذي عنه وعن ابي هريرة و رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان عن ثوبان و زاد والرائش يعني الذي يمشي بينهما .

د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ پر رشوت اخيستونكي او رشوت وركونكي دواړو باندې لعنت فرمايلى دئ. ابوداؤد او ابن ماجة، او ترمذي د عبد الله بن عمر ﷺ څخه او ابوهريرة څخه او احمد هم روايت كړى دئ او بيهقي په شعب الايمان كې د حضرت ثوبان

ښخه روایت کړی دی ، دبیهقي په روایت کي دا الفاظ هم دي چي رائش باندي هم لعنت فرمایلی دئ يعني پر هغه سړي چي د رشوت اخیستونکی او رشوت ورکونکی په منځ کي واسطه وي .

**حلاله گټه یو ډېر ښه شی دی**

﴿۳۵۸۴﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِ اجْمَعْ عَلَيْكَ سَلَاحَكَ وَثِيَابَكَ ثُمَّ ائْتِنِيْ قَالَ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ فَقَالَ يَا عَمْرُو إِنِّيْ أَرْسَلْتُ إِلَيْكَ لِأَبْعَثَكَ فِيْ وَجْهٍ يُسَلِّمُكَ اللهُ وَيُغَنِّمُكَ وَأَزْعَبُ لَكَ زَعْبَةً مِّنَ الْمَالِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا كَانَتْ هِجْرَتِيْ لِلْمَالِ وَمَا كَانَتْ إِلاَّ لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ قَالَ نِعِمَّا بِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ . رواه في شرح السنة و روى أحمد نحوه وفي روايته قَالَ نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ .

د حضرت عمرو بن عاص ﷺ ښخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته خبر راولیږئ چي د خپلي وسلي او جامو سره ما ته راسه ، نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، رسول الله ﷺ اودس کوئ چي زه یې ولیدم نو وه یې فرمایل : اې عمرو ! ما ته ددې لپاره رابللی یې چي زه تا یو خوا ته ولیږم ، الله تعالی به تا سلامت لري او مال غنیمت به درکړي ، او په مال کي به یوه برخه تا ته درکړم ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما هجرت د مال د خواهش لپاره نه وو بلکه زما هجرت یوازي د الله تعالی او د هغه د رسول لپاره وو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : نیك بخت سړي لپاره ښه مال ښه شي دئ . په شرح السنة کي داسي روایت دئ او احمد هم داسي روایت کړی دئ خو د هغه په روایت کي دا الفاظ دي : پاك مال د صا لح سړي لپاره ډیر ښه دئ .

## دریم فصل

**سفارش کونکي دي تحفه نه قبلوي**

﴿۳۵۸۵﴾: عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَفَعَ لِأَحَدٍ شَفَاعَةً فَأَهْدَى لَهُ هَدِيَّةً عَلَيْهَا فَقَبِلَهَا فَقَدْ أَتَى بَابًا عَظِيْمًا مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو مامة ﷺ ښخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي یو حاکم یا امیر ته د یو چا سفارش وکړي او هغه هغه حاکم ته تحفه ولیږي او هغه تحفه قبوله کړي نو د هغه دا کار داسي دئ لکه چي هغه د سود پر یوه لویه دروازه داخل سو . ابوداؤد .

# بَابُ الْأَقْضِيَةِ وَالشَّهَادَاتِ (د دعوو او شهادتونو بيان)

## لومړی فصل

**د مدعي دعوه بېله شاهدانو معتبره نه ده**

(۳۵۸۶): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ لَادَّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ وَأَمْوَالَهُمْ وَلٰكِنَّ الْيَمِينَ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ . رواه مسلم و في شرحه للنوي انه قال و جاء في رواية البيهقي باسناد حسن او صحيح زيادة عن ابن عباس مرفوعا لكن البينة على المدعى واليمين على من انكر .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه خلكو ته صرف په دعوا د هغوئ مدعا وركړل سي نو ډير خلك به د خپلو خلكو د خون او مال دعوا وكړي مگر قسم پر مدعا عليه دئ. مسلم او د بيهقي په حواله د نووي په روايت كي دا الفاظ دي چي د مدعی پر ذمه شاهدان دي او څوك چي انكار وكړي پر هغه قسم دئ.

**په عدالت كي د دروغو قسم اخيستل**

(۳۵۸۷): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَقِيَ اللّٰهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى تَصْدِيقَ ذٰلِكَ {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا} إِلٰى آخِرِ الْآيَةِ . متفق عليه

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د يو شي پر مقيد كېدو باندي د دروغو قسم واخلي او هغه خپل په قسم كي دروغجن وي چي په هغه سره د يو مسلمان مال تر لاسه كړي نو هغه به د قيامت په ورځ د الله تعالی سره په داسي حال كي ملاقات وكړي چي الله تعالی به ډير غضبناك وي ، الله تعالی ددې تصديق دا آيت نازل كړی دئ: (ان الذين يشترون...) . بخاري او مسلم.

(۳۵۸۸): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللّٰهُ لَهُ النَّارَ وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي په قسم اخيستلو سره د يو مسلمان حق خوري د هغه لپاره الله تعالی دوزخ واجب كړ او پر هغه يې

| | |
|---|---|
| قَالَ وَإِنْ كَانَ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ . رواه مسلم | جنت حرام کړ ، یو سړي عرض وکړ اې د الله ﷺ |

رسوله ! که څه هم هغه يو معمولي شی وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل که څه هم د اراك (يو ډول درخته) د درختې يو لرګي وي . مسلم.

**مدعي ته يو لارښوونه**

| | |
|---|---|
| (٣٥٨٩): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ وَّ إِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ فَاَقْضِيَ لَهُ عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ مِنْهُ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْئٍ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ فَلَا يَأْخُذَنَّهُ فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ .متفق عليه | د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه يو انسان يم او تاسو خپلي جګړې ما ته راوړئ ، کيداى سي چي په تاسو کي څوك داسي وي چي په دليل سره ژبه وروي پر څينو ستاسو او زه پر هغه بيان چي اورم حکم ورکوم چي د هغه په حق کي زه پريکړه |

وکړم او په حقيقت کي هغه شی چي د هغه پريکړه سوی وي د هغه د ورور وي نو هغه دي نه اخلي په داسي صورت کي لکه زه د هغه لپاره چي د دوږخ د اور يو ټوټه فيصله کوم . بخاري او مسلم

**په ناحقه دعوه کونکی**

| | |
|---|---|
| (٣٥٩٠): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللّٰهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ . متفق عليه. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى په نزد بدترين او مبغوض ترين کس هغه دئ چي پر ناحقه زيات جګړه |

کونکی وي . بخاري او مسلم.

**ايا مدعي په يوه شاهد او قسم سره دعوه ثابتولاى سي**

| | |
|---|---|
| (٣٥٩١): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِيَمِيْنٍ وَشَاهِدٍ . رواه مسلم . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په يوه معامله کي حکم کړی وو په قسم او شاهد سره . مسلم. |

**د مدعى عليه د قسم اعتبار**

| | |
|---|---|
| (٣٥٩٢): وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ هٰذَا قَدْ غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ لِي فَقَالَ الْكِنْدِيُّ هِيَ | حضرت علقمه بن وائل د خپل پلار څخه روايت کوي چي يو سړی د حضر موت (په يمن کي يو ښار) اوسيدونکی وو او يو سړی د کنده قبيلې وو ، دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول ، حضرمي عرض وکړ اې د الله رسوله ! دغه |

أَرْضِي فِي يَدِي لَيْسَ لَهُ فِيهَا حَقٌّ فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَضْرَمِيِّ أَلَكَ بَيِّنَةٌ قَالَ لَا قَالَ فَلَكَ يَمِينُهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الرَّجُلَ فَاجِرٌ لَا يُبَالِي عَلَى مَا حَلَفَ عَلَيْهِ وَلَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ قَالَ لَيْسَ لَكَ مِنْهُ إِلَّا ذَلِكَ فَانْطَلَقَ لِيَحْلِفَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَدْبَرَ لَئِنْ حَلَفَ عَلَى مَالِهِ لِيَأْكُلَهُ ظُلْمًا لَيَلْقَيَنَّ اللّٰهَ وَهُوَ عَنْهُ مُعْرِضٌ . رواه مسلم .

سړي زما مځکه غصب کړې ، کندي عرض وکړ هغه زما مځکه ده او زما په قبضه کې ده پر هغې دده هيڅ حق نسته، نبي کريم ﷺ حضرمي ته وفرمايل : ستا شاهدان سته ، هغه عرض وکړ چې يا ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل نو اوس د مدعا عليه قسم ستا لپاره بس دئ ، حضرمي عرض وکړ اې دالله رسوله ! دی خو يو فاجر سړی دئ د قسم پروا نه لري، او د هيڅ شي څخه پرهيز نه کوي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستا لپاره دده څخه يوازې قسم اخيستل کيدلای سي ، نو کندي د قسم اخيستلو لپاره را مخته سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : که دا سړی د بل پر مال قسم واخلي يوازې له دې کبله چې په زوره د هغه مال هضم کړي نو دی به د الله تعالی سره په داسي حال کې يو ځای کيږي چې الله تعالی به خيني بيزاره وي . مسلم .

### د درواغو دعوه کونکي ځای دوږخ دی

(۳۵۹۳): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چې هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: څوك چې د يو داسي شی دعوه وکړي چې د هغه نه وي نو هغه زموږ څخه نه دئ هغه ته پکار ده چې خپل ځای په جهنم کي ولټوي . مسلم .

### غوره شاهد څوك دی

(۳۵۹۴): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ الَّذِي يَأْتِي بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا . رواه مسلم .

د حضرت زيد بن خالد ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :ايا زه تاسو نه خبرومه په غوره د شاهدانو باندي ، غوره شاهد هغه دی چې د غوښتلو څخه وړاندي شاهدي ورکړي او حقه خبره وکړي . مسلم .

### د درواغو شاهدي ورکونکي په اړه يو پيشگوئي

(۳۵۹۵): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د غوره خلکو زما زمانه ده بيا هغه خلك چې د هغوئ سره پيوست دي او

أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ . متفق عليه

ددې څخه وروسته هغه خلك چې د هغوئ سره پيوست دي ، بيابه داسې خلك پيدا سي چې د قسم څخه وړاندي به شاهدي ورکوي او د شاهدي څخه وړاندي به قسم خوري . بخاري او مسلم .

**د قسم لپاره د قرعه اندازۍ ذكر**

(٣٥٩٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَ عَلَى قَوْمٍ الْيَمِينَ فَأَسْرَعُوا فَأَمَرَ أَنْ يُسْهَمَ بَيْنَهُمْ فِي الْيَمِينِ أَيُّهُمْ يَحْلِفُ . رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د يوې ډلې په وړاندي د قسم اخيستلو تجويز وكړ نو هغوئ په قسم خوړلو كې تلوار وكړ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوئ په مينځ كې دې سهم (هسكه، پچه) واچول سي چې په هغوئ كې كوم يو اول قسم واخلې. بخاري.

## دويم فصل

**شاهد او قسم**

(٣٥٩٧): عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ . رواه الترمذي

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : شاهد د مدعا پر ذمه دئ او قسم پر مدعا عليه دئ. ترمذي .

**كه د يوه شي دوه مدعا وي نو ...**

(٣٥٩٨): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَيْهِ فِي مَوَارِيثَ لَمْ تَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ إِلَّا دَعْوَاهُمَا فَقَالَ مَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْءٍ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ فَقَالَ الرَّجُلَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ حَقِّي هٰذَا لِصَاحِبِي فَقَالَ لَا وَلَكِنِ اذْهَبَا فَاقْتَسِمَا وَتَوَخَّيَا الْحَقَّ ثُمَّ اسْتَهِمَا ثُمَّ لِيُحَلِّلْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْكُمَا صَاحِبَهُ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ إِنَّمَا أَقْضِي بَيْنَكُمَا بِرَأْيِي فِيمَا لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيهِ.رواه ابوداؤد

حضرت ام سلمة (رض) د هغه دوو كسانو پېښه بيانوي چې د خپلي معاملې لپاره د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سول ، د ميراث معامله وه او په دواړو كې د يوه شاهد هم نه وو ، يوازي دعوه وه ، رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمايل : په تاسو كې د چا لپاره چې زه د هغه د ورور په حق كې پريكړه وكړم نو زما دا پريكړه د هغه لپاره د اور يوه ټوټه ده ، په هغو كې دواړو هر يوه عرض وكړ اې دالله رسوله ! زما حق زما د ملګري لپاره دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : يا ، داسي نه ده

بلکه تاسو دواړه ددې شي په خپل منځ کي په ویشلو کي د انصاف څخه کار واخلئ او هر کله چي دا شي دوې برخي کړئ نو پر دواړو برخه قرعه اندازي (پچه) واچوئ او بیا په تاسو کي هر یو بل ته خپل حق معاف کړئ چي د هغه لوري ته تللی وي ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي دا حکم زه په خپل رایه سره کوم او په دې اړه پر ما وحي نه ده راغلې . ابوداؤد .

**د قابض په حق کي فیصله**

| | |
|---|---|
| (۳۵۹۹): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَجُلَيْنِ تَدَاعَيَا دَابَّةً فَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ أَنَّهَا دَابَّتُهُ نَتَجَهَا فَقَضٰى بِهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلَّذِيْ فِيْ يَدِهِ . رواه في شرح السنة. | د حضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روایت دئ چي دوو کسانو د یو حیوان په اړه دعوا وکړه نو ودرول هر یوه له دواړو څخه شاهدان چي دا حیوان د هغه دئ دچا سره چي زیږیدلی دئ ، |

رسول الله ﷺ حیوان هغه سړي ته ورکړي چي د چا په لاس کي وو . شرح السنة.

**د دوو مدعیانو په منځ کي د مال تقسیم**

| | |
|---|---|
| (۳۶۰۰): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيْرًا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا شَاهِدَيْنِ فَقَسَمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ. رواه ابوداؤد و في رواية له وللنسائي وابن ماجة أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيْرًا لَيْسَتْ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ فَجَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا . | د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي دوو کسانو د یوه اوښ دعوه وکړه ، او دواړو دوه دوه شاهدان وړاندي کړل ، رسول الله ﷺ اوښ د دواړو په منځ کي نیم وویشئ ، ابوداؤد ، او د ابوداؤد په یو بل روایت کي او د نسائي أو ابن ماجه په روایت کي دا الفاظ دي چي دوو کسانو د یوه اوښ دعوه وکړه او په دواړو کي یوه هم شاهد نه |

درلودئ ، رسول الله ﷺ اوښ دواړو ته حواله کړ .

| | |
|---|---|
| (۳۶۰۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا فِيْ دَابَّةٍ وَّ لَيْسَ لَهُمَا بَيِّنَةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَهِمَا عَلَى الْيَمِيْنِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي د دوو کسانو پر یو حیوان باندي جګړه سوه ، او د دواړو سره شاهد نه وو ، نبي کریم ﷺ |

و فرمایل : پر قسم اخیستلو قرعه اندازي وکړئ . ابوداؤد او ابن ماجة.

**د مدعی علیه قسم**

| | |
|---|---|
| (۳۶۰۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ حَلَّفَهُ احْلِفْ بِاللهِ الَّذِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ هغه سړي ته چي هغه ته د قسم |

مَا لَهُ عِنْدَكَ شَيْءٌ يَعْنِي لِلْمُدَّعِي . رواه ابوداؤد .

ورکولو اراده وه وفرمایل : (ته داسي قسم واخله) چي زه قسم اخلم په هغه ذات چي د هغه څخه پرته بل معبود نسته چي ددغه سړي (مدعی) پر تا هیڅ حق نسته . ابوداؤد.

**مدعا علیه ته د قسم حق ورکول کیږي**

(۳۶۰۳): وَ عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ أَرْضٌ فَجَحَدَنِي فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَكَ بَيِّنَةٌ قُلْتُ لَا قَالَ لِلْيَهُودِيِّ احْلِفْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِذًا يَحْلِفُ وَيَذْهَبُ بِمَالِي فَأَنْزَلَ اللّٰهُ {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا} الْآيَةَ. رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت اشعث بن قیس ﷺ څخه روایت دئ چي زما او د یو یهودي یوه ګډه مځکه وه ، یهودي زما د برخي راکولو څخه انکار وکړ ، ما هغه نبي کریم ﷺ ته راوستی ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا ستا شاهد سته؟ ما وویل او یا رسول الله ﷺ ایهودي ته وفرمایل : ته قسم واخله ، ما عرض وکړ اي دالله رسوله ! دی به اوس قسم واخلي او زما مال به یوسي ، پر دې خبره باندي دا آیت نازل سو : (ان الذین یشرون.......) . ابوداؤد او ابن ماجة.

**د دروا غو قسم اخیستونکي په اړه وعید**

(۳۶۰۴): وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِنْدَةَ وَرَجُلًا مِنْ حَضْرَمَوْتَ اخْتَصَمَا إِلَى رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَرْضٍ مِنَ الْيَمَنِ فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُو هٰذَا وَهِيَ فِي يَدِهِ قَالَ هَلْ لَكَ بَيِّنَةٌ قَالَ لَا وَلٰكِنْ أُحَلِّفُهُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ أَنَّهَا أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُوهُ فَتَهَيَّأَ الْكِنْدِيُّ لِلْيَمِينِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْتَطِعُ أَحَدٌ مَالًا بِيَمِينٍ إِلَّا لَقِيَ اللّٰهَ وَهُوَ أَجْذَمُ فَقَالَ الْكِنْدِيُّ هِيَ أَرْضُهُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت اشعث بن قیس ﷺ څخه روایت دئ چي د یو کندي قبیلې اوسیدونکی او یو حضرمي قبیلې اوسیدونکی په منځ کي د یمن پر یوه مځکه باندي جګړه سوه ، دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول ، حضرمي وویل اي دالله رسوله ! دده پلار زما څخه زما مځکه په زور اخیستې وه اوس هغه دده په لاس کي ده ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ستا څوک شاهد سته ؟ هغه عرض وکړ :یا ، مګر زه به قسم پر واخلم، چي قسم دئ په الله تعالی هغه ته معلومه ده چي دا مځکه زما (حضرمي) ده او دده پلار دا مځکه زما څخه په زور اخیستې وه ، کندي د قسم اخیستلو لپاره تیار سو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي په قسم خوړلو سره د چا مال په خپله قبضه کي کړي هغه به د الله تعالی سره په داسي حال کي یو ځای کیږي چي د هغه لاس به پرېکړی

وي ، «د دې په اوريدو سره» كندې ووېل دا مخكه دده ده . ابوداؤد.

**د دروا غو قسم اخيستل لويه گناه ده**

(٣٦٠٥): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُنَيْسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ الشِّرْكُ بِاللّٰهِ وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ وَمَا حَلَفَ حَالِفٌ بِاللّٰهِ يَمِيْنَ صَبْرٍ فَأَدْخَلَ فِيهَا مِثْلَ جَنَاحِ بَعُوضَةٍ إِلَّا جُعِلَتْ نُكْتَةً فِي قَلْبِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت عبد الله بن انيس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په گناهونو كي تر ټولو لوى گناهونه دادي : د الله تعالى سره يو څوك شريك نيول ، د مور او پلار نافرماني كول ، په دروا غو قسم اخيستل او كوم سړى چي په مقيد كولو «مجبورى» سره پر الله قسم واخلي او په هغه كي د غوماشي د وزر په اندازه هم درواغ ووايي نو د هغه پر زړه به تر قيامت پوري يو داغ لگول كيږي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

(٣٦٠٦): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحْلِفُ أَحَدٌ عِنْدَ مِنْبَرِي هٰذَا عَلَى يَمِيْنٍ آثِمَةٍ وَلَوْ عَلَى سِوَاكٍ أَخْضَرَ إِلَّا تَبَوَّأَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ أَوْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ . رواه مالك و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي زما ددغه منبر سره د درواغو قسم واخلي كه څه هم هغه د يوه شين مسواك لپاره وي هغه د دوږخ په اور كي خپل ځان ته ځاى تياروي يا رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل : د هغه لپاره به د دوږخ اور واجب سي . مالك ، ابوداؤد او ابن ماجة .

**د دروا غو شاهدي د شرك سره سمه ده**

(٣٦٠٧): وَعَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ قَالَ صَلَّى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَامَ قَائِمًا فَقَالَ عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّوْرِ بِالْإِشْرَاكِ بِاللّٰهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ قَرَأَ { فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّوْرِ حُنَفَاءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهِ }. رواه ابوداؤد وابن ماجة و رواه احمد والترمذي عن لكن ابن خريم الا ان ابن ماجة لم يذكر القراءة .

د حضرت خريم بن فاتك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سهار لمونځ وكړ كله چي دلمانځه څخه فارغ سو نو ولاړ سو او درې واره ئې دا الفاظ وفرمايل : په درواغو شاهدي د شرك سره برابر كړل سوه ، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ «فاجتنبوا ....» «دپليتو بتانو د بندگى څخه ځان وساتئ او د درواغ ويلو څخه ځان وساتئ او د باطل څخه د حق په لور رجوع وكړئ او د الله تعالى سره هيڅوك مه شريكوئ» . ابوداؤد ،

ابن ماجة، احمد او ترمذي دا د حضرت ايمن بن خريم څخه روايت كړى دئ خو ابن ماجه د قرائت ذكر نه دى كړى.

**د كومو خلكو د شاهدئ اعتبار دى؟**

(٣٦٠٨): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ وَلَا مَجْلُودٍ حَدًّا وَلَا ذِي غِمْرٍ عَلَى أَخِيهِ وَلَا ظَنِينٍ فِي وَلَاءٍ وَلَا قَرَابَةٍ وَلَا الْقَانِعِ أَهْلَ الْبَيْتِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و يزيد بن زياد الدمشقي الراوي منكر الحديث.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ددغه خلكو شاهدي د باور وړ او جائز نه ده :د خيانت كونكي سړي او خيانت كونكي ښځي، پر چا چې د تهمت حد جاري سوى وي، د دښمن كه څه هم ورور وي، د هغه غلام چې يو چا ازاد كړى او هغه وايي چې هغه بل سړي ازاد كړى دئ، د هغه سړي چې خپل نسبت د بل سره يو ځاى كوي، د هغه سړي چې د خپل كورنى سره په خوراك او څښاك كي ګډ وي لكه خادم وغيره ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ ځكه چې ددې يو راوي يزيد بن زياد د مشقي د حديث څخه منكر دئ.

(٣٦٠٩): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلاَ خَائِنَةٍ وَ لاَ زَانٍ وَلاَ زَانِيَةٍ وَلاَ ذِي غِمْرٍ عَلَى أَخِيهِ وَرَدَّ شَهَادَةَ الْقَانِعِ لِأَهْلِ الْبَيْتِ . رواه ابوداؤد .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د خيانت كونكي سړي او خيانت كونكي ښځي شاهدي جائز نه ده ، نه د زنا كار سړي او نه د زنا كاري ښځي او نه خاوند د كينې او نه د هغه سړي چې د چا سره په خوراك او څښاك كي ګډ سي . ابوداؤد

**د ښاري په حق كي د صحرائي شاهدي قبليږي كه يا؟**

(٣٦١٠): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ بَدَوِيٍّ عَلَى صَاحِبِ قَرْيَةٍ . رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: رواه نه دہ شاهدي د صحرائي پر خلاف د ښاري باندي. ابوداؤد او ابن ماجة.

**په خپل مقدمه كي هوښياري په فهم كي ولرئ**

(٣٦١١): وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ فَقَالَ الْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ لَمَّا أَدْبَرَ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ فَقَالَ النَّبِيُّ

د حضرت عوف بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبي كريم ﷺ ددو كسانو په منځ كي حكم وكړى د چا خلاف چې حكم وركړل سوى وو هغه په تګ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللّٰهَ يَلُومُ عَلَى الْعَجْزِ وَلٰكِنْ عَلَيْكَ بِالْكَيْسِ فَإِذَا غَلَبَكَ أَمْرٌ فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ. رواه ابوداؤد

كي چي شا يې سوه وويل ما ته زما الله بس دئ او هغه غوره كار جوړونكى دئ، نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله تعالى پر عجز باندي سزا دركوي ليكن پر تا هوښياري ده كه ته عاجزه سې نو دا ووايه ما ته زما الله بس دئ او هغه غوره كار جوړونكى دئ. ابوداؤد.

**د ملزم بندي كول شرعي سزا ده**

(٣٦١٢): وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَبَسَ رَجُلًا فِي تُهْمَةٍ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي ثم خلى عنه.

حضرت بهز بن حكيم د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ د تهمت په ويلو يو سړى بندي كړ. ابوداؤد، ترمذي او نسائي ددې په آخر كي دا الفاظ هم زيات كړي دي چي بيا يې هغه پرېښودى.

## دريم فصل

**مدعي او مدعا عليه بايد دواړه د حاكم په مخ كي حاضر وي.**

(٣٦١٣): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يَقْعُدَانِ بَيْنَ يَدَيِ الْحَكَمِ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ حكم وكړ چي دواړي ډلي (مدعا او مدعاعليه) دي د حاكم په مخ كي كښيني. احمد او ابوداؤد.

# كِتَابُ الْجِهَادِ (د جهاد بيان)

## لومړی فصل

غوره جهاد

(۳۶۱۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَبِرَسُولِهِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا قَالُوا أَفَلَا نُبَشِّرُ النَّاسَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللّٰهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللّٰهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ أُرَاهُ فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي پر الله تعالى او د هغه پر رسول ايمان راوړ، لمونځ يې وكړ او د رمضان روژې يې ونيولې نو د الله تعالى لپاره ضروري ده چي هغه په جنت كي داخل كړي كه څه هم هغه د الله تعالى په لار كي جهاد وكړي او كه په خپل وطن چي دى پكښي پيدا سوى دى كي پاته سي (يعني جهاد ونه كړي)، صحابه كرامو عرض وكړ ايا موږ خلكو ته زيرى واورو، رسول الله ﷺ وفرمايل: بېشكه په جنت كي سل درجې دي چي الله تعالى د جهاد كوونكو في سبيل الله لپاره تياري كړي دي د هغو دوو درجو په منځ كي دومره فاصله ده څومره چي د آسمان او مځكي په منځ كي فاصله ده هر كله چي تاسو د الله تعالى څخه جنت غواړئ نو جنت الفردوس غواړئ څكه چي دا د جنت اوسط او اعلى درجه ده او پر دې سربيره د الله تعالى عرش دئ او د هغه څخه د جنت ولې بهيږي. بخاري.

(۳۶۱۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللّٰهِ لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَلَا صَلَاةٍ حَتّٰى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى په لار كي جهاد كوونكى تر څو پوري چي هغه د جهاد څخه را نسي داسي دئ لكه څرنگه چي روژه نيوونكى عبادت كوونكي او قرآن ويونكي چي هيڅكله د روژو نيولو او لمونځ كولو څخه نه ستړى كيږي. بخاري او مسلم.

(۳۶۱۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْتَدَبَ اللّٰهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ أَوْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله تعالى په لار كي (د جهاد لپاره) ووتئ نو الله تعالى د هغه ضامن سو، هغه (د جنگ ډگر ته) د هغه ايمان بوتلئ او زما او زما د رسولانو په تصديق كي هغه خو به يا د اجر غنيمت سره راستون كرم يا (پر شهيد كېدو باندي) به هغه په جنت كي داخل كرم. بخاري او مسلم.

**د رسول الله ﷺ د جهاد جذبه او د شهادت شوق**

(۳۶۱۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْلَا أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَا تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي وَلَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په لاس كي زما روح دى كه زما سره ددې خيال نه واى چي ډير مسلمانان به زما څخه په بېلېدو ناخوښه وي نو زه به هيڅكله د يوه جهاد څخه نه پاته كېدلاى، او د الله تعالى په لار كي به مي جهاد كولاى، او زما سره ډيري سپرلۍ نسته (له دې كبله زه تاسو مسلمانان د ځان سره نه سم بيولاى) او قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په لاس كي زما روح دى زه هم دا ډيره خوښوم چي د الله تعالى په لار كي ووژل سم بيا ژوندى كړل سم بيا ووژل سم بيا ژوندى كړل سم او بيا ووژل سم بيا ژوندى كړل سم او بيا ووژل سم. بخاري او مسلم.

**په جهاد كي معمولي گډون هم دَ دنيا تر ټولو شيانو غوره دى**

(۳۶۱۸): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا. متفق عليه،

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى په لار كي يوه ورځ چوكېداري د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو څخه غوره ده. بخاري او مسلم.

(۳۶۱۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. متفق عليه.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په سهار يا ماښام كي د الله تعالى په لاره كي تگ كول د دنيا د ټولو شيانو څخه غوره دي. بخاري او مسلم.

**په جهاد کې د چوکیدارۍ ثواب**

(۳۶۲۰): وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُهُ وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ وَأَمِنَ الْفَتَّانَ . رواه مسلم .

د حضرت سلمان فارسي ﷺ څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چې یوه ورځ او یوه شپه چوکیداري د الله تعالی په لار کې تر یوې میاشتي روژو او د شب بیدارۍ څخه غوره ده ، او که هغه د چوکیدارۍ په خدمت کولو کې ووژل سي نو د هغه د هغه عمل لړۍ به جاري وي په کوم کې چې هغه بوخت وو ، او هغه ته د جنت څخه رزق تر لاسه کیږي او د فتنه اچونکي (یعني د قبر عذاب د ملائکو یا د جال یا شیطان څخه به په امان کې اوسي . مسلم.

**په جهاد کې ګډیدونکي د دوزخ څخه د خوندي کیدو ضامن دی**

(۳۶۲۱): وَعَنْ أَبِي عَبْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ . رواه البخاري.

د حضرت ابو عبس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم بنده پښې چې د الله تعالی په لار کې په ګرد سي بیا هغه د دوزخ اور نسي مس کولای . بخاري.

**د غازي لپاره زیری**

(۳۶۲۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ فِي النَّارِ أَبَدًا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کافر او د کافر وژونکی هیڅکله په دوزخ کې یو ځای کیدلای نسي . مسلم.

**غوره ژوند کوم دی؟**

(۳۶۲۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُمْ رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً أَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ يَبْتَغِي الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّهُ أَوْ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هٰذِهِ الشَّعَفِ أَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هٰذِهِ الْأَوْدِيَةِ يُقِيمُ الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ وَيَعْبُدُ رَبَّهُ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په انسانانو کې غوره ژوند د هغه کس دئ چې د الله تعالی په لار کې د خپل آس واګې ونیسي پر شا یې سپور سي او هر کله چې د بیرې او فریاد آواز واوري نو سمدستي هغه لوري ته ورځغلي او موقع لټوي قتل او مرګ ته ور وراندي سي او د شهادت درجه تر لاسه کولو لپاره د خپل مرګ موقع لټوي او یا د هغه سړي د خپلو

حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْيَقِيْنُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ . رواه مسلم .

ځو پسونو سره یا چې د غره پر څوکه په یوې شپله کې اوسیږي او لمونځ کوي او زکوة ادا کوي

او د خپل پروردګار عبادت کوي تر څو چې د مرګ سره غاړه سي دا سړي په خلکو کې یوازې په نیکۍ سره ژوند تیروئ . مسلم .

**د مجاهد مرسته کونکي او د مجاهد د کورنۍ خیال ساتونکی**

(۳۶۲۴): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ فَقَدْ غَزَا . متفق عليه.

د حضرت زید بن خالد ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چې د یو غازي سامان برابر کړ هغه لکه خپله چې جهاد وکړي او څوک چې د جهاد کونکي د کورنۍ خدمت کونکی جوړ سي هغه هم جهاد وکړ . بخاري او مسلم .

**د مجاهدینو د ښځو د احترام حکم**

(۳۶۲۵): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِيْنَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِي أَهْلِهِ فَيَخُوْنُهُ فِيْهِمْ إِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ فَمَا ظَنُّكُمْ . رواه مسلم .

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د مجاهدینو د ښځو حرمت او عزت په کورونو کې ناستو باندې داسې لازم دی لکه څرنګه چې د هغوئ د میندو حرمت او عزت پر دوئ باندې لازم دی ، څوک چې جهاد ته ولاړ نسي بلکه د مجاهدینو د کورنۍ خبرګیري وکړي

او په خبر ګیرې کې خیانت وکړي نو هغه به د قیامت په ورځ د هغه مجاهد په وړاندې ودرول سي چې د هغه په کور کې یې خیانت کړی دئ او هغه مجاهد به د هغه د نیک اعمالو څخه څومره چې غواړي واخلي نو څه دی ګمان ستاسې . مسلم .

**په جهاد کې د مالي مرستې کولو فضیلت**

(۳۶۲۶): وَعَنْ أَبِي مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَخْطُوْمَةٍ فَقَالَ هٰذِهِ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُ مِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُوْمَةٌ . رواه مسلم

د حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ څخه روایت دئ چې یو سړی د مهار نیولې اوښ سره حاضر سو او عرض یې وکړ چې دا اوښه زه د الله په لار کې ورکوم، رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په

ورځ به ددې په بدله کې اووه سوه اوښې در ته تر لاسه کیږي هغه ټولې به مهارداري وي . مسلم

## د مجاهد د کور ساتني فضیلت

| | |
|---|---|
| (۳۶۲۷): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي لَحْيَانَ مِنْ هُذَيْلٍ فَقَالَ لِيَنْبَعِثْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا وَالْأَجْرُ بَيْنَهُمَا . رواه مسلم | د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د هذیل قبیلې د بني لحیان ښاخ په لور د یوه لښکر لیږلو اراده وکړه او وه یې فرمایل په هر دوو کسانو کي یو کس د لښکر سره ولاړ سئ (یعني |

دهري قبیلې نیم خلك ولاړ سئ) او ثواب به دواړو ته یو ډول تر لاسه کیږي . مسلم.

## په امت محمدي کي به همېشه یو ډله جهاد کوي

| | |
|---|---|
| (۳۶۲۸): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَبْرَحَ هَذَا الدِّينُ قَائِمًا تُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ . رواه مسلم . | د حضرت جابر سمرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دا دین به همیشه قائم وي او د مسلمانانو یو ډله به همیشه جهاد کوي تر څو چي قیامت قائم سي . مسلم . |

## د خدای ﷻ په لاره کي ژوبل سوی کس

| | |
|---|---|
| (۳۶۲۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وجرحه يثعب دما وَاللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّيحُ رِيحُ الْمِسْكِ . متفق علیه | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د الله تعالی په لار کي زخمي کړل سي او الله تعالی ښه پوهیږي چي څوك د هغه په لاره کي زخمي کیږي نو هغه به د قیامت په ورځ په داسي حال کي راسي چي |

د هغه د زخم څخه به وینه روانه وي د هغه ویني رنګ خو به د ویني په ډول وي مګر بوی به یې د مشکو په ډول وي . بخاري او مسلم .

## د شهادت فضیلت

| | |
|---|---|
| (۳۶۳۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ . متفق علیه | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کي د د اخلیدو څخه وروسته هیڅوك به د دنیا ته په دې خیال بیرته تګ خوښ نه کړي چي په مځکه کي څه وه هغه ته بیا تر لاسه سي مګر شهید به ددې آرزو کوي چي هغه دنیا ته |

ولاړ سئ او لس واره ووژل سي ځکه هغه د شهادت په عظمت پوه سوی دئ . بخاري او مسلم.

**د شهیدانو حیات بعد الموت**

(۳۶۳۱): وَعَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْنَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ هٰذِهِ الْآيَةِ { وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوا فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ } قَالَ أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيْلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيْلِ فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ اطِّلَاعَةً فَقَالَ هَلْ تَشْتَهُوْنَ شَيْئًا قَالُوا أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِي وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذٰلِكَ بِهِمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يُسْأَلُوا قَالُوا يَا رَبِّ نُرِيْدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا حَتّٰى نُقْتَلَ فِي سَبِيْلِكَ مَرَّةً أُخْرٰى فَلَمَّا رَأٰى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا . رواه مسلم

د حضرت مسروق ﷛ څخه روایت دئ چې موږ د عبدالله بن مسعود ﷛ څخه ددې آیت معنا وغوښتل : «ولاتحسبن .....» «کوم کسان چې د الله په لار کې ووژل سي هغوئ مړه مه ګڼئ بلکه هغوئ د خپل پروردګار سره ژوندي دي او هغوئ ته رزق ورکول کیږي» ابن مسعود ﷛ وویل موږ د رسول الله ﷺ څخه په دې اړه پوښتنه وکړه هغه وفرمایل : د هغوئ روحونه د شنو مرغانو په بدنونو کې دي او د هغوئ لپاره تر عرش الهي لاندې قندیلونه زړېدلي دي هغوئ په جنت کې چې چیرې د هغوئ زړه غواړي میوې خوري او بیا دغه قندیلونو ته خپې او پروردګار د هغوئ لوري ته ګوري او فرمایي ستاسو د کوم شي خواهش دئ ؟ هغوئ به عرض کوي موږ د څه شي خواهش وکړو د کوم ځای څخه چې زموږ زړه غواړي د جنت میوې خورو ، الله تعالی به درې واره داسې پوښتنه کوي ، هر کله چې هغوئ ويني چې په څو څو واره پوښتنه کیږي نو هغوئ به عرض کوي اې پروردګاره ! موږ دا غواړو چې زموږ روحونه بیا زموږ بدنونو ته ستانه کړل سي چې موږ ستا په لار کې دویم وار شهیدان سو ، هر کله چې الله تعالی ويني چې هغوئ ته د هیڅ شي حاجت نسته نو هغوئ به پرېښودل سي . مسلم.

**جهاد د حقوق العباد څخه پرته ټول ګناهونه رژوي**

(۳۶۳۲): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فِيْهِمْ فَذَكَرَ لَهُمْ أَنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْإِيْمَانَ بِاللّٰهِ أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ يُكَفِّرُ عَنِّي خَطَايَايَ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابوقتادة ﷛ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وعظ وکړ او وه یې فرمایل : د الله تعالی په لار کې جهاد کول او پر الله تعالی ایمان راوړل د ښه اعمالو څخه دي ، یو سړی ودرېدئ او عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! که زه د الله په لاره کې ووژل سم نو ایا

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ قُلْتَ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَيُكَفِّرُ عَنِّي خَطَايَايَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ إِلَّا الدَّيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ لِي ذَلِكَ . رواه مسلم .

زما گناهونه به معاف کړل سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو، که ته د الله په لار کي قتل کړل سې په داسي حال کي چي ته صبر کونکی او د ثواب امید لرونکي یې د دښمن مقابلې ته تلونکی یې او پر شا تښتېدونکی نه یې ، ددي وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : اې سړیه ! تا څه وویل هغه عرض وکړ که زه د الله تعالی په لار کي ووژل سم ، نو ایا ستاسو په خیال زما گناه به ورژول سي، رسول الله ﷺ وفرمایل هو ، په دي شرط چي ته صبر کونکی، د ثواب غوښتونکی او پر مخ تلونکی یې وروسته پاته کېدونکی نه یې مگر پور نسي معاف کیدلای ما ته جبرائیل علیه السلام داسي وویل . مسلم .

(۳۶۳۳): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْقَتْلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّيْنَ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله تعالی په لار کي قتلېدل د پور څخه پرته هره گناه رژوي . مسلم .

**هغه قاتل او مقتول چي جنت ته ځي**

(۳۶۳۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَضْحَكُ اللَّهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُ هَذَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلُ ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ . متفق عليه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی ته پر دوو کسانو خندا ورځي (یو په هغه کي) چي یو سړی بل قتلوي او دواړه جنت ته داخلیږي یو خو په هغوئ کي د الله تعالی په لار کي جهاد کوي او شهید کیږي بیا الله تعالی قاتل ته د توبې توفیق ورکوي (یعني هغه د کفر څخه توبه کوي مسلمان سي) او بیا هغه هم په جهاد کي شهید سي . بخاري او مسلم .

**د شهادت د غوښتونکي فضیلت**

(۳۶۳۵): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ

د حضرت سهل بن حنیف ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د الله تعالی څخه په رېښتوني زړه سره شهادت و غواړي الله تعالی

مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ . رواه مسلم .

هغه ته د شهید مرتبه ورکوي که څه هم هغه پر خپل بستر مړ سي . مسلم .

**د شهیدانو ځای فردوس اعلی دی**

(۳۶۳۶): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ الرُّبَيِّعَ بِنْتَ الْبَرَاءِ وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ أَلَا تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ صَبَرْتُ وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي الْبُكَاءِ قَالَ يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي د براء لور او د حارثه بن سراقه مور ربیع د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! ایا تاسو به د حارثه حال ما ته بیان کړئ ؟ (حارثه د بدر په غزا کي شهید سو او د یو نامعلوم سړي په غشي ولگیدئ) که هغه په جنت کي وي نو زه به صبر کوم او که په بل ځای کي وي نو د ژړا . هڅه به کوم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اې د حارثه موري! په جنت کي ډیر باغونه دي او ستا زوی په فردوس اعلی کي دئ . بخاري .

**د شهید منزل جنت دی**

(۳۶۳۷): وَعَنْهُ قَالَ انْطَلَقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ حَتَّى سَبَقُوا الْمُشْرِكِينَ إِلَى بَدْرٍ وَجَاءَ الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْأَرْضُ قَالَ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ بَخٍ بَخٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ بَخٍ بَخٍ قَالَ لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِلَّا رَجَاءَةَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا قَالَ فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا قال فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرَنِهِ فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ ثُمَّ قَالَ لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكُلَ تَمَرَاتِي إِنَّهَا لَحَيَاةٌ طَوِيلَةٌ قَالَ فَرَمَى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ . رواه مسلم .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ او د هغه صحابه کرام د مدیني منوري څخه روان سول او د بدر د مشرکانو څخه مخکي ورسیدل ، بیا مشرکان راغلل ، رسول الله ﷺ مجاهدینو ته وفرمایل : د جنت په لور تلو ته ودرېږئ او (د هغه جنت په لاره کي چي د هغه پلنوالی د آسمانو او مځکو په ډول دئ (د دې په اورېدو سره) عمیر بن حمام وویل ډیر ښه ډیر ښه ، رسول الله ﷺ وویل تا دا الفاظ څنگه وویل ؟ هغه وویل : اې د الله رسوله ! په الله دې مې قسم وي زما د دې الفاظو څخه نور څه مقصد نه دئ بلکه زما دا ارمان دئ چي زه جنتي سم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ته جنتي یې ، د راوي بیان دئ د دې وروسته حضرت عمیر د خپل کڅوړي څخه خرماوي راوکښلې او د هغه خوړل یې پیل کړل او ویل یې که زه د دې خرماوو

دویم وار خوزلو پوري ژوندی پاته سوم نو دا به اوږد ژوند وي ،ویلي دي راوي چي د دې په ویلو سره هغه پاته خرماوي وغورځولې بیا د مشرکانو سره وجنګېدۍ تر څو چي شهید سو . مسلم.

**د شهیدانو اقسام**

(۳۶۳۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَعُدُّونَ الشَّهِيدَ فِيكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَهُوَ شَهِيدٌ قَالَ إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو په خپل منځ کي څوک شهید ګڼئ ؟ صحابه کرامو عرض وکړ څوک چي د الله په لار کي ووژل سي هغه شهید دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په دې صورت کي خو به زما په امت کي د شهیدانو شمیر ډیر لږ پاته سي ، (خبردار اوسئ) څوک چي د الله په لار کي (په خپل مرګ) مړ سي شهید دئ او څوک چي قتل سو په لاره د خدای ﷺ کي هغه شهید دی او څوک چي په طاعون کي مړ سي شهید دئ او څوک چي د نس د ناروغی څخه مړ سي شهید دئ. مسلم.

**د مجاهد د اجر تقسیم**

(۳۶۳۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فَتَغْنَمُ وَتَسْلَمُ إِلَّا كَانُوا قَدْ تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أُجُورِهِمْ وَمَا مِنْ غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تُخْفِقُ وَتُصَابُ إِلَّا تَمَّ أُجُورُهُمْ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: جهاد کونکي ډله یا جهاد کونکي کوم لښکر چي جهاد وکړي مال غنیمت تر لاسه کړي بیا صحیح سلامت را سي هغه دویمه برخه د درو برخو څخه اجر ژر یعني په دې دنیا کي تر لاسه کړ او جهاد کونکې ډله یا جهاد کونکی لښکر چي د غنیمت مال را نه وړي او زخمي سي یا ووژل سي د هغه خپل اجر پوره باقي دی. مسلم.

**د چا په زړه کي چي د جهاد جذبه نه وي هغه منافق دی**

(۳۶۴۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي مړ سو او جهاد یې ونه کړ او دجهاد خیال یې هم په زړه کي نه راوستئ نو د هغه مرګ به یو قسم د نفاق وي. مسلم.

**حقیقي مجاهد څوک دی ؟**

(۳۶۴۱): وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قَالَ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . متفق علیه

د حضرت ابو موسی ؓ څخه روایت دئ چي یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چي یو سړی خو ددې لپاره جنګیږي چي مال غنیمت تر لاسه کړي او یو سړی د شهرت او نامه تر لاسه کولو لپاره جنګیږي او یو سړی ددې لپاره جنګیږي چي خلك د هغه عزت او مرتبه ووینی نو په دوئ کي څوك د الله تعالی په لار جنګېدونکی دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هغه سړی د الله په لار کي جنګېدونکی دئ چي د الله ﷻ د دین (کلمة الله) د لوړولو لپاره وجنګیږي . بخاري او مسلم

**د عذر له کبله جهاد ته نه تلل**

(۳۶۴۲): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ وفي رواية الا شرکوکم في الاجر قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ قَالَ وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ . رواه البخاري و رواه مسلم عن جابر .

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي کله رسول الله ﷺ د تبوك د غزا څخه راغلی او مدینې ته نژدې سو نو وه یې فرمایل : په مدینه کي دیر داسي قومونه دي چي کوم سفر تاسو کړی دئ په کومه شېله کي ګرځېدلای یاست هغوئ ستاسو سره دي ، په یوه روایت کي دا الفاظ دي لاکن هغوئ په ثواب کي ستاسو سره ګډ دي ، صحابه کرامو عرض وکړ ای د الله رسوله ! او هغه خلك چي په مدینه کي دي (یعني زموږ سره جهاد ته نه دي تللي بیا هم هغوئ په ثواب کي زموږ سره ګډ دي) رسول الله ﷺ وفرمایل دوئ په مدینه کي دي یو عذر ستاسو سره د تللو څخه تم کړي دي . بخاري او مسلم د حضرت جابر څخه روایت کړی دئ .

**د مور او پلار د خدمت درجه**

(۳۶۴۳): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ أَحَيٌّ وَالِدَاكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ . متفق علیه و في رواية فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا .

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روایت دئ چي یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او جهاد ته د تللو اجازه یې و غوښتل ، رسول الله ﷺ پوښتنه څیني وکړه ایا ستا مور او پلار ژوندي دي ؟ هغه وویل چي هو ، رسول الله

* ورته وفرمايل : د هغوئ سره اوسيږه او جهاد کوه . (يعني د هغوئ خدمت د جهاد برابر دئ). بخاري او مسلم ، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې رسول الله * هغه سړي ته دا وفرمايل : خپل مور او پلار ته بيرته ولاړ سه او په ښه ډول د هغوئ خدمت کوه .

**د مکې د فتح وروسته د هجرت فرضيت ختم سو**

| | |
|---|---|
| (۳۶۴۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا. متفق عليه | د حضرت ابـن عبـاس * څخـه روايـت دئ چـې رسول الله * د مکې د فتح په ورځ وفرمايل : د مکې د فتح څخه وروسته هجرت نسته البته |

جهاد او نيت دي هرکله چې تاسو د جهاد لپاره و بلل سئ نو تاسو ټول د کورونو څخه دجهاد لپاره راووځئ . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

**د امت محمدي يو ډله به هميشه جهاد کوي**

| | |
|---|---|
| (۳۶۴۵): عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ حَتّٰى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ . رواه ابوداؤد. | د حضرت عمران بن حصين * څخـه روايت دئ چې رسول الله * وفرمايل : زما پـه امت کې بـه يوه ډله هميشـه د حق پـه ساتنه کې جنګيږي او کوم قوم چې د دوئ سره دښمني کوي دوئ به پر |

هغه غالب وي تر څو چې ددې امت آخري خلک به د مسيح دجال سره جنګيږي . ابوداؤد .

**په جهاد کې د نه ګډون کونکي وعيد**

| | |
|---|---|
| (۳۶۴۶): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللّٰهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو امامه * څخه روايت دئ چې رسول الله * وفرمايل : کوم سړي چې جهاد ونه کړ او نه يې د غازيانو لپاره سامان برابر کړ او نه يې د مجاهدينو د کورنۍ خبر واخيستئ هغه به د |

قيامت څخه مخکې الله تعالى په يو سخت مصيبت کې اخته کړي . ابوداؤد

| | |
|---|---|
| (۳۶۴۷): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ . رواه أبو داود والنسائي والدارمي . | د حضرت انس * څخه روايت دئ چې رسول الله * وفرمايل : د مشرکينو سره د خپل سر ، مال او ژبو په ذريعه جهاد کوئ . ابوداؤد ، نسائي او دارمي. |

## د جنت وارث

| | |
|---|---|
| (۳۶۴۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَاضْرِبُوا الْهَامَ تُورَثُوا الْجِنَانَ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اسلام خپور کړئ، خلکو ته خوراك ورکوئ او د کافرانو سرونه ووهئ نو د جنت وارثان به سئ. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ. |

## په جهاد کي د چوکیدارۍ فضیلت

| | |
|---|---|
| (۳۶۴۹): وَعَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا الَّذِي مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَإِنَّهُ يُنَمَّى لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَيَأْمَنُ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي عن عقبة بن عامر . | د حضرت فضالة بن عبيد ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د هر سړي عمل د مرگ څخه وروسته ختمیږي خو د هغه سړي عمل چي د الله په لار کي د سرحدو چوکیدار وي او مړ سي، د هغه سړي د عمل ثواب به تر قیامته پوري زیاتیږي او هغه به د قبر د فتنې څخه هم په امان وي. ترمذي، ابوداؤد او دارمي د عقبة بن عامر. |

## په جهاد کي دگډون کوونکو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۳۶۵۰): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فُوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَمَنْ جُرِحَ جُرْحًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ نُكِبَ نَكْبَةً فَإِنَّهَا تَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَغْزَرِ مَا كَانَتْ لَوْنُهَا لَوْنُ الزَّعْفَرَانِ وَرِيحُهَا رِيحُ الْمِسْكِ وَمَنْ خَرَجَ بِهِ خُرَاجٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ طَابَعَ الشُّهَدَاءِ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي . | د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل څوك چي د الله په لار کي په اندازه د لوشلو د اوښي وجنگیږي د هغه لپاره جنت واجب سو، او څوك چي د الله په لار کي زخمي سو یا د زخم په تکلیف کي اخته کړل سو هغه به د قیامت په ورځ به داسي حال کي راسي چي د هغه زخم به تازه وي د وینې رنگ به یې زعفراني وي او بوی به یې د مشکو وي او د چا په بدن کي چي د الله په لار کي خراج (داني) وختلې نو پر هغه باندي به د شهیدانو مهر وي چي په هغه سره به یې شناخت کیږي. ترمذي، ابوداؤد او نسائ. |

## په جهاد کي د خپل مال مصرف کوونکو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۳۶۵۱): وَعَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللّٰهِ | د حضرت خریم بن فاتك ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي د الله په |

| | |
|---|---|
| كُتِبَتْ لَهُ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ . رواه الترمذي والنسائي . | لار کي څه خرڅ کړي د هغه په حساب کي اووه |

سوه برابر ثوب ليکل کيږي . ترمذي او نسائي .

| | |
|---|---|
| (۳۶۵۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّدَقَاتِ ظِلُّ فُسْطَاطٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَمَنِيحَةُ خَادِمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . رواه الترمذي | د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره صدقه د الله په لار کي د خيمې سايه ده .يعني مجاهد يا حاجي ته خيمه ورکول) او غوره صدقه د الله په لار کي د خادم |

ورکول دي او غوره صدقه د الله په لار کي داسي اوښه ورکول دي چي ځوانه وي . ترمذي.

**د مجاهد فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۳۶۵۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَلِجُ النَّارَ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ وَلَا يَجْتَمِعُ عَلَى عَبْدٍ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ . رواه الترمذي وزاد النسائي في اخرى في منخري مسلم ابدا وفي اخرى له فِيْ جَوْفِ عَبْدٍ أَبَدًا وَلاَ يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْاِيْمَانُ فِيْ قَلْبِ عَبْدًا أَبَدًا . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړی به دوږخ ته نه ځي کوم چي د الله د بيري څخه يې ژړلي وي تر هغو چي بيرته راوګرځي شيدې و غلانزې ته ، . او د الله په لار کي د بنده د بدن ګرد او د دوږخ دود يو ځای کيدلای نسي. ترمذي، او د نسائي په يوه روايت کي دا الفاظ ليکلي دي چي د مسلمان په سپږمو کي د الله د لاري ګرد او د دوږخ دود يو ځای کيدلای نسي ، او په يوه روايت کي داسي راغلي دي چي د الله ﷺ د بنده |

په نس کي د الله د لاري ګرد او د دوږخ دود يو ځای کيدلای نسي ، او بخل او ايمان يو ځای کيدلای نسي .

| | |
|---|---|
| (۳۶۵۴): وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . رواه الترمذي. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه قسمه سترګي دي چي اور به يې نه مسه کوي يو هغه سترګي چي د الله د بيري څخه و ژاړي او دويم هغه سترګي چي هغه د الله ﷺ په لار کي يې پر چوکيداري شپه تيره کړې وي . ترمذي. |

**د جهاد غوره والی او فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۳۶۵۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِعْبٍ | د حضرت ابـوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چـي د رسول الله ﷺ په صحابو کي يو سړی په يو غرنيزه |

فِيهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٌ فَأَعْجَبَتْهُ فَقَالَ لَوْ اعْتَزَلْتُ النَّاسَ فَأَقَمْتُ فِي هَذَا الشِّعْبِ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا تَفْعَلْ فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَامًا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ اغْزُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فُوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. رواه الترمذي.

دره کي تیر سو چي په هغې کي د خوږو اوبو چینه وه د هغه چینه ډیره خوښه وه ، هغه په زړه کي وویل کاش زه خلك پرېږدم او په دغه درې کي استوګن سم ، بیا ددې خبري ذکر د رسول الله ﷺ په وړاندي وسو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : داسي مه کوه ځکه چي د الله په لار کي ستا قیام کول په کور کي د اویا کالو تر لمونځ کولو غوره دئ ایا ته دا نه خوښوې چي الله تعالی په پوره توګه سره تا وبخښي او جنت ته دي داخل کړي ته د الله په لار کي جنګیږه ځکه چي څوك د اوښي د لوشلو په اندازه هم د الله ﷺ په لار کي جنګ وکړي د هغه لپاره جنت واجب سي . ترمذي .

**په جهاد کي د چوکیدارۍ فضیلت**

(٣٦٥٦): وَعَنْ عُثْمَانَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَنَازِلِ. رواه الترمذي والنسائي.

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله په لار کي د یوې ورځي چوکیداري کول د سرحد په لاره کي تر نورو زرو ورځو (په کور کي) تر عبادت غوره ده . ترمذي او نسائي.

**شهیدانو به تر مخه جنت ته داخل کړل سي**

(٣٦٥٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَ عَلَيَّ أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ شَهِيدٌ وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ وَعَبْدٌ أَحْسَنَ عِبَادَةَ اللَّهِ وَنَصَحَ لِمَوَالِيهِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته درې ډوله خلك پیش کړل سول چي تر ټولو به مخکي جنت ته داخلیږي یو شهید دئ دویم فقیر ځان ساتونکی او دریم هغه مریی چي هغه په ښه ډول د الله عبادت وکړ او د خپل مالك هم خیر خواه وو . ترمذي.

**غوره مجاهد او غوره شهید**

(٣٦٥٨):وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ طُولُ الْقِيَامِ قِيلَ فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ جَهْدُ الْمُقِلِّ قِيلَ فَأَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ قَالَ مَنْ هَجَرَ مَا

د حضرت عبدالله بن حبشي ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم عمل تر ټولو غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اوږده ولاړه کول (په لمانځه کي) ، بیا پوښتنه وسول کومه صدقه غوره ده ؟ رسول الله

حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ قِيلَ فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ قَالَ مَنْ جَاهَدَ الْمُشْرِكِينَ بِمَالِه وَنَفْسِه قِيلَ فَأَيُّ الْقَتْلِ أَشْرَفُ قَالَ مَنْ أُهْرِيقَ دَمُهُ وَعُقِرَ جَوَادُهُ، رواه ابوداؤد و في رواية النسائي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ قَالَ إِيمَانٌ لَا شَكَّ فِيهِ وَجِهَادٌ لَا غُلُولَ فِيهِ وَحَجَّةٌ مَبْرُورَةٌ قِيلَ فَأَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ قَالَ طُولُ الْقُنُوتِ . ثُمَّ اتَّفَقَا فِي الْبَاقِي .

ﷺ ورته وفرمايل د ار او فقير كوښښ كول (يعني صدقه وركولو كي) بيا پوښتنه وسول چي كوم هجرت غوره دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هغه كارونه پرېښودل چي الله حرام كړي دي ، بيا پوښتنه وسول كوم جهاد غوره دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : كوم جهاد چي په سر او مال د مشركانو سره وسي ، بيا پوښتنه وسول كوم مړ كېدل غوره دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه سړي چي د هغه وينه و بيول سي او د هغه د آس پښې ووهل . ابوداؤد ، د نسائي په روايت كي دا الفاظ دي چي د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وسول چي په اعمالو كي كوم عمل غوره دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايمان چي په هغه كي شك نه وي او جهاد چي په هغه كي هيڅ ډول خيانت نه وي او حج مقبول، بيا پوښتنه وسول چي كوم لمونځ غوره دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : تر ډيره وخته پوري ولاړه كول ، او په پاته حديث كي دواړه ابوداؤد او نسائي متفق دي .

**پر شهيدانو د الله تعالى انعامونه**

(۳۶۵۹): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللّٰهِ سِتُّ خِصَالٍ يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِه تَاجُ الْوَقَارِ الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقْرِبَائِه . رواه الترمذي وابن ماجة .

د حضرت مقدام بن معديكرب ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله په نزد د شهيد لپاره شپږ صفته دي : هغه به په اول وار و بخښل سي، هغه ته به په جنت كي خپل ځاى و ښودل سي (يعني د ساه ختلو پر وخت)، هغه به د قبر د عذاب څخه خوندي وي، هغه به د لوى بيري څخه په امن كي وي (يعني د دوږخ د عذاب څخه) د هغه پر سر به د عزت تاج كېښېښودل سي چي د هغه يو يو ياقوت به د دنيا او دد نيا تر ټولو شيانو غوره وي، د هغه په نكاح كي به غوره حوري غټو سترګو والا وركړل سي او د هغه په قريبانو كي به د اويا كسانو لپاره د هغه شفاعت قبليږي . ترمذي او ابن ماجه .

**په جهاد كي د ګډون نه كونكي وعيد**

(۳۶۶۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَقِيَ اللّٰهَ بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د الله تعالى

لَقِيَ اللّٰهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

سره په داسي حال کي ملاقات وکړي چي پر هغه د جهاد هيڅ اثر نه وي نو هغه به په داسي حال کي د الله ﷻ سره ملاقات وکړي چي په هغه کي به يو ديني نقص وي . ترمذي او ابن ماجه .

**شهيد د قتل د تکليف څخه خوندي وي**

(۳۶۶۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّهِيدُ لَايَجِدُ آلَمَ الْقَتْلِ إِلَّا كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ آلَمَ الْقَرْصَةِ . رواه الترمذي و النسائي و الدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شهيد د وژني يوازي دومره تکليف محسوسوي څومره چي تاسو د کيکي د چيچلو تکليف محسوسوئ ، ترمذي، نسائي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

**په جهاد کي د ويني بهېدونکي څاڅکي**

(۳۶۶۲): وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ قَطْرَةٌ مِنْ دُمُوعٍ فِي خَشْيَةِ اللّٰهِ وَقَطْرَةُ دَمٍ يُهْرَاقُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَأَمَّا الْأَثَرَانِ فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللّٰهِ تعالى. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى تـه دوه څـاڅکي او دوې نښي ديري خوږې دي يو خو د الله تعالى د بيرې څخه د اوښکو تللى څاڅکي او دويم د هغه وينو څاڅکي چي د الله تعالى په لار کي.و بيول سي او په دوو نښو کي يوه نښه خو هغه ده چي د الله تعالى په لار کي په زخم وغيره سره راسي او دويم د الله تعالى د فرائضو څخه د يو فرض نښه (مثلا د سجدې وغيره نښه) ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**بېله ضرورته د بحري سفر څخه منع**

(۳۶۶۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْكَبُ الْبَحْرَ إِلَّا حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَإِنَّ تَحْتَ الْبَحْرِ نَارًا وَتَحْتَ النَّارِ بَحْرًا . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چـي رسـول الله ﷺ وفرمايـل: هيڅـوک دي د درياب سفر نه کوي خو د حج يا د عمرې په اراده سره يا د الله په لار کي د جهاد کولو لپاره څکه چي تر درياب لاندي اور دئ او تر اور لاندي درياب . ابوداؤد .

**د اوبو په سفر کي د مړ کېدونکي درجه د شهيد ده**

(۳۶۶۴): وَعَنْ أُمِّ حَرَامٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ام حرام (رض) څخه روايت دئ چي

وَسَلَّمَ قَالَ الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ وَالْغَرِيْقُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ . رواه ابوداؤد.

رسول الله ﷺ وفرمايل : كه د درياب په سفر كي قى راسي نو هغه ته د يوه شهيد ثواب تر لاسه كيږي او څوك چي په درياب كي غرق سي هغه ته د دوو شهيدانو ثواب تر لاسه كيږي . ابوداؤد .

## په جهاد كي هر ډول مړ كېدونكى شهيد دى

(۳۶۶۵): وَعَنْ أَبِيْ مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ فَصَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَمَاتَ أَوْ قُتِلَ أَوْ وَقَصَهُ فَرَسُهُ أَوْ بَعِيرُهُ أَوْ لَدَغَتْهُ هَامَةٌ أَوْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ أَوْ بِأَيِّ حَتْفٍ شَاءَ اللّٰهُ فَإِنَّهُ شَهِيدٌ وَإِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو مالك اشعري ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چي د الله ﷻ په لار كي ووتى او مړ سو يا ووژل سو يا د هغه اس هغه تر پښو لاندي كړ يا اوښ وغورځوى يا زهرجن شي وچيچى يا پر خپله بستره مړ سو مقصد دا چي په هر ډول مرگ مړ سي نو هغه شهيد دئ او د هغه لپاره جنت دئ . ابوداؤد.

## مجاهد ته په خپل كور كي هم د جهاد ثواب وركول كيږي

(۳۶۶۶): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عبد الله بن عمرو ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جهاد كولو څخه وروسته د جهاد څخه راستنېدل د جهاد په ډول دي . ابوداؤد.

## جاعل ته دوچنده ثواب وركول كيږي

(۳۶۶۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْغَازِي أَجْرُهُ وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ وَأَجْرُ الْغَازِي . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبد الله بن عمرو ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د غازي لپاره د هغه د جهاد ثواب دئ او د جهاد لپاره مال وركونكي ته به د مال او جهاد دواړو ثواب تر لاسه كيږي . ابوداؤد.

## پېله مزدورى د جهاد نه كونكي په باره كي وعيد

(۳۶۶۸): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الْأَمْصَارُ وَسَتَكُونُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ يُقْطَعُ عَلَيْكُمْ فِيهَا بُعُوثٌ فَيَكْرَهُ الرَّجُلُ الْبَعْثَ فِيهَا فَيَتَخَلَّصُ مِنْ قَوْمِهِ ثُمَّ يَتَصَفَّحُ الْقَبَائِلَ يَعْرِضُ نَفْسَهُ عَلَيْهِمْ مَنْ أَكْفِيهِ بَعْثَ

د حضرت ابو ايوب ؓ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي ډير ژر به پر تاسو د لويو لويو ښارونو دروازې خلاصي سي او تاسو به جمع سوى لښكر ياست چي د هغوئ څخه به ستاسو لپاره فوجونه و ټاكل سي نو يو سړى به جهاد ته پرته د مزدورى تلل بد گڼي او د

كَذَا أَلَا وَذَٰلِكَ الْأَجرُ إِلَى آخِرِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهِ . رواه ابوداؤد .

خپل قوم ځخه به خپل خان بیل کړي چي جهاد ته د تلو ځخه وژغورل سي بیا به هغه قبائل لتوي او خپل خان به هغوئ په وړاندي کولو سره وایي څوك سته چي زما خدمتونه په مزدوري تر لاسه کړي چي زه د یوه لښکر کفایت وکړم ، خبردار! دا سړی مجاهد نه دئ مزدور دئ او د خپلي وینې تر آخري ځاځکي پوري به مزدور وي . ابوداؤد .

**په مزدورۍ د جهاد کولو مسئله**

(۳۶۶۹): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ آذَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْغَزْوِ وَأَنَا شَيْخٌ كَبِيرٌ لَيْسَ لِي خَادِمٌ فَالْتَمَسْتُ أَجِيرًا يَكْفِينِي فَوَجَدْتُ رَجُلًا سَمَّيْتُ لَهُ ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ فَلَمَّا حَضَرَتْ غَنِيمَتُهُ أَرَدْتُ أَنْ أُجْرِيَ لَهُ سَهْمَهُ فَجِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ مَا أَجِدُ لَهُ فِي غَزْوَتِهِ هٰذِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا دَنَانِيرَهُ الَّتِي سَمَّى . رواه ابوداؤد.

د حضرت یعلي بن امیه ﷺ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ خلکو ته په جهاد د تللو لپاره اعلان وکړ زه هغه وخت سپین ږیری وم او هیڅ خادم راسره نه وو ما یو مزدور و لټوئ چي زما د خدمت لپاره کافي وي نو یو سړی په لاس راغلی چي د هغه د خدمت مزدوري ما دري دیناره و ټاکل بیا چي د غنیمت مال راغلی نو ما اراده وکړه چي د خپل خدمت کونکي برخه هم ورکړم ، د.دي مسئلي د پوښتني لپاره زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او پښتنه مي ورته بیان کړه ، رسول الله ﷺ راته وفرمایل زه په دنیا او آخرت کي ددې غزا (نتیجه) د هغه لپاره یوازي هغه دینارونه وینم چي تا ټاکلي دي (یعني د غنیمت په مال کي د هغه هیڅ برخه نسته .) ابوداؤد.

**د دنیاوي مقصد لپاره جهاد کونکی د ثواب ځخه محروم وي**

(۳۶۷۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَجْرَ لَهُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهریرة ﷺ ځخه روایت دئ چي یو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله! یو سړی د الله په لار کي د جهاد اراده لري مګر هغه د دنیا د مال او اسبابو خواهشمند دئ ، رسول الله ﷺ وفرمایل هغه ته به هیڅ ډول ثواب نه تر لاسه کیږي . ابوداؤد .

**حقیقي جهاد د چا دی ؟**

(۳۶۷۱): وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَزْوُ غَزْوَانِ فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللّٰهِ وَأَطَاعَ الْإِمَامَ وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ وَاجْتَنَبَ

د حضرت معاذ ﷺ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: جهاد پر دوه ډوله دئ: چا چي د الله رضا مندي وغوښتل د امام اطاعت

الْفَسَادَ فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً وَعَصَى الْإِمَامَ وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ . رواه مالك و ابوداؤد والنسائي.

یې وکړ پاك (مال او ځان) يې خرڅ کړ په لاره د خدای ﷺ کي ، د ملګري سره يې ښه چلن وکړ ، د فساد څخه يې ځان و ساتئ نو د هغه خوب او ويښتيا ټول ثواب دي او چا چي جهاد وکړ د فخر لپاره ، د ښودني او اورولو لپاره د امام نافرماني يې وکړه او په مځکه کي يې فساد پيداکړ نو هغه به د جهاد د يو بدلې اخيستلو سره نه راستنيږي (يعني هيڅ ثواب به يې نه وي ګناه به يې ډېره وي) ، مالك ، ابوداؤد او نسائي .

## د نامه لپاره جهاد کولو باندي وعيد

(۳۶۷۲): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْجِهَادِ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو إِنْ قَاتَلْتَ صَابِرًا مُحْتَسِبًا بَعَثَكَ اللَّهُ صَابِرًا مُحْتَسِبًا وَإِنْ قَاتَلْتَ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا بَعَثَكَ اللَّهُ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو عَلَى أَيِّ حَالٍ قَاتَلْتَ أَوْ قُتِلْتَ بَعَثَكَ اللَّهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي هغه عرض وکړ اي دالله رسوله ! ما د جهاد څخه خبر کړئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اي عبدالله بن عمرو ! که ته داسي حال کي وجنګيږي چي صبر کونکی او د الله څخه د ثواب غوښتونکی يې نو الله تعالی به تا صبر کونکی او ثواب غوښتونکی پاځوي ، په داسي حال کي به تا پاځوي په کوم حال کي چي ته مړ کيږي او که د فخر او ښودلو لپاره جهاد کوې نو الله تعالی به تا ښودنه کونکی او ډير زيات مال او فخر غوښتونکی پاځوي ، اي عبدالله بن عمرو! په کوم حال کي چي ته جنګيږي يا ووژل سې الله تعالی به تا په هغه حال کي را پاځوي . ابوداؤد .

## امير معزولول پکار دي

(۳۶۷۳):وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَعَجَزْتُمْ إِذْ بَعَثْتُ رَجُلًا فَلَمْ يَمْضِ لِأَمْرِي أَنْ تَجْعَلُوا مَكَانَهُ مَنْ يَمْضِي لِأَمْرِي . رواه ابوداؤد و ذكر حديث فضالة والمجاهد من جاهد نفسه في كتاب الايمان.

د حضرت عقبة بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تاسو ددې څخه عاجزه ياست چي کله زه يو سړی امير و ټاکم او هغه زما د احکامو سره سم کار ونه کړي نو هغه تاسو مات کړئ او د هغه پر ځای داسي سړی و ټاکئ چي زما د حکم سره سم کار کوي ، ابوداؤد ، او د فضاله حديث والمجاهد من جاهد نفسه په کتاب الايمان کي بيان سوی دئ .

## دریم فصل

### په اسلام کي د رهبانیت ځای نه سته

(۳۶۷۴): عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَمَرَّ رَجُلٌ بِغَارٍ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ وَّ بَقْلٍ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ بِأَنْ يُقِيمَ فِيهِ وَيَتَخَلَّى مِنَ الدُّنْيَا فَاسْتَأْذَنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ ذَالِكَ فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيَّةِ وَلَا بِالنَّصْرَانِيَّةِ وَلٰكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِه لَغَدْوَةٌ أَوْ رَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَمُقَامُ أَحَدِكُمْ فِي الصَّفِّ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِه سِتِّينَ سَنَةً . رواه احمد.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چي موږ په یوه لښکر کي د رسول الله ﷺ سره روان سوو، په موږ کي یو سړی د یو غار سره تیر سو چي په هغه کي اوبه وې او څه شنه‌ګیاه، د هغه په زړه کي دا خیال پیدا سو چي زه دلته پاته سم او دنیا پریږدم، نو هغه د رسول الله ﷺ څخه اجازه و غوښتل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زه خو نه د یهودیت خپرولو لپاره رالیږل سوی یم او نه د نصرانیت لپاره، بلکه پاك صفا شریعت سره رالیږل سوی یم چي آسان دین دئ، قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په لاس کي د محمد ساه ده په سهار یا ماښام کي د الله په لار کي تلل د دنیا و د دنیا د ټولو شیانو څخه غوره دي او د میدان جنګ په صف کي دریدل د شپیتو کالو تر لمانځه کولو غوره دي. احمد.

### په جهاد کي د نیت د اخلاص اخري درجه

(۳۶۷۵): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَزَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَلَمْ يَنْوِ إِلَّا عِقَالًا فَلَهُ مَا نَوَى . رواه النسائي .

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي د الله په لار کي جهاد وکړ او یوازي د یوې رسۍ (چي د اوښ ځنګون په تړي) نیت یې وکړه نو د هغه لپاره هغه شی دئ د کوم شي نیت چي یې کړی وي. نسائي.

### جهاد په جنت کي د درجو د ترقی باعث دی

(۳۶۷۶): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ فَعَجِبَ لَهَا أَبُو سَعِيدٍ فَقَالَ أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَأَعَادَهَا عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ وَأُخْرَى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ مَا

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي د الله پر پروردګار کېدو، او په اسلام چي دین دی او د محمد ﷺ پر رسول کېدو راضي سو د هغه لپاره جنت واجب سو، د دې الفاظو په اورېدو سره

بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ قَالَ وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . رواه مسلم .

ابو سعيد د تعجب اظهار وکړ او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! دا کلمات بيا يو وار زما په وړاندي وفرمایاست ، رسول الله ﷺ دغه کلمات بيا وفرمايل، او بيا يې ارشاد وفرمايې: يو شی بل دئ چي د هغه په سبب الله تعالى د بنده لپاره په جنت کي سل درجي لوړوي او په هغوئ کي د دوو درجو په منځ کي دومره فاصله ده خومره چي د آسمان او مځکي په منځ کي فاصله ده ، ابو سعيد وويل: اې دالله رسوله ! هغه څه شي دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه د الله په لار کي جهاد کول دي هغه د الله په لار کي جهاد کول دی هغه د الله ﷺ په لار کي جهاد کول دي . مسلم

## د جنت دروازې د تورو تر سايو لاندي دي

﴿٣٦٧٧﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ فَقَالَ يَا أَبَا مُوسَى آنْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ فَرَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهِ فَأَلْقَاهُ ثُمَّ مَشَى بِسَيْفِهِ إِلَى الْعَدُوِّ فَضَرَبَ بِهِ حَتَّى قُتِلَ . رواه مسلم .

د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جنت دروازې د تورو تر سايې لاندي دي (د دې په اوريدو سره) يو سړي ګـوډ او زوړ شـکلي جـامې يـې وې پوښتنه وکړه اې ابو موسى ! تا د رسول الله ﷺ څخه دا الفاظ اوريدلي دي چي دا يې ويـل ؟! ابو موسى وويـل هو ، (د دې په اوريدو سره) هغه سړي خپلو ملګرو ته ورغلی او وه يې ويل زه تاسو ته د رخصتۍ سلام کوم د دې په ويلو سره يې د توري تيکى مات کړ او وه يې غورځوى بيا يې توره واخـستل د دښمن په لور روان سو د هغو سره وجنګېدئ تر څو چي شهيد سو . مسلم.

## د أحد د شهيدانو لپاره زيری

﴿٣٦٧٨﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَصْحَابِهِ اَنَّهُ لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ يوم احد جَعَلَ اللّٰهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ فَلَمَّا وَجَدُوا طِيبَ مَأْكَلِهِمْ وَمَشْرَبِهِمْ وَمَقِيلِهِمْ قَالُوا مَنْ يُبَلِّغُ إِخْوَانَنَا عَنَّا أَنَّا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ لِئَلَّا

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ته وفرمايل: کله چي ستاسو ورونه د أحد په ورځ غم زده سول يعني شهيدان سول نو الله تعالى د هغوئ روحونه د شنو مرغانو په بدن کي داخل کړل (اوس) هغه مرغان د جنت ويالو ته راځي د جنت ميوې خوري او د سروزرو په هغه قنديلانو کي

يَزْهَدُوا فِي الْجَنَّةِ وَلَا يَنْكُلُوا عِنْدَ الْحَرْبِ فَقَالَ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ و تَعَالٰی انا ابلغهم عنكم فانزل الله وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَاءٌ إِلٰی آخِرِ الْآيَةِ . رواه ابوداؤد

ارام کوي کوم چي د عرش الهي لاندي زړيدلي دي ، کله چي دغه شهیدانو ته خوراك، چښاك ، آرام او خوشحالی تر لاسه سوي نو هغوئ وويل : ايا څوك سته چي زموږ ورونو ته زموږ د لوري دا پيغام ورسوي چي موږ ژوندي يو ددې لپاره چي هغوئ په جنت تر لاسه کولو کي د بې پرواهۍ څخه کار وانه خلي او د جهاد پر موقع سستي ونه کړي ، الله تعالی وويل : زه به ستاسو پيغام ستاسو ورونو ته ورسوم نو الله تعالی دا آيت نازل کړ : (ولا تحسبن الذين ....) ابوداؤد .

### د مؤمنانو لوړه ډله

(۳۶۷۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُونَ فِي الدُّنْيَا عَلٰى ثَلَاثَةِ أَجْزَاءٍ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَالَّذِي يَأْمَنُهُ النَّاسُ عَلٰى أَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ الَّذِي إِذَا أَشْرَفَ عَلٰى طَمَعٍ تَرَكَهُ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. رواه احمد .

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په دنيا کي درې ډوله مؤمنان دي : يو خو هغه چي الله او د هغه پر رسول باندي يې ايمان راوړ، او بيا په يو شك او شبه کي اخته نسول، او د الله تعالی په لار کي يې سر او مال سره جهاد وکړ، او بل قسم هغه څوك دی چي د هغوئ په لاس کي د مسلمانانو سر او مال خوندي وي. او دريم هغه چي د هغوئ په زړه کي د طمع خواهش پيدا کيږي مگر هغوئ دا خواهش يوازي د الله تعالی د رضا تر لاسه کولو لپاره پريږدي . احمد.

### د شهيد ارزو

(۳۶۸۰): وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ عُمَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ نَفْسٍ مُسْلِمَةٍ يَقْبِضُهَا رَبُّهَا تُحِبُّ أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْكُمْ وَأَنَّ لَهَا الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا غَيْرُ الشَّهِيدِ قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَيْرَةَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَأَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ لِي أَهْلُ الْوَبَرِ وَالْمَدَرِ.رواه النسائي

د حضرت عبد الرحمن بن ابي عميرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅ مسلمان چي د هغه روح الله تعالی قبض کړي ددې خبري خواهش نه کوي چي د هغه روح دي بيا راسي او د دنيا لذتونه تر لاسه کړي پرته د شهيد د روح څخه (چي هغه دا خوښوي) چي دويم وار دنيا ته راسي او د جهاد کولو سره دويم وار شهادت تر لاسه کړي ، ابن ابي عميره وايي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی په لار کي

زما قتلبدل ما ته تر دې زيات خوښ دي چي د خيمې درولو والا (بناريان او كليوال) زما سي. نسائي

**پر هر مؤمن د شهيد اطلاق**

(۳۶۸۱): وَعَنْ حَسْنَاءَ بِنْتِ مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَمِّيْ قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فِي الْجَنَّةِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ وَالشَّهِيْدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْلُوْدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْوَئِيْدُ فِي الْجَنَّةِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت حسناء بنت معاوية (رض) څخه روايت دئ چي ما ته زما اکا دا حديث بيان کړ چي ما دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي په جنت کي به څوك وي ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل په جنت كي به نبيان وي ، په جنت كي به شهيدان وي او هلكان او كوچنيان كه څه هم هغه د هر مذهب او هر قوم وي په جنت كي به وي او هغه انجوني به په جنت كي وي كومي چي ژوندى ښخ كړل سوي دي . ابوداؤد .

**په جهاد كي په مال او ځان دواړو سره د ګډون كونكي فضيلت**

(۳۶۸۲): وَعَنْ عَلِيٍّ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي أُمَامَةَ وَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ وَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ وَعِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ كُلُّهُمْ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَرْسَلَ بِنَفَقَةٍ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ وَأَقَامَ فِي بَيْتِهِ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ دِرْهَمٍ وَمَنْ غَزَا بِنَفْسِهِ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ وَأَنْفَقَ فِي وَجْهِ ذٰلِكَ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ: وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَّشَاءُ. رواه ابن ماجة.

حضرت علي، ابو درداء، ابوهريره، ابو امامه، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عمرو، جابر بن عبدالله او عمران بن حصين رضي الله عنهم ټول د نبي كريم ﷺ څخه دغه حديث بيانوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله په لار كي د خرڅ لپاره مال وليږي او خپله په كور كي پاته سي هغه ته به د هر درهم په بدله كي اووه سوه درهمه تر لاسه كيږي او څوك چي خپله ولاړ سي د الله په لار كي جهاد وكړي او په جهاد كي خپل مال هم خرڅ كړي نو هغه ته به د هر درهم په بدله كي اووه سوه زره درهمه تر لاسه كيږي ، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ: (والله يضاعف لمن يشاء) . ابن ماجه .

**د شهيدانو قسمونه**

(۳۶۸۳): وَعَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الشُّهَدَاءُ أَرْبَعَةٌ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَيِّدُ الْإِيْمَانِ لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ فَذٰلِكَ الَّذِي

د حضرت فضاله بن عبيد ﷺ څخه روايت دئ چي ما د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه واوريدل چي هغه ويل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي شهيدان پر څلور ډوله دي يو خو هغه سړى چي مؤمن وي د پوره ايمان خاوند وي هغه

يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ أَعْيُنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ هٰكَذَا وَرَفَعَ رَأْسَهُ حَتّٰى سقطت قَلَنْسُوَتُهُ قَالَ فَمَا أَدْرِي أَقَلَنْسُوَةَ عُمَرَ أَرَادَ أَمْ قَلَنْسُوَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَيِّدُ الْإِيمَانِ لَقِيَ الْعَدُوَّ فَكَأَنَّمَا ضُرِبَ جِلْدُهُ بِشَوْكِ طَلْحٍ مِنَ الْجُبْنِ أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ فَهُوَ فِي الدَّرَجَةِ الثَّانِيَةِ وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ خَلَطَ عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ فَذٰلِكَ فِي الدَّرَجَةِ الثَّالِثَةِ وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ أَسْرَفَ عَلٰى نَفْسِهِ لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ فَذٰلِكَ فِي الدَّرَجَةِ الرَّابِعَةِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب.

د دښمن سره و جنګیږي او د الله وعده رېښتوني وبولي تر څو چي په جنګېدو کي ووژل سي دا هغه سړی دئ چي د هغه په لوري به د قیامت په ورځ خلك داسي سر پورته کوي ، په دې ویلو سره یې سر پورته کړ ‹دومره یې پورته کړه› چي خولۍ یې ایله سوه ، د راوي بیان دئ فضاله دا ونه ښودل چي خولۍ د چا د سر څخه ایله سوه ، د حضرت عمر د سر څخه یا د نبي کریم ﷺ د سر څخه، او دویم هغه سړی چي مسلمان وي د پوره ایمان خاوند وي او د دښمن سره مقابله وکړي په داسي حال کي چي په بیره سره هغه دا محسوسوي چي د هغه په بدن کي د ازغني درختي ازغي وهل سوي دي یعني د بزدلۍ په وجه چي ناڅاپه یو نامعلوم غشی راسي او هغه ووژني دا سړی د دویمي درجې شهید دئ ، دریم هغه سړی چي مؤمن وي او هغه څه نیك او څه بد اعمال کړي وي ‹هغه جهاد ته ولاړ سي› د دښمن سره وجنګیږي او د الله تعالی هغه بیان سوی صفت رېښتونی وبولي چي هغه د مؤمن بیان کړی دئ او ووژل سي دا د دریمي درجې شهید دئ ، او څلورم هغه سړی چي مؤمن وي مګر پر خپل ځان یې زیاتي کړې وي ‹یعني ډېر ګناهونه یې کړي وي› او هغه په جهاد کي د دښمن سره وجنګیږي او د الله وعدې او صفت رېښتونی وبولي تر څو چي قتل کړل سي دا د څلورمي درجې شهید دئ ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ .

**که منافق په جهاد کي شهید سي نو د جنت حقدار نه دئ**

(٣٦٨٤): وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ السُّلَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَتْلٰى ثَلَاثَةٌ مُؤْمِنٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَإِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتّٰى يُقْتَلَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ فَذٰلِكَ الشَّهِيدُ الْمُمْتَحَنُ فِي خَيْمَةِ اللّٰهِ تَحْتَ عَرْشِهِ لَا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّونَ إِلَّا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ وَمُؤْمِنٌ خَلَطَ

د حضرت عتبة بن عبد السلمي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم خلك چي په جهاد کي ووژل سي د هغو درې دوله دي یو خو هغه مؤمن چي په خپل سر او مال سره د الله په لار کي جهاد وکړي د دښمن سره مقابله وکړي او جنګیږي تر څو چي شهید سي ددې شهید په اره رس ‹...› ﷺ فرمایلي دي دا هغه شهید دئ چي

عَمَلاً صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتّٰى يُقْتَلَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْهِ مُمَصْمِصَةٌ مَحَتْ ذُنُوْبَهُ وَخَطَايَاهُ إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءٌ لِلْخَطَايَا وَأُدْخِلَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَ وَمُنَافِقٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَإِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتّٰى يُقْتَلَ فَذَاكَ فِي النَّارِ إِنَّ السَّيْفَ لاَ يَمْحُو النِّفَاقَ . رواه الدارمي.

دده پر صبر او استقامت باندي يقين کړل سوی دئ دا شهيد به د الله تر عرش لاندي د الله په خيمه کي وي او انبياء به يوازي په يوه درجه د نبوت کي ځيني زيات وي، دويم هغه مؤمن دئ چي د هغه اعمال ګډوډ وي يعني ښه بنه او ښه بد وي هغه په خپل سر او مال سره د الله په لار کي جهاد وکړي کله چي د دښمن سره مقابله سي نو وجنګيږي تر څو چي ووژل سي دده شهيد په اره رسول الله ﷺ فرمايلي دي دا شهادت پاکونکی دئ چي د هغه ګناهونه يا خطاوي رژوي او توره (يعني جهاد) ګناهونه ډير زيات محوه کونکي (رژونکي) شی دئ ، دا شهيد چي په کومه دروازه سره جنت ته تلل غواړي تللای سي ، او بل هغه منافق دئ چي هغه خپل په سر او مال سره جهاد وکړي کله چي د دښمن سره ملاقات وکړي نو جنګ کوي تر څو چي ووژل سي دا سړی به دوږخ ته ځي ځکه چي توره نفاق (منافقت) نه ليري کوي . دارمي .

## په جهاد کي د چوکيداري کولو ثواب

(۳۶۸۵): وَعَنِ ابْنِ عَائِذٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جَنَازَةِ رَجُلٍ فَلَمَّا وُضِعَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لاَ تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ فَالْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ فَقَالَ هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِّنْكُمْ عَلٰى عَمَلِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَجُلٌ نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ حَرَسَ لَيْلَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَثَا عَلَيْهِ التُّرَابَ وَقَالَ أَصْحَابُكَ يَظُنُّوْنَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَقَالَ يَا عُمَرُ إِنَّكَ لاَ تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ وَلٰكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ . رواه البيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابن عائذ ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سړي د جنازې سره تشريف يووړ، کله چي جنازه کښېښودل سوه نو عمر بن خطاب ؓ عرض وکړ اې دالله رسوله ! تاسو پر ده لمونځ مه کوئ ځکه چي دا سړی بد عمله وو، (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ د خلکو په لور وکتل او وه يې فرمايل په تاسو کي چا دی د اسلام پر يو کار کولو ليدلی دئ ، يو سړی عرض وکړ چي هو اې دالله رسوله ! ده يوه شپه د الله په لار کي چوکيداري کړي وه ، رسول الله ﷺ پر هغه لمونځ وکړ او په خپلو لاسونو مبارکو يې پر هغه خاوره واچول او بيا يې وفرمايل : ستا دوستان خيال کوي چي ته دوږخي يې او زه د دې شاهدي ورکوم چي ته جنتي يې ، ددې وروسته رسول الله ﷺ

حضرت عمر ﷺ ته وفرمايل : اې عمره ! ستاخخه به د خلكو د اعمالو پوښتنه نه كيږي بلكه د دين اسلام په اړه به در څخه پوښتنه كيږي . بيهقي.

# بَابُ اعْدَادُ آلَه الْجِهَاد

## (د جهاد دَ سامانَ براَبرولَو بيانَ)

## لومړى فصل

**د جهاد لپاره د توان سره سم د جهادي ساز وسامان برابرولو حكم**

(۳٦٨٦): عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ { وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ} أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ . رواه مسلم

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه پر منبر دا اوريدلي دي د كافرانو سره د جنگېدو لپاره چي تاسو څومره خپل توان تينگولاى سئ تينگ يې كړئ ، خبردار سئ ! چي غشي وېشتل قوت دئ، خبردار سئ چي غشي ويشتل قوت دئ ، خبردار سئ چي غشي ويشتل قوت دئ، (يعني په قرآن كريم چي د (وما استطعتم من قوة ....) كوم آيت راغلى دئ د هغه څخه مراد د غشو ويشتلو قوت دئ). مسلم.

**د روم فتح**

(۳٦٨٧): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمْ الرُّومُ وَيَكْفِيكُمُ اللّٰهُ فَلَا يَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِهِ . رواه مسلم

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي ډير ژر به ستاسو لپاره روم فتح كړل سي او بس والى به وكړي تاسي لره خداى ﷻ يعني خداى ﷻ به كومك درسره وكړي نو تاسو ته پكار ده چي تاسو د غشو تمرين كولو كي سستي (عاجزي) ونه كړئ . مسلم .

**د غشي ويشتلو ارزښت**

(۳٦٨٨): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ عَلِمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ فَلَيْسَ مِنَّا أَوْ قَدْ عَصَى . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي چا غشي وېشتل زده كړه او بيا يې پرېښودل نو هغه زموږ څخه نه دئ يا رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي هغه نافرماني وكړه . مسلم.

## نبي كريم ﷺ د غشي ويشتونكوسره

(٣٦٨٩): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَسْلَمَ يَتَنَاضَلُونَ بِالسُّوقِ فَقَالَ ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ فَإِنَّ أَبَاكُمْ كَانَ رَامِيًا وَأَنَا مَعَ بَنِي فُلَانٍ لِأَحَدِ الْفَرِيقَيْنِ فَأَمْسَكُوا بِأَيْدِيهِمْ فَقَالَ مَا لَكُمْ قَالُوا وَكَيْفَ نَرْمِي وَأَنْتَ مَعَ بَنِي فُلَانٍ قَالَ ارْمُوا وَأَنَا مَعَكُمْ كُلِّكُمْ . رواه البخاري.

د حضرت سلمة بن الاكوع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د اسلم قبيلي ته تشريف يوور کله چي هغوئ په بازار کي د غشو ويشتلو تمرين کوئ ، رسول الله ﷺ هغوئ مخاطب کړل او ورته وه يې فرمايل: اې د اسماعيل اولاده ! غشي ويشتل کوئ ستاسو پلار غشي ويشتونکی وو ، او زه د فلانی ډلي سره يم (يعني د يو ډلي نوم يې واخيست) بيا دويمي ډلي غشي ويشتل پرېښودل يعني د غشو ويشتلو څخه يې لاس واخيست، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو څه وسول ؟ هغوئ عرض وکړ موږ په داسي حالت کي څنګه غشي ويشتل کولای سو هر کله چي تاسو ددغه ډلي سره ياست ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو غشي ولئ زه ستاسو ټولو سره يم . بخاري.

## د ابو طلحه غشي ويشتل

(٣٦٩٠): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ يَتَتَرَّسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتُرْسٍ وَاحِدٍ وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ حَسَنَ الرَّمْيِ فَكَانَ إِذَا رَمَى تَشَرَّفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْظُرُ إِلَى مَوْضِعِ نَبْلِهِ . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت ابو طلحة په يو سپر سره د رسول الله ﷺ ساتنه کول (يعني غشي ويشتل يې هم کول او د نبي ﷺ خدمت يې هم کوئ) حضرت ابو طلحه مشهور غشي ويشتونکی وو هغه چي به غشي ويشتل نو نبي کريم ﷺ به کتل چي د هغه غشي چيري او پر چا لګيږي . بخاري.

## د اسانو فضيلت

(٣٦٩١): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د اسانو په تنديو کي برکت دئ . بخاري او مسلم .

(٣٦٩٢): وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْوِي نَاصِيَةَ فَرَسٍ بِإِصْبَعِهِ وَهُوَ يَقُولُ الْخَيْلُ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا الْخَيْرُ

د حضرت جرير بن عبد الله ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ وليدی د يو آس د تندي ورېښتان يې په ګوتو سره تاو کولو او فرمايل يې د آسانو په تنديو کي تر قيامت پوري خير

إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْأَجْرُ وَالْغَنِيمَةُ . رواه مسلم .

ترلې دئ چي اجر او غنيمت دی . مسلم .

(٣٦٩٣): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ إِيمَانًا بِاللّٰهِ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله په لار كي آس وساتي ، پر الله تعالى پوره ايمان لري او د هغه وغده ريښتونى گڼي نو د آس خوراك، څښاك ، مرداري او بولي تول به د قيامت په ورځ د هغه د اعمالو په ترازو كي تلل كيږي . بخاري.

**ناخوښه اس**

(٣٦٩٤): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ الشِّكَالَ فِي الْخَيْلِ وَالشِّكَالُ أَنْ يَكُونَ الْفَرَسُ فِي رِجْلِهِ الْيُمْنَى بَيَاضٌ وَفِي يَدِهِ الْيُسْرَى أَوْ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى وَرِجْلِهِ الْيُسْرَى .رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په آس كي شكال بد گڼئ او د شكال معنا داده چي د آس په راسته پښه او راسته لاس كي يا په راسته لاس او چپه پښه كي سپين والى وي . مسلم .

**د اسانو خغلولو ذكر**

(٣٦٩٥): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي أُضْمِرَتْ مِنَ الْحَفْيَاءِ وَأَمَدُهَا ثَنِيَّةُ الْوَدَاعِ وَبَيْنَهُمَا سِتَّةُ أَمْيَالٍ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضْمَرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ وَبَيْنَهُمَا مِيلٌ . متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دوه اضمار كړل سوي اسان د حفياء نامي ځاى څخه تر ثنية الوداع پوري و خغلول (د دې دواړو ځايو په منځ كي شپږ ۶ ميله فاصله وه) او د كومو اسانو چي اضمار نه وو سوى د هغوئ خغلول يې د ثنية الوداع څخه تر مسجد بني زريق پوري و تاكل (چي دهغو په منځ كي يو ميل فاصله وه). اضمار: دې ته ويل كيږي چي پر چاغ آس باندي دانه كمه سي دنگر سي نو داسي آس بيا په خغاسته كي چاپك وي . بخاري او مسلم .

**د نبي كريم ﷺ د اوښې بيان**

(٣٦٩٦): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ نَاقَةٌ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُسَمَّى الْعَضْبَاءَ وَكَانَتْ لَا تُسْبَقُ فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى قَعُودٍ لَهُ فَسَبَقَهَا فَاشْتَدَّ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ اوښه چي د هغې نوم غضباء وه په خغلولو كي به يې هيڅ اوښه تر ځان وراندي نه پرېښودل ، يو صحرائي پر خپل ځوان اوښ باندي راغلى

ذٰلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ لَا يَرْفَعَ شَيْئًا مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا وَضَعَهُ . رواه البخاري.

او د رسول الله ﷺ د اوبنې سره يې خپل اوبن و خغلوئ او خيني مخته سو : مسلمانان په دې خبره ډير پريشانه سول ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى حق دئ چي د دنيا کوم شی سر لوړی کوي په خپله هغه کښته کوي هم . بخاري.

## دويم فصل

### د جهاد لپاره د وسلې جوړولو فضيلت

(۳۶۹۷):عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ فِي الْجَنَّةِ صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ وَالرَّامِيَ بِهِ وَمُنَبِّلَهُ فَارْمُوا وَارْكَبُوا وَ أَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا كُلُّ شَئٍ يَلْهُو بِهِ الرَّجُلُ بَاطِلٌ إِلَّا رَمْيَهُ بِقَوْسِهِ وَتَأْدِيبَهُ فرسه وملاعبته امراته فَإِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ . رواه الترمذي وابن ماجة و زَادَ ابوداؤد والدارمي وَ مَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ فَإِنَّهُ نِعْمَةٌ تَرَكَهَا أَوْ قَالَ كَفَرَهَا.

د حضرت عقبة بن عامر ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي الله تعالى د يوه غشي وېشتلو په سبب درې کسان جنت ته داخلوي : يو خو غشی جوړونکی چي د ثواب په نيت يې جوړ کړي ، دويم غشي ويشتونکی او دريم غشي ورکونکي نو تاسو غشي ويشتل کوئ او پر اسانو سپرلي کوي او ستاسو غشي ويشتل زما په نزد تر سپرلی کولو زيات خوښ دي تر سپرتيا ستاسي پر هر شي چي لوبې کوي په هغه سره مسلمان باطل او ناروا دي پرته د هغه څخه چي په لينده سره غشي ويشتل وکړي او اس ته ادب وښيي يا د خپل بي بي سره خوش طبعي کوي دا ټول شيان حق دي ، ترمذي او ابن ماجة، او د ابوداؤد او دارمي په روايت کي دا الفاظ زيات دي او کوم سړی چي دغشي ويشتلو څخه وروسته هغه پرېږدي او د هغه څخه بې پروا سي نو هغه يو نعمت پرېښودئ ، يا رسول الله ﷺ داسي وفرمايل چي د نعمت کفران يې وکړ . يعني د نعمت ناشکري يې وکړه .

### د غشي ويشتلو ثواب

(۳۶۹۸):وَعَنْ أَبِيْ نَجِيْحٍ السُّلَمِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ بَلَغَ بِسَهْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَهُوَ لَهُ دَرَجَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ رَمٰى بِسَهْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَهُوَ لَهُ عِدْلُ مُحَرَّرٍ وَ مَنْ

د حضرت ابو نجيح سلمي ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک چي د الله په لار کي (کافران په) غشو ولي او هغه ووژني نو د هغه لپاره په جنت کي يوه درجه

شَابَ شَيْبَةً فِي سَبِيلِ اللّٰهِ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان وروى أبو داود الفصل الأول والنسائي الأول والثاني والترمذي الثاني والثالث وفي روايتهما من شاب شيبة في سبيل الله بدل في الإسلام .

ده او كوم سړى چي د الله په لار كي غشي وولي (كه څه هم هغه پر كافر وموښلي يا نه وموښلي) نو د هغه لپاره د يوه غلام ازادولو ثواب دئ . او څوك چي د الله تعالى په لار كي سپين ږيرى سي نو د هغه سپين ږيرتوب به د قيامت په ورځ يو نور وي .، بيهقي په شعب الايمان كي ، ابوداؤد لومړني خبره روايت كړه ، نسائي لومړني او دويمه ، ترمذي دويمه او دريمه او د دواړو په روايت كي د في الاسلام پر ځاى من شاب شيبة في سبيل الله ، الفاظ دي.

**د جهاد په شيانو كي د شرط مال اخيستل جائز دي**

(٣٦٩٩): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا سَبَقَ إِلَّا فِي نَصْلٍ أَوْ خُفٍّ أَوْ حَافِرٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په غشاسته يا مسابقه كي مال اخيستل جائز نه دي مگر په غشي ويشتلو ، اوښ او آس ځغلولو كي مال اخيستل جائز دي . ترمذي. ابوداؤد او نسائي .

**د اسانو مسابقه**

(٣٧٠٠): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ فَإِنْ كَانَ يُؤْمِنُ أَنْ يُسْبَقَ فَلَا خَيْرَ فِيْهِ وَإِنْ كَانَ لَا يُؤْمِنُ أَنْ يُسْبَقَ فَلَا بَأْسَ بِهِ . رواه في شرح السنة وفي رواية أبي داود قَالَ مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ يَعْنِيْ وَهُوَ لَا يَأْمَنُ أَنْ يُسْبَقَ فَلَيْسَ بِقِمَارٍ وَمَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ وَقَدْ أَمِنَ أَنْ يُسْبَقَ فَهُوَ قِمَارٌ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د اسانو په مسابقه كي خپل دريم آس گډ كړي (په دې شرط كه زما آس وړاندي سو نو زه به ددې دواړو څخه بازي يوسم او كه وړاندي نه سو نو زه به هيڅ نه وركوم) كه هغه ته ددې يقين وي چي هغه به خامخا وړاندي سي نو په دې شرط كي خير نسته او كه د هغه يقين نه وي چي هغه به خامخا مخته سي نو په دې كي څه پروا نسته، شرح السنة او د ابوداؤد په روايت كي دا الفاظ نسته چي څوك د دوو آسانو په منځ كي خپل دريم اس گډ كړي او هغه ته ددې خبري پوره يقين نه وي چي هغه به خامخا وړاندي سي نو دا شرط خماري نه دى او كه هغه ته ددې يقين وي چي هغه به خامخا وړاندي سي نو دا شرط خمار دئ.

## د اسانو په خغلولو کي د جلب او جنب منع

(۳۷۰۱): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ جَلَبَ وَلاَ جَنَبَ زَادَ يَحْيٰى فِيْ حَدِيْثِهِ فِيْ الرِّهَانِ . رواه أبو داود والنسائي ورواه الترمذي مع زيادة في باب الغضب.

د حضرت عمران بن حصين ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (د اسانو په مسابقه کي) جلب او جنب جائز نه دئ ، جلب دادئ چي د اسانو په مسابقه کي يو سړی په آس پسې سي چي هغه وزاندي کړي ، او جنب دا چي يو بل آس د خپل اس سره پر ځنګ کړي چي د سپرليۍ اس ستړی سي نو بيا پر هغه بل سپور سي . ابوداؤد ، نسائي او ترمذي.

## د ښه اس نښي

(۳۷۰۲): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ الْخَيْلِ الْأَدْهَمُ الْأَقْرَحُ الْأَرْثَمُ ثُمَّ الْأَقْرَحُ الْمُحَجَّلُ طَلْقُ الْيَمِيْنِ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ أَدْهَمَ فَكُمَيْتٌ عَلٰى هٰذِهِ الشِّيَةِ . رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابو قتادة ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره آس تور آس دئ چي د هغه په تندي کي لږ سپين والی وي او د پزي خوا ته يې سپين والی وي ، بيا هغه آس غوره دئ چي د هغه پر تندي لږ سپين والی وي او که لاس او پښې يې سپيني وي مګر راسته لاس يې سپين نه وي نو بيا ددې ډول کميت ښه دئ . ترمذي او دارمي .

(۳۷۰۳): وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِكُلِّ كُمَيْتٍ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَشْقَرَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَدْهَمَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ . رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت ابو وهب جشمي ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر تاسو لازم ده (يعني که آس ساتئ نو) کميت آس ساتئ چي د هغه تندي او لاسونه او پښې سپين وي يا تور او سپين تندي او سپين لاس او پښې والا وي . (کميت او اشقر يو ډول وي يوازي دومره فرق دئ چي د کميت لکۍ او د غاړه وربښتان تور وي او د اشقر سره وي) . ابوداؤد او نسائي .

(۳۷۰۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُمْنُ الْخَيْلِ فِي الشُّقْرِ . رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اسانو برکت په سره رنګ اسونو کي دئ . ترمذي او ابوداؤد.

**د اسانو د تندي وېښتان او لکۍ مه پرېکوئ**

| | |
|---|---|
| (۳۷۰۵): وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدِ السُّلَمِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَقُصُّوا نَوَاصِيَ الْخَيْلِ وَلَا مَعَارِفَهَا وَلَا أَذْنَابَهَا فَإِنَّ أَذْنَابَهَا مَذَابُّهَا وَمَعَارِفَهَا دِفَاؤُهَا وَنَوَاصِيهَا مَعْقُودٌ فِيهَا الْخَيْرُ . رواه ابوداؤد . | د حضرت عتبة بن عبد السلمي ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي ويل يې د آسانو د تندي ورېښتان، د څټ ورېښتان او د لکۍ ورېښتان مه پرېکوئ څکه چي د هغوئ لکۍ د هغوئ مګس پران دئ چي |

په هغه سره مچان په هوا کوي ، اود غاړي ورېښتان د هغوئ د ګرم ساتلو لپاره :ي او د تندي د ورېښتانو سره خير ترلی دئ . ابوداؤد.

**د اسانو په اړه يو څو لارښووني**

| | |
|---|---|
| (۳۷۰۶): وَعَنْ أَبِي وَهْبِ الْجُشَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْتَبِطُوا الْخَيْلَ وَامْسَحُوا بِنَوَاصِيهَا وَأَعْجَازِهَا أَوْ قَالَ أَكْفَالِهَا وَقَلِّدُوهَا وَلَا تُقَلِّدُوهَا الْأَوْتَارَ . رواه ابوداؤد والنسائي . | د حضرت ابو وهب جشمي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اسونه ترلي ساتئ د هغوئ په تنديو او په کناتيو لاس تيروى ، يا يې وفرمايل چي پر ملاوو لاس راتيروئ او د |

هغوئ په غاړه کي غارګۍ اچوی او د ليندۍ جی مه ور اچوئ . ابوداؤد او نسائي .

**د رسول الله ﷺ اهل بيت ته درې خاص احکام**

| | |
|---|---|
| (۳۷۰۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدًا مَأْمُورًا مَا اخْتَصَّنَا دُونَ النَّاسِ بِشَيْءٍ إِلَّا بِثَلَاثٍ أَمَرَنَا أَنْ نُسْبِغَ الْوُضُوءَ وَأَنْ لَا نَأْكُلَ الصَّدَقَةَ وَأَنْ لَا نُنْزِيَ حِمَارًا عَلَى فَرَسٍ . رواه الترمذي والنسائي . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو مامور انسان وو (يعني د الله د لوري) مونږ ته د نورو خلکو څخه پرته د هيڅ خبري په خاصه توګه سره حکم نه دی راکړل سوی خو د درو خبرو : يو دا چي مونږ اودس پوره کړو |

. دويم دا چي مونږ صدقه او خيرات نه خورو ، دريم دا چي مونږ پر آسپه خر نه خيژو . ترمذي او نسائي.

**پر اسپي د خره پرېښودو منع**

| | |
|---|---|
| (۳۷۰۸): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَغْلَةٌ فَرَكِبَهَا فَقَالَ عَلِيٌّ لَوْ حَمَلْنَا الْحَمِيرَ عَلَى الْخَيْلِ فَكَانَتْ لَنَا مِثْلُ هَذِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا يَفْعَلُ | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته يوه غاتره په تحفه کي ورکړل سوه ، رسول الله ﷺ پر هغې سپور سو ، حضرت علي ﷺ عرض وکړ که مونږ خرونه پر آسپو پرېږدو نو مونږ ته به |

| | |
|---|---|
| ذٰلِكَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ . رواه ابوداؤد والنسائي. | ددې غاترو په ډول بچي راوړي، (د دې په |

اوریدو سره) رسول الله ﷺ وفرمایل : داسې هغه سړی کوي چې خبر نه وي (یعني د شریعت د احکامو څخه خبر نه وي) . ابوداؤد او نسائي.

**د توري په سپینو زرو ښائسته کول جائز دي**

| | |
|---|---|
| (۳۷۰۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فِضَّةٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي. | د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ د توري د قبضې خولی د سپین زرو وه . ترمذي، ابوداؤد، نسائي او دارمي. |
| (۳۷۱۰): وَعَنْ هُودِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ جَدِّهِ مَزِيدَةَ قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى سَيْفِهِ ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب. | حضرت هود بن عبد الله بن سعد ؓ د خپل نیکه مزیدة ؓ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ په مکه کې داخل سو او د رسول الله ﷺ پر توره (یعني د توري پر قبضه) سره |

او سپین (زر) وه، (یا د سرو او سپینو زرو لاري پر وې) ، ترمذي دا روایت کړی دئ او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دئ.

**په جنګ کې د ساتنې لپاره زیات شیان استعمالول د توکل خلاف نه دي**

| | |
|---|---|
| (۳۷۱۱): وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ أَخَذَ دِرْعَانِ قَدْ ظَاهَرَ بَيْنَهُمَا . رواه ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت سائب بن یزید ؓ څخه روایت دئ چې د أحد په غزا کې رسول الله ﷺ دوې زغرې اغوستې وې، (یعني پر یوې زغرې یې بله زغره اغوستې وه) ، ابوداؤد او ابن ماجه . |

**د رسول الله ﷺ بیرغ**

| | |
|---|---|
| (۳۷۱۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ رَايَةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوْدَاءَ وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضَ . رواه الترمذي و ابن ماجة. | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ لوی بیرغ تور وو او کوچنی بیرغ یې سپین وو . ترمذي، او ابن ماجه. |
| (۳۷۱۳): وَعَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ مَوْلَى مُحَمَّدِ بْنِ الْقَاسِمِ قَالَ بَعَثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْقَاسِمِ إِلَى الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَسْأَلُهُ عَنْ رَايَةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ | حضرت موسی بن عبیده د محمد بن قاسم آزاد کړی وایي زه محمد بن قاسمؒ حضرت براء بن عازب ته ددې پوښتنې کولو لپاره ولیږلم چې د |

وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَتْ سَوْدَاءَ مُرَبَّعَةً مِنْ نَمِرَةٍ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد .

رسول الله ﷺ د بیرغ څه رنګ وو ؟ هغه وویل : تور رنګ يې وو او د هغه توکر مربع (یعني څلور کونجه) برګه (یعني توره او سپینه) وه . احمد ، ترمذي او ابوداؤد.

(۳۷۱۴): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ وَ لِوَاءُهُ اَبْيَضُ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة..

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ مکې ته تشریف راوړ او د بیرغ رنګ يې سپین وو . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

## دریم فصل

### د رسول الله ﷺ په نظر د اسانو قدر

(۳۷۱۵): عَنْ اَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ شَيْءٌ اُحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ النِّسَاءِ مِنَ الْخَيْلِ . رواه النسائي

د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي د ښځو څخه وروسته رسول الله ﷺ اسونه ډیر خوښول . نسائي .

### په جنګ کي حقیقي طاقت د الله ﷻ په مرسته سره تر لاسه کیږي

(۳۷۱۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَتْ بِيَدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْسٌ عَرَبِيَّةٌ فَرَأَى رَجُلًا بِيَدِهِ قَوْسٌ فَارِسِيَّةٌ قَالَ مَا هَذِهِ اَلْقِهَا وَعَلَيْكُمْ بِهَذِهِ وَأَشْبَاهِهَا وَرِمَاحِ الْقَنَا فَإِنَّهَا يؤيد اللّٰهُ لَكُمْ بِهَا فِي الدِّينِ وَيُمَكِّنُ لَكُمْ فِي الْبِلَادِ. رواه ابن ماجة

د حضرت علي ؓ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په لاس مبارك کي عربي لیندۍ وه ، رسول الله ﷺ د یوه سړي په لاس کي ایراني لیندۍ ولیده نو پوښتنه يې وکړه چي دا څه ده ؟ دا وغورځوه تا ته دا ډول (عربي) لیندۍ ساتل پکار ده او تیرې تیرې چي د هغه په وجه الله ﷻ په دین کي ستاسو مرسته وکړي او تاسو ته په ښارونو کي ځای درکړي . ابن ماجه .

# كِتَابُ اٰدَابِ السَّفَرِ

## (د سفر د ادبونو بيان)

## لومړی فصل

### د جهاد لپاره د پنجشنبې په ورځ وتل

(۳۷۱۷): عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ. رواه البخاري.

د حضرت كعب بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د پنجشنبې په ورځ د تبوك د غزا څخه تشريف يوورِ، او رسول الله ﷺ به خوښول چې د پنجشنبې په ورځ په سفر روان سي . بخاري.

### د يوازې سفر كولو څخه منع

(۳۷۱۸): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي الْوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ. رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كه خلكو ته د يوازې سفر كولو تاوانونه معلوم سي څرنګه چې ما ته معلوم دي نو هيڅكله به يو سپور سړی يوازې د شپې سفر ونه كړي. بخاري.

### په كومه قافله كې چې سپې وي د هغو سره د رحمت ملائكې نه وي

(۳۷۱۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ملائكې د هغه قافلې سره نه ځي چې د هغه سره سپې وي او جرس (يعني هغه زنګولې چې د اوښانو په غاړه زنګيږي، (د سپې څخه هغه سپی مراد دئ چې د چوكيدارۍ لپاره نه وي). مسلم.

### زنګ دشيطان باجه ده

(۳۷۲۰): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ. رواه مسلم

د حضرت ابوهرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زنګولې آله د سرود د شيطان دي . مسلم.

## د اوښ په غاړه د امیل زړولو څخه منع

(۳۷۲۱): وَعَنْ بَشِيرٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا أَنْ لَا يَبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ أَوْ قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ . متفق عليه.

د حضرت بشیر انصاري ﷺ څخه روایت دئ چي هغه په یو سفر کي د رسول الله ﷺ سره وو، رسول الله ﷺ یو سړی قافلې ته د اعلان کولو لپاره ولیږئ چي د هیڅ یو اوښ په غاړه کي دي د امیل پرې نه ښودل سي مگر پرې دي سي بخاري او مسلم.

## پر حیواناتو باندي د سفر کولو په اړه یو څو هدایات

(۳۷۲۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَقَّهَا مِنَ الْأَرْضِ وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَأَسْرِعُوا عَلَيْهَا السَّيْرَ وَإِذَا عَرَّسْتُمْ بِاللَّيْلِ فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ فَإِنَّهَا طُرُقُ الدَّوَابِّ وَمَأْوَى الْهَوَامِّ بِاللَّيْلِ، وَ فِي رِوَايَةٍ إِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَبَادِرُوا بِهَا نِقْيَهَا.رواه مسلم.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي تاسي په اباده مځکه کي سفر کوئ نو اوښانو ته د هغوئ حق ورکړئ کوم چي په مځکه کي دي، او کله چي په خشك سالي کي سفر کوئ نو تیز ځئ چي د کمزوري کېدو څخه وړاندي مو منزل ته ورسوي، او هر کله چي د شپې یو ځای تم کیږي نو لار پریږدئ ځکه چي پردې حیوانان راځي او زهرجنو حیواناتو د راتلو ځای دئ او په یوه روایت کي دا الفاظ دئ هر کله چي تاسو په خشك سالي کي سفر کوئ نو تر څو پوري چي په اوښانو کي توان وي په تیزي سره سفر کوئ. مسلم.

## د ضرورت مند ملگري خبر اخلئ

(۳۷۲۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ فَجَعَلَ يَضرب يَمِينًا وَشِمَالًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلٌ مِنْ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ قَالَ فَذَكَرَ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ مَا ذَكَرَ حَتَّى رَأَيْنَا أَنَّهُ لَا

د حضرت سعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو یو سړی پر اوښ سپور راغلی او د اوښ راسته او چپه لوري ته یې کتل پیل کړل، رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا سره چي تر یوې سپرلۍ زیات وي هغه دي هغه چا ته ورکړي چي د هغه سره سپرلۍ نه وي. (یعني د ده سپرلۍ کمزوري او ستړې سوې ده)، او د چا سره چي د خوراك او

حَقٌّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ . رواه مسلم .

چېښاك زيات سامان وي هغه دي هغه چا ته ورکړي چې د لارې توښه نه وي ورسره ، ويلې دي راوي چې ددې وروسته رسول الله ﷺ د مال دولونه بيان كړل تر دې چې موږ دا محسوسه كړه چې هيڅ سړي ته تر ضرورت زيات شي ساتلو حق نسته . مسلم .

**د مقصد پوره کېدو سره سم خپل کور ته ستنيږئ**

(۳۷۲۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ نَوْمَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ مِنْ وَجْهِهِ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سفر د عذاب يوه ټوټه ده چې تاسو د خوب، خوراك او څښاك څخه باسي ، هر كله چې يو مسافر د خپل سفر مقصد پوره كړي نو سمدستي دې خپل كورنۍ ته ستون سي . بخاري او مسلم .

**د مسافر د کوچنيانو په ذريعه بنه راغلاست**

(۳۷۲۵): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ تُلُقِّيَ بِصِبْيَانِ أَهْلِ بَيْتِهِ قَالَ وَإِنَّهُ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَسُبِقَ بِي إِلَيْهِ فَحَمَلَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ جِيءَ بِأَحَدِ ابْنَيْ فَاطِمَةَ فَأَرْدَفَهُ خَلْفَهُ قَالَ فَأُدْخِلْنَا الْمَدِينَةَ ثَلَاثَةً عَلَى دَابَّةٍ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ څخه روايت دئ چې كله به رسول الله ﷺ د سفر څخه راغلى نو د اهل بيت هلكانو به د رسول الله ﷺ ه بنه راغلاست لپاره مخ ته ور وستل سول ، يو وار چې رسول الله ﷺ د سفر څخه راغلى نو زه د رسول الله ﷺ مخ ته ور وستل سوم رسول الله ﷺ زه پر خپله سپرلۍ مخته كښېنولم ، بيا دبي بي فاطمې په زامنو كي يو راوستل سو ، رسول الله ﷺ هغه هم خپل شا ته كښېنوى بيا موږ مدينې ته داخل سوو چې پر يوه حيوان درې كسان سپاره وو . مسلم .

(۳۷۲۶): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّهُ أَقْبَلَ هُوَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفِيَّةُ مُرْدِفُهَا عَلَى رَاحِلَتِهِ . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې هغه او ابوطلحه د يو سفر څخه د رسول الله ﷺ سره مدينې ته راستانه سول او د رسول الله ﷺ سره شا ته د هغه بي بي صفيه هم پر اوښ سپره وه . بخاري.

**د رسول الله ﷺ د سفر څخه د ستنېدو وخت**

(۳۷۲۷): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلًا وَ كَانَ لَا يَدْخُلُ إِلَّا غُدْوَةً

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د شپې په وخت كي خپل كور ته نه تلئ

أَوْ عَشِيَّةً . متفق عليه.

بلكه د سهار په وخت كي به كور نه داخليدئ يا د مابنام په وخت كي . بخاري او مسلم .

**د شپې له خوا د سفر څخه د ستنيدو منع**

(٣٧٢٨): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَطَالَ أَحَدُكُمُ الْغَيْبَةَ فَلَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا . متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو څوك په سفر كي زيات وخت تير كړي نو هغه دي د شپې په وخت كي كور ته نه راځي . بخاري او مسلم .

(٣٧٢٩): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلْتَ لَيْلًا فَلَا تَدْخُلْ عَلَى أَهْلِكَ حَتّٰى تَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ وَتَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ . متفق عليه.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي ته د شپې د سفر څخه را سې نو خپل كور ته مه ننوزه تر څو پوري چي ستا ښځه تر نامه لاندي وربښتان صفا كړي او تار په تار سر ږمنځ كړي . بخاري او مسلم .

**د سفر څخه پر ستنيدو دعوت كول مسنون دي**

(٣٧٣٠): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَحَرَ جَزُورًا أَوْ بَقَرَةً . رواه البخاري.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ كله چي رسول الله ﷺ مديني ته راغلى نو اوښ يا غوا يې حلال كړل . بخاري.

**د رسول الله ﷺ د سفر څخه د ستنيدو وخت**

(٣٧٣١): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ لِلنَّاسِ . متفق عليه.

د حضرت كعب بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به اكثر د ورځي دڅاښت په وخت كي د سفر څخه رسيدى او هر كله چي به راورسيدئ نو لومړى به يې مسجد ته تشريف يوړ او دوه ركعته لمونځ به يې كوئ بيا به د خلكو سره كښينستى په مسجد كي . بخاري او مسلم .

**د سفر څخه په ستنيدو سره لومړى مسجد ته تلل**

(٣٧٣٢): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ لِي ادْخُلِ الْمَسْجِدَ فَصَلِّ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ . رواه البخاري .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي په يو سفر كي زه د نبي كريم ﷺ سره وم ، كله چي موږ مديني ته داخل سوو نو رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل مسجد ته ولاړ سه دوه ركعته لمونځ وكړه . بخاري شريف .

## دويم فصل

### د امت په حق کي د سهار د وخت لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

(۳۷۳۳): عَنْ صَخْرٍ بْنِ وَدَاعَةَ الْغَامِدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا وَكَانَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً أَوْ جَيْشًا بَعَثَهُمْ من أَوَّلَ النَّهَارِ وَكَانَ صَخْرٌ تَاجِرًا فَكَانَ بَعَثَ تِجَارَةً بَعَثَهُمْ أَوَّلَ النَّهَارِ فَأَثْرَى وَكَثُرَ مَالُهُ . رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي.

د حضرت صخر بن وداعة الغامدي ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اي الله ! زما د امت لپاره د ورځي په سر کي برکت واچوې او هر کله چي به رسول الله ﷺ يو کوچني يا لوى لښکر يو خاى ليږئ نو د ورځي په اول سر کي به يې ليږى ، د راوي بيان دئ چي صخر يو سوداګر وو هغه به خپل تجارتي مال د ورځي په اول کي ليږئ هغه شتمن سو او ډير شتمن سو . ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

### د شپې د سفر کولو حکم

(۳۷۳۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوَى بِاللَّيْلِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو پر خپل ځان د شپې سفر لازم کړئ ځکه چي د شپې مځکه را ونغښتل سي (يعني لار ژر وهل کيږي) . ابوداؤد .

### په سفر کي کم از کم دري کسان کېدل پکار دي

(۳۷۳۵): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرَّاكِبُ شَيْطَانٌ وَالرَّاكِبَانِ شَيْطَانَانِ وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ . رواه مالك و الترمذي و ابوداؤد والنسائي.

حضرت عمرو بن شعيب ؓ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سپور يو شيطان دئ او دوه سپاره دوه شيطانان دي او دري سپاره دي . مالك، ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

### په سفر کي يو ملګرى امير جوړ کړى

(۳۷۳۶): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو سعيد خدري ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په سفر کي دري کسان وي نو هغوئ دي په خپلو کي يو امير جوړ کړي . ابوداؤد.

**د سفر غوره ملګري**

| | |
|---|---|
| (۳۷۳۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال خَيْرُ الصَّحَابَةِ أَرْبَعَةٌ وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُ مِائَةٍ وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ وَلَا يُغْلَبُ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي وقال الترمذي هذا حديث غريب. | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: غوره ملګري په سفر کي هغه دي چي د هغوئ شمیر (کم از کم) څلور وي او غوره کوچنی لښکر هغه دئ چي په هغو کي څلور سوه کسان وي او غوره لوی لښکر هغه دئ |

چي په هغو کي څلور زره کسان وي او دوولس زره کسان د کمۍ په سبب هیڅکله نه مغلوب کیږي. ترمذي، ابوداؤد، دارمي، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ.

**د خپلو ملګرو سره د رسول الله ﷺ معمول**

| | |
|---|---|
| (۳۷۳۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَلَّفُ فِي الْمَسِيرِ فَيُزْجِي الضَّعِيفَ وَيُرْدِفُ وَيَدْعُو لَهُمْ . رواه ابوداؤد . | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به په سفر کي وروسته تلئ ددې لپاره چي کمزوري سپرلی و شړي او څوك چي پر پښو وي |

هغه پر خپله سپرلۍ د ځان سره سپور کړي او د هغوئ لپاره د عاء وکړي. ابوداؤد.

**منزل ته په رسېدو سره تول ملګري یو ځای تم کېدل پکار دي**

| | |
|---|---|
| (۳۷۳۹): وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلُوا مَنْزِلًا تَفَرَّقُوا فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ فَلَمْ يَنْزِلْ بَعْدَ ذَلِكَ مَنْزِلًا إِلَّا انْضَمَّ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ حَتَّى يُقَالَ لَوْ بُسِطَ عَلَيْهِمْ ثَوْبٌ لَعَمَّهُمْ . رواه ابوداؤد. | د حضرت ابو ثعلبة الخشني ﷺ څخه روایت دئ چي هر کله به موږ پر یو منزل کښته کېدلو نو په غرنی شېلو کي به خپاره سوو ، رسول الله ﷺ پر یوه موقع د دې په لیدو سره وفرمایل: ستاسو په دې شېلو کي متفرق کېدل د شیطان د چم او وسوسې په سبب دي، ددې څخه وروسته چي به خلك پر یو ځای کښته کېدل نو داسي به تم کېدل |

چي د یو بل سره به نژدې وه ، یعني ویلای سو تر دې به یو بل ته نژدې اوسېدل که چیري پر هغوئ یو توکر واچول سي نو تول به پکښي پټېدل . ابوداؤد.

**د رسول الله ﷺ د کمال انکسار یو واقعه**

| | |
|---|---|
| (۳۷۴۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ كُلُّ ثَلَاثَةٍ عَلَى بَعِيرٍ فَكَانَ أَبُو لُبَابَةَ وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي د بدر په غزا کي زموږ دا حالت وو چي |

طَالِبٍ زَمِيْلَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَانَتْ إِذَا جَاءَتْ عُقْبَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَا نَحْنُ نَمْشِيْ عَنْكَ قَالَ مَا أَنْتُمَا بِأَقْوٰى مِنِّيْ وَمَا أَنَا بِأَغْنٰى عَنِ الْأَجْرِ مِنْكُمَا . رواه في شرح السنة

د درو كسانو لپاره يو اوښ وو او ابولبابه او علي ا بن ابي طالب به د رسول الله ﷺ په اوښ كې شريك وه هر كله چې د رسول الله ﷺ د كښته كېدو وار به راغلی نو ابولبابه او علي ابن ابي طالب به ويل موږ ستاسو په بدل كي پر پښو خو، رسول الله ﷺ به د هغوئ په جواب كي فرمايل تاسو خو تر ما زيات قوي نه ياست او زه د آخرت د ثواب څخه بې پروا نه يم. شرح السنة.

**د سپرليا د حيوانانو په اړه يو حكم**

(٣٧٤١): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا ظُهُوْرَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ فَإِنَّ اللّٰهَ إِنَّمَا سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُبَلِّغَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُوْنُوا بَالِغِيْهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ وَجَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فَعَلَيْهَا فَاقْضُوا حَاجَتَكُمْ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د خپلو حيوانانو شا منبر مه جوړوئ (يعني پر سپرلۍ دريدلو سره خبري مه كوئ يا پر سپرلۍ په ناسته ناسته كار مه كوئ بلكه دا كارونه په راكښته كېدو سره كوئ) څكه چي الله تعالى دا حيوانان ددې لپاره ستاسو تابع كړي دي چي هغوئ تاسو هغه ښار ته ورسوي چيري چي تاسو په سخت تكليف او ستونزه سره ورسيدلاست او مځكه الله ددې لپاره پيدا كړې ده چي تاسو په دې خپل كارونه سرته ورسوئ. ابوداؤد.

**د سپرليا د حيوانانو كتنه**

(٣٧٤٢): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا إِذَا نَزَلْنَا مَنْزِلًا لَا نُسَبِّحُ حَتّٰى نُحَلَّ الرِّحَالُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي كله به موږ پر يو ځاى تم كېدلو نو تر هغه وخته پوري به مو نفل لمونځ نه كوى تر څو پوري چي د حيوانانو كتني به مو كښته كړي نه وې. ابوداؤد .

**د رسول الله ﷺ حق شناسي**

(٣٧٤٣): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ بَيْنَمَا رسول اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ وَمَعَهُ حِمَارٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ارْكَبْ وَتَأَخَّرَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْتَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ إِلَّا أَنْ تَجْعَلَهُ لِي قَالَ قَدْ جَعَلْتُهُ لَكَ فَرَكِبَ . رواه الترمذي و ابوداؤد .

د حضرت بريدة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو ځاى ته پياده روان وو چي يو سړى پر خره سپور راغلى او عرض يې وكړ اې د الله رسوله ! تاسو سپور سئ ، د دې په ويلو سره هغه سړى شا ته سو (چي رسول الله ﷺ مخته سپور سي) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: يا ته پر خپله سپرلۍ د مخكي ناستي زيات

ورېي خو هلته چي ته د سپرلۍ مخکي حصه زما لپاره وګرځوې هغه وويل زه يې په خپله خوښه تاسو ته پرېږدم نو رسول الله ﷺ سپور سو . ترمذي او ابوداؤد .

**شيطاني اوښ او شيطاني کور**

(۳۷۴۴): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكُونُ إِبِلٌ لِلشَّيَاطِينِ وَبُيُوتٌ لِلشَّيَاطِينِ فَأَمَّا إِبِلُ الشَّيَاطِينِ فَقَدْ رَأَيْتُهَا يَخْرُجُ أَحَدُكُمْ بِجُنَيْبَاتٍ مَعَهُ قَدْ أَسْمَنَهَا فَلَا يَعْلُو بَعِيرًا مِنْهَا وَيَمُرُّ بِأَخِيهِ قَدِ انْقَطَعَ بِهِ فَلَا يَحْمِلُهُ وَأَمَّا بُيُوتُ الشَّيَاطِينِ فَلَمْ أَرَهَا كَانَ سَعِيدٌ يَقُولُ لَا أُرَاهَا إِلَّا هَذِهِ الْأَقْفَاصَ الَّتِي يَسْتُرُ النَّاسُ بِالدِّيبَاجِ . رواه ابوداؤد .

حضرت سعيد بن ابي هند د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : او ښان د شيطانانو لپاره وي او ځيني کورونه د شيطانانو لپاره وي ، د شيطانانو اوښان ما ليدلي دي چي په تاسو کي څوك د ښه ډول اوښانو سره وځي چي هغه ښه غټ کړي وي او په هغوئ کي پر هيڅ يو سپرلۍ نه کوي او په سفر کي هغه د خان سره بوځي نو خپل مسلمان ورور چي په تلو تلو ستړی سوی وي هغه پر سپور نه وي ، يعني کوم اوښان چي صرف د فخر د اظهار لپاره وي او د هغوئ څخه کار نه اخيستل کيږي هغه د شيطانانو لپاره وي او د شيطانانو کورونه ما نه دي ليدلي ، د حديث د راوي بيان دئ چي د شيطانانو کورونه هغه کجاوې دي چي ښخي پکښې سپريږي چي خلك يې په ريښمينو جامو پټوي . ابوداؤد .

**چيري چي تم کېږي نو هلته مه زيات ځای نيسئ او مه لاره بندوئ**

(۳۷۴۵): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَيَّقَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ وَقَطَعُوا الطَّرِيقَ فَبَعَثَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنَادِيًا يُنَادِي فِي النَّاسِ أَنَّ مَنْ ضَيَّقَ مَنْزِلًا أَوْ قَطَعَ طَرِيقًا فَلَا جِهَادَ لَهُ . رواه ابوداؤد.

حضرت سهل بن معاذ د خپل پلار څخه روايت کوي چي موږ د نبي کريم ﷺ سره په جهاد کي شريك سو ، خلکو په رسيدو سره ځايونه ونيول او لار يې هم تنګه کړل ، نبي کريم ﷺ يو سړی وليږئ او اعلان يې وکړ چي کوم سړي ځای تنګ کړي يا لاره يې بنده کړه د هغه لپاره د جهاد ثواب نسته . ابوداؤد .

**د ستنېدو غوره وخت**

(۳۷۴۶): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَحْسَنَ مَا دَخَلَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ أَوَّلَ اللَّيْلِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ډېر ښه وخت هغه وخت دی چي مسافر د شپې په اوله حصه کي خپل کور ته داخل سي . ابوداؤد .

## دريم فصل

**د سفر په دوران کي د شپې د ارام کيفيت**

(۳۷۴۷): عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ فَعَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى يَمِينِهِ وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ . رواه مسلم

د حضرت ابوقتادة ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ په سفر کي وو نو په شپه کي چي به تم سو نو پر راسته اړخ به پريوتئ او هر کله چي به د سهار په وخت کي تم سو نو خپل راسته لاس به يې ودرولئ او خپل سر به يې د لاس پر ورغوي کښېښود . مسلم.

**د سهار له خوا د سفر شروع کولو فضيلت**

(۳۷۴۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ رَوَاحَةَ فِي سَرِيَّةٍ فَوَافَقَ ذٰلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَغَدَا أَصْحَابُهُ قَالَ أَتَخَلَّفُ وَأُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ فَلَمَّا صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآهُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَغْدُوَ مَعَ أَصْحَابِكَ فَقَالَ أَرَدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ مَعَكَ ثُمَّ أَلْحَقَهُمْ قَالَ لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَدْرَكْتَ فَضْلَ غَدْوَتِهِمْ . رواه الترمذي.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ عبدالله بن رواحه د يو کوچني لښکر سره وليږئ په اتفاق سره هغه د جمعې ورځ وه ، د عبدالله ملګري خو سهار ولاړل او عبدالله په زړه کي وويل زه چي د رسول الله ﷺ سره د جمعې لمونځ وکړم نو ولاړ به سم او د لښکر سره به يو ځاى سم ، د جمعې لمونځ چي يې د رسول الله ﷺ سره وکړ نو رسول الله ﷺ عبدالله وليدئ او ورته وه يې فرمايل : ته د سهار په وخت کي د خپلو ملګرو سره د تللو څخه څه شي منع کړې ، هغه وويل ما دا غوښتل چي ستاسو سره د جمعې لمونځ وکړم نو روان به سم او د لښکر سره به يو ځاى سم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : که ته د دنيا ټول شيان نفقه (صدقه) کړې بيا هم ته د خپلو ملګرو سره د سهار په وخت کي د تللو ثواب نسي تر لاسه کولاى . ترمذي .

**د شرموښ پوست استعمالولو منع**

(۳۷۴۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا جِلْدُ نَمِرٍ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم لښکر سره چي د پړانګ پوست وي د هغوئ سره ملائکي نه ځي . ابوداؤد.

**د سفر امیر باندي د ملګرو خادم وي**

(۳۷۵۰): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيِّدُ الْقَوْمِ فِي السَّفَرِ خَادِمُهُمْ فَمَنْ سَبَقَهُمْ بِخِدْمَةٍ لَمْ يَسْبِقُوْهُ بِعَمَلٍ إِلاَّ الشَّهَادَةَ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په سفر کي د قوم سردار هغه دئ چي د قوم خدمت وکړي بيا څوک چي د قوم خدمت تر مخه وکړي د هغه د عمل په مقابله کي بل څوک مخته کيدلای نسي پرته د هغه چا څخه چي هغه د شهادت درجه تر لاسه کړي. بيهقي په شعب الايمان کي.

# بَابُ الْكِتَابِ اِلَى الْكُفَّارِ وَدعَائهِمْ اِلَى الْاسْلَامِ

## (کفارو ته د ليکونو او هغوئ ته دَ اسلام د بلني بيان)

## لومړی فصل

**قيصر روم ته د رسول الله ﷺ ليک**

(۳۷۵۱): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى قَيْصَرَ يَدْعُوْهُ إِلَى الْإِسْلَامِ وَبَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَيْهِ دِحْيَةَ الْكَلْبِيَّ وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيْمِ بُصْرَى لِيَدْفَعَهُ إِلَى قَيْصَرَ فَإِذَا فِيْهِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيْمِ الرُّوْمِ سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوْكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ يُؤْتِكَ اللّٰهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ وَإِنْ تَوَلَّيْتَ عَلَيْكَ إِثْمُ الْأَرِيْسِيِّيْنَ وَ {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لَا نَعْبُدَ إِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ} .متفق عليه و في

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ قيصر (روم) ته د اسلام د بلني خط وليکئ او هغه ليک يې د دحيه کلبي په لاس وليږئ او ورته يې حکم وکړ چي ته دا ليک د بصرې حاکم ته ورسوه هغه به يې قيصر ته ورسوئ، په دغه ليک کي ليکلي وه چي: بسم الله الرحمن الرحيم، دا ليک د الله د بنده او د هغه د رسول محمد ﷺ د لوري د روم د پاچا هرقل په نامه دئ، پر هغه چا دي سلام وي چي د هدايت پيروي وکړي (اما بعد)! زه تاته د اسلام بلنه درکوم ته اسلام قبول کړه چي خوندي او په امان سې، ته اسلام قبول کړه تا ته به الله تعالی دوه برابر ثواب درکړي او که ته مخ واړوي نو ستا د رعيت (زميندارو) ګناه به هم پر

روایة لمسلم قَالَ مِنْ مُحَمَّد رَسُوْلِ اللهِ وَ قَالَ اِثْمَ الْيَرِيْسِيِّيْنَ وَقَالَ بِدعَايَةِ الْاسْلَامِ.

تاوي ، او اې اهل کتابو ! هغه خبرې ته راسئ چې زمونږ او ستاسو په منځ کې يو دول ده ، او هغه دين (حق) يا مشترکه کلمه داده چې مونږ به د الله څخه پرته د بل چا عبادت نه کوو او شرك به نه نيسو د الله ﷻ سره هيڅ شی او ځينې زمونږ به د ځينو نورو لپاره خدايان نه نيسو بيله يو خدای ﷻ څخه. بيا که هغوئ (اهل کتاب) ددې دعوت څخه مخ واړوي نو تاسو هغوئ ته ووايئ تاسو شاهدان اوسئ چې مونږ مسلمانان يو ، بخاري او مسلم ، او د مسلم په روايت کې دا الفاظ مختلف دي مثلا په مسلم کې : (من محمد رسول الله) او دويم لفظ (اليريسيين) او دريم لفظ (بدعاية الاسلام) دي.

**رسول الله ﷺ تولو مشرانو ته د اسلام ددعوت ليك واستوی**

(۳۷۵۲): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَى كِسْرَى مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى فَلَمَّا قَرَأَهُ مَزَّقَهُ قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ خپل ليك مبارك د عبدالله بن حذافه سهمي په لاس کسری (د ايران پاچا) ته وليږئ او عبدالله ته يې حکم ورکړ چې ليك د بحرين حاکم ته ورسوئ (نو هغه د بحرين حاکم ته ورسوئ) او د بحرين حاکم کسری ته وليږی ، کسری چې ليك وواپه نو څيري يې کړ ، او وه يې غورځوی ، ابن مسيب وايي رسول الله ﷺ کسری او د هغه پيروانو ته دا ښيرا وکړه چې توټې توټې سئ نو هغوئ تول توټې توټې سول . بخاري .

(۳۷۵۳): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى كِسْرَى وَإِلَى قَيْصَرَ وَإِلَى النَّجَاشِيِّ وَإِلَى كُلِّ جَبَّارٍ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللهِ تَعَالَى وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ کسری (د فارس او ايران پاچا) ، قيصر (د روم پاچا) ، نجاشي (د حبش پاچا) او د هر ظالم او سرکښ په نامه خطونه وليکل چې په هغو کې يې د اسلام قبلولو بلنه ورکړې وه او هغه نجاشي چې رسول الله ﷺ دا خط ورته ليږلی وو هغه نجاشي نه دئ چې پر هغه رسول الله ﷺ (غائبانه) د جنازې لمونځ کړی وو . مسلم .

**د جهاد کونکو لپاره درې هدايات**

(۳۷۵۴):وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا

حضرت سليمان بن بريدة ﷺ د خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ به پر يو لوی لښکر

عَلَى جَيْشٍ أَوْ سَرِيَّةٍ أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللَّهِ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا ثُمَّ قَالَ اغْزُوا بِاسْمِ اللَّهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ اغْزُوا وَلَا تَغُلُّوا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تُمَثِّلُوا وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا وَإِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَادْعُهُمْ إِلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ أَوْ خِلَالٍ فَأَيَّتُهُنَّ مَا أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ إِنْ فَعَلُوا ذَلِكَ فَلَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُهَاجِرِينَ فَإِنْ أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ يَجْرِي عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللَّهِ الَّذِي يَجْرِي عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَكُونُ لَهُمْ فِي الْغَنِيمَةِ وَالْفَيْءِ شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ فَإِنْ هُمْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَقَاتِلْهُمْ وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تَجْعَلَ لَهُمْ ذِمَّةَ اللَّهِ وَذِمَّةَ نَبِيِّهِ فَلَا تَجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّةَ اللَّهِ وَلَا ذِمَّةَ نَبِيِّهِ وَلَكِنِ اجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّتَكَ وَذِمَّةَ أَصْحَابِكَ فَإِنَّكُمْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَمَكُمْ وَذِمَمَ أَصْحَابِكُمْ أَهْوَنُ مِنْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَّةَ اللَّهِ وَذِمَّةَ رَسُولِهِ وان حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تُنْزِلَهُمْ عَلَى حُكْمِ اللَّهِ فَلَا تُنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِكَ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَتُصِيبُ حُكْمَ اللَّهِ فِيهِمْ أَمْ لَا . رواه مسلم .

يا كوچني لښكر يو څوك امير و ټاکی نو هغه ته به يې په خاصه توګه دا نصيحت کوئ چې د الله څخه بيره کوئ او کوم مسلمانان چې به د هغو سره تلل د هغوئ په اړه يې دا وصيت فرمايه چې د هغوئ سره غوره چلن کوئ او ددې وروسته به يې دا حکم ورکوی چې د الله په نامه د الله په لار کې د هغه سړي سره وجنګيږئ چې هغه د الله سره کفر وکړ، او جهاد کوئ او (غنيمت د مال په ويشلو کې) خيانت مه کوئ او مه ټګي کوئ ، او مه مثله (پزه يا غوږ پريکول) کوئ او کوچنيان مه وژنئ ، او اې اميره ! هر کله چې ته د خپل دښمن مشرکانو سره مخامخ سې نو هغوئ ته د درو خبرو دعوت ورکړه بيا په دې خبرو کې چې کومه خبره هغوئ قبوله کړي هغه منظوره کړه او جنګ بند کړه او تر ټولو وړاندې هغوئ ته د اسلام دعوت ورکړه که هغوئ اسلام قبول کړي نو ته يې منظور کړه او بيا ورسره جنګ مه کوه او که هغوئ اسلام قبول نه کړي نو بيا هغوئ ته د دارالحرب (د کافرانو د وطن) څخه دارالاسلام (د مسلمانانو حکومت) په لور د راتللو دعوت ورکړه او هغوئ ته وښيه که هغوئ دارالاسلام ته راسي نو د هغوئ به هغه حقوق وي کوم چې د مهاجرينو وي او د هغوئ پر ذمه به هغه فرائض وي کوم چې د مهاجرينو پر ذمه دي ، که هغوئ د دې څخه هم انکار وکړي نو هغوئ خبردار کړئ چې د هغوئ سره به د صحرايي مسلمانانو په دول سلوك کيږي يعني پر هغوئ به د الله تعالى

هغه حکم جاري کیږي کوم چې پر تولو مسلمانانو جاري دي (مثلا لمونځ، زکوة، قصاص او دیت وغیره) او مال غنیمت او د هغه مال څخه چې د کافرانو څخه تر لاسه سي هغوئ ته به هیڅ حصه نه ورکول کیږي مگر کله چې هغوئ د مسلمانانو سره جهاد کوي، نو د هغه څخه به هم حصه ورکول کیږي ، که هغوئ ددې څخه هم انکار وکړي نو د هغوئ څخه جزیه (محصول) و غواړي ، که هغوئ جزیه قبوله کړي نو ته یې منظوره کړه او د جنگ څخه لاس واخله او که هغوئ جزیه هم قبوله نه کړي نو بیا د الله تعالی څخه مرسته و غواړه او د هغوئ سره جگړه وکړه ، او کله چې ته د هغوئ یوه قلعه محاصره کړې (یا یو آبادي ونیسې) او د هغه ځای خلك ستاسو څخه د الله تعالی او د هغه د نبي ﷺ ذمه (عهد) و غواړي نو ته د الله تعالی او د هغه د نبي عهد هغوئ ته مه ورکوه بلکه خپل عهد او د خپلو ملگرو عهد ورکړه ، له دې کبله که ته خپل او د خپلو ملگرو عهد مات کړې نو د الله تعالی او د هغه د رسول د عهد ماتولو څخه به دا غوره وي ، او هر کله چې ته د یوې قلعې خلك محاصره کړې او هغوئ دا خواهش وکړي چې د الله په حکم د هغوئ محاصره پورته کړې نو ته د الله په حکم محاصره مه پورته کوه بلکه خپل رایه او په خپل حکم سره محاصره پورته کړه څکه چې تا ته نه ده معلومه ده چې د الله حکم څه دئ . مسلم .

## د زوال وروسته د جنگ شروع کولو حکمت

(۳۷۵۵): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ اَوْفٰى اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا العدو انْتَظَرَ حَتّٰى مَالَتْ الشَّمْسُ ثُمَّ قَامَ فِي النَّاسِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللّٰهَ الْعَافِيَةَ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا وَاعْلَمُوا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ . متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د جنگ په ورځو کي (یو وار) انتظار وکړ (یعني د دښمن سره یې د ورځې په پیل کي جنگ ونه کړ) کله لمر پر زوال سو نو رسول الله ﷺ د خلکو په منځ کي ودرېدئ او وه یې فرمایل: اې خلکو ! د دښمن سره د جنگ کولو ارزو مه کوئ بلکه د الله څخه امن او عافیت غواړئ او هر کله چې د دښمن سره جنگیږئ نو د صبر څخه کار اخلئ او ددې خبري یقین ساتئ چې جنت د تورو تر سایې لاندې دئ، بیا رسول الله ﷺ دا دعاء وکړه : اې الله ! د کتاب نازل کونکې ! د ورېځې چلونکې ! د دښمن ډلې ته ماته ورکونکې ! اې الله دښمن ته ماته ورکړې او د کافرانو په مقابله کي زموږ مرسته وکړې . بخاري او مسلم .

## رسول الله ﷺ به تر سهار کېدو مخکې پر دښمن حمله نه کول

(٣٧٥٦): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا قَوْمًا لَمْ يَكُنْ يَغْزُو بِنَا حَتَّى يُصْبِحَ وَيَنْظُرَ اليهم فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا كَفَّ عَنْهُمْ وَإِنْ لَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا أَغَارَ عَلَيْهِمْ قَالَ فَخَرَجْنَا إِلَى خَيْبَرَ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ لَيْلًا فَلَمَّا أَصْبَحَ وَلَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا رَكِبَ وَرَكِبْتُ خَلْفَ أَبِي طَلْحَةَ وَإِنَّ قَدَمِي لَتَمَسُّ قَدَمَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَخَرَجُوا إِلَيْنَا بِمَكَاتِلِهِمْ وَمَسَاحِيهِمْ فَلَمَّا رَأَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا مُحَمَّدٌ وَاللَّهِ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ فَلَجَاءُوا الى الْحِصْنِ فَلَمَّا رَآهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ زموږ سره جهاد کوئ نو د سهار کېدو څخه مخکې به يې پر دښمن حمله نه کول، کله چې به سهار سو نو رسول الله ﷺ به د دښمن پر ډلې نظر واچوئ که د هغوئ څخه به د آذان اواز راغلئ نو د جنګ څخه به منع سول او که د اذان اواز به نه راغلی نو پر هغوئ به يې حمله کول، د حضرت انس ﷺ بيان دئ چې موږ د خيبر په لور ولاړو او خيبر ته موږ د شپې په وخت کې ورسيدو ، کله چې سهار سو او د آذان اواز نه واوريدل سو نو رسول الله ﷺ پر سپرلی سپور سو او زه د ابوطلحه سره د هغه پر سپرلی شاته کښېنستم زه د رسول الله ﷺ سپرلی ته دومره نژدې وم چې زما پښې د رسول الله ﷺ د قدم مبارك سره لګېدلې ، انس ﷺ وايي د سهار کېدو سره د خيبر خلك د توکرو او کودالو سره زموږ په لور راغلل (يعني خپلو مځکو ته چې هغوئ زموږ د راتلو څخه نا خبره وه) کله چې هغوئ نبي کريم ﷺ وليدئ نو وه يې ويل محمد (راغی) قسم په خدای محمد (راغلی) ، او د هغوئ لښکر هم (په دې ويلو سره) هغوئ وتښتېدل او په قلعه کې يې پناه واخيستل، رسول الله ﷺ چې هغه خلك په تېښته ولېدل نو وه يې فرمايل الله ډېر لوی دئ الله ډېر لوی دئ خيبر خراب سو ، البته موږ (يعني مسلمانان) چې کله د يو قوم ميدان کې کښته سو نو د هغه بيرې وهلی قوم سهار خراب سي . بخاري او مسلم

## د ماپښين په وخت کې د جنګ شروع

(٣٧٥٧): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ شَهِدْتُ الْقِتَالَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ انْتَظَرَ حَتَّى تَهُبَّ الْأَرْوَاحُ وَتَحْضُرَ الصَّلَوةَ .رواه البخاري.

د حضرت نعمان بن مقرن ﷺ څخه روايت دئ چې زه د رسول الله ﷺ سره په جنګ کې ملګری وم ، رسول الله ﷺ چې به په کومه ورځ د سهار په خت کې جنګ ونه کړي نو تر هغه وخته پورې به يې، انتظار کوی چې بادونه به راوالوتل او د لمانځه (يعني ماپښين) وخت به راغلی . بخاري .

## دویم فصل

**د لمر د زوال څخه وروسته جنګ**

| | |
|---|---|
| (۳۷۵۸): عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ أَوَّلَ النَّهَارِ انْتَظَرَ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ وَتَهُبَّ الرِّيَاحُ وَيَنْزِلَ النَّصْرُ . رواه ابوداؤد. | د حضرت نعمان بن مقرن ﷜ څخه روایت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره په غزاګانو کي شریك سوی وم، کله چي به رسول الله ﷺ د ورځي په لومړنۍ برخه کي جنګ نه کوی نو انتظار به یې کوی |

کله چي به لمر زوال سو بادونه به راوالوتل او مرسته به نازله سوه نو جنګ به یې پیل کړ . ابوداؤد.

**د رسول الله ﷺ د جنګ وختونه**

| | |
|---|---|
| (۳۷۵۹): وَعَنْ قَتَادَةَ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ أَمْسَكَ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتْ قَاتَلَ فَإِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ أَمْسَكَ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ قَاتَلَ حَتّٰى الْعَصْرِ ثُمَّ أَمْسَكَ حَتّٰى يُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ يُقَاتِلُ قَالَ وَكَانَ يُقَالُ عِنْدَ ذٰلِكَ تَهِيجُ رِيَاحُ النَّصْرِ وَيَدْعُو الْمُؤْمِنُوْنَ لِجُيُوْشِهِمْ فِي صَلَاتِهِمْ. رواه الترمذي. | حضرت قتادة ﷜ د حضرت نعمان بن مقرن ﷜ څخه روایت کوي چي هغه وویل ما د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کي جنګونه کړي دي ، کله چي به سهار سو نو تر لمر ختو مخکي به یې جنګ نه شروع کوی او چي لمر به راوختی نو جنګ یې شروع کړ ، او کله چي به غرمه سول نو جنګ به یې بند کړ ، بیا چي به لمر پر زوال سو نو (ماپښین لمانځه وروسته) بیا به یې جنګ پیل کړ، او تر مازدیګر پوري به دا لړۍ روانه وه ، بیا |

به یې جنګ بند کړ او د مازدیګر لمونځ به یې ادا کړي او د هغه وروسته به جنګیدل ، د قتادة بیان دئ چي صحابه کرامو به ویل په دغه وختونو کي د فتح هواوي چلیږي او مسلمانان په لمنځونو کي د خپل لښکر د فتح دعاوي غواړي . ترمذي.

**مجاهدینو ته یو خاص هدایت**

| | |
|---|---|
| (۳۷۶۰): وَعَنْ عِصَامٍ الْمُزَنِيِّ قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَرِيَّةٍ فَقَالَ إِذَا رَأَيْتُمْ مَسْجِدًا أَوْ سَمِعْتُمْ مُؤَذِّنًا فَلَا تَقْتُلُوا أَحَدًا . رواه الترمذي و ابوداؤد . | د حضرت عصام بن مزني ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ موږ په یو کوچني لښکر کي ولیږلو او دا حکم یې راکړ چي کله تاسو مسجد ووینئ یا د مؤذن اذان واورئ نو هلته جنګ مه کوئ او څوك مه |

وژنئ . ترمذي او ابوداؤد .

## دریم فصل

**د خالد بن ولید ایران ته لیک لېږل**

(۳۷۶۱): عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ قَالَ كَتَبَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ إِلَى أَهْلِ فَارِسٍ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مِنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ إِلَى رُسْتَمَ وَمِهْرَانَ فِيْ مَلَأِ فَارِس سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّا نَدْعُوكُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَبَيْتُمْ فَاَعْطُوْا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَّأَنْتُمْ صَاغِرُوْنَ فَإِنَّ مَعِيَ قَوْمًا يُحِبُّوْنَ الْقَتْلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ كَمَا يُحِبُّ فَارِسُ الْخَمْرَ وَالسَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى. رواه في شرح السنة.

د حضرت ابو وائل رضی الله عنه څخه روایت دئ چي حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه د فارس د سردارانو په نامه دا لیکلي وه: بسم الله الرحمن الرحیم، د خالد بن ولید د لوري د رستم او مهران په نامه چي د فارس په سردارانو کي دي، پر هغه چا دي سلامتي وي چي د حق او هدایت پیروي کوي ددې څخه وروسته مو تاسو ته د اسلام منلو دعوت درکوو که تاسو اسلام نه قبلوئ نو په خپل لاس سره ذلیل کېدو سره جزیه راکړئ او که ددې څخه هم انکار کوئ نو زما سره داسي خلک دي چي د الله په لاز کي جنګېدل یا قتلېدل داسي خوښوي لکه څرنګه چي د فارس خلک شراب خوښوي، پر هغه چا دي سلام وي چي د هدایت او حق پیروي کوي. شرح السنة.

# بَابُ الْقِتَالِ فِي الْجِهَادِ (په جهاد کي د جګړې بیان)

## لومړی فصل

**د شهید منزل جنت دی**

(۳۷۶۲): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا قَالَ فِي الْجَنَّةِ فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ فِيْ يَدِهِ ثُمَّ قَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ. متفق علیه

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د اُحد په ورځ یو سړي رسول الله ﷺ ته وویل که زه ووژل سم نو زما ځای به چیري وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په جنت کي، هغه سړي د خپل لاس څخه خرماوي و غورځولې بیا وجنګېدی تر څو چي شهید سو. بخاري او مسلم.

**د جهاد د اعلان لپاره د رسول الله ﷺ حکمت عملي**

(۳۷۶۳): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ

د حضرت کعب بن مالك رضی الله عنه څخه روایت دئ چي

| | |
|---|---|
| رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا حَتّٰى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ تَبُوكَ غَزَاهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيدًا وَمَفَازًا وَعَدُوًّا كَثِيرًا فَجَلّٰى لِلْمُسْلِمِينَ أَمْرَهُمْ لِيَتَأَهَّبُوا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِ الَّذِي يُرِيدُ . رواه البخاري. | رسول الله ﷺ به د يو جنگ اراده كول نو توريه به يې فرمايل، تر څو چې د تبوك د غزا موقع راغلل دا غزا رسول الله ﷺ د سختې گرمۍ په ورځو كې وكړه ددې لپاره يې د ليرې سفر وكړ او بې اوبو او بې وښو ځنگلونه يې قطع كړل د دښمن شمير هم په دې كې زيات وو ، كله چې رسول الله ﷺ |

ددې اراده وكړل نو (توريه يې ونه كړه بلكه) په ډاگه ددې اظهار يې وكړ چې مسلمانان دجنگ لپاره په ښه ډول تيار سي او خپل سامان برابر كړي بيا رسول الله ﷺ صحابه كرام د خپلې هغه ارادې څخه خبر كړل كومه چې د رسول الله ﷺ په ذهن كې وه . بخاري .

(توريه : معنا خبره پټول ، دا ډول چې اصلي خبره پټه كړل سي او دويمه خبره څرگنده كړل سي مثلا دا چې يو ځاى ته د جنگ كولو اراده وي هغه خبر پټ كړي او د دويم ځاى پوښتنه كوي څو صراحتا داسې نه وايي چې زه فلانكي ځاى ته ځم .

### جنگ د مكر او فريب نوم دى

| | |
|---|---|
| (۳۷۶۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَرْبُ خَدْعَةٌ . متفق عليه | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : جنگ يو چم دئ . بخاري او مسلم . |

### جهاد ته د ښځو بيولو مسئله

| | |
|---|---|
| (۳۷۶۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا يَسْقِينَ الْمَاءَ وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى . رواه مسلم | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ چې به د يو جنگ لپاره تشريف وړئ نو ام سليم او د انصارو نورې ښځې به يې د ځان |

سره بيولې چې د جنگ په وخت كې خلكو ته اوبه وركړي او د زخميانو تداوي وكړي . مسلم .

| | |
|---|---|
| (۳۷۶۶): وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ وَأُدَاوِي الْجَرْحَى وَأَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى . رواه مسلم . | د حضرت ام عطية (رض) څخه روايت دئ چې زه د رسول الله ﷺ سره په اوو جنگو كې شريكه سوې يم، زه به د دوئ په قرارگاه كې پاته كېدم د هغوئ خوراك به مې تياروى د زخميانو درملنه |

به مې كول او د ناروغانو خدمت به مې كوى . مسلم .

**په جهاد کي د ښځو او کوچنيانو د وژلو مسئله**

(٣٧٦٧): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ . متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ښځو او کوچنيانو (په جهاد کي) د وژلو څخه منع فرمايلې ده . بخاري او مسلم .

(٣٧٦٨): وَعَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَهْلِ الدَّارِ يُبَيَّتُوْنَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ فَيُصَابُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ قَالَ هُمْ مِنْهُمْ ، وفي رواية هم من اباءهم . متفق عليه.

د حضرت صعب بن جثامه ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول که د کافرانو پر کور د شپې حمله وکړل سي او په هغه کي ښځو او کوچنيانو ته تاوان ورسيږي نو څه حکم دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغوئ د هغوئ څخه دي (يعني د شپې په حمله کي د ښځو او کوچنيانو وژل کېدل گناه نه ده هغوئ هم د کافرانو څخه دي مگر په قصد سره دي هغوئ نه وژل کيږي) او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هغوئ د خپلو پلرونو تابع دي . بخاري او مسلم .

**د دښمن د رختو پرېکولو مسئله**

(٣٧٦٩): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيْرِ وَحَرَّقَ وَلَهَا يَقُوْلُ حَسَّانُ (شعر) وَهَانَ عَلٰى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيٍّ حَرِيْقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيْرُ وَفِيْ ذٰلِكَ نَزَلَتْ {مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَائِمَةً عَلٰى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ. متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يهودي قبيلې بني نضير د خرماوو د درختو پرېکولو او سوځلو حکم وکړ ، حسان په دې اره دا شعر ووايه: (د بني لوئي پر سردارنو د مقام بويره کي د خرماوو د درختو پرېکول او سوځل آسان وي) او ددې پېښې په اره دا آيت نازل سو : (ما قطعتم ....) (د خرماوو د درختو چي څه تاسو وهلي يا څه مو د هغه پر ريښو ولاړي پرې اېښي دي دا ټول د الله په حکم سره دي) . بخاري او مسلم .

**د دښمن د غفلت څخه گټه اخيستل او ...**

(٣٧٧٠): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَوْنٍ اَنَّ نَافِعًا كَتَبَ اِلَيْهِ يُخْبِرُهُ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ اَخْبَرَهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَغَارَ عَلٰى بَنِي الْمُصْطَلِقِ غَارِّيْنَ فِيْ نَعَمِهِمْ بِالْمُرَيْسِيْعِ فَقَتَلَ الْمُقَاتِلَةَ وَسَبَى الذُّرِّيَّةَ. متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن عون ﷺ څخه روايت دئ چي نافع ﷺ هغه ته وليکل چي ابن عمر ﷺ هغه ته دا وښودل چي نبي کريم ﷺ د بني مصطلق مقام مريسيع کي چي هغوئ په خپلو حيوانانو

کي بې خبره پراته وه لوټ کړل کومو خلکو چي د رسول الله ﷺ سره مقابله وکړه ، رسول الله ﷺ هغوئ ووژل او د هغوئ ښځي او کوچنيان يې ونيول . بخاري او مسلم .

**د جنګ په باره کي يو فوجي حکم**

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۱): وَعَنْ اَبِیْ اُسَیْدٍ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَنَا يَوْمَ بَدْرٍ حِيْنَ صَفَفْنَا لِقُرَيْشٍ وَصَفُّوْا لَنَا اِذَا اَكْثَبُوْكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالنَّبْلِ وفي رواية اِذَا اَكْثَبُوْكُمْ فَارْمُوْهُمْ وَاسْتَبْقُوْا نَبْلَكُمْ . رواه البخاري . و في حديث سعد هل تنصرون سنذكر في باب فضل الفقراء وحديث البراء بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم رهطا في باب المعجزات ان شاء الله تعالى . | د حضرت ابو اسيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر د غزا په ورځ چي موږ د قريشو په مقابله کي صفونه ترلي وه او قريشو موږ ته مخامخ صف بندي کړې وه موږ ته وفرمايل : کله چي قريش تاسو ته نژدې سي نو تاسو غشي پر واوروئ ، او په يوه روايت کي دي کله چي هغوئ تاسو ته نژدې راسي نو پر هغوئ غشي و اوروئ او غشي هم د ځان سره |

وساتئ (يعني تول غشي مه مصرفوئ) ، بخاري او د سعيد حديث (هل تنصرون) به د فضل فقراء په باب کي او د براء حديث : بعث رسول الله الخ . به د معجزات په باب کي بيان کړو .

## دويم فصل

**د جنګ په ميدان کي د لښکر برابرول**

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۲):عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ عَبَّانَا النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِبَدْرٍ لَیْلًا . رواه الترمذي . | د حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷺ څخه روايت دئ چي د بدر په غزا کي رسول الله ﷺ موږ د |

شپې تيار او برابر کړو . (يعني د شپې يې سره سم کړو تر څو د ورځي بيا هر سړی پر خپل ځای ودريږي) .ترمذي .

**د مجاهدينو لپاره امتيازي نښي**

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۳): وَعَنِ الْمُهَلَّبِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنْ بَيَّتَكُمُ الْعَدُوُّ فَلْيَكُنْ شِعَارُكُمْ حم لَا يُنْصَرُوْنَ . رواه الترمذي و ابوداؤد . | د حضرت مهلب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د خندوق په غزا کي موږ ته وفرمايل : که دښمن پر تاسو د شپې حمله وکړي نو ستاسو |

علامه (حم لا ينصرون) الفاظ دي . ترمذي او ابوداؤد .

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۴): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ | د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي د |

| | |
|---|---|
| شِعَارُ الْمُهَاجِرِينَ عَبْدَ اللهِ وَشِعَارُ الْأَنْصَارِ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ . رواه ابوداؤد. | مهاجرينو د پيژندني علامه په يوه غزا کي (عبدالله) وه او د انصارو علامه (عبدالرحمن) وه . ابوداؤد . |
| (۳۷۷۵): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ زَمَنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيَّتْنَاهُمْ نَقْتُلُهُمْ وَكَانَ شِعَارُنَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ أَمِتْ أَمِتْ . رواه ابوداؤد | د حضرت سلمه بن اکوع ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي موږ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ سره جهاد وکړ موږ پر کافرانو د شپې حمله وکړه او هغوئ مو قتل کړل او په دغه شپه زموږ |

علامه يعني د مسلمانانو د پيژندني نښه د (أمت أمت) الفاظ وه . ابوداؤد .

**صحابه کرامو د جنګ په وخت کي شور نه خوښوئ**

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۶): وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُونَ الصَّوْتَ عِنْدَ الْقِتَالِ . رواه ابوداؤد | د حضرت قيس بن عباده ﷺ څخه روايت دئ چي د نبي کريم ﷺ صحابه کرامو به د جنګ پر وخت شور يا آواز بد ګڼی (او يوازي د الله ذکر به يې کاوه) . ابوداؤد . |

**د دښمن مشران وژنئ**

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۷): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْتُلُوا شُيُوخَ الْمُشْرِكِينَ وَاسْتَحْيُوا شَرْخَهُمْ اي صِبْيَانَهُمْ . رواه الترمذي وابوداؤد . | د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: په مشرکانو کي مشران وژنئ او کوچنيان ژوندي پرېږدئ . ترمذي او ابوداؤد . |

**د دښمن ښار او کښتونه سوځل جائز دي**

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۸): وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أُسَامَةُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَهِدَ إِلَيْهِ قَالَ أَغِرْ عَلَى أُبْنَى صَبَاحًا وَحَرِّقْ . رواه ابو داود | د حضرت عروة ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته اسامه ﷺ بيان وکړ چي نبي کريم ﷺ هغه د لښکر د مشر تاکلو سره وليږئ نو تاکيد سره يې ورته |

حکم ورکړ چي د ابناء پر خای باندي (چي په شام کي دئ) سهار وختي حمله وکړه او هغه وسوځه (يعني د هغوئ مځکي او درختي) تباه او برباد يې کړه. ابوداؤد .

**پر دښمن هغه وخت حمله وکړئ کله چي هغه نژدي سي**

| | |
|---|---|
| (۳۷۷۹): وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ وَلَا | د حضرت ابو اسيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر د غزا په ورځ وفرمايل: کله |

تَسُلُّوا السُّيُوفَ حَتّٰى يَغْشَوْكُمْ . رواه ابوداؤد.

چي دښمنان تاسو ته نژدې راسي نو پر هغوئ غشي و اوروئ او توري تر هغه وخته پوري د تیکو څخه مه کاږئ تر څو پوري چي مخامخ نه سئ. ابوداؤد.

**د دښمن د مزدورانو قتل کولو څخه منع**

(۳۷۸۰): وَعَنْ رَبَاحِ بْنِ الرَّبِيعِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَيْءٍ فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ انْظُرْ عَلَى مَا اجْتَمَعَ هٰؤُلَاءِ فَجَاءَ فَقَالَ عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ فَقَالَ مَا كَانَتْ هٰذِهٖ لِتُقَاتِلَ وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ قُلْ لِخَالِدٍ لَا تَقْتُلْ امْرَأَةً وَلَا عَسِيفًا . رواه ابوداؤد.

د حضرت رباح بن الربيع ﷺ څخه روایت دئ چي موږ په یوې غزا کي د رسول الله ﷺ سره وو. رسول الله ﷺ ولیدل چي خلك پر یو شي راجمع وه نو رسول الله ﷺ د حال معلومولو لپاره یو سړی ولیږی کله چي هغه راغلی نو وه یې ویل چي یوه ښځه وژل سوې ده او پر هغې خلك جمع دي، رسول الله ﷺ وفرمایل: دا خو جنګ والا نه وه؟ (یعني ښځه خو د جنګیانو څخه نه وه نو دا ولې وژل سوې ده) ، پر مخکښي فوج حضرت خالد بن ولید ﷺ سردار وو ، رسول الله ﷺ یو سړی ور ولیږی او ورته وه یې ویل چي خالد ته ووایه چي ښځه او مزدور مه وژنئ . ابوداؤد.

**مجاهدینو ته د لیږلو پر وخت هدایات**

(۳۷۸۱): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ وَلَا تَقْتُلُوا شَيْخًا فَانِيًا وَلَا طِفْلًا وَلَا صَغِيرًا وَلَا امْرَأَةً وَلَا تَغُلُّوا وَضُمُّوا غَنَائِمَكُمْ وَأَصْلِحُوا وَأَحْسِنُوا فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د لیږلو پر وخت مجاهدینو ته وفرمایل ځئ د الله د نامه په برکت سره ، د الله تعالی په توفیق سره او د رسول الله ﷺ پر دین ، (خبردار!) چي شیخ فاني مه وژنئ ، مه کوچنی او مه ښځه (وژنئ) ، د غنیمت په مال کي خیانت مه کوئ د غنیمت مال یو ځای کړئ په خپلو کي صلح کوئ او د یو بل سره ښه چلن کوئ ځکه چي الله تعالی نیکي کونکي خوښوي . ابوداؤد .

**د بدر د غزا یو یادونه**

(۳۷۸۲): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ تَقَدَّمَ عُتْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ وَتَبِعَهُ ابْنُهُ وَأَخُوهُ فَنَادَى مَنْ يُبَارِزُ فَانْتَدَبَ لَهُ شَبَابٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ مَنْ أَنْتُمْ

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چي د بدر د غزا په ورځ د کفارو د لښکر څخه عتبه بن ربیعه را مخته سو او په هغه پسي د هغه زوی ولید

فَأَخْبَرُوهُ فَقَالَ لَا حَاجَةَ لَنَا فِيكُمْ إِنَّمَا أَرَدْنَا بَنِي عَمِّنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُمْ يَا حَمْزَةُ قُمْ يَا عَلِيُّ قُمْ يَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْحَارِثِ فَأَقْبَلَ حَمْزَةُ إِلَى عُتْبَةَ وَأَقْبَلْتُ إِلَى شَيْبَةَ وَاخْتَلَفَ بَيْنَ عُبَيْدَةَ وَالْوَلِيدِ ضَرْبَتَانِ فَأَثْخَنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ ثُمَّ مِلْنَا عَلَى الْوَلِيدِ فَقَتَلْنَاهُ وَاحْتَمَلْنَا عُبَيْدَةَ .

رواه احمد وابوداؤد.

او ورور (شيبه) راغلل او آواز یې وکړ څوك سته چې زموږ سره د جنګ لپاره ميدان ته را مخ ته سي ؟ د اسلام د لښکر څخه يو څو انصاري زلميان مقابلې ته راووتل ، عتبه پوښتنه وکړه تاسو څوك ياست ؟ هغوئ ورته وويل موږ انصار يو ، عتبه ورته وويل : موږ ته ستاسو سره د جنګ ضرورت نسته ، موږ خوخپل د اکا د زامنو سره جنګېدل غواړو . (يعني قريش او مهاجرينو سره) رسول الله ﷺ د عتبه د دې الفاظو په اورېدو سره وفرمايل : حمزه ودرېږه ، علی ودرېږه ، عبيده بن حارث ودرېږه ، نو حمزه د عتبه مقابلې ته را وړاندې سو (او هغه يې ووژئ) او زه (علي) د شيبه په لور متوجه سوم او هغه مې ووژئ او عبيده او وليد دواړو پر يو بل د توري وار وکړ او يو بل يې سخت زخمي کړل او دواړه بې هوښه سول ، بيا موږ پر وليد حمله وکړه او هغه مو هم ووژئ او موږ عبيده د ميدان څخه را واخيستی . احمد او ابوداؤد .

**د يو مقصد په غرض د ميدان څخه تېښتېدل جائز دي**

(۳۷۸۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَحَاصَ النَّاسُ حَيْصَةً فَأَتَيْنَا الْمَدِينَةَ فَاخْتَفَيْنَا بِهَا وَقُلْنَا هَلَكْنَا ثُمَّ أَتَيْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ نَحْنُ الْفَرَّارُونَ قَالَ بَلْ أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ وَأَنَا فِئَتُكُمْ. رواه الترمذي و في رواية ابي داؤد نحوه وَ قَالَ لَا بَلْ أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ قَالَ فَدَنَوْنَا فَقَبَّلْنَا يَدَهُ فَقَالَ أَنَا فِئَةُ الْمُسْلِمِينَ وَ سَنَذْكُرُ حَدِيثَ أُمَيَّةَ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ كَانَ يَسْتَفْتِحُ وَحَدِيثَ أَبِي الدَّرْدَاءِ ابْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ فِي بَابِ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ انْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى .

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ موږ د يو کوچني لښکر سره وليږلو ، خلك د دښمن د مقابلې څخه و تښتېدل او مدينې ته په راتګ سره موږ (د شرمندګی له کبله) پټ سوو ، او په خپل زړه کي مو وويل چې موږ هلاك سوو ، بيا موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض مو وکړ اي دالله رسوله ! موږ تښتېدلي يو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : يا ، بلکه تاسو د حملې سربيره حمله کونکي ياست او زه ستاسو جماعت يم . ترمذي. او په ابوداؤد کي هم دا ډول روايت دئ او د هغه اخري الفاظ دادي چې يا بلکه تاسو د حملې سربيره حمله کونکي ياست . ابن عمر وايي (د رسول الله ﷺ د دې الفاظو په اورېدو سره) موږ را مخته سولو او د رسول الله ﷺ

مبارك لاسونه مو مچ كړل ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د مسلمانانو جماعت يم. او انشاء الله ډير ژر به د اميه بن عبدالله حديث كان يستفتح ، او د ابودرداء حديث ابغوني في ضعفائكم ، د فضل فقراء په باب كي بيان كړو .

## دريم فصل

### د منجليق استعمال

(۳۷۸۴): عَنْ ثَوْبَانَ بْنِ يَزِيدَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصَبَ الْمَنْجَنِيقَ عَلَى أَهْلِ الطَّائِفِ . رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت ثوبان بن يزيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د طائف په مقابله كي منجنيق ودروئ (منجنيق يوه آله ده چي په هغه سره ډبري ويشتل كيږي) ترمذي مرسلا .

# بَابُ حُكْمِ الْاَسَرَاءِ (د بنديانو د حكم بيان)

## لومړی فصل

### هغه بنديان چي جنت ته داخليږي

(۳۷۸۵): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَجِبَ اللّٰهُ مِنْ قَوْمٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ فِي السَّلَاسِلِ . و في رواية يُقَادُوْنَ اِلَى الْجَنَّةِ بِالسَّلَاسِلِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى پر هغه قوم تعجب كوي (يعني د هغو څخه خوشحاله وي) چي په زنځيرونو كي تړلي په جنت كي داخليږي او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي الله تعالى پر هغه خلكو تعجب كوي چي په زنځيرونو تړلي جنت ته راوستل سي . بخاري.

### د دښمن د جاسوس وژلو حكم

(۳۷۸۶): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَيْنٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَهُوَ فِي سَفَرٍ فَجَلَسَ عِنْدَ أَصْحَابِهِ يَتَحَدَّثُ ثُمَّ انْفَتَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطْلُبُوهُ وَاقْتُلُوهُ فَقَتَلَهُ فَنَفَلَهُ سَلَبَهُ . متفق عليه.

د حضرت سلمه بن اكوع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په سفر كي وو چي د مشركانو يو جاسوس راغلئ او د صحابه كرامو سره كښېنستئ خبري يې ورسره وكړې او بيرته ولاړئ (رسول الله ﷺ چي خبر سو ) وه يې فرمايل :

هغه پيدا كړئ او قتل يې كړئ نو ما هغه ووژئ، او رسول الله ﷺ د هغه ټول سامان ما ته راكړ . بخاري او مسلم .

(۳۷۸۷): وَعَنْهُ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَوَازِنَ فَبَيْنَا نَحْنُ نَتَضَحَّى مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ أَحْمَرَ فَأَنَاخَهُ وَجَعَلَ يَنْظُرُ وَفِينَا ضَعْفَةٌ وَرِقَّةٌ فِي الظَّهْرِ وَبَعْضُنَا مُشَاةٌ إِذْ خَرَجَ يَشْتَدُّ فَأَتَى جَمَلَهُ فَأَثَارَهُ فَاشْتَدَّ بِهِ الْجَمَلُ فَخَرَجْتُ أَشْتَدُّ حَتَّى أَخَذْتُ بِخِطَامِ الْجَمَلِ فَأَنَخْتُهُ ثُمَّ اخْتَرَطْتُ سَيْفِي فَضَرَبْتُ رَأْسَ الرَّجُلِ ثُمَّ جِئْتُ بِالْجَمَلِ أَقُودُهُ عَلَيْهِ رَحْلُهُ وَسِلَاحُهُ فَاسْتَقْبَلَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ قَالُوا ابْنُ الْأَكْوَعِ قَالَ لَهُ سَلَبُهُ أَجْمَعُ . متفق عليه.

د حضرت سلمه بن اكوع ﷺ څخه روايت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا كې د قبيله هوازن سره جنګ وكړ ، يوه ورځ موږ د څاښت دوډۍ د رسول الله ﷺ سره وخوړل چې يو سړى پر سره اوښ سپور راغلئ هغه اوښ كښېنوئ او څلورو خواوو ته يې كتل پيل كړل ، په موږ كې ډير خلك د سپرلۍ د كموالي په سبب او پر پښو تللو په سبب كمزوري او سست وو ، بيا هغه سړى په څغاسته راغلئ پر اوښ سپور سو او هغه يې ودروئ بيا يې وځغلوئ زه هم په هغه پسې ور وځغاستم تر څو چې ما د هغه د اوښ مهار ونيوئ هغه مې كښېنوئ بيا مې توره د تيكي څخه راوكښل او د هغه سر مې پرې كړ ، ددې وروسته زه د اوښ سره راغلم ما د هغه كته چې د هغه سامان او وسله پكښې وه راكشوى مې او رسول الله ﷺ او نور خلك ما ته راغلل ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل هغه سړى چا ووژئ ، صحابه كرامو عرض وكړ ابن اكوع ، رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه ټول سامان د هغه دئ. بخاري او مسلم .

### د يو د مديني د عهد ماتونكي يهوديانو په اړه فيصله

(۳۷۸۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدِ ابْنِ مُعَاذٍ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ فَجَاءَ فَجَلَسَ فقال إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چې كله بنو قريظه (د يهودو يو ډله) د سعد بن معاذ پر فيصله اماده سول نو رسول الله ﷺ سعد بن معاذ راوغوښتئ ، سعد پر خره سپور راغلئ چې رسول الله ﷺ ته نږدې سو نو رسول الله ﷺ خلكو ته وفرمايل : د خپل سردار د تعظيم لپاره ودريږئ ، سعد بن معاذ راغلئ د رسول الله ﷺ سره كښېنستئ ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل دا خلك (يعني بنو

وَأَنْ تُسْبَى الذُّرِّيَّةُ قَالَ لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ . وَ فِيْ رِوَايَةٍ بِحُكْمِ اللهِ . متفق عليه

قريظه) ستا پر فيصله راضي سوي دي ؟ سعد بن معاذ عرض وکړ زه دا فيصله کوم چي په هغوئ کي کوم خلک د جنګ وړ دي هغوئ دي قتل کړل سي او کوچنيان او ښځي دي بنديان کړل سي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تا د هغوئ په اړه د پاچا په دول حکم وکړ ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي تا د هغوئ لپاره د الله د حکم سره سم فيصله وکړه . بخاري او مسلم .

## د يمامه د اسلام راوړلو واقعه

(۳۷۸۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيْفَةَ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ سَيِّدُ أَهْلِ الْيَمَامَةِ فَرَبَطُوْهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَاذَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ خَيْرٌ إِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَتَرَكَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ فَقَالَ لَه مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَتَرَكَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَانَ بعد الْغَدِ فَقَالَ لَه ما عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْلِقُوا ثُمَامَةَ فَانْطَلَقَ إِلَى نَخْلٍ قَرِيبٍ مِنَ الْمَسْجِدِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو لښکر د نجد په لور وليږئ د هغه لښکر خلکو د قبيله بنو حنيفه يو سړی نيولی راوستئ چي د هغه نوم ثمامه بن آثال وو ، او د يمامه ښار د خلکو سردار وو ، خلکو هغه د مسجد نبوي په يوې ستني پوري وتړئ ، رسول الله ﷺ د هغه په لور تشريف راوړ پوښتنه يې ځيني وکړه : ثمامه ! ستا سره څشي دي (يعني زړه دي څه وايي) ، ثمامه وويل زما سره مال او دولت سته که ته ما قتل کړې نو يو داسي سړی به قتل کړې چي د خون کولو په سبب د قتل وړ دئ (يا که ته ما قتل کړې) نو داسي سړی به قتل کړې چي زما خون به ضائع کيږي نه ، بلکه زما قوم به زما د خون بدله اخلي او که بخښنه وکړې نو پر يو داسي سړي به يې وکړې چي شکر گزار او قدردان دئ ، (يعني تا ته به ددې بدله درکړل سي) او که ته د مال خواهش لرونکی يې نو څه چي غواړې در بـه کړل سي . (د دې پـه اوربدو سره) ، رسول الله ﷺ هغه پر خپل حال پرېښودئ په دويمه ورځ بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې ثمامه څه حال دئ ؟ هغه وويل زه هغه وايم څه

أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ يَا مُحَمَّدُ وَاللّٰهِ مَا كَانَ
عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ وَجْهٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ وَجْهِكَ فَقَدْ
أَصْبَحَ وَجْهُكَ أَحَبَّ الْوُجُوْهِ كُلِّهَا إِلَيَّ وَاللّٰهِ مَا
كَانَ مِنْ دِيْنٍ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ دِيْنِكَ فَأَصْبَحَ دِيْنُكَ
أَحَبَّ الدِّيْنِ كُلِّهِ إِلَيَّ وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ بَلَدٍ أَبْغَضَ
إِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ فَأَصْبَحَ بَلَدُكَ أَحَبَّ الْبِلَادِ كُلِّهَا إِلَيَّ
وَإِنَّ خَيْلَكَ أَخَذَتْنِيْ وَأَنَا أُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَمَاذَا تَرَى
فَبَشَّرَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ أَنْ
يَعْتَمِرَ فَلَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ قَالَ لَهُ قَائِلٌ أَصَبَوْتَ فَقَالَ لَا
وَلٰكِنِّيْ أَسْلَمْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَلَا وَاللّٰهِ لَا يَأْتِيْكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ
حَتّٰى يَأْذَنَ فِيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .
رواه مسلم و اختصره البخاري

چي مي وړاندي ويلي دي يعني که انعام وکړي نو پر يو قدردان به انعام او احسان وکړي او که مي قتل کړي نو د ويني خاوند به قتل کړي او که د مال خواهش لرونکی يې نو څومره چي غواړي در به کړل سي . په دغه ورځ هم رسول الله ﷺ هغه پر خپل حال پرېښودئ . په دريمه ورځ بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اي ثمامه څه خبره ده . هغه وويل هغه خبره ده چي ما تاسو ته کړي ده . يعني که بخښنه وکړئ نو پر قدردان به بخښښ وکړئ او که قتل مي کړئ نو د ويني خاوند به قتل کړئ او که مال غواړئ نو څومره چي غواړئ در به کړل سي ، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : ثمامه پرېږدئ . نو هغه د ستني څخه خلاص کړل سو هغه د مسجد څخه راووتئ او د خرماوو هغه درختي ته ولاړئ چي د مسجد سره نژدې وه هلته يې غسل وکړ . بيا مسجد ته راغلئ او وه يې ويل زه شاهدي کوم چي د الله څخه پرته بل د عبادت ور نسته او شاهدي ورکوم چي محمد د الله بنده او د هغه رسول دئ . اي محمد ! قسم په خدای د مځکي پر مخ ستا تر مخ زيات نفرت انگيز زما په نزد هيڅ مخ نه وو ، مگر نن ستاسو مخ ما ته د دنيا تر ټولو مخونو زيات محبوب دئ ، په الله دي مي قسم وي چي زما په نزد ستا ددين څخه زيات نفرت کونکی شي هيڅ نه وو مگر اوس ستاسو دين ما ته تر ټولو زيات خوښ دئ . په الله تعالی دي مي قسم وي زما په خيال کي ستا د ښار څخه زيات نفرت کونکی هيڅ ښار نه وو مگر اوس ستاسو ښار ما ته تر ټولو ښارونو زيات محبوب دئ . (اي د الله رسوله !) زما د عمرې اراده وه چي ستاسو لښکر زه ونيولم ، اوس تاسو ما ته څه حکم راکوئ ؟ رسول الله ﷺ ورته زيری ورکړ (چي د اسلام قبلولو په سبب د هغه ټول گناهونه و بخښل سول) بيا يې حکم ورکړ چي هغه عمره وکړي ، بيا چي ثمامه مکې ته راغلئ نو يو سړي هغه ته وويل ايا ته بې دينه سوی يې ؟ هغه ورته وويل يا ، ما پر رسول الله ﷺ ايمان راوړي دئ (بې دينه سوی نه يم) قسم په الله اوس تر څو پوري چي رسول الله ﷺ اجازه رانه کړي د يمامې څخه به يو دانه غنم هم نسي در لېږل کېدلای . مسلم او بخاري په لنډه توگه بيان کړی دئ .

## جبير ابن مطعم ته د اسلام ترغيب

(۳۷۹۰): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ لَوْ كَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلَاءِ النَّتْنَى لَتَرَكْتُهُمْ لَهُ. رواه البخاري.

د حضرت جبير بن مطعم ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر د جنګ د بنديانو په اره وفرمايل: كه مطعم بن عدي نن ژوندى واى او ما ته يې ددغه بنديانو په اره سفارش كړى واى نو ما به د هغه پر سفارش دوئ پرې ايښې واى، (مطعم پر رسول الله ﷺ يو احسان كړى وو او د هغه زوى په خيبر كې اسلام قبول كړى وو پر دې خبره رسول الله ﷺ د جبير د زړه مائل كولو لپاره دا الفاظ وفرمايل). بخاري.

## د حديبيې يو واقعه

(۳۷۹۱): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ ثَمَانِينَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ هَبَطُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَبَلِ التَّنْعِيمِ مُتَسَلِّحِينَ يُرِيدُونَ غِرَّةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ فَأَخَذَهُمْ سِلْمًا فَاسْتَحْيَاهُمْ وفي رواية اعتقهم فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي كفار د مكې څخه د اتيا مسلح كسانو سره جبل تنعيم څخه په دې اراده راكښته سول چي رسول الله ﷺ او د هغوئ صحابه به غافل تر لاسه كړي او تاوان به ورته ورسوي مګر رسول الله ﷺ هغوئ ذليل او خوار ونيول او بيا يې ژوندي ايله كړل، او په يوه روايت كې داسې دي چي رسول الله ﷺ هغوئ آزاد كړل، او دغه آيت په دې اره نازل سو: (وهوَ الذي...) (او هغه، هغه الله دئ چي هغه د هغوئ لاسونه ستاسو څخه او ستاسو لاسونه د هغوئ څخه په مكه او د هغه په شاوخوا كې منع كړل.). مسلم

## د بدر د جنګ وروسته د مكې مقتولينو ته د رسول الله ﷺ خطاب

(۳۷۹۲): وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ ذَكَرَ لَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ بِأَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا مِنْ صَنَادِيدِ قُرَيْشٍ فَقُذِفُوا فِي طَوِيٍّ مِنْ أَطْوَاءِ بَدْرٍ خَبِيثٍ مُخْبِثٍ وَكَانَ إِذَا ظَهَرَ عَلَى قَوْمٍ أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَلَمَّا كَانَ بِبَدْرٍ الْيَوْمَ الثَّالِثَ أَمَرَ بِرَاحِلَتِهِ فَشُدَّ عَلَيْهَا رَحْلُهَا ثُمَّ مَشَى وَاتَّبَعَهُ أَصْحَابُهُ

د حضرت قتادة ﷺ څخه روايت دئ چي موږ ته انس بن مالك ﷺ بيان وكړ چي ابوطلحه دا بيان كوئ چي نبي كريم ﷺ د بدر د غزا په ورځ د قريشو د كفارو د څليرويشتو مشرانو د مړو په اره دا حكم وكړ چي هغوئ د بدر په يو څاه كې چي مردار وو وغورځول سي او د رسول الله ﷺ دا عادت وو چي كله به پر يو قوم غالب سو او فتح

حَتّٰی قَامَ عَلٰی شَفَةِ الرَّكِيِّ فَجَعَلَ يُنَادِيهِمْ بِأَسْمَائِهِمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِهِمْ يَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ أَيَسُرُّكُمْ أَنَّكُمْ أَطَعْتُمُ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّا قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا تُكَلِّمُ مِنْ أَجْسَادٍ لَا أَرْوَاحَ لَهَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ، وَفِيْ رِوَايَةٍ مَاأَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لَا تُجِيْبُوْنَ. متفق عليه و زاد البخاري قَالَ قَتَادَةُ أَحْيَاهُمُ اللّٰهُ حَتّٰی أَسْمَعَهُمْ قَوْلَهُ تَوْبِيْخًا وَ تَصْغِيْرًا وَنِقْمَةً وَحَسْرَةً وَ نَدَمًا.

به یې تر لاسه کړه نو په میدان جنګ کې به یې درې شپې قیام کوئ ، په بدر کې هم درې ورځې د پاته کېدو څخه وروسته رسول الله ﷺ حکم وکړ چې د رسول الله ﷺ پر سپرلۍ دي کجاوه وتړل سي نو کجاوه وتړل سوه او رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو سره روان سوو ، څه وخت چې هغه ځاه ته ورسېدل په کوم کې چې د قریشو سرداران غورځول سوي وه نو رسول الله ﷺ د هغه ځاه پر غاړه ودرېدئ او د هغوئ او د هغوئ د پلرونو نومان یې بلل پیل کړل یعني اې د فلاني زویه فلانیه او اې د فلاني زویه فلانیه ! ایا تاسو ته دا ښه معلومېږي چې تاسو د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت کړی وای ؟ البته موږ هغه شي تر لاسه کړ کوم چې د هغه زموږ سره زموږ رب وعده کړې وه نو اُیا تاسو هغه شي تر لاسه کړ د کوم چې ستاسو پروردګار ستاسو سره وعده کړې وه (یعني موږ ته خو فتح راکړل سوه ایا تاسو ته هم هغه عذاب درکړل سو) حضرت عمر ﷺ عرض وکړ اې دالله رسوله ! ایا تاسو د هغه بدنو سره خبرې کوئ چې په هغه کې روځونه نسته ، رسول الله ﷺ وفرمایل : قسم دئ په هغه ذات چې د هغه په لاس کې زما ساه ده څه چې زه وایم تاسو ددې خلکو څخه زیات د هغه اورېدونکي نه یاست ، مګر هغوئ جواب نه ورکوي . بخاري او مسلم ، او د بخاري په روایت کې دا الفاظ زیات دي چې قتاده وویل چې الله تعالی هغه سرداران را ژوندي کړل چې د رسول الله ﷺ خبره واورېدل سي چې د هغوئ زورونه وسي او هغوئ خپل ذلت او خواري باندې پښېمان ، افسوس او عذاب محسوس کړي .

### د حنين د غزا د بنديانو ستنبدل

﴿۳۷۹۳﴾: وَعَنْ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ فَقَالَ فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ قَالُوا فَإِنَّا نَخْتَارُ سَبْيَنَا فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت مروان او حضرت مسور ابن مخرمه (رض) څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې د هوازن قوم یوه جرګه حاضره سوه او خواست یې وکړ چې زموږ مال او بنګدیان بیرته راکړل سي (د هوازن قوم سره د مسلمانانو جنګ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُسْلِمِينَ فَأَثْنَى عَلَى اللّٰهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ قَدْ جَاءُونَا تَائِبِينَ وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يُطَيِّبَ بِذٰلِكَ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يُفِيءُ اللّٰهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ فَقَالَ النَّاسُ قَدْ طَيَّبْنَا ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعُوا إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ فَرَجَعَ النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوهُ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا وَأَذِنُوا . رواه البخاري .

سوی وو چې د حنین د غزا په نامه مشهور دئ په دې جګړه کې د هغوئ ډیر مال لوټ سوی وو او په هغوئ کې چې کوم خلك نیول سوی وه هغه بندیان کړل سول ددې پېښې څخه وروسته دا خلك مسلمانان سول او د خپل وفد لیږلو سره یې د مال او بندیانو د بیرته راکولو غوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ د وفد پر مطالبه وفرمایل په دغه دوو خبرو کې یوه غوره کړئ ، یا خو بندیان واخلئ یا مال، د وفد خلکو عرض وکړ موږ بندیان اخیستل خوښوو ، (د دې په اوریدو سره) رسول الله ﷺ ولاړ سو او دخلکو په وړاندې یې خطبه وفرمایل لومړی یې د الله حمد او ثناء په هغه الفاظو کې بیان کړه چې د هغه مستحق دئ ، بیا یې وفرمایل : (اې خلکو !) دوئ تاسو ته توبه کړې راغلي دي او ما دا کار مناسب وګڼئ چې د دوئ بندیان بیرته ورکړم، په تاسو کې چې څوك په خوشحالۍ سره داسې کولای سي نو وه دې یې کړي او څوك چې دا خبره خوښوي چې پر خپله برخه قائم پاته سي تر څو چې هغه ته به تر ټولو وړاندې راتلونکی (د غنیمت) په مال کې د هغه معاوضه ورکړل سي نو هغه دې داسې وکړي ، خلکو عرض وکړ اې د الله رسوله ! موږ په خوشحالۍ سره په ورکولو تیار یو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته دا معلومه نه سوه چې په تاسو کې چا اجازه ورکړه او چا ور نه کړه ، نو تاسو (خپلو خایو ته) ستانه سئ او ستاسو مشران به موږ ته ستاسو خیالات را ورسوي ، نو خلك ستانه سول ، خپلو مشرانو د هغوئ سره خبرې وکړې ، بیا مشران رسول الله ﷺ ته راغلل هغوئ رسول الله ﷺ ته خبر ورکړ چې خلکو په خپله خوښه (د بندیانو ورکولو) اجازه ورکړه . بخاري.

## د بندیانو په بدله سره ایله کول

(۳۷۹۴): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كَانَتْ ثَقِيفُ حَلِيفًا لِبَنِي عُقَيْلٍ فَأَسَرَتْ ثَقِيفُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَسَرَ

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دئ چې د ثقیف قبیله د بني عقیل حلیف (ملګري) وه ، ثقیف د رسول الله ﷺ دوه صحابه کرام ونیول ،

أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنْ بَنِي عُقَيْلٍ فَأَوْثَقُوْهُ فَطَرَحُوْهُ فِي الْحَرَّةِ فَمَرَّ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَادَاهُ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ فِيْمَ أُخِذْتُ قَالَ بِجَرِيرَةِ حُلَفَائِكَ ثَقِيفَ فَتَرَكَهُ وَمَضَى فَنَادَاهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ فَرَحِمَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَجَعَ قَالَ مَا شَأْنُكَ قَالَ إِنِّي مُسْلِمٌ فَقَالَ لَوْ قُلْتَهَا وَأَنْتَ تَمْلِكُ أَمْرَكَ أَفْلَحْتَ كُلَّ الْفَلَاحِ قَالَ فَفَدَاهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالرَّجُلَيْنِ الَّذَيْنِ أَسَرَتْهُمَا ثَقِيفٌ .رواه مسلم .

او د رسول الله ﷺ صحابوو د بني عقيل يو سړی ونيوئ او وه يې تړئ او په دبرينه مځکه کي يې وغورځوی ، رسول الله ﷺ د هغه پر خوا تيريدئ نو هغه بندي اواز ورته وکړ اې محمد ! اې محمد ! زه مو ولي نيولی يم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستاسو د حليف د جرم په سبب چي ثقيف دي، په دې ويلو سره رسول الله ﷺ هغه پر خپل حال پرېښودئ او وراندي يې تشريف يوړ، هغه بندي بيا آواز ورته وکړ اې محمد ! اې محمد ! رسول الله ﷺ ته پر هغه رحم راغلئ او بيرته ورغلئ او وه يې فرمايل : ستا څه حال دئ ؟ هغه عرض وکړ زه مسلمان يم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كه تا دا كلمه په داسي حالت كي ويلې واى چي ستا پر خپل ځان اختيار وو نو تا ته به پوره خلاصون تر لاسه سوی وای، د راوي بيان دئ ددې وروسته رسول الله ﷺ د دوو بنديانو په بدله کي چي د ثقيف سره بنديان وه هغه پرېښودئ . مسلم .

## دويم فصل

### د ابوالعاص د اہلہ کہدو واقعه

(۳۷۹۵) :عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا بَعَثَ أَهْلُ مَكَّةَ فِي فِدَاءِ أَسْرَاهُمْ بَعَثَتْ زَيْنَبُ فِي فِدَاءِ أَبِي الْعَاصِ مَالٍ وَبَعَثَتْ فِيهِ بِقِلَادَةٍ لَهَا كَانَتْ عِنْدَ خَدِيجَةَ أَدْخَلَتْهَا بِهَا عَلَى أَبِي الْعَاصِ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَقَّ لَهَا رِقَّةً شَدِيدَةً وَقَالَ إِنْ رَأَيْتُمْ أَنْ تُطْلِقُوا لَهَا أَسِيرَهَا وَتَرُدُّوا عَلَيْهَا الَّذِي لَهَا فَقَالُوا نَعَمْ وَكَانَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ عَلَيْهِ ان يخلى سَبِيلَ زَيْنَبَ إِلَيْهِ وَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وَسَلَّمَ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ وَرَجُلًا مِنْ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي د بدر د غزا څخه وروسته چي د مکي کفارو رسول الله ﷺ ته د خپلو بنديانو د خلاصون معاوضه وليږل نو بي بي زينب د خپل خاوند ابوالعاص د خلاصون لپاره هم مال وليږئ چي په هغه کي ددې اميل وو ، کوم چي د بي بي خديجې سره وو ، او هغه يې بي بي زينب ته د نکاح پر وخت په مهر كي وركړی وو ، رسول الله ﷺ چي هغه اميل وليدئ نو زړه مبارك يې نرم سو رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل که ستاسو خوښه وي نو د زينب بندي پرته د معاوضي پريږدئ او

| | |
|---|---|
| الْأَنْصَارِ فَقَالَ كُونَا بِبَطْنِ يَأْجَجَ حَتَّى تَمُرَّ بِكُمَا زَيْنَبُ فَتَصْحَبَاهَا حَتَّى تَأْتِيَا بِهَا . رواه احمد وابوداؤد . | زينب چي كوم مال راليږلى دئ هغې ته يې بيرته ورکړئ ، صحابه کرامو عرض وکړ ډيره ښه ده ، |

نو. ابو العاص خلاص كړل سو او كله چي هغه مكې ته تلئ نو د هغه څخه يې عهد واخيسنت چي هغه به بي بي زينب مديني ته راوليږي ، رسول الله ﷺ زيد بن حارثه او يو انصاري د ابوالعاص سره كړل او هغوئ ته يې دا هدايت وكړ چي تاسو پر بطن يا جج (د خايو نومان دي) باندي تم سئ كله چي زينب هلته را ورسيږي نو تاسو ورسره سئ او مديني ته يې راولئ . احمد او ابوداؤد .

**په جنگ بدر کي د بنديانو وژنه**

| | |
|---|---|
| (٣٧٩٦): وَعَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَسَرَ أَهْلَ بَدْرٍ قَتَلَ عُقْبَةَ بْنَ أَبِيْ مُعَيْطٍ وَالنَّضْرَ بْنَ الْحَارِثِ وَمَنَّ عَلَى أَبِيْ عَزَّةَ الْجُمَحِيِّ . رواه في شرح السنة . | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ چي د بدر خلك بنديان كړل نو عقبه بن ابي معيط او نضر بن حارث يې ووژل او په ابي عزة جمحي يې احسان وكړ (پرې يې ښودى) . شرح السنه . |

| | |
|---|---|
| (٣٧٩٧): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ قَتْلَ عُقْبَةَ بْنَ أَبِيْ مُعَيْطٍ قَالَ مَنْ لِلصِّبْيَةِ قَالَ النَّارُ . رواه ابوداؤد. | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي كله رسول الله ﷺ د عقبه بن ابي معيط د قتل اراده وكړه نو هغه وويل كوچنيان به څوك پالي ، |

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اور . (يعني ته اور ته د تللو فكر كوه كوچنيان به الله ساتي) . ابوداؤد .

**د بدر د غزا د بنديانو په باره کي اختيار**

| | |
|---|---|
| (٣٧٩٨): وَعَنْ عَلِيٍّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّ جِبْرَائِيْلَ هَبَطَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ خَيِّرْهُمْ يَعْنِي أَصْحَابَكَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ الْقَتْلَ أَوْ الْفِدَاءَ عَلَى أَنْ يُقْتَلَ مِنْهُمْ قَابِلًا مِثْلُهُمْ قَالُوا الْفِدَاءَ وَيُقْتَلُ مِنَّا . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب. | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي د بدر د غزا وروسته حضرت جبرائيل عليه السلام رسول الله ﷺ ته تشريف راوړ او وه يې فرمايل : خپلو اصحابو ته د بدر د بنديانو په اړه اختيار ورکړئ كه هغه وژني او كه په معاوضه يې ايله كوي ، |

كه هغوئ معاوضه واخلئ نو راتلونكى كال به د هغوئ اويا كسان ووژل سي (نو همداسي وسول او د احد په غزا كي اويا كسان ووژل سول صحابه كرامو په دې اختيار اوريدو سره وويل موږ معاوضه اخيستل او اويا زموږ څخه وژل كيدل قبلوو . ترمذي.

**د بنديانو پلټنه**

(۳۷۹۹): وَعَنْ عَطِيَّةَ الْقُرَظِيِّ قَالَ كُنْتُ فِيْ سَبْيِ قُرَيْظَةَ عُرِضْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانُوا يَنْظُرُونَ فَمَنْ أَنْبَتَ الشَّعْرَ قُتِلَ وَمَنْ لَمْ يُنْبِتْ لَمْ يُقْتَلْ فَكَشَفُوْا عَانَتِي فَوَجَدُوهَا لَمْ تُنْبِتْ فَجَعَلُونِي مِنَ السَّبْيِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

د حضرت عطيه قرظي ﷺ څخه روايت دئ چي زه د بنو قريظه په بنديانو كي وم، مونږ د نبي كريم ﷺ په خدمت كي وړاندي كړل سوو د صحابه كرامو دا عادت وو چي د بنديانو تر نامه لاندي ځاى به يې خلاص كړ او كتل به يې چي د چا وړېښتان به راغلي وه هغه به يې وژل او د چا چي به وړېښتان نه وه نو هغه به يې پرېښودل ، زما تر نامه لاندي وړېښتان نه وه نو زه يې بندي كړم. ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي .

**د مسلمان سوو غلامانو د بيرته وركولو څخه انكار**

(۳۸۰۰): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ خَرَجَ عِبْدَانٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ الصُّلْحِ فَكَتَبَ إِلَيْهِ مَوَالِيهِمْ فَقَالُوا يَا مُحَمَّدُ وَاللّٰهِ مَا خَرَجُوا إِلَيْكَ رَغْبَةً فِي دِينِكَ وَإِنَّمَا خَرَجُوا هَرَبًا مِنَ الرِّقِّ فَقَالَ نَاسٌ صَدَقُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ رُدَّهُمْ إِلَيْهِمْ فَغَضِبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ مَا أُرَاكُمْ تَنْتَهُونَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ حَتَّى يَبْعَثَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ مَنْ يَضْرِبُ رِقَابَكُمْ عَلَى هَذَا وَأَبَى أَنْ يَرُدَّهُمْ وَقَالَ هُمْ عُتَقَاءُ اللّٰهِ. رواه ابوداؤد .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي د حديبې په ورځ د صلح څخه مخكي د رسول الله ﷺ په خدمت كي يو څو غلامان پيش كړل سول (چي د خپلو مالكانو څخه راغلي وه) د غلامانو مالكانو رسول الله ﷺ ته وليكل چي اې محمد ! قسم په الله دا غلامان تاسو ته ددې لپاره نه دي راغلي چي ستاسو دين ته شوق لري بلكه دا خلك تښتېدلي دي او د غلامۍ څخه خلاصيدل غواړي ، په صحابه كرامو كي يو څو كسانو عرض وكړي اې دالله رسوله ! د دوئ مالكانو صحيح ويلي دي دا غلامان بيرته وركړئ ، (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ په غصه سو او وه يې فرمايل : قريشو ! زه وينم چي تاسو د خپلي سركښۍ او نافرمانۍ څخه نه منع كېږئ تر څو پوري چي الله تعالى هغه سړى را ونه لیږي چي ستاسو پر دې تجويز ستاسو غاړي ووهئ ، ددې څخه وروسته يې د غلامانو د بيرته وركولو څخه انكار وكړ او وه يې فرمايل : دوئ د الله تعالى ازاد كړل سوي دي . ابوداؤد .

## دريم فصل

**د حضرت خالد ؓ له خوا د عدا احتياط يو واقعه**

(۳۸۰۱): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى بَنِي جَذِيمَةَ فَدَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَلَمْ يُحْسِنُوا أَنْ يَقُولُوا أَسْلَمْنَا فَجَعَلُوا يَقُولُونَ صَبَأْنَا صَبَأْنَا فَجَعَلَ خَالِدٌ يَقْتُلُ وَيَأْسِرُ وَدَفَعَ إِلَى كُلِّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمٌ أَمَرَ خَالِدٌ أَنْ يَقْتُلَ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَقْتُلُ أَسِيرِي وَلَا يَقْتُلُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِي أَسِيرَهُ حَتَّى قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَاهُ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ مَرَّتَيْنِ . رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ خالد بن وليد، جذيمې قبيلې ته وليږئ، خالد هغوئ ته د اسلام بلنه ورکړه، هغوئ د پريشانۍ په حالت کې دا جمله هم په ښه ډول ادا نه کړلای سوه چې (اسلمنا) (يعني موږ اسلام راوړ) او دا ويل يې پيل کړل چې (صبانا) (يعني موږ د خپل دين څخه ووتو) د دې په اوريدو سره خالد د هغوئ قتلول او نيول پيل کړل او زموږ په خلکو کې هر يوه ته د هغه نيول سوی بندي ورکړ بيا يوه ورځ خالد بن وليد دا حکم جاري کړ چې په موږ کې دې هر يو سړی خپل بندي مړ کړي، ما وويل قسم په الله زه خپل بندي نه مړ کوم او نه به په موږ کې بل سړی بندي مړ کوي، غرض دا چې موږ ټول د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر پېښه مو ورته بيان کړه، رسول الله ﷺ خپل مبارک لاسونه د دعاء لپاره پورته کړل او وه يې ويل اې الله! زه د هغه کار څخه چې خالد کړی دئ تا ته بيزاري ښکاره کوم دوه واره يې وويل، (يعني د خالد د غلطۍ څخه د بيزارۍ اظهار کوم). بخاري.

## بَابُ الْأَمَانِ (د امان ورکولو بيان)

## لومړی فصل.

**د ام هاني له خوا د خپل يو قريب د امان ورکولو واقعه**

(۳۸۰۲): عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ قَالَتْ ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ فَسَلَّمْتُ

د حضرت ام هانئ بن ابي طالب (رض) څخه روايت دئ چې د مکې د فتح په کال زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوم، رسول الله

فَقَالَ مَنْ هٰذِهٖ قُلْتُ اُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ اَبِي طَالِبٍ فَقَالَ مَرْحَبًا بِاُمِّ هَانِئٍ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهٖ قَامَ فَصَلّٰى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ زَعَمَ ابْنُ اُمِّي عَلِيٌّ اَنَّهٗ قَاتِلٌ رَجُلًا اَجَرْتُهٗ فُلَانُ ابْنُ هُبَيْرَةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَجَرْنَا مَنْ اَجَرْتِ يَا اُمَّ هَانِئٍ قَالَتْ اُمُّ هَانِئٍ وَذٰلِكَ ضُحًى. متفق عليه ، و في رواية للترمذي قَالَتْ اَجَرْتُ رَجُلَيْنِ مِنْ اَحْمَائِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اٰمَنَّا مَنْ اٰمَنْتِ .

ﷺ دغه وخت غسل کوئ او د هغوئ لور بي بي فاطمې پرده کړې وه ، ما سلام عرض کړ ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څوك ؟ ما عرض وکړ زه د ابو طالب لور ام هاني يم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ام هاني ته دې زيرى وي . بيا چې رسول الله ﷺ غسل وکړ نو پر بدن مبارك يې جامه کې نغښتې وو د څاښت اته رکعته لمونځ يې وکړ ، (کله چې دلمانځه څخه فارغ سو ) نو ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما د مور زوى (حضرت علي) ويلي دي چې هغه د دا سرې وژونکي دئ چا ته چې ما خپل په کور کي پناه ورکړې ده يعني د هبيره زوى ته ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ام هانئ ! چا ته چې تا پناه ورکړې ده هغه ته موږ هم پناه ورکړې ده ، ام هانئ وايي دا پېښه د څاښت د وخت ده ، بخاري او مسلم . او د ترمذي په روايت کې دا الفاظ دي چې ام هانئ دا عرض وکړ چې ما دوو کسانو ته پناه ورکړې ده چې زما د خاوند قريبان دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : موږ هم هغوئ ته امان ورکړ چا ته چې تا امان ورکړ .

## دويم فصل

### د ښځي امان ورکول

(۳۸۰۳): عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الْمَرْاَةَ لَتَاْخُذُ لِلْقَوْمِ يَعْنِي تُجِيْرُ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې نبي کريم ﷺ وفرمايل : ښځه د مسلمانانو په باور قوم ته پناه ورکوي يعني ښځه چې چا ته امان ورکړي هغه د ټول قوم امان دئ . ترمذي.

### د عهد ماتونکي په اړه وعيد

(۳۸۰۴): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَمِقِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ اٰمَنَ رَجُلًا عَلٰى نَفْسِهٖ فَقَتَلَهٗ اُعْطِيَ لِوَاءَ الْغَدْرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه في شرح السنة.

د حضرت عمرو بن حمق ﷺ څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوك چې چا ته امان ورکړي او بيا هغه ووژني هغه ته به د قيامت په ورځ د بد عهدى (بې قولى) او تګى بيرغ ورکړل سي . شرح السنة.

**د معاهدې پوره پابندي کول پکار دي**

(۳۸۰۵): وَعَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ كَانَ بَيْنَ مُعَاوِيَةَ وَبَيْنَ أَهْلِ الرُّومِ عَهْدٌ وَكَانَ يَسِيرُ نَحْوَ بِلَادِهِمْ حَتَّى إِذَا انْقَضَى الْعَهْدُ أَغَارَ عَلَيْهِمْ فَجَاءَ رَجُلٌ عَلَى فَرَسٍ أَوْ بِرْذَوْنٍ وَهُوَ يَقُولُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ فَنَظَرُوا فَإِذَا هُوَ عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ فَسَأَلَهُ مُعَاوِيَةُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ فَلَا يَحُلَّنَّ عَهْدًا وَلَا يَشُدَّنَّهُ حَتَّى يَمْضِيَ أَمَدُهُ أَوْ يَنْبِذَ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ قَالَ فَرَجَعَ مُعَاوِيَةُ بِالنَّاسِ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت سليم بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي د معاويه ﷺ او د روميانو په منځ کي دا عهد سوی وو (چي هغوئ به تر ټاکلي وخت پوري جنگ نه کوي) معاويه به د دغه عهد په زمانه کي د روم په ښارونو کي تګ کوئ کله چي د عهد وخت ختم سو نو هغه به ناځاپه پر روميانو حمله وکړي او لوټ به یې کړي، (په دغه ورځو کي) یو سړی پر عربي یا ترکي آس باندي سپور راغلئ او وه یې ويل د الله اکبر الله اکبر عهد دي پوره کړل سي، بد عهدي دي نه کيږي، (د هغه مطلب دا وو چي د عهد او صلح په ورځو کي تاسو خلک د روم په ښارونو کي تګ کوئ نو دا بد عهدي ده) خلکو وليدل چي دا سړی عمرو بن عبسه صحابي وو، معاويه د هغه څخه پښتنه وپوښتل هغه ورته وويل ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک چي د يو قوم سره عهد وکړي نو هغه ته پکار ده چي هغه عهد مات نه کړي او وه يې نه تړي (د تړلو څخه مراد د عهد بدلو ن دئ) تر څو پوري چي د هغه عهد وخت تير نسي، يا عهد دواړي دلي مات نه کړي، د سليم بن عامر راوي بيان دئ چي د عمرو بن عبسه په دې خبره اوريدو سره معاويه د خپلو کسانو سره بيرته ولاړئ. ترمذي او ابوداؤد.

**د عهد د وفا او د قاصد د احترام اهميت**

(۳۸۰۶): وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ بَعَثَتْنِي قُرَيْشٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُلْقِيَ فِي قَلْبِي الْإِسْلَامُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي وَاللّٰهِ لَا أَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَبَدًا قَالَ إِنِّي لَا أَخِيسُ بِالْعَهْدِ وَلَا أَحْبِسُ الْبُرُدَ وَلَكِنْ ارْجِعْ فَإِنْ كَانَ فِي نَفْسِكَ الَّذِي فِي نَفْسِكَ الْآنَ فَارْجِعْ قَالَ فَذَهَبْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمْتُ. رواه ابوداؤد

د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روايت دئ چي د صلح حديبي پر وخت قريشو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي وليږلم، کله چي زما نظر پر رسول الله ﷺ ولګيدئ نو زما په زړه کي اسلام صداقت او عظمت ځای وکړ، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! اوس زه هيڅکله قريشو ته نه ورځم، رسول الله ﷺ وفرمايل زه نه عهد ماتوم او نه قاصدان بندي کوم، ته

بيرته ولاړ سه كه ستا په زړه كي هغه شی قائم او باقي پاته سي كوم چي دې په دغه.وخت كي تر لاسه كړى دئ نو بيا به راسي ، د ابو رافع بيان دئ چي زه مكې ته ولاړم ، بيا د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او اسلام مي قبول كړ . ابوداؤد

| | |
|---|---|
| (۳۸۰۷): وَعَنْ نُعَيْمِ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلَيْنِ جَاءَ مِنْ عِنْدَ مُسَيْلِمَةَ أَمَا وَاللّٰهِ لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا . رواه احمد وابوداؤد . | د حضرت نعيم بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هغه دوو كسانو ته چي دمسيلمه كذاب (د نبوت دعوه كونكي) د لوري راغلي وه وفرمايل : قسم په الله كه په شريعت |

كي د قاصد وژل منع نه واى نو ما به ستاسو غاړي وهلي واى . احمد او ابوداؤد .

**د جاهليت د زماني معاهدي پوره كول**

| | |
|---|---|
| (۳۸۰۸): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي خُطْبَتِهِ أَوْفُوا بِحِلْفِ الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّهُ لَا يَزِيدُهُ يَعْنِي الْإِسْلَامَ إِلَّا شِدَّةً وَلَا تُحْدِثُوا حِلْفًا فِي الْإِسْلَامِ .رواه الترمذي مِنْ طَرِيقِ حُسَيْنِ بْنِ ذَكْوَانَ عَنْ عَمْرٍو وَقَالَ حَسَنٌ وَ ذُكِرَ حَدِيثُ عَلِيٍّ الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَائُهُمْ فِي كِتَابِ الْقِصَاصِ . | حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په يوه خطبه كي وفرمايل : د جاهليت قسم پوره كړئ ، ځكه چي اسلام د قسم قوت زياتوي ، او په اسلام كي قسم مه پيدا كوئ (يعني د جاهليت په ډول قسمونه مه رواج كوئ) . ترمذي دا دحسين بن ذكوان او د عمرو په لړى سره روايت كړ او دغه |

حديث ته يې حسن ويلي دي، او د حضرت علي ﷺ حديث المسلمون تتكافا الخ . په كتاب القصاص كي بيان سوى دئ .

## دريم فصل

**قاصد نه وژل كيږي**

| | |
|---|---|
| (۳۸۰۹): عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ جَاءَ ابْنُ النَّوَّاحَةِ وَابْنُ أُثَالٍ رَسُوْلَا مُسَيْلِمَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمَا أَتَشْهَدَانِ أَنِّي رَسُوْلُ اللّٰهِ قَالَا نَشْهَدُ أَنَّ مُسَيْلِمَةَ رَسُوْلُ اللّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ لَوْ كُنْتُ قَاتِلًا رَسُوْلًا | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي د مسيلمه كذاب (د نبوت دعوه كونكي) دوه قاصدان ابن النواحه او ابن آثال د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سول ، رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمايل : ايا تاسو دواړه ددې خبري اقرار كوئ چي زه د الله رسوله يم ؟ هغوئ دواړو وويل |

لَقَتَلْتُكُمَا قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ قَالَ فَمَضَتْ السُّنَّةُ اَنْ الرَّسُوْلَ لَا يُقْتَلُ . رواه احمد .

موږ ددې خبرې اقرار کوو چې مسيلمه د الله رسول دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل ، ما پر الله ﷻ او د هغه پر رسولانو ايمان راوړ که زه د قاصدانو قتلونکی وای نو ما به تاسو دواړه قتل کړی وای ، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي د هغه وخت څخه دا طريقه جاري سوه چې قاصد دي نه وژل کيږي . احمد .

# بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُوْلِ فِيْهَا

## ( د غنيمت د ويشلو او په هغه کي د خيانت بيان )

## لومړی فصل

**د غنيمت مال د مسلمانانو لپاره حلال دی**

(٣٨١٠): عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ رَسولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِاَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰي رَاٰى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَطَيَّبَهَا لَنَا . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبي کريم ﷺ وفرمايل : تر موږ مخکي د غنيمت مال چا ته جائز نه وو هر کله چې الله تعالى زموږ کمزوري وليدل نو دا يې زموږ لپاره حلال کړ . بخاري او مسلم .

**د مقتول څخه اخيستل سوی مال د قاتل دی**

(٣٨١١): وَعَنْ اَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حُنَيْنٍ فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِيْنَ جَوْلَةٌ فَرَاَيْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ فَضَرَبْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ عَلٰى حَبْلِ عَاتِقِهِ بِالسَّيْفِ فَقَطَعْتُ الدِّرْعَ وَاَقْبَلَ عَلَيَّ فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ ثُمَّ اَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَاَرْسَلَنِي فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقُلْتُ مَا بَالُ النَّاسِ قَالَ اَمْرُ اللّٰهِ ثُمَّ رَجَعُوا وَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د حنين په کال (يعني د مکې د فتح څخه وروسته) موږ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي د جنګ لپاره ووتلو ، کله چې زموږ د کافرانو سره مقابله سول نو مسلمانانو ته د ماتي په ډول صورت څرګند سو ، ما وليدل چې يو کافر پر مسلمان واک تر لاسه کړی دئ ما د شا څخه هغه کافر په توره ووهئ چې د هغه غاړه پر رګ پريوتل د هغه زغره يې پريکړه هغه پر ما حمله وکړه هغه زه ونيولم او په دومره زور يې ونيولم چې د مرګ حالت را

فَلَهُ سَلَبُهُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُمْتُ فَقَالَ مَا لَكَ يَا أَبَا قَتَادَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَجُلٌ صَدَقَ وَسَلَبُهُ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنِّي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَاهَ اللّٰهِ إِذًا لَا يَعْمِدُ إِلَى أَسَدٍ مِنْ أُسْدِ اللّٰهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَأَعْطِهِ فَأَعْطَانِيهِ فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ فَإِنَّهُ لَأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ. متفق عليه

باندې تیر سو بیا مرګ هغه ونیوئ او هغه زه پرېښودلم، بیا زما ملاقات د حضرت عمر بن خطاب ﷺ سره وسو، ما وویل د خلکو څه حال دئ (چې د دښمن څخه تېښتي) هغه وویل د الله تعالی دغه حکم دئ، ددې وروسته مسلمانان (په ماته خوړلو سره) ستانه سول، او پر یو ځای ناسته باندې رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چې یو کافر قتل کړی وي او پر هغه شاهد لري د هغه د سامان د هغه دئ نو ما وویل چې زما شاهدي به څوك ورکوي (چې ما دا مشرك قتل کړی دئ) آخر زه پټه خوله کښېښستم، رسول الله ﷺ بیا دا الفاظ و فرمایل: ما وویل زما شاهدي به څوك وكړي زه بیا کښېښستم، رسول الله ﷺ په دریم وار دغه الفاظ وفرمایل: نو زه سمدستي ولاړ سوم، رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه: ابو قتاده څه دي؟ ما پېښه عرض کړه یوه زما د بیان تصدیق وکړ او وه یې ویل چې د هغه مشرك سامان زما سره دئ، بیا هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړ تاسو په دې اړه ابوقتاده راضي کړئ (یعني ددې مشرك د سامان په بدله کې ما ته بل څه راکړئ یا پر سامان باندې د دواړو په منځ کې مصالحت وکړئ) حضرت ابوبکر ﷺ وویل: نه داسي نه ده قسم په الله، رسول الله ﷺ به هیڅکله د الله ددې زمري (یعني ابوقتاده) په اړه (دده د مرضی خلاف) څه اراده نه کوي، ابوقتاده د الله د زمرو څخه یو زمری دئ او د الله او رسول د خوشحاله کولو لپاره جنګیږي، په داسي حالت کې څنګه ممکن ده چې دده سامان تا ته درکړل سي، رسول الله ﷺ وفرمایل: ابوبکر رښتیا وویل ته ددې مشرك سامان ابوقتاده ته ورکړه نو هغه سړي د هغه مشرك سامان ما ته راکړ، چې په هغه کې ما یو باغ رانیوی چې په قبیله سلمه کې واقع دئ او دا لومړنی مال وو چې ما د اسلام راوړلو څخه وروسته جمع کړی وو.

**د غنیمت د مال تقسیم**

(۳۸۱۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْهَمَ لِرَجُلٍ وَلِفَرَسِهِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ سَهْمًا لَهُ وَسَهْمَيْنِ لِفَرَسِهِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ (د غنیمت د مال څخه) د یو سړي او د هغه د آس لپاره درې برخې و ټاکلې، یوه برخه د سړي او دوې برخې د هغه د آس. بخاري او مسلم.

## د غنيمت په مال كي د ښځو او غلامانو برخه نه سته

(۳۸۱۳): وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ قَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ الْحَرُورِيُّ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ عَنِ الْعَبْدِ وَالْمَرْأَةِ يَحْضُرَانِ الْمَغْنَمَ هَلْ يُقْسَمُ لَهُمَا فَقَالَ لِيَزِيدَ اكْتُبْ إِلَيْهِ أَنَّهُ لَيْسَ لَهُمَا سهم إِلَّا أَنْ يُحْذَيَا، و في رواية كَتَبَ إِلَيْهِ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّكَ كَتَبْتَ الي تَسْأَلُنِي هَلْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِالنِّسَاءِ وَهَلْ كَانَ يَضْرِبُ لَهُنَّ بِسَهْمٍ فَقَدْ كَانَ يَغْزُو بِهِنَّ فَيُدَاوِينَ الْمَرْضَى وَيُحْذَيْنَ مِنَ الْغَنِيمَةِ وَأَمَّا السَّهْمَ فَلَمْ يَضْرِبْ لَهُنَّ بِسَهْمٍ . رواه مسلم .

د حضرت يزيد بن هرمز ﷺ څخه روايت دئ چي نجده حروري حضرت انس ﷺ ته ليك وليكئ او دا پوښتنه يې څيني وكړه چي غلام او مينځي ته هم د غنيمت په مال كي څه وركول پكار دي يا نه ؟ ابن عباس ﷺ يزيد ته وويل : ددې په جواب كي دا وليكه چي د غلام او مينځي د غنيمت په مال كي هيڅ برخه ټاكلې نه ده ، هغوئ ته دي څه وركړل سي ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي ابن عباس په جواب كي وليكل چي ته زما څخه دا پوښتنه كوې چي ايا رسول الله ﷺ به په جهاد كي د ګډون لپاره ښځي بيولې ، او ايا د غنيمت په مال كي د هغوئ څه برخه ټاكلې وه ؟ رسول الله ﷺ به ښځي جهاد ته بيولې هغوئ به د ناروغانو درملنه كول او د غنيمت د مال څخه به هغوئ ته وركول كېدل ، مګر رسول الله ﷺ د هغه څه برخه ټاكلې نه وه . مسلم .

## په خاصه توګه څينو مجاهدينو ته د خپل برخي څخه زياته وركول كيداى سي .

(۳۸۱۴): وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِظَهْرِهِ مَعَ رَبَاحٍ غُلَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا إِذَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ الْفَزَارِيُّ قَدْ أَغَارَ عَلَى ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُمْتُ عَلَى أَكَمَةٍ فَاسْتَقْبَلْتُ الْمَدِينَةَ فَنَادَيْتُ ثَلَاثًا يَا صَبَاحَاهُ ثُمَّ خَرَجْتُ فِي آثَارِ الْقَوْمِ أَرْمِيهِمْ بِالنَّبْلِ وَأَرْتَجِزُ أَقُولُ وَأَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ فَمَا زِلْتُ أَرْمِيهِمْ وَأَعْقِرُ بِهِمْ حَتَّى مَا خَلَقَ اللهُ مِنْ بَعِيرٍ مِنْ ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا خَلَّفْتُهُ وَرَاءَ ظَهْرِي ثُمَّ اتَّبَعْتُهُمْ أَرْمِيهِمْ حَتَّى أَلْقَوْا أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثِينَ بُرْدَةً

د حضرت سلمه بن اكوع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خپل غلام رباح سره د خپلي سپرلۍ اوښان وليږل زه هم د رباح سره وم ، چي سهار سو نو عبد الرحمن فزاري د رسول الله ﷺ اوښان لوټ كړل ، زه پر يو غونډۍ وختم ، د مدينې په لور مي مخ كړ او درې واره مي په لوړ آواز دا الفاظ وويل خبردار سئ ! ياصباحاه دښمن لوټ كړلو ، ددې وروسته زه په عبدالرحمن او د هغه په ملګرو پسې سوم غشي مي ويشتل ، شعري الفاظ ويل مي شروع كړل ما ويل زه د اكوع زوى يم او نن ورځ د خرابو خلكو د هلاكت ورځ ده ، ما پرله

وَثَلَاثِيْنَ رُمْحًا يَسْتَخِفُّوْنَ وَلَا يَطْرَحُوْنَ شَيْئًا إِلَّا جَعَلْتُ عَلَيْهِ آرَامًا مِنَ الْحِجَارَةِ يَعْرِفُهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واصحابه حتى رايت فوارس رسول الله صلى الله عليه وسلم وَلَحِقَ أَبُوْ قَتَادَةَ فَارِسُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ الرَّحْمٰنِ فَقَتَلَهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرَ فُرْسَانِنَا الْيَوْمَ أَبُوْ قَتَادَةَ وَخَيْرَ رَجَّالَتِنَا سَلَمَةُ قَالَ ثُمَّ أَعْطَانِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَيْنِ سَهْمَ الْفَارِسِ وَسَهْمَ الرَّاجِلِ فَجَمَعَهُمَا لِي جَمِيعًا ثُمَّ أَرْدَفَنِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ عَلَى الْعَضْبَاءِ رَاجِعِيْنَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ. رواه مسلم.

پسې غشي ويشتل او د دښمن کومي سپرلی چي به مي لاندي کولې د هغه ښښې به مي شلي کولې کوم اوښ چي به مي په لاړ کي تر لاسه کړ هغه به مي هلته پرېښود او پر مخ به تلم. غرض دا چي د رسول الله ﷺ يو يو اوښ ما تر خان وروسته پرېښودل زه مخ پر وړاندي ولاړم په هغوئ پسي، او غشي مي ويشتل. بيا دښمنانو څادرونه او ديرش نيزې وغورځولې ما به پر هغه څادرونو او نيزو باندي د کاڼي نښه اېښودل، چي د رسول الله ﷺ صحابه تشريف راوړي نو وه به يې پيژني لنډه دا چي تر ليري پوري زه په هغوئ پسي ولاړم تر دي چي زما نظر د رسول الله ﷺ پر سپرلو پريوتی او د رسول الله ﷺ خاص سپور ابوقتاده د عبدالرحمن سره يو ځای سو او هغه يې قتل کړ، او رسول الله ﷺ ددې پېښي په اړه وفرمايل: نن ورځ زموږ په سپرو کي غوره سپور ابوقتاده دئ او په پياده کي غوره پياده سلمه بن اکوع دئ، د راوي بيان دئ بيا رسول الله ﷺ ما ته دوې برخي راکړي يعني يوه برخه سپور او يوه برخه د پياده او دواړي برخي يې زما لپاره جمع کړې . بيا رسول الله ﷺ زه پر خپله اوښه د ځان سره سپور کړم چي د هغې نوم غضباء وو او د مديني په لور راوګرځيدو . مسلم.

(۳۸۱۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا لِأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً سِوَى قَسْمِ عَامَّةِ الْجَيْشِ . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به ځيني خلکو ته چي هغه به په لښکر کي ليږل سوي وه په خاصه توګه سره د عامي برخي څخه يو څه زيات ورکول. بخاري او مسلم.

(۳۸۱۶): وَعَنْهُ قَالَ نَفَّلَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَلًا سِوَى نَصِيْبِنَا مِنَ الْخُمُسِ فَأَصَابَنِي شَارِفٌ وَالشَّارِفُ الْمُسِنُّ الْكَبِيْرُ. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي يو وار رسول الله ﷺ زموږ د برخي څخه پرته چي په خمس (پنځمه) کي به موږ ته تر لاسه کېدل يو څه زيات راکړل او ما ته يوه زړه اوښه راورسيدل. بخاري او مسلم.

**د مسلمانان مال چي بيرته په غنيمت راسي**

| | |
|---|---|
| (۳۸۱۷): وَعَنْهُ قَالَ ذَهَبَتْ فَرَسٌ لَهُ فَأَخَذَهَا الْعَدُوُّ فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُوْنَ فَرُدَّ عَلَيْهِ فِيْ زَمَنِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَفِيْ رِوَايَةٍ أَبَقَ عَبْدٌ لَهُ فَلَحِقَ بِالرُّوْمِ فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُوْنَ فَرَدَّ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي يو وار زما آس و تښتېدئ او دښمنانو ونيوئ ، کله چي مسلمانانو پر کافرانو غلبه تر لاسه کړه نو هغه آس ابن عمر ﷺ ته ورکړل سو ، دا د رسول الله ﷺ د زماني پېښه ده او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د ابن عمر ﷺ. مريي وتښتېدئ |

او روم ته ولاړی بيا مسلمانانو پر روم فتح تر لاسه کړه نو خالد بن وليد ﷺ د رسول الله ﷺ څخه وروسته هغه غلام ابن عمر ﷺ ته ورکړ. بخاري او مسلم

**د خيبر په غنيمت کي د بنوعبد شمس او بنونوفل محرومي**

| | |
|---|---|
| (۳۸۱۸): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ مَشَيْتُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا أَعْطَيْتَ بَنِي الْمُطَّلِبِ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ وَتَرَكْتَنَا وَنَحْنُ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْكَ فَقَالَ إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ قَالَ جُبَيْرٌ وَلَمْ يَقْسِمِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ وَبَنِي نَوْفَلٍ شَيْئًا. رواه البخاري. | د حضرت جبير بن مطعم ﷺ څخه روايت دئ چي زه او عثمان بن عفان د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض مو وکړ چي تاسو د خيبر په خمس کي بني مطلب ته څه ورکړه او موږ ته مو رانه کړل، حال دا چي ترخو پوري چي ستاسو د ذات مبارك (يعني بني هاشم) تعلق دئ موږ او هغوئ دواړه د يوې مرتبې يو ، رسول الله ﷺ |

وفرمايل : بېشکه بنو مطلب او بنو هاشم يو دي ، جبير وېلي دي چي رسول الله ﷺ بنو عبدالشمس او بنو نوفل ته په ويش کي هيڅ ور نه کړل . بخاري .

**د فئ د مال حکم**

| | |
|---|---|
| (۳۸۱۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا قَرْيَةٍ أَتَيْتُمُوْهَا وَأَقَمْتُمْ فِيهَا فَسَهْمُكُمْ فِيهَا وَأَيُّمَا قَرْيَةٍ عَصَتِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَإِنَّ خُمُسَهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ . رواه مسلم . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم ځای ته چي تاسو ولاړ سئ او هلته قيام وکړئ (او د هغه ځای خلك د صلح څخه وروسته هغه ابادي خالي |

کړي) نو څه چي په دې آبادي کي د ننه وي هغه ستاسو برخه ده او کومي آبادي چي د الله ﷺ او رسول ﷺ نافرماني وکړه (او ستاسو سره په جنگ کولو سره) پر هغه قبضه وکړه نو د هغه د مال څخه

پنځمه برخه د الله او رسول لپاره ده بیا چې څه پاته سي هغه ستاسو ده . مسلم .

**د غنیمت په مال کي د خیانت کونکو وعید**

(۳۸۲۰): وَعَنْ خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ سَمِعْتُ رسول اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللّٰهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه البخاري.

د حضرت خوله انصاریه (رض) څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي ځیني خلك د الله تعالی په مال کي په ناحقه تصرف کوي نو د قیامت په ورځ د هغوئ لپاره د دوزخ اور دئ . بخاري.

(۳۸۲۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَذَكَرَ الْغُلُولَ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ ثُمَّ قَالَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ يَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ يَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ نَفْسٌ لَهَا صِيَاحٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ . متفق عليه و هذا لفظ مسلم و هو اتم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ یوه ورځ مونږ ته نصیحت وکړی او په مال غنیمت کي یې د خیانت ذکر وکړ ، رسول الله ﷺ هغه سخت گناه وګڼل او هغه یې لوی کار وګڼی او بیا یې وفرمایل : زه په تاسو کي هیڅوك د قیامت په ورځ په داسي حال کي ونه وینم چي د هغه پر څټ دي اوښ سپور وي او بیا هغه ما ته وایي اې د الله رسوله ! زما فریاد رسونه وکړئ ، او زه د هغه په جواب کي دا ووایم چي زه تا لره مالك نه یم د هیڅ شي ، زما چي څه فرض وه ما په دنیا کي تاسو ته ورسول ، زه دي تاسو په قیامت کي په داسي حال کي ونه نیم چي د هغه پر څټ دي آس زریږي او هغه دي ووایي اې د الله رسوله ! زما فریاد رسونه وکړئ ، یعني زما سفارش وکړئ او زه ورته دا ووایم چي زه ستا لپاره د هیڅ شي مالك نه یم ما تاسو ته د شریعت احکام رسولي وه ، او زه دي په تاسو کي هیڅوك د قیامت په ورځ په داسي حال کي ونه وینم چي د هغه پر څټ پسه سپور وي او چغي وهي او دا وایي اې د الله رسوله ! زما مرسته

وكړئ ، او زه ورته دا ووايم چي زه اوس ستا لپاره د هيڅ شي مالك نه يم ما خپل پيغام تاسو ته رسولى دئ ، او زه دي د قيامت په ورځ په تاسو كي څوك په دي كي حال كي ونه وينم چي د هغه پر غاړه مربى وي ، او هغه چغي وهي چي اې دالله رسوله ! ما و ژغورئ او زما فرياد واورئ او زه به ورته وايم چي زه ستا لپاره د هيڅ شي مالك نه يم ما تاسو ته د شريعت احكام رسولي وه او زه دي په تاسو كي د قيامت په ورځ هيڅوك په داسي حال كي ونه وينم چي د هغه پر غاړه دي جامي وي او حركت دي كوي او هغه ما ته ووايي اې دالله رسوله ! زما سفارش وكړئ او زه دا ورته ووايم چي زه ستا لپاره هيڅ نه سم كولاى ما تاسو ته شريعت رسولى وه ، او زه دي په تاسو كي هيڅوك د قيامت په ورځ په داسي حال كي ونه وينم چي د هغه پر غاړه د سرو يا سپينو زرو (بار) وي او هغه ووايي اې د الله رسوله ! زما مرسته وكړئ او زه دا ووايم چي زه ستا لپاره هيڅ نه سم كولاى ما تاسو ته د شريعت احكام رسولي وه . بخاري او مسلم ، دا د مسلم الفاظ دي چي زيات پوره دي .

**په مال كي د ناحق تصرف كولو وعيد**

(۳۸۲۲): وَعَنْهُ قَالَ اَهْدٰى رَجُلٌ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا يُقَالُ لَهُ مِدْعَمٌ فَبَيْنَمَا مِدْعَمٌ يَحُطُّ رَحْلًا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اصابه سَهْمٌ عَائِرٌ فَقَتَلَهُ فَقَالَ النَّاسُ هَنِيْئًا لَهُ الْجَنَّةُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِيْ بِيَدِه إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِي أَخَذَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا فَلَمَّا سَمِعَ ذٰلِكَ النَّاسُ جَاءَ رَجُلٌ بِشِرَاكٍ أَوْ شِرَاكَيْنِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي يو غلام چي دهغه نوم مدعم وو رسول الله ﷺ ته په تحفه كي وركړ ، يوه ورځ مدعم د رسول الله ﷺ كجاوه كښته كول چي پر هغه يو غشي ولګيدئ چي هغه د وېشتونكي معلومات ونه سو او هغه مړ سو ، خلكو وويل مدعم ته دي جنت مبارك وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : يا ، قسم په هغه ذات چي د هغه په لاس كي زما ساه ده هغه څادر چي مدعم د خيبر په ورځ د غنيمت د مال د ويشلو څخه ترمخه اخيستى وو د اور شعلي جوړي سوي دي او پر مدعم بليږي ، خلكو چي د رسول الله ﷺ دا الفاظ واوريدل نو سمدستي يو سړي يوه يا دوې تسمې رسول الله ﷺ ته راوړلې چي هغه (په معمولي شي ګڼلو سره ) د غنيمت د مال څخه اخيستى وي، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا تسمه يا تسمې د اور دي ، بخاري او مسلم .

(۳۸۲۳): وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ كَانَ عَلٰى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي په يوه غزا كي د رسول الله ﷺ پر اسباب

| | |
|---|---|
| کرکرۃُ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ھُوَ فِي النَّارِ فَذَھَبُوا یَنْظُرُوْنَ فَوَجَدُوا عَبَاءَۃً قَدْ غَلَّھَا ۔ رواہ البخاري ۔ | باندي یو ساتونکی وو چې د هغه نوم کرکره وو ، هغه مړ سو ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه په دوږخ کي دئ ، خلکو د هغه اسباب وکتل نو |

په هغه کي یې یو کمبل پیدا کړي چي د غنیمت په مال کي یې خیانت کړی وو . بخاري .

**د غنیمت په مال کي د تقسیم څخه مخکي د خوراکي شیانو د استعمال اجازت**

| | |
|---|---|
| (۳۸۲۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ کُنَّا نُصِیبُ فِي مَغَازِیْنَا الْعَسَلَ وَالْعِنَبَ فَنَأْکُلُهُ وَلَا نَرْفَعُهُ . رواہ البخاري. | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي موږ به په غزاوو کي شات او انګور تر لاسه کول ، نو هغه به مو خوړل مګر د ځان سره مو نه وړل ، (یعني دخوراك |

شیان د ضرورت په اندازه د جنګ په میدان کي خوړل جائز دي) . بخاري .

| | |
|---|---|
| (۳۸۲۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰہِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ أَصَبْتُ جِرَابًا مِنْ شَحْمٍ یَوْمَ خَیْبَرَ فَالْتَزَمْتُهُ فَقُلْتُ لَا أُعْطِي الْیَوْمَ أَحَدًا مِنْ ھٰذَا شَیْئًا فَالْتَفَتُّ فَإِذَا رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَتَبَسَّمُ إِلَيَّ. متفق علیه و ذکر حدیث ابي هریرة ما اعطیکم في باب رزق الولاة . | د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ څخه روایت دئ چي د خیبر په ورځ ما ته د وازګو څخه ډکه یوه کڅوړه په لاس راغلل، ما هغه پورته کړه او ما وویل چي نن به ددې وازګو څخه هیڅ شی نه ورکوم ، ما چي وکتل نو رسول الله ﷺ ولاړ وو او خندل یې ، (یعني زما پر دغه کار خندا ورغلل) . بخاري او مسلم . |

د ابوهریرة حدیث (ما اعطیکم) د رزق الولاة په باب کي بیان سوی دئ .

## دویم فصل

**د امت محمدي پر نورو امتو فضیلت**

| | |
|---|---|
| (۳۸۲۶): عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰہَ فَضَّلَنِي عَلَی الْأَنْبِیَاءِ أَوْ قَالَ أُمَّتِي عَلَی الْأُمَمِ وَأَحَلَّ لِيَ الْغَنَائِمَ.رواہ الترمذي | د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی ما ته پر انبیاوو فضیلت راکړی دئ ، یا رسول الله ﷺ داسي |

وفرمایل چي الله تعالی زما امت ته پر نورو امتونو فضیلت ورکړی دئ چي د غنیمت مال یې زموږ لپاره حلال ګرځولی دئ . ترمذي.

**د مقتول مال د قاتل دی**

| | |
|---|---|
| (۳۸۲۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله |

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ يَعْنِي يَوْمَ حُنَيْنٍ مَنْ قَتَلَ كَافِرًا فَلَهُ سَلَبُهُ فَقَتَلَ أَبُو طَلْحَةَ يَوْمَئِذٍ عِشْرِيْنَ رَجُلاً وَأَخَذَ أَسْلاَبَهُمْ . رواه الدارمي

ﷺ د حنين په ورځ وفرمايل :څوك چې يو كافر مړ كړي نو دهغه سامان د هغه دئ، ابوطلحه په هغه ورځ شل كسان (كافران) ووژل او د هغوئ سامان يې واخيست . دارمي.

(٣٨٢٨): وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضٰى فِي السَّلَبِ لِلْقَاتِلِ وَلَمْ يُخَمِّسِ السَّلَبَ . رواه أبو داود

د حضرت عوف بن مالك اشجعي او خالد بن وليد (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د مقتول د سامان په اره دا حكم وكړ چې هغه د قاتل لپاره دئ او په هغه مال كې يې خمس (پنځمه برخه) ونه ايستل . ابوداؤد .

(٣٨٢٩): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ نَفَّلَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ سَيْفَ أَبِي جَهْلٍ كَانَ قَتَلَهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چې د بدر په ورځ رسول الله ﷺ زما د برخې څخه زيات ما ته د ابوجهل توره راكړه او ابوجهل هغه قتل كړى وو . ابوداؤد .

**غلام ته د غنيمت د مال څخه لږ څه وركول كيداى سي**

(٣٨٣٠): وَعَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ شَهِدْتُ خَيْبَرَ مَعَ سَادَتِي فَكَلَّمُوا فِيَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَلَّمُوْهُ أَنِّي مَمْلُوكٌ قَالَ فَأَمَرَ بِي فَقُلِّدْتُ السَّيْفَ فَإِذَا أَنَا أَجُرُّهُ فَأَمَرَ لِي بِشَيْءٍ مِنْ خُرْثِيِّ الْمَتَاعِ وَعَرَضْتُ عَلَيْهِ رُقْيَةً كُنْتُ أَرْقِي بِهَا الْمَجَانِيْنَ فَأَمَرَنِي بِطَرْحِ بَعْضِهَا وَحَبْسِ بَعْضِهَا . رواه الترمذي و ابوداؤد الا ان روايته انتهت عند قوله الْمَتاع.

د حضرت عمير ﷺ څخه چې د حضرت ابي اللحم ﷺ آزاد كړل سوى غلام دئ روايت دئ چې زه د خپلو مالكانو سره د خيبر په جنگ كې شريك سوم ، زما مالكانو زما په اره د رسول الله ﷺ سره خبرې وكړې او وه يې ښودل چې زه د هغوئ غلام يم ، رسول الله ﷺ ما ته حكم راكړ چې زه توره واخلم او دمجاهدينو سره سم، زما پر بدن توره وتړل سوه (زما قد كوچنى وو) نو له دې كبله ما هغه توره په كشولو سره د ځان سره وړل، او د غنيمت د مال د ويشلو پر وخت رسول الله ﷺ حكم وكړ چې لږ مال ده ته هم وركړئ، او ما د رسول الله ﷺ يو دم وواېه چې ما به پر ليونيانو چف كوئ، رسول الله ﷺ ما ته حكم وكړ چې ددې (دم) دومره برخه موقوف كړه او دومره پاته وساته . ترمذي او ابوداؤد .

## د خیبر د مال تقسیم

| | |
|---|---|
| (۳۸۳۱): وَعَنْ مُجَمِّعِ بْنِ جَارِيَةَ قَالَ قُسِمَتْ خَيْبَرُ عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ فَقَسَمَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا وَكَانَ الْجَيْشُ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ فِيهِمْ ثَلَاثُ مِائَةِ فَارِسٍ فَأَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ وَالرَّاجِلَ سَهْمًا. رواه ابوداؤد وقال حديث ابن عمر اصح والعمل عليه و اتى الوهم مجمع انه قال ثلاث مائة فارس وانما كانوا مائتي فارس. | د حضرت مجمع بن جارية ﷺ څخه روایت دئ چي د خیبر د غنیمت مال او مخکـه پـه هغـه کسانو وویشل سوه چي د حدیبیې په صلح کي شریك وه، رسول الله ﷺ د هغه اتلس برخي کړې او د لښکر شمیر پنځلس سوه وو، چي په هغه کي درې سوه سپاره وه ، سپرو ته رسول الله ﷺ دوې برخي ورکړې او پیاده وو ته یې یوه برخه ورکړه . ابوداؤد ویلي دي چي د ابن عمر ﷺ |

حدیث زیات صحیح دئ او پر دې د اکثره امامانو عمل دئ او د حضرت مجمع ابن جاریه په حدیث کي گمان دئ چي هغه وویل درې سوه سپاره وه حال دا چي دوه سوه سپاره وه .

## په جهاد کي د زیات کوښښ کونکو خاص برخه

| | |
|---|---|
| (۳۸۳۲): وَعَنْ حَبِيبِ بْنِ مَسْلَمَةَ الْفِهْرِيِّ قَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَّلَ الرُّبُعَ فِي الْبَدْأَةِ وَالثُّلُثَ فِي الرَّجْعَةِ . رواه ابوداؤد. | د حضرت حبیب بـن مسلمه الفهـري ﷺ څخـه روایت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وم ، رسول الله ﷺ هغه خلکو ته چي هغوئ |

په جنگ کي تر ټولو اول برخه اخیستې وه څلورمه برخه د غنیمت مال زیات ورکړ او هغه خلکو ته چي د لښکر شاته د دښمن په مقابله کي وه دریمه برخه زیات ورکړ . ابوداؤد.

| | |
|---|---|
| (۳۸۳۳): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنَفِّلُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ وَالثُّلُثَ بَعْدَ الْخُمُسِ إِذَا قَفَلَ . رواه ابوداؤد. | د حضرت حبیب بـن مسلمه الفهـري ﷺ څخـه روایـت دئ چـي رسـول الله ﷺ د پنځمـي برخـي ایستلو څخه وروسته تر ټولو اول جنگ کونکو |

ته څلورمه برخه زیاته ورکړه او د ستنېدو څخه وروسته جنگ کونکو ته یې دریمه برخه زیاته ورکړه . ابوداؤد ،

## د فئ په مال کي هیڅ خاص برخه نه سته

| | |
|---|---|
| (۳۸۳۴): وَعَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ الْجَرْمِيِّ قَالَ أَصَبْتُ بِأَرْضِ الرُّومِ جَرَّةً حَمْرَاءَ فِيهَا دَنَانِيرُ فِي إِمْرَةِ مُعَاوِيَةَ وَعَلَيْنَا رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى | د حضرت ابو الجویریة الجرمي ﷺ څخه روایت دئ چي ما د امیر معاویه ﷺ د خلافت په ورځو کي د روم په مخکه کي یو سور منگی پیدا کړ چي د دنیارو څخه ډك وو او زموږ مشر د رسول |

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ يُقَالُ لَهُ مَعْنُ بْنُ يَزِيدَ فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَسَمَهَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ وَأَعْطَانِي مِنْهَا مِثْلَ مَا أَعْطَى رَجُلًا مِنْهُمْ ثُمَّ قَالَ لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا نَفْلَ إِلَّا بَعْدَ الْخُمُسِ لَأَعْطَيْتُكَ. رواه ابوداؤد .

الله ﷺ د صحابو څخه يو سړی وو چي د بنو سليم د قبيلې څخه وو چي نوم يې معن بن يزيد وو، ما هغه منګی خپل مشر ته راوړ ، مشر هغه دينارونه پر مسلمانانو وويشتل او ما ته يې هم هغومره راکړل څومره چي يې نورو ته ورکړل ، بيا يې وويل : که ما د رسول الله ﷺ څخه دا نه وای اوريدلي چي زيات ورکول د پنځمه برخي اخيستلو وروسته نسته نو ما به تا ته ددې څخه څه زيات درکړي وای . ابوداؤد .

## په جنګ کي د ګډون نه کونکو خاص عطيه

(۳۸۳۵): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَدِمْنَا فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ فَأَسْهَمَ لَنَا أَوْ قَالَ فَأَعْطَانَا مِنْهَا وَمَا قَسَمَ لِأَحَدٍ غَابَ عَنْ فَتْحِ خَيْبَرَ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا لِمَنْ شَهِدَ مَعَهُ إِلَّا أَصْحَابَ سَفِينَتِنَا جَعْفَرَ وَأَصْحَابَهُ فَأَسْهَمَ لَهُمْ مَعَهُمْ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د حبشې څخه ) راغلو نو موږ وليدل چي رسول الله ﷺ هغه وخت خيبر فتح کړی وو . رسول الله ﷺ د غنيمت د مال څخه موږ ته هم برخه راکړه ، يا ابو موسی دا وويل چي د خيبر د غنيمت د مال څخه يې موږ ته هم راکړ او چي د خيبر د فتح څخه غائب وه هغو ته يې برخه ور نه کړه هيڅ شی، مګر موږ کشتۍ والا ته يې يعني جعفر او د هغه ملګرو ته يې د هغوئ برخي ورکړي . ابوداؤد .

## د غنيمت په مال کي د خيانت کونکو د جنازې څخه انکار

(۳۸۳۶): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ يَوْمَ خَيْبَرَ فَذَكَرُوا لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ فَتَغَيَّرَتْ وُجُوهُ النَّاسِ لِذَلِكَ فَقَالَ إِنَّ صَاحِبَكُمْ غَلَّ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَفَتَّشْنَا مَتَاعَهُ فَوَجَدْنَا خَرَزًا مِنْ خَرَزِ يَهُودَ لَا يُسَاوِي دِرْهَمَيْنِ . رواه مالك و ابوداؤد والنسائي.

د حضرت زيد بن خالد جهني ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي يو سړی د خيبر د فتح په ورځ مړ سو ، رسول الله ﷺ ته دې يادونه وسول نو رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو پر خپل ملګري باندي د جنازې لمونځ وکړئ ، په دې اوريدو سره (د بيري څخه) د خلکو د مخونو رنګ بدل سو ، په دې تغير ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو ملګري د الله ﷺ په لار کي (د غنيمت په مال کي خيانت کړی دئ موږ د هغه د سامان تلاشي واخيستل نو

په هغه کي د يهودي ښځو (ملغلري تر لاسه سوې چي د هغه بيه تر دوو درهمو زياته نه وه . مالك ، ابوداؤد او نسائي .

**د غنيمت د مال په جمع کولو کي د زندکولو په باره کي وعيد**

(۳۸۳۷): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصَابَ غَنِيمَةً أَمَرَ بِلَالًا فَنَادَى فِي النَّاسِ فَيَجِيئُونَ بِغَنَائِمِهِمْ فَيُخَمِّسُهُ وَيُقَسِّمُهُ فَجَاءَ رَجُلٌ يوم بَعْدَ ذٰلِكَ بِزِمَامٍ مِنْ شَعَرٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هٰذَا فِيمَا كُنَّا أَصَبْنَاهُ مِنَ الْغَنِيمَةِ فَقَالَ أَسَمِعْتَ بِلَالًا يُنَادِي ثَلَاثًا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَجِيءَ بِهِ فَاعْتَذَرَ فَقَالَ كُنْ أَنْتَ تَجِيءُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَنْ أَقْبَلَهُ عَنْكَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله د غنيمت د مال د ويشلو اراده وکړل نو بلال ﷺ ته به يې حکم کوئ چي هغه به په خلکو کي اعلان وکړ (چي غنيمتونه يو ځاى کړئ) نو خلکو به غنيمتونه راوړل ، رسول الله ﷺ به د ټول مال څخه پنځمه برخه وايستل بيا به يې ويش وکړ ، يو وار يو سړي د پنځمي برخي ايستلو او ويشلو څخه وروسته د وريښتانو جوړه سوې يوه رسۍ راوړل او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! دا د غنيمت شی دئ چي موږ تر لاسه کړی وو ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا تا د بلال ﷺ اعلان اوريدلی وو ، چي هغه دري واره کړی وو ، هغه وويل چي هو ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : بيا هغه وخت دي ولي نه راوړ ، هغه يو عذر وکړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته به د قيامت په ورځ د همدې سره راځې ، زه هيڅکله ستا څخه دا رسی نه اخلم . ابوداؤد .

**د غنيمت په مال کي د خيانت کونکي سزا**

(۳۸۳۸): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ حَرَّقُوا مَتَاعَ الْغَالِّ وَضَرَبُوهُ . رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شعيب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي د خيانت کونکي مال رسول الله ﷺ ، ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ وسوځئ او هغه يې ووهئ . ابوداؤد .

**د خائن حال ويونکی هم خائن دی**

(۳۸۳۹): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ يَكْتُمْ غَالًّا فَإِنَّهُ مِثْلُهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمايل څوك چي خيانت کونکی پټوي (پرده يې کوي) هغه د هغه په ډول دئ . ابوداؤد .

**د غنيمت د مال د ويشلو څخه مخکي رانيول او پلورل منع دي**

(۳۸۴۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شِرىٰ الْغَنَائِمِ حَتّٰى تُقْسَمَ . رواه الترمذي.

رسول الله ﷺ دغيمت د مال د ويش څخه ترمخه رانيول منع کړي دي . ترمذي .

(۳۸۴۱): وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ نَهٰى اَنْ تُبَاعَ السِّهَامُ حَتّٰى تُقْسَمَ . رواه الترمذي.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د غنيمت مال د ويشلو څخه مخکي د هغه د برخي د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده . ترمذي .

## د غنيمت په مال کي په ناحقه تصرف کونکي

(۳۸۴۲): وَعَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ مَنْ اَصَابَهُ بِحَقِّهٖ بُوْرِكَ لَهُ فِيْهِ وَرُبَّ مُتَخَوِّضٍ فِيْمَا شَاءَتْ بِهٖ نَفْسُهُ مِنْ مَالِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لَيْسَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِلَّا النَّارُ . رواه الترمذي.

د حضرت خوله بنت قيس (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي دا مال شين او خوږ دئ (يعني د غنيمت مال خوبنى شى دئ) چا ته چي دا د حق په توگه تر لاسه سي د هغه لپاره په هغه کي برکت اچول کيږي، ډير خلك دي چي د الله ﷻ او رسول ﷺ د مال څخه (يعني د غنيمت دمال څخه) کوم شى چي د هغو زړه غواړي په خپل تصرف کي راولي ، د قيامت په ورځ د داسي خلکو لپاره يوازي د دوزخ اور دئ . ترمذي .

## ذوالفقار

(۳۸۴۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَفَّلَ سَيْفَهُ ذَا الْفَقَارِ يَوْمَ بَدْرٍ . رواه ابن ماجة . و زاد الترمذي وهو الذي راى فيه الرءيا يوم احد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ (خپله توره) چي د هغه نوم ذوالفقار وو د خپلي برخي څخه زياته اخيستي وه . ابن ماجه ، او ترمذي ليکلي دي چي دا هغه توره وه کومه چي رسول الله ﷺ د أحد په ورځ په خوب کي ليدلي وه .

## د تقسيم څخه مخکي د غنيمت د مال د استعمال څخه منع

(۳۸۴۴): وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِيْنَ حَتّٰى اِذَا اَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيْهِ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

د حضرت رويفع بن ثابت ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لري نو هغه دي د غنيمت په گډ مال کي پر هيڅ حيوان نه سپريږي نو چي هغه کمزوري

وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَلْبَسْ ثَوْبًا مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتّٰى إِذَا أَخْلَقَهُ رَدَّهُ فِيهِ . رواه ابوداؤد.

بسي نو هغه د غنيمت مال بيرته ورکړي او څوك چي پر الله ﷻ او د آخرت پر ورځ ايمان لري هغه دي د مشترك مال څخه جامه نه اغوندي نو هر كله چي هغه زړه سي نو بيرته يې ورکړي . ابوداؤد .

**د غنيمت په مال کي د خوراك د شيانو حکم**

(۳۸۲۵): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي الْمُجَاهِدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ قُلْتُ هَلْ كُنْتُمْ تُخَمِّسُونَ الطَّعَامَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَصَبْنَا طَعَامًا يَوْمَ خَيْبَرَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَجِيءُ فَيَأْخُذُ مِنْهُ مِقْدَارَ مَا يَكْفِيهِ ثُمَّ يَنْصَرِفُ . رواه ابوداؤد.

حضرت محمد بن ابو المجاهد ﷺ د عبدالله بن ابي اوفى ﷺ څخه روايت کوي چي ما پوښتنه وکړه ايا تاسو به د رسول الله ﷺ په زمانه کي د خوراك په شيانو کي پنځمه برخه ايستل ، هغه وويل : د خيبر په ورځ موږ ته د خوراك شيان تر لاسه سول نو هر سړی به راتلئ او د هغه څخه به يې د ضرورت په اندازه اخيستل . ابوداؤد .

(۳۸۲۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ جَيْشًا غَنِمُوا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا وَعَسَلًا فَلَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُمُ الْخُمُسُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي يو لښکر د غنيمت په مال کي د خوراك شيان او شات د خوراك لپاره واخستل چي د هغه څخه پنځمه برخه نه واخستل (چي دوئ خوړلي وه په قدر د حاجت) . ابوداؤد .

(۳۸۲۷): وَعَنِ الْقَاسِمِ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنَّا نَأْكُلُ الْجَزَرَ فِي الْغَزْوِ وَلَا نَقْسِمُهُ حَتّٰى إِنْ كُنَّا لَنَرْجِعُ إِلٰى رِحَالِنَا وَأَخْرِجَتُنَا مِنْهُ مُمْلَأَةٌ . رواه ابوداؤد،

حضرت قاسم د عبدالرحمن بادار د رسول الله ﷺ د يو څو صحابو څخه روايت کوي چي موږ به په غزا کي د اوښانو غوښه خوړل او ويشل به مو نه ، تر څو چي موږ به خپلو خيمو ته بيرته راتلو نو زموږ خورجين به د غوښو څخه ډك وو . ابوداؤد .

**خيانت کونکی به د قيامت په ورځ بې عزته وي**

(۳۸۲۸): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ أَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ وَإِيَّاكُمْ وَالْغُلُولَ فَإِنَّهُ عَارٌ عَلٰى أَهْلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه الدارمي ورواه النسائي عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده.

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د غنيمت په مال کي ستن او تار هم ادا کوئ او د خيانت څخه ځان وساتئ ځکه چي خيانت کول به د

قیامت په ورځ د خیانت کونکو لپاره د شرم سبب وي، دارمي، او نسائي دا د عمرو بن شعیب د هغه د پلار او د هغه دنیکه په روایت نقل کړی دئ.

**د غنیمت په مال کې د ډېر کم شي خیانت د مؤخذې سبب دی**

(۳۸۴۹): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ دَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعِيرٍ فَأَخَذَ وَبَرَةً مِنْ سَنَامِهِ ثُمَّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَيْسَ لِي مِنْ هَذَا الْفَيْءِ شَيْءٌ وَلَا هَذَا وَرَفَعَ أُصْبُعَيْهِ إِلَّا الْخُمُسَ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ عَلَيْكُمْ فَأَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمَخِيطَ فَقَامَ رَجُلٌ فِي يَدِهِ كُبَّةٌ مِنْ شَعْرٍ فَقَالَ أَخَذْتُ هَذِهِ لِأُصْلِحَ بِهَا بَرْدَعَةً لِي فَقَالَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا مَا كَانَ لِي وَلِبَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَهُوَ لَكَ فَقَالَ أَمَّا إِذْ بَلَغَتْ مَا أَرَى فَلَا أَرَبَ لِي فِيهَا وَنَبَذَهَا . رواه ابوداؤد.

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روایت کوي چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ یو اوښ ته نژدې سو او د هغه قب څخه یې لږ وریښتان واخیستل بیا یې وفرمایل اې خلکو! د غنیمت په مال کې زما لپاره د پنځمې برخې څخه زیات هیڅ نسته او په دې ویلو سره یې د قب وریښتان وښودل چې د رسول الله ﷺ په مبارکو ګوتو کې وه او دا پنځمه برخه هم پر تاسو مصرف کیږي نو تاسو (د غنیمت د مال څخه چې ویشل سوی نه وي) ستن او تار هم مه اخلئ ددې په اورېدو سره یو سړي ودریدئ د هغه په لاس کې د وریښتانو د رسۍ یوه ټوټه وه هغه عرض وکړ ما د رسۍ دا ټوټه ددې لپاره د خان سره اېښې ده چې په دې سره زه د خپل پالان لاندې کمبل سم کړم، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل په دې رسۍ کې چې څومره زما او د بنو عبدالمطلب برخه وه هغه ما ستا لپاره معاف کړه (مطلب دا چې که مجاهدین یې درته وبخښي او که یې نه بخښي)، هغه سړي عرض وکړ هر کله چې دا رسۍ دې حد ته رسیدلې ده (یعني د ګناه درجې ته) نو ما ته ددې ضرورت نسته، په دې ویلو سره هغه رسۍ وغورځول. ابوداؤد.

**رسول الله ﷺ به پنځمه برخه مال هم د مسلمانانو په اجتماعي ګټه کې مصرف کوی**

(۳۸۵۰): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَعِيرٍ مِنَ الْمَغْنَمِ فَلَمَّا سَلَّمَ أَخَذَ وَبَرَةً مِنْ جَنْبِ الْبَعِيرِ ثُمَّ قَالَ وَلَا يَحِلُّ لِي مِنْ غَنَائِمِكُمْ مِثْلُ هَذَا إِلَّا الْخُمُسُ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ فِيكُمْ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عمرو بن عبسة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ مونږ ته د غنیمت د مال د یو اوښ (یعني د ستري په توګه کښېنلو سره) لمونځ راکړ، کله چې رسول الله ﷺ سلام وګرځوئ نو د اوښ د بغل څخه یې لږ وریښتان را وکښېلې او خلکو ته یې وښودل چې ستاسو د غنیمتونو څخه زما لپاره دومره شی هم حلال نه دئ، مګر پنځمه برخه او

هغه هم ستاسو پر ضرورتونو مصرف کیږي . ابوداؤد .

**په قریبانو کي د خمس د تقسیم پر محال د حضرت عثمان وغیره محرومي**

(۳۸۵۱): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ لَمَّا قَسَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَ ذَوِي الْقُرْبٰى بَيْنَ بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ أَتَيْتُهُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ هٰؤُلَاءِ اِخْوَانُنَا مِنْ بَنِي هَاشِمٍ لَا نُنْكِرُ فَضْلَهُمْ لِمَكَانِكَ الَّذِي وَضَعَكَ اللّٰهُ مِنْهُمْ أَرَأَيْتَ إِخْوَانَنَا مِنْ بَنِي الْمُطَّلِبِ أَعْطَيْتَهُمْ وَتَرَكْتَنَا وَاِنَّمَا قَرَابَتُنَا وَ قَرَابَتُهُمْ وَاحِدَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا بَنُوْ هَاشِمٍ وَّ بَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ . رواه الشافعي و فِي رِوَايَةِ ابي داؤد والنسائي نَحْوَهُ وَ فِيهِ إِنَّا وَبَنِي الْمُطَّلِبِ لَا نَفْتَرِقُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا إِسْلَامٍ وَإِنَّمَا نَحْنُ وَهُمْ شَيْءٌ وَاحِدٌ وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِه.

د حضرت جبیر بن مطعم ﷛ څخه روایت دئ چي کله رسول الله ﷺ د غنیمت د مال څخه د خپلوانو برخه په بنوهاشم او بنو مطلب کي وویشل نو زه (جبیر راوي) او عثمان بن عفان ﷛ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوو او عرض مو وکړ اې دالله رسوله ! موږ د خپلو بني هاشمو ورونو د فضیلت څخه منکر نه یو چي تاسو په هغوئ کي پیدا سوي یاست مګر دا راته وفرمایاست چي تاسو زموږ ورونو بنو مطلب ته پنځمه برخه خو ورکړل او موږ ته مو نه راکړل، حال دا موږ او دوئ د یوه نیکه ·ولاد· یو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : بنو هاشم او بنو مطلب یو شی دئ ، په دې فرمایلو سره رسول الله ﷺ د یوه لاس ګوتي په دویم لاس کي کنبښنودلې (یعني څرنګه چي د ګوتي په خپلو کي یو ځای دي همداسې د دواړو کورنۍ یو دي . شافعي ، او دا بوداؤد او نسائي په روایت کي دا الفاظ هم دي چي زه او بنو مطلب بیل نه یو ، نه د جاهلیت په ورځو کي او نه د اسلام په ورځو کي ، یعني موږ (بنوهاشم) او هغوئ (بنو مطلب) یو شی یو ، په دې فرمایلو سره رسول الله ﷺ د دواړو لاسو ګوتي په یو بل کي داخلي کړې . بخاري .

## دریم فصل

**د ابوجهل د قتل واقعه**

(۳۸۵۲): عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ اِنِّي لَوَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ نَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَشِمَالِي فَإِذَا بِغُلَامَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا فَتَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا

د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷛ څخه روایت دئ چي د بدر د غزا په ورځ زه په صف کي ولاړ وم چي زما راسته او چپه خوا ته دوه انصاري هلکان ولیدل چي بالکل د لږ عمر وه ، ما په خپل

فَقَالَ اَيْ عَمِّ هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ قُلْتُ نَعَمْ فَمَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي قَالَ أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَا يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ حَتَّى يَمُوتَ الْأَعْجَلُ مِنَّا قَالَ فَتَعَجَّبْتُ لِذٰلِكَ قَالَ وَغَمَزَنِي الْآخَرُ فَقَالَ لِي مِثْلَهَا فَلَمْ أَنْشَبْ أَنْ نَظَرْتُ إِلَى أَبِي جَهْلٍ يَجُولُ فِي النَّاسِ قُلْتُ أَلَا تَرَيَانِ إِنَّ هٰذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي سَأَلْتُمَانِي عنه قال فَابْتَدَرَاهُ بِسَيْفَيْهِمَا فَضَرَبَاهُ حَتَّى قَتَلَاهُ ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَاهُ فَقَالَ أَيُّكُمَا قَتَلَهُ فَقَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَا قَتَلْتُهُ فَقَالَ هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا فَقَالَا لَا فَنَظَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّيْفَيْنِ فَقَالَ كِلَاكُمَا قَتَلَهُ وَقَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَلَبِهِ لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ وَالرَّجُلَانِ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ وَمُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ . متفق عليه .

زړه کي وويل کاش چي زه د دوو طاقتورو او تجربه کارو خلکو په مينځ کي وای (يعني دا هلکان مي معمولي وګڼل چي دوئ به څنګه جنګ وکولای سي) ناڅاپه په هغوئ کي يو کس ما ته رانژدې سو او پوښتنه يې وکړه کاکا جانه ! تاسو ابوجهل پيژنئ ؟ ما ورته وويل هو، مګر ته يې ولي پوښتنه کوې ، هغه وويل ما ته معلومه سوې ده چي هغه رسول الله ﷺ ته ښکنځل کوي زما دې په هغه ذات قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده که زه هغه ووينم نو زما بدن به تر هغه وخته پوري د هغه د بدن څخه بيل نسي تر څو پوري چي په موږ دواړو کي ژر راتلونکی مرګ يو د بل څخه بيل نه کړي ، (عبدالرحمن راوي) وايي ددې هلك د دې الفاظو په اوريدو سره زه حيران پاته سوم بيا هغه دويم هلك زه وښورولم او ما ته يې هغه الفاظ وويل کوم چي لومړني هلك ويلي وه ، ما سمدستي د دښمن په دله کي ابوجهل وليدئ چي د خلکو په منځ کي ګرځيدئ او هغه هلکانو ته مي وويل تاسو وينئ ستاسو مطلوب د چا چي پوښتنه کوئ هغه دئ ګرځي، عبدالرحمن وايي د دې په اوريدو سره هغه دواړو هلکانو خپل توري راوکښلې او د ابوجهل په لور يې ور منډې کړې او هغه يې ووژئ، بيا هغه دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او د پيښې څخه يې خبر کړل ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو کي کوم يوه هغه قتل کړی دئ ، په هغوئ کي هر يوه وويل چي ما قتل کړی دئ ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا تاسو توري وچي کړې دي هغوئ عرض وکړ چي يا ، رسول الله ﷺ د دواړو توري وکتلې او وه يې فرمايل: تاسو دواړو قتل کړی دئ، بيا رسول الله ﷺ د ابو جهل سامان معاذ بن عمرو بن جموح ته ورکړ او هغه دواړه هلکان چي هغوئ ابوجهل قتل کړی وو معاذ بن عمرو بن جموح او معاذ بن عفراء دي. بخاري او مسلم.

(۳۸۵۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ مَنْ يَنْظُرُ لَنَا مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتّٰى بَرَدَ قَالَ فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهٖ فَقَالَ آنْتَ أَبُو جَهْلٍ فَقَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوْهُ و في رواية قَالَ فَلَوْ غَيْرُ أَكَّارٍ قَتَلَنِي . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ وفرمايل :څوك سته چي دا معلومه کړي چي ابوجهل څه وکړل (يعني هغه څنګه سو وژل سوی دی که ژوندی دئ) نو ابن مسعود ولاړی او په ميدان کي يې وليدل چي د عفراء دواړو زامنو هغه زخمي کړی دئ او د قبر پر غاړه دئ ، ابن مسعود هغه تر ږيري ونيوئ او ورته وه يې ويل ايا ته ابوجهل يې ، هغه وويل هو ، ايا په مرتبه کي دده څخه زيات څوك نسته چي هغه تاسو قتل کړئ (يعني ته په خپل لاس سره ما قتل کړه په قريشو کي به زما درجه لوړه سي) ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ابوجهل وويل کاش چي زه بهله زميندار څخه بل چا وژلی وای . بخاري او مسلم .

**يو چا ته د مال په ورکولو سره د هغه ديني فضيلت نه لازميږي**

(۳۸۵۴): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ أَعْطَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا وَأَنَا جَالِسٌ فَتَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ رَجُلًا هُوَ أَعْجَبُهُمْ إِلَيَّ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مُسْلِمًا ذَكَرَ ذَالِكَ سَعْدٌ ثَلَاثًا وَأَجَابَهُ بِمِثْلِ ذَالِكَ ثُمَّ قَالَ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهٖ . متفق عليه و في رواية لهما قَالَ الزُّهْرِيُّ فَنَرٰى أَنَّ الْاِسْلَامَ الْكَلِمَةُ وَالْاِيْمَانَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ .

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي زه ناست وم چي رسول الله ﷺ يوې ډلي ته يو څه مال ورکړ ، په هغه ډلي کي يوازي يوه سړي ته رسول الله ﷺ څه ور نه کړل ، چي زما په نزد تر هغو ټولو غوره وو ، (د دې په ليدو سره) زه ولاړ سوم او عرض مي وکړي په ده څه سوي دي ؟چي تاسو ده ته نه ورکړل قسم په الله زه خو دی مؤمن او صادق ګڼم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : داسي وايه چي زه دی مسلمان ګڼم ، سعد درې واره د رسول الله ﷺ په وړاندي دغه خبره وکړه او رسول الله ﷺ هم هر وار دغه جواب ورکړ ، او بيا رسول الله ﷺ وفرمايل چي زه يو سړي ته مال ورکوم حال دا چي دويم سړي ما ته تر هغه زيات خوښ وي او دا يوازي ددې انديښني څخه داسي کوم چي چيري هغه پړمخې په دوزخ کي ونه لويږي . بخاري او مسلم . او د بخاري او مسلم په يو بل روايت کي داسي دي چي زهري وايي اسلام يوه کلمه ده او ايمان د صالح عمل نوم دئ .

## د حضرت عثمان برخه

(۳۸۵۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَعْنِي يَوْمَ بَدْرٍ فَقَالَ إِنَّ عُثْمَانَ انْطَلَقَ فِي حَاجَةِ اللّٰهِ وَحَاجَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَإِنِّي أُبَايِعُ لَهُ فَضَرَبَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَهْمٍ وَلَمْ يَضْرِبْ لِأَحَدٍ غَابَ غَيْرَهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ ولاړ سو او وه یې فرمایل: عثمان ﷺ د الله ﷺ او رسول ﷺ په کار پسې تللی دئ او زه د هغه (لپاره) بیعت کوم، بیا د غنیمت په مال کي یې د هغه برخه وایستل او د هغه څخه پرته د بل سړي چي په جنګ کي شریك نه وو برخه ونه ایستل. ابوداؤد.

## یو اوښ د لسو پسو برابر دی

(۳۸۵۶): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْعَلُ فِي قَسْمِ الْغَنَائِمِ عَشْرًا مِنَ الشَّاءِ بِبَعِيرٍ . رواه النسائي .

د حضرت رافع بن خدیج ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د غنیمت د مال په ویشلو کي لس پسونه او یو اوښ برابر کړي. نسائي.

## په مخکنیو امتو کي د غنیمت مال اسماني اور سوځی

(۳۸۵۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَقَالَ لِقَوْمِهِ لَا يَتْبَعْنِي رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ بِهَا وَلَا أَحَدٌ بَنَى بُيُوتًا وَلَمْ يَرْفَعْ سُقُوفَهَا وَلَا أحل اشْتَرَى غَنَمًا أَوْ خَلِفَاتٍ وَهُوَ يَنْتَظِرُ وِلَادَهَا فَغَزَا فَدَنَا مِنَ الْقَرْيَةِ صَلَاةَ الْعَصْرِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ فَقَالَ لِلشَّمْسِ إِنَّكِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ اللّٰهُمَّ احْبِسْهَا عَلَيْنَا فَحُبِسَتْ حَتَّى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فجمع الْغَنَائِمَ فَجَاءَتْ يَعْنِي النَّارَ لِتَأْكُلَهَا فَلَمْ تَطْعَمْهَا فَقَالَ إِنَّ فِيكُمْ غُلُولًا فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهِ فَقَالَ فِيكُمُ الْغُلُولُ فَجَاءُوا بِرَأْسٍ مِثْلِ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنَ الذَّهَبِ فَوَضَعُوهَا فَجَاءَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْهَا ، وفي رواية فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په انبیاؤو کي یو نبي (یعني یوشع بن نون) د جهاد اراده وکړه او خپل قوم ته یې وویل: هغه سړي دي زما سره نه ځي چي هغه اوس نکاح کړې وي او د خپلي ښځي سره یې جماع نه وي کړې او هغه سړی دي هم زما سره نه ځي چي هغه کور جوړ کړی وي او پر هغه یې بام نه وي اچولی، او هغه سړی دي هم زما سره نه ځي چي هغه بلاربي میږې او اوښې رانیولې وي او هغه د هغو د لنګېدو په انتظار کي وي، بیا دا نبي د جهاد لپاره روان سو او مازدیګر هغه ابادۍ ته نژدې سو چي په هغه کي د جهاد یا حملې کولو اراده یې وه او ویل یې اې لمره! ته هم د الله مامور یې او زه هم د الله مامور یم، اې الله! ته دا لمر بند کړې، نو الله تعالی لمر بند کړ

لِأَحَدٍ قَبْلَنَا ثُمَّ أَحَلَّ اللّٰهُ لَنَا الْغَنَائِمَ رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَأَحَلَّهَا لَنَا . متفق عليه.

تر څو چي الله تعالی هغه نبي ته فتح ورکړه ، بیا یې د غنیمت مال جمع کړ، اور راغلی مګر د غنیمت مال یې ونه سوځی (په پخوانیو امتونو کي دا رواج وو چي د غنیمت مال به یې جمع کړ په ځنګل کي به یې کېښېښود د آسمان د لوري به اور راغلی او هغه به یې وسوځی او دا دقبولیت نښه وه) هغه نبي خلکو ته وفرمایل : په تاسو کي چا د غنیمت په مال کي خیانت کړی دئ ، تاسو ته پکار ده چي د هري قبیلې څخه یو یو سړي زما څخه بیعت وکړي (بیعت پیل سو) او د یوه سړي لاس د هغه نبي دلاس سره ومونښتی، هغه نبي ورته وفرمایل : ستا په قبیله کي خیانت دئ بیا د هغه قبیلې خلکو د سروزرو یو سر راوړ چي د غوایي د سر په ډول وو او هغه یې کېښېښود ، اور راغلئ او هغه یې وسوځئ ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زموږ څخه وړاندي د هیڅ امت لپاره د غنیمت مال حلال نه وو بیا الله تعالی زموږ لپاره غنیمتونه حلال کړل ځکه چي الله تعالی زموږ کمزوري او عاجزي ته وکتل نو د غنیمت مال یې زموږ لپاره حلال کړ . بخاري او مسلم .

### د غنیمت په مال کي خیانت کونکی دوږخي دی

(۳۸۵۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ أَقْبَلَ نَفَرٌ مِنْ صَحَابَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا فُلَانٌ شَهِيدٌ وَّ فُلَانٌ شَهِيدٌ حَتَّى مَرُّوا عَلَى رَجُلٍ فَقَالُوا فُلَانٌ شَهِيدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَّا إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِي بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ ثَلَاثًا قَالَ فَخَرَجْتُ فَنَادَيْتُ أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ ثَلٰثًا. رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي حضرت عمر ﷺ ما ته دا واقعه بیان کړل چي د خیبر د فتح په ورځ یو څو صحابهٔ کرام راغلل او هغوئ ویل پیل کړل چي فلانی سړی شهید دئ او فلانی سړی شهید دئ (یعني نن فلانی او فلانی سړی شهید) تر څو چي هغوئ د یو سړي د مړي سره تیر سول او وه یې ویل : فلانی سړی شهید دئ ، رسول الله ﷺ (د دې په اوریدو سره) وفرمایل : هیڅکله نه ، ما دا سړی په دوږخ کي لیدلی دئ ، ده دغنیمت د مال څخه یو څادر او یوه کمبله پټه کړي ده ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : اې دخطاب زویه ! ولاړ سه او د خلکو په منځ کي دري واره اعلان وکړ چي په جنت کي به یوازي پوره ایمان والا داخلیږي ، عمر بن خطاب ﷺ وایي زه ولاړم او دري واره مي اعلان وکړ چي په جنت کي به یوازي پوره ایمان والا داخلیږي . مسلم .

# بَابُ الْجِزْيَةِ (د جزیې بیان)

## لومړی فصل

### د مجوسیانو څخه جزیه اخیستل کیدای سي

(۳۸۵۹): عَنْ بَجَالَةَ قَالَ كُنْتُ كَاتِبًا لِجَزْءِ بْنِ مُعَاوِيَةَ عَمِّ الْأَحْنَفِ فَأَتَانَا كِتَابُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَبْلَ مَوْتِهِ بِسَنَةٍ فَرِّقُوا بَيْنَ كُلِّ ذِي مَحْرَمٍ مِنَ الْمَجُوسِ وَلَمْ يَكُنْ عُمَرُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ مِنَ الْمَجُوسِ حَتَّى شَهِدَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا مِنْ مَجُوسِ هَجَرَ. رواه البخاري و ذكر حديث بريدة اذا امر اميرا على جيش في باب الكتاب الى الكفار

د حضرت بجاله ؓ څخه روایت دئ چي زه د جزء بن معاویه منشي وم چي د احنف اکا دئ، موږ ته د حضرت عمر ؓ یو لیك د هغه د وفات څخه یو کال ترمخه راغلئ چي په هغه کي لیکلي وه د مجوسیانو څخه ذي محرم بیل کړئ په مجوسیانو کي ذي محرم یعني مور، لور وغیره هغه تولي ښځي حلالي وي چي هغه په اسلام کي حرامي دي او مجوسیانو به نکاح د محارمو رواه ګڼل، حضرت عمر ؓ د خپل خلافت په ورخو کي دا حکم جاري کړ چي کومي محرمي ښځي د مجوسیانو په نکاح کي وي هغه بیلي کړئ. بجاله وايي حضرت عمر ؓ به د مجوسیانو جزیه نه اخیستل، کله چي عبدالرحمن بن عوف دا شاهدي ورکړه چي رسول الله ﷺ د هجر (د یو ځای نوم) د مجوسیانو څخه جزیه اخیستې ده، نو حضرت عمر ؓ هم جزیه ځیني واخیستل. بخاري او د بريدة حديث اذا مر امير على اجش، د کتاب الي الکفار په باب کي بیان سوی دئ.

## دویم فصل

### د جزیې اندازه

(۳۸۶۰): عَنْ مُعَاذٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ يَعْنِي مُحْتَلِمًا دِينَارًا أَوْ عِدْلَهُ مِنَ الْمَعَافِرِيِّ ثِيَابٌ تَكُونُ بِالْيَمَنِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت معاذ ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ هغه یمن ته ولیږئ نو دا حکم یې ورکړ چي دهر بالغ سړي څخه به په جزیه کي یو دنیار اخلئ یا د یو دینار تو کر چي په یمن کي تیاریږي، ابوداؤد.

**پر مسلمانانو جذیه واجب نه ده**

(۳۸۶۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصْلُحُ قِبْلَتَانِ فِي أَرْضٍ واحدة وَلَيْسَ عَلَى مُسْلِمٍ جِزْيَةٌ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه ښخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په یوه مځکه کي دوې قبیلې صحیح نه دي (یعني په یوه خای کي د دوو مذهبو خلکو اوسیدل صحیح نه دي) او پر مسلمانانو جزیه واجب نه ده . احمد ، ترمذي او ابوداؤد .

**پر جزیه صلح**

(۳۸۶۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ إِلَى أُكَيْدِرِ دُوْمَةَ فَأَخذ فَأَتَوْهُ بِهِ فَحَقَنَ لَهُ دَمَهُ وَصَالَحَهُ عَلَى الْجِزْيَةِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت انس رضی الله عنه ښخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه د دومه پاچا اکیدر ته ولیږئ ، خالد او د هغه ملګرو اکیدر ونیوئ او رسول الله ﷺ ته یې راوستئ، رسول الله ﷺ د هغه وینه توی نه کړه (معاف یې کړی) او پر جزیه یې د هغه سره صلح وکړه . ابوداؤد .

**د یهود او نصارا ښخه د تجارت پر مال باندي د محصول اخیستو مسئله**

(۳۸۶۳): وَعَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ جَدِّهِ أَبِي أُمِّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الْعُشُوْرُ عَلَى الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارَى وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ عُشُوْرٌ . رواه ابوداؤد.

حضرت حرب بن عبید الله د خپل نیکه ښخه او هغه د خپل پلار ښخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: لسمه برخه (په مال او تجارت کي) پر یهودو واجب ده ، او پر مسلمانانو نسته . ابوداؤد .

**پر ذمیانو د معاهدې شرائط په زور پوره کیدای سي**

(۳۸۶۴): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا نَمُرُّ بِقَوْمٍ فَلَا هُمْ يُضَيِّفُوْنَا وَلَا هُمْ يُؤَدُّوْنَ مَا لَنَا عَلَيْهِمْ مِنَ الْحَقِّ وَلَا نَحْنُ نَأْخُذُ مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ أَبَوْا إِلَّا أَنْ تَأْخُذُوا كَرْهًا فَخُذُوا . رواه الترمذي

د حضرت عقبة بن عامر رضی الله عنه ښخه روایت دئ چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! موږ (جهاد ته د تللو په وخت کي) پر داسي خلکو تیریږو چي نه خو زموږ میلمستیا کوي او نه هغه حق ادا کوي چي زموږ لپاره پر هغوئ واجب دئ او موږ یې په زور نه ښیني اخلو، رسول الله ﷺ وفرمایل : که هغوئ د ورکړي ښخه انکار وکړي یا ستاسو مرسته ونه کړي نو تاسو په زور د هغوئ ښخه خپل حق تر لاسه کولای سئ . ترمذي .

## دریم فصل

**پر ذمیانو باندې د محصول سربیره د مسلمانانو میلمستیا هم لازمه ده**

(۳۸۶۵): عَنْ اَسْلَمَ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ضَرَبَ الْجِزْيَةَ عَلَى اَهْلِ الذَّهَبِ اَرْبَعَةَ دَنَانِيرَ وَعَلَى اَهْلِ الْوَرِقِ اَرْبَعِينَ دِرْهَمًا مَعَ ذٰلِكَ اَرْزَاقُ الْمُسْلِمِينَ وَضِيَافَةُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ . رواه مالك .

د حضرت اسلم ﷺ څخه روایت دئ چې حضرت عمر بن خطاب ﷺ پر هغه خلکو چې سره زر یې درلودل څلور دینار جزیه و ټاکل ، او د کومو خلکو سره چې سپین زر وه نو څلوېښت درهمه یې ورته وټاکل ، ددې څخه پرته پر هغوئ یې دا هم واجب کړې وه چې هغوئ د مسلمانانو میلمستیا کوي . مالك .

## بَابُ الصُّلْحِ (د صلحې بیان)

## لومړی فصل

**د حدیبې صلح**

(۳۸۶۶): عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَمَرْوَانَ ابْنِ الْحَكَمِ قَالَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي بِضْعَ عَشَرَةَ مِائَةٍ مِّنْ اَصْحَابِهِ فَلَمَّا اَتٰى ذَا الْحُلَيْفَةِ قَلَّدَ الْهَدْىَ وَ اَشْعَرَ وَ اَحْرَمَ مِنْهَا بِعُمْرَةٍ وَّسَارَ حَتّٰى اِذَا كَانَ بِالثَّنِيَّةِ الَّتِي يُهْبَطُ عَلَيْهِمْ مِنْهَا بَرَكَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ فَقَالَ النَّاسُ حَلْ حَلْ خَلَاَتِ الْقَصْوَاءُ خَلَاَتِ الْقَصْوَاءُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا خَلَاَتِ الْقَصْوَاءُ وَمَا ذَاكَ لَهَا بِخُلُقٍ وَلٰكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيلِ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَسْاَلُونِي خُطَّةً يُعَظِّمُونَ فِيهَا حُرُمَاتِ اللّٰهِ اِلَّا اَعْطَيْتُهُمْ اِيَّاهَا ثُمَّ زَجَرَهَا فَوَثَبَتْ فَعَدَلَ عَنْهُمْ حَتّٰى نَزَلَ بِاَقْصَى الْحُدَيْبِيَةِ عَلٰى ثَمَدٍ قَلِيلِ الْمَاءِ يَتَبَرَّضُهُ النَّاسُ تَبَرُّضًا فَلَمْ يُلَبِّثْهُ النَّاسُ حَتّٰى نَزَحُوهُ وَشُكِيَ

د حضرت مسور بن مخرمه او مروان بن حکم (رض) څخه روایت دئ چې د حدیبې په کال نبي کریم ﷺ تقریبا د زرو صحابه کرامو سره روان سو ، کله چې ذوالخلیفه ته ورسیدل نو د خپل قربانۍ د حیوانانو په غاړه کې یې پټې وترل اشعار (یعني قوب زخمي کول چې دا د قربانۍ نښه ده) دا یې وکړل ، او د ذوالحلیفه څخه یې د عمرې احرام وتړئ ، او بیا مخ ته روان سول ، کله چې ثنیه نامې ځای ته ورسیدل نو د رسول الله ﷺ اوښه کښېنستل خلکو چغې کړې حل حل (دا د اوښ د پورته کولو لپاره الفاظ دئ) قصوا اړې کوي قصوا اړې کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل: قصوا اړې نه کوي او نه د هغې د اړې

إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَطَشُ فَانْتَزَعَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ ثُمَّ أَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهُ فِيهِ فَوَاللّٰهِ مَا زَالَ يَجِيشُ لَهُمْ بِالرِّيِّ حَتَّى صَدَرُوا عَنْهُ فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ جَاءَ بُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ الْخُزَاعِيُّ فِي نَفَرٍ مِنْ خُزَاعَةَ ثُمَّ أَتَاهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ وَسَاقَ الْحَدِيثَ إِلَى أَنْ قَالَ إِذْ جَاءَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكْتُبْ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالَ سُهَيْلٌ وَاللّٰهِ لَوْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ مَا صَدَدْنَاكَ عَنِ الْبَيْتِ وَلَا قَاتَلْنَاكَ وَلَكِنِ اكْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ إِنِّي لَرَسُولُ اللّٰهِ وَإِنْ كَذَّبْتُمُونِي اكْتُبْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ فَقَالَ سُهَيْلٌ وَعَلَى أَنْ لَا يَأْتِيَكَ مِنَّا رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ عَلَى دِينِكَ إِلَّا رَدَدْتَهُ عَلَيْنَا فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قَضِيَّةِ الْكِتَابِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ قُومُوا فَانْحَرُوا ثُمَّ احْلِقُوا ثُمَّ جَاءَهُ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ الاية فَنَهَاهُمُ اللّٰهُ تَعَالَى أَنْ يَرُدُّوهُنَّ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرُدُّوا الصَّدَاقَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَجَاءَهُ أَبُو بَصِيرٍ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ وَهُوَ مُسْلِمٌ فَأَرْسَلُوا فِي طَلَبِهِ رَجُلَيْنِ فَدَفَعَهُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ فَخَرَجَا بِهِ حَتَّى إِذَا بَلَغَا ذَا الْحُلَيْفَةِ نَزَلُوا يَأْكُلُونَ مِنْ تَمْرٍ لَهُمْ فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ لِأَحَدِ الرَّجُلَيْنِ وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَرَى سَيْفَكَ هَذَا يَا فُلَانُ جَيِّدًا أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْهِ فَأَمْكَنَهُ مِنْهُ فَضَرَبَهُ حَتَّى بَرَدَ وَفَرَّ الْآخَرُ حَتَّى أَتَى الْمَدِينَةَ فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ يَعْدُو فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَأَى هَذَا ذُعْرًا فَقَالَ قُتِلَ وَاللّٰهِ صَاحِبِي وَإِنِّي لَمَقْتُولٌ فَجَاءَ أَبُو بَصِيرٍ فَقَالَ النَّبِيُّ

كولو عادت دئ ، د فيل راګرځونكي وګرځول ، (ابرهه چي كوم وخت د كعبې ورانولو اراده وكړه نو د لښكر سره روان سو كله چي دغه ځاى يعني ذالمحارمين ته راورسيدل نو د هغه فيل ودرول سو ، او د مكې په لور نه تلئ بيا چي فيل يې بل لوري ته وګرځوئ نو روان سو ددې پېښې په لور دا اشاره ده ) بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دې مې قسم وي چي د هغه په واك كي زما ساه ده ، قريش كه زما څخه داسې خبره و غواړي چي په هغه كي د الله تعالى د حرم عظمت وي نو زه به هغه قبوله كړم ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ اوښه كښېنول، او دمكې لار يې پرېښودل پر بل لور روان سول ، تر څو چي د حديبيه آخري غاړې ته د رسيدو سره چي هلته لږ اوبه ولاړې وې ودرېدل ، خلكو د هغه دم څخه لږ لږ اوبه اخيستل پيل كړل تر څو چي په لږ وخت كي دم خالي سو ، بيا يې رسول الله ﷺ ته د تندې شكايت وكړ ، رسول الله ﷺ د خپل تركش (د غشو د كڅوړې) څخه يو غشي راوكښى او صحابه كرامو ته يې حكم وكړ چي غشي په اوبو كي وغورځوي ، قسم په الله اوبه په دم كي په جوش راغلې او ټول يې په اوبو اوبه كړل تر څو چي په اوبو اخيستلو سره ټول خلك ولاړل غرض دا چي صحابه كرام په دې حال كي وه چي د قريشو د كفارو د لورې د صلح پيغام سره بديل بن ورقاء خزاعي د خپل قوم د خلكو سره راغلئ ، بيا عروه بن مسعود د رسول الله ﷺ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلُ أُمِّهٖ مِسْعَرَ حَرْبٍ لَوْ كَانَ
لَهٗ أَحَـ فَلَمَّا سَمِعَ ذٰلِكَ عَرَفَ أَنَّهٗ سَيَرُدُّهٗ إِلَيْهِمْ
فَخَرَجَ حَتّٰى أَتَى سِيفَ الْبَحْرِ قَالَ وَانْفَلَتَ أَبُو
جَنْدَلِ بْنُ سُهَيْلٍ فَلَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ فَجَعَلَ لَا يَخْرُجُ
مِنْ قُرَيْشٍ رَجُلٌ قَدْ أَسْلَمَ إِلَّا لَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ حَتّٰى
اجْتَمَعَتْ مِنْهُمْ عِصَابَةٌ فَوَاللّٰهِ مَا يَسْمَعُوْنَ بِعِيرٍ
خَرَجَتْ لِقُرَيْشٍ إِلَى الشَّامِ إِلَّا اعْتَرَضُوْا لَهَا فَقَتَلُوْهُمْ
وَأَخَذُوْا أَمْوَالَهُمْ فَأَرْسَلَتْ قُرَيْشٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُنَاشِدُهُ اللّٰهَ وَالرَّحِمَ لَمَّا أَرْسَلَ إِلَيْهِمْ
فَمَنْ أَتَاهُ فَهُوَ آمِنٌ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ . رواه البخاري.

په خدمت کي حاضر سو ، ددې څخه وروسته بخاري شریف اوږد حدیث بیان کړی دئ چي په هغه کي د قریشو د نمائندګانو خبري درج دي ، بیا یې بیان کړی دئ چي سهیل بن عمرو (د مکې نمائنده) د رسول الله ﷺ په خدمت کي د معاهدې لیکلو لپاره حاضر سو ، نو رسول الله ﷺ (حضرت علي ته) وفرمایل : ولیکه ، دا هغه معاهده ده چي په هغه کي محمد رسول الله ﷺ صلح کړې ده ، سهیل وویل : قسم په الله که موږ ته د الله رسول ګڼلای نو د بیت الله څخه به مو نه منع کولای او نه به درسره جنګیدلای ، مګر محمد بن عبدالله ولیکه ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : قسم په الله زه د الله ﷺ رسول یم ، که څه هم تاسو ما دروغجن ګڼئ ، ښه دئ اې علي ته محمد بن عبدالله ولیکه ، سهیل وویل : په دې معاهده کي دا هم ولیکئ چي په موږ کي کوم کس تاسو ته راسي که څه هم هغه ستاسو په دین وي ستاسو فرض ده چي هغه سمدستي موږ ته بیرته راکړئ ، رسول الله ﷺ دا (شرط) هم قبول کړ بیا چي معاهده ولیکل سوه ، نو رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ته وفرمایل ولاړ سئ او د خپل قرباني حیوانان حلال کړئ ، او بیا سرونه وخریاست ، ددې څخه وروسته څو مسلماني ښځي راغلې او دا آیت نازل سو : (یاایهاالذین ....) (اې مؤمنانو ! هر کله چي تاسو ته مسلماني ښځي په هجرت راسي یعني الله تعالی د هغه ښځو د بیرته استولو څخه منع وفرمایل او مسلمانانو ته یې دا حکم ورکړ که ددغه ښځو کافر خاوندانو د هغوئ مهر ادا کړی وي نو د هغوئ مهر دې بیرته ورکړل سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ مدیني ته ولاړی په لږ ورځو کي د قریشو یو سړی ابو بصیر چي مسلمان سوی وو رسول الله ﷺ ته راغلی ، قریشو د هغه په غوښتنه کي دوه خلك راولیږل ، رسول الله ﷺ ابو بصیر هغه دوو سړو ته ورکړ ، هغوئ دواړه د ابو بصیر سره مکې ته روان سول ، کله چي ذوالحلیفه ته راورسیدل نو د خپلو خرماوو خوړلو لپاره یې قیام وکړ او ابو بصیر په هغوئ کي یو سړي مخاطب کړ او ورته وه یې ویل قسم په الله اې فلانی سړیه ! زما په خیال کي ستا دا توره ډیره خوښه ده ما ته یې راښکاره کړه چي زه یې هم وګورم ، هغه سړي ابو بصیر ته د توري کتلو موقع ورکړه ، ابو بصیر په هغه توري سره وار وکړ او یخ یې کړ دویم سړي

چي ولیدل نو وتښتېدئ او مدینې ته په رسیدو سره مسجد نبوي ته په منډه داخل سو ، نبي کریم ﷺ د هغه په لیدو سره وفرمایل دی بیرې وهلی دئ ، هغه عرض وکړ قسم په الله زما ملګری قتل کړل سو او زه به هم ووژل سم ، په دغه وخت کي ابو بصیر هم راورسیدئ نو نبي کریم ﷺ هغه ته وفرمایل : ستا پر مور افسوس دئ ته ددې جنګ اور تودونکی یې ، د دې الفاظو په اوریدو سره ابو بصیر ته یقین وسو چي رسول الله ﷺ ما بیا مشرکانو ته ورکوي، نو هغه د مدینې څخه ووتئ او د دریاب په لور روان سو تر څو چي د دریاب غاړي ته ورسیدئ ، د راوي بیان دئ چي ابو جندل بن سهیل هم د کافرانو څخه راتښتېدلي وو او د ابو بصیر سره یو ځای سو ، غرض دا چي د مکې څخه به کوم مسلمان د قریشو د لاسه خلاصیدئ نو د ابو بصیر سره به یو ځای کیدی تر څو چي په یو څو ورځو کي د هغوئ څخه یوه ډله جوړه سوه ، کله چي به دې ډلې واوریدل چي د قریشو یو قافله شام ته ځي نو په هغه به پسې سول هغوئ به یې قتلول او د هغوئ مال به یې لوټ کړ ، آخر قریشو یو سړی راولیږئ رسول الله ﷺ ته یې د خپل خپلوۍ واسطه ورکولو سره دا خواست وکړ چي هغوئ ابو بصیر را وغواړي او په مدینه کي یې وساتي او «د دې څخه وروسته» زموږ د لوري چي کوم سړی تاسو ته زاسي هغه په امن کي دی او موږ ته د هغه بیرته راکولو ضرورت نسته «لکه څرنګه چي وړاندي په صلح نامه کي لیکلي وه» ، نو نبي کریم ﷺ خلك ولیږل او ابو بصیر او د هغه ملګري یې را وغوښتل چي مدینې ته راسئ . بخاري .

## د حدیبي د صلح دري شرطونه

(۳۸۶۷): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ لَمْ يَرُدُّوهُ وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ وَيُقِيمَ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَا يَدْخُلَهَا إِلَّا بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ السَّيْفِ وَالْقَوْسِ وَنَحْوِهِ فَجَاءَ أَبُو جَنْدَلٍ يَحْجُلُ فِي قُيُودِهِ فَرَدَّهُ إِلَيْهِمْ . متفق علیه

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ په ورځ د حدیبیه کي د مشرکانو سره پر درې خبرو صلح کړې وه : یو خو دا چي په مشرکانو کي کوم سړي مسلمانانو ته راسي هغه به بیرته استوي ، دویم دا چي په مسلمانانو کي کوم سړی مشرکانو ته ولاړ سي هغه به نه استول کیږي ، دریم دا چي راتلونکی کال چي مسلمانان مکې ته داخل سي صرف درې ورځي په مکه کي اوسیږي او خپل توله وسله توري ، لیندۍ وغیره به بند ساتي ، په دغه ورځو کي ابوجندل په زولنو کي ترلی راغلی نو رسول الله ﷺ هغه بیرته ورکړی . بخاري او مسلم .

(۳۸۶۸): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ قُرَيْشًا صَالَحُوا النَّبِيَّ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي قریشو د

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاشْتَرَطُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَنْ جَاءَ مِنْكُمْ لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكُمْ وَمَنْ جَاءَكُمْ مِنَّا رَدَدْتُمُوهُ عَلَيْنَا فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَكْتُبُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ إِنَّهُ مَنْ ذَهَبَ مِنَّا إِلَيْهِمْ فَأَبْعَدَهُ اللّٰهُ وَمَنْ جَاءَنَا مِنْهُمْ سَيَجْعَلُ اللّٰهُ لَهُ فَرَجًا وَمَخْرَجًا . رواه مسلم

نبي کريم ﷺ سره صلح وکړه او دا شرطونه يې کښېښودل چي که څوك ستاسي راسي موږ ته بيا به يې نه درکوو او که په موږ کي کوم سړی تاسو ته درسي تاسو به هغه موږ ته بيرته راکوئ ، (د دې شرط په اورېدو سره) صحابه کرامو وويل اې دالله رسوله! ايا دا شرطونه موږ وليکو ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هو البته کوم سړی چي زموږ څخه وتښتي هغه به الله تعالی د خپل رحمت څخه ليري کړي او کوم سړی چي د دوئ څخه موږ ته راسي کيدای سي الله تعالی پر هغه د پراختيا او خلاصون لار خلاصه کړي .مسلم.

### د ښځو بيعت

(۳۸۶۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فِيْ بَيْعَةِ النِّسَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُهُنَّ بِهٰذِهِ الْآيَةِ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ فَمَنْ أَقَرَّتْ بِهٰذَا الشَّرْطِ مِنْهُنَّ قَالَ لَهَا قَدْ بَايَعْتُكِ كَلَامًا يُكَلِّمُهَا بِهِ وَاللّٰهِ مَا مَسَّتْ يَدُهُ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ فِي الْمُبَايَعَةِ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي د ښځو د بيعت په اړه چي د بيعت لپاره به راتلې نو رسول الله ﷺ به په دې آيت سره د هغوئ امتحان اخيستئ : (يا ايها النبي ...) (اې نبي هر کله چي تاسو ته مؤمناني ښځي د بيعت لپاره حاضري سي .... الخ) په هغوئ کي هغه ښځي چي ددغه شرطونو کوم چي په دې آيت کي ذکر دي اقرار به وکړ نو رسول الله ﷺ به هغوئ ته وفرمايل : ما ستا سره بيعت وکړ او رسول الله ﷺ به د هغوئ سره خبري فرمايلې او په الله ﷻ دې مي قسم وي رسول الله ﷺ هيڅکله د يوې ښځي لاس په بيعت کي نه دی مسه کړی . بخاري او مسلم.

## دويم فصل

### د حديبيې د صلح يو نور شرطونه

(۳۸۷۰): عَنِ الْمِسْوَرِ وَمَرْوَانَ أَنَّهُمْ اصْطَلَحُوا عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِيْنَ يَأْمَنُ فِيهِنَّ النَّاسُ وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ وَلَا إِغْلَالَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت مسور او مروان (رض) څخه روايت دئ چي قريشو پر لس کاله جنګ نه کولو باندي صلح وکړه چي په دغه وخت کي به خلك په امان سره وي او دا شرط يې وکړ چي زموږ زړونه دي د چم ، فريب او فساد څخه پاك

وي، او د وفا او صلح به هر وخت خيال ساتي او دا چې زموږ په منځ کې به غلا نه په پټه وي او نه په ښکاره. ابوداؤد.

**د غير مسلمانو سره د معاهدې پر پابندي نه کولو تنبيه**

(۳۸۷۱): وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ عَنْ عِدَّةٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ آبَائِهِمْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا أَوْ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد.

حضرت صفوان بن سليم ﷺ د رسول الله ﷺ د څو اصحابو څخه او دوئ د خپلو پلرونو څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: خبردار! چا چې پر هغه چا ظلم وکړ پر ذمي يا مستامن باندې يا نقصان وکړې د هغه يا د هغه د طاقت څخه زيات تکليف ورکړ يا د هغه د خوښۍ څخه پرته يې د هغه څخه يو شی واخيست نو زه به د قيامت په ورځ دده سره دعوه کونکی يم. ابوداؤد.

**د ښځو د اجتماعي بيعت طريقه**

(۳۸۷۲): وَعَنْ أُمَيْمَةَ بِنْتِ رُقَيْقَةَ قَالَتْ بَايَعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ فَقَالَ لَنَا فِيمَا اسْتَطَعْتُنَّ وَأَطَقْتُنَّ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَرْحَمُ بِنَا مِنَّا بِأَنْفُسِنَا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ بَايِعْنَا تَعْنِي صَافِحْنَا قَالَ إِنَّمَا قَوْلِي لِمِائَةِ امْرَأَةٍ كَقَوْلِي لِامْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ .رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه ومالك في الموطأ

د حضرت اميمة بنت رقيقه (رض) څخه روايت دئ چې ما د څو ښځو سره د رسول الله ﷺ سره بيعت وکړ، رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل: (ما ستاسو څخه بيعت واخيست) ددې شي چې تاسو د هغه توان او استطاعت لرئ، ما عرض وکړ الله او د هغه رسول زموږ په حق کې تر دې زيات رحم کونکي دي خومره چې موږ پر خپلو ځانونو يو، ما بيا عرض وکړ اې دالله رسوله! زموږ څخه بيعت واخلئ، يعني زموږ سره لاس نيونه يا لاس ورکول وکړئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: زما خبرې د سلو ښځو لپاره هم هغه دي کومې چې د يوې ښځې لپاره دي (يعني زما کلام هم د بيعت لپاره کافي دي) ترمذي، نسائي، ابن ماجه او مالك.

## دريم فصل

**د حديبيې د معاهدې کتابت د رسول الله ﷺ په قلم**

(۳۸۷۳): عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ اعْتَمَرَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د ذيقعده په مياشت کې د عمرې

الْقَعْدَةِ فَأَبَى أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يَدَعُوهُ يَدْخُلُ مَكَّةَ حَتَّى قَاضَاهُمْ عَلَى أَنْ يَدْخُلَ يَعْنِيْ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ يُقِيمُ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّهِ فَقَالُوا لَا نُقِرُّ بِهَا فَلَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّهِ مَا مَنَعْنَاكَ وَ لَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّهِ فَقَالَ أَنَا رَسُولُ اللّهِ وَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّهِ ثُمَّ قَالَ لِعَلِيِّ بن ابي طالب امْحُ رَسُولُ اللّهِ قَالَ لَا وَاللّهِ لَا أَمْحُوكَ أَبَدًا فَأَخَذَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّهِ لَا يَدْخُلُ مَكَّةَ بِالسِّلَاحِ إِلَّا السَّيْفَ فِي الْقِرَابِ وَأَنْ لَا يَخْرُجَ مِنْ أَهْلِهَا بِأَحَدٍ إِنْ أَرَادَ أَنْ يَتْبَعَهُ وَأَنْ لَا يَمْنَعَ مِنْ أَصْحَابِهِ أَحَدًا انْ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ بِهَا فَلَمَّا دَخَلَهَا وَمَضَى الْأَجَلُ أَتَوْا عَلِيًّا فَقَالُوا قُلْ لِصَاحِبِكَ اخْرُجْ عَنَّا فَقَدْ مَضَى الْأَجَلُ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه

لپاره تشريف يوړ ، د مكې خلكو رسول الله ﷺ مكې ته د داخلېدو څخه منع كړ ، رسول الله ﷺ پر دې امر مصالحت (صلح) وكړه چې هغوئ به راتلونكى كال مكې ته راځي او يوازې درې ورځې به تيروي ، بيا چې د معاهدې تحرير وليكل سو نو په هغه كې د رسول الله ﷺ مبارك نوم داسې وليكل سو : هذا ما قاضى عليه محمد رسول الله (دا هغه صلحنامه ده چې محمد ﷺ پر صلح كړې ده ) ، مشركانو وويل : موږ ستاسو د رسالت اقرار نه كوو ، كه موږ دا عقيده درلودلاى چې تاسو د الله رسول ياست نو تاسو به مو د مكې څخه نه منع كولاى ، تاسو بېشكه د عبدالله زوى محمد ﷺ ياست ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه د الله رسول يم او د عبدالله زوى محمد هم يم ، بيا رسول الله ﷺ حضرت علي ﷺ ته وفرمايل : د رسول الله لفظ ايسته كړه ، حضرت علي ﷺ عرض وكړ : نه زه ستاسو نوم مبارك په خپل لاس سره هيڅكله نه سم خرابولاى ، نو رسول الله ﷺ صلح نامه د حضرت علي ﷺ د لاس څخه واخيستل او كه څه هم چې رسول الله ﷺ به ليكل نسواى كولاى داسې وليكل دا معاهده چې محمد بن عبدالله صلح پر كړې ده . (او ددې شرائط دادي) : مكې ته چې راتلونكى كال راځئ نو پرته د توري څخه هغه هم په تيكي كې بنده بل هيڅ وسله به نه راوړئ ، (۲) مكې ته د داخلېدو څخه وروسته كه دمكې يو سړى د هغوئ سره د يو ځاى كېدو اراده وكړي نو هغه به د ځان سره نه بيايي ، (۳) كه د هغوئ په ملګرو كې يو څوك په مكه كې د پاته كېدو اراده وكړي نو هغه به نه منع كوي ، راتلونكى كال چې رسول الله ﷺ مكې ته تشريف راوړ او درې ورځې تيرې سوې نو د قريشو كفار حضرت علي ﷺ ته راغلل او ورته وه يې ويل : خپل ملګري (يعني رسول الله ﷺ ) ته ووايه چې اوس زموږ د ښار څخه ولاړ سي ځكه چې وخت تير سو ، نو رسول الله ﷺ د مكې څخه روان سو . بخاري او مسلم .

# بَابُ اِخْرَاجِ الْيَهُوْدِ مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ

## (د جزيره عرب څخه د يهودو د شړلو بيان)

## لومړی فصل

### د جزيرة العرب څخه د يهودو ايستل

(۳۸۷۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ فَخَرَجْنَا حَتَّى جِئْنَا بَيْتَ الْمِدْرَاسِ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال يَا مَعْشَرَ يَهُودَ أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ الْأَرْضَ لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ وَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُجْلِيَكُمْ مِنْ هٰذِهِ الْأَرْضِ فَمَنْ وَجَدَ مِنْكُمْ بِمَالِهِ شَيْئًا فَلْيَبِعْهُ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي موږ په مسجد کي ناست وو چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل: د يهودو په لور ولاړ سئ ، موږ د رسول الله ﷺ سره روان سوو او د يهودو مدراس ته ورسېدو ، نبي کريم ﷺ د هغوئ په منځ کي ودريدئ او وه يې فرمايل: اې د يهودو ډلې ! تاسو مسلمانان سئ چي سلامت سئ

واضحه دي وي چي مځکه د الله او د هغه د رسول ده او ما دا اراده کړې ده چي زه تاسو ددې مځکي څخه وشړم ، نو تاسو د خپل مال څخه چي هر څومره خرڅ کول غواړئ خرڅ کړئ. بخاري او مسلم

(۳۸۷۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَامَ عُمَرُ خَطِيبًا فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَامَلَ يَهُودَ خَيْبَرَ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَقَالَ نُقِرُّكُمْ مَا أَقَرَّكُمُ اللّٰهُ وَقَدْ رَأَيْتُ إِجْلَاءَهُمْ فَلَمَّا أَجْمَعَ عُمَرُ عَلَى ذٰلِكَ أَتَاهُ أَحَدُ بَنِي أَبِي الْحُقَيْقِ فَقَالَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَتُخْرِجُنَا وَقَدْ أَقَرَّنَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَامَلَنَا عَلَى الْأَمْوَالِ فَقَالَ عُمَرُ أَظَنَنْتَ أَنِّي نَسِيتُ قَوْلَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ بِكَ إِذَا أُخْرِجْتَ مِنْ خَيْبَرَ تَعْدُو بِكَ قَلُوصُكَ لَيْلَةً بَعْدَ لَيْلَةٍ فَقَالَ كَانَتْ هٰذِهِ هُزَيْلَةً مِنْ أَبِي الْقَاسِمِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت عمر ﷺ خطبه وفرمايل او وه يې ويل: رسول الله ﷺ د خيبر د يهوديانو سره معامله کړې وه يعني داسي چي د هغوئ مځکي به د هغوئ سره وي او د پيداوار څخه به نيمه د هغوئ څخه اخيستل کيږئ او پر هغوئ يې جزيه هم تاکلې وه ، او دا يې فرمايلي وه موږ تاسو تر هغه وخته پوري پاته ساتو تر څو پوري چي الله تعالى تاسو پاته ساتي (يعني تر څو پوري چي ستاسو د ايستلو موږ ته حکم را نه کړي) او س زه د هغوئ د وطن څخه ايستل مناسب گڼم، بيا چي حضرت

فَقَالَ كَذَبْتَ يَا عَدُوَّ اللّٰهِ فَأَجْلَاهُمْ عُمَرُ وَأَعْطَاهُمْ قِيمَةَ مَا كَانَ لَهُمْ مِنَ الثَّمَرِ مَالًا وَإِبِلًا وَعُرُوضًا مِنْ أَقْتَابٍ وَحِبَالٍ ذٰلِكَ . رواه البخاري.

عمر ﷺ د يهوديانو د ايستلو اراده وكړه نو د قبيله ابو الحقيقي يو سړي د هغوئ په خدمت كي حاضر سواو عرض يې وكړ اې امير المؤمنين ! آيا تاسو موږ باسئ ؟ حال دا چي رسول الله ﷺ موږ پر ايښي يو او پر مال يې زموږ سره معامله كړې وه ، حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل : آيا ته دا خيال كوې چي ما د رسول الله ﷺ دا قول هير كړ چي تا ته يې فرمايلي وه يعني دا چي هغه وخت به ستا څه حال وي كوم وخت چي ته د خيبر څخه شپه په شپه وايستل سې ، او ستا اوښه به ستاسره ځغلي ، هغه يهودي وويل چي ابو القاسم (رسول الله ﷺ) دا خبره د مسخرو په توګه كړې وه ، حضرت عمر ﷺ ورته وويل د الله دښمنه ! ته درواغجن يې ، بيا حضرت عمر ﷺ يهود د وطن څخه وايستل او د هغوئ د ميوو وغيره په قيمت كي يې مال ، اوښان او اسباب يعني رسۍ وغيره وركړې . بخاري .

**د مشركانو د جزيره عرب څخه د ايستلو رسول الله ﷺ وصيت**

(٣٨٧٦): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْصَى بِثَلَاثَةٍ قَالَ اَخْرِجُوا الْمُشْرِكِيْنَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ اُجِيزُهُمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ اَوْ قَالَ نَسِيتُهَا. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ (د وفات پر وخت) د درو خبرو وصيت وفرمايه : (١) يو خو دا چي يهوديان د جزيره عرب څخه وايستل سي (٢) دويم دا چي د قاصدانو سره داسي چلن كوئ لكه څرنګه چي ما كوئ ابن عباس وويل او په دريمه خبره كي هغوئ ﷺ پټه خوله سو ، يا ابن عباس وويل چي دريمه خبره زما څخه هيره سوه . بخاري او مسلم .

**د جزيره عرب څخه د يهود او نصارا جلا وطني**

(٣٨٧٧): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ حَتَّى لَا اَدَعَ فِيهَا اِلَّا مُسْلِمًا . رواه مسلم ، و في رواية لَئِنْ عِشْتُ اِنْشَاءَ اللّٰهُ لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ .

د حضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت عمر بن خطاب ﷺ ما ته بيان وكړ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي زه به خامخا يهود او نصارا د جزيره عرب څخه باسم تر دي چي د مسلمان څخه پرته به هيڅوك نه پريږدم. مسلم . او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دا وفرمايل : كه زه ژوندى پاته سوم ان شاء الله يهود او نصارا به د جزيره عرب څخه باسم .

## دوهم فصل

لَيْسَ فِيْهِ إِلاَّ حَدِيْثُ ابْنِ عَبَّاسٍ " لاَ تَكُوْنُ قِبْلَتَانِ " وَقَدْ مَرَّ فِيْ بَابِ الْجِزْيَةِ.

په دې فصل کې يوازې يو حديث د ابن عباس ﷺ وو چې هغه (لا تکون قبلتان) دی او هغه موړ په باب الجزية کې بيان کړی دئ .

## دريم فصل

**د حضرت عمر ﷺ په لاس د حجاز څخه د يهود او نصاراوو ايستل**

(۳۸۷۸): عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَجْلَى الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ عَلٰى اهل خَيْبَرَ أَرَادَ إِخْرَاجَ الْيَهُوْدِ مِنْهَا وَكَانَتْ الْأَرْضُ لَمَّا ظَهَرَ عَلَيْهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ فَسَأَلَ الْيَهُوْدُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتْرُكَهُمْ عَلٰى أَنْ يَكْفُوا الْعَمَلَ وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُقِرُّكُمْ عَلٰى ذٰلِكَ مَا شِئْنَا فَأُقِرُّوا حَتّٰى أَجْلَاهُمْ عُمَرُ فِيْ اِمَارَتِهِ إِلٰى تَيْمَاءَ وَأَرِيْحَاءَ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې عمر بن خطاب ﷺ يهود او نصارا د حجاز د مځکي يعني جزيره عرب څخه و ايستل او کله چې رسول الله ﷺ پر خيبر غلبه تر لاسه کړه نو د خيبر څخه د يهودو د ايستلو اراده يې وکړه، ځرنګه چې پر خيبر باندې د قبضې راوستلو څخه وروسته اوس هغه د الله ، د هغه د رسول او د تولو مسلمانانو وو ، يهودو (د رسول الله ﷺ د ارادې معلومولو لپاره) عرض وکړ که په دې شرط هغوئ ته د پاته کېدو اجازه ورکړل سي نو غوره به وي چې د زراعت کار به هغوئ کوي او حاصلات به نيم رسول الله ﷺ ته ورکوي . (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ ددې شرط سره سم تر څو پورې چې زموږ زړه غواړي تاسو پرېږدو نو هغوئ ته اجازه ورکړل سوه ، بيا حضرت عمر ﷺ د خپل خلافت په دور کې هغوئ د تيما او اريحا په لور جلا وطنه کړل . بخاري او مسلم

# بَابُ الْفَيْءَ (د کفارو څخه پرته د جنګ څخه د تر لاسه سوي مال بيان)

## لومړی فصل

د فئ د مال مصرف

(۳۸۷۹): عَنْ مَالِكِ بْنِ اَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ قَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ خَصَّ رَسُوْلَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْفَيْءِ بِشَيْءٍ لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا غَيْرَهُ ثُمَّ قَرَءَ مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلَى رَسُوْلِهِ مِنْهُمْ اِلَى قَوْلِهِ قَدِيْرٌ فَكَانَتْ هَذِهِ خَالِصَةً لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ ثُمَّ يَأْخُذُ مَا بَقِيَ فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ مَالِ اللّٰهِ . متفق عليه .

د حضرت مالک بن اوس بن حدثان ﷺ څخه روايت دئ چي عمر بن خطاب ﷺ وفرمايل: الله تعالى د غنيمت څخه يو خاص شی د خپل رسول لپاره ټاکلی وو چي هغه بل چا ته نه وو ورکړل سوی ، بيا حضرت عمر ﷺ دا آيت تلاوت کړ (ما افاء الله على رسوله منهم ...الى قدير.) نو دا مال يوازي د پيغمبر لپاره وو ، رسول الله ﷺ به دا پر خپل کورني مصرف کوئ ، او د کالو خرڅ به يې ددې مال څخه ايستئ ، بيا چي څومره به پاته سول هغه به يې د الله تعالى مال ګرځولو سره د مسلمانانو په مصلحتونو کي خرڅ کوئ. بخاري او مسلم.

(۳۸۸۰): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيْرِ مِمَّا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلَى رَسُوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا لَمْ يُوْجِفْ الْمُسْلِمُوْنَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ . متفق عليه.

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي د بني نضير يهودو مال ددې دول څخه وو چي هغه الله تعالى خپل رسول ته ورکړی وو . ددې لپاره مسلمانانو نه آسان ځغلولي وه نه اوښان (يعني دا مال بېله تکليفه په لاس ورغلی)، له دې کبله دا مال د رسول الله ﷺ لپاره خاص سو، چي رسول الله ﷺ به د کال لپاره پر خپل کورني مصرف کوئ او څه چي به پاته سول هغه به يې د وسلې او حيوانانو په رانيولو مصرف کول چي د الله تعالى په لار کي په تياری او سامان کي پکار راسي. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

د رسول الله ﷺ له خوا د فئ د مال تقسيم

(۳۸۸۱): عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عوف بن مالک ﷺ څخه روايت دئ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَتَاهُ الْفَيْءُ قَسَمَهُ فِي يَوْمِهِ فَأَعْطَى الْآهِلَ حَظَّيْنِ وَأَعْطَى الْعَزَبَ حَظًّا فَدُعِيتُ فَأَعْطَانِي حَظَّيْنِ وَكَانَ لِي أَهْلٌ ثُمَّ دُعِيَ بَعْدِي عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ فَأَعْطَى حَظًّا وَاحِدًا . رواه ابوداؤد.

چي رسول الله ﷺ ته به د يو ځای څخه د فئ مال (بې جنګه د غنيمت مال) راغلئ نو رسول الله ﷺ به هغه په هغه ورځ کور داره يعني د ښځي خاوند ته به يې دوې برخي ورکولې او بې واده ته به يې يوه برخه ورکول ، يو وار زه را وغوښتل سوم او ما ته يې دوې برخي راکړې ځکه چي زما ښځه وه ، زما څخه وروسته عمار بن ياسر را وغوښتل سوَ او هغه ته يې يوه برخه ورکړه (ځکه چي هغه واده نه وو کړی) . ابوداؤد .

(۳۸۸۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ مَا جَاءَهُ فَيْءٌ بَدَأَ بِالْمُحَرَّرِينَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي ما وليدل چي رسول الله ﷺ ته د فئ مال راغلئ نو رسول الله ﷺ به تر ټولو مخکي هغه خلکو ته ورکوئ چي هغوئ به د غلامۍ څخه ازاد کړل سوي وه . ابوداؤد .

(۳۸۸۳): وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِظَبْيَةٍ فِيهَا خَرَزٌ فَقَسَمَهَا لِلْحُرَّةِ وَالْأَمَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ أَبِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقْسِمُ لِلْحُرِّ وَالْعَبْدِ . رواه ابوداؤد

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ته يوه کڅوړه راوړل سوه چي د غميانو څخه ډکه وه ، رسول الله ﷺ هغه غميان په آزادو او مينځو باندي وويشل ، د بي بي عائشي بيان دئ چي زما پلار (ابوبکر صديق ﷺ) به په آزاد او غلامانو دواړو باندي ويشل . ابوداؤد .

**د فئ د مال په وېشلو کي د مرتبو لحاظ**

(۳۸۸۴): وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَوْمًا الْفَيْءَ فَقَالَ مَا أَنَا أَحَقُّ بِهٰذَا الْفَيْءِ مِنْكُمْ وَمَا أَحَدٌ مِنَّا بِأَحَقَّ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا أَنَّا عَلَى مَنَازِلِنَا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَقَسْمِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالرَّجُلُ وَقِدَمُهُ وَالرَّجُلُ وَبَلَاؤُهُ وَالرَّجُلُ وَعِيَالُهُ وَالرَّجُلُ وَحَاجَتُهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت مالك بن اوس بن حدثان ﷺ څخه روايت دئ چي يو وار حضرت عمر ﷺ د فئ د مال ذکر وفرمايه او وه يې ويل چي زه د فئ د مال تر تاسو زيات حقدار نه يم او نه په موږ کي يو سړی د دې مال تر بل زيات مستحق دئ بلکه د کتاب الله او د رسول الله ﷺ د ويش سره سم زموږ درجې او مرتبې دي ، يو سړی دي او د هغه قدامت يو سړی دئ او د هغه ميړانه ، کوښښ يو سړی وي او د هغه کورنۍ دي يو سړی وي او د هغه ضرورت او حاجت دئ (يعني هر سړي ته د هغه د مرتبې او ضرورت سره سم ورکول کيږي) . ابوداؤد.

(۳۸۸۵): وَعَنْهُ قَالَ قَرَأَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِيْنِ حَتّٰى بَلَغَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ فَقَالَ هٰذِهٖ لِهٰؤُلَاءِ ثُمَّ قَرَأَ وَاعْلَمُوْا أَنَّ مَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ حَتّٰى بَلَغَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ثُمَّ قَالَ هٰذِهٖ لِهٰؤُلَاءِ ثُمَّ قَرَأَ مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى حَتّٰى بَلَغَ لِلْفُقَرَاءِ ثُمَّ قَرَأَ وَالَّذِيْنَ جَاؤُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ ثُمَّ قَالَ هٰذِهٖ اسْتَوْعَبَتِ الْمُسْلِمِيْنَ عَامَّةً فَلَئِنْ عِشْتُ فَلَيَأْتِيَنَّ الرَّاعِيَ وَهُوَ بِسَرْوِ حِمْيَرَ نَصِيْبُهٗ مِنْهَا لَمْ يَعْرَقْ فِيْهَا جَبِيْنُهٗ .رواه في شرح السنة

د حضـرت مالـك بـن اوس بـن حـدثان ﷺ څخـه روایت دئ چي حضرت عمر بن خطاب ﷺ دا آیت تـلاوت کـړ (انمـا الصـدقات للفقـراء ....) او تـر (علیم حکیم) پوري یې تلاوت کړ، بیا یې دا آیت تلاوت کړ (واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه ...... ابـن السـبیل) پـوري ، او وه یـې فرمایل : د غنیمت مال دا پنځمه برخه چي کوم په آیت کي ذکر ده د قربانو لپاره ده ، بیا یې دا آیـت وفرمایـه : (مـا افـاه الله علـی رسـوله ...... والـذین جـاموا مـن بعـدهم) پـوري، او وه یـې فرمایل دغه آیت ټول مسلمانان پوره کړل که زه ژوندی پاته سوم نو شپون ته به هم د هغه برخه ورسیږي چي په بسر او حمیر کي دي ، د فې د مال څخه چي د هغه لپاره به د هغه پر تندي خوله نوي راغلي . شرح السنه .

**د حضرت عمر ﷺ د فدک په قضیه کي استدلال**

(۳۸۸۶): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ فِيْمَا احْتَجَّ بِهٖ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنْ قَالَ كَانَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ صَفَايَا بَنُو النَّضِيْرِ وَخَيْبَرُ وَفَدَكُ فَأَمَّا بَنُو النَّضِيْرِ فَكَانَتْ حُبُسًا لِنَوَائِبِهٖ وَأَمَّا فَدَكُ فَكَانَتْ حُبُسًا لِأَبْنَاءِ السَّبِيْلِ وَأَمَّا خَيْبَرُ فَجَزَّأَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ جُزْأَيْنِ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَجُزْءًا نَفَقَةً لِأَهْلِهٖ فَمَا فَضَلَ عَنْ نَفَقَةِ أَهْلِهٖ جَعَلَهٗ بَيْنَ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ . رواه ابوداؤد.

د حضـرت مالـك بـن اوس بـن حـدثان ﷺ څخـه روایت دئ چي د فدك په قبضه کي حضرت عمر ﷺ دده خبري دلیـل ووایـه چـي د رسـول الله ﷺ سره دري صفایا وې یعني دري داسي شیان وه چي رسول الله ﷺ د غنیمت څخه خاص کړي وه : یـو خـو د نبـي کـریم ﷺ نضیـر امـلاك ، ، دویـم د خیبر مځکه، دریم پـه فـدك کي د بني نضیر د مځکي حاصلات به د رسول الله ﷺ پر ذات خاص مصرف کېدل یعني د رسول الله ﷺ پر میلمنو، وسلو ، حیوانانو وغیره به رانیولو د فدك حاصلات د مسافر د مرستي لپاره خاص وه او دخیبر حاصلات رسول الله ﷺ دري برخي کړي وه دوې برخي پر مسلمانانو مصرف کېدل او یوه برخه د کورني لپاره خاص وه ، او د بیبیانو د مصارفو څخه چي به څومره پاته سول هغه به د فقراؤو مهاجرینو لپاره وه . ابوداؤد .(صفایا : هغه فئ مال ته وایي چي رسول الله ﷺ د خان لپاره چن کړي او خاص کړي وه ) .

## دریم فصل

### د قضیه فدک تفصیل

(۳۸۸۷): عَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ اَنَّ عُمَرَ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ جَمَعَ بَنِي مَرْوَانَ حِينَ اسْتُخْلِفَ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ فَدَكُ فَكَانَ يُنْفِقُ مِنْهَا وبعون منها عَلَى صَغِيرِ بَنِي هَاشِمٍ وَيُزَوِّجُ مِنْهَا أَيِّمَهُمْ وَإِنَّ فَاطِمَةَ سَأَلَتْهُ أَنْ يَجْعَلَهَا لَهَا فَأَبَى فَكَانَتْ كَذَلِكَ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ فَلَمَّا أَنْ وُلِّيَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَمِلَ فِيهَا بِمَا عَمِلَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَيَاتِهِ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ فَلَمَّا أَنْ وُلِّيَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَمِلَ فِيهَا بِمِثْلِ مَا عَمِلَا حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ ثُمَّ أَقْطَعَهَا مَرْوَانُ ثُمَّ صَارَتْ لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَرَأَيْتُ أَمْرًا مَنَعَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام لَيْسَ لِي بِحَقٍّ وَأَنَا أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ رَدَدْتُهَا عَلَى مَا كَانَتْ يَعْنِي عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت مغیره ﷺ څخه روایت دئ چي کله عمر بن عبدال خلیفه سو نو هغه د مروان زامن راجمع کړل او ورته وه یې ویل: د رسول الله ﷺ سره فدك وو چي د هغه د آمدنی څخه هغوئ پر خپل کورنی خرڅ کوئ او د بنوهاشم کوچنیانو ته به یې ورکولو او د مجرد (بې وداه) نر او ښځي نکاح به یې کول، یو وار بي بي فاطمې رسول الله ﷺ نه خواست وکړ چي فدك دي هغې ته ورکړل سي مگر رسول الله ﷺ انکار ور څخه وکړ، د رسول الله ﷺ په ژوند مبارك کي پر دې عمل کېدی تر څو چي رسول الله ﷺ وفات سو بیا حضرت ابوبکر صدیق ﷺ خلیفه سو او هغه هم پر هغه طریقه عمل وکړ کومه چي رسول الله ﷺ اختیار کړې وه تر څو چي هغه هم وفات سو نو کله چي حضرت عمر بن خطاب ﷺ خلیفه سو نو هغه هم پر دې عمل وکړ څرنگه چي هغوئ دواړو کړی وو، تر څو چي هغه هم وفات سو بیا مروان فدك خپل ملك جوړ کړ، او بیا فدك ما عمر بن عبدالعزیز ته راغلئ ما ولیدل چي کوم شی رسول الله ﷺ خپل لور بي بي فاطمې ته نه وو ورکړی هغه هیڅکله زما حق نسي کیدلای زه تاسو شاهدان کوم چي ما بیا فدك په هغه طریقه کړ پر کومه طریقه چي هغه مخکي وو، یعني څرنگه چي د رسول الله ﷺ په عهد کي، د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په زمانه کي او د حضرت عمر ﷺ په خلافت کي ددې حاصلات مصرف کېدل. ابوداؤد.

-----------

محمد (شير پاك